أبى الله عصمة الا لكتابه

التقرير السامي
شرح الجامي

مصنف شیخ الصرف والنحو استاذ الحدیث

مولانا بادشاہ منیر مدظلہ العالی

اول جلد

ناشر

جامعہ تعلیم القرآن
فال صدیر

نوراللہ کمرز جی ٹی روڈ پشاور: 0314-9074877



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیامیں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر ، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

أبى الله عصمة إلا لكتابه

التقرير السامي

بترتيب ما في الكافية وتوضيح

شرح الجامي

مصنف

شيخ الصرف والنحو استاذ الحديث

مولانا بادشاہ منیر مدظلہ العالی

اول جلد

ناشر

نور اللہ کتوزئی پبلشرز

مرکز جماعت اشاعت توحید والسنت پجگی روڈ پشاور ۔ 0314-9074877

مصنف: مولانا بادشاه منیر حفظه

کمپوزنګ: مفتی محمد سلیمان ساجد

دچاپ ځای: نور الله کمپوزنګ پرنټرز مرکز جماعت اشاعت توحید والسنت جهانګی روډ پیښور فون: 0314-9074877

تعداد: 1000

دچاپ کال: 2014ء

قیمت: -/600

ناشر: جامعة تعلیم القرآن غاليرې

دملاویدو پته: مکتبة الیمان دار القرآن پنج پیر صوابی

اسلامی کتب خانه صوابی

التقديم

بسم الله الرحمن الرحيم

سبب دتاليف ددی کتاب: [۱]..څه کلونه مخکښې چه د نحو مشهور کتاب کافية ابن الحاجب رحمه الله شرح (چه مشهوره ده په شرح الجامی سره دپاره دمولانا عبد الرحمن جامی رحمه الله) دتدریس خدمات بنده عاجز ته حواله شو، الحمدلله د أساتذه کرامو د دعاء او حسن ظن په بنا بعض ذی فهم طلباء کرامود دی کتاب دتقرير ضبط د تحرير لاندی راوستو په کال ۱۴۲۷ هـ موافق ۲۰۰۷ م اکست کښی، نو هغه تقرير د ملګرو پسندوو، دهغه وقت نه په دچاپ کولو مشوره ورکړے کیده، لیکن بنده عاجز دغه خپل تقرير لائق دچاپ نه ګڼرلو......لیکن کال په کال به دفوتوسټيټ په ذريعه دطلباء کرامويو لوی رقم صرف کيدو، اودوی ته به ډير مشکلات هم وو، بعض فوتو سټيټ واله به د څه أخلاقو مظاهره هم نه کوله، بل طرف ته چاپ إصرار هم زيات شو، حتی چه بعض مکتبو واله هم اصرار شروع کړو نو موږه مجبوره شو چه طلباء د دومره زيات خرچ نه هم بچ شی اودوی ته فائده او نورو أتنده نسلونو دپاره هم فائده شی، نودوباره دغه تقرير په قيد د ضبط کښي را وستے شو، اودچاپ کولو جانب راجح شو،الله دی ددی تولی مرحلی په خيريت عافيت سره سرته ورسوی،

بل طرف ته ددی کتاب (شرح الجامی) په عربئ او اردو وغيره ژبو کښی حواشی اوشروح الحمدلله ډيری شته ألبته د پښتوبه ژبه څما په نظر کښی ددی حواشی او شروح تدی تير شوی، تودا تأليف څه مستقل شرح نده، ولی چه مستقل شرح ليکل يو مشکل آمر دے، اوبه هغی کښي ديوی أندازی موافق تطويل هم راتلے شو، ألبته داتأليف ددغی شرح اومتن دپاره يوتقرير دے چه دا کوشش پکښی کړے شوے دے چه دمتن اوشرح أهم مباحث پکښی راوستےشی، لهذا! دا با قاعده شرح نده، ددی سره سره موږه او اورو چه ورځ په ورځ علمی انحطاط زياتيږی اوپه طلباء علماء کښی د محنت اوکوشش جانب کمزورے کيږی، أګرچه مشائخ اومشران نه خوښوی چه ددی کتابونو شرح دی په غير عربئ کښی وشی، ليکن بيا هم ددی وجه نه چه هسی نه چه دګران والی په وجه دا کُتُب متروک شی، مجبورا مشائخو دعربئ شروح ليکلی دی، نو دا تأليف دی هم په دغه حيثيت وګڼرلے شی،

إراده خو داده چه دکتاب پوره شرح چه پکښی متن جدا او شرح جدا اودنوی طرز پشان تشکيل دعبارة اوتحت اللفظ ترجمه اوبيا دهغی تشريح وی ليکن دا کار مشکل وو، اوتطويل پکښی هم راتلو، که دالله امداد شامل شو نو دغه به هم اکړےشی، يابه تی خوک اکری، ليکن فی الحال صرف دهغه قاعدے لاندی (من لم يدرک کله لم يترک کله) تحت دتقرير دشائع کيدو اراده ده، الله دی آسان کړی ، آمين،

[٢].. **ددی تا لیف خصوصیات**: (١) دکتاب دشروع کیدونه مخکښی دعلم النحو مطابق وضاحت، دماتن اوشارح مختصر جامع احوال، اودکتاب متن اوشرح مختصره خلاصه،

(٢) دشرح دخطبی اودیباچے په أحسن أندازکښی دلنشین تشریح،

(٣) هغه کتب چه په فن کښی لیکلے شوی دی دهغی دری٣ أقسام! متون، شروح، اوفتاوی اوورسره دشروحو فوائد چه یو شرح دمتن خدمت کوی نوپه څو طریقو ئی کوی دهغی تفصیل،

(۴) بیان دهغه حصصو چه متن په هغی مشتمل دے، اوپه هره حصه کښی چه کوم مباحث دی دهغی تعین کول،

(۵) هرعنوان چه شروع شی نوپه إبتداکښی په طور دتجزیه اجمالی مباحث ذکر کول، بیا دهغی په ترتیب سره تفصیل کول چه تفصیل اواجمال دیوبل سره برابر شی، اوپدیکښی زیات لحاظ دشرح ساتلے شوے دے(الاناررا)

(۶) بعض اصطلاحات دی چه دهغی پیژاندل ضروری دی، لکه ربط معنوی، اوربط لفظی، دربط معنوی مقصد داوی چه دا مباحث دمخکښی سره څه مناسبت ساتی چه دهغی نه بعد راورے شوے دے، اوربط لفظی عبارة دے د ترکیب نه چه ددی عبارة په لفظ کښی دإعراب په اعتبارسره دمخکښی روسته سره څه ربط دے؟

(٧) دغه شان چه کله ربط معنوی بیانیږی نو اکثر مقاماتو کښی به داجمله وی چه (ذری سوالات پیدا شول) مثلا (نفس تفصیل ولی کوی؟ داخیز ئی پدی مقام کښی ولی ذکرکړو؟ اوتفصیل څنګه کوی؟ [کله به تعین شوے وی کله نه] لهذا! ددی مقصد به هم داوی، بیا چه دآخری سوال په جواب کښی کوم څه او ویلے شی نوهغه به د مقام په اعتبار سره دیر أهم وی، څکه دمابعد مضمون إجمالی خاکه به په ذهن کښی راشی، اوأئنده سبق دما قبل سره داسی مربوط شی چه که یاد شی نو څه اشکال نشی راتلے انشآء الله.

(٨)..دماتن أغراض ذکرکول اوبیا دشارح أغراض ذکرکول ددی هم حتی المقدور کوشش کړے شوے دے.

(٩)..کومه مسئله کښی چه اختلاف وی په هغے کښی أکثر دینځه٥ خبرو لحاظ ساتلے شوے دے چه!تحریر دمحل النزاع، تعین المختلفین، دعوی دهرواحد، دلیل دهرواحد، ترجیح دماهو الراجح،

(۱۰)..ديوى كلمى لغوى تحقيق چه د درى خبرو لحاظ پكښې ساتلے شوے وى، صيغه، معنى لغوى، مناسبت دمعنى لغوى دمعنى اصطلاحى سره،

دغه شان نورهم خصوصيات چه دمطالعى په وخت كښى به په نظرراشى. انشآء الله والحمدلله على ذلك.

اعتذار دواقع كيدلودغلطونه په كتاب كښې: دغلطئ واقع كيدل په كتاب كښى دايو طبعى أمردے، خصوصا ددى عاجزنه به په دوران د تقريركښې هم څه غلطئ واقع شوى وى، ځكه چه هميشه انسان په نشاط كښې نه وى كله انسان په يو حالت كښې كله به بل حالت كښې،

يكے پرسيد ازان گم كرده فرزند كه اے روشن گوهر پيرے خردمند

قال السعدى شيرازى رحمه الله:

زمصرش بوئ پيراهن شميدے چرا درچاه كنعانش نه ديدے

بگفتا احوال مابرق جهان است دمے پيدا ودیگر دم نهان هست

گهے برطارم اعلى نشينم گهے برپشت پائے خود نه بينم

اگر درويش برحالے بماندے سردست ازدو عالم برفشاندے

دغسے علامه محمد بن على بن محمد الحصكفى رحمه الله الدرالمختار شارح تنوير الابصار المولود ۱۰۲۵هـ المتوفى ۱۰۸۸ هـ په خپل كتاب مذكور په مقدمه كښې للهٰ ا ۱۰ كښى ليكى (ويأبى الله العصمة لكتاب غير كتابه) اوددى په شرح كښې علامه محمد أمين ابن عمر رحمه الله المعروف بابن العابدين رحمه الله ردالمحتار (المعروف با الشامية) المود ۱۱۹۸هـ المتوفى ۱۲۵۲هـ ليكى: ﴿وَهَذَا اعْتِذَارٌ مِنْهُ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى : أَيْ إِنَّ هَذَا الْكِتَابَ وَإِنْ كَانَ مُشْتَمِلًا عَلَى "ما" حَرَّرَهُ الْمُتَأَخِّرُونَ وَعَلَى التَّحْقِيقَاتِ الْمَذْكُورَةِ لَكِنَّهُ غَيْرُ مَعْصُومٍ .أَيْ غَيْرُ مَمْنُوعٍ مِنْ وُقُوعِ الْخَطَأِ وَالسَّهْوِ فِيهِ .فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمْ يَرْضَ ، أَوْ لَمْ يُقَدِّرْ الْعِصْمَةَ لِكِتَابٍ غَيْرِ كِتَابِهِ الْعَزِيزِ الَّذِي قَالَ فِيهِ - { "لا" يَأْتِيهِ

الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ } - فَغَيْرُهُ مِنَ الْكُتُبِ قَدْ يَقَعُ فِيهِ الْخَطَأُ وَالزَّلَلُ ، لِأَنَّهَا مِنْ تَآلِيفِ الْبَشَرِ وَالْخَطَأُ وَالزَّلَلُ مِنْ شِعَارِهِمْ .انتهى﴾: (رد المحتار - ١ / ٦٠)

اوبيا ئى واقعه نقل كړى ده: ﴿قَالَ الْمُزَنِيُّ : قَرَأْت كِتَابَ الرِّسَالَةِ عَلَى الشَّافِعِيِّ ثَمَانِينَ مَرَّةً ، فَمَا مِنْ مَرَّةٍ إِلَّا وَكَانَ يَقِفُ عَلَى خَطَأٍ.فَقَالَ الشَّافِعِيُّ : هِيهِ ، أَبَى اللَّهُ أَنْ يَكُونَ كِتَابًا صَحِيحًا غَيْرَ كِتَابِهِ .(رد المحتار : ١/ ٦١)﴾

ددينه دامعلومه شوه چه دانسان كتاب دغلطئ نه نشى بچ كيدے، لهذا ناظرينو ته درخواست دے چه كه ددى كتاب دمطالعى په دروان كښي په كومه غلطئ خبردار شي نويه خپله دي د تصحيح كوشش اكړى، او دعفو اوكرم نه دي كار واخلى، صاحب دنام حق فرمائى!

من بعجز وقصور معترفم — نے چون نادان أحمق وخرفم

پیش ازین گفته اند أهل سلف — عذر من صنف قد استهدف

لیک بر قدر خویش کوشیدن — به زبیکاری وخموشیدن

نه کنی عیب گر توبتوانی — که درو خلّه بپوشانی

أسپ تازی اگرچه به تازد — لاشه خر خویشتن نینداازد

اوكه چرته څه فائده محسوسه كړئ نوموږ عاجزان مسكينان دي په دعاګانو كښي ياد كړى، زمونږه دا دعاء ده چه الله دي داكتاب نافع مقبول وګرځوى، حتى المقدور د أغلاطوپه تصيح كوشش شوے دے خوبيا هم وقوع ممكن ده، نو داصلاح اومحبت إظهاردى اكړے شي، نه دتنقيد او نفرت ددى سره چونكه داكتاب حامل ندے ټول عبارت دمتن اوشرح لره نو عربى كتاب دي مخى ته وى او ددى مطالعه دي ورسره كيږى، يواځې پدى اكتفا نه ده پكار ورنه كيدے شي أخذ ترينه مشكل شي، اوكه كتاب عربى مخى ته وى نو كيدے شي لكه أستاذ خودونكے شي،

اظهارتشکر: خه اول دخپل رب شكرگذاريم پـه نعمـت د إسلام اوتوحيـد اوسـنت بانـدى،

﴿رضيت باالله ربا وباالاسلام دينا وبمحمدﷺ نبيا ورسولا.﴾

بيا دوالدين مكرمين چه هغوى زمونږه توجه تعليم دقرآن اوسـنت تـه راواړولـه اودهـر قسـم مشكلاتو برداشت ئے اكړو، الله دى ورله صحت عافيت په دنيا كښى او راحـت اوجنـت پـه عقبى كښى نصيب كړى، بيا شكريه أداكوم د أستاذانو مشائخو خپلـو چـه هغـوى زمـونږه پـه دين سره تربيت اكړو، اودعلم په إزده كولو كښى هغوى هيڅ قسـم كمـے اونقصـان نـه دے كـړے، اود ډيرو مشكلاتو باوجود هغـوى زمـونږه سره شـپه ورځ محنـت اكـړو، دعاگـانے ئـى اكـړے، الله دى ورله خوشحالى د دنيا او آخرت نصيب، آمين

دغه شان خه شكريه ادا كوم دهغه ملگرو چه هغـوى ددى كتـاب پـه راجمـع كولـو اوترتيـب وركولو كښي اوليكلو كښـي ډيرزيـات تعـاون كـړے دے الله دى هغـوى لـره ددنيـا اوآخـرت خيروركړى اوالله ورته علم نافع نصيب كړى، اوكومو ملگرو چه مـالى تعـاون كـړے دے، الله دى دهغوى په مالونو كورنو كښي بركت واچوى، او الله دى ورله هرقسم مشكلات حل كـړى، دغه شان كوم ملگرو چه مفيدى مشورى راكړى دى اوحوصله أفزائي زمـونږه كـړى ده الله دى دهغوى حوصلى بلندى كړى. «آمين يارب العالمين»

ائنده اراده: خه دخپل رب په درباركښي سوال كوم چه الله دى داكتاب مقبـول وگرځـوى، اوكوم ركاوټونه چه دى هغه الله په خپل فضل وكرم سره حل كړى.

زمونږه أئنده هم دا إرادى شته چه ددى متن او شرح دوېمه حصه چه هغه دمبنياتو حصـه ده (الحمد لله دهغى مسوده هم تياره شوى ده)هغه هم چاپ شى، ألبته بعض موانع دى الله دى أسباب برابركړى، چونكه دكتاب دغه حصه ډيره أهمه ده، أگرچه موجوده وخـت كښـي ورتـه طلباء توجه نه كوى كوم چه اولى حصى ددى كتاب ته كوى، خودامناسب نه ده.

دغه شان نور مسودات هم دى چه أكثرملگرى دهغى دچاپ هم اصرار كوى، انشـاء الله هغـه په معرض وجود ته يوځل راشـى شـى، الله دى دسـهولت، عافيـت اوسرتـه د رسولو انتظام او فرمائي، دا چند خبرى وى چه په جلتئ سره وليكلے شوى رب كريم دى قبول كړى،

۱۱۴۳۵/۸/۲۳هـ موافق ۲۰۱۴/۶/۲۱ م

ابتدائی خبری

د کتاب د شروع کولو نه مخکښ د دریو خبرو پیژندل ضروری وی (۱) احوال د فن (۲) احوال د مُصَنَّف (۳) احوال د مُصَنِّف (کتاب).دي دپاره چه شروع د کتاب اوشی په ﴿علی وجه البصیرة الکاملة﴾ ځکه شروع په دري قسمه ده (۱) نفس شروع چه کتاب ختم شی او متعلم پوهه نه شی چه غرض د کتاب څه وو. (۲) ﴿علی وجه البصیرة فقط﴾ چه کتاب ختم شي او څه بعضې ددي دريو احوالو نه معلوم شي او يا دشي (۳) ﴿علی وجه البصيرة الكاملة﴾ چه متعلم پوره پوره په دي دريو احوالو باندي پوهه شي.

احوال الفن:دا علم النحو ده اوپه دي عنوان کښ څو خبري اجمالی ضروری دي دهر يوي به بالترتيب تفصيل کيدلے شي (۱) تعريف د علم النحو (۲) موضوع (۳) غرض (٤) شرافة د علم النحو (٥) تاريخ تدوين د علم النحو.

(۱)**تعريف**: ويئلے شی ﴿ما يتبين به حقيقة الشيء﴾ ته او دا ځکه ضروری دے چه طلب د مجهول مطلق رانشی (۲) موضوع دا ويلي شي: ﴿ما يبحث فيه عن عوارضه الذاتيه﴾ ته او دا عوارض بيا دوه قسمه وی ذاتيه او غريبه او بيا دهريو دري اقسام دی نو دا ټول شپږ اقسام شول نو د ذاتيه نه بحث كول موضوع ده او ددي پيژندل ځکه ضروری دی چه تميز راشی په علم مشروع او غير مشروع کښ (۳) غرض وئيلي شی ﴿ما يصدر الفعل عن الفاعل لاجله﴾ ته دلته ورسره الغاية هم ده چه ﴿هی النتيجة المرتبة علی ذلك الفعل﴾ ته وئيلي شی فرق په درميان د غرض او غاية کښ دقيق دے او دا پيژندل ځکه ضروری دي چه سعی عبث نه شی ځکه ﴿كل عبث حرام كما في الشمه (٤) الشرافة هی الفضيلة﴾ دا ځکه ضروری دے چه شوق د متعلم پيدا شی فن ته. (٥) التدوين ﴿وهو الاجزاء المنتشرة﴾ او دادپاره د زيادة بصيرة په حصول د فن کښ دے، په راروان سبق کښ به تعين دهر واحد

اوشی ددی فن نه.

مونږ وئیلي وو چه دي عنوان کښ پنځه خبري پيژندل ضروری دي اوس د هر يو د هغې نه تعيين او تفصيل نو اول تعريف وو نو دا دوه قسمه دے (۱) حد لقبی (۲) حد اضاق د حد اضاق مقصد دادے چه د مضاف او مضاف اليه جدا جدا تعريف اوشي او حد لقبی مقصد دا دے چه دا ترکيب اضاق يو نوم ديو شئ شي او بيائي تعريف اوشي اوس دلته علم النحو کښ به مونږ دا دواړه بيا نو علم به لغت کښ دا نستن ته وئيلي شي اوپه اصطلاح کښ ﴿الحاضر عند المدرك﴾ ته وئيلي شي او "نحو" په لغت کښ په څو معانيو راځي لکه قصد، مثل، جهة ، نوع، طريق، فصاحة، ظرف، او صيانة لکه د صيانة دپاره يو روايت دے په شمه کښ چه ﴿اذا جاء النحويون يوم القيامة فيقال فی حقهم من جانب الله تعالی يا ملائكتی انحوهم عن النار كما نحوا كلامی عن الخطا ای صونوهم كما صانوا كلامی الخ﴾ (شمه ص ۲۳) او تعريف لقبی دپاره د علم النحو داسی دے چه ﴿هو علم باصول يعرف بها احوال او اخر الكلم الثلاث من حيث الاعراب و البناء و كيفية تركيب بعضها مع بعض﴾. علم دے په اصولو اوپه څه قواعدو باندی اصول د اصل جمع ده په معنی د قاعده او ضابطه سره دے. اوس په هر تعريف کښ لابدی ده د جنس او فصل نه نو "علم" په منزله د جنس دے هر قسم علوموته شامل دے "اصول" په منزله د فصل دے هغه علم ترې نه خارج شو چه په اصولو نه وی لکه علم العروض ﴿يعرف بها احوال﴾ دابل فصل دے احتراز دے دهغه علم نه چه معرفة د ذواتو پرې راځی نه د احوالو لکه علم د لغت شو "او اخر" بل فصل دے علم صرف پرې خارج شو "الكلم" دی سره احتراز دے د علم فقه نه "الثلاث" دابل فصل دے او دی سره احتراز دے د علم البيان نه "من حيث الاعراب و البناء" دی سره هغه علم خارج شو چه د کلماتو نه بحث کوی خو د اعراب او د بناء د حيثية نه نه وی لك علم قواقی شو "وكيفية تركيب" په دی سره ئی احتراز اوکړو دهغه علم د مفرداتونه لکه علم اشتقاق وغيره.

موضوع د علم النحو: څو اقوال پکښ دی (۱) اللفظ الموضوع مفردا كان او مركبا (۲) مفردات او مركبات من حيث الايقاع (۳) الكلمة و الكلام او دا مشهور دے .

سوال: داخو تعدد د موضوع دے چه دلالت کوی په تعدد د علومو باندی حالانکه داخو يو علم دے؟

جواب : دا خبره صحیح ده چه تعدد د موضوع په تعدد د علم دلالت کوی خو هغه وخت کښ چه دا تعدد بالذات وی نه بالاعتبار دلته کلمه او کلام خو بالذات متحد دی اوپه اعتبار سره جدا جدا دی چه کلمه مفرد کلام مرکب

غرض د علم النحو: ﴿صیانة الذهن عن الخطا اللفظی فی کلام العرب.﴾

سوال: صیانة نسبة ذهن ته نه دے پکار بلکه لسان (ژبه) ته پکار دے خکه لسان غلطی کوی؟

جواب: داپه حذف د مضاف سره دے ای صیانة معبرالذهن الخ او دا معبر ذهن لسان دے (۲) اصل غلطی ذهن کوی او لسان ورله صرف بیان کوی کما یقال: ﴿إن الکلام فی الفواد و انما جعل اللسان علیه دلیلا.﴾

شرافةاوفضیلة ددی علم النحو: نو داخبره مسلمه ده چه مرتبه د خادم د مرتبی د مخدوم نه معلومیږی چه مخدوم څومره اوچت وی نو خادم هم دهغی مطابق زورلری او مرتبه لری اوس دا علم د قرآن خادم دے نو قرآن یو لوی مرتبی والا دے نو دا علم هم د لوی مرتبی خاوند شو. صاحب د مفتاح السعادة فرمائی: تعلم النحو فرض کفایة (دعوی) "لا" حتیاج القرآن و الحدیث الیه فی الاستدلال (دلیل) دغه شان عمر رضی الله عنه په وئیل: ﴿تعلموا النحو کما تتعلمون الفرائض و السنن﴾ چه دا نحو زده کری اے خلقو څنګه چه علم د فرائضو او د سننو زده کوی دغه شان ایوب سحستانی رحمه الله فرمائی: تعلموا النحو فانه جمال للوضیع و ترکه / هجنة للشریف.

تاریخ التدوین : په دی کښ دوه قولان دی. کلام د عربو په ابتداء د اسلام کښ پاك او صفا وو د لفظی غلطئ نه خکه اسلام په اطرافو کښ نه وو خور شوی نو دوی دپاره د قواعدو ضرورت نه وو خکه دوی اهل اللسان وو او د دوی په خپل زبان ښه پوهیدل خو چه کله اسلام په اطراف کښ خور شو او عجم مشرف بالاسلام شول نو عربئ زبان ته د فساد لاری گولاؤ شوی خکه دوی پوره په زبان د عربو نه پوهیدل نو غلطئ پکښ زیاتی پیدا شوی نو حضرت علی رضی الله عنه د دی بندولو دپاره فکر مند شو نو ابوا الاسود الدولی فرمائی چه زه د خلیفه رابع حضرت علی رضی الله عنه مجلس ته حاضر شوم نو دهغه په لاس کښ یوه رقعه وه چه په هغی باندی لیکلی وو چه الکلام کله ﴿اسم و فعل و حرف فا الاسم "ما" انبأ

عن المسمى و الفعل "ما" انبأ به عن المسمى و الحرف "ما" افاد معنى.﴾ نو دا ابو الاسود راواخستل او ځه نور قواعد ئې هم ورسره اوليکل حتى چه باب د حروف مشبه بالفعل پورې مې برابر کړل چه حضرت على رضى الله عنه ته مې اوښودل نو هغه وى: ﴿ما احسن هذا النحو الذى قد نحوته﴾. نو مدون په دى اعتبار او قول سره حضرت على رضى الله عنه دے بل قول يکښې دادے چه يو کس تلاوت کولو د سورة توبې نو دا ايت ئې تلاوت کوو چه ان الله برى من المشركين و رسوله نو د رسوله په ځائے باندى رسوله مجرور اوى لو هلته يو اعرابي ناست وو هغه اواز پورته کړواوى وئيل "انا ايضا برى منه" چه زه هم برئ يم د داسې رسول نه بيا ددى شکايت چا حضرت عمر رضى الله عنه ته اوکړو نو هغه دا قارى راغوښتو او هغه بل کس هم او چه معلومات ئې اوکړل نو تندى لره ئې لس ورکړو او بيائې ځه قواعد ابوالاسود ته ورکړل او هغه په دى کښې کوشش شروع کړو. او عند البعض ددى مدون عبد الرحمان ابن هرمز الاعرج دے او نصر ابن عاصم باندى هم بعضو قول کړى دے ليکن دا دوه خبرې مشهور دى. بيا مبين ابن اسحاق دے او ضابط ئې هارون ابن موسى دے بياپه دى کښې نوره هم ترقى اوشوه نوپه قرن اول کښې د ابو الاسود د شاګردانو نه ابو نصر البصرى چه د خليل هم شاګرد دے او خليل چه د سيبويه (عمر) هم استاد دے او سيبويه خو پکښې دپاره د تهذيب کتاب اوليکو په نوم د "الکتاب" سره بيا بصري او کوفي ته نقل شو نو کوفيان او بصريان پکښې پيدا شول او اختلاف هم د دوى راغى ځکه چه بصريان سمع لره ترجيح ورکوى او دانور قياس لره بيا دا نورو ملکونو ته نقل شوه مراکش، طيونس، قرطبه، اندلس، وغيره ته او دير کتابونه پکښې اوليکلي شو دغه شان دا کتاب پکښې اوليکلي شو او بيا دا شرحه ددى کتاب بيا شام ته نقل شوه او "قطر الندى" وبل الصدى پکښې اوليکلى شوه او د دوى شرح پکښې هم اوليکلى شوه نو دا طرز د متقدمينو دے چه مونږ ته رانقل شوى دے.

په اجمالى خبرو کښې احوال د فن بيان شوى وو اوس به احوال د مصنف بيان کړو.

احوال د مصنف: دا کتاب يو متن دے او دويم شرح نوهم احوال د ماتن اوهم احوال د شارح.

احوال د ماتن: يو نوم دويم تاريخ ولادت دريم وطن څلورم تفصيل د تعليم او تعلم پنځم مقام شپږم تاريخ وفات اووم الباقيات الصالحات . تفصيل بالترتيب.

(۱)نوم په درې قسمه دے. لقب، کنيه ، اسم محضه او يو بل قسم پکښې تخلص هم دے نو لقب جمال الدين او کنيه ابو عمرو اسم محضه عثمان دے نو شجرة نسب شوه جمال الدين ابو عمرو عثمان ابن عمر ابن ابي بکر ابن يونس الدويني او معروف دے په ابن حاجب سره

ځکه پلار ئې حاجب وو حاجب د روانچي ته وئيلې شي (بواب) نو هغه د امير عز الدين موسك صلاحي بواب وو.

(۲)**تاريخ ولادت**: د ولادت تاريخ ئې په اخر د ۵۷۰ هجری دے د شپږ مئ صدئ عالم وو

(۳)**وطن او علاقه**: په ملك د مصر کښې په صوبه قوصيه کښې په ضلع د صعيد اعلى ښار کښې يو وطن او کلی دے چه نوم ئې اسنا دے دائې موضع الولادت دے.

(۴)**سلسله د تعليم او تعلم**: علم ئې په دار الخلافة د مصر کښې حاصل کړے وو چه نوم ئې قاهره دے او قران ئې په ماشوم والی کښې ياد کړی وو استاد د قراة ئې مشهور امام القران علامه شاطبی دے. او کتاب التيسير ئې هم دد نه وئيلی وو او د قراة سبعه استاد ئې ابن جود وو او د شيخ ابو منصور ابياری نه فقه په مذهب د امام مالك رحمه الله کښې وئيلی وه او باقی علوم ئې د ابن البناء نه وئيلی وو.

(۵)**مقام د ماتن**: نو خلق والی شَانُه شان ئې عجيبه دے چه کان فقيها مناظرا ثقة عادلا متواضعا عالما متجرا. او ابن خلّکان والی چه دی ماسره په اداء د شهادت کيښ بار بار ملاو شوی دے "ما" ورته د نحو مشکل مسائل پيش کړی دی او هغه ئې حل کړی دی او هغه والی کان من احسن خلق الله ذهنا.

(۶)**تاريخ د وفات**: ماتن رحمه الله په ۱۶ شوال په کال ٦٤٦ هجری کښې د سحر په وخت کښې د پانچ شنبې په ورځ په اسکندريه کښې وفات شوی دے او بيا په مقبره د شيخ صالح ابن ابی اسامه کښې د باب البحر نه بهر دفن شوی دے.

(۷)**الباقيات الصالحات په شکل د تصانيفو کښې**: تصانيف د ماتن يو داکتاب دے چه کافيه ده او بل کتاب شافيه ده او ددی شرح هم ده په نوم د ايضاح سره نور کتابونه هم شته دے خو ابن خلّکان والی چه وکل مصنفاته فی نهاية الحسن و الافادة .

احوال د شارح: يو نوم د شارح دويم تاريخ ولادت دريم سلسله تعليم و التعلم او عام احوال څلورم تاريخ وفات او پنځم باقيات الصالحات تفصيل بالترتيب.

(۱)نوم دا دری قسمه دے او څلورم ورسره هم دے چه تخلص دے نو لقب ئې نور الدين مشهور دے او کنيه ئې ابو ضياء او اسم محضه ئې عبد الرحمان او تخلص ئې جامی دے نو

شجره النسب څه په دی شان شوه چه نور الدين ابو ضياء عبد الرحمان ابن نظام ابن احمد ابن شمس الدين محمد جامی دی شارح ته جامی څکه وائی چه د دوی به په اصفهان نوم ښار کښ يو محله ده ددشت په نوم باندی او د ايران په ملك کښ هلته اوسيدل او بيا دوی جام ته نقل شول نو شارح ته څکه جامی وائی.

(۲)**تاريخ ولادت**: شارح عليه الرحمة په ۲۳ شعبان د ۸۱۷ هجری کال په کلی د "خرجرد" کښ پيدا شوی دے. چه موافقة کوی د نومبر ۱٤۱٤ ميلادی سره .

(۳)**سلسله تعليم**: قران کريم ئی د خپل والد محترم نه په هراة کښ اوی څکه والد محترم د دوی د جام نه هراة ته تلی وو. او ابتدائی علوم ئی هم د خپل والد صيب نه اوی بيابه بغداد کښ په مشهوره مدرسه نظاميه کښ داخل شو دابه لويه مدرسه وه ددی مدرسی نه يو سعدی شيرازی هم فارغ شوی دے بيا دوی دا مدرسه په خپلو اشعارو کښ ستائيلی ده.

مرا در نظامیہ ادرار بود　　شب و روز تلقین و تکرار بود

تلخيص وغيره ئی هلته اوی. او بيا د خواجه علی سمر قندی خواته د سمر قند مسافر اوګرځيدو او بيا هلته سيد شريف جرجانی صاحب د نحو مير هم وو دهغو نه ئی علوم عقليه اوی. بيا د شارح تعلق د صوفياء کرامو سره هم راغلے دے چه هغو ته "پيران" وائی او دوی ډيری ضعيفی قيصی موجودی دی هم دا وجه ده چه د شارح په کتابونو کښ رطب او يابس په اکثره سطح ترلاسه کيدلے شی لکه يوه واقعه د پيغمبر هم د بيان کړی ده چه پيغمبر د قبر نه لاس پورته راوباسلی وو او خلقو سره ئی ملاقات کوو واقعه ئی په قصيده کښ بيان کړی ده دغه شان يوه بله واقعه هم شارح قلم بند کړی ده چه هغه واقعه اصل کښ د هندوانو ده چه دادنيا د غوای (بيل) په يو ښکر باندی پراته ده او چه دابو ښکر ئی ستړی نو په انتقال سره بل ښکر ته زلزله هم راځی خو علی کل حال تعلق د صوفياؤ صوفی کړے دے. خو دا ضروری نه ده چه يو انسان دی په يو فن کښ مهارت لری نو هغه دی په نورو علومو کښ هم معتمد وی نو شارح صيب که په نحو کښ ماهر دے خو نور په خرافاتو کښ هم مبتلا شوی دے او ددی معلومات دهغه د کتابونو نه کيدلے شی.

بيا شارح په ۸۷۷ هجری کښ د حج په سفر باندی روان شو او دا د حج سفر به خلقو د علم د حصول لويه ذريعه ګڼړله نو شارح په مختلفو علاقو باندی تير شو لکه نيشابور، امغان وغيره او هلته د علماء سره ئی ملاقاتونه اوکړل او چه کله فارغ شو نو د سياحة په نيت شام ته لاړو او هلته د بادشاهانو سره هم ملاؤ شو او د شارح د بادشاهانو سره هم تعلق وو څکه دا شاعر هم وو او شاعر د بادشاه سره تعلق لری.

الباقيات الصالحات: د شارح دپاره خلور بچي وو ټول ترې نه الله اخستلي وو علاوه ديو بچي نه چه نوم ئ ضياء الدين يوسف وو او دايه شارح باندې ډير ګران وو ګران به نه وو څکه چه وو او داكتاب هم دهغه دپاره د ليکلې دے څکه اصل نوم ددې كتاب الفوائد الضيائيه بشرح الرسالة الكافيه بيا د ډير تخفيف نه پس داكتاب مشهور شو په شرح ملا جامي باندې او بيا په څلوارلسمه صدئ كښ مشهور صرف په جامي شو، كتابونه د شارح هم زيات دي تقريبا د سلو نه اوړيدلي دي او د تفصيل دپاره تذكرة المصنفين ١٢٦ ته دې رجوع اوكړې شي څو دايوه شرح هم په دې كتابونو كښ شامله ده په رساله د ابن حاجب صيب باندې.

تاريخ وفات: شارح په ١٨ محرم الحرام په كال ٨٩٨ هجرى كښ وفات شوى دے.

(۵) **احوال الكتاب:** په دريو ابتدائى خبرو كښ اد دريمه خبره ده چه احوال د كتاب دى اد كتاب په دوه قسمه دے. (١) متن (٢) شرح متن چه مسمى په كافيه دے او شرح په فوائدو ضيائيه باندې بيا اد احوال هم په دوه قسمه دى (١) احوال مجموعة (٢) احوال تجزيةً احوال مجموعة دادى چه اد كتاب چه مسمى دے په الكافيه باندې دايو ډير ښه او مفيد كتاب دے په نحو كښ مختصر هم دے او جامع هم دے مخكښ علوماء به په هر يو فن كښ يو كتاب يادولو لكه كنز الدقائق په فقه كښ او شافيه په علم الصرف كښ او كافيه په دې نحو كښ او تلخيص په فصاحة بلاغة كښ او حسامى په اصولو كښ او سلم العلوم په منطق كښ اد مشهور كتابونه وو نو داكافيه هم دهغې كتابونو نه يو كتاب دے نوداهم پولوى مقام دے بيا شروحات ددې كتاب د پنځوسو نه زياتې دى او معربات ئ خلور دى او پنځه مختصرات او څه ددې منظومات هم ورله تصنيف شوى دى احوال تجزيةً اد كتاب په دريو حصو باندې مشتمل دے.

(١) خطبه (٢) مقدمه (٣) مقصود بيا په خطبه كښ درې خبرې دى.

يو تسميه ده صراحةً او دويم حمد او دريم صلوة على النبى صلى الله عليه وسلم دے اد دوه اشارةً دى او په مقدمه كښ پنځه خبرې دى يو تعريف د كلمې دويم اقسام د كلمې اجمالا دريم وجه د حصر په اقسامو د كلمه كښ څلورم تعريف د كلام پنځم قسمينٌ د كلام بيايه مقصود د كتاب كښ درې مباحث دى يو بحث الاسم دويم بحث الفعل دريم بحث الحرف اد شوه تجزيه د متن. احوال د شرح مجموعةً مونږه داخبره اوكړه چه ددې متن شروح ډير دى خويه دې درس نظامى كښ اعتبار دى شرح لره وركړې شوى دے ددې نه هم ددې مقام معلوميږي او دايوه متوسطه شرح ده په ډيرو فوائدو باندې مشتمله شرح هم داده او ډيره په ښه انداز ليكلې شوى ده احوال د شرح تجزيةً اد شرح په پنځو حصو باندې مشتمله ده . (١) خطبه (٢) ديباچه (٣) مقدمه (٤) مقصود (٥) خاتمه بيا اد خطبه د بسم الله نه تر "اما بعد"

پورې او دیباچه د "اما بعد" نه تر "اعلم" پورې او مقدمه د "اعلم" نه تر "الکلمه" پورې او مقصود د الکلمة نه تر "اللهم اجعل خاتمة امورنا الخ ص ۳۹۲ یا ۳۸۰ پورې بر اختلاف د چهاپ خو اخیره صفحه ده او بیا خاتمه ددغه مقام نه تر اخیر د کتاب پورې، په خطبه کښ امور ثلاثه بطور د براعة الاستهلال دی یو تسمیه دویم حمد دریم صلوة په دیباچه کښ درې خبرې شارح بیانوی یو باعث علی التصنیف دویم فی هذا الفن دریم علی هذا الکتاب بیاپه مقدمه کښ دوه خبرې دی یو تعریف، موضوع او غرض د علم نحو ته اشاره ده او دویم تمهید دے متن ته او بیا په مقصود کښ خدمت د متن دے د شلو طریقونه په زیاتو باندې او دا شل طرق به خامخواه ذکر کیږی انشاء الله او بیا په خاتمه کښ هم درې امور دی یو دعاء ده په "اللهم اجعل" سره دویم تعارف د خپل خان کوی و قد استراح سره دریم اختتام د کتاب دپاره تاریخ په ضحوة السبت الخ سره.

(بسم الله الرحمن الرحیم دا خطبه د کتاب) ده اوله خبره پکښ تسمیه ده دی کښ اجمالی خبرې بالترتیب دادی (۱) سبب د ایراد د مصنف تسمیی لره په اول د کتاب کښ (۲) ترکیب په تسمیه کښ (۳) تشریح د اجزاء د تسمیی (٤) معنی د تسمی (٥) دفع د هغه اعتراضاتو چه واردیږی په دی مقام کښ دهر یوی خبرې تفصیل .

وجه د ایراد د مصنف تسمیه په اول د کتاب کښ : نو ددی دپاره وجوه خمسه عام طور سره بیانیږی (۱) د وجه د موافقة نه د کتاب الله سره چه کتاب الله هم په دی باندی شروع دے (۲) د وجه د متابعة د حدیث د خیر الانام نه چه نبی علیه السلام فرمائی: کل امر ذی بال "لا" یبدا ببسم الله فهو اقطع الله الخ فهو ابتر دینه قریب دا حدیث امام ابن کثیر په خپل تفسیر کښ په سند جید سره نقل کړے دے. (۳) د وجه د اقتداء نه په سلفو صالحینو پسی چه هغو به هم په دی سره شروع کوله. (٤)د وجه د رد نه په مشرکینو باندی ځکه هغو به بسم اللات و العزی وئیل نو مصنف پری رد اوکړو (٥) د وجه د حصول د برکة نه ځکه د الله په صفاتو او اسماء سره برکت راځی.

ترکیب: په نحو کښ مقصود هم دا ترکیب وی نو ددی اهتمام پکار دے.

باء حرف جار اسم مضاف الله موصوف الرحمن صفة اول الرحیم صفة ثانی موصوف سره د صفتینو نه مضاف الیه شو دپاره د اسم مضاف بیا مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د باء حرف جار بیا دا جار مجرور متعلّق غواړی چه ورسره متعلّق شی نودابه د ابتدأ موخر سره متعلّق شی بیا ابتداء صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم فعل شو او ضمیر مستتر واجب الاستار چه تعبیر تری نه کیږی په انا سره هغه فاعل شو. نو فعل سره د فاعل او د متعلق نه دا جمله خبریه فعلیه لفظا او انشائیه شوه خو معنی،

تشريح د اجزاؤ د بسم الله : نو تجزيه داسی ده چه دی کښ ټول پنځه اجزاء دی یوو باء دويم اسم دريم الله څلورم الرحمان پنځم الرحيم دے.

نو دا باء حرف جر دے دباره د لسو معانيو مشهورو رای دباره د ډيرو معانيو هم راځی خو مشهور پکښ هم دا لس دی او دا تفصيل په شمه او شرح ماة عامل کښ شته دے. دلته شارحين دباء دپاره دری معانی کوی (۱) للتبرك (۲) للاستعانة (۳) للمصاحبة اسم ددی لفظ تشريح به روستو راځی کامل او مکمل الله په دی لفظ کښ پوره تفصيل دے مونږ لږ تفصيل کوو نو اول داچه دا عربي دے او که عجمی بيا دويم داچه که عجمی شی نو ايا بيا عبرانی دے او که سريانی اوکه دا عربي شئ نو دريم داچه بيا جامد دے او که مشتق دے او څلورم داچه که مشتق شی نو مشتق منه ورله څه دے؟ د دی پوره او کما حقه تحقيق په تفسير بيضاوی کښ دے کوداپه لغة کښ معبود برحق ته وائی اوپه اصطلاح کښ "هو اسم للذات الواجب الوجود المستجمع لجميع صفات الکمال المنزه عن صفات النقصانج" يعنی وجود دهغه واجب نه زمونږه پشان او د صفات ټول صفات پکښ راجمع دی او دهر عيب نه پاك دے. "الرحمان او الرحيم" دا دواړه په وزن د فعلان او فعيل دی او دا دواړه د مبالغی صيغی دی او دا د رحمة نه ماخوذ دی په معنی د رقة القلب سره خو الله خو د قلب نه منزه دے نو دلته د رحمة معنی ده احسان او انعام ګول دلته داهم يو تفصيل دے چه ايا په دی دواړو کښ فرق شته دے او که نو بعض خلق پکښ څه فرق نه کوی بس دا دواړه يو شئ دے او بعض خلق پکښ فرق کوی بيا دا فرق قاضی بيضاوی په پنځو طريقو سره کوی. خو عام او مشهور فرق دادے چه په رحمان کښ عموم دے او رحيم کښ خصوص دے نو الله دنيا کښ رحمان دے په دی شان سره چه رحمة ئی کافر او مؤمن دواړو ته دے او رحيم دے په دنيا کښ چه په اه ايمان باندی خاص رحمة کړی دے چه ايمان ورته ورکړی دے او دغه شان الله رحمان دے په اخرت کښ په کافر او مؤمن دواړو باندی چه مؤمن لره نعم دی او کافر باندی عذاب نه زياتوی او رحيم دے په اخرت کښ صرف په اهل ايمان د جنتونو تدبر. نو حاصل داشو چه معنی ده الله عام مهربان او خاص مهربان دے سعدی بابا وائی.

اے کریمے کہ از خزانۂ غیب — بروتر ساوظیفہ خرداری

دوستاراکجاکنی محروم — توکہ بادشمناں نظرداری

معنی: نوکه دا باء دپاره د تبرك شی نو ترجمه به داسی شی چه خاص په برکت د نوم د الله داسی الله چه عام او خاص مهربانه ے زه شروع کوم د کتاب خپل اوکه دا باء دپاره د استعانة شی نو ترجمه به شی چه خاص په امداد د نوم د الله داسی الخ اوك دا باء دپاره د مصاحبة شی

نو ترجمه به داسی شي چه خاص په ملګرتوب د نوم د اله داسي الله چه عام او خاص مهربان دے الخ.

دفع د بعض اعتراضاتو چه واردیږی په دی مقام کښ: سوال: شروع کول د مصنف کتاب خپل لره په بسم الله باندی صحیح نه دی (دعوی) ځکه دا شروع ده په غیر مقصود باندی (صغری) او شروع په غیر مقصود باندی ناروا وی. (کبری) نو دا شروع د مصنف هم په دی بسم الله باندی صحیح نه شوه ناروا ده بیا شروع په غیر مقصود ځکه ناروا چه دا عبث کار دے او خیره داده بله نه ده چه و کل عبث حرام کذا فی الشمه او دلته په غیر مقصود شروع داسی ده چه مقصود د شارح خدمت د متن دے او داخو خدمت د متن نه دے.

جواب: دا شروع په دی بسم الله باندی صحیح ده ځکه دا شروع ده په موقوف علیه د مقصود باندی او دا شروع کول په موقوف علیه د مقصود باندی شروع وی په مقصود باندی نو حاصل د جواب داشو چه صغری دی نه منم.

سوال: دا اتیان د بسم الله دپاره په اول د کتاب کښ چه کوم وجوه وو نویو دهغی نه متابعة د حدیث وو چه په شان د تسمیه کښ وو نو داسی حدیث خویه شان د حمد کښ هم راغلی دے چه کل امر ذي بال "لا" یبدأ فیه بحمد الله فهو اقطع نو دا ابتداء خو یو امر بسیط او یو امر انی شی دے یو خیز باندی کیدلے شی نو چه دلته ابتداء په تسمیه اوشوله نوپه حمد باندی اونه شوله نو د حدیث د حمد مخالفة راغړ نو فکیف التوفیق؟

جواب: د ابتداء دپاره دری اسام دی (۱) حقیقی دا هغه ده چه د مقصود او غیر مقصود دواړو نه مخکښ وی (۲) ابتداء اضافی دا هغه ده چه د مقصود نه مخکښ وی او د غیر مقصود نه مخکښ وی او یا نه (۳) عرفی چه په عر کښ ابتداء ګڼړلے شی نو توفیق داسی دے چه حدیث د تسمیه حمل دے په ابتداء حقیقی باندی چه د اسم الله په مقصود او غیر مقصود دواړو مخکښ ده چه مقصود خدمت د متن شو او غیر مقصود مثلا دا حمد، صلوة شو او حدیث د حمد حمل دے په ابتداء اضافی باندی چه په مقصود باندی مخکښ او غیر مقصود نه روستو چه بسم الله ده او یا توفیق داسی هم کیدلے شی چه حدیث د تسمیه حمل شی په ابتداء اضافی او حدیث د حمد حمل شی په ابتداء عرفی باندی. نوپه لفظ د یبدأ باندی عمل راغلی په دواړو احادیثو کښ.

سوال: دا توفیق خو داسی هم ممکن دے چه حدیث د بسم الله حمل شی په ابتداء اضافی یا عرفی باندی او حدیث د حمد حمل شی په ابتدا حقیقی باندی نو داسی ولی نه کوی؟

جواب: موږ چه کوم توفیق کړی دے په دی کښ عدل دے اوداپه دی شان سره چه ابتداء حقیقی قوی ده او حدیث د بسم الله هم قوی دے په شروط د امام بخاری رحمه الله باندی

برابردے ځکه هغه هم شروع په بسم الله کړی ده نو قوی په قوی باندی حمل دے او حدیث د حمد غیر قوی وو نو دا په ابتداء اضافی یا عرفی باندی حمل دے چه دا ابتداء اضافی، عرفی هم غیر قوی ده. تدبر.

سوال: تاسو دپاره د بسم الله یو حدیث پیش کړو چه کل امر ذي بال "لا" یبدا الخ نو موږه دا تپوس کوو چه ایا دا تسمیه هم یو امر ذی شان دے اوکه دانه دے نوکه دایو امر ذي شان شی نو دی نه مخکښ هم بسم الله پکار ده او بیا دهغی بسم الله نه مخکښ بله بسم الله پکار ده او بیا دهغی نه هم داسی وریسی ځه هلم جراً نوداکار خونا ممکن دے اوکه دایو امر ذی شان نه وی نو دی کښ خو د کفر خطره ده نو دلته دواړه شقه باطل دی.

جواب: دا بسم الله یو امر ذي شان دے خو دا د حدیث نه مستثنی دے په استثناء عقلی سره ځکه خو معنی د حدیث داسی ده چه هر کار ذي شان علاوه د بسم الله نه الخ او د استثناء عقلی مقصد دادےده چه که داموږداخل کړو نو بیا به لازم شی تسلسل او دا عند أولي النهی باطل دے.

الحمد لولیه و الصلوة علی نبیه اجمالی خبری ذهن نشین کړئ (۱) ربط دما سبق سره (۲) تشریح د الف لام په الحمد کښ (۳) تشریح د مجموعه . تفصیل بالترتیب.

ربط: ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف د یوے خبری د خطبی نه چه تسمیه ده نو شروع ئی اوکړو په دویمه خبره د خطبه کښ چه حمد دے فقال الحمد الخ .

ربط لفظی: چه عبارة د ترکیب نه دے نو هغی کښ د الحمد مبتداء ده او لولیه جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر،مبتدا خبر جمله خبریه اسمیه شوه .

النکتة: دا جمله ئی په "ما" قبل باندی عطف نه کړو نو دا اشاره ده استقلال ته

تشریح د الف لام په الحمد کښ: ددی پوره تحقیق او تفصیل به په الکلمة کښ راشی خو دلته ددی مطابق لږه تشریح کوو د الف لام حرف څلور اقسام دی (۱) جنسی (۲) استغراقی (۳) عهدی خارجی (٤) عهدی ذهنی دلته دا درے صحیح کیږی او یو قسم اخیری (عهدی ذهنی) دانه دے صحیح ځکه هغه په حکم د نکره کښ دےاو دا خو مبتدا ده نکارت د مبتداء ناروا دے. نوکه الف لام جنسی شی نو بیا به معنی شی چه جنس حمد ثابت دے دپاره د ولی د حمد چه الله دے،اوکه استغراقی شی نو بیا معنی داچه هر فرد د افرادو د حمد نه ثابت دے دپاره د ولی د حمد اوکه عهدی خارجی شی نو بیا به معنی شی

چه ثابت دے هغه حمد چه معهود دے په درميان د الله او مصنف کښې خاص دپاره د ولی د حمد .

سوال: الف لام استغراقی نه دے صحيح چه هر فرد د افرادو د حمد الله لره ثابت دے ځکه بعض اوقات کښې خو خلق د بل يو شئ هم صفة بيانوی لکه خلق وائی د اګل شائسته دے نوداهم د هغی دپاره حمد دے .

جواب: شيخ الهند رحمه الله ددی جواب په يو شعر کښې کړی دے چه

حمد را با تو نسبتی است درست بر در هر که رفت بر در تست

مقصد داچه دا صفة ديو شئ کول هم ده الله صفة دے ځکه مقصد داوی چه دا شئ ډير شکلی جوړ شوی دے نو داشئ خو الله جوړ کړی وی نوداهم د الله صفة شوکنه (٢) دلته مراد دهر فرد د افرادو د حمد نه حمد د اولوهية او د کمال دے او دا صفة بلا اسباب وی او د بل چا دپاره صفة کول تعلق ساتی د اسبابو سره نو د الله حمد د قدرتونو وی اود مخلوق هغه د کسب وی.

تشريح د لفظ حمد: دپاره د سهولة څو خبری دی په دی عنوان کښې صيغه د حمد (٢) لغوی معنی د حمد (٣) اصطلاحی معنی د حمد (٤) فرق په درميان د حمد، مدح او شکر کښې (٥) وجه د اختيار د حمد په مدح او شکر باندی.

صيغه د حمد : دا صيغه د مصدر ده د باب سمع نه حمد يحمد حمداً نه

معنی: ددی ستودن، ستائش کردن او اصاف بيان کردن دا مستعمل دی .

اصطلاحی معنی: د حمد "هو الثناء باللسان على الجميل الاختيارى من نعمة او غيرها" ديو چا صفة کول په ژبه باندی دهغه د اختيار ی کارنه که په مقابله د نعمة کښې وی او يا نه وی بيا دا "الثناء" په منزله د جنس دے "باللسان" کښې اشاره د خصوص دمورد د حمد ته "الجميل" دی سره احتراز اوشو د سخر يه نه چه استهزاء ورته وائی "الاختيارى" دا احتراز دے د مدح نه ځکه مدح ضروری نه ده چه اختياری کاربائدی دی وی مثلاً محنت کول په سبق کښې اختياری دی نو ته به وائی حمدت زيداً على اجتهاده فی الدروس، او حسن يو غير اختياری دے نو دلته به داسی وائی چه مدحت زيدا على حسنه داسی نه چه حمدت زيدا على حسنه.

سوال: حسن خو هم اختياری دے لکه دا بعض نو جوانان چه کوی.مثلاً تيل،رانجه لګول.

جواب: حسن عبارت دے د تناسب الاعضاء نه او دا اختیاری نه دے. "من نعمة او غیرها" دی سره احتراز دے د شکر نه خکه داپه مقابله د نعمة کیږی وی (٤) فرق په درمیان د حمد او مدح او شکر کښ نویه دوو اعتباره سره فرق دے (١) باعتبار المعنی (٢) باعتبار الاستعمال. باعتبار المعنی فرق دادے په درمیان د حمد او مدح کښ چه حمد خاص دے او مدح عام نو نسبة د عموم خصوص مطلق دے یکښ خکه حمد کښ به په کار اختیاری سره صفة وی اوپه مدح کښ اختیاری او غیر اختیاری دواړه دی خکه چه تعریف د مدح داسی دے "هو الثناء باللسان علی الجمیل مطلقا" او مثال مخکښ تیر شو او فرق د حمد د شکر سره دادی چه ددوی په مینځ کښ عموم خصوص من وجه دے په دی شان سره چه په اعتبار د مورد سره حمد خاص او شکر عام دے اوپه اعتبار د متعلق سره حمد عام او شکر خاص دے. تفصیل داسی دے چه تعریف د شکر خو لغةً دادے "فعل ینبئ عن تعظیم المنعم" او اصطلاحاً "صرف جمیع "ما" انعم الله علی عبده الی "ما" خلق لاجله سواء کان باللسان او بالجنان او بالارکان". دلته مورد دادری اشیاء دی (١)لسان (٢) جنان (قلب) (٣) ارکان (اعضاء) او په حمد کښ مورد صرف لسان دے نو پخپله معلومه شوه چه حمد په دی اعتبار سره خاص او شکر عام شو. بیا متعلق نو د حمد متعلق عام دے که په مقابله د نعمة کښ او غیر نعمة کښ او شکر به په مقابله د نعمة کښ وی نو معلومه شوه چه حمد په دی اعتبار عام شو او شکر خاص شو. نو دا نسبة د عموم خصوص مطلق دے اوپه دی نسبة کښ دری مادی ضروری دی. (١) ماده اجتماعی د حمد او شکر نو هغه داده چه تاسره یو انسان ښه اوکړی او تا ورته اوی چه جزاك الله (٢) ماده انفرادی د حمد هغه داده چه ته دیو انسان هسی په لسان سره صفات بیانوی (٣) ماده انفرادی د شکر چه یو انسان درسره ښه اوکړل او ستا ورته په زړه کښ عظمت راشی او یا ورسره په لاس ښپو خدمت شروع کړی. باعتبار الاستعمال فرق دادے چه د حمد مقابله کښ هجو او د مدح مقابله کښ ذم او د شکر مقابله کښ کفران راځی.

تنبیه: وجه داختیار د حمد په مدح او شکر باندی تعلق ساتی د مجموعه تشریح سره نو هغه به هلته بیانولی شی.

تشریح د لوليه: لام حرف جر دے دپاره د اختصاص دے. ولی دا صیغه د صفة مشبه ده دا د مجردو او مزیدو دواړو نه راځی د مجردو نه دا د باب د حسب یحسب نه دے په معنی د محبت کونکی او امداد کونکی سره او چه دا د مزیدونه شی نو بیا په صلی سره معنی بدلوی لکه تولّی الیه ای مال الیه او تولّی عنه ای اعراض عنه تولّاه ای جعله والیا او تولّی فیه ای تصرف فیه دلته دا د مجردو نه دے نو معنی د عبارت به داسی شی چه حمد ثابت دے ولی د حمد لره چه ولی د حمد الله دے خکه د حمد سره محبت کوی او د حامد ینو

امداد هم کوی او مالك د حمدهم الله دے او بیا دا ضمیر مجرور په لولیه کښ راجع دے حمد ته.

تشریح د مجموعه: اوله خبره خو داده چه مصنّف په اول د کتاب کښ حمد راوړو پس د بسم الله نه نو دی دپاره هم هغه وجوه خمسه دی. دوېمه خبره داده چه مصنف په اتیان د حمد کښ خلاف اوکړو د سلفو صالحینو نه چه عنوان د حمد ئې بدل کړو ځکه عام عنوان د حمد په "الحمد لله "سره دے او مصنف "الحمد لولیه" اوی په دی کښ ۱ یوه نکته داده چه دا عبارت ګرځی د قضیه فطریه نه صراحةً بیا د قضیه فطریه مقصد دادے چه دعوی مع الدلیل وی.نوپه دی عبادت کښ دعوی مع الدلیل ده صراحة په دی شان سره چه حمد ا لله دپاره خاص دے (دعوی) ځکه چه الله ولی د حمد دے (دلیل) اوپه عنوان د سلفو صالحینو کښ هم دا د قضیه فطریه نه ګرځی خو صراحة نه ځکه هلته چه د الله رب العزت کله تعریف اوشی چه د مستجمع د صفاتو د کمال دے نو بیابه دلیل واضح شی چه حمد ا لله دپاره دے (دعوی) ځکه هغه دامستجمع دے.د صفاتو د کمال او حمد هم یوصفة دے د کمال (دلیل) ۲دوېمه نکته پکښ داده چه مصنف عمل کوی په قانون د عوامو باندی چه کلّ جدید لذیذٌ دے نو دلته طریقه او عنوان بدل کړو ۳درېمه نکته پکښ داده چه داپه اعتبار د سجعی عبارت ذکرکوی په دی شان سره چه روستو کلام په یو انداز ذکر دے نوداهم دهغی موافق شی لکه روستو وائی ادابه، اله، نوداجمله هم شارح بدله کړه دَوجےموافقت دَمابعد نه

سوال: سجعه خو برابر ول د "ما" بعد وی د "ما" قبل سره او دلته خو عکس دے برابر ول د اول دی د اخر سره.؟

جواب: سجع چه څنګه برابرول دما بعد وی د "ما" قبل سره نو دغه شان برابرول د اول هم د اخر سره دی. درېمه خبره داده چه مصنف الحمد اوی او المدح یا الشکر ئې اونه وی نو یوه وجه خو داده چه حمد کښ هغه وجوه خمسه وارد شوی دی او داپه مدح او شکر کښ نشته. دوېمه وجه داده چه حمد د مدح او شکر نه کافی کیږی ځکه حمد خاص دے او شکر او مدح عام دی نو تتحقق د خاص مستلزم وی تحقق د عام لره او مدح او شکر د حمد نه نه کافی کیږی ځکه دا عام دی او تحقق د عام خو مستلزم نه دی خاص لره دغه شان شکر په مقابله د نعمت کښ وی او حمد داسی نه دے نوپه ذکر د شکر سره به شُبهَ د لالچ هم وه

والصلوة علی نبیه : اجمالی خبری (۱) ربط د "ما" سبق سره (۲) تشریح د لفظ صلوة (۳) تشریح د لفظ د علی (٤) تشریح د لفظ د نبی (٥) تشریح د ضمیر مجرور په نبیه کښ

ربط:ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف د دوو خبرو د خطبی نه چه هغه تسمي او حمد وو نو شروع ئی اوکړه په دریمه خبره د خطبه کښ چه صلوة دے په نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه په ال او اصحاب باندی او وجوه د اتیان د صلوة هم هغه وجود دی. حدیث پکښ په دی شان سره دے چه کل امرذبالٍ "لا" یبدا فیه بحمدالله والصلوة علی فهو اقطع ابتر ممحوق من کل برکة رواه الرهاوی فی الاربعین ،والدیلمی فی مسندالفردوس او کما قال النبی صلی الله علیه وسلم او دغه شان نبی علیه السلام موثرهم سره محسن هم دے او د احسان بدله هم احسان وی څکه الله وائی هل جزاء الاحسان إلا الإحسان.

او دغه شان دپاره د حصول د برکة او شفاعت هم اتیان بالصّلوة کولے شی.

ربط لفظی:(۱) واو حرف عطف "الصلوة" مبتداء ده. "علی نبیه" جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر، نو مبتدا او خبر جمله خبر یه اسمیه معطوفه ده په "ما" قبل جمله باندی نو دا عطف د جملی دے په جمله باندی (۲) واو حرف عطف "الصلوة" معطوف په "الحمد" باندی "نبیه" عطف دے په "لولیه" باندی دا عطف د مفرد علی المفرد دے او دا عطف د اسمینو دے په معمولینو د عامل واحد باندی بیا هغه عامل دواړو کښ ابتدا ده.

تشریح د لفظ الصلوة: دپاره د سهولة لابدی ده د څو خبرو نه (۱) صیغه د صلوة (۲) معانی د صلوة (۳) حیثیة د دغه معاینو د صلوة (٤) تعین د "ما" هو المراد ههنا (٥) حکم د صلوة .

(۱) صیغه د صلوة: د مصدر ده د باب تفعیل نه .

سوال: نو چه دا د باب تفعیل نه شو نو وزن د تفعیل څو نه دے؟

جواب: دا مصدر دلته موافق السمع راغلی دے مخالف القانون یعنی قانون خو دا تقاضا کوی چه په وزن د تفعیل راشی نو تصلیة وئیلے شی خو دلته د اسماعا داسی راغلی دے، بیا دی کښ اختلاف دے چه دا د څه نه ماخوذ دے نو عند الجمهور دا ماخوذ دے د صَلَوٌۃ نه بیا دا واو په الف سره بدل شو او حرکت ئی "ما" قبل ته نقل کړو او صلوة شو واو پکښ تعظیما او تفخیما لیکلی شی، او زمخشری صیب وائی اصل ددی صلاء بالهمزه دے د تحریك الصلوین نه دے (معنی ئی دکناتو خوزولو نه ده) خو دا اول قول مختار دے څکه دی دوهمه معنی کښ سوء ادب دے.

معانی د صلوة: معانی د صلوة تقریبا لس دی (۱) دعاء قال تعالیٰ و صلّ علیهم و قال النبی اللهم صلّ علی ال ابی اوفی و ایضا قال علیه السلام اذا دعی احدکم فلیجب فان کان صائما فلیصلّ ای فلیدع (۲) عطف و میلان (۳) تفخیم و تعظیم (٤) تسبیح و تهلیل (٥) استغفار (٦) رحمت (٧) صفة کامله (٨) تحریك الصلوین (٩) تحریق (١٠) اداء اد ارکان مخصوصه په اوقات مخصوصه کښ

حیثیة ددغه معانیو : کله چه دیو لفظ دپاره معانی د یری وی نو ددی څو اقسام دی (۱) حقیقة (۲) مجاز (۳) مشترك په اشتراك لفظی سره (٤) مشترك په اشتراك معنوی سره (٥) منقول (٦) مر تجل . دی کښ دری اقوال دی .

(۱)قول اول: بعض وائی چه اد صلوة په معنی د دعاء کښ حقیقة دے او دی نورو معانیو کښ مجاز دے نو بلا قرینه به حقیقة مراد وی او مجاز به سره د قرینه نه اخستلی شی. (۲)قول ثانی بعض وائی اد صلوة مشترك دے په اشتراك لفظی سره چه اد دهر یوی معنی دپاره به جدا جدا وضع سره وضع دے نو دهری یوی معنی دپاره به "لا" بدی وی د قرینی نه په دی شان سره چه نسبة د صلوة الله ته اوشی نو مراد به رحمت وی او که نسبة ئی ملائکو ته اوشی نو مراد به استغفار وی او که نسبة ئی عبادو ته اوشی نو مراد به دعاء وی او چه نسبة ئی وحوشو او طیورو ته اوشی نو مراد به تسبیح او تهلیل وی (۳)قول ثالث بعض وائی اد صلوة مشترك دے په اشتراك معنوی سره چه داسی یوه معنی تری نه مراد شی چه دی ټولو ته شامله شی او هغه افاضة الخیر ده راتوی کول د خیر.

تعین د معنی مرادی ههنا: دلته په معنی ددعاء دے یا افاضة الخیر سره

حکم د صلوة :حکم د صلوة په دوه قسمه دے (۱) په چا باندی به صلوة وایو؟ (۲) په کوم جهة سره به ئی وایو وجوبا که مباحا که څنګه؟

روافض او شیعه وائی چه مستحق د صلوة پانچ تن پاك دی علاوه د نبی کریم نه (۱) حسن (۲) حسین (۳) علی (٤) فاطمه (٥) مقداد بن الاسود رضی الله عنهم.

اهل السنة و الجماعة وائی دری صورتونه دی چه دوه جائز دی او یو ناجائز دے (۱) په تبع د نبی علیه السلام کښ په چا صلوة وئیل اد جائز دے (۲) نبی کریم علیه السلام په چا باندی مستقلا صلوة او وائی لکه اللهم صل علی ال ابی اوفی اد هم جائز دے (۳) علاوه د نبی علیه السلام په چا باندی مستقلا صلوة وئیل اد صورة نا روا دے.

صلوة په ژوند کښ يو ځل وئيل په نبی باندی فرض دی لقوله تعالی يايها الذين امنوا صلوا عليه الاية نو صلوا صيغه د امر ده تقاضا د فرضية کوی اوپه مجلس کښ چه بار بار د نبی عليه السلام نوم اخستلی شی نو واجب دی چه يو ځل او ټيلی شی او بار بار وئيلی مستحب دی او عند الامام الطحاوی رحمه الله واجب دی بار بار وئيل په يو مجلس کښ اوپه قاعده اخيره ځانزه کښ عند الشافعی رحمه الله فرض دی او عند غيره سنة دی.

تشريح د لفظ علی:دا حرف جر دے دپاره د استعلاء راځی حسا يا حکما.

سوال: صلوة په معنی د دعاء دے او د دعاء په صله کښ چه کله علی راشی نوداپه معنی د دعاء الشر سره وی او دا معنی خو دلته نا مناسبه ده .

جواب:او دا قانون خو دے خو داپه هغه وخت کښ چه د دعاء لفظ په صله کښ علی راشی . او دلته لفظ د دعاء نشته دے بلکه معنی د دعاء ده لفظ د صلواة دے (۲) دا علی د صلوة په صله کښ نه ده چه داپه معنی د دعاءبالشر شی او اعتراض دی وارد شی بلکه دلته نازلة مقدر دے دا دهغی په صله کښ ده.

تشريح د لفظ نبی :دپاره د سهولة (۱) صيغه د نبی (۲) معنی لُغوی ددی (۳) معنی اصطلاحی د نبی (٤) فرق په درميان د نبی او رسول کښ (٥) وجه د اختيار د نبی په رسول .

صيغه د نبی:مصدر دے په وزن د فعيل باندی دے او داخو يا ماخوذ دے د نبأ ينبأ مهموز اللام نه اصل کښ نبيئ دے همزه په يا سره بدل شوه د خطيئة قانون د مطابق او بيا ياء په ياء کښ مدغم شوه نو نبی شوے او يا ماخوذ دے نبا ينبو ناقصونه نو اصل کښ نبيو دے بيا دا واو بدل شو په ياء باندی په قانون د مرمی سره او بيا پکښ اغام اوشو نو نبی شو.

معنی لغوی: که د مهموز نه شی نو بيا په معنی د خبرو رکولو سره دے اوکه د ناقصو نه شی نوپه معنی د رفعة سره به وی وجه د تسميه به داسی شی چه دا فعيل وزن مصدر خو يا منی للفاعل دے او يا مبنی للمفعول که مبنی للفاعل شی نو بيا به ياد مهموز نه وی يا د ناقصونه که د مهموز نه شی نوپه معنی د خبرورکونکی سره دے او نبی عليه السلام خو مخبر صادق دے اوکه د ناقصونه شی نو نبی عليه السلام خو اوچتونکی دے خپل امت لره دنيا کښ په اطاعة باندی او اخرة کښ په شفاعتا اوکه دا مبنی للمفعول شی نو بيا به ياد مهموز نه وی او يا دنا قصونه که د مهموز نه شی نوپه معنی د خبر ورکړی شوی او نبی عليه السلام ته خبر ورکړے شوی دے من الله اوکه د ناقصونه شی نوپه معنی د اوچت کړے شوی دے او نبی عليه السلام اوچت کړے شوی دے.

فائده جليله :نيلوى صيب رحمه الله يو رساله ليكلى ده په نوم دا القول القوى فى تحقيق لفظ النبى سره هغو فرمائى: چه دانبى وزن د فعيل صفة مشبه ده د نَبَأَيَنبَؤُ ناقصونه دے او د مهموز نه نشى كيدلے خكه چه وزن د فعيل د مهموز ونه جمع كبرى په وزن د فُعَلاء باندى لكه بريئ نه براء او د ناقصو وزن د فعيل جمع كبرى په وزن د أفعلاء باندى اوس د نبى جمع په وزن د أفعلاء سره راخى چه انبياء دے خويه وزن د فُعَلاء سره نه راخى چه نُبَاء دى شى. و على هذا په دى اعتبار سره د ناقصونه دے او د مهموز نه بيا دا نشى كيدلے.

اصطلاحى تعريف د نبى: انسان بعثه الله تعالى إلى الخلق لتبليغ الاحكام معه كتاب متجدد اولا په دى تعريف باندى قيل قُلنا شته دے تركناه لضيق الوقت

(فرق په درميان د نبى او رسول كښ) په دى فرق كښ قوم اختلاف كړے دے.

(۱)قول اول د نبى او رسول درميان كښ هيڅ فرق نشته دے او مستدل يې قول د الله دے وكان رسولا نبيا (۲)قول ثانى د نبى او رسول درميان كښ فرق په مبائنة سره دے مستدل قول د الله دے وما ارسلنا فى قرية من رسول ولا نبى دلته عطف د نبى شوې دے په رسول باندى او عطف تقاضا د مغائرة كوى.

(۳)قول ثالث د نبى او رسول درميان كښ فرق په نسبة د عموم خصوص سره دے بيا دلته دوه قوله دى (۱) رسول عام دے او نبى خاص دے په دى شان سره چه نبى صرف په انسانانو كښ وى او رسول په انسانانو، جناتو او ملائكو كښ هم وى (۲) نبى عام دے او رسول خاص دے په دى شان سره چه نبى سره نوى شريعة او كتاب كيدل ضرورى نه دى او د رسول سره نوى كتاب كيدل ضرورى دى.

(وجه د اختيار د نبى په رسول باندى):دا نبى عام دے او رسول خاص دے او حكم په عام باندى مستلزم وى حكم لره په خاص باندى نو نبى د رسول نه كافى دے (۲) مصنف اختيار د نبى اوكړو دپاره د موافقة د سجع.

(د ضمير مجرور تشريح په نبيه كښ):سوال دا ضمير څه ته راجع دے؟ دوه احتماله دى اودوارړه نه ځيح كيږى يو داچه راجع شى حمد ته نو معنى به فاسده او مهمله شى خكه معنى به شى چه صلوة دى وى په نبى د حمد باندى او دا فاسده ده بداهةً دويم كه راجع شى ولى ته نو معنى خو صحيح ده خو انتشار فى الضّمائر به راشى په دى شان سره چه لوليه كښ ضمير حمد ته راجع دے او دلته نبيه كښ به ولى ته راجع شى فهل الى خروج من سبيل؟

جواب: دا ضمير راجع دے ولى ته او انتشار فى الضمائر دلته ناروانه دے خكه دا كلام جدا دے جدا.

(و علی آله و اصحابه المتأدبین .....ادابه) اجمالی خبری (۱) ربط (۲) تشریح د لفظ علی (۳) تشریح د لفظ اله (٤) تشریح د لفظ اصحابه (٥) تشریح د المتأدبین بادابه . تفصیل بالترتیب کیدلے شی.

ربط: ربط معنوی خو دادے چه کله مصنف فارغ شو د صلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم نه چه دا محسن بالذات وو دپاره د امة خپل نو اوس ئی شروع وکړه په صلوة د ال او اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم باندی چه دوی هم محسنین دی بالواسطه دپاره د امت کما قال تعالی و هل جزاء الاحسان الا الاحسان و قال النبی صلی الله علیه وسلم من ذکرنی و لم یذکر الی فقد جفانی.

ربط لفظی: داسی دے چه واو حرف عطف "علی" جاره "ال" مضاف "ه" ضمیر مضاف الیه مضاف، مضاف الیه معطوف علیه و حرف، عطف اصحاب مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف بیا معطوف سره د معطوف علیه نه موصوف شو او المتأدبین بادابه و رله صفة دے په دی شان سره چه المتأدبین صیغة د اسم فاعل ضمیر مستتر پکښ فاعل شو. باء حرف جر "ادابه" مضاف مضاف الیه مجرور شو جار مجرور متعلق شو د المتأدبین سره موصوف سره د صفة نه مجرور د حرف جر چه علی دے او بیا داپه "ما" قبل باندی عطف دے چه نبیه دے.

تشریح د لفظ علی: سوال دی علی ذکر کولو ته څه حاجت دے داپه "ما" قبل باندی عطف دے د علی لاندی دے

جواب: په ذکر د علی سره رد کوی په روافضو او شیعو باندی څکه هغوی یو روایت موضوعی بیانوی چه "من فصل بینی و بین آلی بعلی لم ینل شفاعتی". (۲) مصنف دا لفظ د علی دوباره ذکر کړو چه نصف اول د قطعه ثانیه کم نه شی د نصف ثانی د قطعه اولی نه. تدبر حتی تبین لك الحق حقا.

تشریح د لفظ ال :اجمالی خبری دپاره د سهولة (۱) صیغه (۲) اصل د ال (۳) معنی ددی (٤) مصداق ددی (٥) فرق په درمیان د اهل او د ال کښ.

تنبیه: په دی کښ یو کتاب لیکلی شوی دے چه مسمی دے په القول المتعال فی تحقیق لفظ ال تفصیل هغه کښ پکار دے.

(١) په صيغه ددى كښې څو اقوال دى. (١)قول اول عند المحققين د اسم جمع ده بيادا اسم جمع په درى قسمه ده (١) چه مفرد ورله نه وى اصلا لكه "قوم" (٢) مفرد ورله وى خو من لفظه نه وى لكه "أولو" چه مفرد ئى ذو دے (٣) مفرد ورله من لفظه وى خو خلاف القياس لكه "ركب" جمع ده د راكب پكار په وزن د أفعُل باندى وو. (٢)قول ثانى عند البعض دا صيغه د اسم جنس ده . (٣)قول ثالث عند البعض دا صيغه د صفة مشبه ده. (٢) اصل ددى په دى عنوان كښې هم څو مذاهب دى مذهب اول عند البصرين داپه اصل كښې اهل وو بيا هاء همزه شوه د وجې د قرب د مخرج نه نو آءل شو بيا همزه ثانية په الف سره بدله شوه د امن قانون موافق نو ال شو دوى دپاره مستدل تصغير ددى دے چه هغه اهيل راځى او تصغير او جمع تكسير سره شئ خپل اصل ته رد كيږى. مذهب (٢)ثانى عند يونس ابن كيسان اصل كښې د أولْ دے بفتح الهمزه و الواو بيا دا واو متحرك "ما" قبل مفتوح وو نو داپه الف سره بدل شو نو ال شو دوى لره هم تصغير مستدل دے چه أويل دے او دا مذهب منسوب دے زمخشرى ته هم مذهب (٣)ثالث امام اصمعى او كسائى صاحب دا مذهب رانقل كړى دے چه عند الكوفين دا دوارهٔ كلمات براسهادى مستدل د دوى دپاره داخبره ده چه دوى وائى مونږ په كوڅو (سكك) د عربو باندى تيريدو نو مونږ د فصحاء نه واوريدل چه هغووى ألّ أويلُ آهلٌ أهيَلٌ او دا قول مختاره دے څكه دا منقول دے د عربو نه .

معنى ددى لفظ: اصل كښې خو ال يئول په معنى د رجوع سره راځى لغةً اوپه اصطلاح كښې په دريو معانيو باندى اطلاق كيږى (١) جنود (لښكرى) (٢) نفس لكه ال موسى و ال هرون نفس مراد دے (٣) ما تحت د يو انسان .

مناسبة د دى د معنى لغوى سره په دى شان دے چه انسان خپل نفس او "ما" تحت او خپل لښكر ته رجوع كوى.

مصداق ددى دا دوه قسمه دے (١) ال حسى (٢) ال نسبى

ال حسبى: هر مومن مسلمان تقى نقى دے قال المعصوم "كل تقىّ و نقىّ فهو ألى" و قال تعالى تائيدًا: إن اولياء ه إلا المتّقون و قدّرو قول الشاعر.

أل النبي أتباع ملّته ... من السودان و العجم و العرب

لوكان أله أل قرابته ... فليصل المصلى على طاغى أبى لهب

ال نسبى په دى عنوان تقريبا دولس اقوال دى خو مشهور اقوال دادى.

(۱)قول اول عند الروافض پانچ تن پاك دی. (۱) حسن (۲) حسین (۳) علی (٤) فاطمه (۵) مقداد بن الاسود .

(۲)قول ثاني عند الشافعی بنو هاشم دی (۳)قول ثالث عند البعض ټول قریش دی (۴)قول رابع عند البعض مراد هغه قریش دی چه د کعب بن لویٔ نه دی او دا د قریشو مشر وو په دار الندوه کښ دوی راجمع کیدل او ده به ورته تقریر کولو (۵)قول خامس عند البعض مراد اولاد نبی علیه السلام دی د ازواجو و بناتونه (۶)قول سادس عند البعض ازواج د نبی علیه السلام دی (۷)قول سابع عند الامام الاعظم مراد ددی نه هغه دی چه صدقه او زکوة اخستل پری حرام دی او داپه پنځه قسمه دی اولاد علی رضی الله عنه اولاد جعفر رضی الله عنه اولاد حارث رضی الله عنه اولاد عقیل اولاد عباس رضی الله عنهم. (فرق په درمیان د ال او اهل کښ) په دی کښ څو فرقونه دی څو دا اکثری دی فرق اول د اهل اطلاق په الله باندی کیږی په خلاف د ال باندی و کما قال تعالی هو اهل التقوی و اهل المغفرة اګرچه علامه فیروزآبادی وائی: چه د ال اطلاق هم په الله کیدلے شی فرق ثانی اکثر د ال اضافة ضمیر ته کیدلے شی په خلاف د اهل باندی فرق ثالث ال خاص دے اهل عام په دی شان سره چه د ال نسبة صرف ذوی العقول ته کیږی او اهل عام دے نو ال المدینه وئیل ناروا دی او اهل المدینة وئیل روادی. فرق رابع د ال نسبة په ذوی العقول کښ اشرافو ته کیږی په شرافة دنیوی یا اخروی سره او اهل عام دے، نو ال الرسول او ال فرعون جائز دی څو ال الحجام وئیل ناروا دی په خلاف د اهل چه اهل الحجام روا دی فرق خامس ال کښ اضافة صرف ذکور وته کیږی په خلاف د اهل باندی نو اهل فاطمة وئیل روا دی په خلاف د ال چه ال فاطمه ناروا دی.

تشریح د لفظ اصحاب:اجمالی مباحث دپاره د سهولة (۱) ربط (۲) صیغه (۳) تعریف ددی.

ربط:که د اله نه مراد ال حسی شی نو بیا په اصحاب سره تخصیص بعد التعمیم دے اوکه ال نسبی مراد شی نو بیا په اصحاب سره مراد تعمیم بعد التخصیص دے.

د اصحاب صیغه د جمع ده څویه تعین د مفرد کښ څو اقوال دی. قول اول دا جمع د صاحب ده لکه شاهد په اشهاد سره . قول ثانی داجمع د صحب بفتح الفاء و سکون العین سره لکه نهر په انهار سره . قول ثالث داجمع د صحیب ده لکه شریف په اشراف باندی . قول رابع دا جمع د صحب بفتح الفاء و کسر العین ده لکه نمر په انمار باندی (۳) تعریف د صحابی داهر هغه انسان دے چه د نبی علیه السلام صحبة ورته حاصل شوی وی په ویخه باندی سره د ایمان نه او بیا وفات هم په ایمان وی لك ابو بکر الصدیق رضی الله عنه وغیره بیا مونږ اوی چه صحبة ورته حاصل وی دا احتراز دے زمونږ غیره نه اوپه ویخه باندی دا احتراز دے دهغه ړانه چه خوب کښ نبی علیه السلام اوینی او د ایمان سره نو احتراز دے د ابو جهل وغیره نه چه د نبی علیه السلام زمانه کښ کفاروؤ او وفات هم په ایمان وی دا احتراز دے د مرتدنه په زمانه د

نبی علیه السلام کښ - (المتادبین بادابه) چه ادب حاصلوی په اداب د نبی علیه السلام سره دلته څو اعتراضات دی.

سوال: دی قید د المتادبین بادابه ته ضرورت نه وو ځکه مقصد داشو چه صلاة دی په اصحابو باندی هغه وخت وی چه المتادبین بادابه وی او ددی نه علاوه وخت کښ دی پری صلوة نه وی نوداخوښه خبره نه ده په دوی باندی هر وخت صلوة وئیل پکار دی.

جواب: په دی قید ذکر کولو سره مصنف اشاره کوی براعة الاستهلال ته چه په دی علم سره ادب حاصلیږی او ادب اجتماع خصال الحمیده ته وائی

سوال: المتادبین کښ الف لام استغراقی دے نو مقصد داشو چه ټول صحابه په مرتبه کښ برابر دی حالانکه خبره داسی نه ده بلکه د صحابو مراتبو کښ فرق شته دے لکه اول ابو بکر رضی الله عنه بیا عمرو وغیر.

جواب: مراد نفس ادب دے او اصحاب ټول په نفس ادب کښ شریك وو.

سوال: بادابه کښ اداب اضافة دی ضمیر ته شوی دے نو دا فائده د استغراق ورکوی نو مقصد داشو چه صحابه ټول د نبی علیه السلام په اداب باندی متادبین وو نو داخو لازم شو مساواة د اصحابو د نبی علیه السلام سره او داهم ناروا ده؟

جواب: استغراق نشته دے جنسية مراد دے.

سوال: دا ادب یو عرض دے یو محل پوری قائم وی نو چه صحابه هم متادبین شول نو لازم شو قیام د شئ واحد په محلینو پوری او داناروواه ده علاوه دا وایو چه عرض انتقال نه قبلوی دلته ځنګه انتقال راغئ نبی علیه السلام نه صحابو ته.

جواب: داعبارت د شارح په حذف د مضاف دے ای مثل ادابه نو قیام دیو شئ رانغئ په محلینو پورے بلکه دهغی د مثل راغی او انتقال هم اونه شو بلکه هغه په خپل ځائے قائم باقی شو.

(اما بعد فهذه فوائد وافية) اجمالی خبری (۱) ربط (۲) تعین د هغه مباحثوی چه په دی حصه د کتاب کښ (۳) تشریح مختصر د دغه مباحثو (٤) تشریح د لفظ اما (٥) تشریح د لفظ بعد (٦) تشریح د مجموعه (٧) تشریح د لفظ فاء په "فهذه" کښ (٨) تشریح دهغه الفاظو چه د فاءنه روسته دی ټق اعلم پورے.

ربط:ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف ديوے حصه نه چه خطبه وه نو شروع ئې اوکړه په دويمه حصه کښ چه ديباجه ده بيا ديباج ريشموته وائي او دا خلق دپاره د زيب او زينة استعمالوی او دی حصی ته هم ځکه ديباجه وی چه پکښ د کتاب تزيين وی اوپه دی کښ مصنفين هم ښائسته خبری کوی فارسی کښ ورته "ديباچه" وائي او پښتو کښ ورته سريزه وائي.

تنبيه: ربط لفظی بيان نه شو ځکه دلته دا الفاظ مغلّق دی د تفصيل نه پس به معلوم شی.

(تعين د مباحثو په دی حصه کښ): اول خو داخبره ده چه ديباجه دوه قسمه ده (۱) ديباجه د متن اودی کښ دوه خبری وی (۲) باعث على التصنيف (۲) فی هذا الفن (۲) ديباجه د شرح اودی کښ دری خبری وی (۱) باعث على التصنيف (۲) فی هذا الفن (۳) على هذا الكتاب نو دا کتاب هم شرح ده دا دری خبری به وی نو اول باعث على التصنيف:. د دين د خدمت مختلف طرق دی لکه درس تدريس، او وعظ، و نصيحت دغه شان تصنيف، او تاليف نو مصنف اراده اوکړه د دين د خدمت نو باعث پرې هم داخبره شوه بيا ئې داسی طريقه اختياره کړه چه دائمه او مستمره وی نو هغه هم د تضيف طريقه وه نو مصنف قلم ته لاس کړو.

دويم فی هذا الفن دا فن د نحو لوی مقام لری دا خادم د قران او سنت وو کما قلنا و مر نو مصنف په دی فن کښ تصنيف اوکړو.

دريم على هذا الكتاب موثر داخبره ثابته کړی ده چه ددی کتاب چه مسمی دے په کافيه باندی شروح ډير زيات وو خو داسی شرح پکښ نه وه چه مفيده وی نو احتياج وو يو شرح ته چه مفيده وی نو هغه هم دا شرح ده او شارح دی ته اشاره کړی په دی خپل قول سره چه "فوائده" ده.

اول باعث شو.

دويم باعث داوو چه دا شروح ددی شارحينو وافی نه وے ناقصے وے نو داسی شرح پکار وه چه وافی وی هغه هم داده او شارح دی باعث ته اشاره کوی په "وافيه" سره.

دريم داچه هغه شروحو د مشکلاتو حل هم نه وو کړې نو داسی شرح پکار وه چه پکښ د کافيه د مشکلات حل وی او هغه هم دا شرح ده او دی باعث ته اشاره کوی په "بحل مشکلات الکافيه" سره.

څلورم. دغه شروح چه وونو دهغی عبارات هم غير مرتب وو او په ذهن د سامع کښ پوره نه کيناستل نو داسی شرح پکار وه چه مرتب وی او هغه هم دا شرح ده او دی باعث ته اشاره کوی په "نظمتها فی سلك التقرير" سره.

پنځم داچه هغه شروح چه وو نو دهغی کتابة منقّح نه وو په انسان باندی غم کیدو نو داسی شرح پکار وه چه کتابة ئی منقح او صاف وی هغه هم دا شرح ده او دی باعث ته ئی اشاره کړی ده په "سمط التحرير" سره.

شپږم داچه د شارح دپاره يو بچی وو ډير عزيز وو په شارح باندی نوهغه هم باعث په مصنف ☐ په ليکلودد‍ےشرح په دے کتاب باندی اوګرځيدل

ده اودی ته اشاره کوی په "للولد العزيز" سره اووم داچه نور طلباء د علم هم ډير زيات وو نو دهغو دپاره هم ● شرح ضرورت وو نو دهغو دپاره دا اوليکله او دی ته اشاره کوی په "سائر المبتدين" سره.

(تشريح د لفظ اما):په دی عنوان کښ دوه قسمه تشريح ده (۱) دا اما په څو قسمه ده (۲) اصل ددی أمّا څه دے اول داخبره ده چه د اما دوه اقسام دی (۱) تفصيلية دا هغه ده چه تقاضا د سبق اجمال مناسب کوی او بيا په دی اما سره دهغی تفصيل وی مثلا جاءنی ثلاثة رجال زيد و عمرو و بکر فأما زيد فأکرمته و أما عمرو فأرسلته و أما بکر فأهنته (۲) استينافيه دا هغه ده چه سر د خطباتو کښ راځی او دی کښ اشاره وی دی خبری ته چه دی ځائے نه مستقل بحث دے بيا دلته چه دا اما راغلی ده نو داهم استينافيه ده . دويم اصل د اما نو په دی کښ څلور مذاهب دی مذهب اول خليل بن احمد استاذ د سيبويه وائی چه اصل د اما مهما دے بيا دا په همزه بدله شوه نو د أمأما شو بيا پکښ قلب مکانی اوشوه ځکه همزه په بعض اوقاتو کښ تقاضا د صدارة فی الکلام کوی لکه همزه دا استفهام شوه نو همزه څو ساکن وو او داخو ابتداء بالساکن راغله چه دانارواده نو د ميم حرکت "ما" قبل همزه ته نقل شو نو أمما شو بيا دوه حرفه ديو جنس نه جمع شول اول ساکن ثانی متحرك نو ادغام پکښ اوشو نو دا أمّا شو. مذهب ثانی جمهور نحاة وائی چه اصل د اما مأمّا وو او بيا أمّا شو لکه دا تير مذهب کښ چه څنګه اوشو مذهب ثالث رئيس النحاة سيبويه وائی چه اصل د اما ان "ما" وو بيانون په ميم سره بدل شو د وجی د قرب مخرج نه او بيا پکښ ادغام اوشو نعو دا اما بکسر الهمزه شوه نو بيا ددی التباس راتلو د اما ترديد په تفسيريه سره نو موئږ دپاره د دفع د التباس دا کسره د همزی په فتحه بدله کړه نو اما شوه مذهب رابع ابو البقاء وائی چه اما کلمه براسها ده داحرف دے او قانون په حروفو کښ عدم اعلال دے.

تشريح د لفظ بعد:دا ظرف زمان دے او اصل کښ دا ظرف مکان دے څو اصل او حقيقة ئی مهجور دے او په مجاز کښ کښ مستعمل دے مثال د بعد مکانی لکه داری بعد دارك او د بعد زمانی مثال لکه ان عمر رضی الله عنه بعد ابی بکر رضی الله عنه يعنی زمانه د عمر رضی الله عنه پس د زمانی د ابو بکر رضی الله عنه ده او دا کله دپاره د بعدية رتبی هم راځی لکه حجاج

بن يوسف بعد عبد الملك بن مروان زمانه د دوارو يوه وه خو حجاج وزيروو گورنر وو او عبد الملك خليفه وو نو دهغه مرتبه او چته وه كنه.

بيا دپاره د بعد په اعتبار د اعراب او بناء سره څلور احوال دى:

تجزيه داسى ده چه په دريو احوالو كښ دا معرب وى او يو حالت كښ مبنى درى احوال د اعراب (١)چه مضاف اليه بعد ذكر وى لكه بعد حمد الله الخ(٢) چه مضاف اليه د بعد حذف وى نَسيا منسيا نو معرب به وى لكه يو قرا ة دے لله الامر من قبلٍ ومن بعدٍ په تنوين د قبل او بعد سره (٣) چه كله د بعد مضاف اليه حذف وى او په عوض كښ ترى نه څه راغلى وى قال الشاعر

فساغ لى الشراب و كنت قبلا   اكاد اغصّ بالماء الفرات

دلته قبلا راغلى دے مضاف اليه حذف دے اصل كښ قبل ذالك ووذالك حذف شو خوعوض كښ تنوين راغلے

په دى دريو احوالو كښ به دا معرب وى څكه دا اسم دے او اصل په اسماء كښ اعراب دے څو چه دا مشابه شوى نه وى د مبنى الاصل سره په مناسبت مؤثره متع د اعراب كښ بيا مشابهة موثره هغه دے چه دليل د اعراب پكښ معارض نه وى واقع شوى د دليل د ابناء سره او دا بعد يو حالت كښ مبنى دے هغه داچه ددى مضاف اليه حذف وى په حذف منوى سره نودابه مبنى وى او على الحركت به وى اوپه حركت د ضمه سره به وى. نو اوس په دى مقام كښ درى سوالات راغلل. دا نفس مبنى ولى شو حالانكه دااسم دے او اصل په اسماء كښ اعراب دے؟ (٢) بيا مبنى على الحركةولے شو حالانكه اصل په بناء كښ دا ده چه په سكون سره وى؟ (٣) بيا چه مبنى على الحركة شونو ضمه ولى متعين شوه حالانكه سكون ته قريب فتحه ده نويه فتحه مبنى كول پكار وو؟

نو بالترتيب جوابات داسى دى اول نه جواب دادے چه نفس مبنى خو څكه شو چه كله د بعد مضاف اليه حذف شو نو دا مشابه شو د مبنى الاصل سره په مشابهة موثره سره په منع د اعراب كښ مبنى الاصل درى اشياء دى (١) ماضى (٢) امر حاضر (٣) تمام حروف بيا دا بعد پكښ مشابهة ساق د حرف سره په احتياج ، احتياج كښ په دى شان سره چه څنگه حرف په افاده د معنى كښ محتاج وى ضم د كلمه اخرى ته نو داسى دا بعد هم دے چه محتاج دے مضاف اليه ته او دهغى راويستلو ته نودابه احتياج، احتياج كښ مشابهة ساق د حرف سره.

دے سره سوال: دفع شو كله چه د بعد دپاره مضاف اليه ذكر وى نو هم محتاج دے دى مضاف اليه ته نو دى حالت كښ هم مبنى كرو د وجى د مشابهة نه د مبنى الاصل سره.

جواب: موئز اوی چه دا مشابهة ساتی د حرف سره په احتیاج، احتیاج کښ چه یو مضاف الیه دے او بل د هغی راویستل دی او چه مضاف الیه ذکر وی نو بیا یو احتیاج دے.

دویم: نه جواب دادے چه مبنی علی الحرکة ځکه شو چه دلالت اوکړی په دې خبره چه د ابناء عارضی ده اوسکون خویه مبنی الاصل کښ اصل دے دریم نه جواب دادے (۱) چه دامو مبنی علی الضمه ځکه کړو چه کله د دی نه مضاف الیه حذف شو نو دی کښ ډیر لوئ نقصان اوشو اوس دلوئ نقصان دپاره جبیره قوي پکار ده نویه دریو حرکاتو کښ ضمة قوی ده نو مبنی شوه په ضمة باندی. (۲) مبنی په ضمة ځکه شوه چه حالت بنائی مکمل مخالف شی د حالت اعرابی ددی سره په دی شان سره چه کله دا معرب وی نویه دی باندی کسره او فتحه راځی نو موئز دا مبنی علی الضمه کړو دپاره د مکمل مخالفة چه چرته التباس یکښ راتشی.

تحقیق د مجموعة:اول نوم ددی کلمی دویم واضع اول ددی نو اول خو دا ده چه نوم ددی کلمی فصل الخطاب دے دویم کښ څو اقوال دی قول اول یکښ دادے چه واضع اول ددی یعرب بن قحطان دے قول ثانی یکښ دادے چه واضع اول ددی سحبان بن وائل دے . قول ثالث دادے چه واضع اول ددی یعقوب علیه السلام قول رابع دادے چه واضع اول ددی داود علیه السلام دے او دا قول مشهور او مختار دے قال تعالی و اتیناه الحکمة و فصل الخطاب او هغه دا کلمه د اما بعد ده. والله اعلم

تشریح دفاء په فهذه کښ: دافاء په څو قسمه سره ده (۱) عاطفه چه دا سبق معطوف علیه غواړی (۲) جزائیه چه دا سبق شرط او اداة د شرط غواړی (۳) تعلیلیه چه مدخول ددی علت وی دپاره د ماقبل معلول او یا عکس وی چه مدخول ددی معلول وی دپاره د "ما" قبل علت (٤) تفریعیه چه مدخول د هغی یوجزی وی چه منتج وی د ماقبل دیو قاعدی او ضابطی نه (٥) تفصیلیه دا هغه ده چه سبق اجمال مناسب غواړی (٦) تفسیریه دا هغه ده چه سبق ابهام غواړی. (۷) زائده دا هغه ده چه دپاره د فصل وی فقط (۸) فصیحیه دا هغه ده چه په جزاء د شرط محذوف داخله وی. بیا په دی مقام کښ هم دا اتم خبر فاء صحیح ده نو تقدیر د عبارة به شی چه مهما یکن شئ من الاشیاء بعد التسمیة والصلوة فهذه فوائد الخ چه یو شئ د اشیاء نه وی نودا فوائد به هم وی بیا شرط او اداة د شرط حذف شول او اما دهغی قائم مقام شوه نو اما بعد شو .

سوال: د اما حرف دے او حرف د جمله قائم مقام کیدلے شی څه؟

جواب: او کدلے شی لکه نعم قائم مقام دے لکه یو کس تپوس اوکړی چه اجاءك زید نوجواب کښ د جاءك زید په ځائے نعم وئیلی شی. و الاولی داخبره بهتره ده چه اوئیلی شی چه د مهما نه اما جوړ شو او بیا فعل شرط حذف شو نو اما بعد شو.

النكتة اللطيفة مصنف دا كلام تعليقى دا ورو نه تجيزى داديارہ د تاكيد ۔

په اجمالى خبرو كښ دا اوو خبرو تفصيل شوى وو نن تفصيل دا اتمى ۔

د "ما" بعد الفاظو تشريح:اول لفظ هذه دے دى باندى سوال دے چه هذه خو اسم اشاره ده دى سره اشاره كيږى موجود فى الخارج او محسوس بالبصر ته او كتاب خو نه دے ليكلى شوى چه موجود دى هم شى او محسوس بالبصر نو څنګه ورته اشاره كوى؟

جواب: دا اعتراض به هله وو چه دا ديباجه ابتدائيه وى حالانكه داخو الحاقيه ده تفصيل د مقام دادے چه څوك تصنيف كوى نو دوى دپاره دوه طريقى دى (۱) اول دوى خطبه او ديباجه اوليكى او بيانو دى حصى د كتاب اوليكى نو دى خطبى او ديباجى ته ابتدائيه وائى (۲) دوئى اول د كتاب مضامين اوليكى او بيا په اخر كښ خطبه او ديباجه اوليكى دى ته الحاقيه وائى دلته هم دا دوېمه طريقه شوى ده نو اشاره كتاب ته شوى ده او كتاب ليكلى شوى وو. دا جواب مخدوش دے د دوو وجونه (۱) دا جواب بناء دے په احتمال باندى څكه كه مصنف خطبه او ديباجه اول ليكلى وى نو بيا خو دا جواب مكمل غلط دے (۲) اشاره كتاب ته هسى هم صحيح نه ده څكه كتاب چه د څه نه عبادت دے د دوى كښ اوه احتمالات دى (۱) فقط الفاظ (۲) فقط معانى (۳) فقط د نقوشونه دا درى صورته فرادى شول (٤) الفاظ و معانى (٥) الفاظ و نقوش (٦) معانى و نقوش دا درى صورته ثنائى ثنائى شول. ۳ + ۳ = ٦ + ۱ = ٦ الفاظ ، نقوش او معانى دا صورة ثلاثى دے. ۳+۳ =٦ + ۱ =۷

اوس كومو صورتونو كښ چه نقوش دى نوداباطل دى او دا تول څلور دى دريم او پنځم و شپږم او اووم صورتونه دى، څكه چه دا نقوش خو د عبد الرحمان جامى صيب نه دى بلكه دهغه ليكل نشته دے ختم دى دا ليكل چه ورته اشاره كيږى داخو د كاتبينو د مكتبو والا دى. باقى صورت نمبر ۱ چه فقط الفاظ شى هم صحيح نه دے څكه الفاظ موجود فى الخارج نه دى اذا وجد فتلاشى او صورت نمبر ۲ هم صحيح نه دے څكه معانى متعلق دى د ذهن سره موجود فى الخارج نه دى او صورت نمبر ٤ هم صحيح نه دے چه موجود فى الخارج نه دى داجواب مخدوش شو. (۲) دا جواب بعض مشائخ وائى چه هذا سره اشاره موجود فى الخارج محسوس بالبسر ته اكثر دى په ډيرو مقاماتو كښ ددى دپاره مشار اليه موجود فى الخارج او محسوس بالبصر نه وى لكه قوله ذلك الكتاب او دغه شان نبى ته وف راغلى وو د عبد قيس په نوم هغو اوى چه د الله رسوله موثر ته مكمل بيان اوكړه موثر بيانه شو راتلى.

داشهر حرم كښ راتلى شو څكه فان بيننا و بينك هذا الحق من مضر دلته هذا الحى ده. (۳) جواب په هذا كښ دا قاعده شته دے چه دى سره اشاره كيږى موجود فى الخارج محسوس بالبصر ته كودا موجود په دوه قسمه دے (۱) واقعى (۲) ادعائى واقعى خو هغه دے چه نفس الامر كښ موجود وى او خارج كښ محسوس بالبصر وى لكه تول اشياء موجوده.

ادعائی هغه دے چه موجود نه وی خو د وجی د تیقن د موجود د کیدلو او د سهولة دهغی نه په منزله د موجود گرخولی شوی وی دلته هم داسی ده چه د مصنف پوره یقین وو. داجواب عام شراح تول کوی.

بیا دی کښ مونږ ته تسلی هم ده چه داکتاب اسان لکه چه خارج کښ وی. دلته یوه معنی ده چه انسان بچ ساتی د ډیرو سوالاتونه نو دا بیانو فهذه داما حضر په ذهن د مصنف کښ چه معانی ددی کتاب دی هسی معانی چه دال دی په هغی باندی الفاظ مخصوصه ددی کتاب په صورة د نقوشو محسوسو کښ او هسی معانی چه حاضری دی په ذهن کښ په وجه اجمالی سره هسی وجه اجمالی چه متحده ده د وجه تفصیلی سره په اتحاد ذاتی او عرضی سره فوائد دا جمع د فائدة ده صیغه د منتهی الجموع ده دا اول باعث دے په شارح باندی "بحل مشکلات الکافیه" دلته مسنف استعاره کړی ده په دی شان سره چه مشکلات د کافیه تشبیه ئی ورکړی ده د یوی غټی سره دا استعاره بالکنایه شوه خکه مشبه به نه ده ذکر بیا غټی سره پرانستل د مناسباتونه دی نو دا استعاره ترشیحیه شوه او بیا مشکلات د غټی سره لازم دی نو دا استعاره تخلیلیه شوه.

لږ تفصیل کوو دپاره د معرفه د استعارو نودابه څلور قسمه ده . (۱) استعاره مصرحه چه دیو شئ تشبیه د بل شئ سره ورکړی او بیا مشبه ذکر وی او مشبه حذف (۲) استعاره مکنیه چه دا مشبه به حذف وی (۳) استعاره تخلیه چه مشبه لره لوازم د مشبه به ثابت کړی (٤) استعاره تر شیحیه چه مشبه لره مناسبات د مشبه به ثابت کړي.

بیا مراد دلته د مشکلاتو نه مشتبهات دی دی سره سوال دفع شو چه د مصنف د کلام نه دا معلومیږی چه دادکافیه د مشکلاتو حل کوی خو د خفی، مجمل، وغیره نه کوی حالانکه داسی مو اضع هم محتاج دی حل ته نو جواب اوشو چه مراد مشتبهات دی او دا مشتبه عام دے که په صورة د خفی یا مجمل وغیره کښ وی او یا بل یو شی شو.

"الکافیة" سوال: الکافیة صفة دے او موصوف به ورله الکتاب وی نو د موصوف او صفة په درمیان کښ خو مطابقة نشته د ے خکه موصوف مذکر دے او صفة مونث دے.

جواب: داتاچه کومه په الکافیه کښ ده نو دا دپاره د تانیث نه ده بلکه دادپاره د نقل ده چه دا اسم د وصفیة نه نقل شوی دے اسمیۃ ته نو دادپاره د تانیث وه خو اوس د یو خاص کتاب نوم دے دی لره اعتبار نشته لکه په طلحة کښ چه کومه تاء ده (۲) دا الکافیة صفة دپاره د الکتاب نه دے بلکه دپاره د الرسالة او داهم مونث دے نو مطابقة شته دے.

"للعلامة" هغه کافیه چه دپاره د هغه لوی عالِم ده چه مشهور دے په مشارقو او مغاربو کښ یعنی په دنیا کښ د اللعلامة جار مجرور دے نه ظرف وانی او دی دپاره لابدی د متعلق نه چه دهغی په اعتبار سره دی دپاره محل د اعراب هم وی.

سوال: دلته دپاره د للعلامة اعراب څه دے؟ په اعتبار د متعلق سره دوه احتماله دی او غونډ باطل دی یو داچه داپه اعتبار د متعلق سره چه کائنة دے صفة شی دپاره د الکافیة نویه درمیان د موصوف او صفة کښ موافقة نشته دے ځکه الکافیة معرفه ده او کائنة نکره ده اوکه کائنة منصوب شی نودابه حال شی د الکافیة نه او ددی نه حال واقع کول صحیح نه دی ځکه دانه فاعل دے اونه مفعول او حال خو هیئة د فاعل یا دمفعول بیانوی.

جواب: (۱) دا کائنة زه منصوب وایم بنا بر حالیة او جواب د اعتراض نه دادے چه دوی یو قانون وضع کړی دے هغه داچه د مضاف الیه نه کله مضاف حذف شی او دا مضاف الیه دهغی په ځائے قائم کیدلے شی او دغه مضاف پخپله صلاحیة ددی لری چه حال تری نه واقع شی یعنی یا فاعل وی او یا مفعول نو دداسی مضاف الیه نه هم حال واقع کیدل صحیح دی دلته مشکلات الکافیة کښ چه دا مشکلات حذف شی نودابه "یحلّ الکافیة " شی نویه اعتبار د معنی سره الکافیة بیا مفعول دے ځکه دا حل مصدر دے او مصدر کله مضاف وی فاعل ته او کله مفعول ته و دلته هم دا مفعول دے نو حال صحیح شو او معنی به شی چه په پرانستلو د مشکلاتو دکافیة لره په داسی حال کښ چه کائنة ده دا کافیه دپاره د علامه ابن حاجب صیب (۲) دا کائنة صفة وایم دپاره د الکافیه نو مطابقة خو پکښ شته دے ځکه د صفة زه الکائنة معرفه وایم۔

سوال: په الکائنة کښ داالف لام موصولی دے ځکه دا اسم فاعل دے او کائنة للعلامة ورله صله ده نو داخو لازم شو حذف د موصول سره د بعض اجزاء د صلی نه سره د بقاء د بعض صلی او داناروا ده.

جواب: دلته په الکائنة کښ الف لام اسمی نه دے بلکه الف لام پکښ حرفی دے ځکه چه کله په اسم فاعل او اسم مفعول کښ دوام او استمرار وی نو بیا پکښ الف لام حرفی وی او چه کله پکښ تجدد او حدوث وی نو بیا پکښ الف لام اسمی وی اوس دلته داکافیة خو همیشه دپاره د ابن حاجب کائنة ده .

سوال: للعلامه صفة دے د ابن الحاجب نو په درمیان د موصوف او صفة کښ مطابقة نشته ځکه یو مونث دے او بل مذکر

جواب: داتاء په علامه کښ دپاره د مبالغی ده نه دپاره د تانیث .

سوال: نو چه تاء پکښ دپاره د مبالغې شوه نو بيا خو پکار وه چه اطلاق ئې اوشي په الله باندې حالانکه دا ناروا دے؟

جواب: دلته داتاء دپاره د مبالغې ده خو په دې کښ ايهام د تانيث هم شته دے او الله د تانيث او د ايهام د تانيث دواړونه منزه دے.

سوال: علامه خو په معنی د ماهر في العقليات و النقليات ته وائي او ابن حاجب صيب خوماهر في النقليات و و فقط .

جواب: ابن حاجب په عقلياتو او نقلياتو دواړو کښ ماهرو خو مشهوره صرف په نقلياتو کښ وو۔

مشارق او مغارب نه مراد موضع د طلوع او موضع د غروب دے.

سوال: مغرب او مشرق خو يودې شارح داجمع ولې راوړه؟

جواب: داپه اعتبار د طلوع او غروب دهر ورځې سره مراد دے او بيا مراد دلته ددې نه هغه لرے لرے ملکونه دی او مخ د زمکې ترې نه مراد دے دې سره دفع د سوال او شوه چه په مشرق او مغرب کښ د شهرة فائدة څه ده هلته نمر (سورج) کوزيږی راخيژی نو جواب اوشو چه مراد ترې نه اوطان بعيده دی.

سوال نوپه اوطان بعيده کښ مشهور دے او په اوطان قريبه کښ مشهور نه دے څه؟

جواب مراد ترې نه مخ د زمکې دے بيادا اوطان بعيده او قريبه دواړو ته شامل دے.

الشيخ ابن الحاجب په ديباچه د کتاب کښ تفصيل د مباحثو ثلاثه شروع دے تحقيق په لفظ د شيخ کښ په دې کښ دوه قسمه تشريح ده اول لفظی دويم معنوی اول تشريح لفظی د اعراب نوپه دی لفظ باندی اعرابات ثلاثه دی .

اعراب اول: دا مرفوع دے او خبر دے دپاره د مبتداء محذوف ای هو الشيخ .

اعراب ثانی: دا منصوب دے او مفعول به دے دپاره د فعل محذوف ای اعنی الشيخ

اعراب الثالث: دا مجرور دے او بدل دے د للعلامه نه هغه مجرور وونو داهم مجرور شو .

دويم تشريح معنوی يعنی معانی د شيخ ددی لفظ دپاره ډيرےمعانی دی منها شيخ فانی منها خواجه دا هغه چاته وائی چه اظهار د حق کوی اوابطال د باطل منها ماهر في الفنون اگرچه ځوان وی منها شيخ القران يا شيخ الحديث په اصطلاح د علماء کښ منها صاحب اللّحية گيری

والا په اصطلاح د عوامو کښې منها اولاد د محمد ابن عبد الوهاب نجدی رحمه الله په سعودی عربو کښې ال الشیخ ورته وائی او دوی ته امور دینیة حواله دی او امور دنیویة ال سعود ته او تعمیراتی امور ابن لادن ته .

سوال: د شیخ اطلاق په ابن حاجب صحیح نه دے ځکه داخو کشر وو او شیخ خو چه کم از کم د پنځوسو شپیتو کالو وی کنه.

جواب: دلته مراد د شیخ نه ماهر فی الفنون دے (تغمده الله)

سوال: د تغمد او د غفران معنی یوه ده چه تستر دے نو دلته خو سببیة د شئ لنفسه لازم شو ځکه بغفرانه داباء سببیة ده .

جواب: سببیة د شئ لنفسه نه دے لازم ځکه تغمد عام دے مهربانی مرادده که دهر چا وی او غفران خاص دے د الله مهربانی مراد ده نو سببیة دخاص للعام شو او دابے غباره جائز دے. "جنان" د جنة جمع ده په معنی د پتوالی سره "نظمتها" داځلورم باعث بیانوی چه په دی نورو شروح کښې بعض کښې احشاء وه یعنی تطویل بلا طائل او بعضو کښې احلال یعنی اختصار دومره چه اداء ده معانی نه کوی او بعضو کښې تعقید وو یعنی غیر ظاهر اللدلالة علی المعنی المراد د وجی د ځه خلل نه نوداسی زبردسته شرح پکار وه چه داعیو عیب پکښې هم نه وی او هغه هم دا شرح ده.(مسلك التقریر)

سوال: اضافة د سلك تقریر ته صحیح نه دے ځکه سلك خو خیط (تار) ته وائی او د تقریر دپاره تار چرته دے؟

جواب: دا اضافة د مشبه به دے مشبه ته یعنی دا تقریر پشان د تار دے دومره سیدها او نیغ دے یعنی مزے دار عبارت والا دے بیا سلك هغه تار ته وائی چه ملغلرے پکښې نه وی اچولی شوی سمط التحریر هغه تار چه ملغلری پکښې وی.

سوال: تحریر عبارت دے د کتابه نه او تقریر عبارت دے د الفاظ او معانی نه نو د تحریر سره ئې مضبوط تار ذکر کړو او د تقریر سره کمزوری داولی؟

جواب: د تقریر مضبوطیا معلومه شوی ده ځکه دا تقریر عبارت دے د الفاظو او معانیوته نو د الفاظو مضبوط والی په نظمتها سره معلوم دے او د معانیو په فهذه فوائد سره او د تحریر دا مضبوطیه او پاکوالی په بل څه سره نه وو معلوم نو دهغی دپاره دلته سمط ذکر کړو.(للولد) دابل باعث بیانوی العزیز ځکه دایو بچی وو اونور تری نه الله اخستلی وو نوداپری ګران وو ضیاء الدین دا دهغه لقبی نوم وو او یوسف ئې اسم محضه ده "تلهف ، تاسف" دا دوه الفاظ دی بعض خلق پکښې فرق کوی او بعض خلق وائی چه دایو شئ دے ځوك چه

يكښې فرق کوی نو وی تلهف عبارة دے د هغه اضطراب ته چه لاحق شی انسان ته د وجی د ارتکاب د حراموته او تاسف عبارت دے دهغه اضطراب ته چه لاحق شی انسان ته د وجی د ترک د واجب ته (و سميتها بالفوائد الضيائية)

سوال: دا ضياء الدين يو علم مرکب دے او قانون دادے چه په علم مرکب کښې نسبة جزء ثانی ته کيږی لکه په عبد الله بن زبير کښې زبيری شو نو دلته په ضياء الدين کښې هم دين ته نسبة کول پکار دی او فوائد دينية پکار وه.

جواب: قانون دادے چه نسبة مشهور ته کيږی او مشهور ضياء دے.

سوال: نو يوسف ته به ئی نسبة کړی وی کنه؟

جواب: دا مشهور نه وو کنه او ضياء مشهور و کنه.(لهذا الجمع و التاليف) دلته هم دا دوه الفاظ دی چه جمع او تاليف دے بعض خلق دی دواړو کښې فرقه نه کوی او بعض خلق يکښې فرق کوی په دے شان سره چه جمع کښې عموم دے داراغونډه ول دی مطلقا که مرتب وی او دا ځکه چه تاليف د الفة نه دے اوالفة محبت ته وائی او په مرتب کښې محبت وی او الفة وی نو دا بيا ذکر د خاص دے پس دعام نه (كالعلة الغائية) بيا دلته شارح عين علة غائيه نه وائی بلکه پشان د علة غائيه وائی ځکه علة غائيه هغه وی چه باعث وی به يو کار باندی او مقدم وی به ذهن کښې او مؤخر وی په وجود خارجی کښې اوس دلته ضياء الدين صيب خو په وجود خارجی او وجود ذهنی دواړوکښې مقدم وو د کتابة نو ځکه كالعلة الغائيه وائی. بيا په دی مقام کښې تفصيل دے په دی شان سره چه دهريو مرکب دپاره لابدی ده د عللو اربعونه (١) مادی (٢) صوری (٣) فاعلی (٤) غائی.

علت مادی هغه دے چه دهغی نه حصول د مرکب بالقوة راځی يعنی صلاحية د مرکب کيدلو يکښې وی ،علت صوری هغه دے چه دهغی نه حصول د مرکب راځی بالفعل، علت فاعلی هغه دے چه دهغه مرکب وجود او صدور ترې نه کيږی علت غائی هغه دے چه په کولو د دغے باندی باعث وی اوپه ذهن کښې مقدم وی اوپه وجود کښې مؤخر وی مثلا کمره يو مرکب دے ددی کمرې سامان لکه سيمنټ ، شګه او سريه وغيره ورله علت مادی دے او بيا دهغی کمرې صورة پس دوجودنه علت صوری دے او د کمرې د جوړلو دپاره استاذ او مستری علت فاعلی دے او بيا په کمره کښې ناسته او ملاسته وغيره علت غائ دے نفعه الله تعالى الخ اصحاب التحصيل نه مراد طلباء او علماء دی.

سوال: مصنف اوی سائر المبتدين نو په دی سائر کښې دا ضياء الدين يوسف داخل دے نو جدا ذکر کول ئی عبث او مستدرک دی.

جواب: دا تعمیم بعد التخصیص دے او داروادے (۲) سائر د سورنه دے جوتی نه واق په معنی د باقی مانده سره دي نومراد بیا باقی مانده د ضیاء الدین نه شول (المبتدین) جمع د مبتدی ده په لغة کښ دا مائل إلی العلم ته وائی اوپه إصطلاح کښ مبتدی هغه کس ته وائی چه هغه شروع کړی وی په یوجزء د علم کښ او اراده د تکمیل د باقی مانده اجزاء وتی وی.

سوال: دا شارح دومره صفات کوی د خپل کتاب نو داخو تکبر دے.

جواب نه نه دادپاره د تشویق کوی.

سوال: نو دی چه نسبة خان ته کوی نو داخان نه نسبة کول ئی علامه د تکبر دهٔ.

جواب: نه نه شارح خووائی: چه﴿ وما توفیقی الا بالله وهو حسبي و نعم الوکیل﴾ داهر څه د الله په امداد او توفیق کیږی.

بیا توفیق په لغة کښ دست دادن بکلے ته وائی اوپه اصطلاح کښ جعل اسباب العبد موافقا للمطلوب الخیر.

سوال: شارح دلته اوی چه وما توفیقی الا بالله نو دا بالله فاعل دے د توفیق او قانون خو دادے چه د توفیق په فاعل باندی من داخلیږی باء پری نه داخلیږی لکه وفق من زید.

جواب: دا باء په معنی دمن سره ده.

سوال: نو من به ئی صراحةً ذکر کړی ووکنه؟

جواب:"من" ئی صراحةً ذکر نه کړو د وجی د موافقة د کتاب خپل د کتاب الله سره څکه کتاب الله کښ وما توفیقی الا بالله دے وهو حسبی دلته هم تفصیل ډیر دے او پوره مناقشات دی خولا یناسب ههنا ولا تسعها هذه الصفحات.

إعلم ان الشیخ رحمه الله تعالی ربط خو د ماقبل سره واضح دے په دی شان سره چه کله فارغ شو مصنف د دوو حصو د کتاب نه چه خطبه او دیباجه وه اوهر یوه د دی نه مشتمله وه په امور ثلاثو باندی نو اوس ئی شروع اوکړو په دریمه حصه د کتاب باندی چه مقدمه ده بیا په دی حصه کښ دوه خبری دی اول تمهید دے متن ته په اعلم سره دویم اشاره ده تعریف، موضوع او غرض د دی علم ته (و بدا) سره، اوس ددی تفصیل نه مخکښ یو څو فوائد ضروری دی او عمومی هم دی.

فائده اولی:د تصنیف په اعتبار سره کتابونه په څلور قسمه دی. (۱) متون (۲) شروح (۳) حواشي، تعلیقات (٤) فتاواجات.

متون دا جمع د متن ده لغت کښې سخت (صعب) ته وائی ملا ته هم متن وائی ځکه دا په نسبة د خیټې سره سخته وی اوپه اصطلاح کښې هغه کتابونو د فن ته وائی چه هغه مشتمل وی په اهمو مسائلو د فن باندې اختصارا.

شروح داجمع د شرح ده لغت کښې وضاحة او فتح ته وائی اوپه اصطلاح کښې هغه کتابونو د متن ته وائی چه هغه حامل وی ټول متن لره او دپاره د وضاحت د متن وی مثلا دا شرح جامی شوه چه داحامله ده ټول متن دکافیه لره او ښه وضاحت کوی. حواشی دا جمع د حاشیة ده په لغة کښې طرف ته وائی نوکرانو د بادشاهانو ته هم حواشی وائی ځکه دوی هم په یو طرف باندې ولاړ وی دغه شان حاشیة هم د کتاب په طرف وی او تعلیقات جمع د تعلیق ده لغة کښې زوړ تدلو ته وائي اوپه اصطلاح کښې حاشیه او تعلیق هغه ته وائی چه په داخو حامل دټول کتاب نه وی بلکه د هغه مواضع وی چه هغه تفصیل او حل ته محتاج وی. بیا دا حواشی هغه وی چه په اطرافو باندې لیکلی شوی وی او تعلیقات هغه دی چه په لاندې طرف باندې لیکلی شوی وی او امام ابو حنیفه په تعلیق خوښو (تعلیم المتعلم) فتاوی داجمع ده او دا هغه کتابنو د فن ته وائی چه هر قسمِ مسائل د فن پکښې وی که ضرور یه. مسائل وی اوکه غیر ضروریه. اوکه مهمة وی اوکه غیر مهمة واقعة وی اوکه غیر واقعه او لازمی وو اوکه غیر لازمی وی.

(فائده ثانیه) هره یوه شرح خدمت د متن کوی په مختلفو طریقو سره دا طریقی د شلو نه زیاتی وی خو دلته دا شل طرق مستعمل دی (۱) متن کښې اجمال وی نو شرح کښې تفسیر (۲) متن کښې ابهام وی نو شرح کښې توضیح او دفع د ابهام (۳) متن کښې اختصار وی نو شرح کښې تفصیل (٤) متن کښې دعوی بلا دلیل وی نو شرح کښې ورله دلیل وی او دی ته تحقیق وائی . (٥) متن کښې دعوی مع الدلیل وی خو دا دلیل محتاج وی بل دلیل ته او هغه ورله په شرح کښې وی او دی ته تدقیق وائی (٦) متن کښې جواب د سوال غیر مذکور شرح کښې ورله هغه سوال ذکر شي (۷) متن کښې سوال وی د غیر مذکور جواب او شرح کښې ورله هغه جواب ذکر وی (۸) متن کښې نه سوال او نه جواب صرف موضع د سوال جواب وی او شرح کښې ورله دا دواړه ذکر شي (۹) متن کښې قول مرجوح وی او شرح کښې قول راجح ذکر شي (۱۰)متن کښې مسئله د اختلاف وی او شرح کښې ورله بیان د اختلاف وی (۱۱) متن کښې نفس قید ذکر وی شرح کښې دهغی فائده ذکر شي (۱۲) متن کښې ممثل وی بغیر د مثال نه نو شرح کښې ورله مثال وی (۱۳)متن کښې ممثل سره د مثال نه وی خو تطبیق نه وی نو شرح کښې تطبیق وی (۱٤) متن کښې اطلاق ذ کر وی نو شرح کښورسره یو قید وی او مقید شي (۱٥) متن کښې ممثلات وی او امثله وی خو تعین دا امثلو دپاره د ممثلاتو نه وی نو شرح کښې ورله تعین اوکړی (۱٦) متن کښې الفاظ غریبه او غیر مشهوره وی نو شرح کښې وضاحة ددی الفاظو وی په الفاظ مشهوره سره (۱۷) شرح کښې بیان د ربط د متن وی "ما" قبل سره (۱۸) شرح کښې بیان د

اعراب د متن وی (۱۹) متن کښ یو شئ مرفوع، منصوب، مجرور وی نو شرح کښ ورله علت د رفع وغیره بیانکړی. (۲۰) متن کښ کله غلطی وی نو شرح کښ تصحیح وی .وغیرذلک

(فائده ثالثه) شارح دلته دا کلمه د اعلم راوړی ده ددی کلمی دپاره هم څه مقاصد دی دهر مقام مطابق (۱) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په یقظة د مقام باندی (۲) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په تفصیل د مقام باندی (۳) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په تفسیر د مقام باندی (٤) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په دفع د اعتراض باندی (٥) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په کولو دیو اعتراض باندی (٦) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په کولو د سوال او جواب دوارو باندی (۷)کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په تحقیق د مقام سره چه دلیل ذکر کوی (۸) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په تدقیق د مقام باندی (۹) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په بیان الاختلاف (۱۰) کله په اعلم سره تنبیه د مخاطب وی په قطع د کلام لاحق د کلام سابق نه اوس دلته د اعلم راغلی دے نو دلته دی دپاره درے اغراض دی یو په اعلم سره تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام دویم په اعلم سره تنبیه د مخاطب ده په قطع د کلام لاحق د کلام سباق نه دریم په اعلم سره تنبیه د مخاطب ده په کولو د اعتراض اوجواب سره.

(تفصیل په اعتراض او د جواب کښ اعتراض نه) دا اعتراض او د جواب دپاره څو طرق دی (۱)منها کله اعتراض او جواب وی صراحةً لکه اعتراض په ان قیل سره وی او جواب په قلنا یا نقول سره وی یا قلت او اقول سره وی، او دغه شان و فیه نظر سره، او په بان یجاب سره (۲)منها کله اعتراض او جواب وی اشارةً (۳)منها کله اعتراض وی په طور د مشورے باندی (۴)منها کله اعتراض وی په طریقه دشکوه او ګیله سره.

اوس دلته هم اعتراض او جواب دی خو اشارةً په دی شان سره چه اعلم سره اشاره ده اعتراض ته اویه حصماً لنفسه سره اشاره ده جواب ته.

تقریر د اعتراض دادے چه مصنف په اول د کتاب کښ تسمیه راوړه او بیانی شروع اوکړه په الکلمة لفظ الخ باندی نو داخو ده خلاف کړے دے د سلف صالحینو نه هغو خو د تسمی نه پس تصدیر بالحمد د کتاب کوی او مصنف د خپل کتاب تصدیر بالحمد او نکړو.

سوال: معترض صیب مصنف خو تصدیر بالحمد د خپلی ر سالی کړی دے په شافیة کښ او هغه د مصنف رساله ده.

جواب: رسالته هذه مراد داکافیه ده نه شافیة

سوال: معترض صیب کیدے شی چه تلفظ ئې په بسم الله باندی په اول د کتاب کښ کړی وی.

جواب: بان جعله جزاءمنها زما مرادلیکل دی چه د کتاب نه جزء شي. دا اوس هغه اعتراض چه په اعلم سره اشارة وه هغه تام شو .

جواب: عن اصل الاعتراض شارح وائی هصما لنفسة حاصل دا شو چه د وجی د تواضع د نفس نه ده حمد پریښودو بیا دا هصماً لفظ راغلی دے نودایه دوو طریقو سره دے یو چه صاد مهمله سره وی په معنی ماتولو خپل نفس لره دویم چه په صناد معجمه سره ئی په معنی د ماتولو په معده کښ. دا اوله معنی مناسبه ده نو هصما په صاد مهمله سره دے.

سوال: دا هصم د نفس د وجی د بزدلی او د وجی د جهالة نه وی نو ایا دا مصنف بزدل وو کنه جاهل.

جواب: نه "ما" تن نه بزدله اونه جاهل وو خوبره او خوف الهی پری غالب وو. (بتخییل ان کتابة هذا) معنی داده چه په سبب د خیال اچولو د خلقو کښ چه زما دا کتاب نه دے رسیدلے مرتبی دهغو کتابونو ته چه هغو شروع به تسمیه او حمد دواړو کړی نو ګنی زه دی هم اوکړم نو زه به اکتفاء اوکړم په تسمیه باندی دپاره د اظهار ددی خبری چه زما کتاب د هغو د کتابونو نه لاندی دے .

سوال: په نفس الامر کښ خو کتاب د ماتن ډیر اوچت دے څکه بعض داسی فائدے پکښ شته چه نورو کتابونو کښ هغه نشته دے نو داخبره کول چه داکتاب د ماتن لاندے دے دا صحیح نه ده جواب شارح وائی من حیث انه کتابة یعنی په دی اعتبار سره چه ماته د کتاب نسبة اوکړی شی په نسبة سره مسائلو ته نه دے مراد.

اعتراض: دا هصما ولی منصوب دے؟

جواب: دا مفعول له دے او مفعول له مصوب وی.

اعتراض دلته دوه شیان ذکر دی یو لم حرف جازم دویم یصدر فعل مضارع اوس دا هصما خو د حرف نه مفعول له نشی جوړیدی او که د یصدر نه شی نو هم فساد راځی په دی شان سره چه مطلب به داشی چه مصنف دلته تصدیر مهصوم نه دے کړے او نفس تصدیر ئی کړے دے او دا څکه چه دلته دا هصما لنفسه قید دے د یصدر دپاره نو قانون دادے چه نفی کله متوجه شی قید او مقید ته نو قید پورته کوی او مقید په خپل حال وی نو چه دلته حرف جازم داخل شو په یصدر باندی نو قید د هصما ئی پورته کرو او یصدر باقی شو نو مصنف نفس تصدیر په حمد کړی دے او تصدیر مهصوم ئی په حمد نه دے کړے حالانکه خبره داسی نه ده جواب زه دا هصما مفعول له د یصدر دپاره نه وایم. بلکه دا زه مفعول له وایم دپاره د لم او دا بیا په معنی د ترك سره دے چه فعل دے.

اعتراض: مصنف دلته دا قید چه من حیث انه کتابه دے وائی د ماتن د کتاب سره او لګولو او د سلفو صالحینو د کتابونو سره ئی دا قید اونه لګو حالانکه چه څنګه دلته لګول ضروری وو نو هلته هم ضروری وو. تدبر.

جواب: دلته مصنف اکتفاء کوی د لاحق نه په سابق باندی او دا عادت د مصنف دے.

﴿ولا یلزم من ذلك عدم الابتداء به مطلقا﴾ غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د یو بل سوال دے هغه داچه مصنف اوی چه "ما" مخالفة د سلفونه څکه کړې دے چه زه دهغو پشان نه یم اوس دلته کو مصنف په بل نقصان کښ واقع شو هغه دا چه مخالفة د حدیث ئی اوکړو حدیث دے چه کل امر ذي بال "لا" یبدا فیه بحمد الله فهو اقطع.

جواب: داهم د وجی د هصماً لنفسه نه دے کنه.

سوال: نو حمد خو عبادت دے او هضم د نفس په کولو د عبادت سره وی نه په ترک د عبادت سره.

جواب: دا ترک د حمد دوه اعتباره لری یو داچه د الله ذکر دے او عبادت دے. دویم داچه دا ذریعه او وسیله شی دپاره دیو بل شئ اوپه دی اعتبار سره عبادت نه دے نو دلته هم دا اعتبار مراد دے نه اعتبار د عبادت چه ګنی تکبر دی شئ او شارح . جواب کوی د اصل اعتراض نه چه په حدیث د حمد کښ ذکر دمُ یبدأ دے نو دا ابتداء مطلق ده که په کتابة سره وی اوکه په وینا سره نو که مصنف ابتداء بالکتابة او نکړه په حمد سره نو دا مستلزم نه ګرځی دی خبری لره چه مصنف دې ابتداء د سر نه په حمد کړی نه وی بلکه کیدے شی چه ابتداء بالحمد به ئی کړی وی په وینا سره او داخبره بناء ده په یو قانون باندی هغه داچه انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نه راځی حتی یکون بترکه اقطع دلته داحتی متعلق دے تر منفی پوری نه د نفی پوری.

سوال تا اوی چه په انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نه راځی نو انتفاء د خاص مستلزم هم نه ده وجود د عام م لره نو ته څنګه دا خبره کوې؟

جواب: او قانون هم دا دے خو مونږ حسن ظن کو ودلته د وجی د حدیث د خیر الانام چه هغه فرمائی: "ظنّوا المؤمنین خیرا "ما" لم تروا شرهم" نو مونږه د ماتن څه شر لیدلےنه دے چه ګمان پری غلط شی. چه حمد به ئی وئیلی نه وی. او دا طریقه د سلفو صالحینو هم ده چه تصنیف شروع کوی نو حمد وائی.

سوال: نو د کتاب الله مخالفة هم راغی څکه کتاب الله کښ اول تسمیه او بیا حمد دے او دلته داسی نه ده.

جواب: د كتاب الله دوه جهة دى (۱) نزولى (۲) مصحفى نو اگرچه په مصحفى كښ مخالفة راغلى دے خوبه نزولى كښ مخالفة نشته ځكه هلته هم صرف تسمية ده او حمد نشته دے.

سوال ناسو اوى چه مصنف به حمد بالقول كرى وى او كتابة ئى نه دے كړے نو دا تسمية به ئى هم بالقول كرى وى كنه؟

جواب: النكتة للفار "لا" للقار يعنى خلق نكتة دپاره د خلاف الاصل وائى نه دپاره د موافق الاصل دلته حمد نه راوړل خلاف الاصل دى او تسمية راوړل موافق الاصل دى. (۲)دا نكات بعد الوقوع دى په دى كښ دومره جامعية او مانعية شرط نه دے (۳) په تسمية كښ يو بل روايت دے صراحةً قال النبى ﷺ الامن كتب منكم كتابا فليكتب فى أوله بسم الله الرحمان الحيم (٤) مصنف طريقه د نبى اختيار كرى ده چه تسمية ئى راوړى ده او حمد نه ځكه نبى به چه خطبه بيانوله نو تسميه او حمد دواړه به ئى وى او چه كله به ئى كتابة كو نو بيا به ئى صرف تسمية ليكله حمد به لكه نبى عليه السلام چه هرقله ته كله خط ليكلى وو نو هغه ځه په دى شان سره وو چه بسم الله الرحمان الحيم من محمد الى هرقل عظيم الروم (٥) مصنف صرف بسم الله اوئ او حمد نه ځكه د محدثينو لحاظ ئى كرى دے هغوهم تولو علاوه د امام مسلم نه بسم الله ذكر كوى نه چه حمد.

تحقيقى جواب: بعض مشائخ يو بل جوب كوى چه اصل خبره هم داده چه د ماتن دادوه رسالى دى (۱) شافيه (۲) كافيه نوپه پخوا زمانه كښ به فنون يو ځائے وئيلو كيدلو نو د مصنف دا دواړه رسالى به يو ځائے وئيلى كيدے په اول كښ كافيه او بيا شافيه بيا روستو دور كښ دا شافيه اول شوه او كافيه دويم او دا د يو بل نه جدا شول نو د شافية اول سر كښ بسم الله او حمد راغلل او كافية هم داسى پاتى شوه نودپاره د فصل پكښ دابسم الله اوليكلى شوه.

(و بدأ بالكلمة) دلته يو څو خبرے ضرورى دى (۱) ربط د "ما" سبق سره (۲) وجه د تعريف د كلمة او كلام (۳) وجه د تقديم د كلمه په كلام باندى (٤) تشريح د الف لام په الكلمة كښ (٥) تشريح د كلمة.

ربط : ربط دوه قسمه دے معنوى او لفظى (تركيب) نو معنوى ربط خو داده چه كله فارغ شو ماتن ديوے حصى د خپل كتاب نه چه هغه خطبه وه نو شروع ئى اوكړه په دويمه حصه كښ چه مقدمة ده (فقال الكلمة لفظ) الخ تجزيه په دى مقدمه كښ ماتن پنځه امور ذكر كرى دى (۱) تعريف د كلمة په لفظ وضع سره (۲) اقسام ثلاثه اجمالى د كلمه په وهى اسم الخ سره (۳) وجه د حصر په دغه اقسامو كښ په لانها سره (٤) تعريف د كلام په ماتضمن سره (٥) اقسام د كلام ولا يتاتى ذلك سره.

ربط لفظی (ترکیب):الکلمة مبتداء ده او باقی ورله خبر مبتداء خبر جمله اسمیه شوه.

(وجه د تعریف د کلمه او کلام:)شارح وائی و بدأ لتعریف ددی عبارت نه د شارح دوه اغراض دی یو وجه د تعریف او دویم دفع دیو سوال ده او د سوال سره به وضاحة د اولی خبری هم اوشی.

سوال: موضوع د فن کلمة او کلام ده نو د موضوع د احوالو او عوارضو نه بحث کول مقصود د فن دے نو بحث کول د مرفوعاتو او د منصوباتو او د إعراب او بناء نه مقصود دی فن دی ځکه دا احوال د کلمی دی نو مشغول کیدل د مصنف په تعریف د کلمه او کلام کښ إشتغال په "لا" یعنی دے اویه غیر مقصود او اشتغال په "لا" یعنی او غیر مقصود سره خوتاروا دے نو شارح ددی نه جواب اوکرو په بدا بتعریف سره حاصل د جواب دادے چه مشغول کیدل د مصنف په تعریف د کلمه او کلام باندی اشتغال په "لا" یعنی او غیر مقصود باندی نه دے بلکه په یعنی او مقصود باندی دے په دی شان سره چه احوال د کلمه او کلام عوارض دی او کلمه او کلام ذات دی او معرفة د عوارض موقوف وی په معرفه د ذواتو باندی نو تعریف د کلمه او کلام موقوف علیه دے دپاره د عوارضو او اشتغال په موقوف علیه د شئ باندی اشتغال په مقصود وی.

سوال: تا اوی چه معرفة د کلمه او کلام موقوف علیه دی دپاره د معرفة د احوالو د کلمه او کلام نو دلته د اقوم تپوس کوی چه ستا د معرفة نه څه مراد دی ایاتعریف د کلمة او کلام دی مراد دے اوکنه نفس معلومول او معرفة د کلمه او کلام دی مراد دے. که مراد ستا د معرفة نه تعریف د کلمه او کلام وی نو دانه منم چه معرفة د احوالو او عوارضو د کلمه او کلام دی په تعریف د کلمه او کلام باندی موقوف وی اوکه مراد ستا نفس معرفة او نفس معلومول وی نو بیا تاپه تعریف د کلمه او کلام کښ ولی شروع اوکړله

جواب: زمونږ مراد د معرفة نه تعریف د کلمه او کلام دے اوکه ته داخبره کوی چه معرفة د عوارضو موقوف نه دے په تعریف د کلمه او کلام باندی نو زه وایم چه زما مراد د بحث د عوارضونه هغه دے چه هغه په بصیرة کامله سره وی. نفس معرفة نه دے مراد بلکه هغه مراد دے چه هغه په بصیرة کامله سره وی او دا بحث په بصیرة کامله سره موقوف دے په تعریف د کلمه او کلام باندی. (۲) زمونږ مراد نفس معرفة دے د کلمة او کلام خو د نفس معرفة یو کلی دے او د کلی دپاره خو وجود نه وی مګر په ضمن د جزئیاتو کښ نو دلته د معرفة دپاره دا تعریف یو جزئ دے نو مصنف علیه الرحمة اتیان کړی دے په هغه څه باندی چه هغه واجب دے په مصنف باندی چه هغه حصول دیو کلی دے په ضمن دیو جزئ کامل کښ او هغه دا تعریف دے.

(وجه د تقدیم د کلمه په کلام باندې:) سوال: څه وجه ده چه مصنف کلمه مقدم کړه په کلام باندې سره ددې خبرې نه چه کلام کښ مخاطب ته فائد تامه وی په نسبة سره کلمه نه او قانون خو دادے چه کوم یو شئ مفید د فائدې تامې وی نو هغه مقدم په هغه باندې چه هغه مفید د فائدې تامې نه وی نو داخود قانون خلاف اوشو .

جواب: شارح وائی :(و قد ، لکونها) حاصل دادے چه داکلمه په منزله د مفرد ده او کلام په منزله د مرکب دے او مفرد مقدم وی په مرکب باندې په طبع کښ نو څه چه په منزله د مفرد وی داهم مخکښ وی په هغه څه چه هغه په منزله د مرکب وی په طبع کښ نو موټږه مقدم کړو په وضع کښ هم چه موافقة د وضع راشي د طبع سره اوس داخبره چه دا کلمه څنګه په منزله د مفرد ده او کلام په منزله د مرکب باندې نو افراد د کلمة اجزاء دی د افراد و د کلام نه په دی شان سره چه زید قائم او عمرو نائم او بکر راکب افراد د کلام دی او دی کښ دا زید، قائم ، عمرو، نائم، بکر او راکب افراد د کلمه دی چه اجزاء د افرادو د کلام دی او دغه شان مفهوم اجمالی د کلمه جزء دے د مفهوم تفصیلی د کلام نه دی شان سره چه مفهوم اجمالی د کلمه لفظ د "الکلمة" دے او مفهوم تفصیلی د کلام هغه (ما تضمن کلمتین بالاسناد) دے نو د مفهوم تفصیلی د کلام نه دا کلمه چه مفهوم اجمالی دے د جزء دے څکه کلمتین تثنیه د کلمة ده نو داخبره ثابته شوه چه کلمة جزء دے د کلام نه او کلام ورله کل دے او جزء مقدم وی په کل باندې او یا مفرد مقدم وی په مرکب باندې. تدبر.

فائده کریمه مفهوم اجمالی هغه دے چه د ډیرو امورنه په یو لفظ باندې تعبیر اوشی لکه د لفظ وضع لعمنی مفرد نه تعبیر په الکلمة سره اوشی او مفهوم تفصیلی هغه دے چه د امور متعددونه تعبیر په امور متعددة سره اوشی لکه (لفظ وضع). نه لفظ د ألکلمة (فقال الکلمة) .

سوال مدخول د فاء عطف دے په قدم باندې او په معطوف او معطوف علیه کښ خو مغایرت شرط دے اوس دلته مغائرة نشته دے څکه تقدیم د کلمة او قول په کلمه باندې یو شئ دے. (۲) دا فاء دپاره د تعقیب مع الوصل راځی یعنی یو دپاره د جمع بین الشیئین او دویم دپاره د لحاظ د ترتیب چه معطوف علیه اول وی او معطوف روستو دویم نمبر وی او دریم دوارو کښ مهلت نه وی بلکه وصل وی مکمل اوس دلته خو پکار وه چه د معطوف علیه او د معطوف زمانه دی جدا جدا شی حالانکه دایوه زمانه ده.

جواب: دا فاء دلته دپاره د تفسیر ده نور څه دپاره نه ده نو هغه اجمال دے او دا ورله تفصیل شو. (۲) یا دافاء دپاره د تعقیب مع الوصل ده خوپه جانب د معطوف علیه کښ اراده مقدره ده ای اراد تقدیم الکلمة فقال الکلمة اوس اراد خو غیر وی د قول نه نو اول اراده او بیا وریسی قول شو نو زمانه هم مختلفه شوه او مغائرة هم راغی په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ.

سوال: تاسره دليل څه دے چه ته په جانب د معطوف عليه کښ تقدير دا رادےوائی.


جواب: دا تقديم د کلمه يو فعل اختيارى د عبد دے او قانون دادے چه هر فعل اختيارى د عبد مسبوق باالارادة وی.

الكلمة دلته نه ځلورمه خبره بيانو چه هغه تشريح د الف لام ده په الكلمة کښ شارح د الف لام تشريح روستو کوی مختصر شان ته او دا شارح څکه روستو کوی چه شارح اعتبار د ذات کوی اولا او بيا ثانيا د عرض نو الف لام د عوارضونه دے او کلمة ذات دے نو شارح تفصيل د ذات مقدم کوی په تفصيل د عرض باندی.

مونږ د الف لام تشريح څکه دلته کوو چه مونږه ترتيب خارجی ته گورو نوپه ترتيب خارجی الف لام اول ددے د کلمة نه نوپه دی تشريح کښ چند خبری دی (۱) معنی لغوی د الف لام (۲) معنی اصطلاحی د الف لام (۳) اقسام د الف لام (٤) امثله دهر قسم (٥) تعين دما هو المراد./

معنی لغوی د الف لام:نو الف لام په لغة کښ کلمه د ال ته وائی (۲) معنی اصطلاحی د الف لام نو الف لام په اصطلاح کښ کلمه تحلی بها کلمة اخری ته وائی

(اقسام د الف لام :) الف لام اولاً په دوه قسمه ددے يو اسمی دويم حرفی بيا ثانياً الف لام حرفی په دوه قسمه دے يو زائد دويم غير زائد بيا ثالثا الف لام حرفی زائد په دوه يو عوضی دويم غير عوضی بيا هر واحد ددی نه په دوه قسمه دے يو لازم دويم غير لازم او الف لام حرفی غير زائد په ځلور قسمه دے يو جنسی دويم استغراقی دريم عهدی خارجی دريم عهدی ذهنی نو حاصل دا شو چه الف لام په نهه قسمه دے. الف لام اسمی او ځلور الف لام حرفی زائد او ځلور الف لام حرفی غير زائد نو. ۱+٤+٤ = ۹



جنسي استغراقي عهدى خارجي عهدى ذهني

(اوس تعريف دهر واحد سره د امثلو نه)

الف لام اسمى دا هغه الف لام دے چه داخل وى په اسم فاعل او اسم مفعول باندى اتفاقا اوپه صفة مشبه باندى اختلافا يعنى بعض وائى چه دا الف لام اسمى دے او بعض وائى حرف دے او بيا دغى الف لام نه تعبير په الذى او التى سره كيږى او الذى التى موصولات دى نو اسماء دى خكه ورته اسمى وائى وجه د تخصيص د الف لام اسمى د اسم فاعل و اسم مفعول سره داده چه د الف لام چه داخل دے په اسم فاعل او اسم مفعول باندى. نو دا ذو جهتين دے په دى شان سره چه صورة ته ورله اوګورو نو حرف ښكارى نو بايد چه الف لام حرف ورته اوايو او چه معنى ته ورله اوګورو نو معنى ئ الذى ا و التى اسماء دى نو بايد چه ورته پكار دے نو د ډير تتبع او تلاش او استقراء او جستجو نه پس دوى ته اسم فاعل او اسم مفعول ميلاؤ شو چه دا هم ذو جهتين دے په دى شان سره چه هم مشابهة ساتى د جوامد و سره او هم مشابهة ساتى د جملى سره مشابهة د جوامدو سره په عدم تغيير د ضمائرو كښ دے تكلما خطابة او غيبة يعنى څنګه چه په اسم جامد كښ په تغيير د ضمائرو سره فرق نه راځى نو داسى په اسم فاعل او اسم مفعول كښ هم مثلا انا زيد، انت زيد هو زيد دى دريو مثالونو كښ دا زيد اسم جامد په يو حال دے او دغه شان اسم فاعل او اسم مفعول هم دے اى انا ضارب انت ضارب او هو ضارب دغه شان اسم مفعول هم دے. نو بايد چه حكم د مفردات ورته وركړو او مفردات ورته او وئيلى شى.

او د جملى سره مشابهة ساتى چه حامل دى ضمير لره او ضمير خوپه جمله كښ وى مفرداتو كښ ضمير نه وى. نوپه دى اعتبار سره ورته مفردات وئيل ناروا دى بلكه جمله ورته وئيل پكار دى. نو ددى اسم فاعل او اسم مفعول نه تعبير په جملو سره كيږى لكه الضارب اى الذى ضرب او يضرب او المضروب اى الذى ضرب او يضرب نو دوه مشابهة پكښ راغلل نوپه دى اعتبار سره داهم ذوجهتين شونو ذوجهتين مو ذوجهتين ته وركړو.

(اختلاف په صفة مشبه كښ:) په دى خبره كښ اختلاف دے چه دا الف لام په صفة مشبه باندى كوم دى؟ نو بعض وائى چه دا الف لام اسمى دے وجه داده چه دا مشابهة ساتى د اسم فاعل او اسم مفعول سره په افراد، تثنيه او جمع كښ او دغه شان په حمل د ضمير كښ چه په اسم فاعل اسم مفعول كښ څنګه ضمير وى نوپه صفة مشبه كښ هم وى او بعض وائى چه د الف لام په صفة مشبه كښ حرفى دى څكه دا مشابهة ساتى د جوامدو سره په استمرار او دوام كښ دى كښ (صفة مشبه) دوام او استمرار وى څنګه چه په جوامدو كښ وى او مشابهة د اسم فاعل او اسم مفعول سره نه ساتى څكه په إسم فاعل او اسم مفعول كښ تجدد او

حدوث وی. مثال دپاره د الف لام اسمی الضارب ای الذی ضرب او یضرب او الضاربة التی ضربت او تضرب او المضروب ای الذی ضرب او یضرب و هَلُمَّ جرًّا

"الف لام حرفی" دا هغه الف لام دے چه د اسم فاعل او اسم مفعول نه په علاوه داخل وی "الف لام زائد" دا هغه دے چه په سقوط دهغی سره په کلمه کښ نقصان نه راځی مثال .

ولقد أمُرّ علی اللّیئم یسبّنی فمضیت ثمه و قلت "لا" یعنینی

محل د استشهاد داکلمه دا "اللئیم" ده دا الف لام زائده دے ځکه ورستو جمله ورله صفة واقع شوی دے او جمله صفة د نکره واقعه کیږی او نکره به هله وی چه الف لام پکښ زائده شی.

اقسام د الف لام زائده. (۱) عوضي لازم (۲) عوضي غیر لازم (۳) غیر عوضي لازم (٤) غیر عوضي غیر لازم. امثله دهر واحد دادی. (۱) مثال د الف لام حرفی زائده عوضی لازم په لفظ د الله کښ دے، حرفی ځکه دے چه اسم فاعل او اسم مفعول نه علاوه دے، او دا زائده دے ځکه چه علمیت سره تعریف حاصل شوي دے او عوضی هم دے ځکه چه دا د همزه په عوض کښ دے اصل کښ الا له وو او دا لازم هم دے ځکه دا علم دے او اعلام بقدر الامکان د تغیر او تبدیل نه محفوظ وی.

(۲) مثال د الف لام حرفی زائده عوضی غیر لازم په أيّها النّاس کښ دے حرفی ځکه دے چه علاوه د اسم فاعل او اسم مفعول نه دے زائده ځکه دے چه تعریف په حرف نداء سره حاصل دے او عوضی ځکه دے چه اصل کښ اناس وو د همزه په عوض کښ دے او لازم نه دے ځکه څه علم خونه دے (۳) مثال د الف لام حرفی زائده غیر عوضی لازم داپه النجم الصعق کښ دے چه دا علمین دی. حرفی ځکه دے چه علاوه د اسم فاعل او د اسم مفعول نه دے او زائده ځکه دے چه تعریف په علمیت سره حاصل شوي دے او بیا عوضی نه دے ځکه دا د څه په عوض کښ نه دے راغلی او بیا دا لازم دے ځکه دا علمین دی او اعلام خو بقدر الامکان د تغییر او تبدیل نه محفوظ وی (٤) مثال د الف لام حرفی زائده غیر عوض غیر لازم داپه دی شعر کښ دے.

فیا الغلامان الّذان فرّا إیّاکما ان تکسبا شرّاً

په الغلامان کښ الف لام حرفی دے ځکه دا علاوه د اسم فاعل او اسم مفعول نه دے او زائده دے ځکه تعریف په حرف نداء سره حاصل دے او غیر عوضی دے ځکه دا دڅه عوض کښ نه دے راغلی او غیر لازم دے ځکه داخه علم نه دے چه انفکاك ئی ممتنع شی. دا الف لام غیر زائده هم څلور قسمه دی.

(۱) جنسی (۲) استغراقی (۳) عهدی خارجی (٤) عهدی ذهنی

(وجه د حصر:)دا الف لام به خالی نه وی یا به پکښ اشاره وی یو حقیقت او ماهیة ته قطع نظر د لحاظ د افرادونه او یا سره د لحاظ د افرادو نه نوکه اشاره وه یو ماهیة ته قطع نظر د لحاظ د افرادونه نو دا الف لام جنسی دے اوکه لحاظ د افرادو پکښ شوې وو نو بیا به خالی نه وی یا به ټول افراد مراد وی او یا بعض که ټول افراد مراد وو نو الف لام استغراقی او که بعض افراد مراد وو نو بیا به خالی نه وی یا به دا بعض افراد معین وی او یا نه که معین وی نو الف لام عهدی خارجی اوکه معین نه وو نو بیا الف لام عهدی ذهنی.

(اوس تعریف دهر واحد صراحةً او ورسره مثال سره د تطبیق نه.)

الف لام حرف غیر زائده جنسی دا هغه الف لام دے چه پکښ اشاره وی یو حقیقة او ماهیة ته قطع نظر د لحاظ د افرادونه "مثل الرجل خیر من المراة" دا الف لام دلته جنسي دے إسمی نه دے ځکه نه اسم فاعل دے او نه اسم مفعول او زائده هم نه دے ځکه ددی په سقوط سره نقصان راځی او هغه نقصان وقوع د نکره ده مبتداء او بیا دا علاوه د جنسی نه هم صحیح نه دي استغراقی هم نه دے ځکه مقصد به داشي چه ټول افراد سړو د افراد د ښځو نه بهتر دی حالانکه خبره داسی نه ده ځکه کافران خو د مسلمانی زنانه نه بهترنه دی دغه شان عهدی خارجی هم نه دے ځکه چه دلته د خاص یو سړی مدح او صفة نه دے مقصود او عهدی ذهنی هم نه دے صحیح ځکه بیا به لازم شی نکارت د مبتداء او دانارو ده نو متعین شو چه جنسی دے، جنس د رجل (مذکر من بنی ادم یتجاوز من حد الصِّغَر الی حد الکبر.)

ا: دا تعریف : په اعتبار د اغلبو سره دی حضرت ادمؑ او حواء بي بي تری نه خارج دی.

(الف لام حرف غیر زائده استغراقی:) دا هغه الف لام دے چه اشاره پکښ شوی وی یو حقیقة او ماهیة ته سره د لحاظ د ټولو افرادو نه مثال (إن الانسان لفی خسر) دلته الف لام استغراقی دے. اسمی نه دے ځکه دانه اسم فاعل دے اونه اسم مفعول او زائده هم نه دے ځکه په سقوط ددی سره نقصان راځی هغه نقصان دادے چه دا اسم د ان به نکره شی او قانون دادے چه کله اسم د إنّ نکره وی او خبر د إنّ ظرف وی نو تاخیر د اسم د إنّ د خبر د إنّ نه واجب دے او دلته خو مقدم دے لکه إنّ من البیان سحرا. تدبر. او د الف لام جنسی هم صحیح نه دے ځکه چه جنس نه موصوف کیږی په خسران باندی بلکه افراد موصوف کیږی او عهدی خارجی هم نه دے صحیح ځکه لازم به شی استثناء د شئ عن نفسه

،او عهدی ذهنی هم نه دے صحیح ځکه بیا به لازم شی نکارة د مبتداء ځکه هغه په حکم د نکره کښی وی ،او استثناء د شئ عن نفسه هم راځی.

((۳)الف لام حرفی غیر زائده عهدی خارجی) دا هغه الف لام دے چه په دی کښی اشاره شوی وی یو حقیقة او ماهیة ته په ضمن د بعضو افرادو معینو کښی چه معلوم وی په خارج کښی متکلم او مخاطب دواړو ته لکه (فعصی فرعون الرسول) دلته په الرسول کښی الف لام عهدی خارجی دے اسمی نه دے ځکه دلته اسم فاعل دے او نه اسم مفعول او زائده نه دے ځکه بیا ددی په سقوط سره نقصان راځی هغه داچه جهالت راځی حالانکه داخو معهود د پیغمبر وو چه موسی علیه السلام دے بیا جنسی هم نه دے صحیح ځکه چه عصیان د جنس نه نه متصور کیږی او استغراقی هم نه دے صحیح ځکه هغه وخت ټول انبیاء نه وو موجود چه فرعون د ټولونافرمانی کړی وي او عهدی ذهنی هم نه دے صحیح ځکه داخو متکلم ته چه الله دے و مخاطب ته چه نبی علیه السلام دے او نور چه څوک دی نو دا ورته معلوم دے نو متعین شو چه دا عهدی خارجی دے.

((٤)الف لام حرفی غیر زائده عهدی ذهنی.)دا هغه الف لام دے چه په دی کښی اشاره وی یو حقیقة او ماهیة ته په ضمن د بعضو افرادو کښی چه معلوم وی متکلم ته فقط لکه (أن یاکله الذئب) دلته په الذئب کښی الف لام عهدی ذهنی دے اسمی نه دے ځکه علاوۀ د اسم فاعل او اسم مفعول نه دے ،او زائده هم نه دے ولی چه بیا نقصان راځی ،او بیا جنسی هم نه دے ولی چه اکل د جنس نه متصور کیدل منع دی او استغراقی هم نه دے ولی چه خارج کښی وجود نه لری چه ټول شرمخان دی هلته موجود وو او عهدی خارجی هم نه دے صحیح ځکه هلته یو معین شر مخ نه وو موجود چه یوسفؑ ئی خوړلي وی. ځکه دا خو نبی علیه السلام وو او الله د انبیاء وغوښی په حیواناتو حرامی کړی دی. حیوانات پرېږده (قال النبی صلی الله علیه وسلم ان الله قد حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء) نو متعین شو چه ذهنی دے.

تعین د "ما" هو المراد ههنا: نو یا خو دا الف لام جنسی دے او یا خو عهدی خارجی.

(ألکلمة هی و الکلام مشتقان) تشریح د "کلمة" ده او دا پنځمه خبره ده

سوال: شارح لره څه وجه ده چه بحث د الف لام روستو کوی او د کلمة مخکښ کوی حالانکه په اعتبار د ترتیب خارجی سره خو الف لام اول دے.

جواب: او دا خبره ده چه الف لام اول دے په ترتیب خارجی کښی خو شارح دلته لحاظ د ذات ساتلے دے په دی شان سره چه کلمة ذات دے او دا الف لام غرض دے او ذات په عرض باندی مقدم وی طبعاً نو مقدم شو وضعاً چه موافقة راشی بینهما (تجزیه د تشریح په

كلمة كښ) (۱) اختلاف په دې كښ چه دا كلمة او كلام مشتق دى او كنه (۲) دا كلم بدون التاء د څه صيغه ده نو دى كښې هم بيان الاختلاف دے (۳) تفصيل د الف لام او د تاء په الكلمة كښ.

تعين د هغه امور خمسو چه لابدى دى په هر بيان د اختلاف كښې (۱) تحرير د محل النزاع (۲) تعين د مختلفينو (۳) دعوى دهر واحد (۴) دليل دهر واحد (۵) ترجيح دما هو الراجح د امور خمسه په هر اختلاف كښ چليدلے شي.

(۱)تحرير د محل النزاع: هغه داده چه دا كلمه و كلام دچانه مشتق دى او كه دا دواړه كلمات برأسها دى (۲) تعين د مختلفينو نو دوه مذهبه دى پكښ يو مذهب د جمهو نحاتو دے او دويم مذهب د بعض نحاتو دے لكه صاحب د "المصباح المنير" وغيره (۳) دعوى دهر واحد نو جمهور وائى چه دا كلمه او كلام د چانه مشتق نه دى كلمات برأسهما دى او بعض نحات وائى چه دا كلمه او كلام د كلم بتسكين اللام نه مشتق دى (٤) دليل دهر واحد جمهور وائى چه اول إشتقاق پيژندل ضرورى دى نو اشتقاق لغت كښ په معنى د ټكري ټكري كول سره دے اويه اصطلاح كښ (أن تجد بين اللفظين تناسبا فى اللفظ والمعنى) (مراح الارواح) بيا درى اقسام دى ورله (۱) صغير (۲) كبير (۳) اكبر.

اوس چه د اشتقاق دامعنى شي او موږ كلمه او كلام مشتق كړو د كلم بتسكين اللام نه نو صحيح ده لفظا به تناسب وي خو معنى تناسب معدوم دے ځكه كلم په معنى د جرح دے او كلمة او كلام خو لفظ وضع او "ما" تضمن نه وائى نو د سرنه پرى تعريف د اشتقاق صادق نه شو.

دليل د بعضو نحاتو دپاره دادے چه لفظا تناسب خو ښكاره دے د كلمة، كلام د كلم سره او د تناسب فى المعنى دپاره درى اقسام دى يو مطابقى دويم تضمنى دريم التزامى نوكه مطابقى او تضمنى معدوم وى نو التزامى شته دے هغه داچه كلمة او كلام هم تاثير كوى او كلم هم تاثير كوى. قال الشاعر:

جراحات السّنان لها التيام	ولا يلتام "ما" جرح اللّسان

او شاعر په فارسئ ژبى هم فرمائى

جراحات تیرہ بہ گردو بدارو	ولی جرح زبان راتیست دارو

او عبد الرحمان بابا هم وائى:

په داروکه د نیزی زخم جوړیږی جوړيږه نه شي په دارو پرهر د ژبې

و ایضا قال اخر:

پرهر د توری به می جوړ شي جوړ به می نه شي ستا د ژبې پرهرونه

او پرهر د نیزے خه د ے چه به جوړ شي په یودم

خو بد پرهر د ژبې د ے چه د عمر سره وی سم

(ترجيح دما هو الراجح:)دا ترجیح شارح ورکوی په اشاری سره چه دا مذهب ئی د قیل سره ذکر کړو دا قیل صیغه د تمریض ده اشاره ده پکښ ضعف ته.

بیا کله چه فاعل حذف کیږی نودی دپاره څه وجوه وی. بعض د وجی د شهرة نه لکه "خلق الانسان ضعیفا" خالق مشهور د ے چه الله د ے بعض د وجی د خساسة نه لکه "شُتم الامیر" نو شاتم ډیر خسیس د ے بعض د وجی د جهالت نه لکه "سُرق التاع" بعض د وجی د عصمة نه لکه "قتل زید" نوکه فاعل ذکر شي نو قاتل بچ نه پاتی کیږی بعض د وجی د بد ګڼړلو د ژبې نه نوم اخستل دهغی لکه "قیل لی فی البیت تاتی الیوم حوائج البیت"د زوجة مراد وی خو څوک ورله نوم نه اخلی بعض د وجی د برابولو د سجع او قافیه نه بعض د وجی د ضعف نه لکه دلته شو. بیا دلیل د ترجیح دپاره د جمهور دادے چه دا تعریف کښ چه کوم تناسب ذکر د ے نو دی نه مراد مناسبة قریبه د ے نه بعیده او دا بعضو نحاتو چه کوم مناسبة ذکر کړي د ے نو دا بعید د ے د څو وجوه نه (۱) متبادر الی الذهن نه د ے (۲) تاثیر د کلام وی فقط نه دپاره د کلمه (۳) تاثیر د کلام په زړه وی او تاثیر د کلم په جسد او بدن وی (٤) او هر کلام هم تاثیر نه کوی بلکه بعض کلام کوی چه سیئة د ے.

سوال: شارح د جمهور مذهب ولی نه بیانوی؟

جواب: هغه معلوم او مشهور د ے

سوال : شارح چه قیل هی والکلام وائی نو هما دی اویٔ دا دواړه به په ضمیر سره ذکر شي مع الاختصار .جواب بیا په حق د کلام کښ اضمار قبل الذکر راځي

سوال: کلام خو مخښ ذکر د ے په قول د شارح کښ و قدّ م الکلمة و الکلام کښ نو اضمار چرته د ے.

جواب نفس ذکر د کلام نه د ے مراد بلکه په عبارت دماتن کښے ذکرضروری د ے.

(بتسكين اللام) غرض د شارح په دې عبارت سره تعريف كول دى د كلم څكه دا د كلم بكسر اللام سره په جنس كښې يو شكاره كيدو .يعنى دداوړو مينځ كښې تجنيس خطى دے.

سوال: نو دا دومره اوږد عبارت ولې وائي علامه د سكون به ئې كړى وي كنه؟

جواب: عرب خلق حركاتو لره اعتبار نه وركوى نو هغو تعريف په الفاظو پيش كوى.

(لتاثيرهما) دا مذهب د بعض نحاتو بيانوى "و قد عبر" هغه دليل نقلى بيانوى چه شعر دے. بيا دا شاعر ددى شعر څوك وو نو بعضو وئيلى دى چه دا على كرم الله وجهه دے خو دا بهتره خبره نه ده بلكه كيدے شى چه معنى د على رضى الله عنه وى او دا شعر ديو بل شاعر وى او شارح هم نسبة على رضى الله عنه نه نه كوى.

(بيان الاختلاف په دى خبره كښې چه دا كَلِم د څه صيغه ده؟) دلته هم هغه پنځمه خبرى ضرورى دى (۱) تحرير د محل النزاع دلته درى خبرے دى (۱) داكلمة چه مع التاء وى نو دا بالاتفاق د مفرد صيغه ده (۲) دا كلمات چه دى كلمة سره الف اوتا راشى نو د بالاتفاق د جمع صيغه ده (۳) دا كلم بدون التاء و كسر اللام شى نو دا د څه صيغه ده په دى كښې اختلاف دے (۲) تعين د مختلفينو دلته دوه مذهبه دى (۱) جمهور (۲) بعض النحاة لكه صاحب الصّحاح او صاحب اللباب (۳) دعوى دهر واحد نو جمهور وائي چه دا صيغه د جنس ده او دابعض وائى چه دا صيغه د جمع ده دليل دهر واحد دپاره ،د جمهور تول درى دلائيل دى "دليل اول" دا صيغه څكه د جنس ده چه الله فرمائى :(اليه يصعد الكلم الطيب) نوكه دا صيغه د جمع وه نو د الطيب په ځائے باندى الطّيبات پكار وو او يا الطّيبة په تاويل د جماعة سره څكه چه دا موصوف صفة دى او په موصوف صفة كښې مطابقة په افراد، تثنيه و جمع كښې شرط دے خو چه كله الطيبات او الطّيبة نه دےراغلے نو معلومه شوه چه دا صيغه د جنس ده "دليل ثانى" دا كلم تمييز د عدد اوسط راځى او تميز د عد داوسط مفرد منصوب وى جمع نه وى لكه "احد عشر كلما" نوكه د جمع صيغه وى نو تمييز د عددا وسط په نه راتلو "دليل ثالث" ددى تصغير كُلَيم راځى او قانون دادے چه په تصغير سره شئ خپل اصل ته واپس كيږى څكه چه اجتماع د فرعيتو رانشى نوكه دا صيغه د جمع وى نوبيا به تصغير كُلَيم نه راتلو بلكه كُلَيمة به راتلو څكه هغه كلمة مفرداواصل دے دهغى نه به تصغير راتلو . دليل دپاره د بعض نودوئ لره يو دليل دے هغه داچه دا څكه د جمع صيغه ده چه اطلاق ددى په يو اودوو باندى نه كيږى نو كه دا جنس وونو د جنس اطلاق په قليل او كثير برابر كيږى او جمع هغه وى چه د دوو نه په بره باندى اطلاق كيږى اوګلم هم داسے دے.

(جوابا ت إلى الجمهور عن بعض النحاة) جواب د اول دليل نه دا دے چه دا قول د الله مؤول دے اصل كښې اليه يصعد بعض الكلم الطيب دے نو دا الطيب صفة د بعض مفرد دے جواب د دويم نه تميز د عدد اوسط كَلمانه راځى بلكه كلمة مع التاء راځى لكه احد عشر

کلمة د دریم نه جواب تصغیر کلیم نه راځی بلکه کلیمة مع التاء راځی (۵) "ترجیح وما هو الراجح" نو مذهب د جمهور اولی او راجح دے وجه داده چه ایت کښ تاویل خلاف الاصل دے او د عدد اوسط او د تصغیر نه انکار کول چه کلما او کلیم نه راځی دا مکابره ده یعنی دعوی بلا دلیل ده او جواب د دوی ددلیل واحد له دادے چه اطلاق ددی په یو او دوو باندی نه کیدل د وجی دا استعمال نه دی دا واضع د تول دیاره یو شان وضع کړی دے روستو استعمال کښ داسی شو او قانون دادے چه اعتبار وضع دا واضع لره وی نه چه استعمال د مستعمل لره شارح وائی: "والکلم بکسر اللام" غرض د شارح تعریف کول دی او تحریر د محل النزاع واضح کوی "کتمر و تمرة"

سوال : په دی کتمر کښ داکاف تشبیهی دے او دا تمر او تمرة دواړه ددی لاندی دی نو کلم مشبه و تمر او تمرة ورله مشبه به شو او وجه د شبه یکښ جنس شو نو دا تمر او تمرة دواړه جنس شول حالانکه تمر خو جنس دے او تمرة خو بالاتفاق مفرد دے جنس نه دے.

جواب: دا عبارت په حذف مضاف سره دے ای کلم جنس "لا" جمع کتمر و الکلمة مع التاء مفردة کتمرة خو شارح د وجی د ظهور نه داسی مختصر عبارت راوړو.

(و اللام فیها للجنس) په کلمة کښ دری تشریحات وو نو دوه اوشول اوس تشریح ثالث ده چه په الکلمة کښ دا الف لام کوم دے او دا تاء یکښ کومه ده.

سوال: شارح ولی د الف لام دا بحث او تفصیل دلته کوی دا خو د ترتیب خارجی نه بنکاره خلاف دے.

جواب: اعتبار ورکوی ذات لره و مر تفصیل هذا الجواب.

دلته شارح اختصار کوی نو دلام بحث ئی روستو کړو اختصاراً په دی شان سره چه په دی تاء باندی کوم اعتراض دے او کوم جواب دے تړی نه نو داپه لام باندی هم دے او دا جواب دے تړی نه نو شارح دا لام اخر کښ راوړو چه یو جواب به د دی نه په غوندو سره اوشی نو دا اختصار دے اوکه دلام بحث ئی اول کولے او هلته ئی دا اعتراض کوو او بیائی تړی نه دا جواب کولو نو دا تکرار راتلو او اختصار فوت کیدلو ."واللام فیها" دا تشریح د لام ده په دفع د سوال سره او والتاء للوحدة سره تشریح د تاء ده. مخکښ د دفع د اعتراض نه معرفة د لام او معرفة د تاء ضرور دے نو د الف لام تفصیل خوشوی دے په اعتبار دلغت او اصطلاح او په اعتبار د اقسامو سره نو دلته دا تفصیل نه کوو د تاء تفصیل کوونو د تاء دپاره څو معانی دی.(۱) تاء د نفس کلمة لکه مات یموت (۲) تاء دپاره د تانیث لکه ضاربة د ضارب نه (۳) تاء بدل او عوض د حرف علت نه لکه عدة اصل کښ وعد بکسر الواو وو بیا واو حذف شو او اخر

کښې تاء راوړله (٤) تاء دپاره د مبالغې لکه علامة (٥) تاء دپاره د مرة (٦) تاء دپاره د حالة لکه جلسة بفتح الجيم او جِلسة بكسر الجيم. قال

الفَعلة للمرة والفِعلة للحالة كالجلسة للفعلة و الجِسلة للحالة

(٧)تاء دپاره د تذکير لکه "ثلاثة رجال" شو دلته دا رجال مذکر دے نوپه عدد کښې به ورله تاء راوړلے شي او دا قانون دے چه عدد اقل به مخالف وي د معدود څپل نه (٨) تاء دپاره د مصدرية لکه ضربة او دعوة وغيره (٩) تاء دپاره د وحدة لکه کلمة کښې چه کوم دد او دلته څکه شارح وائي چه للوحدة دا تاء دپاره د وحدة ده اوس سوال جوړ شو دا ورته تمهيد وو .

سوال: تا اوئ الکلمة ته دا قوم يو تپوس کوی چه دا الف لام به الکلمة کښې کوم دے دا مخکښ چه کوم اقسام د الف لام تير شوی دی داپه غونډه سره باطل دی. تفصيل دادے چه الف لام اسمی خونه دے ولې چه نه اسم فاعل دے او نه اسم مفعول او حرفی هم نه دے صحيح څکه داپه دوه قسمه دے زائده او غير زائده نو زائده خو څکه نه دے چه به سقوط سره نقصان راځي چه نکارت د مبتدا دے او د غير زائد دپاره څلور اقسام دی يوهم صحيح نه دے جنسي خو څکه صحيح نه دے چه د تاء ورسره منافاة دے او استغراقی څکه نه دے صحيح چه هغې کښې افراد مراد وی او دا تعريف دے تعريف د افرادو نه کيری بلکه تعريف د جنس په جنس سره کيږی او عهدی خارجي څکه نه دے صحيح چه په دی کښې اشاره وی يو فرد ته چه معين وی او مخکښ تير شوی وی حالانکه دلته داسی يو کلمة نه ده تيره شوی چه په دی سره ورته اشاره اوشي او عهدی ذهنی هم نه دے څکه داپه حکم د نکره کښې وی نو بيا نکارت د مبتداء لازميږی. علاوه "لا" دا وايو چه په عهدی خارجي او ذهنی کښې هم فرد مراد وی او تعريف د فرد نه کيږی بلکه د جنس کيږی.

جواب: شارح وائي:(لا منافاة) هر کله چه سوال په شقو قو باندی اوشي نو د جواب بيا دوه طريقې وی يو طريقه داوی چه دهغه شقوقونه يو شق راواخلي او په هغې چه کوم اعتراض وی دهغې نه جواب اوکړي.

دويمه طريقه داده چه دهغه شقوقونه يو شق هم راونه خلي بلکه انتقال اوکړی يو شق اخر دلته شارح اوله طريقه کوی نو هغه دا چه په دی "الکلمة" کښې الف لام حرفي غير زائده جنسي دے نو دا اعتراض راغی چه دا خو منافي دے د تاء سره څکه چه جنسية تقاضا د عموم کوی او وحدة تقاضا د خصوص کوی او په درميان د خصوص او عموم کښې منافاة دي.

نو شارح دا جواب کوی چه دپاره د وحدة څو اقسام دی (١) وحدة جنسي (٢) وحدة نوعي (٣) وحدة شخصي (٤) وحدة فردی اوس منافاة به درميان د وحدة فردی او جنسي کښې دي او د جنسي او نوعي سره منافاة نشته دے نو دلته وحدة فردی نه دے مراد کړي چه اعتراض

دی وارد شی بلکه علاوه د وحدة فردی نه مراد دی. "یقال هذا الجنس" غرض د شارح په دی عبارت سره استشهاد پیش کوی. بیا حاصل دادے چه دا وحدة او جنسیة په یو بل باندی موصوف کیږی اوکوم اشیاء چه په یو بل باندی موصوف کیږی نو هغی کښ منافاة نه وی.

(ویمکن حملها علی العهد) غرض د شارح په دی عبارت سره ددغه سوال نه دویم جواب کوی هغه داچه دلته الف لام په الکلمة کښ عهدی خارجی دے او سوال پرې راتلو چه مخکښ خو داسې یو فرد نه دے ذکر چه دی سره ورته اشاره اوشی نو ددی، جواب دادے چه دا ضروری نه ده چه مخکښ به یو فرد ذکری وی بلکه معلومیة او معهودیة ضروری دے یعنی چه مخاطب او متکلم ته معلوم وی. مثلا متکلم اوای: خرج الامیر نو امیر مخکښ ذکر نه دے خو معلوم دے دغه شان دلته هم دا الکلمة ذکر نه ده خو معلومه ده په دی شان سره چه مُعَلِّم د نحو دے او کتاب د نحو دے او طلباء هم د نحو دی نو دا کلمه هم نحوی کلمه ده.

سوال: په الف لام عهدی کښ اشاره وی یو فرد ته او دا خو تعریف دے او تعریف خو د فرد نه کیږی بلکه د جنس کیږی ولی چه افراد غیر منضبط دی.

جواب: او قانون هم دادے چه د فرد تعریف نه کیږی خو مطلق فرد نه بلکه هغه فرد چه هغه وحدی، شخصی او جزئ نه وی اوکوم فرد چه نوعی یا صنفی او یا جنسی وی نو دهغی تعریف کیږی دلته هم دا مراد دے.

سوال: شارح دا جواب په یمکن سره مُصدّر کړو او کوم جواب چه مُصدّر په یمکن وی هغه ضعیف وی او دا جواب خو قوی دے.

جواب: دا جواب صرف شارح کړی دے نو ر چا نه دے کړی نو د وجې د کسر النفس نه شارح داپه یمکن سره مُصدّر کړو چه که دا جواب هر څومره قوی دے خو ماته ضعیف ښکاری.

(نبذه من تحقیق صاحب باسولی فی هذا المقام) سوال: ماته ته چه د کلمه تعریف کوی نو ایا دا کلمه معلومه ده اوکه معلومه نه ده که دا کلمه معلومه وي او ته بیا هم تعریف کوي نو دا لازمیږی تحصیل د حاصل چه داناروا دے اوکه دا کلمه معلومه نه وی نو یو نقصان خو دا راځی چه نکارة د مبتداءلازم شو او دویم طلب د مجهول مطلق هم راځئ.

جواب: دا کلمه من وجه معلومه ده او دامن وجه معلومه نه ده په دی شان سره چه په دخول د الف لام تعریفی سره دا معلومه ده نو نکارت د مبتداء هم نه راځی او طلب د

مجهول مطلق هم اوپه تعریف سره دا معلومه نه ده نو تعریف ورله کوی نو تحصیل د حاصل هم نه راځی.

سوال: دا الکلمة مبتداء ده او مبتداء محکوم علیه وی نوپه دی باندی د حکم لګولو نه مخکښ داخبره ضروری ده چه دا معلومه وی ځکه چه قانون دادے چه حکم کول پ یو شئ باندی فرع ده د معرفة د محکوم علیه نو دا تقاضا کوی چه دا کلمه دي معلومه وي او بل طرفته دا کلمه معرفة ده یعنی تعریف ورله کیږی نو دا تقاضا ددی کوی چه دا کلمه معلومه نه ده نو دا خو لازم شو کون د شئ واحدمعلوم اونه معلوم او دا خو اجتماع د نقیضینو ده.

جواب: دلته جهات مختلف دی نو اجتماع د نقیضینو نه ده راغلی که معلومه ده نوپه دی جهة سره چه دا مبتداء ده او دا کلمه چه مجهوله ده نودایه دی جهة سره چه دا معرفه ده .

سوال: تا اوی چه په الکلمه کښ الف لام حرف دے نو دا حرف شو او کلمة خو اسم دے نو حرف خو غیر مستقل دے او اسم خو مستقل دے نو دا الکلمة مرکب شو د مستقل او د غیر مستقل نه او نتیجه د اخس ارذل تابع وی نو دا غیر مستقل شوه نو مبتداء څنګه واقع ده؟

جواب: یو ترکیب د مستقل دے غیر مستقل سره او دویم ضم د مستقل دے غیر مستقل سره دلته دا ضم د مستقل دے غیر مستقل سره ترکیب نه دے مراد چه دا اعتراض پری وارد شي.ځکه چه په ترکیب دمستقل او غیر مستقل سره ګرزی شی غیرمستقل نه په ضم سره

سوال: دا الکلمة تاسو ولی معرفه کوی په الف لام سره؟

جواب: یو خو دا مبتداء ده او مبتداء معرفه وی دویم د اکلمه په ډیرو معانیو سره راځی کله په معنی د کلمة التوحید چه "لا" اله الا الله محمد رسول الله کله ئی اطلاق په جمله باندی هم کیږی لکه نبی علیه السلام فرمائی: چه واصدق کلمة، کلمةٌ قالها لبید او هغه دا جمله وه

ألا کل شيءٍ "ما" خلا الله باطل وکل نعیم لامحالة زائل

کله ئی اطلاق په قصیده باندی هم کیږ او په اصطلاح د منطق کښ ئی اطلاق په فعل باندی هم کیږی کله ئی اطلاق په عیسی علیه السلام باندی هم کیږی قال تم: و کلمة القاها الی مریم کله کله اطلاق کلمه باندی هم کیږی نو معرفه ئی ځکه کړه چه تعین او شی چه دا کلمه مراد ده دنحاتو

(لَفظٌ) اجمالی خبری (١) ربط (٢) لغوی تحقیق (٣) اصطلاحي تعریف (٤) تشریح د تعریف اصطلاحي (٥) دفع د بعض اعتراضاتو چه واردیږی په دی مقام کښ.

ربط:معنوی ربط دادے چه کله راغ شو مصنف د عنوان نه نو شروع ئی اوکړه په معنون کښ بالفاظ دیگر کله چه فارغ شو مصنف د معرَف (بفتح الراء) نه نو شروع ئی اوکړه په معرِف (بکسر الراء) کښ بالفاظ دیگر کله چه فارغ شو مصنف د محدود نه نو شروع ئی اوکړه په حد کښ فقال لفظ.

ربط لفظی:دادے چه الکلمة مبتداء ده او لفظ الخ ورله خبر دے مبتدا خبر جمله اسمیه شوه.

لغوی تحقیق:په دی عنوان کښ دری خبری پیژندل ضروری دی (۱) صیغه (۲) معنی لغوی (۳) وجه دتسمیه یعنی مناسبة په درمیان د معنی لغوی او اصطلاحي کښ.

(أَللَّفظ فِى اللّغة الرمى) هغه اهتمام د دریو خبرو ضروری دے (۱) دا لفظ صیغه د مصدر ده د باب ضرب نه لفَظ یلفِظ ومنه قوله تعالی "ما" یلفظ من قول الایة (۲) معنی ددی الرمی ده ویشتل.

سوال: دا خو اثبات د لغت دے په عقل باندی او دا ناروا دے.

جواب: دلیل نقلي هم شته دے "یقال اکلت التمرة و لفظت النواة" بیا په دی کښ تعمیم دے که من الفم وی او که اوکه لفظ وی اوکنه نوپه دی اعتبار د تعمیم سره پکښ څلور صورتونه دی (۱) رمی وی من الفم وی او لفظ هم وی لکه یو انسان تلفظ اوکړی په زید قائم باندی (۲) رمی وی او من الفم هم وی خو لفظ نه وی لکه "اکلت التمرة و لفظت النواة" (هډوکی) (۳) رمی وی من غیر الفم وی او لفظ هم نه وی لکه "لفظت الرحی الدقیق" ژرندی وړه اویشتل (٤) رمی وی من غیر الفم وی او لفظ وی او دانفس احتمال دے څه مثال نه لری

وجه د تسمیة: په شارح بیان کړی (ثم نُقل فی عرف النحاة ابتداء) دا دفع دیو سوال ده چه لفظ په معنی د رمی سره شی نو دا معنی مصدری ده او داخبر دے دپاره د الکلمة مبتداء نو خبریه مبتداء باندی حمل وی او دلته حمل نه دے صحیح ځکه مبتداء ذات دے او خبر وصف دے او حمل د وصف په ذات ناروا دے نو دلته څنګه روا دے؟

جواب: دا اعتراض به هله وی چه دا"لفظ" موئثر په دی ځیله معنی برقرار پریښودی حالانکه داخو موئثر نقل کړي دے په عرف د نحاتو کښ "ما" یتلفظ به الانسان ته او دا معنی ذات دے نو حمل صحیح دے.

سوال: نقل دوه قسمه دے یو بلا واسطه چه په درمیان د منقول او منقول عنه کښ څه واسطه نه وی. دویم بالواسطه چه په درمیان د منقول او منقول عنه کښ څه واسطه وی. اول

نه نقل بالذات او نقل ابتدائي وائي او دويم ته نقل بالواسطه او نقل ثانوي وائي نو دلته چه دا نقل شوی دے داګوم نقل دے؟

جواب: دلته دوه مذهبه دي يو مذهب دادے چه دا ابتداء نقل شوي دے يعني دلفظ نه سيدها "ما" يتلفظ الخ ته منقول شو او علاقه پکښ د سببية او مسببية ده په دی شان سره چه "ما" يتلفظ الخ سبب دے دپاره د لفظ چه دا ورله مسبب دے او دی ته تسمية المسبب باسم المسبب وائي او دوی دپاره دليل دادے چه په نقل ابتداء کښ مجاز دے د تکليف او مشقة نه خکه چه دواسطه پکښ وی نو کار ګران وی.

دويم مذهب دادے چه اول دا منقول شو ملفوظ ته او بيا نقل شو "ما" يتلفظ ته.

سوال: داسی چرته مثال شته دے چه د فعل نه مفعول جوړ شي؟

جواب: او شته دے هغه دادے چه قال تعالی :"هذا خلق الله" ای مخلوقه.

او بيا علاقه د دوی په نزد مناسبة په منقول او منقول عليه کښ د خصوص او د عموم دے په دی شان سره چه "ما" يتلفظ الخ خاص دے او دا لفظ بعض الملفوظ عام دے او دی ته تسمية الخاص باسم العام وائي او دوی دپاره دليل دادے چه په درميان د منقول او منقول عنه کښ مناسبة قريبه پکار وی او هغه مناسبة قريبه د خصوص او عموم دے نه د سببية او مسببية خکه دا عموم او خصوص په يو بل باندی صادقيږی لکه الانسان حيوان او عکس شو او سبب او مسبب په يو بل نه صادقيږی لکه صلوة مسبب دے او وقت سبب دے نو الصلوة وقت او الوقت صلوة. دواړه ناروادي

اصطلاحي تعريف:داځه شارح بيانوی او ځه موږ نو تعريف دادے چه (ما يتلفظ به الانسان حقيقة کان او حکما، مهملا کان او موضوعا، مفردا کان او مرکبا،قليلا کان او کثيرا،ف جميع الاحيان کان او ف بعضها) اوس فوائد د قيوداتو په ځه شارح بيانوی او ځه موږ.

سوال: تعريف دی مانع نه دے ددخول دغير نه داخل شو پکښ ژبه (زبان) خکه انسان په دی باندی تلفظ کوی او بيا هم ورته څوک لفظ نه وائی.

جواب: دا اعتراض په هغه وخت وو چه "به" کښ داباء دپاره د استعانة وی او باء سببية حالانکه دلته باء دپاره د تعدية ده يعني په هغې باندی تلفظ کوی انسان دهغې په ذريعه نه اونه دهغې په مدد سره.

بيا شارح اوی:

"حقيقة او حکما" نو ددی فائده به بيان کړی

مهملا كان او موضوعا غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د وهم ده چه واهم به دا وهم اوكوو چه "ما" يتلفظ كښ به لفظ موضوع مراد وى نو مهمل ترى نه خارج شو حالانكه هغه هم لفظ دے نو شارح دا وهم دفع كړو چه "ما" يتلفظ عام دے دواړو ته شامل دے.

(مفردا كان او مركبا) غرض د شارح په د ى عبارت سره هم دفع د وهم ده چه څوك به وهم اوكړى چه مراد به "ما يتلفظ به" نه لفظ مفرد وى نو لفظ مركب خارج شو نو شارح دا وهم دفع كړو چه په "ما يتلفظ" كښ تعميم دے.

(قليلا كان او كثيرا) دا قيد موئز اولګو دپاره د فع د وهم چه واهم به دا وهم اوكړى چه مراد به د "ما يتلفظ به" نه لند لفظ وى نو اوږد لفظ ترى نه خارج شو نو موئز تعميم اوكړو چه "ما" يتلفظ عام دے دواړو ته شامل دے. "واللفظ الحقيقى" غرض د شارح په دى عبارت سره د

حقيقة او حكما قيد فائده بيانوى او دفع د يو سوال هم ده سوال دادے چه دا تا كوم تعريف د لفظ اوكړو نو دا صحيح نه دے څكه خارجيږى ترى نه منوى چه د انسان په نية كښ وى او تلفظ ئې پرى نه وى كړى لكه زيد ضرب شو نو دلته په ضرب كښ ضمير مستتر شته دے لفظ دے او تلفظ پرى نه كيږى نو تعريف ورته شامل نه شو.

جواب: شارح وائى په تعريف كښ تعميم دے كه دا تلفظ پرى حقيقة كيدلو او كه حكما نويه دى ضرب چه كوم ضمير دے نو حكما پرى تلفظ كيږى نو تعريف ورته شامل دے.

سوال: ته دى ته حقيقى ولى نه وائى؟

جواب: حقيقى ورته نه وايم څكه حقيقى هغه وى چه د مقولى حرف او صوت نه وى او دا ضمير د ضرب چه دے نو دانه د مقولى د حرف او نه د صوت نه دے نو حكمى ورته وايم.

سوال: د لفظ په مقابله كښ معنى راځى نو چه دى ته ته حكمى لفظ وائى نو معنى ورته او وايه څكه معنى هم داسى وى چه د مقولى د حرف او صوت نه نه وى.

جواب: شارح وائى "ولم يوضع" معنى ورته نه شم وئيلى څكه د معنى دپاره لفظ وضع وى او دى دپاره لفظ نه دے وضع شوى "وإنما عبر" دا دفع د سوال ده چه داخبره نه منو چه د منوى دپاره لفظ نه دے وضع شوى څكه دا حلق دال ضرب كښ هو ضمير مستتر فاعل دے نو دا هو لفظ دى دپاره وضع شوى دے كه.

جواب: دا هو ددې دپاره نه دے وضع شوې بلکه داهو ضمير مونږ ددې دپاره په سوال باندې غوښتلی دے د منفصل نه دپاره د افهام او تفهيم او دپاره د تعليم او تعلّم په دې وجه باندې چه د ضرب ترکيب کيدلے شي نو وئيلې کيږي چه ضرب فعل او ضمير مستتر چه تعبير ترې نه کيدلے شي په هو دا فاعل نو خپل لفظ ورله نشته تعبير ترې نه کيدلے شي په دې هو سره.

سوال: چه کله دا منوی نه لفظ حقيقي دے اونه دا معنی ده نو دا حکمی ورته څنګه وائي؟!جواب: شارح وائي: "و اجروا" چه دوی نحاتو په دې باندې احکام د لفظ جاری کړی دی لکه کوم ضمير چه هغه حقيقة لفظ وی نو هغه فاعل، مؤکّد او معطوف عليه واقع کيږي نو داسې دا منوی هم دے چه فاعل وُکّد او معطوف عليه واقع کيږي لکه ددې دريو وارو مثال په غونډه سره د الله په دې قول کښ دے قال: "اسكن انت و زوجك" دلته "اسكن" کښ ضمير دے منوی لفظ دے نو هغه فاعل هم دے او بيا موکد هم دے انت و رله تاکيد دے او معطوف عليه هم دے "زوجك" پرې عطف شوی دے.

سوال: دا تعريف اوس هم صحيح نه دے څکه چه خارج شو ترې نه محذوف څکه هغه نه حقيقة لفظ دې او نه حکمًا او بيا هم ورته خلق لفظ وائي.

جواب: دلته د تعريف سره يو بل قيد هم شته دے چه هغه "في جميع الاحيان كان او في بعضها"دے يعنې چه دا "ما" يتلفظ عام دے که په ټولو احوالو کښ "ما" يتلفظ وی اوکه په بعض احوالو کښ نو محذوف هم دغه شان دے چه بعض احوالو کښ پرې تلفظ کيدلے شي لکه "واسئل القرية" دلته اصل کښ اهل القرية دے نو دا اهل محذوف دے او دادے تلفظ پرې اوشو.

سوال: داقيد خويه هغه محذوف کښ دے چه په حذف جوازی سره وی اوکوم محذوف چه په حذف وجوبی سره وی ونوپه هغې باندې تلفظ په يوه زمانه کښ هم نه کيږي نو دا ترې نه خارج شو.

جواب: او:اګرچه په محذوف وجوبی باندې تلفظ په يو حال کښ نه شي کيدلے خو دهغې د شان نه داده چه صلاحية د تلفظ لري او دغه شان شارح چه دا قيد ذکر کړو چه "والمحذوف لفظ حقيقة" نو دې سره ئې رد اوکړو په څنې شارحينو باندې څکه چه ابن حاجب صيب په ايضاح کښ داخبره کړې ده چه محذوف او منوی يو شئ دےنو بعض شارحينو دهغه تابعداری کړې ده اوپه دې خبره ئې قول کړی دے نو شارح پرې رد اوکړو.

(الفرق بين المحذوف و المنوى) منوى لفظ دے خو حكما په هيڅ وخت كښ پرى تلفظ نه شى كيدلے او محذوف لفظ دے حقيقة ولى چه په بعضو اوقاتو كښ پرى تلفظ كيدلے شى.

(وكلمات الله تعالى داخلة فيه اذ) الخ خلورمه خبره شروع ده چه تشريح د اصطلاحى تعريف ده بيا دهغى د قيوداتو فوائد بيانيدل د څه قيوداتو فوائد بيان شوى وو لكه "فى جميع الاحيان كان او فى بعضها" ددى قيد فائده دا وه چه تعريف محذوف ته شامل شى، او بيا مونږ اوى چه هغه هم لفظ دے چه تلفظ پرى بالفعل نه كيږى خو صلاحية ددى خبرى لرى چه انسان پرى تلفظ اوكړى په دى سره مونږ محذوف وجوبى په تعريف د لفظ كښ داخل كړو اوس د دې قيد دويمه فائده شارح بيانوى چه هغه دفع د اعتراض ده چه تا تعريف د لفظ اوكړو په "ما يتلفظ به الانسان"سره نو ددى تعريف نه هغه الفاظ خارج شول چه "ما" يتلفظ به الانسان نه دى لكه كلام الله شو ولى چه داما يتلفظ به الله دے نه انسان او هغه هم چه "ما" يتلفظ به الملائكة وى داهم خارج شو لكه دوى ته يو شعر منسوب شوى دے.

إن فى الجنة لنهرا من لبن لعلى و حسين و حسن

دغه شان هغه الفاظ نرى نه هم خارج شول چه "ما" يتلفظ به الجن دى ځكه دا "ما" يتلفظ به الانسان نه دى لكه دے جناتو ته يو شعر منسوب دے چه دوى حضرت سعد بن عبادة قتل كړى وو هغه د مدينه نه مصر ته تلى وو او هلته يو ځنګل كښ بول كول نوپه يو سورى كښ بول او كړل بيا هلته پروت وو وفات شوى خپل ملګرى ورپسې ګرځيدل چه اوليدو ئى نو بوهاتفى اواز ئى واوريدو شو

قتلنا سيد الخضرج سعد ابن عبادة رميناه بسهمين فلم نخطئ الافؤاده

اويارميناه بسهمين فلم نجد له فؤاده، دغه شان يو بل شعر هم دے

قبر حرب بمكان قفر وليس بقرب قبر حرب قبر

اوس دا ټول الفاظ دى او تعريف ورته شامل نه دے.

جواب: علامه سيد سند صيب والى چه دما يتلفظ دپاره دوه معانى دى يو معنى ئى قراءة ده دويمه معنى ئى انشاء ده نوكه اوله معنى مراد شى نو بيا هيڅ اشكال نشته ځكه چه بيا دهر چا كلمات شى خو انسا، پرى قراءة كوى اوكه دويمه معنى شى نو بيا دا اشكال نه.

جواب: دادے چه من شانها ان یتلفظ به الانسان یعني که انسان داسې جوړ وی نو جوړه وی او انسان پری تلفظ کولی شی

(و الدوال الاربع.)غرض د شارح په دی عبارت سره رد کول دی په فاضل هندی صیب باندی سره د فاضل رضی صیب نه او دفع د اعتراض هم کوی.

اعتراض: دادے تعریف د کلمه کښ دامی یو قید پکار دے چه په هغه سره احتراز اوشی د دوال اربعه نه ځکه دی دپاره هم معنی وی او انسان پری تلفظ نه کوی.

تفصیل د دوال اربعه: دا څلور اشیاء دی چه دلالت کوی (۱) خطوط دا جمع د خط ده مراد تری نه نقوش خو چه معنی ورله وی (۲) عقود داجمع د عقد ده د عربو د حساب یوه طریقه ده چه په دی شی لاس باندی تر سلو پوری حساب کوی نو ر بیا په دی پل لاس کوی نو داهم دلالت کوی ددی پوره تفصیل په عقد الانامل نوم کتاب کښ دے (۳) نُصب دا جمع د نَصب ده دا هغه نښو ته وائی چه په دی سرکونوےلارو باندی یو طرفته لګیدلی وی او په مقدار د مسافة وغیره باندی دلالت کوی (٤) اشارات دا جمع د اشارة ده لکه دا نشان د تیر وغیره شول نو ددی اعتراض نه فاضل هندی او رضی دا جواب کړے دے چه دا دوال اربعه په لفظ سره خارج دی ځکه دا الفاظ نه دی نقوش دی ولی چه تلفظ پری نه کیږی.

سوال: دا لفظ خوپه تعریف د کلمه کښ په منزله د جنس دے او په جنس سره خلق اخراج نه کوی بلکه په جنس سره ادخال کیدلے شی اخراج په فصل سره کیږی او دا ځکه چه په تعریف کښ یو جامعیة او بل مانعیة وی نو د جنس کار جامعیة دے او د فصل کار مانعیة دے.

جواب: هر هغه جنس چه دهغی د فصل سره نسبة د عموم خصوص وی نوپه هغی سره اخراج هم جائز دے اوس دلته دا لفظ جنس دے او وضع فصل دے نو ددی دواړو په درمیان کښ عموم خصوص دے په دی شان سره چه دا لفظ عام دے او وضع خاص ده په دی اعتبار سره چه لفظ موضوع او مهمل دواړو ته شامل دے او وضع صرف موضوع ته شامل ده.

او دا لفظ خاص دے او وضع عام په دی اعتبار سره چه دوال اربعه تری نه خارج دی او وضع کښ دوال اربعه داخل دی.

خودا جواب شارح ته پسند نه دے نو رد پری کوی چه دامی قاعده تاسو چه کومه بیان کړه دا موثره نه ده اوریدلی او اصل خبره هم داده چه په جنس سره ادخال او فصل سره اخراج کیږی.

فالجواب الصحيح من الشارح دا دوال اربعه په تعريف كښ داخل نه دى نو اخراج ته ئى څه ضرورت دے څكه مونږ اوئ الكلمة او دا كلمه لفظ دے او دوال اربعه خو الفاظ نه دى.

(۵)(دفع د بعض اعتراضاتو چه واردیږی په دی مقام کښ:)شارح وائی:"وانماقال"غرض د شارح دفع د سوال ده چه داكافيه د ابن حاجب ماخوذ ده د مفصل د زمحشری نه او مفصل ددی دپاره ماخوذ منه دے اوس قانون خو دادے چه ماخوذ مخالف كول د ماخوذ منه خپل نه ناروا دی او دلته ددی قانون خلاف اوشو څكه صاحب د مفصل تعريف د كلمه په دی شان سره كوی چه "الكلمة لفظة دالة على معنى مفرد بالوضع" او ماتن وائی "الكلمة لفظ الخ" نو هلته لفظة او دلته لفظ دے نو شارح جواب كوی حاصل د جواب دادے چه ماخوذ د ماخوذ منه خپل نه مخالف كول په دوه قسمه دی يو بغير د څه نكته او فائده او باعث نه دويم سره د نكته فائده او باعث نه نو اول قسم ناروا دے خو ماكړے نه دے او دويم قسم ماكړے دے خو ناروانه دے جائز دے بيا هغه نكته پكښ داده چه زمحشری صيب په تعريف كښ وحدة قصد كړی دے نو داسی كلمه ورله پكار ده چه په وحدة باندی دلالت اوكړی او هغه هم دا تاء د "لفظة" ده او ابن حاجب وحدة نه دے قصد كړی نو دے اوئ لفظ لكه د تفريع په طور باندی عبد الله په نزد د ابن حاجب كلمة ده او د زمحشری په نزد كلمه نه ده څكه وحدة پكښ نشته دے.

سوال: تاخو مخكښ د شارح په خله باندی وئيلی دی چه "التاء للوحدة" چه د كلمه تاء دپاره د وحدة ده او دلته وائی چه وحدة نه دے مراد اونه دے مقصود.

جواب: د وحدة دپاره ډير اقسام وو هلته هغه وحدة مراد دے كوم چه دلته نفی نه دے نو هلته علاوه د فردی نه مراد دے او دلته دا فردی نفی د ے

سوال : دا خبره پريږده خو بيا هم لفظة وئيل مناسب وو څكه الكلمة مبتداء ده او لفظة ورله خبر دے او په درميان د مبتداء او خبر كښ مطابقة شه دے د عدم مطابقة نه.

جواب: شارح وائی "والمطابقة غير لازمة" يعنی مطابقة لازم نه دے. په درميان د مبتداء او خبر كښ چه مطابقة راځی نو دا مشروط دے په شرائطو سبعو سره.

شرائط سبعه سره د مثال احترازی نه "اول" خبر به مشتق وی كه مشتق نه وو نو مطابقة شرط نه دے لكه "الكلمة لفظ" دويم مبتداء او خبر به دواړه اسمين ظاهرين وی كه نه وو نو مطابقة شرط نه دے لكه هی "اسم و فعل و حرف" "دريم" خبر به حامل وی ضمير د مبتداء لره كه نه وی نو مطابقة شرط نه دے لكه "ماء وجور ممتنع صرفهما" دلته مبتداء

تثنیه ده او خبر مفرد مذکر دے چه ممتنع دے مطابقة پکښ نشته ځکه دا حامل نه دے ضمیر د مبتدا لره بلکه دی دپاره فاعل اسم ظاهر راغلي دي ضمیر مستتر پکښ نشته دے.

"ځلورم" خبر به په داسی وزن باندی نه وی چه شریك وی په مذکر او مونث دواړو کښ که داسی وی نو بیا مطابقة شرط نه دے لکه وزن د فعیل او د فعول شو لکه جریح اوصبور شو "امراة جریح او صبور او رجل جریح او صبور" "پنځم" داخبر به وصف خاص د مونث نه وی که وو نو مطابقة لازم نه دے لکه "امراة حائض" "شپږم" خبر به مشتمل نه وی په تاء د مبالغه باندی که وی نو بیا مطابقة لازم نه دے لکه "زید علامة" "اووم" خبر به اسم تفضیل مستعمل په من سره نه وی که وو نو بیا هم مطابقة شرط نه دے لکه "الصلوة خیر من النوم".

په دی مقام کښ دوه شرطه مفقود دی یو خبر مشتقی نه دے دویم حامل هم نه دے ضمیر د مبتداء لره شارح هم دا وائی "لعدم الاشتقاق" او دا لفظ مختصر هم دے.

سوال: تاخو مخکښ وئیلی دی چه لفظ په معنی د ملفوظ دے نو ملفوظ خو مشتقی دے او ضمیر هم پکښ شته دے.

جواب: داپه خپل حالت نه دے پاتے شوي بلکه نقل شوی دے "ما" یتلفظ به الانسان ته "مع کون اللفظ اخصر" غرض د شارح په دی عبارة سره دفع د سوال ده چه دا شرائط سبعه خودپاره د وجوب د مطابقة دی په درمیان مبتداء او خبر کښ نوچه دا شرائط معدوم وی نو مطابقة لازم نه دے نوکم از کم جائز او بهتر خو دے کنه نو پکار ده چه مطابقة پکښ راشی ولی چه "المطابقة خیر من المخالفة" نو "لفظة" پکار وو.

جواب: شارح وائی چه او مخالفة نه مطابقة بهتر دے خو دلته بیا بل نقصان راځی هغه داچه تطویل فی التعریف لازمیږی په دی شان سره چه وضع به ودضعت وائ "مفرد"به "مفردة" واي او دا تطویل خوناروا دے په تعریفاتو کښ اختصار ښه دے

(وضع الوضع الخ" اجمالی خبرې (۱) ربط (۲) د وضع لغوی تحقیق (۳) د وضع اصطلاحی تعریف (٤) د اصطلاحی تعریف د وضع تحقیق اوتشریح (۵) اقسام د وضع په اعتباراتو مختلفو سره.

ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف دیو جزء د تعریف نه چه لفظ وو نو شروع ئی اوکړه په دویم جزء د تعریف کښ فقال وضع الخ. یا کله چه فارغ شو ماتن د جنس د تعریف نه نو شروع ئی اوکړه په فصل د تعریف کښ

ربط لفظی:دادے چه دا وضع جمله صفة دے دپار د لفظ مرفوع نو دا وضع جمله هم مرفوع ده محلاً ولی چه اعراب د موصوف اعراب د صفة وی.

(لغوی تحقیق:)په دی عنوان کښ دری خبری پیژندل ضروری دی (۱) صیغه نو وضع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول مثال واوی از باب فتح یفتح دے. (۲) لغوی معنی د وضع نهادن دے یعنی کیښودل (۳) وجه د تسمیه داده چه مصطلح وضع ته هم ځکه وضع وائی چه هلته تخصیص د شئ په بل پوری ایښودل هم دی.

اصطلاحی تعریف د وضع: شارح د اکار کړې دے تخصیص شئ الخ.

سوال: دلته شرح د متن مخالف شوه او داناروا ده مخالف داسی شوه چه متن کښ وُضِعَ صیغه د فعل مجهول ده او شرح کښ تعریف د مصدر کوی.

جواب: دا یو قانون دے چه معرفه د مشتق موقوف دے په معرفة د مبدا او مصدر د هغی پوری نو د وضع مجهول دپاره مصدر هم دا الوضع دے نو ځکه ددی تعریف کوی.

بیا شارح په تعریف کښ "اطلق او احس" اوی مثال ددی داسی دے چه زید یو عَلَم دے د خپلی مسمی سره خاص دے نو چه په زید باندی اطلاق اوشی نو ذهن ته دهغه مسمی راځی نو دا زید یو شئ دے او د دی مسمی بل شئ دے. دغه شان د بلب سره رنړا خاص ده نو کله هم چه احساس د بلب اوشی نو ذهن ته رنړا راځی نو دا بلب یو شئ دے او رنړا بل شئ دے.

(تشریح د تعریف اصطلاحی د وضع:)سوال: شارح اوی تخصیص شئ بشئ الخ نو د اول شئ نه مراد لفظ او دویم نه مراد معنی ده نو اوس دلته دا تخصیص د لفظ په معنی پوری مراد دے اوکنه تخصیص د معنی تر لفظ پوری اوکنه د دواړو د طرفنه مراد دے په هر یو باندی اعتراض راځی په دی شان سره چه که تخصیص د لفظ د جانب نه شی معنی پوری نو الفاظ مشترکة خارج شول ځکه مقصد دا شو چه دا لفظ به ددی معنی پوری خاص وی په بله معنی به دلالت نه کوی، اوکه تخصیص د معنی د جانبِ نه شی په لفظ پوری نو بیا الفاظ مترادفه خارج شول ځکه مقصد داشو چه دا معنی به ددی لفظ سره خاص وی اوپه بل لفظ کښ به دا معنی نه شی راتلی اوکه تخصیص دجانبینو نه مراد شی نو بیا الفاظ مشترکه او مترادفه دواړه خارج شول صرف الفاظ متباننة پکښ پاتی شول او دا ځکه چه د تخصیص معنی داده چه "مایو جد فیه ولا یوجد فی غیره" نو چه د لفظ تخصیص اوشی د معنی سره نو مقصد دادے

چه دا لفظ ددې معنی سره خاص دے بل چاته دا لفظ نه دے متجاوز چه مشترك دی شی او چه تخصیص د معنی د لفظ پوری اوشی نو مقصد داچه دا معنی ددی لفظ سره خاص ده بل لفظ په دی معنی دلالت نه کوی چه هغه لفظ دی ددې لفظ سره مرادف شی او دغه شان تخصیص د جانبینو هغه هم دے. دا جواب نه مخکښ لږ تفصیل په الفاظو کښې.

الفاظ په درې قسمه دی یو الفاظ مشترکة دویم الفاظ مترادفه دریم متبائنه.

الفاظ مشترکه هغه دی چه لفظ یو وی او معانی ډیرې لری لکه لفظ د عین شو چه لفظ یو دے خو معانی ورله ډیری دی لکه اوپه معنی د سترګی راځی اوپه معنی د چینه باندی راځی داپه معنی د ذهب "سره زرو" وغیره .

الفاظ مترادفه: هغه دی چه الفاظ ډیر وی او معنی یوه لری لکه اسد او لیث او غضنفر درے الفاظ دی او معنی یوه لری چه زمرې دے.

الفاظ متبائنه هغه دی چه یو لفظ دیوی معنی دپاره وضع وی لکه غرفه وغیره اوس جواب د سوال نه دادے چه دلته تخصیص د جانبینو نه مراد دے خو دلته مونږ د تخصیص په تعریف کښې تجرید د جزء سلبی کوو تجرید مقصد دادے چه دیو لفظ دپاره یوه معنی وی اوته دهغې معنی بعض جزء مراد کړې او بعض جزء پرېږدی او دهغې نه ئې خالی کړی دلته په تعریف د تخصیص کښې دوه اجزاء دی یو جزء ایجابی د "مایو جد فیه" دویم جزء سلبی دے. "ما "لا" یوجد فیه" غیره اوس دلته مونږ دا دویم جزء سلبی نه اخلو اول جزء مراد دے چه هغه "مایوجد فیه" دے نو مقصد دا شو چه زه تخصیص دلفظ کوم د معنی سره فقط تو ددی نه نه یم خبر چه دا لفظ په بل معنی دلالت کوی او کنه کیدے شی کوی او کیدے شی نه کوی دغه شان تخصیص د معنی وایم د لفظ پوری فقط باقی دا معنی دلفظ اخر سره هم ده او که نه نودی نه نه یم خبر کیدے شی چه وی اوکیدےشی چه نه وی (بحیث متی اطلق او احس) .

سوال: دا تعریف د وضع دی په کلمه د تشکیك مشتمل دے چه "او" دے حالانکه تعریف دپاره دتوضیح وی نه دپاره دتشکیک نو دا تعریف دی صحیح نه شو.

جواب: دلته دا او دپاره د تشکیك نه دے بلکه دلته دا او دپاره د تنویع دے د وضع دوو قسمونو ته پکښې اشاره ده یو لفظی دویم غیر لفظی "قیل یخرج عنه وضع الحرف" غرض د شارح په دی عبارت سره یو اعتراض کول دی هغه داچه داتاکوم تعریف اوکړو دا صحیح نه دے ځکه دا جامع نه دے او هر کوم تعریف چه جامع نه وی نو هغه صحیح نه وی دا اوس داسی جامع نه دے چه دی نه وضع د حرف خارج شوه ځکه چه په هغه باندی اطلاق اوشی او بیا هم معنی دهغې فهم ته نه راځی مثلا "من" یو حرف دے معنی ددې ابتداء کول د یو

خالے نه په یو شئ باندی اوس دا معنی ددی په تلفظ د من من سره نه راځی نو چه کله ورسره دوه شیان اولګی نو بیا به معنی ورکړی نو ځاخو په تعریف کښ وئیلی دی چه متی اطلق او دلته خو اطلاق کیږی او بیا هم څه معنی نه ورکوی.

"اجیب بان المراد" غرض د شارح جواب کول دی ددی اعتراض نه حاصل دادے چه زما مراد د اطلاق نه په تعریف کښ اطلاق صحیح دے او اطلاق صحیح هغه تلفظ د من دے سره د ضم د ضمیمه نه او بیا په ضم د بل شئ سره دا معنی ورکوی. بیا شارح دا جواب مصدّر کړو په "اجیب" صیغه د مجهول باندی اشاره ده ضعف ته ځکه چه په تعریف دوضع متی اطلق مطلق دے او مطلق سره قید لګول تقیید د مطلق دے او دا مجاز دے او مجاز ته ذهن سمدست نه ځی نوتعریفاتوکښے نوےځان ساتل پکاردی داهم داسی دے نو دا ضعیف دے. "ولا یبعد ان یقال" غرض د شارح په دی عبارت سره دویم جواب کول دی ددی مذکور اعتراض نه نو حاصل دادے چه داخبره بعیده نه ده چه اوئیلی شی چه مراد د اطلاق نه هغه اطلاق د اهل لسان دے چه هغوکوم استعمالوی اوس هغو چه کوم اطلاق استعمالوی نو هغه په حق د حرف کښ ضم د ضمیمه سره وی. سوال داجواب هم په صیغه د مجهول باندی مصدر دے داهم ضعیف دے څه؟ جواب: دا جواب شارح خپله کړی دے نوپه "لا یبعد سره ئی مصدّر کړو عاجزی کوی .

سوال: څنګه چه په دی مخکښ جواب کښ تقیید د مطلق راتلو نو داسی خوپه د ی جواب کښ هم تقیید د مطلق راځی نو هلته مجازونو دلته هم مجاز دے ذهن ته نه راځی.

جواب: مونږ چه اطلق وئیلی دے نو معهود په دی سره اطلاق داهل لسانو دے او دا اطلاق د اهل اللسان د اطلاق دپاره داسی فرد دے چه ذهن ته سمدست راځی نو داپه دی اعتبار سره مجاز هم نه شو ځکه چه ذهن ته سمدست راځی او مجاز خو ذهن ته سمدست نه راځی په خلاف د قید د صحیح باندی چه اطلاق صحیح داسی فرد وو چه سمدست ذهن ته نه راتلو نو هغه مجاز وو.

(اقسام د وضع په اعتباراتو مختلفو سره): اول تقسیم په وضع کښ په اعتبار د معنی سره د ے اوپه دی اعتبار وضع دوه قسمه ده اول وضع خاص دویم وضع عام .

وضع عام: دا هغه ده چه پکښ لحاظ د مرأتیة د مفهوم کُلّی وی.

وضع خاص دا هغه ده چه پکښ لحاظ د مرأتیة د مفهوم کلی نه وی.

مثال دپاره د وضع عام: هر واحد مذکر اوس ددی لاندی کنز افراد دی کوم چه وی داسی نو دا پری صادق دے مثال ئی نشته ده چه کوم شکل ورته مخامخ شی نو هغه داخلی مثال دپاره د وضع خاص زید دے چه په یوه معنی دلالت کوی.

تقسیم ثانی په وضع کښ په اعتبار د موضوع سره نوپه دی اعتبار هم دوه قسمه ده قسم اول وضع نوعی قسم ثانی وضع شخصی بیا قسم اول چه نوعی دے دا هغه ده چه پکښ عموم وی او قسم ثانی هغه ده چه پکښ خصوص وی.

تنبیه: اول او دویم تقسیم کښ دومره فرق نشته دے بس دومره فرق دے چه تقسیم اول کښ عموم او خصوص په جانب د مفهوم کښ دے او دویم کښ جانب د لفظ کښ دے .

تقسیم ثالث دا تقسیم په اعتبار د موضوع له سره دے نوپه دی اعتبار سره د دی دپاره څلور اقسام دی اول وضع عام موضوع له عام دویم وضع خاص موضوع له خاص دریم وضع عام موضوع له خاص څلورم وضع خاص موضوع له عام امثله دهر واحد دادی مثال د قسم اول وضع د جمع دپاره د ځیلو معانیو لکه "مسلمون" شو وضع او موضوع له دواړه ورله عام دی مثال دپاره د وضع خاص موضوع له خاص لکه "زید" وضع او موضوع له دواړه خاص دی مثال دپاره د وضع عام موضوع له خاص هغه اسماء اشارات او ضمائر دی په نزد د متقدمین باندی.

مثال دپاره دهغه چه وضع خاص وی او موضوع له عام نو دی دپاره علم جنس مثال دے لکه اسامه شو (خادمة الکافیه)فی الهامش عندتفصیل الاعلام به المبنیات.

(څلورم تقسیم په وضع کښ په اعتبار د واضع سره" نوپه دی اعتبار ئی هم څلور اقسام د ی یو لغوی دویم شرعی دریم عرف خاص څلورم عرف عام .مثال دپاره د اول صلوة دے چه مراد تری نه دعاء ده مثال دپاره د دویم صلوة دے دپاره د افعال مخصوصه الخ مثال دپاره د دریم هغه فعل دے چه دپاره د "مادل علی معنی فی نفسه مقترن الخ" مثال دپاره د څلورم دابة ده چه عرف عام کښ ذات قوائم الاربع ته وائی اوپه لغت کښ "ما" یَدبّ علی الارض ته وائی.

(لِمعنًی) دی عبارت کښ هم څو اجمالی خبری دی (۱) ربط (۲) اصطلاحی تعریف د معنی (۳) لغوی تحقیق د معنی (٤) فائده ددی قید په تعریف د کلمه کښ (٥) دفع د بعضو اعتراضاتو په دے مقام کښ چه واردیږی.

ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنّف د دوه جزءونو د تعریف دَ کلمه نه نو شروع ئی اوکړه په دریم جزء د تعریف کښ "فقال لمعنی" یا چه کله فارغ شو مصنف د جنس او دیو فصل د تعریف نه نو شروع ئی اوکړه په دویم فصل د تعریف کښ "فقال لمعنی" ربط لفظی دادے چه لام حرف جار او معنی مجرور جار مجرور د وضع سره متعلّق شو.

تعریف اصطلاحی د معنی: سوال: په نفس الامر کښ خو تحقیق اوّلاً د معنی لغوی وی او بیا د معنی اصطلاحی دلته څنګه د نفس الامر خلاف اوشو؟

جواب: خبره زمونږ په کتاب کښ ده او د کتاب په ترتیب سره لغوی تحقیق روستو دے نو مونږه هم روسته کړو. بیا د معنی اصطلاحی تعریفات دری دی تعریف اول معنی نفس "ما یقصد" ته وائی تعریف ثانی: معنی "ما یقصد من الشئ" ته وائی تعریف ثالث معنی "ما یقصد من اللفظ" ته وائی اوله معنی کښ عموم دے او اخیره کښ خصوص دے او درمیانه درمیانه ده الفرق بین هذه المعانی چه په ذهن کښ څه راشی نو په اول تعریف سره معنی ده اوپه دویم او دریم تعریف سره معنی نه ده او چه دهغی نه په څه شئ سره تعبیر او شی نوپه اول او دویم تعریف معنی ده اوپه دریم تعریف معنی نه ده او چه دهغی نه تعبیر په لفظ سره اوشی نوپه دریو وارو تعریفاتو سره معنی ده او دا ځکه چه هر شئ دپاره وجو دپه دری قسمه دے یو وجود ذهنی دویم خارجی دریم تلفظی (خادمه).

سوال: مصنف دا دویم تعریف ولی مختاره کړی دے؟

جواب: دا درمیانه دے او قانون دادے چه خیر الامور اوسطها.

(تحقیق لغوی د معنی:) دری خبری ضروری دی یو صیغه د معنی دویم معنی لغوی دریم مناسبة.

اول دا صیغه د معنی شارح وائی چه "فهو اما مفعل الخ" دری احتمالات دی پکښ احتمال اول دا صیغه د ظرف ده ،زمان یا مکان احتمال ثانی دا صیغه د مصدر میمی ده احتمال ثالثً دا صیغه د اسم مفعول ده.

په هر یو احتمال باندی قیل او قال دی: سوال: که دا معنی صیغه د ظرف شی زمان یا مکان نو فساد فی المعنی راځی په دی شان سره چه معنی به شی چه دا کلمه یو لفظ دے چه وضع شوی دے دپاره د قصد د مکان او یا زمان اوس دا معنی خو فاسده ده ځکه دا معنی مقصوده نه ده مقصود معنی داده چه کلمه یو لفظ دے چه وضع کړی شوی دے دپاره د قصد دیو شئ نه.

جواب: شارح وائي بمعنی المفعول چه دا ظرف په معنی د مفعول سره دے اوس معنی داشوه چه دا کلمه يو لفظ دے چه وضع کړی شوی دپاره د مقصود من الشئ چه قصدکړے شی ديو شي نه.

سوال: دا "معنی" صيغه د ظرف مکان يا زمان حقيقة دے اوپه معنی د مفعول سره مجاز دے اوس د حقيقة نه چه مجاز ته صيرورت کيږی نو د دوه خبرونه لابدی دی. يوه قرينه دوېمه علاقه نو دلته دا دوه خبرې شته دے؟

جواب: اؤ:دلته قرينه او علاقه شته دے قرينه دلالة د نفس کلام دے چه د کلام معنی فاسديږی که دا موثر په معنی د مفعول ته کر و او علاقه په درميان د ظرف او مفعول کښ د فضلية ده چه دا دواړه فضله (بفتح الفاء) په کلام کښ واقع کيږی.

په احتمال ثانی باندی دا سوال راځی چه که دا صيغه د مصدر ميمی شی نوهم ددی معنی فاسده ده په دی شان سره چه معنی به شی چه يو لفظ دے چه وضع کړې شوی دے دپاره د قصد حالانکه داراسے نه بلکه را وضع شوی رو ړياره دمقصودمن الشئ نه ده.

جواب: شارح هم داخيره کوی چه په معنی د مفعول سره دے نو اوس معنی صحيح ده.

سوال: قرينه او علاقه څه ده؟

جواب: قرينه هم هغه ده چه دلالت د نفس کلام دے او علاقه په درميان د مصدر او اسم مفعول کښد کلية او جزئية ده په دی شان سره چه مصدر جزء دے او اسم مفعول کل ددے څکه اسم المفعول ذات مع الفعل او ذات مع الوصف وی او مصدر صرف وصف دے نو دا وصف دهغی نه جزء دے.

په احتمال ثالث باندی دا سوال دے چه تاسو وائي دا صيغه د اسم مفعول ده نو د اسم مفعول دپاره دوه اوزان دی يو وزن مفعول دے چه د ثلاثی مجردونه وی او دويم په وزن د فعل مضارع مجهول چه د ثلاثی مزيدواو رباعؤ نه وی مزيد يا مجرد لکه داول مثال مضروب، مشروب او منصور شو او مثال د دويم مکرم او مستقبل او مدحرج او متدحرج وغيره شول اوس مونږ چه دی صيغه ته اوګتل چه "معنیٰ" ده نو داخو په يو وزن باندی هم نه ده نه د ثلاثی مجرد په وزن اوته د ثلاثی مزيد او رباعی په وزن دے.

جواب: دا صيغه د اسم مفعول ده او د ثلاثی مجرد نه ده په اصل کښ په وزن د مفعول ده چه (معنوی) ده خوبيايکښ ډير تعليلات شوی دی په دغه وجه سره بيا دا معنوی په صورة د معنی ګرځيدلے دے. (تفصيل په تعليلاتو د معنی کښ بالاطناب). اول تعليل دادے چه په

قانون د قويل و قويلة سره دا واو په يا سره بدل شو او ياء په ياء کښې مدغم شوه نو معنی شو دويم تعليل دادے چه په قانون د مرمی سره ضمه د نون په کسره سره بدله شوه څکه په اخر د اسم متمکن کښې ياء مشدد راغلي نو د معنی نه معنی شو دريم تعليل دادے چه دپاره د تخفيف دايوه ياء حذف شوه نو معنی شو څلورم تعليل دادے چه دپاره د تخفيف د کسره دما قبل دياء په فتحه باندې بدله شوه نو دا معنی شو پنځم تعليل دادے چه په قانون د قال باع سره ياء محرکة "ما" قبل مفتوح په الف بدله شوه نو دا معنان شو. شپږم تعليل پکښې دا دے چه په قانون د التقاء الساکنين سره په درميان د الف او نون کښې التقاء راغله د ساکينينو نو الف مده وو نو هغه تري نه حذف شو نو معنی شو څکه تنوين په نون پسی ملحق شو.

تجزيه. قانون اول او تعليل ثاني او تعليل خامس او تعليل سادس په دی کښې موافق القياس دی او تعليل ثالث او رابع پکښې د الله په قدرت شوی دی.

سوال: ذکر کول د معنی پس د وضع نه مستدرك او بے فائدې دی څکه په تعريف د وضع کښې مونږ اوی تخصيص شئ بشئ الخ نو د شئ اول نه مراد لفظ دے او د شئ ثاني نه مراد معنی ده نو دا معنی په وضع کښې ذکر دے بيا ضرورت نه وو.

جواب: شارح وائی:"ولما کان المعنی الخ" حاصل دادے چه د وضع په تعريف کښې مونږ تجريد کوو په دی شان سره چه دا دويم شئ پکښې نه اخلو.نو ذکر کول ئی مستدرك نه دی.

سوال: چه د وضع د تعريف نه شئ ثاني خارج دے نو صرف تخصيص الشئ په شئ نو ددی شئ نه مراد لفظ دے نو ددی وضع نه مخکښې ذکر کول د لفظ هم مستدرك دی.

جواب: مونږه ددی په حق کښې هم تجريد کوو نو د وضع نه صرف تخصيص اخلو نو معنی به شی چه کلمه هغه لفظ دے چه تخصيص ئی شوی دے دپاره د يوی معنی.

سوال: دې تجريد ته څه ضرورت دے خو صرف وضع دی ذکر شی او "لفظ" او "لمعنی" دی نه ذکر کوی څکه دوضع په تعريف کښې دواړه شته دے نو يو به اختصار حاصل شی دويم اجتناب عن المجاز به راشی څکه عدم تجريد حقيقة دے او تجريد مجاز دے او مقصود به هم حاصل شی نو ملنګه دری ګټې دې اوکړے.

جواب: داسی نشی کيدلے څکه په تعريف کښې لابدی ده د جنس او فصل دوارو نه او دواړه به صراحةً ذکر وی اوس دلته دا "لفظ" جنس او "معنی" فصل دے نو داپه وضع کښې هم ذکر کيدل خو ضمناً اوپه ضمناً باندې کارنه کيدونو صراحةً مو ذکر کړل؛ نو مونږه دا عبارت چه الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد مختار کړو په ځائے د الکلمة وضع مفردا باندی.

(د لمعنى قيد فائده په تعريف د كلمه كښ:)دا فائده شارح بيانوى "فخرج به المهلات" په دى سره يو مهملات خارج شو ځکه هغی لره د سرنه معنی نه وی دويم "والالفاظ الدالة بالطبع" هغه الفاظ چه په طبع دلالت کوی نه په وضع هغه هم خارج دی مثلا اح اح چه د لالت کوی په طبع باندی دا چا وضع کړی نه دی دغه شان تيز والی د نبض شو چه دلالت په تبه (الحمی، بخار) باندی کوی ولی ځکه چه "إذ لم يتعلق بها وضع و تخصيص اصلا" نه ورسره وضع اصلی اونه ورسره وضع تجريدی متعلق ده او اصلا مقصد دادے چه نه ورسره وضع عام متعلق ده اونه وضع خاص و "بقيت حروف الهجاء" ځکه وضع پکښ ده. خويه "معنی" سره خارج دی ځکه شارح وائی: چه "و خرجت بقوله لمعنی" ځکه موثر اوی چه دا الفاظ به دپاره ديوی معنی وضع وی او دا حروف هجاء دپاره د معنی نه دی وضع بلکه دپاره د غرض التركيب وضع دی او داخو معنی نه ده کنه.

سوال: دی غرض التركيب ته دی معنی اوئيلی شی کنه؟

جواب: داسی نه شی کيدلے ځکه معنی هغه وی چه لفظ ذکر شی او هغه تری نه قصد شی او دا غرض التركيب داسی نه دے ځکه چه دا حروف ذکر شی نو دا غرض التركيب تری نه سمدست ذهن ته نه راځی.

دا حروف په دری قسمه دی (۱) حروف هجاء (۲) حروف مبانی (۳) حروف معانی.

حروف هجاء: دا هغه حروف دی چه دا خلق شميری او دا ټول ۲۸ دی ، ا ، ب ، ت، الخ.

حروف مبانی: دا هغه حروف دی چه دی نه کلمات جوړيږی لکه ز ی، د نه زيد

حروف معانی: هغه حروف دی چه دهغی دپاره څه معانی وی او ددې تحقيق او تفصيل په شرح مأة عامل وغيره کښ وی مثلا "من" دپاره پنځه معانی دی .

(دفع د بعض اعتراضاتو چه وارديږی دی مقام کښ:) شارح وائی: "فان قلت قد وضع بعض الالفاظ" غرض د شارح اعتراض کول دی حاصل دادے چه دا تعريف دی جامع نه دے ځکه خارجيږی تری نه هغه کلمه چه د معنی دپاره نه وی وضع شوی بلکه د لفظ دپاره وضع شوی وی مثلا اسم يوه کلمه ده او دا وضع دے دپاره د زيد، عمرو او بکر وغيره دغه شان فعل کلمه ده وضع دے دپاره د ضَرب، سمع او کَرم وغيره دغه شان حرف هم يوه کلمه ده او دا وضع دے دپاره د من، الی او فی وغيره اوس دی اسم، فعل او حرف ته خلق کلمات وائی او دا دپاره د معنی نه دی وضع شوی بلکه دپاره د نورو الفاظو وضع دی "قلنا المعنی "ما يتعلق" غرض د شارح جواب کول دی حاصل دادے چه دا تعريف جامع دے هر قسم کلماتو ته شامل دے ځکه چه معنی هغه ده چه قصد ورسره متعلق شی اوس دی اسم، فعل

او حرف سره قصد متعلق دے کنه څکه دغه تری نه قصد کیږی لکه د اسم نه زید وغیره قصد کیدلے شی.

سوال: تا مخکښ وئیلی وو چه معنی نه مراد "ما" یقصد من الشئ دے اوس دلته نفس قصد اخلی نو دا خو تعارض دے څکه هلته خاص او دلته عام اخلی.

جواب: په القصد کښ الف لام عهدی دے هغه قصد مراد دے نو مال د دواړو یو دے

﴿فان قلت قد وضع بعض الکلمات﴾ غرض د شارح په دی عبارت سره یل سوال دے حاصل دادے چه تعریف د کلمه اوس هم جامع نه دے ولی تا اوی چه دابه وضع وی دیاره د معنی مفرد حالانکه زه درته داسی کلمات ښایم چه دیاره د معنی مفرد به نه وی وضع بلکه دیاره د معنی مرکب به وضع وی لکه جمله شوه چه دیاره د زید قائم وضع ده او دا زید قائم خو معنی ده خو مفرده نه ده او بیا هم دی ته خلق کلمه وائی دغه شان لفظ د خبر شو او قضیه شوه.

جواب: شارح کوی په "قلنا هذه الالفاظ" سره حاصل دادے چه داتا کوم کلمات ذکر کړل نو دی دیاره دوه اعتباره دی یو چه داپه اعتبار د خپلو معانیو سره شی نو بیا خو واقعی دا مرکب دی په دی شان سره چه جزء د لفظ دلالت کوی په جزء د معنی مقصودی سره په دلالت مقصوده باندی لکه زید قائم کښ یو جزء زید دلالت کوی په ذات معین اوبل جزء قائم چه دلالت کوی په من له القیام باندی دویم اعتبار ددي په نسبة سره دي الفاظو ته دے نو بیا دا مرکب نه دی بلکه مفرد دی په دی شان سره چه جزء د لفظ دلالت نه کوی په جزء د معنی باندی لکه جمله لفظ شو اوس په دی کښ دا ج دلالت نه کوی په زید یا قائم باندی دغه شان دانور اجزاء هم دی چه میم دلالت نه کوی په زید یا قائم باندی وغیره نو دلته په دی اعتبار سره د تعریف د کلمه نه خارج نه دی.

سوال: شارح دا اعتراض په دی مقام بیانوی نو داخو مناسب نه دی څکه دا اعتراض په "مُفرَدٌ" لفظ باندی راځی او مفرد لفظ خولا تیر شوي هم نه دے نو شارح څنګه پری اعتراض کوی.

جواب: شارح د دوو وجونه دا اعتراض دلته کوی یوه وجه داده چه ددی اعتراض او ددی مخکښ اعتراض بنیاد یو دے په دی شان سره چه هغه اعتراض کښ هم وضع د الفاظو دیاره د الفاظ مفرده وه او دی کښ وضع د الفاظو دیاره د الفاظو مرکبه ۋ ده دویمه وجه داده چه مقصود د شارح اختصار کول دی حتی الامکان او اجتناب کول دی د تطویل بلا طائل نه نو ددی اعتراض اول نه دوه جوابه دی یو جواب په قلنا هذه الالفاظ سره دے او دویم جواب و قد اجیب عن الاشکالین سره دے. نو دا دویم جواب د دی دویم اعتراض نه هم دے نو دلته

شارح دا دوارړه سوالونه يو ځائے اوګړل او روستو ترې نه يو جواب اوکړو اوس که شارح دا دويم سوال دلته پرېږدی او بيا د قيد د مفرد نه ئې روستو ذکر کوی نو دا دويم جواب به هم ترې نه کېږی نو دا تطويل شو ځکه يو جواب دلته هم اوشو او هلته به هم کېږی نو د اختصار خلاف راتلو.

﴿و قد اجيب عن الاشكالين﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره دويم جواب کول دی حاصل دادے چه وضع په څلور قسمه ده (۱) وضع عام موضوع له خاص (۲) وضع عام موضوع له عام (۳) وضع عام موضوع له خاص (٤) وضع خاص موضوع له خاص مقصد دادے چه لحاظ د مرأتيه د مفهوم کلی پکښ نه وی،

او موضوع له عام مقصد داچه کثير لما هو کثير وی او موضوع له خاص مقصد داچه واحد لما هو واحد وی.

اوس جواب دادے چه الفاظ څومره دی نو دا دپاره د الفاظو نه دی وضع بلکه دا وضع دی دپاره د مفهوم کلی بيا دهغه مفهوم کلی لاندی ګڼر افراد دی.

مثلا اسم يو لفظ دے دا وضع دے دپاره د "مادل علی معنی فی نفسه الخ" دا دوړله مفهوم کلی دے او بيا ددی لاندی ګڼر افراد دی چه زيد عمر او بکر وغيره وی.

داسی فعل هم دے چه وضع نه دے دپاره د الفاظو بلکه دپارد د مفهوم کلی او بيا دهغی لاندی ګڼر افراد دی. دغه شان جمله هم ده چه دا وضع ده دپاره ديو مفهوم کلی چه دا هغی لاندی بيا ګڼر افراد دی حاصل دا شو چه الفاظ نه دپاره د الفاظ مفرده وضع دی او نه دپاره د الفاظ مرکبه چه ګنی ستااعتراض راشی "ولا يخفی عليك ان هٰذ الحکم" غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض کول دی په دې دويم جواب باندی حاصل دادے چه مقصد ددی مخکښ جواب دادے چه هيڅ يو لفظ دپاره د لفظ نه دی وضع شوی بلکه هر يو لفظ دپاره ديو مفهوم کلی وضع شوی دے نو دا قانون ستا منقوض شو په اسماء اشاراتو او ضمائرو باندی ځکه دا الفاظ مستعمليږی په جزئياتو کښ مثلا هذا يو لفظ دے اوس بالفرض ددی مشار اليه زيد دے نو دا زيد خو مفهوم کلی نه دے بلکه داخو لفظ دے نو داخو لفظ دپاره د لفظ وضع دے نه دپاره د مفهوم کلی شارح هم ډاخېره کوی هذا الحکم نه مراد دا قانون دے.

جواب: زموږ قاعده اوس هم برابر ده چه الفاظ ټول وضع دی دپاره د مفهوم کلی او هر چه استعمال د اسماء اشاراتو او ضمائرو دے نوپه دی کښ اختلاف دے د متقدمينو او د متاخرينو متقدمين حضرات وائی چه دا وضع شوی دی دپاره د مفهوم کلی خو په شرط د استعمال په جزئياتو کښ مثلا هٰذ دے نو دا وضع دے دپاره ديو مفهوم کلی چه هغه واحد

مذکر دے لیکن دا استعمالیږی په جزئیاتو کښی چه زید ، عمر او بکر وغیره دی. او دا ځکه چه دا افراد او جزئیات غیر منضبط دی او موضوع له داسې پکار وی چه په ضبط کښې راشی اوپه جزئیاتو کښې دا استعمال ځکه شرط شو چه د مفهوم کلی دپاره وجود خارج کښې په ضمن دافرادو کښی وی هسی نه وی.

او متاخرین حضرات وائی چه دا وضع دی دپاره د جزئیاتو خوپه شرط د مراٰتیة د ده مفهوم کلی. د جزئیاتو دپاره ځکه وضع دی چه د مفهوم کلی دپاره په خارج کښې وجود نشته دے او لحاظ د مراٰتیة د مفهوم کلی پکښې ځکه شرط شو چه دا جزئیات او افراد خو غیر منضبط دی نودپاره د انضباط دا شرط اولګیدو نو حاصل د جواب دا شو چه زمونږ کلام په مذهب د متقدمین بناء دے. او اعتراض په مذهب د متاخرینو وارد دے "نو لنا اعمالنا ولهم اعمالهم".

(مُفردٌ) په دې عنوان کښې اجمالی خبری (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تحقیق (٤) اقسام د مفرد (٥) فائده د قید د مفرد په تعریف د کلمه کښې (٦) دفع د هغه اعتراضاتو چه واردیږی په دې مقام کښې.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف علیه الرحمة د دریو اجزاؤ د تعریف د کلمه نه چه یو لفظ دویم وضع دریم لمعنیٰ نو څلورم جزء د تعریف کښې شروع اوکړو چه مفرد دے فقال: مفردٌ بالفاظ دیګر کله چه فارغ شو مصنف په تعریف د کلمه کښې د جنس او د دوو فصلونو نه نو شروع ئې په دریم فصل کښې اوکړه.

ربط لفظی: په دې مفرد باندې اعرابات ثلاثه دی (۱) رفع (۲) نصب (۳) جر. په دے هر اعراب کښې به شارح پنځه خبری کوی (۱) تعیین د اعراب (۲) علت د اعراب (۳) معنی مطابق داعراب (٤) ذکر د اعتراض په اعراب باندې (٥) دهغی اعتراض نه جواب.

اعراب اول: "أما مجرور" دا تعیین شو (۲) "علی انه صفة لمعنی" د لمعنیٰ دپاره صفة دے او هغه مجرور نو داهم مجرور شو ولی چه صفة د موصوف تابع وی په اعراب کښې (۳) "و معناه" معنی داده چه کلمه یو داسی لفظ دے چه وضع کړې شوې دے دپاره دیو معنی هسی معنی چه مفرده ده یعنی جزء د لفظ ئې په جزء د معنی دلالت نه کوی. (٤) اعتراض "و فیه انه یوهم" حاصل دادے چه دا مفرد صفة د معنی دپاره صحیح نه دے ځکه قانون دادے چه په لفظ کښې اول دلالت وی او بیا وضع وی دیو معنی دپاره او بیا افراد یا ترکیب وی اوس چه دا کله صفة شی دپاره د معنی نو افراد یا ترکیب به اول شی او روستو به وضع د لفظ شی دپاره دیو معنی او داخوناروا ده دقانون خلاف ده او داوهم ځکه راځی چه دلته یو قانون دے هغه داچه کله فعل او شبه فعل تعلق اونیسی دیو شئ سره چه هغه شئ مقید

وی په یو قید سره نو دغه قید به ثابتیږی دپاره د دی شئ مقید مخکښ د تعلق نیولو نه د فعل او شبه فعل ددےشی مقید سره.

مثلا ضربت زیدا قائما دی مثال کښ زید یو شئ دے اومقید دے په قید د قیام سره او ددی تعلق راغلی دے د فعل سره چه ضربت دے اوس دا قید چه قیام دے دابه د دی مقید سره چه زید دے مخکښ ثابت وی د تعلق نیولو د فعل نه چه ضربت دے ددےزیدسره. اوکه داسی نه شی نو بیا به معنی هم فاسده شی. اوس دلته دا وضع یو فعل دے تعلق ئې دیو شئ سره راغلی دے چه "لمعنًى" دے نو "لمعنًى" مقید دے په قید د افراد سره نو دا قید چه افراد دے دابه دپاره د دی مقید چه لمعنًى دے مخکښ ثابت وی د تعلق نه د فعل سره چه وضع دے نو افراد مقدم شو په وضع باندی. (۵) جواب شارح وائی: "فینبغی ان یرتکب" حاصل د جوب دادے چه دلته دا معنی موصوف دے دپاره د مفرد خو دا توصیف په مجاز بالمشارفة سره شوی دے مجاز بالمشارفة مقصد دا دے چه یو شئ لږ وقت بعد موصوف کیږی په یو شئ سره خو دا ددی شئ د راتلو نه مخکښ په دی شئ کښ مراد شی یا تَقَاوُلاً او یا تَیقُّنًا اوس دلته دا لفظ وضع دے دپاره دیو معنی اولا او بیا ثانیا پکښ افراد یا ترکیب راځی خو موثر د وجی د عدم حائل نه په درمیان د معنی او د افراد کښ دهغی د راتلو نه مخکښ موصوف کړو او ثابت موکړو ورله چه دالفظ مفرد دے مثال په محسوساتو کښ دادے چه څنګه یو انسان پیدا شی نو یا هلک یا جینئ وی څه حائل پکښ نه وی واقع دا مثال د عدم حائل شو. او مثال دپاره د توصیف د شئ په یو شئ سره مخکښ د إتیان ددی شئ نه په محسوساتو کښ داسی دے چه یو طالب علم د درجه ثانیه او یا ثالثه موصوف شی په مولوی صاحب باندی. تَقَاوُلاً

سوال دا علوم نقلیه دی دلیل نقلی څه دے؟

جواب: دلیل نقلی دیو فصیح او بلیغ قول دے قالَ: "من قتل قتیلا فله سلبه قتیلا" په معنی د مقتول دے نو چه مقتول وی نو دهغه قتل کول به څنګه متصور شی خودایه اعتبار د "ما" یکون سره دے چه اوس به قتل شی او دا د وجه د تیقن نه دے چه کافر د مسلمان په مقابله کښ قتل دے.

اعراب ثانی (۱) او مرفوع (۲) "علی انه صفة للفظ" نو لفظ مرفوع نو داهم مرفوع (۳) "و معناه حینئذ" چه کله یو لفظ دے چه وضع کړی شوی دے دپاره د یو معنی او هسی لفظ دے چه مفرد دے یعنی جزء د لفظ الخ (۴) اعتراض: من الخارج دا مفرد دپاره د لفظ صفة واقع کول ناروا دی ځکه په درمیان د موصوف او صفة کښ فصل راغلو په وضع لمعنًى سره او داناروا دے.

جواب: دا فصل په دوه قسمه دے يو اقربي سره دويم اجنبي سره نو "ما" ارتکاب د اول قسم کړے دے چه دا ناروا نه دے او دويم قسم که ناروا دے خو مائی ارتکاب نه دے کړی او دابه دی شان سره چه دا وَضعَ صفة اول او دا مُفرَدٌ صفةثاني دپاره د لفظ دي نو موصوف د دواړو يو دے نو اقربي دے نه که اجنبي او خامخواه به يو صفة مقدم کيدلو د اجنبي مثال اختلاط د غير محرم دے ديو زنانه سره او د اقربي مثال ورسره اختلاط د محرم دے. تدبر. اعتراض من الداخل شارح وائي: "ولا بد" حاصل دادے چه کله ديو موصوف دپاره دوه صفة راشي نوپه دی دواړو کښ به موافقة او مطابقة وی اوس دلته دوه صفة راغلي دي خو يو صفة جمله ده او دويم جمله نه ده مطابقة نشته دے. (٥) جواب شارح کوی (وكَأنّ) سره حاصل ئ دادے چه دلته يو صفة جمله ده او بل مفرد دے نو دا ددی دپاره چه داخبره شکاره شي چه لفظ به اول موصوف په وضع وی نو دپاره د اظهار د اولية د وضع په لفظ کښ لابدی وه دهغه صفة نه چه دال على الماضي وی او دانه ده مگر جملهٔ فعلية ماضيه او باقی دويم صفة چه مفرد دے څکه مفرد دے چه په خپل اصالة باقی دے ولي چه اصل په صفة کښ افراد دے. شارح وائی حيث اتى به دا ضمير مجرور راجع دے تقدم دوضع ته.

سوال: شارح جواب په کَأنّ سره ورکړو نو په دی کښ د شك شبه ده نو يقيني خبره ولی نه کوی؟

جواب : دا توجيه د کلام د غير ده اوپه کلام د غير کښ توجيه کول يقيني نه وی.

اعراب ثالث (١) (وأمّا نَصبُهُ)

سوال: شارح د اعراب د نصب ولی روستو کړو

جواب: په دی اعراب د نصب باندی اعتراضات دی کُلّيَّة و جُزئِيَّة اوپه اعراب د رفع او جر باندی صرف اعتراجات وو جزئية نو هغه ئ مقدم او داځ روستوکړو (٢) فعلی انه حال ادا علت دے چه دا حال دے د ضمير د وضع او يا دمعنی نه نو حال منصوب وی نو داهم منصوب شو (٣) معنی دلته شارح نه ده بيان کړی خو معنی داسی ده چه دا کلمه يو لفظ دے چه وضع کړی شوی دے دپاره ديو معنی په حال کون ددي لفظ کښ چه دابه مفرد وی باپه حال کون ددی معنی کښ چه دا معنی به مفرد وی (٤) اعتراض کلی شارح وائی چه "وان لم يساعده رسم الخط" حاصل دادے چه دا مفردا منصوب وئيل صحيح نه دی څکه د منصوب سره په اخر کښ الف ليکلی شی او دلته خو الف نشته دے. جواب حاصل دادے چه داسم منصوب په اخر کښ الف ليکل مشروط دی په شرائط ستة سره.

(تعيين د شرائط ستة سره د مثال احترازی نه) (١) دا نصب به په دی منصوب کښ متعين وی د غير احتمال به نه لری او که احتمال ئ لرو نو بيا به نه شي ليکلي لکه ههنا شو چه د مفرد په

اخر کښې الف نشته دے. (۲) دا منصوب به معرف باللام نه وی که وو نو اخر کښې به الف نشی لیکلی لکه "ضربت الرجل" (۳) دا منصوب به غیر منصرف نه وی که وو نو الف به نشی لیکلی لکه أجبتُ أحمدَ (٤) دا منصوب به مضاف نه وی که وو نو اخر کښې به الف نشی لیکلی لکه "ضربت غلامك" (٥) ددی منصوب په اخر کښې به تاء مدوره نه وی که وه نو بیا به هم الف نه شی لیکلی لکه "ضربتُ إمرأة" (٦) دا منصوب به اسم مقصوره نه وی که وو نو بیا به هم الف نه شی لیکلی لکه "عظمتُ موسی و عیسی". په دی مقام کښې په دی مفردة کښې احتمال دا اعراب اخر شته دے نو نصب متعین نه شو نو الف به هم دے اخر کښې نه شی لیکلی. تدبر

جواب (۲) د اسم منصوب په اخر کښې الف لیکل مذهب د متاخرینو دے په مذهب د متقدمینو کښې الف لیکل نشته دے او ماتن د متقدمینو په مذهب دے.

اعتراض جزی: دا مفردة د معنی نه حال واقع کول صحیح نه دی ولی چه دری نقصانات راځی (۱) کله چه ذو الحال نکره وی نو تقدیم د حال پری واجب دے او دلته خو تقدیم د حال نه دے شوی (۲) حال خو د فاعل او یا د مفعول به وی او دا معنی خو نه فاعل دے او نه مفعول به بلکه شی مجرور دے (۳) عامل د حال او ذو الحال یو وی دلته چه د معنی نه حال شی نو عامل په ذو الحال کښې لام جاره دے او په حال کښې عامل وضع فعل دے نو اتحاد ئ په عامل کښې هم نه راځی.

جواب: (۱) تقدیم د حال په هغه ذو الحال نکره واجب دے چه هغه منصوب وی دلته خو دا مجرور دے نه منصوب نو تقدیم د حال پری هم واجب نه شو اگرچه نکره ده.

(۲) د المعنی په اصل کښې نائب فاعل دے کما قال الشارح: "فانه مفعول به بواسطة" حاصل دادے چه مفعول به په دوه قسمه دے (۱) بلا واسطه (۲) بالواسطه.

نو دلته هم دا دویم قسم دے خوپه واسطه د لام جاره سره. (۳)چه دا مفعول به شو نو عامل په دی کښې هم وضع شو نو اتحاد په عامل کښې راغلو.

(ووجه صحته) غرض د شارح په دی عبارت سره دفع دیو سوال ده چه دا مفردة حال وئیل د وضع نه صحیح نه دی ځکه چه قانون دادے چه په عامل د حال او ذو الحال کښې مقارنة وی او دلته خو مقارنة نشته دے ځکه موثره اوی چه اول په دی لفظ کښې وضع ده او بیا روستو إفراد یا ترکیب دے.

جواب: دلته اگرچه مقارنة بالذات نشته خو مقارنة بالزمان پکښې شته دے په د ی شان سره چه څنګه لفظ وضع شی نو سمدست إفراد یا ترکیب باندی موصوف شی بیا د تقدیم دپاره

پنځه اقسام دی (۱) تقدّم زمانی (۲) تقدّم بالعلة (۳) تقدّم بالوضع (٤) تقدّم بالمرتبة (٥) تقدّم بالشرف.

وجه د حصر: دا مقدم به خالی نه وی یا به د متأخر سره جمع کیږی زماناً او یا نه که نه جمع کیدو نو تقدم زمانی لکه تقدم دآ د م په محمدؐ او که د متاخر سره جمع کیدو نو بیا به خالی نه وی یا به متأخر متقدّم ته محتاج وی یا نه که محتاج ؤ نو بیا به خالی نه وی یا به دا متقدم د متاخر دپاره علة تامة وی یا نه که وی نو تقدم بالعلة لکه حرکة د لاس په حرکت د مفتاح اوکه دا متقدم علة تامه نه وی نو تقدم بالوضع لکه تقدّم د اول په ثانی او که دا متاخر محتاج نه وو متقدم ته نو بیا خالی نه وی یا به دا تقدم او تاخر په ترتیب سره وی او یا نه که ترتیب سره وی نو دا تقدم بالمرتبة لکه تقدم د اول صف په دویم باندی او که دا تقدم تاخر ترتیب سره نه وی نو بیا تقدم بالشرف لکه تقدم د ابو بکر په عمر باندی.

(و قید الافراد) په اجمالي خبرو کښې دیوی خبرې تفصیل شوې دے

(۲)(تحقیق لغوی:) په دی عنوان کښې دری خبرې ضروری دی (۱) صیغه نو مفرد صیغه د واحد مذکر اسم مفعول ثلاثی مزید فیه صحیح از باب افعال (۲) معنی د مفرد یو کړی شوی او خان له کړې شوی (۳) وجه تسمیة داداه چه مصطلح مفردهم جدا کړی شوی وی د اجزاء د معنی نه چه جزء د لفظ ئی په جز د معنی دلالت نه کوی.

(۳)(تعریف اصطلاحی د مفرد:) نو مفرد هغه دے چه جزء د لفظ دهغی دلالت نه کوی په جزء د معنی مقصوده په دلالت مقصوده سره او دی نه مرکب هم معلوم شو چه دا هغه دے چه جزء د لفظ دهغی دلالت کوی په جزء د معنی مقصوده باندی په دلالت مقصوده سره نویه دی سره مفرد ښه واضح شو ځکه دا ضد دے.

وَ نُذَمِّيهِم و بهم عرفنا فضلهم   وبضدها تتبين الاشياء

الكلمة

(۴)(اقسام د مفرد): اقسام د مفرد ټول شپږ دی.

(۱)چه د لفظ دپاره ئی جزء نه وی نو مفرد دے لکه همزه د استفهام (۲) د لفظ دپاره ئی جزء وی خو د معنی دپاره ئی جزء نه وی لکه لفظ د الله شو نو ددی لفظ دپاره اجزاء شته دے خو

چه په کوم ذات دلالت کوی هغه ذات منزه دے د اجزاء نه (۳) د لفظ او معنی دواړو دپاره ئ اجزاء وی خو دا جزء د لفظ دلالت نه کوی په جزء د معنی دهغی لکه زید شو اجزاء ددی لفظ دپاره شته یو "زاء" دویم "یاء" دریم "دال" دے خوپه دی کښ یو هم دلالت نه کوی په معنی د زید باندی او نه په یو جز د اجزاء د معنی باندی او معنی د زید حیوان ناطق مع هذا التشخص ده (٤) د لفظ او معنی دواړو دپاره اجزاء وی او دلالت هم کوی په یوه معنی باندی خو دا معنی مقصوده نه وی لکه عبد الله شو اوس په حین دعلمیت کښے د لفظ دپاره دوه اجزاء دی یو عبد دویم الله او دلالت هم کوی په معنی باندی چه عبد دلالت په عبودیة او الله دلالت په اولوهیة کوی خو دا معنی تری نه مقصوده نه ده بلکه دلته مراد حیوان ناطق مع هذا التشخص دے (۵) د لفظ او معنی دواړو دپاره اجزاء وی او بیا دلالت هم کوی اوپه مقصوده معنی باندی خو دا دلالت ددی لفظ نه مقصود نه وی لکه یو انسان لره حیوان ناطق نوم کیښودلے شی اوس دلته دا حیوان په حوانیة او دا ناطق په نطق دلالت کوی او دا دلالت د اجزاء دے په اجزاء د معنی مقصودی خو دا دلالت مقصود نه ده ځکه دلته مقصود دلالت د تشخص دے.

(۵)(ددی قید فائده په تعریف د کلمه کښ) نو شارح وائی: و قید الإفراد لاخراج الخ فائده نقیی نمفری نه مخکښ په اعتبار د مقدمه سره لږ تفصیل ضروری دے او دا ډیر مفید هم دے نو دلته دری خبری دی.

اوله خبره: د اشیاء په تعریفاتو کښ دوه خبری ضروری دی یو جامعیة دویم مانعیة مقصد د جامعیة دادے چه دا تعریف خپلو ټولو افرادو ته شامل شی او د مانعیة مقصد دادے چه ددی تعریف نه غیر ددی د افرادو چه څومره دی دا خارج شی .

دوېمه خبره: جامعیة دپاره به په تعریف کښ عام الفاظ وی او دپاره د مانعیة به په تعریف کښ خاص الفاظ وی. او د جامعیة الفاظو ته به "مابه الاشتراك" وائی و د مانعیة الفاظو ته به "مابه الامتیاز" وائی او الفاظ د جامعیة به په تعریف کښ اوّل وی او الفاظ د مانعیة به وروسته وی.

درېمه خبره: حقائق د اشیاء په دوه قسمه دی یو حقائق نفس الامری، دویم حقائق جَعْلِیة. حقائق نفس الامریّه هغه دی چه خارج کښ اوپه نفس الامر کښ موجود وی لکه انسان، بقر او اوبه وغیره. او حقائق جعلیه هغه دی چه په نفس الامر او خارج کښ موجود نه وی بلکه په جعل د جاعل سره وی. بیا هر چا پکښ خپله خپله اصطلاح قائم کړی وی مثلاً فعل یو حقیقة جعلیةهر چا ورله خپل خپل تعریف کړی دے لکه مناطقة ورله خپل تعریف کوی او نحاة ورله خپل تعریف کوی نو هر کله چه حقائق نفس الامر یة وی نو په تعریف د هغی کښ به "ما به الاشتراك" ته جنس وئیلی شی او "ما به الامتیاز" ته به فصل وئیلی شی او چه

حقائق جعلیة وی نو هغی کښې به "ما به الاشتراك" نه په منزله د جنس وئیلی شی او "ما به الامتیاز" ته به په منزله د فصل وئیلی شی.

دی مقام کښې الکلمة معرَّف دے او لفظ الخ ورله تعریف دے نو د اللفظ په منزله د جنس دے شامل دے الفاظ موضوعه او مهمله ټولو ته دغه شان مفرداتو او مرکباتو ته او وضع په منزله د فصل دے په دی سره تری نه الفاظ مهمله خارج شول لمعنٰی داپه منزله د فصل ثانی دے هغه الفاظ چه موضوعه دی خودپاره د معنی نه دی نو هغه تری نه په دی قید سره خارج شول لکه حروف هجاء شول. مفرد داپه مزله د فصل ثالث دے په دی سره مرکبات خارج شول کلامیه او غیر کلامیه ناقص او تام ټول ځکه خو شارح وائی: (و قید الإفراد) بیا شارح اوی مطلقًا مراد تری نه ناقص او تام دی (فیخرج به عن حد) غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د سوال دہ چه دا تاکوم تعریف اوکړو د کلمه نو دانه جامع دے او نه مانع نو صحیح نه شو جامع ځکه نه دے چه "الرجل" کلمه دہ او تعریف د کلمه ورته نه دے شامل دغه شان قائمۃٌ او بصریؒ هم دی چه دا دری وارړه کلمات دی او تعریف ورته نه دے شامل دا کلمات ځکه دی چه دا معرب دی په اعراب واحد سره او تعریف ورته داسی شامل نه دے چه په تعریف کښ مونږ اوی چه مفرد به وی او دا خو مفردات نه دی ولی چه جزء ددی دلالت کوی په جزء د معنی باندی په دی شان سره چه په الرجل کښ الف لام دلالت کوی په تعریف باندی او "رجل" په خپل ماهیة دلالت کوی او په قائمۃٌ کښ تاء دلالت په تانیث کوی او قائم په ذات من له القیام باندی او په بصری کښ یاء په نسبة دلالت کوی او بصره په یو ښار باندی نو وحدة د اعراب تقاضا کوی چه کلمات دی او نور خو کلمات نه دی ځکه تعریف پری نه دے صادق او تعریف مانع ځکه نه دے چه "عبد اللّٰه" کلمه نه ده ځکه دا معرب ده په اعرابینو سره او تعریف ورته شامل دے ولی چه دا عَلَم دے مفرد دے جزء د لفظ ئې په جزء د معنی دلالت نه کوی.

جواب: حاصل دادے چه د الرّجل ، قائمۃٌ او بصریؒ د تعریف نه خارج نه دی ځکه دا خه مفردات خو نه دی بلکه مرکبات دی او هر چه اعراب ددی دے نو دا ځکه یو دے چه دی کښ شدة امتزاج او اتصال راغلی دے نو په منزله دیوه کلمة گرځیدلی ده خودی لره څه اعتبار نشته دے او هر چه عبد الله دے نو داپه تعریف کښ داخل نه دے ځکه چه داپه حین د علمیة کښ مفرد دے او هر چه اعراب ددی دے نو دا ځکه دوه دے چه د علمیة نه مخکښ دا دوه کلمی وی روستو بیا عَلَم شو خو مونږ په خپل حال باندی پریښودوو. ځکه په اعلامو کښ وضع سابق معتبر وی ځکه چه اعلام بقدر الامکان د تغییر او تبدیل نه محفوظ وی نوپه وضع سابق کښ عبد الله باندی دوه اعراب وو نو اوس به هم دوه وی. شارح هم داسی وائی: "لکنه یعد" لکن دپاره د استدراک راځی یعنی دفع د وهم کوی چه وهم پیدا وی د

كلام سابق نه دلته هغه وهم دا وو چه دا خو په يو اعراب باندى معرب دي. غرض د شارح په دى عبارة سره اعتراض كول دى په ماتن باندى په دوه طريقو سره او په "مأورده صاحب المفصل" سره ددے په زمخشرى باندى په يوه طريقه باندى رد په ماتن په (ولا يخفى) اوله طريقه ماتن دا الرجل او بصرى او قائمةٌ دا تعريف د كلمة نه خارج كړل خكه چه دوى اصل كښ مركبات دى نو شارح وائ پكار ده چه داپه تعريف د كلمه كښ داخل كړى خكه چه په نحو كښ خو منظور النظر الفاظ دى او د الفاظ په اعتبار دا كلمات مفردات دى.

"رد په ماتن په دويمه طريقه": ماتن دا عبد الله په تعريف د كلمه كښ داخل كړو خكه دا مفرد دے نو شارح وائى دا د تعريف د كلمه نه خارج كول پكار دى خكه چه په لفظ كښ دا مركب دے نو منظور النظر په نحو كښ الفاظ دى.

بيا شارح (لكان انسب) اوى صيغه د اسم تفضيل ئى راوړه اشاره ده جواب ته چه د ماتن په نزد په نحو كښ بحث د الفاظو نه كيږى خو معانى بالكليه نه دى متروك بلكه دا پكښ مراد وى اوس چه الرجل، قائمة او بصرى دى نو اګرچه لفظ كښ مفردات دى خو معنى كښ مركبات دى نو تعريف كښ داخل نه دى او هر چه عبد الله دے نو د ماتن په نزد دا كلمه ده خكه تعريف پرى صادق دے اګرچه منظور النظر په نحو كښ الفاظ دى خو لحاظ د معانيو ورسره هم شته دے اوپه معنى كښ خو عبد الله مفرد دے.

وما أورده دا اعتراض دے په زمخشرى باندى په يوه طريقه ده بيا شارح اول تعريف نقل كوى په اللفظة الدالة سره . دويم تفريع پرى هم كوى په فمثل عبد الله سره دريم ولو لم يخرجه سره اعتراض كوى.

حاصل دادے چه زمخشرى چه كوم تعريف كړے دے نوپه دى سره چه دا عبد الله د تعريف نه خارج دے خكه دا لفظ واحد نه دے او زمخشرى په تعريف كښ وحدة قصد كړے دے نو عبد الله خارج دے هسى هم نو دا خوښه كار شوى دے خو بيا زمخشرى لره پكار ده چه په تعريف كښ قيد د افراد نه وى لګولى خكه په دى سره د تعريف نه الرجل، قائمة او بصرى خارجيږى ولى چه دا اصل كښ مركبات دى نوپه نحو كښ خو منظور النظر بحث دے د الفاظو نه نوپه دى اعتبار سره خو دا كلمات مفردات دى ولى چه په يو اعراب سره معرب دى نو ددى خارج كول د تعريف نه ښه نه دى. حاصل دادے چه د ماتن په نزد د تعريف نه دا الرجل وغيره خارج دى او عبد الله پكښ داخل دے نو شارح وائى چه د الرجل وغيره په تعريف كښ داخلول پكار وو او عبد الله خارجول پكار دى او د زمخشرى صيب په نزد باندى خو عبد الله هسى هم خارج دے خو هغه دا الرجل وغيره د تعريف نه خارج كړى دى نو شارح وائى چه دا پكښ داخلول پكار دى او دا اعتراض صرف په دى بناء دے چه منظور النظر نحو كښ بحث دے د الفاظونه په لما عرفت كښ دى خبرى ته اشاره ده خو دلته شارح بيا

"انسب" صيغه د اسم تفضيل راوړی ده نو اشاره د ﴿ جواب ته نو جواب دادے چه په نحو کښ خو بحث د الفاظو نه فقط نه دے بلکه لحاظ د معانيو پکښ هم دے اويه دی اعتبار سره د الفاظ مرکبات دی او عبد الله اګرچه په دی اعتبار مفرد دے خو زمخشری صيب په تعريف د کلمه کښ وحدة شرط کړے دے لفظ او معنی دواړو کښن او عبد الله کښن لفظا وحدة مفقود دے اګرچه معنی پکښ وحدة شته دے.

(٦)(واعلم ان الوضع يستلزم) غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په دفع د اعتراض باندی نو دا شپږمه خبره شو چه دفع د بعض اعتراضاتو ده .

اعتراض ماتن په دی مقام کښ ماخوذ د ماخوذ منه خپل نه مخالف کړی دے او دا خو جائز نه ده ولی د قانون خلاف شوی دے په دی شان سره چه زمخشری صيب په تعريف د کلمه کښ لفظ د دلالت ذکر کړی دے او دلته خو ماتن نه دے ذکر کړی

جواب: شارح وائی چه ماتن هم دلته لفظ د دلالت ذکر کړے دے په دی شان سره چه ماتن . وضع ذکر کړے دے او وضع دلالت لره مستلزم ده ځکه وَضع خاص او دلالت عام دے او تحقق د خاص مستلزم وی تحقق د عام لره.

سوال: نو زمخشری صيب خو هم وضع ذکر کړی ده او بيا هم دلالت ذکر کوی نو هغه ناروا کړی ده؟ جواب: شارح وائي چه زمخشری اول دلالت ذکر کړے دے او بيا وضع نو دلالت عام دے او وضع خاص او تحقق د عام مستلزم نه دے تحقق د خاص لره نو دهغه دپاره دا ضروری وه چه په دلالت پسی وضع ذکر کړی او ماتن اول وضع ذکر کړی ده او دا خاص ده نو دا ددلالت نه کافی کيږی ځکه دا خاص ده او تحقق د خاص مستلزم وی تحقق د عام لره (لا مكان أن تكون) غرض د شارح په دی عبارت سره دا خبره ښکاره کول دی چه وضع ځنګه خاص ده او دلالت ځنګه عام دے نو حاصل دادے چه دلالت په دری قسمه دے (١) دلالت عقلية (٢) دلالت طبعية (٣) دلالت وضعية نو وضعية پکښ يو دے شايد چه چرته د دلالت نه مراد دا اول دوه قسمه وی نو دا وضع نه شوه کنه مثلا "ديز ديز" چه دا مقلوب د زيد دے نو دی کښ دلالت شته دے ولی چه دا الفاظ ځوك وائی نوداپه لافظ دلالت کوی خو "ولم يوضع" وضع پکښ نشته دے دغه شان "اُح اُح" هم دے چه دلالت پکښ شته دے چه طبع دلالت کوی خو ولم يوضع وضع پکښ نشته دے

﴿وهی إسم و فعل و حرف﴾ اجمالی خبری (١) ربط د ماسبق سره (٢) مقصد د دی عبارت (٣) تشريح د اجزاء.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف دیوې خبرې مقدّمة د کتاب نه نوبه دویمه خبره د مقدمه ئی شروع اوکړه چه هغه ذکر د اقسامو د کلمه دے إجمالا نوبه تعریف سره وجود ذهنی حاصل شو چه دا لحاظ دا ازکیاء شو اوبه دی اقسامو سره وجود خارجی حاصلوی چه دابه لحاظ د غیر ازکیاء شی ولی چه طلباء د علم په دوه قسمه دی یو هغه دی چه هغو په تعریف سره د شئ حقیقة معلوموی او دویم هغه دی چه په تعریف سره د شئ حقیقة نه شی معلومولی بلکه د هغو دپاره ذکر داقسامو او خواصو ضروری وی نو مصنف د دوارو لحاظ او ساتلو فقال: (وهی إسم)ربط لفظی دادے چه واو عاطفه یا استینافیه دے "هی" مبتداء ده او اسم و فعل و حرف ورله خبر دے مبتداء خبر جمله اسمیه معطوفه یا استینافیةده.

(مقصد د عبارت):مقصد د عبارت دادے چه په مفهوم د کلمه کښ تقسیم کول دی درے اقسامو ته اجمالاً اول اسم دویم فعل دریم حرف.

تشریح د اجزاء: ماتن اوی هی شارح وائی ای الکلمة یو خو تعین د مرجع کوی دویم دفع د سوال ده چه دا"هی" ضمیر چاته راجع دے دوه احتماله دی غونډه سره باطل دی یو احتمال دادے چه دا راجع شی لفظ د الکلمه ته نو یو نقصان دادے چه حمل د فعل او حرف په دی کلمة باندی صحیح نه دے خکه دا لفظ د الکلمة اسم دے علامه د اسم پکښ الف لام دے او تاء مدوره ده فعل او حرف نه دے دویم نقصان دادے چه تقسیم د کلمه راځی الی نفسها و إلی غیرها ته اوداناجائز دے اوتقسیم دشئالی نفسه وإلی غیره داسے دے چه تقسیم دکلمة الی الإسم الی نفسها دے او فعل حرف ته إلی غیرهادے. دریم نقصان دادے چه د قانون خلاف اوشو. خکه قانون دادے چه تقسیم په مفهوم کښ کیږی او دلته لفظ کښ اوشو دویم احتمال دادے چه دا ضمیر مفهوم او معنی د کلمة ته راجع شی نو دا دری نقصانات اګرچه نه راځی خوبه درمیان د راجع او د مرجع کښ مطابقة مشروطة نه راځی خکه هی ضمیرد مونث دے او مفهوم د کلمة مذکر دے.

جواب: شارح کړی دے حاصل دادے چه ضمیر لفظ د کلمة ته راجع دے او تقسیم په اعتبار د مفهوم سره دے خکه خو معنی مونږه داسی کوو چه دا کلمه په اعتبار د مفهوم سره اسم الخ بیا ماتن اوی "اسم و فعل و حرف" او شارح وائی: "منقسمة الی هذه الاقسام الثلاثة" مقصد ددی عبارت دوه قسمه دے.

مقصد اول ددی عبارت من خادمة الکافیة: دی عبارت سره غرض د شارح دوه خبری دی یو رد کول دی په فاضل هندی صیب او دویم دفع دیو سوال ده.

دا رد موقوف دے په دی اعتراض باندی نو اعتراض دادے چه په دی ترکیب کښ تاسو عطف مقدم واتی په ربط باندی اوکنه ربط مقدم واتی په عطف باندی مقصد د تقدیم د عطف په ربط باندی دادے چه امور متعدده راواخلی او حکم اخر کښ صادر کړی لکه دا کلمه اسم او فعل او حرف دے نو دا کلمه د "دے" حکم دے اخر کښ مقصد د تقدیم د ربط په عطف باندی دادے چه دا امور متعدده راواخلي اوپه هر واحد باندي جدا جدا او مستقل حکم او شی لکه دا کلمه اسم دے فعل دے حرف دے اوس که دلته عطف مقدم شی نو پنځه اعتراضات راځی (۱) لازمیږی حمل د اشیاء متعدده په شئ واحد او د ناروا ده(۲) د اسم و فعلٌ و حرفٌ دپاره حکم یو دے چه دفع ده. او علت ورله هم یو دے چه خبریت دے نو یو لره اعراب ورکول پکار دی نه تولو لره . (۳) دیو قانون خلاف هم راځئ قانون دادے چه کله ضمیر دائر شی په درمیان د مرجع او خبر کښ نو رعایت د خبر اولی دے د مرجع د رعایة نه ولی چه خبر یو داخلی شئ دے او مرجع خارجی او رعایة د داخلی بنه دے د خارجی نه (٤) دا مقام د حصر دے اداة د حصر پکار دی چه "ماهی الإسم و فعل و حرف" شی (۵) چه عطف مقدم شی نو دا کلمه به هله کلمه ګرځی چه دا دری واړه اسم او فعل او حرف راشی ځکه چه جمع په حرف د جمع سره پشان د جمع ده په لفظ دجمع سره نو کلمه به هله کلمه وی چه "اسم او فعل او حرف" دری واړه شی حالانکه خبره داسی نه ده. اوکه ربط مقدم شی په عطف باندی نو دا اعتراضات مذکوره نه واردیږی خو یو بل اعتراض راځی هغه داچه لازمیږی انحصار د عام په خاص کښ په دی شان سره چه دا کلمه عام ده او اسم خاص دے او قانون دادے چه مسند الیه په مسند کښ منحصر وی. نو داکلمه په اسم کښ منحصر شوه مثلا.ددی اعتراض مذکور نه یو جواب فاضل هندی صیب کړی دے چه د"هی" مبتداء د پاره دا "إسمٌ و فعلٌ و حرفٌ" خبرنه دے بلکه خبر ورله حذف دے چه هغه دادے چه "منقسمة إلى ثلاثة اقسامٍ" او دا اسم او فعلٌ و حرفٌ خبر دمبتاء محذوفی دی ای أحدها إسم و ثانیها فعلٌ و ثالثها حرفٌ خو دا جواب شارح ته پسند نه دے نوپه د ی باندی رد کوی وجه د رد داده چه دلته دوه خایه تطویل راغئ یو داچه هی مبتداء دپاره خبر حذف شو دویم دا چه د إسمٍ و فعلٍ او حرف خبر دپاره مبتدا ګانے حذف دی نو شارح جواب کوی چه دلته زه عطف مقدم کوم په ربط باندی اوکوم اعتراضات چه واردیږی دهغی نه بالترتیب جوابات دادي. (۱) حمل د امور متعدده په شئ واحد ناروا دے خو که داشئ واحد صلاحیة ددی امور متعدده لری نو بیا جائز دے لکه دلته کلمة صلاحیة د اسمٌ فعلٌ او حرفٌ دریو وارو لری (۲) یو لره اعراب نه شم ورکولی چه دانور بلا اعرابه پاتی شی. ځکه ترجیح بلا مرجح به لازم شی او دابه نه ده (۳) دلته رعایة د مرجع ساتلی دے دا ځکه دوی کله کله په غیر اولی عمل کوی دپاره د اظهار د دی خبری چه قانون د اولویت دے د وجوب نه دے چرته ځوك ورته واجب اونه واتی. (٤) دلته اداة د حصر معنی شته دے اګرچه لفظاً نشته دے معنی دادے چه تقدیم د عطف دے په ربط او تقدیم دعطف په ربط داداتودحصر معنوی نه دے. (۵) دا قانون چه جمع په حرف جمع داپه هغه مقام کښ وی چه کوم مقام کښ تقسیم د کل وی

اجزاء ته او دلته خو تقسیم د کلی دے جزئیاتو ته مثلاً زید کل دے لاس، پوزه، غوږ ورله اجزاء دی توجه داتول اجزاء د زید جمع شی نو زید به وی او انسان کلی دے زید، عمرو، بکر وغیره ورله افراد دی نو جمع ددی دریو وارو ضروری نه ده چه دا دری واړه راجمع شی نو انسان به وی او که نه بیا به نه وی مقصد ثانی ددی عبارت من القدماء (کالرضی و العصام) و عبد الغفور و عبد الرحمان دا حضرات وائی چه غرض د شارح په دی عبارت سره دوه خبري دی یو داچه اشاره کوی چه دا تقسیم د کلمه دی اقسام ثلاثه ته تقسیم د کلی دے جزئیاتو ته ځکه شارح منقسمة وئیلی دی او تقسیم په کلی کښ راځی نه په کل کښ.

دویم غرض د شارح په دی عبارت سره تعیین کول دی چه دلته ربط مقدم دے په عطف باندی په دی باندی یو سوال واردوو دهغی نه جواب دادےچه دلته انحصار د عام په خاص کښ نه لازمیږی وجه داده چه هله به انحصار د عام په خاص کښ لازمیدو چه موئږ "الکلمة اسم" وئیلی وی او بیا ساکت شوی وې لیکن دا مقام د تقسیم د کلی دے جزئیاتو ته او دا جزئیات په دی کلی باندی بالترتیب صادقیږی فصل او جداوالی په د ی کښ نه وی نو اوس معنی داده چه دا کلمه اسم دےفعل دے حرف دے. او دا دوی په یوه قاعده باندی بناء کوی.

قاعده داده چه په یو مقام کښ مسند الیه جمع حقیقةً یا حکماًوی او روستو تری متعدد اشیاء واقع وی او دا متعدد اشیاء ددی مسند الیه دپاره مسند وی نوپه دی کښ به عطف مقدم وی په ربط باندی ځکه دلته انقسام د کل وی اجزاء ته اوکوم مقام کښ چه مسند الیه جمع نه وی نه حقیقةً او نه حکمًا نو هلته به ربط مقدم وی په عطف باندی ځکه دی مقام کښ تقسیم د کلی وی جزئیاتوکښ ته. اوس مثال دهر واحد (۱) چه مسند الیه جمع وی حقیقة مائن وائی په ص ۳۷ ، ۲۹ (بناء بر اختلاف النسخ) چه و" انواعه رفع و نصب و جر دی مقام کښ انواع مسند الیه جمع ده او روستو متعدد اشیاء خبر مسند دے دلته به عطف مقدم وی په ربط باندی او معنی به داسی وی چه انواع د اِعراب الاسم رفع، نصب ، جر دی (۲) مثال دپاره د مسند الیه چه جمع وی حکماً "الشئ ماء و حلیب و سکو دلته اوس هم عطف مقدم دے په ربط باندی او معنی ده چه چائے اوبه شوده، چینی ده (۳) مثال دپاره دهغه مسند الیه چه مفرد وی او روستو متعدده اشیاء مسند خبر وی لکه "هی اسم و فعل و حرفٌ" معنی داده چه دا کلمه اسم دے فعل دے حرف دے

(منحصرة فیها لانها اما الخ) اجمالی خبري په دي مقام کښ (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) تشریح د بعض اجزاء د عبارت کوم چه محتاج دی تشریح ته.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د دوو خبرو دمقدمه نه چه تعریف د کلمة او اقسام ثلاثه دهغی وواجمالاً نو شروع ئی اوکړه په دریمه خبره د مقدمه کښ چه وجه

د حصر ده په دی اقسامو کښ فقال:" لانها" ربط لفظی لام جاره او باقی مجرور جار مجرور متعلّق شو د منحصرةٌ مقدر سره بیا منحصرةٌ صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښ فاعل چه راجع دے کلمة ته او بیا اقسام ثلاثه ته. اسم فاعل سره د فاعل او د متعلق خپل نه شبه جمله شوه او بیا دا عطف ده په منقسمة باندی او هغه خبر وو نو داهم خبر شو.

(مقصد د عبارت):مصنّف وجه د حصر ذکر کوی په اقسام ثلاثه ددی کلمه کښ په دی شان سره چه تعریف دهر قسم به تری نه معلوم شی چه دا کلمة به خالی نه وی یا به په معنی مستقله دلالت کوی او یانه که دلالت په معنی مستقله نه کوی نو حرف اوکه کوی نو بیا به خالی نه وی یا به مقترن وی یو د دریو زمانو سره او یانه که وه نو اسم اوکه نه وه نو فعل.

(۳) (تشریح دهغه اجزاء چه محتاج دی تشریح ته):ماتن "لانها" اوں شارح اوی منحصرةٌ په دی عبارت سره د شارح دوه اغراض دی یو تعیین د متعلق کوی دپاره د جار مجرور دویم دفع د سوال ده چه "لانها" سره ماتن دلیل بیانوی او دلیل سبق دعوی غواړی دلته خو دعوی نیشته دے نو دا دلیل بے کاره دے لکه څنګه چه دعوی بلا دلیل باطله وی.

جواب : دا دلیل بلا دعوی نه دے بلکه دلیل مع الدعوی دے خو دعوی دعوی عامه وی که صراحة وی او که ضمنا دلته کښ ضمنا ده ماتن سکوت کړی دے او سکوت په مقام د بیان کښ بیان وی دغه شان ماتن ددی اقسام دپاره د کلمه ذکر کړل او نور ئی ذکر نه کړل نو دی نه انحصار د کلمه معلوم شو نو دعوی ...م دا منحصرةٌ شوه.

او دا اعتراض په یو بل انداز هم کیدلے شی چ "لانها" الخ جار مجرور دے دپاره متعلق والی اوکنه؟ که نه والی نو دا خو نارواه ده څکه هر جا: مجرور لره لابدی وی د متعلق نه اوکه متعلق ورله والی نو دا فعال عامة نه اوکه د افعال حـسه نه که د افعال عامه نه شی نو دا دلیل بلا دعوی ګرځی اوکه دافعال خاصة نه وی نو داخو ډیر زیات دی قرینه څه ده؟ جواب دی لره متعلق وایم او دافعال خاصة نه وایم او قرینه پری هم شته دے هغه داچه دلته مصنف دری اقسام دپاره د کلمة بیان کړل نور ئی بیان نه کړل نو دا دلیل شو چه دلته انحصار ددی کلمه دے په دی دریو اقسامو کښ. "لانها ای الکلمة" غرض د شارح تعیین د مرجع کوی دپاره د ضمیر منصوب "لما کانت" غرض د شارح په د ی عبارت سره دفع دسوال ده چه ماتن دلیل د حصر بیانوی نو دا صحیح نه دے څکه دلیل دعوی سره موافق وی او دلته خو مخالف دے په دی شان سره چه دلیل کښ دلالت شته دے او دعوی کښ نشته دے.

جواب: دا دلیل صحیح دے د دعوی سره موافق هم دے څکه دعوی انحصار د کلمة دے دریو اقسامو ته نو کلمة څه دے خو "لفظ وضع الخ" نو وضع پکښ راغله چه دا مستلزم ده "دلالت" لره نو په دعوی او دلیل دواړو کښ دلالت شته دے خو فرق دومره دے چه دلالت

په دعوی کښې ضمناً دے او دلیل کښې صراحةً دے، سوال دی دلیل ته وجه د حصر وئیل نه دی پکار ځکه دلیل د حصر د اثر بین النفی و الإثبات وی او دلته دا نیشته.

جواب: دا وجه د حصر ده او اثبات او نفی دواړه پکښې شته دے لکه "أن تدل" اثبات دے أولا پکښې نفی ده.

بیا د حصر دپاره څلور اقسام دی (۱) حصر قطعی (۲) حصر عقلی (۳) حصر جعلی (٤) حصر استقرائی بیا ماتن اوئ: "إما أن تدل" او شارح ورسره "هی" اولګو دا ځکه چه شارح مخکښې لما کانت وئیلی وو هغه شرط وو او دا ورله جزاء ده او جزاء جمله وی نو د "إما أن تدل" خو مفرد دے هی سره جمله شوه.

بیا ماتن "أن تدل" اوئ شارح اوئ: "من صفتها" په دی عبارت سره د شارح دوه اغراض دی یو رد په دے بعض شارحینو ددی کتاب دویم دفع دیو سوال ده د سوال کولو نه مخکښې څو مقدمات دی دپاره د تمهید سوال ته.

(۱) لأنّها د "أنّ" حرف مشبه بالفعل دے اسم ورله داها ضمیر دے او باقی ورله خبر

خبر د ان محمول وی په اسم د ان باندی پشان د خبر د مبتداء .(۳) حمل د وصف په ذات باندی ناروا دے لکه زید ضَربٌ شو. (٤) أن چه په فعل مضارع داخل شی نوپه تاویل د مصدر سره وصف ګرځی.

ددی مقدماتو مطابق دی مقام کښې حمل د وصف راځی په ذات باندی او داخو ناروا دے.

جواب: (۱) فاضل هندی او شارح رضی الی چه دلته په جانب د اسم کښې تاویل شوی دے "لإن وصفها إما أن تدل" دی مقام کښې "وصف" هم مصدر وصف دے او روستو خبرهم وصف دے حمل د وصف په وصف جائز دے خو دا جواب صحیح نه دے ځکه چه دی جواب کښې تقدیر قبل الحاجة لازِ میږی ځکه حمل "لا" نه دے شوی او تقدیر راغلو او داخو ناروا دے کنه او بل نقصان پکښې دادے چه مقصود په دی عبارت سره تقسیم بالذات ګول دی په کلمة کښې اوپه دے تقدیر سره په تقسیم بالذات په حال او وصف کښې شی او کلمة کښې به بالتبع شی.

دویم جواب رضی او هندی دا کوی چه دلته په جانب د خبر کښې لفظ د ذات مقدر دے "ای ذات أن تدل" نو اوس داخبر ذات شو نو حمل د ذات په ذات راغئ او داجائز دے دا جواب هم صحیح نه دے ځکه دی کښې اجتماع د متنافینو راځی چه أن او ذات دی ،

صاحب غایة التحقیق ورله سره د هندی نه دا دریم جواب عونډهٖ سره کوی چه ان تدل خبر په تاویل د دلالت سره مؤوّل دے په دالّةٌ اسم فاعل سره " لانها اما دالّةٌ او دالة اسم فاعل ذات

مع الوصف دے نو حمل صحیح دے خو دا جواب هم صحیح نه دے ځکه یدے کښ مجاز در مجاز دے په دی شان سره چه ان تدل په تاویل د دلالة یو مجاز او بیا اسم فاعل کرځول بل مجاز دے.

نو هر کله چه داجوابات شارح ته پسند نه وو نو خپل جواب، کوی چه دلته "من صفتها" مقدر دے (ای لأنها إما من صفتها أن تدلّ) بیا من صفتها په اعتبار د متعلق سره خبر او "أن تدل" په تاویل د مصدر سره مبتداء شوه نو مبتداء او خبر جمله اسمیه خبر دیاره د اسم د أنّ او معنی داده چه بے شك دا کلمه چه ده نو یابه صفة ددی کلمه نه دلالت کول وی په معنی باندی الخ .

سوال: دا ترکیب هم نارواد ے ځکه دی کښ حمل د وصفینو راغلو. نو داځو هغه مثال شو چه (د باران نه پتیدم پرنالے لاندی می شپه شوله. دا "لا" ځنګه حکومت دے چه اندر شیر پکښ کریه شوله.)

په دی شان سره چه من صفها یو وصف او أن تدل بتاویل المصدر بل وصف او دا دواړه حمل دی په اسم د ان باندی.

جواب: دا مجموعة جمله ده اوپه جمله کښ حمل نه وی ځکه دی کښ نسبة وی او هغه نسبة إباء او انکار کوی د حمل نه په غیر باندی نو جمله کښ لابدی وی د عائد نه او عائد پکښ شته دے بیا ماتن ویٔ چه "فی نفسها" او شارح اوی: "کائن فی نفسها" په دی عبارت سره هم د شارح دوه اغراض دی یو تعیین د متعلق کوی دیاره د جار مجرور۔ دویم رد کوی په فاضل هندی چه هغه وائی دا جار مجرور تدلّ سره متعلق دے ځکه چه کله یو ظرف دائر شی په درمیان د لغوه او مستقر کښ نو لغوه کرځول بهتر دی د مستقر نه ځکه مستقر کښ تقدیروی چه خلاف الاصل دے .

فائده: ظرف لغو هغه دے چه متعلق مذکور وی که دا جار مجرور هر څه واقع وی نو دغه متعلق په واقع کیږی لکه صفة وی یا حال وغیره تودابه په اعتبادمتعلق وی .او ظرف مستقر هغه دے چه متعلّق ئی مقدر وی او دی ظرف د هغی په ځائے قرار نیولے وی هر څه به پخپله واقع کیږی. د فاضل هندی په دی ترکیب دا سوال راځی چه د تدلّ په صله کښ فی نه راځی بلکه "باء" یا "علی" راځی جواب: دا فی په معنی د باء سره دے ځکه حروف جاره د یو بل په ځائے راځی کثیراً خو داهم په تعریف کښ مجاز دے او تعریف کښ د مجاز نه ځان ساتلی شی.

سوال: دا تقدیر د "من صفتها" هم مجاز دے په تعریف کښ ؟

جواب: مجاز دوه قسمه دے (۱) کثیر شائع او زائع (۲) نادر غیر شائع زائع دلته دااول قسم دے اودا جائز دے.

سوال: داخو دلیل د حصر دے تعریف نه دے چه مجاز دی پکښ ناروا شی؟

جواب: تعریف دهر واحد تری نه معلومیږی کنه بیا شارح دا متعلق "کائن" مجرور اوی دا رد دے په بعض نورو شارحینو چه هغو "کائنا" منصوب بناء بر حال متعلق گرځولے دے چه دا حال دے د معنی او یاء د ضمیر نه چه راجع دے کلمة ته نو معنی داده چه په حال کون ددی کلمه کښ چه کائن به وی په نفس ددی کلمة کښ او یا ددی معنی کښ نو شارح صیب په هغو باندی هم رد راتاوکړو چه کائنا منصوب وئیل صحیح نه دی بناء بر حالیة بلکه دایه کائن مجرور وی بناء بر صفة دپاره د معنی نو معنی مجرور نوداهم مجرورشو دا حال شی ده معنی یاد ضمیر د تدل نه نو بیا به لازم شی نقصان په دی شان سره چه د فی نفسها به قید شی دپاره ددلالت نو بیابه موټر معنی کوو په اسم او فعل کښ چه دایه دلالت کوی په خپله معنی باندی په حال کون ددی معنی کښ یاپه حال کون ددغه کلمه چه مستقله وی، خوچه کله په حرف کښ معنی کوو نو داسی به وی چه دلالت نه کوی په معنی مستقله باندی حالانکه دلالت د حرف په معنی باندی په دی کښ څه نقصان نشته بلکه نقصان د خارجی امور و د وجی نه دے نو حاصل به داوی په دی ترکیب سره چه دا معنی د اسم او فعل دپاره چه وضع شوی ده نویکښ څه نقصان نشته دے او چه د حرف دپاره وضع شوی ده نویکښ نقصان دے حالانکه داخبره مکمل فاسده ده نو دا "کائن" متعلّق به مجرور وی او صفة به وی دپاره د معنی نو معنی به شی چه داسی معنی چه کائنه ده په نفس خپل کښ چه عبارت دے د استقلال نه اوس که په حرف کښ داسی شی نو صحیح ده چه حرف دلالت نه کوی په معنی مستقله باندی

تشریح د اجزاء شروع ده ماتن اوی "فی نفسها" شارح وائی: (ای فی نفس الکلمة) یو غرض د شارح په دی عبارة سره تعیین د مرجع کوی دپاره دهاء ضمیر

سوال: شارح چه تعیین د مرجع کوی نو صرف الکلمه به ئی وتیلی وی نفس ولی معاد کوی؟

جواب: دا نفس مضاف او الکلمة مضاف الیه دے او ذکر د مضاف الیه علاوه د مضاف نه په کلام د عربو کښ مستکره دی.

سوال: نو دا حرف جار فی ولی معاد کوی؟

جواب: دا فی جار دے او نفس الکلمة مجرور دے نو څنګه چه ذکر د مضاف الیه علاوه د مضاف نه مستکره دی داسی ذکر د مجرور علاوه د جار نه هم مستکره دی.

سوال: مدخول د فی ظرف وی دپاره د "ما" قبل اوس دلته نفس د کلمه ظرف شو دپاره د معنی نو ظرف خو یازمان وی او یامکان اودا نفس د کلمه خونه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان دے دپاره د معنی؟

جواب: ظرف په دوه قسمه دے (۱) ظرف حقیقی چه عبارت دے د مکان او زمان نه (۲) ظرف تشبیهی چه دا عبارة دے د اوصافو دیو شئ نه لکه "زید فی علم" نو دا علم د زید دپاره صفة دے او دی ته ظرف تشبیهی وائی ځکه چه دا د ظرف حقیقی سره مشابهة ساتی په استقرار اوپه اشتمال کښ اوپه عدم احتیاج کښ نو

څنګه چه په ظرف حقیقی کښ دا مظروف مستقر وی په خپل ظرف کښ او دا ظرف مشتمل وی په مظروف باندی نو دغه شان دلته هم دا معنی په دی کلمة کښ مستقر او دا کلمه په دی معنی مشتمل ده "والمراد یکون المعنی"...غرض د شارح په دی عبارت سره د "دلالت فی نفسها" مقصد ذکر کوی نو وای مراد په کید لو د معنی په نفس دکلمه کښ ان تدل علیه چی دلالت اوکړی دا کلمه په دی معنی باندی بنفسها په خپله بغیر د څه حاجت نه ضم کولو د بلی کلمه ته "إلیها" په طرف ددی کلمه "لاستقلاله بالمفهومیة" د وجی د استقلال د دی معنی نه په اعتبار د معلومیدو سره. حاصل مقصد د مصنف دادے چه دا عبارت دے د استقلال بالمفهومیة نه دا ایجابی وو اوس جزء سلبی ذکر کوی نو وی "أو "لا" تدل" نو ماتن وئیلی چی "اولا" نو شارح وائی "او من صفتها أن "لا" تدل" غرض د شارح دادے چه اشاره ده چه دا اولا عطف دے په تدل باندی نو ځکه شارح اوی چی "اومن صفتها" ځکه چه "ما" قبل د معطوف علیه معاد وی په معطوف کښ نو شارح وائی: "لا تدل" غرض د شارح په دی عبارة سره یو د "لا" معنی کول دی دویم غرض دفع د سوال نو. سوال دادے چه دلته یو دلالت دے چه مقید دے په قید د فی نفسها باندی نو د اولاد مطلب دا شو چی نه به دلالت وی او نه به فی نفسها وی یعنی نفی د قید او مقید دواړو ده نو داخو د مهمل تعریف دے او روستو ورله ته مصداق حرف ذکر کوی حالانکه حرف خو د لفظ موضوعه نه یو قسم دے نو شارح جواب اوکړو چی "أن "لا" تدل" حاصل ئی دادے چه دلته مونږ نفی د قید کوونه مقید او دا قانون دے چه کله یو شئ مقید شی په یو قید او نفی ورته متوجه شی نو کله نفی دا دواړو کوی او کله نفی د مقیدکوی د قید نه کوی او کله نفی د قید کوی مقید نه او اکثرهم داسی وی چه نفی د قید کوی مقید په خپل حال پریږدی (تلخیص المفتاح) دلته نفی د قید ده قرینه پری هم داده چی که دواړه قید او مقید نفی شئ نو روستو مثال د حرف صحیح نه دے په دی خبری سره سوال دفع شو چه تقریر ئی دادے چه دلته ته ولی خاص صورة اخلی عام ولی نه اخلی چه مذکور نفی شی نو خاص اخستل خو څه مجاز دے نو قرینه درسره پری څه ده . نو جواب اوشو چی قرینه پری مثال داولا حرف دی.

بیا شارح وائی: "و سیجئ ذلك" نو سوال داخو حواله مجهوله ده .

جواب: "فی بیان حد الاسم" سوال دا خو د آینده زمانه خبری دی ددی څه پته نه لګی نو

جواب: ان شاء الله دنیا په امید خوړی شی دی کښې مونږ ته یو فائده هم اوشوه چې اننده کار سره به ان شاء الله وایو "الثانی الحرف" شارح وائی: چې "القسم" نو الثانی صفة وږ شارح ورله موصوف متعین کړو چې القسم دے دویم غرض د شارح په دی سره دفع د اعتراض ده چه د الثانی صفة دے د "الکلمة" او هغه مونث او "الثانی" خو مذکر دے نو مطابقة نشته شارح جواب اوکړو چې دا صفة دے دپاره د القسم مذکر نو دی ځائے نه یو څو سوالات مخی ته راغلل (۱) تعریف د الثانی (۲) مصداق د الثانی (۳) مثال د الثانی (٤) تطبیق د مثال د ممثل سره په الثانی کښې او (٥) وجه د تسمیے د الثانی په الحرف سره.

جوابات بالترتیب (۱) وهو "ما" "لا" یدل (۲) الحرف (۳) من والی (٤) تطبیق د مثال نو فإنّهما یحتاجان سره دے په دی شان سره چه من معنی ده ابتداء جزی یعنی شروع کول د یو ځائے نه په یو شئ باندی نو دوه شیان غواړی مبتدا منه، مبتداء به او د الی معنی ده انتهاء جزی یعنی ختمیدل دیو ځائے په یو شئ باندےنو داهم دوه شیان غواړی منتهی منتهی به اوس که څوک من من وائی یا "الی الی" وائی نو دا معنی چه ابتداء جزی او انتها ء جزی ده دا ذهن ته نه راځی تر څو پوری چې دهر یو سره ده دوه شیان نه وی ذکر کړی لکه دلته مثال کښې دے "سرتُ مِنَ البصرة إلی الکوفة" نو دلته من راغلی دے خو مخکښې تری نه مبتداء به دے چی سیر دے او رووستو تری مبتداءمنه ده چه البصرة ده دغه شان الی هم راغلی دے نو اول تریٔ نه منتهی به دے چی سیر دے او روستو تری نه منتهی ده چه الکوفة ده نو ددی دوو دوو شیانو د ضم کولو نه علاوه د حرف چی "من" او "إلی" دے معنی ذهن ته نه راځی او په إسم فعل کښې داسی نه وی بلکه د ضم کولو د غیر نه هم معنی ذهن ته راځی لکه "الاکل الشرب" او "اکلت او شربت" وغیرها من الامثله" معنی اسانه ده. بیا مونږ اوئ چه مراد د ابتداء نه ابتداء جزی ده او د انتهاء نه هم انتهاء جزی نویه دی سره سوال دفع شو سوال ابتداء او انتهاء خو مصادر دی او داچې ذکر شی نو شروع کول او ختمول ئی معنی ده او داخو ذهن ته راځی نو مونږ جواب اوکړو چه مراد ابتداء جزی او انتهاء جزی ده او مصادرپه معنی کلی سره دی(٥) شارح وائی و "انما سمی" حرف ته ځکه حرف وائی چه داپه معنی د طرف سره دے لکه.

جلست حرف الوادی و قال تعالی حکایة عن الکسالی

"ومن الناس من یعبد الله علی حرف" یعنی په طرف طرف باندی او مصطلح حرف هم په یو طرف کښې وی . سوال زه به درته او شایم چه په طرف کښې به نه وی لکه "زید فی الدار".

جواب: "ای جانب مقابل" حاصل ئی دادے چه زما مراد جانب مقابل د اسم او فعل دے اسم او فعل په یو جانب کښې دی او حرف په بل جانب کښې. سوال چې اسم او فعل مستقل دی او حرف غیر مستقل دے نو غیر مستقل څنګه په مقابله د مستقل کښې واقع کیږی .

جواب: "حیث یقعان عمدة" یعنی زما جګړه نه ده مراد بلکه اسم او فعل عمدة فی الکلام راځی او حرف غیر عمدة او بیا وائی "وستعرف" ته به ئی او پیژنی او داخبره چې حرف هدو څه کارنه کوی نه بلکه د حرف ډیر فوائد دی هیڅ کلام د حرف نه علاوه نه تمام کیږی کما قال صاحب هدایة النحو "و للحرف فی کلام العرب فوائد" لکه ربط د اسمینو لکه "زید فی الدار" دغه شان د فعل او اسم لکه "نظرت فی الکتاب" او د فعل او حرف درمیان کښې لکه عجبت من ان تضرب او دوه جملې هم مربوط کوی په دی مقام کښې په ترتیب د وجه حصر باندی یو سوال دے چه تا کله کلمه تقسیم اقسام ثلاثو ته کولو نو اول دی اسم ذکر کړو او بیا فعل او بیا حرف اوپه دلیل د حصر کښې دی الحرف د تولو ده اول کړو او بیا دی وریسی اسم او بیا فعل نو داخو یوقسم مخالفة د تفصیل شو د اجمال نه نو جواب: دادے چه د حرف معنی طرف ده نو هلته اخر طرف کښې دلته اول طرف کښې چې دا طرف طرف بنه واضح شی . (۲) هلته مویه اخر کښې ذکر کړو او دلته مویه اول کښې ذکر کړو دپاره ددی چې د دلیل د حصر د خپلی دعوی سره حتی الامکان قربة حاصل شی. او هغه هم په دی صورة ذکر کولو سره حاصلیدو دی نه علاوه نه تدبر. (۳) تعریف د حرف عدمی دے او تعریف د اسم اوفعل وجودی دے اوپه ممکناتو کښې عدم مخکښې وی په وجودی باندی طبعا نو وضعا ئی هم په تعریف کښې مخکښې کړو چې موافقة د وضعی ډ طبعی سره راشی اوپه اقسامو کښې ئی روستو ذکر کړی وو اشاره وه دی خبری ته چې مرتبه ئی روستو ده.

﴿و القسم الاول وهو "ما" یدل علی معنی فی نفسها اما من وصفتها﴾ تشریح: د اجزاء و شروع ده نو ماتن اوی چه الاوّل شارح ورله یو موصوف متعیّن کوی چه "القسم" دے او دویم دفع د وهم ده چه چا به وهم کولوچه "الاوّل" صفة دے دپاره د "الکلمة" نو هغه خو مونث او دا صفة مذکر نو مطابقة پکښې نشته نو شارح دا وهم دفع کړو چې دا صفة د "الکلمة" نه دے بلکه "القسم" دے بیا شارح اوی چه "ما یدل علی معنی" نو ماتن "الاوّل" وئیلی وونو شارح به یو د "الاوّل" تعریف کوی او دویم تعیین کوی او مثال نو تعریف خو دادے چه "ما یدل علی معنی الخ" او تعیین داسی ئی چه أولیّة دوه قسمه راځی حقیقی او اضافی اولیة اضافی هغه دے چه هغه دویم وی په نسبة سره دریم ته یعنی په دویم باندی کله کله اطلاق د اول کیږی په نسبة سره دریم ته نو شارح تعین اوکړو چې دلته اولیة نه حقیقی مراد دے چه "ما یدل علی معنی فی نفسها" دے. "إما من صفتها أن یقترن"

دی قول کښې هم هغه تراکیب دی چه په مخکښې کښې وو. په "یقترن"باندی اعتراض راځی چه د "یقترن" ضمیر ته څه ته راجع کوی یا خو لفظ د "الاول" ته نو دا صحیح نه دے ځکه چی "الاول" لفظ دے او اقتران صفة د لفظ نه دے بلکه د معنی دے اوکه معنی ته ئی راجع کوی نو دوه نقصانات راځی (۱) اضمار قبل الذکر راځی "معنی" مخکښې نه ده ذکر (۲) او لازمیږی خالی والی د خبر جملة د عائد د مبتداء نه ځکه چی خبر جمله وی نو عائد پکښې د مبتداء دپاره ضروری وی "و سیاتی ان شاء الله تفصیله" اوس دلته "الاول" مبتداء ده او ضمیر خو تا معنی ته راجع کړو نو "الاول" مبتداء خالی پاتی شوه. نو شارح جواب کوی "ذلك المعنی" سره حاصل ئی دادے چه زه ضمیر راجع کومه معنی ته او د اول اعتراض نه دا جواب دے چه اضمار قبل الذکر نشته ځکه چی مرجع که صریحی نه ده ذکر خو ضمناً ذکر ده او مرجع خو عام ده که صریحی وی یا حکمی یا ضمنی وی دلته ضمنی په دی شان سره ده چی المعنی المدلول علیه یعنی دا لفظ اول پری دلالت کوی او هغه مدلول ده. او دویم اعترض نه جواب دادے چه دلته ضمیر د اول ته راجع شو نو دا دال ته هم راجع شو چه هغه الاول دے نو عائد د مبتداء راځی خالی والے خبر جمله د عائد د مبتداء نه رانغئ.

سوال: چی یقترن کښې دی ضمیر راجع کړو معنی ته نو ذالك ولی ذکر کوی بس ان یقترن المعنی المدلول و وایه کنه.

جواب: ذلك شارح دوه جوابونه ذکر کړی دے یو ذلك دپاره د محسوس او معلوم راځی نو شارح د مرجع هم محسوس او معلوم کړه په اظهر طریقه سره دویم ښکته دوه معاناگانے ذکر وی یو معنی مستقل او دا بعیده ده او دویم معنی غیر مستتقل او دا قریبه وه نو شارح ذلك راوړو او دا دپاره د بعید راځی نو شارح اشاره اوکړه چی هغه بعیده معنی چه مستقل ده هغه مرا ده.

سوال: کله چی د ذلك سره تعین د معنی اوشو نو بیا شارح ولی وائی چه "المعنی المدلول علیه بنفسها" جواب دا دپاره د تعیین د مقصد چی معنی مستقل مراده ده ځکه چی اسماء اشارات دیو بل په معنی راځی نو هسی نه چی څوك ئی معنی قریب ته راجع کړی او هغه مقصود نه ده ځکه غیر مستقل ده او زمونږ مراد خو معنی مستقل ده.

سوال: دلته چه د فعل تعریف کوې په یقترن سره نو دا صحیح نه دے ځکه مانع نه دے دا خلیږی پکښې مصادر چی داهم مقترن دی د زمانې سره ځکه هر مصدر لکه ضَربٌ یا نَصرٌ نو دا په یو زمانه کښې موجود شوی وی کنه نو شارح جواب کوی چی "فی الفهم" حاصل ئی دادے چه زما مقصد دادے چه دا معنی تری نه فهم کیږی او مصادر خو د زمانې سره په اعتبار د وجو د سره مقترن دی زمانه تری نه فهم کیږی

سوال: تعریف اوس هم مانع نه دے اسماء مشتقات پکښ داخل شول لکه "زید ضارب امس" دلته ضارب اسم فاعل دے او مقترن د زمانی سره دے اوپه اعتبار د فهم سره ددی لفظ نه دے او دا خو اسم دے نو شارح جواب کوی چی "عنها" چی ددی لفظ نه په فهم کیږی او دلته اقتران د زمانی "ضَارِبٌ" اسم مشتق نه نه فهم کیږی بلکه د "امس" نه فهم کیږی.

"باحد الازمنة الثلاثة" په یو د دریو زمانو سره .

سوال: تعریف د فعل مانع نه دے داخل شو پکښ "غبوق" چی د بیګا وخت شرابو څکلوته وائی او "صبوح" چی د سحر وخت شرابوڅکلو ته وائی نو داسحر او بیګاهم زمانه ده نو شارح جواب کوی چی زما مراد د دریو زمانو نه مخصوص زمانی دی چه "اعنی الماضی و الحال و الاستقبال" دی او سحر او بیګا خو عام دی. شارح وائی "حین یفهم ذلك المعنی"......دی سره غرض دفع د اعتراض ده اعتراض دادے چی تعریف د فعل مانع نه دے داخل شو پکښ لفظ د "الماضی"، "الحال"، "الاستقبال" ځکه ددی الفاظو نه زمانی معلومیږی په اعتبار د فهم سره او دا خو افعال نه دی بلکه اسماء دی شارح جواب کوی چی "حین یفهم" په هغه وخت کښ چی فهم کیدے په شی دا معنی د دی کلمه نه نو فهم کیدلے شی یو د ازمنو ثلاثو هم ددی سره مقارن او یو ځائے.

داشوه ترجمه د عبارت.

اوس مقصد د عبارة دادے چه دا زمانه او معنی به ددی لفظ نه په یو اعتبار سره نه فهم کیږی بلکه معنی به د لفظ نه فهم کیږی په ځان له اعتبار سره چی ماده ده او زمانه په ځان له اعتبار سره چی هغه هیئة دے. مثال نَصَرَ نو دا نون صاد او راء په معنی دلالت کوی چه داماده ده او زمانه تری نه په اعتبار د هیئة سره چی هغه ترتیب د دی حروفو دے او د دریو وارو حروفو فتحه ده. نوکه دا هیئة ختم شی نو دے نه زمانه نه معلومیږی نو دال بالمعنی ماده ده او دال بالزمان هیئة دے. اوس دلته په "الماضی" "الحال" "الاستقبال" کښ دا زمانه او معنی په یو اعتبار سره فهم کیږی ځان ځان لره اعتبارسره نه بلکه دا زمانه د دی معنی نه جزیء دے نو دلته زمانه په اعبار د هیئة سره نه ده فه ځکه خو چی ددی په ځائے مونږ القاض الهادی، الباری راوړو نو هغه په زمانو باندی دلالت نه کوی او هیئة ددی او د الماضی خو یو دے. نو معلومه شوه چه په الماضی کښ دال بالحدث و الزمان شئ واحد دے دلته یاسولی والا وائی چی دلته دفع د سوال ده.

سوال: داسې دے چې ته ددی لفظ نه معنی او زمانه دواړه معلوموی نو داخو لازم شو توجه د ذهن په ان واحده کښې شیئنو ته او ذهن بسیط دے په یو وخت کښې دوو شیانو ته توجه نشي کولی. نو شارح جواب اوکړو چې دا معنی به مراد وی قصدًا او زمانه به ورسره مقارن وی یعنی بغیر د قصد نه.

سوال: تا چې کوم تعریف اوکړو نو دی نه فعل مضارع خارج شوه ځکه تا اوې چه یو زمانې سره به مقترن وی او فعل مضارع خو د دوو زمانو سره مقترن وی چه حال او استقبال دے.

جواب: (۱) فعل مضارع کښې حقیقةً یو زمانه ده او دا بله زمانه پکښې مجازًا راغلی ده. دا یته نه لګی چه کومه حقیقی ده اوکومه مجازی خو زمانه حقیقةً یوه ده. (۲) کله چې په یوه زمانه دلالت کوی او هغه فعل وی نوکوم چې په دوو زمانو دلالت کوی نو هغه خوبه په طریقه اولی فعل وی ځکه د دوو په ضمن کښې یو وی دلته یو بل اعتراض دے تقریر ئې داسې دے چې تاسو اوی چې دا قسم اول دلالت کوی په معنی مستقله باندې نو د معنی نه تاسو معنی مطابقی اخلئ تضمنی او التزامی؟ که معنی مطابقی اخلئ نو بیا خو د اسم معنی مطابقی چې ده نو دا مستقله ده خو د فعل معنی مطابقی خو غیر مستقل ده ځکه د فعل معنی مطابقی دری اشیاء دی (۱) نسبة چې دا غیر مستقل دے (۲) زمان (۳) حدث نو دا دوه مستقل او یو غیر مستقل دے او مرکب د مستقل او غیر مستقل نه ، غیر مستقل وی دویم په فعل کښې زمانه شته دے نو بیا لازمیږی اقتران د زمانی په زمانی پسی ځکه تا یقترن وئیلی دے اوکه د معنی نه ته معنی تضمنی اخلې نو د فعل معنی تضمنی کښې به یا زمانه اخلې نو لازمیږی اقتران د زمانې د زمانې سره او یا به نسبة اخلی او دا خو غیر مستقل دے. او یا به حدث اخلی نو دا مستقل ده خو دا اخستل ترجیح بلامرجح ده اوکه التزامی معنی اخلی نودایه تعریفا تو کښې مهجور ده.

جواب: زما مراد د معنی مستقلی نه مطلق معنی ده.

سوال: دا مطلق معنی به ته پایه ضمن د مطابقی کښې اخلې یا تضمنی کښې یا التزامی کښې ځکه مطلق لره وجود نه وی مګر په ضمن د افرادو کښې نو هغه اعتراضات بیا راغلل چې کوم په هر واحدو.

جواب: دا مطلق معنی په اسم کښې په ضمن د مطابقی کښې اخلم او په فعل کښې په ضمن د تضمنی کښې او تضمن نه حدث اخلم او د اعتراض نه دا جواب دے چې مرجح شته دے چې هغه عدم صحت ددغه دوو معانیو دے.

(القسم الثانی) دلته هم زوړ امام او زړی تراویح دی. خو دلته یو تعریف د الثانی دویم تعیین د الثانی دریم وجه تسمیې پکار ده او څلورم امثله نو "هو" "ما" "بدل" سره تعریف دے.

"الاسم" سره تعيين دے "وهو ماخوذ" سره وجه دتسميے ده په دې كښ اختلاف دے عند البصريين و الكوفين بصريين وائي چې اسم د سمّو مثلث الفاء نه ماخوذ دے واو حذف شو خلاف القياس للتخفيف او د سين حركت مو ميم لره وركړو چې وقف پرې صحيح شي. او اول كښې همزه وصلى د ې راوړه چې ابتداء بالساكن رانشي نو فصار اسمًا او دايه معنى د عُلّو يعنې اوچتوالې سره راځي او داهم په خپلو اخوينو چې "حرف او فعل" ددے اوچت دے ځكه د اسم نه يواځې كلام جوړيږي چې يو مسند شي او بل مسند اليه او د حرف نه او د

فعل نه يواځې كلام نه جوړيږي. "و قيل من الوسم" كوفين وائي چه دا وسم نه ماخوذ دے په معنى د علامې سره نو دوسم نه واو حذف شو او دهغه عوض كښې همزه راغئ او اسم ورته ځكه وائي چه داهم په خپله مسمى باندې علامه وي.

سوال: فعل او حرف ته هم اسم او وايه ځكه داهم علامې دي په خپله خپله مسمى باندې.

جواب: په وجوه د تسميو كښې جامعيت مانعيت شرط نه دے.

سوال: دا مذهب ئې په قيل صيغه د تضعيف سره ولې مصّدّر كړو.

جواب: دې كښې ضعف د مذهب ته اشاره ده. (۱)يوه وجه خو داده چې په دې مذهب اعتراض راځي اگرچې جواب ترې نه كيدے شي خو هغه مذهب چې اعتراض پرې نه راځي اد اولې وي دهغه مذهب نه چې اعتراض پرې راځي اگركه جواب ترې نه كيدے شي (۲)دوېمه وجه داده چې د سمو نه چه ماخوذ كيدلو نور علامات هم شته دے يو داچې دا اسم د باب تفعيل نه ماضي جو ړيږي نو سمّي يسمّى تسمية راځي يعنې ناقص راځي چې سمو دے نه ده مثال واوي نه چې وسم دے. ځكه بيا وسّم يوسم توسيما پكار وو دويم ددې جمع هم اسماء يعنې ناقصو نه راځي اوكه مثال وي نو بيا خوئې جمع اوسام پكار وه او جمع كښې شئ خپل اصل ته رد كيږي امثله ئې كثير دي. زيد ، خالد، بكر، وغيره ترجمه هم اوشوه.

والقسم الاول: دلته هم يو تعريف د الاول، دويم تعين د الاول، دريم وجه تسميه ځلورم امثله نو تعريف ئې مايدل سره دے تعين ئې دادے چې الفعل وجه تسميه سمّي به حاصل ئې دادے چه فعل په لغت كښې حدث ته وائي يعنې كار كول او دا د فعل اصطلاحي نه يو جزء دے نو دې ته تسمية د كل وائي باسم الجزءالقوي وائي چې دا قوي دے مستقل دے او نسبة، زمان غير مستقل دي ځكه چې فعل كله منسلخ عن الزمان وي يا دا فعل اصطلاحي مشتمل دے چه حدث مشتمل باندې نو دا تسمية المشتمل باسم المشتمَل ده. يا دا فعل اصطلاحي دالّ دے په دې حدث مدلول باندې نو دا تسمية الدال باسم المدلول شوه.

سوال: مصدر خو په فَعل بفتح الفاء سره راځي فعل بکسر الفاء خو اسم مصدر دے دا مصدر نه دے نو چې کوم مصدر دے هغه دلته مراد نه دے او چې کوم مصدر نه دے نو هغه مراد دے.

جواب: ځکه چې په فتحه د فاءسره مستعمل فی کلامهم دے دغه شان په کسره د فاء سره هم دے په کلام د فصیح کښې راغلے دے قال تعالیٰ فعل الخیرات و اقام الصلوة و ایتاء الزکوة نو دلته د ایتاء مصدر عطف په "ما" قبل اوشونو هغه "ما" قبل هم مصدر دے چې فعل دے دومره فرق دے چې بفتح الفاء والا مشهور دے او بکسر الفاء والا غیر مشهور دے داسې نه چې نشته او موجود نه دے.

امثله : دی دپاره امثله ډیر زیات دی لکه ضارب، یضارب، مضاربة فهو مضارب و ضورب یضارب مضاربة فذاك مضارب لم یضارب الخ

و قد علم بذلك حد کل واحد منها دلته اجمالي خبرې (۱) ربط د "ما" سبق سره (۲) مقصد ددی عبارة (۳) د اجزاء و تشریح (٤) د مجموعه تشریح (٥) دفع د بعض اعتراضاتو چې واردیږی په دی مقام کښې. اوس دهر یو مطابق تفصیل بالترتیب.

ربط: ربط معنوی خو دادے چه کله مصنف علیه الرحمة د دریو خبرو نه فارغ شو چې تعریف د کلمے او اقسام ثلاثه دکلمے اجمالا او وجه د حصر په دی اقسامو کښې نو اوس تنبیه ورکوی په دغه وجه د حصر باندی چه دا خالص وجه د حصر نه ده بلکه د دی نه داقسام ثلاثه د کلمے دهر واحد تعریف تری نه هم معلومیږی په دی شان چې مصنف رحمه الله او ی اما ان تدل اولا الثانی الحرف نو تعریف د حرف معلوم شو چې دلالت نه کوی په معنی مستقله باندی او بیا ئی اوی "والاول اماان یقترن "......الثانی الاسم" نو یعنی هغه کلمه چې دلالت په معنی مستقله کوی او ورسره مقترن باحد الازمنة نه وی نو دا اسم دے والاول الفعل یعنی د دلالت سره چې مقترن بالزمان وی نو دا فعل دے.

ربط لفظی: یعنی ترکیب نو څلور احتمالات دی په دی جمله کښې په دی شان سره چې دا واو یا عاطفه دے او یا حالیه دے او یا استینافیه دے او یا اعتراضیه دے. په دی شان سره چې عاطفه شی نو معطوف علیه مقدر دے چه انحصرت الکلمة فی ثلاثة اقسام و قد علم نو دا معطوف معطوف علیه دی یا معطوف علیه علم انحصار الکلمة فی ثلاثة اقسام و قد علم په دی صورة کښې دا واو حالیه هم صحیح کیږی ځکه حال کښې اقتران شرط وی نو دلته په علم د انحصار او علم د حد دهر واحد کښې اقتران شته دے په خلاف د اول صورة کښې چې هلته په عامل د حال او ذو الحال کښې اقتران نشته دے اوکه واو استینافیه شی نودابه په جواب د سوال د سائل کښې واقع شی سائل سوال اوکړو چې هذا المذکور هو انحصار الکلمة

فی ثلاثة اقسام فما حد کل واحد منها فاجاب بقوله و قد علم بذلك...یا واو اعتراضیه دے نو دا جمله معترضه ده واقع ده تنبیها للمخاطب و الطلب چی دا وجه د حصر خالص وجه حصر نه ده بلکه دهر واحد د اقسامو ثلاثو تعریف تری نه هم معلومیږی.

سوال: جمله معترضه خو هغه وی چه راوړی شی په درمیان د کلامینو متلازمینو کښی لغرض من الاغراض لکه قال ابو حنیفة رحمه الله النیة لیست بشرط فی الوضوء دلته دا دوه جملی دی یو بل سره لازمی دی ځکه قول مقوله دی او درمیان کښی جمله معترضه ده دپاره د غرض د دعاء امام اعظم ته او دلته خو دا جمله په اخر کښی راغلی ده درمیان کښی نه ده .

جواب: عمدة په دی فن کښی زمخشری ، صاحب الکشاف و المفصل دے او دهغه مسلك دے چی ځنګه جمله معترضه په درمیان کښی راځی نو اخر کښی هم راتلے شی (و استدل بقوله أنا سیدولد ادم ولا فخر) دلته ولا فخر جمله معترضه اخر کښی ده. او دا حدیث امام مسلم رحمة الله علیه ذکر کړے دے.

مقصد د عبارة: مقصد عبارة ترغیب ورکول دی طلباء ددی کتاب ته چی دا خامخا یا ده کړئ چه فائده پوره پوره درکړی دا اخوا دیخوا وجه د حصر نه ده.یعنی بیکاره نه ده.

(د اجزاؤ تشریح):اول د عبارت تجزیه کو بیا تشریح نو دلته اووه/۷ الفاظ دی و ، قد، علم، باء، ذلك ، حد کل واحد ، منها، څه تشریح به شارح کوی او څه به مونږ کوو نو دواو تشریح خو اوشوه دویم قد دے نو دا کله په ماضی راځی او کله په مضارع راځی چی په ماضی داخل شی نو یو د تحقیق دپاره وی لکه قد افلح المؤمنون او کله دپاره د تقریب الی الحال لکه "زید قد ضرب" او چی په مضارع داخل شی نو کله تقلیل راولی لکه "ان الکذوب قد یصدق" او کله تحقیق لکه "قد یعلم الله" دلته په ماضی داخل شوی ده دپاره د تحقیق دریم عُلم داپه معنی د پوهی سره راځی .

سوال: ماتن لره پکار وه چی عُرِف ئی وئیلی وی ځکه چی مخکښی تعریفات ذکر شول نو دا عرف دهغی مادی نه دے چه په هغے ئے دلالت کړی وی.

جواب: دایو قانون دے چی د عُلم ذکر په کلیاتو کښی کیږی او د عُرف ذکر په ادرکاتو جزئیو کښی کیږی او دلته دا تعریفات دی او دا تعریفات کلیات وی نو عُلم ورسره مناسب دے ځلورم لفظ"با"نو بذلك جار مجرور ظرف لغو دے متعلق دے د عُلم سره.

سوال: چی دا بذلك متعلق شو عُلم سره نو دا عُلم خو دوه مفعوله غواړی هغه کوم کوم دی.

جواب: بذلك كښ "باء للتعدية ده نو دايو مفعول شو او "حد كل واحد" دويم مفعول شو .

سوال: عُلم خو متعدى دوو مفعولينو ته بنفسه گرځى نه په حرف جر سره .

جواب: دا باء د تقويةّ د عمل دپاره ده نه دلكه تعدية .

سوال: عُلم فعل دے او دا فعل په عمل كښ قوى دے تقويةّ ته ئى ضرورت نشته تقوية خو په شبه فعل كښ وى ځكه شبه فعل د وجې د مشابهة نه عمل كوى. نو صحيح خبره داده چه دا جار مجرور متعلق دى د عُلم سره او د عُلم دپاره دا "حد كل واحد" قائم مقام د مفعولينو دے په دى شان سره چې دا عبارة اصل كښ داسې وو چې "و قد علم بذلك أن الاسم كذا و الفعل كذا وكذا الحرف كذا" او دا قانون دے چې د عُلم نه روستو ان راشي نو دا يو مفعول قائم مقام گرځى د دوو نه (شرح مائة عامل) بيا دا كلام اوږد وو نو داسې تعبير ترې نه په مختصر الفاظو اوشو. دا تشريح د باء وه پنځم لفظ ذلك دے دا د اسماء اشاراتو نه دے.

سوال: په دى سره خو اشاره موجود فى الخارج او محسوس بالبصر ته كيږى او وجه حصر خو امر معنوى دے څه وجود ورله نشته دے.

جواب: دا قاعده اكثريّه ده نه كليّه موجود فى الخارج دوه قسمه دے. (۱) حقيقةً (۲) ادعاءً دلته داوجه الحصرموجود ده گويا چې په سترگو ښكاره ده.

سوال: د ذلك دپاره شارح "وجه الحصر" مشار اليه گرځولى ده اى بوجه الحصر نو دى سره خو اشاره كيږى بعيد ته او وجه د حصر خو قريب ده.

جواب: (۱) او دا دپاره د بعيد راځى خو دلته بُعد رتبى ته اشاره ده مرتبه ئى اوچته ده نو نازل ئى كړو په بُعد مكانى باندى "ومنه قوله تعالى ذلك الكتاب".

(۲)ذلك دپاره مشار اليه وجه حصر ده خو دا وجه د حصر په اعتبار د ابتداء سره بعيد ده اگرچې په اعتبار د انتهاء سره قريبه ده (۳) دا تقسيم په اسماء اشاراتو بعيد او متوسط او قريب ته مذهب دنور نحاتو دے او دا د ماتن مذهب نه دے ص ۲۲۵ يا ۲۱۳ كښ وائى "و يقال ذا للقريب و ذلك" نو دائى په "يقال" سره ذكر كړو چې زما دا خوښه نه ده خو داسې وئيلى شى. نو دلته ئى ذلك راوړو چې دا ديو بل په معنى باندى راځى نو دلته دپاره د قريب ده. شپږم حد كل واحد نو دا حد تشريح شرح كښ شته دے. كل واحد ددى تشريح داسې ده چې دلته د حد اضافة شوى دے د "واحد" ته نو په دى څه سوالات دى.

سوال: د كل اضافة واحد ته دے نو لفظى اضافة خونه دے صحيح ځكه هلته اضافة د صفة وى معمول ته او كل خو صفة نه دے او معنوى هم نه دے صحيح په دى شان سره چى دهغى درى اقسام دى او ټول صحيح نه دى اول لاميه دے نو دانه دے صحيح ځكه هغى كښ په درميان د مضاف او مضاف اليه كښ مغائرة وى او دلته مغائرة نشته په دى شان سره چى كل دپاره د إحاطے د افرادو راځى نويه واحد باندى احاطه كړى ده نو مغائرة نشته په دويم اضافة لامى كښ اظهار د لام هم كيدے شى او دلته اظهار د لام نشى كيدے ځكه دا اكل د لازم الاضافة نه دے د اضافة نه نه منقطع كيږى. او اضافة بيا هم نه دے صحيح ځكه داپه هغه ځائے كښ راځى چى د مضاف مضاف اليه په مينځ كښ عموم خصوص من وجه وى او دلته دا نشته علاوه "لا" دا وايو چى مضاف اليه په مضاف باندى حمل وى په اضافة بيانيه كښ او دلته داهم نشته ځكه "لا يجوز ان يقال: الكل واحد". اضافة ظرفيه هم نه دے صحيح ځكه هلته مضاف اليه ظرف وى د مضاف دپاره او دلته خو "واحد" نه ظرف زمان دے او نه ظرف مكان .

جواب: د "كُلِّ"اضافة "واحِدٍ" ته اضافة معنوى دے اوپه هغى كښ بيا لاميه دے او جواب د اول اعتراض نه دادے چى د "اكل" مؤول دے په "افراد" سره "اى افراد واحد" نو د افراد او واحد درميان كښ مغائرة شته دے. او دويم نه جواب دادے چى افراد لازم الاضافة نه دے نو لام هم ښكاره كيدے شى علاوه "لا" دا وايو چى شارح روستو وائى چى دلام معنى اختصاص ده نو چى معنى د اختصاص وى نوكه اظهار د لام هم اونه شى بياهم صحيح ده او دلته اختصاص د "افراد"و د "واحد" سره شته دے. اخيرى لفظ "منها" دے چى دا ضمير چاته راجع دے نو شارح وائى "اى من تلك الاقسام" بيا لفظ د حد دے شارح صيب روستو كړى دے نويه صفحه اتيه كښ وائى ...."المراد من الحد" نو دى كښ اول مونږ وايو چى "حد" په لغة كښ منع ته وائى اوپه اصطلاح كښ تعريف د شئ په ذاتياتو سره ذاتيات د شئ هغه وى چى داشئ ترى نه جوړ وى او انفكاكے ترى نه كيږى. او بل ر سم د ے هغه علامة ته وائى لغةً او اصطلاحا تعريف د شئ په عوارضو سره او د عوارضو انفكاك د شئ نه كيدے شى اوس دلته دا اعتراض راځى چى تا اوى حد دهر يو ترى نه معلوم شو نو حد خويه ذاتياتو سره وى او ذاتيات موجود وى او دلته خويه دى وجه دحصر كښ دموجودات سره معدومات هم دى "اولا" چى تا وئيلى دے نو بيا ورته حد څنګه وائى نو شارح دهغى جواب كوى "ليس المراد" سره حاصل ئى دادے چه دا اعتراض به تا هله كولى چى زما مراد د اصطلاح نه د مناطقو وى او زما خو مراد اصطلاح د عربو ده او داهل العرب په نزد "حد" تعريف جامع مانع ته وائى كه په ذاتياتو سره وى او كه په غير د ذاتياتو سره وى. (۲) عدم دوه قسمه دے (۱) عدم محض

(۲) عدم مضاف نو عدم محض ذاتی نه واقع کیږی خو عدم مضاف ذاتی واقع کیدلے شی دلته هم دا دویم دے په د ی شان سره چی د"لا" اضافة تدل ته شوی دے نو بیا خو دا ذاتی شو.

(تشریح د مجموعه:) ماتن اوی چی حد دهر یو معلوم شو نو طبعًا دا سوال راځی چی تعریف کښ خو جنس وی فصل وی دا څنګه معلوم شو شارح دغه خدمت کوی چی "و ذلك لانه قد علم ...فالکلمة" شارح تعین کوی حاصل دادے چه دا کلمه په منزله د جنس ده او استقلال په منزله د فصل دے د حرف نه داسم او فعل دپاره ځکه حرف کښ استقلال نه وی او عدم استقلال په منزله د فصل دی د اسم او فعل دپاره د حرف نه او اقتران په منزله د فصل دے د اسم نه د فعل دپاره او عدم اقتران په منزله د فصل دے د فعل نه د اسم دپاره .

(دفع د بعض اعتراضاتو:)اعتراض د ماتن صاحب ګله ګله په دی متن کښ اختصار کوی انتهائی او کله پکښ تطویل کوی لکه دلته ده تطویل کړی دے په دی شان سره چی په وجه د حصر کښ تعریف دهر واحد کوی اشارةً او بیا "قد علم" سره په دویم ځل تنبیهًا او روستو وائی "الاسم "ما" دل" نو هلته تصریحًا نو دا خو متن دے دومره تطویل ولی کوی. نو شارح جواب کوی چی ولله دَرِّ المصنف او خاص د الله دپاره دی خیر کثیر وی د مصنف "حیث اشار" حاصل ئی دادے چه لحاظ د طلباء ئی کړی دے بعض ذکیان طالبان وی نو د شئ حقیقة د وجه دحصر نه معلوموی نو هغو لره وجه حصر راوړه بعض متوسط وی نو هغو د شئ حقیقة په تنبیه معلوموی نو هغو دپاره تنبیه په "قد علم" سره ذکرکړو او بعض طالبان غبیان وی چی د تصریح نه علاوه شئ نه پیژنی نو هغو دپاره "الاسم کذا و الفعل کذا الخ"ذکرکړو سوال تا اوی در المصنف نو در خو شو دو (حلیب) ته وائی نو د مصنف د څه شوده دی ؟

جواب: دا در عبارت دے د خیر کثیر نه او د دی شان نزول به روستو په منصوباتو کښ د حال په بحث کښ راشی. ان شاء الله

(الکلام "ما" تضمن کلمتین بالاسناد) دلته په دی عنوان کښ څو اجمالی خبری دی (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) د اصطلاحی تعریف د اجزاؤ تشریح (۵) تشریح د مجموعه . تفصیل بالترتیب.

(ربط): معنوی دادے چی مصنف د یو جزء د موضوع نه فارغ شو نو شروع ئی اوکړه په دویم جزء د موضوع کښ نو "فقال الکلام" یا په مقدمه کښ پنځه خبری وی نو چی کله د دریو خبرونه چی "تعریف الکلمة، اقسامها إجمالا دلیل الحصر فیها" وی نو دی نه چه

فارغ شو نو شروع يې اوکړه په څلورمه خبره کښې چې تعريف د کلام دے او بيا روستو ورله اقسام ذکر کوی.

(ربط لفظی): دادے چه الکلام مبتداء ده او باقی مانده چې "ما" تضمن داخبر دے مبتدا خبر جمله خبريه اسميه شوه. سوال د الکلام ئې په عطف سره ولې نه ذکر کوو چې په الکلمة باندې ئې عطف کړی وی.

جواب: که په عطف سره ئې ذکر کړی وی نو چابه داوهم کوو چې اصل موضوع د علم النحو الکلمة ده او الکلام ئې تابع دے ځکه چې معطوف د معطوف عليه تابع وی اګرچې دا تابعية په اعراب کښې وی خو سادګانو به دا وهم کړی وو چې دا تابعية به په اصلية او فرعية کښې وی ځکه عطف نه کړو (۲) يا دا کلام په منزله د باب او د فصل دے او باب او فصل څوک په عطف سره نه ذکر کوی.

(لغوی تحقيق):دلته به د دريو خبرو اهتمام کوو (۱) صيغه (۲) معنی (۳) وجه تسميه.

دا صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه يکلم تکليما و کلاما معنی لغوی ئې "ما يتکلم به قليلا کان او کثيرا مرکبا کان او مفردا حقيقة کان اوحکما موضوعا کان او مهملا" ده دی نه داخبره معلومه شوه چه معنی لغوی د کلام د اصطلاحی معنی نه عامه ده . فتدبر.

مصطلح کلام ته هم ځکه کلام وائی چې داهم "ما" يتکلم به وی. سوال مقصد د شرح خو خدمت د متن وی او دلته د لغت نه بحث کول خو خروج د خپل منصب نه دے.

جواب: معرفة د معنی لغوی موقوف عليه دے دپاره د معنی اصطلاحي نو ځکه ئې اوکړو.

سوال: نو بيا خو په الکلمة کښې هم لغوی بحث پکار وو.

جواب: عادت د مصنف په دی جاری دے چې کله اکتفاء د سابق نه کوی په لاحق او کله عکس کوی او دلته شارح اکتفاء د سابق نه په لاحق کړی ده.

(اصطلاحي تعريف):ماتن کړی دے چې الکلام "ما" تضمن الخ شارح وائی چې فی اصطلاحهم غرض ئې په دی سره دفع د اعتراض ده.

سوال: دادے چه ستا دا تعريف صحيح نه دے ځکه چې دا شامل نه دے "کلام الله" ته ځکه دهغی تعريف دے "فالکتاب" ﴿هو القران المنزل علی الرسول المکتوب فی المصاحف. المنقول عنه نقلا متواترا بلا شبهة﴾، علم ولی "ما تضمنه الدفتين" دغه شان دا شامل نه دے کلام د علم کلام ته دغه شان د شعراء کلام ته هم شامل نه دے نو

شارح جواب کوی چی فی اصطلاحهم زما د نحاتو اصطلاح مراد ده مطلق اصطلاح نه او دی ته اشاره په الف لام د الکلام کښ ده چی عهدی دے نوپه دی سره احترازهم راغئ د کلام الله او د کلام ده علم کلام نه او د کلام د شعراؤنه چی هغوی شعر ته کلام وائی.

(تشریح د اجزاؤ د تعریف):ماتن وئیلی دی: "ما تضمن" شارح وائی: "ای لفظ تضمن" دلته یو غرض د شارح تعیین کول دی د مصداق د لفظ "ما" چه دا مبهمدے ده نودها وی "لفظ".

سوال: دا "لفظ" تفسیر د لفظ "ما" دے نو دا تَضَمَّنَ ولی رامعاد کوی.

جواب: دا لفظ موصوف دے او تضمن،ن صفة دے او ذکر د موصوف علاوه د صفة نه په کلام د عربو کښ مستکره وی نو د اور سره څکه رامعاد کوی.

سوال: مشورة نو دا عبارة داسی اوایه "ما" ای لفظ تضمن کلمتین نو دوو نقصانونه به بچ شی (۱) د استکراه نه (۲) د تکرار د تضمن نه او مقصود به هم حاصل شی چی تفسیر د"ما" دے.

جواب: دا خبره ښه ده خو داسی نه شم کولی څکه چی بیا فصل رځی په درمیان د موصوف حقیقی او د صفة د هغی کښ او دا جائز نه ده دلته په دی شان سره چی دا لفظ "ما" موصوف حقیقی دے او "تَضَمَّنَ" ورله صفة دےنوکه موتر داسی اوکوو نو بیا به فصل راشی په درمیان د "ما" او تضمن کښ په "ای" حرف تفسیر سره دویم عرض د شارح په دےلفظ سره تعین کول د لفظ "ما" په اعتبار د نوع سره که دما په کلام د عربو کښ ۲۲ اقسام دی خو مشهور پکښ دا دوه چی موصوله او موصوفه دی نو شارح تعین اوکړو چی د اما دلته موصوفه ده.

سوال: دا لفظ د ماخو مشترک دےپه درمیان د موصولة او موصوفة کښ او د مشترك نه یوه معنی اخستل بلا قرینه جائز نه وی تاسره څه قرینه ده په اخستلو د موصوفة باندی.

جواب: قرینه پری شته دے چی خبرية دے څکه داپه جانب د خبر کښ واقع شوی دے او خبر کښ اصل نکارت دے نوداپه هله نکره گرځی چی دا "ما" موصوفه شی. دریم غرض د شارح په دی سره دفع د اعتراض ده. اعتراض د اما به موصولة وی او دا باقی "ما تضمن" به ورله صله وی او موصول سره د صلی نه یو جزء واقع کیږی نوځکه داپه تعریف کښ جنس شی نو فصل نه راځی اوکه فصل شی نو جنس نه راځی او تعریف کښ دا دواړه ضروری دی . نو شارح جواب اوکړو چی د اما موصوفة ده نه موصولة یا دفع د بل سوال ده سوال خادمه او پاسولی کوی چی دا لفظ د "ما" ته څه نه عبارت اخلی یا به د "شئ" نه یا به د "لفظ" نه یا به د "کلام" نه یا به د "کلمة" نه که دهر یو نه اخلی نو صحیح نه دے که عبارت د شئ نه شئ نو تعریف دی نه دی صحیح داخل شو پکښ هغه مکتوب علی الجدار والقرطاس لره چی زید

قائمٌ پرې ليکلې وې ځکه دا مکتوب على الجدار والقرطاس هم شي دے او متضمن د ې دوو کلمو لره او دې ته ځوك کلام نه وائي اوکه عبارة شي د "لفظ" نه نو هم مانع نه دے حرف يکښ داخليږي چې "نعم" دے په دې شان سره چې تاته يو کس وائي: "اجاءك زيد" او ته ورته اوائې "نعم" نو داهم يو لفظ دے چه متضمن دے کلميتونو لره چې "جاءني زيد" دے او دا خو حرف دے اوکه تا "ما" عبارة د کلام نه وائي نو لازم شو اخذ د محدود په حد کښ او دا جائز نه دے اوکه ته "ما" عبارت د کلمه نه اخلې نو لازم به شي تضمن ديوے کلمه بلکه دا گرزي په شان دوضع دقصعة(کاسه)کبيره په قصعه صغيره کښ وره کاسه کښ غټه کاسه نه......راځي.

نو شارح جواب اوکړو چې لفظ يعنې زه اختيار د شق ثاني کوم او حرف چې "نعم" دے داپکښ نه داخليږي ځکه دا متضمن کلمتينو لره نه دے بلکه موول دےپه کلمتينو سره او په تاويل او تضمين کښ فرق دے په دې شان سره چې کوم شئ چالره متضمن وې نو هغه پکښ داخل وې او په تاويل کښ داسې نه وې لکه جاءني زيد ته چې مونږ کلام وايو نو دافعل او اسم دې کلام کښ داخل دے او چې مؤوّل ورته په نعم سره اوايو نو دابه دې نعم کښ داخل نه دے. "کلمتين حقيقة او حکما" شارح د کلمتينو تعميم کوې ددې قيد فائده به شي ان شاء الله "اي يکون کل واحد" غرض د شارح په دې عبارة سره دفع د سوال ده سوال په تضمن کښ ضمير راجع دے کلام ته په واسطه د "ما" سره نويو نقصان دا راغئ چه اخذ د محدود راغئ په حد کښ د ويم لازم شوکون د شئ واحد متضمن او متضمن او دا باطل دے ځکه تضمين وئيلې شي چيزے در بغل گرفتن نو خپل ځان ځوك په بغل کښ نشي نيولې. جواب متضمَن ځان له شئ دے چې هغه مجموعه ده. او متضمِن ځان له شي دے چه هغه هر واحد هر واحد دے. نو اتحاد رانغئ که خپل ځان ځوك په خپل بغل کښ نشي نيولې خو که يو جزء د خپل ځان پکښ نيوې نو نيولې شي. شارح هم دغه خبره کوي . "ضمّنه" دا ضمير راجع دے کلام ته "بالاسناد" ددے مقصد دادے چې کله يو متکلم يو مخاطب ته کلام پيش کړي نو هغه ته فائده حاصله شي په دې شان سره چې سکوت د مخاطب دياد متکلم يا د دوارو پرې راصحيح وي او يا مقصد دادے چې مخاطب ته ترې نه څه خبر يا طلب معلوم شي او يا په دې شان سره چې پس د کلام نه دا متکلم په صدق يا کذب موصوف کولې شي و الاشهر هو الاول .

سوال: دا بالاسناد جار مجرور دے او دهر جار مجرور دپاره اعراب وي دلته اعراب څه دے.

جواب: نصب دے يعنې په حالت نصبي کښ دے.

سوال: څه علت دے ورله منصوبات خو ټول ۱۲ دي دا پکښ کوم دے

جواب: مفعول مطلق دے.

سوال: مفعول مطلق خو هغه ته وائي چې مخکښ ترې نه ددې پشان فعل یا شبه فعل وی او هغه فعل، شبه فعل په دی باندی مشتمل وی د قبیلے د اشتمال د کل نه په جزء باندی او دلته خو داسی نه دے.

جواب: دی ته مونږ مفعول مطلق مجازاً وایو اصل کښ مفعول مطلق د دی موصوف دے او دائی صفة دے خو هغه حذف شوی دے اودا دهغی په ځائے قائم شوی دے نو مونږ دی ته مفعول مطلق اوئ او هغه "تضمنًا" دے او دا تضمن فعل په دی تضمنًا باندی مشتمل دے.

سوال: دا بالاسناد جار مجرور دے او جار مجرور چې صفة یا حال یا صلة یا خبر واقع کیږی نوپه اعتبار د متعلق سره وی اوس دی لره ته متعلق څه وائي دوه احتماله د ی یکښ یو چه دا تضمنًا محذوف شی نو صحیح نه دہ ځکه بیا لازمیږی، کون د شئ واحد موصوف او صفة و ذا باطل او دویم چه متعلق ورله دا تضمن فعل مذکور اوائ نو لازم شو تقدیم د صفة په موصوف باندی او داهم صحیح نه دہ. شارح جواب کوی د "حاصلا" سره حاصل دادے چې ږه دی دپاره متعلق نه تضمنًا محذوف وایم اونه تضمن فعل مذکور وایم بلکه متعلق ورله یو بل څیز وایم چې "حاصلا" دے بیا حاصلا صیغه د اسم فاعل ده او ضمیر پکښ فاعل دے چې "تضمنًا" ته راجع دے او دا جار مجرور ورسره متعلق دی نو اسم فاعل سره د فاعل او جار مجرور متعلق نه شبه جمله صفة د تضمنًا شو. "بسبب إسناده"یو غرض د شارح تعین د باء کول دی چې دا باء د ډیرو معانیو دپاره راځی خو دلته دا دپاره د سببیة ده او دویم غرض د شارح دفع د سوال ده سوال راځی چې ماتن لره پکار وو چې تعریف د کلام کښ د کلمتین په ځائے کلمات وئیلی وے ځکه چې کلام کښ دری اشیاء وی یو مسند او دویم مسند الیه او دریم نسبة بینهما او دلته ماتن د نسبة ذکر اونکړو نو شارح جواب اوکړو چې دا نسبة او اسناد د کلام دپاره سبب وی او سبب د شئ خارج عن الشئ وی نو داپکښ داخل نه دے ځکه چې کلام ورله مسبب دے او دا اسناد او نسبة ورله سبب شو. نو ځکه کلمتین اوئ. (۲) دا نسبة اکثر په کلام کښ پټ وی او خلق هغه ذکر کوی چه هغه ښکاره وی او هغه مسند او مسند الیه دے لکه زید قائم دا کلام دے او زیدٌ مسند الیه او قائم مسند دے او هغه نسبة چې معنی ئې مونږ په پښتو کښ په "دے" سره کوو نو داپټ دے "و الاسناد نسبة" غرض د شارح تعریف د اسناد کول دی په دی تعریف باندی بعضو محشینو اعتراض کړے دے چې تاپه تعریف کښ اوئ "نسبة احدی الکلمتین" نو دا نسبة خو صفة د معنی راځی او دهغی سره تعلق ساتی نه د کلمه سره او دلته خو تا د کلمه صفة واقع کړی دے نو دا کلمة خو لفظ دے معنی نه دہ

جواب: دا ترکیب په حذف د مضاف سره دے ای نسبة مدلول ا حدی الکمتین او دلته اوس صفة مدلول دے او مدلول معنی ده.

سوال: تا مخکښ وئیلی وو "ما تضمن کلمتین بالاسناد" په تعریف د کلام کښ او بیا دی اوی چی اسناد نسبة د کلمتینو دے چی مخاطب ته فائده تامه ورکړی او دلته بیا تعریف کوی نو دا تکرار ولی کوی .

جواب: هلته تعریف د اسناد وو په ضمن د کلام کښ او دلته اوس صراحةً د "اسناد" تعریف کوی.

﴿فقوله "ما" یتناول المهملات و المفردات﴾ غرض د شارح په دی عبارت سره اخیری خبره ده چی هغه شریح د مجموعه ده::په دی مجموعه تشریح کښ یو د قیوداتو د تعریف فوائد دی. نو دا "فقوله" سره ذکر کوی او دویم دا اعتراضاتو جوابونه دی چی وارد دی په تعریف د کلام او دا به د ا "إعلم" سره ذکر کوی.

(تفصیل) :دا خبره معلومه ده چی په تعریف کښ جنس او فصل ضروری دے په جنس سره جامعیة په تعریف کښ راځی او په فصل سره په تعریف کښ مانعیة راځی "فقوله" نو دا قول د ماتن چی لفظ "ما"دے چی دا عبارت وو د لفظ نه نودایه منزله د جنس دے شاملیږی مرکبات کلامیه (مرکب تام)ته او غیر کلامیه (مرکب ناقص) ته بیا دا مرکب ناقص عام دے که تقیدی وی اوکه غیر تقیدی وی او دا تقیدی بیا دوه قسمه راځی مرکب توصیفی مرکب اضاقی او غیر تقیدی په دری قسمه راځی مرکب بنائی مرکب صوتی، مرکب امتزاجی نو دی ټولو ته شامل شو. و بقید تضن کلمتین دایه منزله د فصل اول دے او په دی سره خرجت المهملات مهملات پری خارج شول ځکه کلمتین تثنیه کلمة ده او کلمة لفظ موضوع دے او مهمل وضع شوی نه وی و "المفردات" مفردات ځکه چی کلمتین دوه په وی او مفرد کښ یوه کلمه وی. و "بقید الاسناد" دایه منزله د فصل ثانی دے په دی سره مرکبات غیر کلامیه چی مرکبات ناقصة ورته هم وائی چی هغه مخاطب ته فائده تامه نه رسوی نو هغه ټری ن خارج شول بیا دهغی خو ډیر اقسام دی شارح صف د دوو مثالونه ذکر کړی دی. یو د اضاقی چی "غلام زید" او دویم توصیفی چی "رجلٌ فاضلٌ "دے بیا دلته په دی باندی دوه قسمه اعراب دی (۱) رفع (۲) جر دفع د دی وجی نه چی اعراب د حکائی ښی چی په حکایت کښ دا غلام زید حاضر او رجلٌ فاضلٌ موجودٌ مرفوع دی او دا هم په دغه طریقه باندی مرفوع نقل ښی او "جر" پری هم روا دے ځکه چه دا مضاف الیه دی دپاره د "مثل" مضاف نو مضاف الیه مجرور وی فالامر الیکم ان شئتم فرفعا و الا فنصب (و بقیت المرکبات الکلامیة) غرض د شارح افراد باقیه ذکر کول دی نو وی مرکبات کلامیة باقی پاتی دی. یعنی مرکبات تامة بیا دا مرکب تام عام دے که خبر وی یا انشاء دلته شارح د مرکب تام خبری دپاره دریے امثله ذکر کړی دی نو سوال

پری راځی چی مثال خو راځی دپاره د وضاحة د ممثل او د ممثل د وضاحت دپاره یو مثال کافی دے دا دری ولی ذکر کوی.

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندی په دی شان سره چی دا مرکب تام خبری کله جمله فعلیه رځی او کله جمله اسمیه راځی نو دوه اول مثالونه دپاره د فعلیه دی او یو مثال دپاره د اسمیه دے .

سوال: نو د جملی فعلی دپاره دی ولی دوه امثله زکر کړل.

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندی په دی شان سره چی جمله فعلیه یوه هغه ده چی دهغی مسند الیه مذکر وی لکه "ضرب زید" او دویمه هغه ده چی دهغی مسند الیه مونث وی لکه "ضربت هند" نو ځکه ئی ورله دوه مثالونه ذکر کړل بیا دلته په بعضو نسخو کښ د جمله فعلیه مثالونه ئی مقدم کړی دی او د جمله اسمیه مثال ئی روستو کړی دے لکه دا نسخه د شارح شوه اوپه بعضو نسخو کښ ددی عکس شوی دے چی د جمله اسمیه مثال ئی متقدم کړی وی او د جمله فعلیه مثالونه ئی روستو کړی دی. نو دا ځکه چی

"و للناس فیما یعشقون مذاهب."

نوپه کومو نسخو کښ چه د جمله فعلیه مثالونه مقدم دی نو دوی کثرة الاستعمال ته کتلی دی چی دا کثیر الاستعمال ده په اعتبار د جمله اسمیه او په کومو نسخو کښ چه مثال د جمله اسمیه ئی مقدم کړے دے نو دوی جزء اول ته کتلی دی چی په جمله اسمیه کښ جزء اول مسند الیه وی او داپه اعتبار د مسند سره اشرف وی.

(او انشائیة) د جملی انشائی دپاره ئی دوه مثالونه پیش کړی دی "اضرب" "لا" تضرب" په دی سوال راځی چی جمله انشائیه خوپه لس قسمه ده نو پکار ده چه د ټول دپاره ئی مثال پیش کړی وی او یائ د سر نه دیوے دپاره هم مثال نه وی پیش کړی نو د دوو مثال پیش کول اود نورو نه پیش کول خوښه کار نه دے.

جواب: که دیوهم مثال نه پیش کړ نو بیا د انشائی مثال نه راځی نو ممثل بلا مثال پاتی کیږی او ممثل بلا مثل پشان د "جَمَلِ بِلا زِمام "او" فرس بلا لجام" وی اوکه د ټول امثله پیش کړ نو بیا تطویل راځی نو صرف د دوو هغو چی هغه کثیر الاستعمال او کثیر الوقوع دی دهغی مثال ئی پیش کړو ."فإن کل واحد منهما" یو غرض د شارح په دی عبارت سره تطبیق د مثال کول دی د ممثل سره او دویم غرض دفع د اعتراض ده اعتراض دادےچی تا د کلام د جملی انشائی دپاره مثال اضرب و "لا" تضرب پیش کړل نو دا مثال صحیح نه دے ځکه چی کلام کښ دوه کلمی وی او په اضرب، "لا" تضرب کښ دوه کلمی نشته.

سوال: په "لا" تضرب کښې خو دوه کلمې شته یو کلمه "لا" ده او دوېمه کلمه تضرب دے۔

جواب: هرې دوه کلمې نه دی مراد بلکه چې یو مسند او بله مسند الیه وی او دا ته "لا" حرف دے چې دانه مسند واقع کیږی او نه مسند الیه نو اعتراض کامل شو. شارح جواب کوی او دا جواب دیو قید فائده هم ده چې مونږه وئیلی وو چې ددی قید فائده به راشی او هغه قید د حقیقةً او حکماً وو شارح هم وائی چې "فان کل واحد" چې دوه کلمې دی پکښې یو خو ملفوظه ده او بله منوی ده چې ورته حکماً کلمه وئیلے شی ځکه احکام پرې جاری کیږی نو دا ته په اضرب او "لا" تضرب کښې دوېمه کلمه منوی ده چې د هغې نه تعبیر په انت سره کولی شی دپاره دپوهې د خلقو نو دوه کلمې شوی نوکلام شو.

(ومن حیث) غرض د شارح بله دفع د اعتراض ده اعتراض دا راځی چې دا تعریف دی صحیح نه دے ځکه جامع نه دے خپلو افرادو لره خارجیږی ترےددی نه دا داری تراکیب (۱) زید ابوه قائم (۲) زید قام ابوه (۳) زید قائم ابوه ځکه چې دا تعریف ورته شامل نه دے ځکه تا وئیلی دی چې کلام هغه دے چه متضمن وی کلمتین لره او دلته خو دا تراکیب متضمن دی یو کلمه او دویم کلام لره نه کلمتین لره او دی دریو وارو تراکیبو ته خلق کلام وائی.

جواب: مایه دی کلمتین کښې تعمیم کړی دے چې که حقیقةً وی او که حکماً وی. دلته دا دویم جزء کلام دے خو په حکم د کلمه کښې دے په دی شان سره چې دا موول دی په قائم الاب سره نو دا بل جزء شو.

سوال: "قائم الاب" خو هم مرکب دے ځکه دا مضاف دے او اب مضاف الیه نو بیا هغه زړه خبره شوه.

جواب: دا کلمه حما ده اوکه ته وائی چې مضاف مضاف الیه دی نوېه ترکیب اضافی کښې مقصود بالنسبة مضاف وی مضاف الیه خارج وی نو گویا که صرف قائم پاتې شو او دا مفرد دے او هر چه الاب مضاف الیه دے نو دا صرف دپاره د توضیح او تعین د مضاف الیه دے شارح هم دا خبره کوی بیا دلته درے امثله دی اول مثال زید ابوه قائم نو دا مثال دهغه دے چې اول جزء کلمه او دویم جزء په ظاهر کښې جمله اسمیه وی دویم مثال زید قام ابوه دهغه مثال دے چې یو جزء کلمه وی او دویم جزء په ظاهر کښې جمله فعلیه وی دریم مثال زید قائم ابوه دهغه مثال دے چې یو جزء کلمه وی او دویم جزء په ظاهر کښې شبه جمله وی.

(ودخل فیه ایضا) سره دفع د بل سوال ده سوال دا تعریف د کلام اوس هم صحیح نه دے جامع نه دے خارج شو تری نه دا کلام چې "جسقٌ" مهملٌ"، "دیزٌ" مقلوب "زیدٌ" ځکه تا وئیلی دی چه تضمن کلمتین او په دی دواړو کښې کلمتین نشته ځکه دا "جسقٌ" او "دیزٌ" خو

کلمات نه دی لکه دا وضع شوی نه دی مهمل دی او کلمة خو لفظ وضع نه وتیلی شی. نو یوه یوه کلمه یکښ نشته دے خو دویمه دویمه کلمه یکښ شته دے نو کلام نه شو او خلق ورته کلام وائی

جواب: محشّی شارح صیب نو قید بیان کړے دے چه حقیقه او حکما نو دا اعتراض پری دفع کیږی په دی شان سره چی که "جسق" او "دیز" حقیقة کلمات نه دی خو حکما دی ځکه ددی تاویل کیږی په هذا الفظ سره او هذا اللفظ بامعنی دے وضع پکښ شته نو کلمه شوه شارح هم دا وائی.

سوال: دا هذا اللفظ خو مرکب شو نو داخو القرار فیما عنه الفرار شو.

جواب: مقصود په هذا اللفظ کښ صرف اسم اشاره هذا دے او دا اللفظدپاره د تعین د مشار الیه دے دا مقصود نه دے نو صرف هذا پاتی شو. (دویمه خبره په تشریح د مجموعه کښ دفع د اعتراضاتو ده). نو (قال الشارح إعلم) نویه اعلم سره غرض دشارح تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام او دویم تنبیه د مخاطب ده په دفع د اعتراض باندی چه داکافیه ماخوذ ده د مفصل د زمخشری نه هغه ورله ماخوذ منه او قانون دادے چه ماخوذ د ماخوذن منه خیل نه مخالف کول ناروا دی اوس دلته ماخوذ د ماخوذ منه خپل نه مخالف شوی دے په دی شان سره چه د مصنف د تعریف نه دا معلومیږی چه دا "ضربت زیدا قائما" مجموعه کلام دے او د صاحب المفصل دا تعریف نه معلومیږی چه په "ضربت زیدا قائما" کښ صرف "ضربت" کلام دے او زیدا قائما لره په کلام کښ دخله نشته دے ځکه هغه د کلام تعریف داسی کوی چه "هو المرکب من کلمتین اسندت احداهما الی الاخری" او هو ضمیر فصل ئی په درمیان د الکلام او المرکب کښ راوړی دے فائده د حصر کوی چه کلام به صرف دوه کلمی وی نویه ضربت سره کلام حاصل دے او زیدا قائما خارج دے او ماتن حصر نه دے کړے نو ښکاره خلاف دے بیا په دی اعتراض کښ جواب ته هم اشاره ده ځکه شارح اوی "اعلم ان کلام المصنف رحمه الله" ظاهر نو دی "ظاهر" لفظ سره جواب ته اشاره ده په دی شان سره چه او د مصنف د کلام نه خو په ظاهر کښ دا معلومیږی چه دا ضربت زیدا قائما مجموعه کلام دے خو د بالاسناد نه روستو قید د فقط مراد دے نو د مصنف د تعریف او د زمخشری د تعریف مقصد یو شو او یا خو مونږ د صاحب المفصل په تعریف کښ تاویل کوو په دی شان سره چه زمخشری کوم حصر په تعریف د کلام کښ په کلمتینو کښ کړے دے نو داپه اعتبار د ادنی مقدار سره دے چه ادنی مقدار د کلام دوه کلمې دی او ډیر ورله څه اعتبار نشته دے هر څومره راتلی شی نو بیا په دواړو کښ عموم دے.

سوال: نو بیا جواب په قلنا سره ولی نه کوی چه ظاهر وائی؟

جواب: دا احتمالات دی او دپه مرتبه د تاویلاتو کښ وی نو تیقن نشته"ثم اعلم ان صاحب المفصل" غرض د شارح په دی سره دفع د یو سوال دہ. چه مصنف د کلام تعریف اوکړو او د جمله تعریف نه او روستو بحث د دواړو نه کوی نو پکار ده چه د جمله تعریف ئی هم کړی وی نو شارح جواب کوی چه د صاحب المفصل او د صاحب اللباب په نزد کلام او جمله یو شئ دے.

سوال: وهم دی کوم ځائے او اواز دی کوم ځائے نه راوخی موثر اعتراض په ماتن کوو او شار حو د یل چا دفاع کوی .

جواب: "وکلام المصنف ایضا ینظر" د مصنف د کلام نه هم دا معلومیږی څکه چه مصنف په تعریف د کلام کښ اکتفاء کړی ده په مطلق اسناد باندې اوپه دې نه دے مقید کړے چه دابه مقصود بالذات وی "ومن جعله أخص" غرض د شارح په دی عبارت سره د صاحب المفصل او صاحب اللباب قید فائده بیانوی څکه ددی نه دا معلومیږی چه صاحب المفصل و اللباب ذهاب کړے دے نو چرته نور چا هم څه ذهاب کړی دے په یو طرف باندے نو داخیره ده چه دلته یو بل صاحب دے د تسهیل چه هغه ذهاب کړے دے دی خبری ته چه دهغه په نزد باندی کلام خاص دے او جمله عامه ده کلام هغه دے چه دا اسناد پکښ مقصود بالذات وی او جمله عامه ده نوهر کلام جمله وی لیکن هره جمله کلام کیدل ضروری نه دی "زیدابوه قائم" دا جمله او کلام دواړه دی او "ابوه قائم" جمله ده په دی "زید ابوه قائم" کښ خو کلام نه دے څکه نسبة پکښ مقصود بالذات نه دے نو د صاحب المفصل او د صاحب اللباب قید سره احتراز دے د مذهب د صاحب التسهیل نه "و فی بعض الحواشی" غرض د شارح په دے شرح سره یو بل قول پیش کول دی په کلام کښ چه قائل ددی قول شارح هندی سبب دے نو هغه وائی چه د مصنف په نزد باندی هم کلام خاص دلته څکه مراد د اسناد نه هغه اسناد دے چه هغه مقصود بالذات وی نو بناء په دی باندی مذهب د ماتن پشان د مذهب د صاحب التسهیل شو نه پشان د مذهب د صاحب المفصل و اللباب دویم عرض د شارح په دی عبارت سره رد دے په شارح هندی باندی په دی شان سره چه په تعریف د کلام کښ خو مصنف دا قید د "مقصود لذاته" بیان کړی نه دے نو دا مقید کول د کلام دی بلا قرینه چه دا ناروه دی علاوه لاداوایو چه که دا کلام مطلق موثر په دی قید سره مقید کړو نو بیا خلاف راځی د ماخوذ منه نه چه مفصل دے او داهم ناروا ده کما قلنانو داسی توجیه کول چه اعتراض پری نه راځی اولی ده دهغه نه چه سبب د اعتراض او ګرځی څکه خو شارح تعبیر په بعض الحواشی کوی چه دا هندی چه څه لیکلی دی نو شرح نه ده بلکه هسی څه حاشیه ده نولا اعتبار لهذا او بل په دی کښ اشاره ده دی خبری ته چه مخکښ کوم شروح ؤ نو دا په انداز د حواشی ؤو بیا روستو ترتیب بدل شو.

﴿ولا يتاتى ذلك الا فى اسمين﴾: اجمالى خبرى (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) د عبارت د اجزاء و تشريح (٤) د مجموعه تشريح.

(ربط): معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د تعريف د كلام نه نو شروع ئى اوكړه په اقسامو د كلام باندى دهر شئ دپاره دوه وجود ه وى يو وجود ذهنى چه دايه تعريف د شئ معلوميږى دويم وجود خارجى چه دايه تقسيم او خواصو معلوميږى نو تعريف سره وجود ذهنى معلوم شو دا د ازكياء و لحاظ وو اوس تقسيم كوى چه وجود خارجى معلوم شى دايه د غير ازكياء لحاظ شى فقال ولا يتاتى الخ.

يا مونږ وئيلى دى چه په مقدمه د كتاب كښ پنځه خبرى دى. يو تعريف د كلمه دويم اجمالى اقسام د كلمه دريم وجه د حصر په دغه اقسامو كښ څلورم تعريف د كلام پنځم دده اقسام د كلام نو كله چه فارغ شو مصنف د څلورو خبرو نه نو شروع ئى اوكړه په پنځمه خبره كښ فقال ولا يتاتى

(ربط لفظى) :"واو" عاطفه يا استينافيه "لا "حرف نفى " يتأتّى " فعل مضارع معلوم "ذلك"فاعل "فى اسمين" جار مجرور متعلق شو د فعل سره او اسم و فعلٌ په دى باندى عطف دے بيا فعل فاعل متعلق جمله خبريه فعليه ده.

(مقصد د عبارت):مقصد دادے چه ماتن دوئ اقسام د كلام بيانوى يو قسم هغه دے چه دوارو جزئين د كلام إسمانه وى او يو مسند او بل مسند اليه وى دويم قسم هغه ے چه يو جزء اسم او بل فعل وى او دا اسم مسند اليه او فعل مسند وى او دا دوه اقسام په طريقه د حصر بيانوى او وجه به ورله شارح بيانوى.

(د عبارت د اجزاء تشريح):ماتن چه دا كلام خپل ذكر كړى دے نو ددى تجزية داسے ده چه يو لفظ "واو" دے دويم "لا" دے دريم "يتأتّى" دے څلورم "ذلك" دے پنځم "الا" شپږم "فى اسمين" اووم "اسم و فعل" دے.

اول واو دے نو دا خو يا عاطفه دے او يا استينافيه دے نو جمله مستانفه به بيا په جواب د سوال دسائل كښ وى چه سائل سوال اوكو چه دا خو د كلام تعريف دے خو اقسام د كلام څه دى نو فاجاب الماتن چه دوه دى دويم "لا"دے نو دا دپاره د نفى دے او دا ناهية هم راځى او په فعل مضارع او ماضى دواړو باندى دا څليږى خوبه مضارع باندى ئى دخول كثير دے دريم "يتأتّى" دے دا صيغه د فعل مضارع از باب تفعل اصل ئ اتيان دے .

سوال: د اتيان نسبة كلام ته صحيح نه دے ولى دايه ذوى الارواح او ذوى الاجساد كښ وى او كلام د هغى نه نه دے.

جواب: شارح وائید "لا" يحصل" په معنی دے او حصول په غیر ذوی الارواح کښې هم راځي.

سوال: اتیان بخپله معنی باندی حقیقة دے او په معنی د حصول باندی مجاز دے او د حقیقة نه صیروت مجاز ته تقاضا د قرینه او علاقه کوی دلته قرینه او علاقه څه ده؟

جواب: قرینه خو دلالة نفس الکلام دے یعنی که اتیان بخپله معنی شی نو اعتراض راځي او علاقه د لازم او ملزوم ده چه اتیان ملزوم او حصول لازم دے.

خلورم "ذلك" دے شارح ورله مشار الیه متعین کوی ځکه دا اسم اشاره ده نو مشار الیه د دی کلام دے.

سوال: په ذلك خو اشاره موجود فی الخارج او محسوس بالبصر ته کیږی او کلام خونه دے موجود په خارج کښې.

جواب: دا موجود فی الخارج دوه قسمه دے یو حقیقة دویم ادعاء دلته دا دویم مراد دے.

سوال: قانون د فصاحة دادے چه یو شئ کله ذکر شی په اسم ظاهر سره نو دوباره هغه په ضمیر سره ذکر کیږی نو تالره پکار وو چه کلام خو مخکښې ذکر دے نو اکتفاء دی په یتاتی کښې په ضمیر کړی وے او ذلك اسم ظاهر دی نه دے ذکر کړے.

جواب: او :قانون خو دادے خو دلته موثر د مجبورئ د وجی نه اسم ظاهر راوړی دے ځکه که اکتفاء په ضمیر باندی شوی وی نو مخکښې درے اشیاء ذکر دی یو کلام دویم تضمن دریم اسناد نو ضمیر خو قریب ته راجع کیږی نو دی سره قریب د اسناد او تضمن دے نو دی ته به راجع شوی وی نو نقصان به راغلی وو چه هغه لازمیدل د تقسیم ؤپه حد کښې او دانا راوه دے ځکه تقسیم په محدود کښې کیږی.

سوال: نو (ألان کما کان ولم یلق زوالا) اوس هم دا اشکال باقی دے ځکه که دا ذلك دپاره مشار الیه دغه اسناد او یا تضمن شی نوبیا زړه خبره شوه

جواب: نه دے باقی ځکه "ذلك" دپاره د بعید راځی او بعید یکښې د کلام دے پنځم "إلا" دے دا د پاره د استثناء راځی دلته وریسره "لا" راغلی ده حصر فائده کوی.

سوال: مصنف خو اقسام د کلمه هم بیان کړی دی نو هلته خو ئې اداة د حصر نه دی راوړی نو څه وجه ده چه دلته په اقسام د کلام کښې اداة د حصر ذکر کوی او هلته نه؟ څلور احتمالات دی پکښې یو چه دلته او هلته د وارو کښې ئې اداة د حصر ذکر کړی وی دویم نه ئې

دلته ذکر کړی وی او نه هلته دریم هلته وی او دلته نه څلورم دلته دے او هلته نه نو دا څلورم صورت ولی اخلی .اودغه نورترک کړی دی.

جواب: (۱) هلته هم اداة د حصر شته دے خو معنوی دی او هغه تقدیم د عطف دے په ربط باندی (خادمة الکافیه) و الجواب الاصح هلته أداة د حصر ته ضرورت نه وو ځکه عقل جائز نه ګڼل راتلل د نورو اقسامو او دلته اداة د حصر ته ضرورت شته دے ځکه عقل جائز ګڼی راتلل دنورو اقسامو ځکه دلته "ما" تضمن کلمتین دے چه کلام کښ دوه کلمات وی او کلمه په دری قسمه ده نو دی کښ په دی اعتبار سره شپږ احتمالات دی یو اسم، اسم دویم فعل ، فعل دریم حرف، حرف څلورم اسم، فعل پنځم اسم. حرف شپږم فعل حرف د کلام پکښ صرف د دوه قسمینو نه جوړیدو اول قسم او څلورم قسم ځکه کلام کښ مسند او مسند الیه کیدل ضروری دی او اسم هم مسند او هم مسند الیه راځی او فعل صرف مسند وی او حرف خو د سر نه راځی نه ځکه چه نه دے مسند راځی او نه مسند الیه راځی او په کلام کښ ددی نه "لا" بدی ده.نودپاره داخراج ددے څلورواقساموماتن اداةالحصر راوده.

شپږم ﻗ دے دا دپاره د ظرفیة راځی یعنی مدخول ددی دپاره د "ما" قبل ددی ظرف وی.

سوال: دی مقام کښ ظرفیة د شی لنفسه لازم شو او داناروادے دلته داسی راغلی دے چه مدخول د ﻗ اسمین دی او دا کلام دے او "ما" قبل د ﻗ هم کلام دے.

جواب: شارح وائی:" ﻗ ضمن اسمین" ظرفیة د شئ لنفسه نه دے لازم بلکه دلته ظرفیة د خاص دپاره د عام دے په دی شان سره چه کلام عام دے که اسمین وی او که اسم او فعل وی او اسمین خاص دی.

سوال زه درته اسمین ښایم او بیا به هم کلام نه وی لکه غلام زید غلام یو اسم او زید دویم اسم . حالانکه داکلام نه دے بلکه مرکب ناقص دے.

جواب: "احدهما مسند" مطلق اسمین می نه دی مراد بلکه چه یو اسم پکښ مسند او دویم مسند الیه وی اوس دلته په غلام زید کښ مسند او مسند الیه نشته دے بلکه دا مجموعه به یا مسندوی او یا مسند الیه.

او وم "او ﻗ اسم و فعل" دلته هم هغه سوال او جواب دے چه کوم په ظرفیة د شئ لنفسه راتلو بیا شارح د اسم سره مسند الیه اوی او د فعل سره مسند نو دا دفع د سوال ده چه زه درته یو فعل او دویم اسم ښایم او کلام به نه وی لکه "ضربك" بغیرذزید وغیره نه دلته ضرب فعل او ك اسم دےاو کلام نه دے.

جواب: "ما" اوی چه فعل به مسند او اسم به مسند الیه وی او دلته داسی نه دے ځکه دا"ك" ضمیر دمسند الیه نه دے.

سوال: نو ماتن خو دا اسم او فعل مطلق ذکر کړے دے او تاسو مقید کوئ قرینه څه دح؟

جواب: دا ماتن دلته دوه اقسام بیانوی دپاره د کلام او قانون دادے چه مقسم په اقسامو کښ ملحوظ وی نو دی دوه قسمونو د کلام کښ به کلام ملحوظ وی او د کلام په تعریف کښ قید د اسناد وو نو دا به هم یو مسند او بل مسند الیه وی و فی بعض النسخ غرض د شارح په دی عبارت سره یوه بله نسخه ذکر کوی چه په هغی نسخه کښ "فی فعل او اسم" دے یعنی په تقدیم د فعل سره په اسم باندی.

سوال: دا اسمین ئی په اسم و فعل ولی مقدم کړی دے.

جواب: هغه کلام چه د اسمین نه مرکب وی دا اشرف دے دهغه نه چه یو پکښ اسم او بل فعل وی ځکه اسم اشرف دے چه هم مسند او هم مسند الیه واقع کیږی اوس دلته دا دوېمه نسخه چه ده نودی کښ اسم باندی دا فعل مقدم دے نو داپه اعتبار د ترتیب خارجی سره دے ځکه فعل مقدم وی په اسم باندی لکه "ضرب زید" شو نو فعل مقدم دے او وریسی اسم دے او د شارح دا نسخه چه ده نو دی کښ خو اسم مقدم دے نو داپه اعتبار د شرافة سره چه اسم اشرف وی او اشرف په غیر اشرف باندی مقدم وی "فان الترکیب الثّانی العقلی" غرض د شارح په دی عبارت سره وجه د حصر بیانوی چه دا کلام ولی په دی دوو اقسامو کښ منحصر شو او نور مراد نه شول خارج شو. نو حاصل دادے چه دا ټول شپږ اقسام دی بعض خلقو تړی، نه څه شعرهم جوړ کړی دے.

اسم إسم فعل وفعل حرف وحرف اسم وفعل اسم وحرف فعل و حرف

نو دلته به هغه معتبر وی چه مسند او مسند الیه دواړه وی نو اسم واسم کښ خو مسند او مسند الیه دواړه دی او فعل و فعل کښ مسند الیه مفقود دے او حرف و حرف کښ دواړه مفقود دی او اسم و فعل کښ دواړه شته دے او اسم و حرف کښ یو مفقود دے او فعل حرف کښ مسند الیه مفقود دے.

(تشریح د مجموعه):"و نحویازید" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه واردیږی په حصر د قسمین د کلام باندی چه د کلام دا حصر په دی دوو قسمینو کښ صحیح نه دے د وجه د وجود د قسم ثالث نه چه هغه اسم او حرف دے لکه "یا زید" شو دا کلام دے او یو جزء حرف دویم اسم دے.

جواب: حاصل دادے چه په ظاهر لباس مه شه دا "یا زید" خو په ظاهر کښې حرف او اسم دے خو اندرون ددی "ادعو زیدا" دے نو فعل او فاعل دی پکښې او دا زیدا فضله دے په کلام کښې ورله څه دخله نشته دے بیا ادعو حذف شو.

او دا حرف نداء د هغی قائم مقام شوه .

سوال: دا ادعوا فاعل فعل تاسو ولی حذف کړو او دهغی قائم مقام مو دایا حرف نداء ولی اوکرځوله

جواب: دا مقام د ندا دے او په مقام د نداء کښې دوه خبری مقصود وی یو مَدّ الصَّوت او دویم سرعة نو تلفظ په ادعوا باندی اوږدیږی بخلاف دیاء باندی چه په دی کښې اواز اوږدیږیٔ ہم د سرعة نه.

(الاسم مادل علی معنی فی نفسه غیر مقترن) اجمالی خبری په دی مقام کښې (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) لغوی تحقیق د اسم (۳) تعریف اصطلاحی د اسم (٤) د اصطلاحی تعریف د اجزاء تشریح (۵) تشریح د مجموعه

(ربط): معنوی ربط دادے چه دا متن په دریو حصو باندی مشتمل دے یو خطبه دویمه مقدمه دریمه مقصود نو کله چه فارغ شو مصنف د دوه ؤ حصو د کتاب نه نو شروع ئی او کړه په دریمه حصه کښې بیا دی حصه کښې دری مباحث دی یو بحث الاسم دویم بحث الفعل دریم بحث الحرف نو ده شروع اکړه په بحث الاسم کښې عام شراح وائی چه کله فارغ شو مصنف د کلمه او کلام نه چه دا موضوع ددی علم وه نو شروع ئې اوکړه په اقسامو د کلمه باندی اول په د اسم تفصیل اوکړی بیا د فعل او بیا د حرف نو دری سوالات راغلل. (۱) نفس تفصیل ولی کوی؟ (۲) په تفصیل کښې دا اسم ولی مقدم کړو؟ (۳) تفصیل څنګه کوی؟ جوابات بالترتیب (۱) نفس تفصیل څکه کوی چه ده مخکښې اجمالا ذکر کړی دے اسم و فعل و حرف سره او تفصیل بعد الاجمال أوقع فی الذهن وی او دغه شان دا اسم تفصیل ته محتاج وو او کوم شئ چه تفصیل ته محتاج وی نو خلق دهغی تفصیل کوی (۲) تفصیل کښې دا اسم څکه مقدم کړو چه په اجمال کښې اسم مقدم وو او قانون خو دادے چه.

تفصیل چه موافق شی د اجمال نو یه دي کښې وی جمال جمال

اما دا خبره چه اجمال کښې ولي اسم مقدم دے؟ نو یو وجه داده چه اسم دلالت کوی په معنی مستقله باندی او حرف خو د سره نه په معنی مستقله دلالت نه کوی او اګرچه فعل دلالت کوی په معنی مستقله باندی خو دا معنی دهغه مطابقی نه ده بلکه تضمنی ده نو مطابقی معنی دهغه مستقل نه ده دویمه وجه داده چه حصول د کلام د اسم نه کیږی په دی

شان سره چه یو اسم به مسند او بل اسم به مسند الیه شی په خلاف د فعل او حرف باندی چه فعل کښ به یو مسند شی نو مسند الیه نشته دے او حرف کښ خویو نشته نوپه دی اعتبار اصل دے او اصل مقدم وی دریمه وجه داده چه اسم هم طبعا مقدم دے نو وضعا هم مقدم شو چه موافقة راشی څلورمه وجه داده چه اسم کثیر المباحث دے په خلاف د فعل او حرف باندی چه دا قلیل المباحث دی نو قانون د دوی جاری دے په دی باندی چه کثیر المباحث مقدم کوی په دی بل باندی (۳) او تفصیل داسی کوی چه په بحث الاسم کښ یو مقدمه ذکر کوی دویم مقصود دریم خاتمه بیا په مقدمه کښ یو تعریف د اسم دویم خواص د اسم دریم تقسیم د اسم اجمالا دوو قسمین ته "الاسم "ما" دل" سره تعریف او "ومن خواصه" سره خواص او "وهو معرب و مبنی" سره تقسیم دے بیا مقصود کښ دوه بابونه دی یو باب په اسم معرب کښ دویم په اسم مبنی کښ دے بیا باب اول کښ پنځه حصی دی یو مقدمه دویم دریم څلورم مقاصد ثلاثه پنځم خاتمه ده بیا په مقدمه د باب اول کښ لس خبری دی او مقصد اول کښ اووه مرفوعات دی تفصیلاً او مقصد ثانی کښ دولس منصوبات دی تفصیلا او مقصد ثالث کښ مجرورات دی تفصیلاً او په خاتمه کښ بحث د توابع خمسه دے بیا باب ثانی د مبنی کښ هم پنځه خبری دی او بیا به په خاتمه د باب ثانی کښ لس مباحث ذکر کړی او بیا بحث الفعل دے په دی کښ به اول د فعل تعریف اوکړی او دویم علامات د فعل او دریم اقسام د فعل بیا بحث الحرف دے اول به تعریف د حرف اوکړی او دویم به ورله علامات ذکر کړی دریم او ولس/۱۷ اقسام د حرف به بیان کړی.

ربط لفظی الاسم مبتداء "ما" دل خبر دے مبتداء، خبر جمله اسمیه ده .

تحقیق لغوی: دي عنوان کښ دري خبري دي او ددي تفصیل مخکښي شوي دے.

اصطلاحی تعریف: دا ماتن کوی چه ﴿الاسم "ما" دل علی معنی فی نفسه غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة﴾ نوپه تعریف د اسم کښ درے اجزاء دی یو "ما" ده داپه منزله د جنس ده د کلمه ټول اقسام پکښ داخل دی دویم جزء "ما دل علی معنی" دے داپه منزله د فصل اول دے دی سره تری نه حرف خارج شو دریم جزء "غیر مقترن باحد الخ" دادے داپه منزله د فصل ثانی دے دی سره تری نه فعل خارج شو نو جامع مانع تعریف شو.

تشریح د اجزاء د تعریف د اسم): دی کښ "لا" بدی ده دا تجزیه نه نوبوه تجزیه د تعریف داده چه داپه دوو حصو باندی مشتمل دے یو حصه د تعریف "ما دل علی معنی فی نفسه" ده دویمه حصه د تعریف "غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة" او بیا د اوله حصه د تعریف په پنځو حصو باندی مشتملة ده اوله حصه د"ای کلمة دلت" نه تر "قال المصنف" پوری ده دویمه حصه د "قال المصنف" نه تر "ومحصوله" پوری ده دریمه حصه د "و محصوله" نه تر "الحاصل"

پورې ده او څلورمه حصه د "الحاصل" نه و تر "لما كان الفعل دالا" پورې ده او پنځمه حصه د "ولما كان الفعل دالا" نه تر "غيره مقترن باحد الازمنة الثلاثة" پورې ده بيا شارح به په اوله حصه د جزء اول د تعريف كښې يو د لفظ د "ما" تشريح كوي دويم د "في نفسه" جار مجرور د متعلق تشريح ده دريم د "في نفسه" د ضمير مجرور د مرجع تشريح ده.

اول تشريح د "ما" قال الشارح "اى كلمة دلت" غرض د شارح په دې عبارت سره تعيين دما كوي نوعا چه دا موصولة ده او كه موصوفة نو شارح په نكره سره تعبير او كړو چه دا موصوفه ده.

سوال: داما په درميان د موصولة او په موصوفة كښې مشتركه ده نو يو موصوفة اغستل تقاضا د قرينه كوي دلته په دې باندې څه قرينه ده؟

جواب: قرينه داده چه داپه تركيب كښې په جانب د خبر كښې واقع ده او خبر كښې اصل نكارت وي او دابه هله نكره وي چه موصوفة شي او دويم غرض د شارح په دې عبارت سره د فع د سوال ده چه د اما به دلته موصوله وي ځكه دا كثير الاستعمال ده نو چه ده "ما" موصولة شوه نو يو نقصان دادے چه دا "ما" موصوله معرفه وي نو خبر او مبتداء دواړه معرفه شول "لا" بدی ده د ضمير فصل نه دويم نقصان دادے چه د ا"ما" به سره د صله نه يو جزء وي د تعريف نو يا به دا جنس وي او يا فصل نو كه جنس شي نو تعريف بلا فصله ګرځي او دانارواده اوكه فصل شي نو بلا جنس به شي تعريف او داهم نا روا ده نو جواب اوشو چه دا "ما" موصوفه ده نه موصوله دريم غرض د شارح په دې سره تعيين د "ما" كول دي په اعتبار د مصداق سره چه دا عبارت دے د كلمة نه او دا دفع د سوال هم ده چه دا"ما" به عبارت وي يا د شئ نه يا د لفظ نه او يا د اسم نه او يا د كلمة نه په هر يو شق باندې اعتراض دے كه عبارت شي د شئ نه نو دوال اربعه پكښې داخليږي ځكه هرواحد شئ دے چه دلالت كوي په معنى مستقله باندې او غير مقترن هم دے دا زمنو ثلاثو سره حالانكه دې ته څوك اسماء نه وائي او كه عبارت شي د لفظ نه نو "زيد قائم" جمله پكښې ځكه داخليږي داهم يو لفظ دے چه په معنى مستقله باندې دلالت كوي او يو د ازمنو ثلاثو سره نه دے مقترن حالانكه دې ته څوك اسم نه وائي او كه عبارت شي د اسم نه نو اخذ د محدود راځي په حد كښې او داهم ناروا ده او كه عبادت شي د كلمة نه نوپه درميان دا راجع او مرجع كښې مطابقة نه راځي ځكه كلمة مونث دے او دل كښې ضمير د مذكر دے.

جواب: شارح اوكړو چه موثر اختيار د شق رابع كوو عبارت ئې د كلمة نه اخلم او جواب د سوال نه داكوم چه دلته يو قانون دے هغه دا چه كله ذيو مونث نه تعبير او شي په "ما" اومن سره نو دېته ضمير د مذكر او مونث دواړه راجع كيږي ضمير د مذكر په اعتبار د رعاية د لفظ دما او من سره چه دا دواړه مذكر دي او ضمير د مونث په اعتبار د معنى سره چه

معنی خو ئی مونث ده نو دلته ماتن ضمیر د مذکر راجع کوی په اعتبار د رعایة د لفظ د "ما" سوال چه لفظ د "ما" ته ضمیر راجع کوی او ضمیر مذکر راوړی نو ضمیر د مونث راوړم کند او رعایة د معنی او کړم.

جواب: دا نحو ده منظور النظر پکښ بالاصالة الفاظ دی نه معانی.

سوال: د کلمه د "ما" په درمیان د شیٔ او لفظ او اسم او کلمهٔ کښ مشترکه ده تاسو د کلمه نه عبارت او ګرځوله نو د مشترك نه یو معنی اخستل تقاضا د قرینه کوی دلته قرینه څه ده؟

جواب: دا لفظ د "ما"عبارة د کلمه نه ده او قرینه یوه داده چه دا اسم قسم د کلمة دے او مقسم په خپلو تولو اقسامو کښ ملحوظ وی دویمه قرینه داده چه دا کلمه د مایه تعریف کښ په منزله د جنس ده او جنس په دری قسمه دے یو قریب دویم بعید دریم ابعد نو د اسم دپاره جنس قریب کلمة ده او جنس بعید ورله لفظ دے او جنس ابعد ورله شیٔ دے بیا دا قانون دوی پاس کړی دے چه کله په جنس قریب باندی کار کیږی نو بعید او ابعد ته به صیرورة نه کیږی "علی معنی کائن فی نفسه" شارح د جار مجرور دپاره متعلق کائن راوباسو ددی پوره تفصیل په وجه د حصر کښ تیر شوی دے دا دویم جزء تفصیل دے په حواله دریم دماقبل جزء تعین د مرجع دے د ضمیر مجرور د نفسه نو سوال دے چه دا "فی نفسه" ضمیر به څه ته راجع وی مخکښ دری شیان ذکر دی یو اسم دویم کلمة دریم معنی او که په دی کښ هر یو ته راجع شی نو نقصانات راځی.

(۱)احتمال اول چه راجع شی اسم ته نو یو نقصان دادے چه اخذ د محدود په حد کښ رازی دویم نقصان دادے چه د اجمال نه خلاف راغلو چه هغه وجه د حصر ده هلته ضمیر کلمة ته راجع شوے دے دریم نقصان دادے چه خلاف د صاحب المفصل نه او شو څکه هغه ضمیر معنی ته راجع کړے دے څلورم نقصان دادے چه ظرفیة د اسم لازم شو دپاره د "ما" قبل د فی او اسم خونه ظرف زمان دے اونه مکان پنځم نقصان دادے چه د حرف معنی به باطله شی څکه چه دلته ضمیر اسم محدود ته راجع شی نو هلته به هم حرف محدود ته راجع شی نو معنی د حرف به شی چه حرف هغه کلمه ده چه دلالت کوی په هغه معنی باندی چه په غیر د دی حرف کښ وی نو حرف د غیر په معنی چرته دلالت کوی؟

(۲) احتمال دویم چه راجع شی کلمة ته نو یو نقصان دادے چه په درمیان د راجع او مرجع کښ مطابقة نشته دویم نقصان دادے چه خلاف د صاحب المفصل نه راځی دریم نقصان دادے چه ظرفیة د کلمه راځی دپاره د "ما" قبل د فی او دا کلمه نه ظرف زمان او نه ظرف مکان دے څلورم نقصان دادے چه د حرف معنی باطله ده څکه هلته به هم ضمیر کلمة ته راجع وی نو معنی به شی چه حرف هغه کلمه ده چه دلالت کوی په معنی باندی چه کائن وی په غیر د کلمة کښ نو حرف د کلمه قسم دے په معنی د غیر د کلمة دلالت نه کوی. (۳)

احتمال دریم چه ضمیر راجع شی معنی ته نو یو نقصان دادے چه خلاف د اجمال دے دویم نقصان دادے چه ظرفیة د شئ لنفسه لازم شو ځکه چه "ما" قبل د فی هم معنی ده او دا ضمیر ضمیرهم معنی ته رجع شو دریم نقصان دادے چه لازم شو ظرفیة د معنی دپاره د "ما" قبل د فی او معنی نه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان څلورم نقصان دادے چه د حرف معنی باطلیږی.

جواب: شارح کوی خو کله چه اعتراض په شقوقو باندی اوشی نو د جواب دوه طریقی دی یو داچه په هغه شقوقو کښ یو شق مختار شی دویم داچه د هغی نه علاوه بل شق مختار شی دلته اوداعتراض وارده نه جواب اوشی.شارح اوله طریقه راخلی او اختیار د شق اول کوی ځکه وائی: چه "ای فی نفس "ما" دل".

سوال: تا ضمیر "ما" دل مجموعه ته راجع کړو نو دا دوه شیان دی او ضمیر مفرد دے مطابقة نشته دے او ضمیر صرف "ما" ته راجع کیږی دل ته بیا هم نه دے راجع.

جواب: شارح وائی یعنی الکلمة کلمة ته راجع دے په اعتبار د "ما" سره فقط اوس دهغه اعتراضات نه جوابات شارح په الترتیب کوی نو جواب عن الاول دادے چه ضمیر راجع دے په اعتبار د لفظ د "ما" سره او د "ما" مذکر دے او قانون تیر شو انفًا.

او جواب عن الثانی دادے چه خلاف د صاحب المفصل نه څه نقصان نه لازمیږی پس د وحدة د مقصد نه او پس داتحاد د مآل نه یعنی مآل د دواړو یودے چه هغه کنایه ده د استقلال بالمفهومیة نه نو د صاحب المفصل هم دا مقصد دے او د مصنف هم دا مقصد دے خلاف به هله نقصان راوستو چه مقصد د صاحب المفصل غیر وے د مقصد د ابن حاجب نه او جواب عن الثالث دا دے چه دا کلمة اگرچه ظرف حقیقی نه دے خو ظرف تشبیهی دے ولی چه ظرف په دوه قسمه دے یو حقیقی چه عبارت دے د مکان یا زمان نه او دویم تشبیهی چه د ظرف حقیقی سره مشابهة ساتی په اشتمال او استقرار او عدم احتیاج کښ په دی شان سره چه دا ظرف په خپل مظروف باندی مشتمل وی او غیر ته محتاج نه وی نو داسی دا کلمة اسمیه هم ده چه په خپله معنی باندی مشتمله ده او شئ اخر ته محتاج نه ده او دغه شان دا مظروف په دی ظرف کښ مستقر وی غیر ته محتاج نه وی نو داسی دا معنی په دی کلمه اسمیه کښ مستقر ده غیر ته محتاج نه ده او جواب عن الرابع دادے چه د حرف معنی هم صحیح شوه ځکه چه کله دا دلالت د کلمه په معنی فی نفس الکلمة کنایة شوه د استقلال بالمفهومیة نه نو دلالت د کلمه په معنی فی غیره کنایة او عبارة شو د عدم استقلال بالمفهومیة نه چه حرف په معنی مستقله باندی. دلالت نه کوی

(قال المصنف فی الایضاح شرح المفصل) اجمالی خبری ددی مقام (۱) ربط (۲) غرض د شارح د نقل کولو د عبارت د مصنف نه په ایضاح کښ (۳) غرض د مصنف د خپل عبارت نه (۴) تشریح د دغه عبارت.

(ربط): ربط خو دادے چه کله فارغ شو مصنف دیوے حصے د اولے حصے نه چه "اوله حصه د تعریف د اسم په پنځو حصو باندی مشتمله ده" نو شروع ئی اوکړه په دویمه حصه د اولے حصے دا تعریف د اسم او بیا دادہ دویمه حصه تر و محصوله پوری ده فقال قال المصنف فی الایضاح.

(۲)(غرض د شارح د نقل کولو د عبارة د مصنف): نو دا دفع د اعتراض ده چه واردیږی په مسنف باندی په دی شان سره چه د مصنف په عبارة کښ تناقض او تدافع ده هغه چه مصنف دلته کافیةکښ د "فی نفسه" ضمیر کلمة ته راجع کړے دے او وجه دحصر کښ هم او د مصنف دپاره یو کتاب دے المسمی بایضاح شرح د مفصل ده نو هلته په دی کښ ضمیر معنی ته راجع کړے نو دا تناقض دے نو شارح دپاره د دفع ددی اعتراض دا عبارت د مصنف را نقل کوی حاصل دادے چه تدافع نشته دے ځکه مقصد د کلامینو یودے تدافع به هغه وخت وی چه مقاصد جدا جدا وے، دلته که ضمیر کلمة ته راجع شی نو هم عبارة دے د استقلال بالمفهومیة نه اوکه معنی ته راجع شی نوهم عبارة دے د استقلال بالمفهومیة نه نو پس اتحاد د مقصد نه اختلاف فی الضمائر څه نقصا نه کوی.

(۳)(غرض د مصنف د خپل عبارت نه چه په ایضاح کښ دے): نو مقصد ددی عبارت جواب دهغه سوال دے چه کوم سوال په تعین د مرجع باندی واردیدو چه دا فی نفسه کښ ضمیر مجرور څه تا راجع دے دری احتمالات وو چه یو اسم دویم کلمة دریم معنی ته اوپه هریو کښ پوره نقصانات راتلل نو مصنف ددی اعتراض نه جواب کوی او هغه اختیار د شق ثالث کوی چه دا راجع کوی معنی ته داخو مقصد د مصنف شو عبارت دخپل نه په ایضاح کښ.

(۴)(تشریح د عبارت د مصنف):نو تشریح په دی شان سره ده چه کله دا ضمیر مجرور د نفسه معنی ته راجع شی نو څلور اعتراضات راتلل نو دهغی نه بالترتیب جوابات دی یو اعتراض دا وو چه د اجمال نه خلاف راځی نو دهغی جواب دادے چه اجمال په ایضاح کښ دسرنه شته دے نه دلته اجمال شته دے چه وجه د حصر ده او خلاف د اجمال نه دلته راغلی دے خو دا خلاف هیڅ هم نه دے ځکه مقصد د دوارو عبارتینو یودے دویم اعتراض داوو چه ظرفیه د شئ لنفسه راځی نو مصنف وائی: "ای "ما" دل علی معنی باعتباره فی نفسه" حاصل ئی دادے چه دا نفس د معنی زه ظرف دپاره د "اعتبار" وایم نه دپاره د معنی چه کنی ظرفیة د شئ لنفسه لازم شی.

سوال: دا اعتبار خوبه معنی د قیاس کولو سره راځي او د تقدیر سره راځي او دا معنی خو دلته په صحیح کبری ځکه قیاس خو مقیس او مقیس علیه او علة مشترکه غواړی او دا خو دلته نشته او تقدیر په ممتعاتو کښ هم راځي نو دا تقدیر هم کولی شی چه د حرف معنی مستقله ده حالانکه دا خونا روا ده

جواب: شارح وائی: "بالنظر الیه" یعنی اعتبار په معنی د نظر سره دے چه موږ دي کلمه ته نظر اوکړو نو دایه دی معنی باندی په خپله دلالت کوی نه په اعتبار د امر خارج سره نو حاصل دادے چه موږ دے کلمه ته نظر اوکړو په اسم کښ نو دایه خپله معنی باندی دلالت کوی بغیر د احتیاج د امر خارج نه او دی کلمه ته چه نظر اوکړو په حرف کښ نه دایه خپله معنی باندی دلالت کوی خو په اعتبار د امر خارج سره نو هغه دریم اعتراض چه وو نو داهم ختم شو چه د زمان او د مکان خبره یکښ نشته دے بلکه خبره د نظر ده څلورم اعتراض هم دفع شو چه د حرف تعریف نه صحیح کیدو نو هغه واضح شو چه اسم دلالت په خپله معنی کوی بغیر د اعتبار د امر خارج نه او حرف هم داسی دے چه دلالت کوی په خپله معنی باندی خوبه اعتبار د امر خارج سره نو ا سم والاتعریف دعبارت شو د استقلال نه او هغه حرف والا عبارت شو د عدم استقلال نه .

سوال: دلته تا تقدیر د اعتبار وکړو نو دا مجاز دے په تعریف کښ او په تعریف کښ د مجاز نه خلق ځان ساتی.

جواب: تقدیر په تعریف کښ په دوه قسمه ده (۱) هغه تقدیر چه هغه کثیر شائع او زائع وی (۲) هغه تقدیر چه کثیر شائع زائع نه وی نو هغه تقدیر ناروا دے؟ چه هغه کثیر شائع زائع نه وی او دا بل چه کثیر شائع زائع وی نو دا جائز دے او دلته هم دا تقدیر کثیر شائع زائع دے .

سوال: دا څنګه کثیر شائع زائع دے دلیل څه دے؟

جواب: دلته یو قانون دے هغه دا چه هر کله نسبة اوشی دیو شئ نفس ته او یا ددی مرادف ته په واسطه د "فی" او هلته تقدیر د اعتبار وی کثیر شائع زائع اوس دلته په دی مقام کښ د معنی نسبة نفس ته شوی دے په واسطه د فی باندی نو دلته هم تقدیر د اعتبار راغلی دے.

سوال: دا علوم نقلیه دی دلیل نقلی پکښ معتمد وی دلته تاسره په دی باندی څه دلیل نقلی دے؟ جواب مصنف وائی: "کقولك الدار فی نفسها حکمها کذا" دا یوه مقوله ده چه خلق دا بیانوی ته په وخت د اغراء کښ په بیع باندی چه یو انسان یو کور اخلی خو لږه سستی پکښ کوی نو هغه اونیلی شی چه الدار الخ چه داکور په اعتبار د دی خپل نفس سره په دی دومره رقم دے یعنی دکور دی نفس ته چه اوګوری چه دی کښ څومره ښکلی چمن دے څومره

شکلی دروازی لری وغیره علاوه ددی نه چه په ذاکور نه چه د سرك سره خوا کښی دے وغیره نو دلته دا مقوله ده چه دی کښ د دار نسبة دی نفس ته په واسطه د فی سره شوی دے نو تقدير د اعتبار پکښ دے "و لذلك الحرف "ما" دل" دا مصنف اشاره کړی د څلورم سوال جواب ته بیا مصنف په "ایضا" کښ په ده طریقه سره تفصیل کړی دے یو "حاصل فی غیره" دویم "باعتبار متعلقه" د اول مقصد دادے چه دا "حاصل" د "فی غیره" جار مجرور دپاره متعلق دے او دویم مقصد دادے چه دا ظرف دپاره د اعتبار دے نه دپاره د معنی انتهی کلامه کلام د مصنف مراد دے

(و محصوله) دپاره د سهولت څو خبری ضروری دی اجمالا (۱) ربط (۲) لغوی او مرادی تحقیق په محصول کښ (۳) فرق په درمیان د الحاصل او محصول کښ (٤) غرض د شارح ددی حصه نه (٥) تعین د هغه مباحثو کښ چه په دی حصه کوم دی سره د تفصیل نه په ښه شان

(ربط): کله چه فارغ شو مصنف د دوو حصو د اولے حصے د تعریف نه نو په دریمه حصه د اولے حصے د تعریف کښ شروع اوکړه فقال "و محصوله".

ربط لفظی:"واو" استینافیه "محصوله" مبتداء ده او "ما ذکره الخ" خبر نو جمله اسمیه مستانفه په جواب د سوال د سائل کښ واقع ده چه ددی تفصیل نجوړ او خلاصه څه ده؟ جواب اوشو چه غوړ شه داده.

(لغوی مرادی تحقیق):دی کښ یو صیغه د محصوله دویم معنی لغوی ددی او دریم معنی مرادی د محصول نو دا صیغه د اسم مفعول ده د باب د نصر نه او محصول په لغة کښ په څلورو معانیو سره راځی (۱) محصول په معنی د بقاء سره (۲) محصول په معنی د رجوع سره (۳) محصول په معنی د ثبوت سره (٤) محصول په معنی د ادراك او نیل سره او معنی مرادی د بعضو په نزد باندی دلته "رائ" ده نو معنی دا شوه چه و محصوله او رائ د مصنف "ما" هغه ده چه ذکر کړی ده او عند البعض داپه معنی د مصدر سره دے چه توضیح دے او تلخیص او تفصیل نو معنی داشوه چه "و محصوله" توضیح او تلخیص او تفصیل د مصنف دادے او عند البعض داپه معنی د حاصل سره دے معنی داشوه چه حاصل او نجوړ د مصنف الخ درے معانی شوی.

فرق په درمیان د محصول او حاصل کښ: نو محصول هغه شئ ته وائی چه په مشقة او تکلیف سره خارج یا ذهن کښ موجود شی او حاصل هغه دے چه په سهولت سره وی نو دلته هم دی محققینو چه په محصوله سره په درمیان د معنی اسمی او حرفی کښ کوم فرق په کلی طریقه سره کړے دے نو دا مشکل دے او ګران دے او په الحاصل سره فرق په

جزی مثال کښې دے چو اسان دے نو یو ته ئې محصول اوی حُکه مشقة دےیه کښې او بل ته الحاصل حُکه چه اسانتیا ده پکښې.

(غرض د شارح ددی حصه نه):نو غرض د شارح ددی حصه نه دوه خبری دی یو دفع د اعتراض ده چه تا د معنی فی نفسه دپاره الدار فی نفسها حکمها کذا مثال پیش کړو نو د معنی فی نفسه دا تشبیه ددی مثال سره صحیح نه ده حُکه چه د علی معنی فی نفسه مقابل علی معنی فی غیره راځی او د الدار فی نفسها حکمها کذا مقابل الدار "لا" فی نفسها حکمها کذا راځی نو دیو مقابل فی غیره راځی او د بل "لا" فی نفسها راځی "لا" فی غیرها نه راځی نو دواړو په درمیان کښې فرق دے نو حُکه تشبیه صحیح نه ده. نو شارح په جواب اوکړی چه دا به تشبیه په کل امورو کښې نه ده مراد لکه بعضو محققینو تشبیه د معقول د محسوس سره ورکړی ده په استقلال او عدم استقلال کښې فقط نه په ټولو امورو کښې.

دویم غرض د شارح په دی حصه سره دادے چه فرق ذکر کول دی په درمیان د معنی اسمی او حرفی کښې.

(تعین د هغه مباحثو چه دی حصه کښې دی):نو دی کښې پنځه مباحث دی یو حواله ورکول دی دایه "ما ذکره بعض المحققین"سره ده دویم تشبیه د معقول د محسوس سره دایه "کما ان فی الخارج" سره دریم فرق ذکر کول په درمیان د معنی اسمی او حرفی کښې په کلی طریقه سره دایه "کذلك فی الذهن" سره کوی څلورم وضاحت په مثال جزی سره دایه "والابتداء مثلا" سره پنځم تطبیق د مثال کول دایه "اذا لاحظه العقل" سره.

و محصوله "ما" ذکره بعض المحققین تعین د مباحثو په دی حصه کښې اوشو چه دے کښې پنځه مباحث دی اوس دهغه مباحثو تشریح شارح وائی چه و محصوله چه تجوز د کلام د مصنف چه په ایضاح کښې دے نو هغه بعض محققین بیانوی په دی کښې اشاره شوه چه په دی محصوله کښې کوم کلام دے نو دائه د مصنف دے او نه د شارح بلکه دا دیو محق کلام دے چه مراد تری ته سید السند جرجانی صیب دے بیا شارح محققین اوی نو دهغه ئې ذکر نه کړو نو دی کښې اشاره ده تعظیم د محصول ته حُکه محقق هغه کس ته وائی چه اثبات د دعوی کوی با الدلیل دویم دپاره د شرافة دهغه نوم ذکر نه شو دریم اشاره ده دی خبری ته چه هر کله هم بعض محققین ذکر شی نو مراد به سد السند وی بیا شارح "ذکره" اوی او قاله ئې اونه وی نو دی کښې اشاره ده چه دا محصول دیادوولو لائق دے حُکه ډیر قیمتی دے دا شوه حواله چه اوله خبره وه.

(دویمه خبره تشبیه د معقول ده محسوس سره.)

تفصیل داده چه په خارج کښې کوم اشیاء موجود دی نودایه دوه قسمه دے یو دا چه قائم بذاته وی لکه جواهر دویم دا چه قائم بالغیر وی لکه اعراض شول . مثلاً یو دیوال جوهر دے قائم بذاته دے په وجود خپل کښې محتاج نه دے غیر ته او داکوم رنګ چه په دی دیوال پسی دے نو دا عرضدے ځکه قائم بالغیر دے په وجود خپل کښې دا محتاج دے دی دیوال ته نو مصنف دلته د معنی اسمی تشبیه ورکړی ده د قائم بذاته یعنی جوهر سره چه دا معنی اسمی مستقل ده په عقل کښې دا راځی بغیر د احتیاج ددی نه شئ اخر ته او معنی حرفی چه ده نو دا محتاج ده شئ اخر ته نو دا پشان د قائم بالغیر یعنی د عرض پشان ده نو اسم په خپله معنی ورکولو کښې حرف ته محتاج نه دے او حرف په خپله معنی ورکولو کښې اسم ته محتاج دے نو دی نه دا خبره هم معلومه شوه چه موجود په دوه قسمه دے یو موجود خارجی دویم موجود ذهنی بیا هر واحد په دوه قسمه دے یو مستقل دویم غیر مستقل مثلا دیوال موجود دے په وجود خارجی سره او مستقل دے او رنګ د دیوال موجود دےپه وجود خارجی سره او غیر مسقل دے او معنی اسمی موجود ده په وجود ذهنی سره او مستقله ده او معنی حرفی موجود ده په وجود ذهنی سره او غیر مستقل ده شارح هم دا وائی چه کما ان فی الخارج لکه څنګه چه په خارج کښې یو موجود قائم بذاته دے او دویم موجود قائم بغیر دے ناکت ورله امثله لیګلی دی.

("كذلك فى الذهن معقول "دا درېمه خبره ده چه فرق کلی بیانول دی په درمیان د معنی اسمی او حرفی کښې)

سوال: دلته په کما ان فی الخارج کښې د کاف دوباره د تشبیه راغلی دے نو په کذلك کښې بیا ذکر کول د کاف تشبیهی مستدرك دی (بعض الحواشی) جواب: د کاف ثانی دوباره د تاکید دکاف اول دے.

سوال: دلته تاکید ته څه ضرورت دے؟

جواب: دلته یو خلاف شوی دے نو کاف ته احتیاج راغلی دے په دی شان سره چه قانون داده چه اول مشبه ذکر وی او دویم مشبه به وی او دلته عکس شوی دے چه مشبه به چه "موجود فی الخارج" دے دا اول ذکر شوی دے او مشبه چه "موجود فی الذهن" دے نو دا روستو ذکر شوی دے نو چا به داوهم کولو چه دابه تشبیه نه وی ځکه د تشبیهه د قانون نه خلاف شوی دے نو بعض محققینو کاف دوباره راوړو چه تشبیه ده تشبیه: "معقول" چه په عقل سره حاصل شوی وی بیا دا معقول دوه قسمه دے یو "هو مدرك قصدا "او دویم "هو مدرك تبعا" .

سوال. دا مدرك قصدا خو اسم دے او مدرك تبعا خو حرف دے نو دا قصد خو توجه د ذهن ده په طرف د شی باندی نو دا توجه د ذهن خو دوارو ته يو شان كيږی اسم او حرف ته نو يو ته مدرك قصدا وئيل او بل ته مدرك تبعا وئيل نا روا دی.

جواب "ملحوظا فی ذاته" مقصد دادے چه د قصد دپاره دوه معانی دی يو معنی چه توجه د ذهن ده په طرف د يو......دويم چه معلوم اا ملحوظ فی ذاته وی شئ اخر ته محتاج نه وی نو دلته دا دويم په معنی مراد ده. "يصلح ان يحكم" غرض په دی عبارت سره د "ملحوظ فی ذاته"مقصد بيانول دی نو مقصد دادے چه ملحوظ فی ذاته هغه دے چه صلاحية د دی لری چه محكوم عليه يعنی مسند اليه او محكوم به يعنی مسند واقع كيږی او هغه هم دا اسم دے چه هم مسند او هم مسند اليه واقع كيږی.

سوال: دا ملحوظ فی ذاته اسم او فعل دواړه دی او دلته چه د ملحوظ فی ذاته كوم بيان او تفسير اوشو نو دا د اسم سره لګی او فعل تری خارجيږی ځكه اسم خو محكوم عليه او به دوارو واقع كيږی په خلاف د فعل باندی چه محكوم عليه نه واقع كيږی (باسولی)

جواب: دلته دا "واو" په معنی د "او" دے "او" دپاره د مانعة الخلو دے نوكه فعل دواړه نه واقع كيږی نو يو خو واقع كيږی كنه (۲) دا فعل ددی صلاحية لری چه هم مسند اليه او هم مسند واقع شی د وجه د استقلال نه خو چونكه دا فعل واضع متعين كړی دے مسند نو كه مونږ دا مسند او مسند اليه دواړه او ګرځو نو بياد واضع نه خلاف راځی او دانا روا ده. (۳) دلته مقصد د بعض المحققين فرق ذكر كول دی په درميان د معنی اسمی او حرف كښ د فعل پكښ څه نشته نو اول ئی تعبير په معقول سره اوكړو دويم په مدرك قصدا سره دريم په ملحوظ فی ذاته سره څلورم په يصلح ان يحكم سره او هغه هم د اسم دے چه معقول دے او مدرك قصدا دے او د"قصدا" مقصد دا چه ملحوظ فی ذاته او د ملحوظ فی ذاته مقصد دادے چه محكوم عليه او محكوم به واقع كيږی "او معقول هو مدرك تبعا" دا اوس د حرف بيان دے نو داهم پشان د اسم معقول دے خو هغه مدرك قصدا او دا حرف مدرك تبعا.

سوال: مدرك تبعا دوه قسمه دے يو هغه چه د سر نه معنی نه لری . دويم هغه چه معنی لری خو دپاره د حصول د اخر نو دلته كوم مراد دے؟

جواب: "و أنّه لملاحظة غيره" دا دويم قسم مراد دے "فلا يصلح "نو فرق معلوم شو په درميان د حرف او د اسم كښ يو فرق دادےچه اسم مدرك قصدا دے او حرف مدرك تبعا دے او دويم فرق دادےچه اسم ملحوظ فی ذاته وی او حرف اله ده ملحوظ فی ذاته نه دے او دريم فرق داچه اسم "يصلح ان يحكم عليه وبه" او حرف "لا يصلح ان يحكم عليه" و به اګرچه دواړه معقول و مدرك دی" فالابتداء مثلا" دا څلورمه خبره ده چه فرق په درميان د معنی اسمی او حرفی كښ په مثال جزی سره او "دا مثلا" ځكه وائی چه دا فرق په دی مثال

سره خاص نه دے بل څه شئ نه هم راتلی شی لکه "انتهاء" وغیره شوه تفصیل داسی دے چه ابتداء دوه قسمه ده یو ابتداء اسمی دویم ابتداء حرفی. ابتداء اسمی معنی داده چه شروع کول او ابتداء حرفی معنی داده چه شروع کول دیو مکان نه په یو شئ سره اول ته ابتداء په معنی کلی سره وائی او دویم ته ابتداء پ په معنی جزی سره وائی اوس دا معنی اول چه ابتداء کلی ده او شروع کول دی نو دا معنی ذهن ته په وخت د اطلاق په لفظ د الابتداء بانَدی راځی نه په ضم د شئ اخر سره او دا دویم چه ابتداء جزی او شرع کول د یو مکان نه په یو شئ سره ده نو دا معنی د من ده نو داپه اطلاق سرُه په لفظ د من بانَدی ذهن ته نه راځی بلکه احتیاج دےپکښ ضم د دوو شیانو پکښ ضروری دے چه دوه شیان به ورسره ضم کیږی او بیا به دا معنی د "من" چه ده چه ابتداء جزئنِده دابه ذهن ته راځی لکه سیر او بصرة شوه چه "سرت من البصرة" شی نو اوس د من معنی ذهن ته راغله چه شروع کول دیو مکان نه چه "بصره" ده په یو شئ بانَدی چه "سیر" دے او دا خبره په دی "من" کښ خاص نه ده بلکه په "فی" او "عن" او "الی" وغیره کښ هم راتلی شی نو دا محقق به اوس تطبیق کوی. "مستقلا بالمفهومیة" یعنی مستقل په اعتبار د معلومیدو سره "و لزمه تعقل متعلقة" دا دفع دیو سوال ده چه څنګه په ابتداء جزی کښ "لا" یدی ده دوو شیانو نه چه یو ته مبتداء به اوبل ته مبتداء منه وائی نو هم دا دوه شیان په ابتداء اسمی کښ هم ضروری دی لکه یو کس او وائی "شروع اوکړه" نو ذهن ته داخبره راځی چه دا شروع به ئی د څه کړی وی او په څه به ئی کړی وی نو یو مبتداء به او بل مبتداء منه دے کنه نو دا کومه مسلمانی ده چه دا معنی اسمی مستقل ده او معنی حرفی غیر مستقل حالانکه په دواړو کښ دا مبتداء منه او مبتداء به راځی .

جواب: دی کښ یو فرق دے په دی شان سره چه په ابتداء اسمی کښ دا دواړه په اجمالی طریقه راځی چه صرف ذهن دے بے د تلفظ نه په خله (فم) بانَدی او په ابتداء جزی کښ دا دواړه په تفصیلی طریقه سره راځی چه هم ذهن دے او هم تلفظ دے په خله بانَدی نو دا اجمالی طریقه ره راتلل د استقلال سره مناف نه دی او دا تفصیلی طریقه سره راتلل د استقلال سره منافی دی نوپه معنی اسمی کښ اجمالی طریقه وه نو هغه مستقله ده او معنی حرفی کښ تفصیلی طریقه وه نو دا غیر مستقل شوه "و لزمه تعقل متعلقة "او لازم دے ددی سره تصور د متعلق ددی چه مبتداء "به" او مبتداء "منه" دے خو اجمالا او تبعا بغیر د احتیاج نه ذکر کولو ددی ته په خله بانَدی اوداپه دی اعتار سره معنی ده د لفظ د "الابتداء" چه دا "الابتداء" اسم دے ولی چه الف لام پری داخل دے. "فلا حاجة فی الدلالة" دا هم دفع د سوال ده چه تا اوی چه "الابتداء" د سرنه بلی کلمه ته محتاج نه ده نو دا خو محتاج ده په دی شان سره چه کله ته مخاطب ته فائده تامه رسوی نو ورسره به خامخواه یوه کلمه ضم کوی لکه موجود شو چه "الابتدا" موجود شو نو احتیاج راغی د "الابتداء" دی موجود ته دپاره د افادی مخاطب ته اوکه دا موجر ورسره وه ضم نه شی نو بیا خو مخاطب ته فائد تامه نه رسی.

جواب: زه دافاده او استفاده خبره نه کومه زه د دلالت خبره کومه په دی شان سره چه په خپل نفس باندی دا الابتداء بغیر د څه حاجة نه شی آخردلالت کوی نه چه په افاده کښ مخاطب نه څکه بیا په افاده "الابتداء" محتاج ده ضم د شئ اخر ته "و اذ الا خطه العقل" سره جانب مخالف د دی بیانوی حالة بین السیر و البصرة مثلا دا مثلا څکه والی چه په دی مثال کښ انحصار نه دے مقصود بلکه د بل شئ په رمیان کښ هم حالت راتلی شی "وجعله اله" دا دفع د سوال ده چه ته په دی من باندی اطلاق د حالت اوکړو حالانکه حالت خو هغه مبتداء منه او دا مبتدا به ده.

جواب: او دا "من" حالة نه دے خو مونږ ورته نسبة په دی اعتار کړی دے چه په دی سره د سیراو د بصره حالت معلومیږی "ولا یمکن ان یتعقل" او ممکن نه ده چه دابه عقل کښ راشی مګر په ذکر کولو د متعلق ددی سره چه په ذهن کښ به دا متعلقین چه مبتداء به او مبتداء منه دی دابه راولی اولا "ولا ان یدل علیه" اونه به دلالت اوکړی په دی باندی به اطلاق سره په دی لفظ باندی فقط چه "من" دے مګر په ضم کولو دهغه دوه شیانو نه چه په دی متعلقین باندی دلالت اوکړی لکه سیر او بصره شو مثلا

(و الحاصل ان لفظ الابتداء) اجمالی خبری (۱) ربط د "ما" سبق سره (۲) غرض د سید السند په دی عبارت سره (۳) غرض د شارح په نقل کولو ددی عبارت سره.

ربط: نو ربط معنوی خو دادے چه کله فارغ شو مصنف د دریو حصو د اولے حصے د تعریف د اسم نه نو شروع ئې اوکړله په څلورمه حصه کښ فقال: "و الحاصل ان لفظ".

ربط لفظی: واو عطفه دے او "الحاصل" مبتداء ده او من" لفظ ان خبر نو مبتداء او خبر جمله خبریه اسمیه معطوفه.

(غرض د سید السند صاحب په الحاصل سره) :نو د سید السند په دی عبارت سره دوه اغراض دی (۱) فرق ذکر کول په درمیان د لفظ د "الابتداء" او معنی ددی کښن او په درمیان د "من" او ددی د معنی کښ په اعتبار د وضع سره (۲) دفع دیو سوال ده اول غرض تفصیل دادے چه دا لفظ د ابتداء وضع دے دپاره د معنی کلی او لفظ د من وضع دے دپاره د ابتداء جزی یا معنی کلی دپاره د ابتداء :نفس شروع کول دی او معنی جزی دپاره د ابتداء: شروع کول په یو شئ مخصوص سره دیو مکان مخصوص نه او دی ته ابتداءات مخصوصه او جزئیات مخصوصه وائی لکه ابتداء په روټئ باندی د خوراك وغیره شو.

او دفع د اعتراض داده چه تاپه محصول کښ جزی مثال پیش کړو چه ابتداء وه نو تا اوی چه عقل ددی لحاظ کله بالذات او قصدا اوکړی نو دا معنی اسمی ده او کله چه عقل ددی لحاظ وکړی په داسی طریقه باندی چه دا حالت بین السیرو البصرة شی نو دا معنی حرفی ده او دا

معنی اسمی مستقل او معنی حرفي غیر مستقل ده نو دا حو لازم شو کون د شئ واحد مستقل او غیر مستقل دواړه او دا ناروا ده نو په الحاصل سره اشاره ده جواب ته حاصل د جواب داد ے چه او: قانون خو داد ے چه یو شئ مستقل او غیر مستقل نه شی کیدلے خو دایه جهة واحده سره ناروا دی او کله چه جهتین وی نو بیا جائز ده چه یو شئ هم مستقل شی او هم غیر مستقل دلته چه مونږ ابتداء ته مستقل وایو نو دایه اعتبار د معنی کلی سره او غیر مستقل چه ورته وایو نو دایه اعتبار د معنی جزی سره.

سوال: دا معنی کلی ولی مستقل ده او معنی جزی غیر مستقل.

جواب: دا یو قانون د ے بدیهی چه څومره دیو شی سره شرائط او تعلقات سوا کیږی نو دومره په هغه شئ کښ استقلال کمیږی او څومره چه په یو شئ کښ شرائط کم وی او تعلقات وریسره دومره نه وی نو هغه شئ کښ استقلال سوا او زیات وی او س په دی کلی معنی کښ څه تعلقات نشته د ے بلکه نفس شروع کول دی او په دې معنی جزی کښ تعلقات سوادی چه شروع کول دیو مکان مخصوص نه په یو فعل مخصوص سره نو معنی کلی کښ استقلال د ے او معنی جزی کښ عدم استقلال د ے او دی دپاره به استاذان صاحبانو یو حکایة بیانوو چه یو بادشاه په سفر یو ځائے ته تلو نه په یو ملنګ باندی تیر شو خو هغه ملنګ ورته څه ګیاهم وانه چوله بلکه وی کتل ورته هم نه نو بادشاه غصه شو چه دا زما په رعیة کښ د ے او زما دپاره د څه توجه اونکړه نو د اراده ئ اوکړه د قتل د ملنګ نو وزیر وریسره وو هوښیار نو هغه خبر شو بادشاه ته وزیر اوی چه بادشاه سلامت تاته د ملنګ څه احتیاج د ے چه دی تاته پاځی او ستا استقبال کوی اول محتاج کول پکار دی نو بیا ګوره چه ستا طرف ته دی څنګه متوجه کیږی نو بادشاه وی چه څنګه نو وزیر ورته اوی چه ته اجازت اوکړه هغه بادشاه اجازت اوکړو چه دی محتاج کړو نو د ملنګ دپاره خو هیڅ هم نه وو نه ورله زوجه وه اونه ورله بچی خو چه څه به ورته میلاوشو نو ګذاره به ئ پری کوله او بیا دا وزیر دی ملنګ خواته ورغی او د زوجه ترغیب ئ ورکړو نو وزیر ورله د ښځی انتظام اوکړو نو واده ئ ورله اوکړو او د زنانه سره ئ ورله څه سامان هم ورکړو چه دومره سامان وو چه د بادشاه د سفر د ختمیدو پوری کار ئ کوو بیا چه څه وخت تیر شو نو دا سامان ختم شونو ښځی ورته اوی چه سامان ختم شو نو ته سامان راوړه نو ملنګ ته څه د سامان معلومات وو چه دی کښ داد وی خو دومره پوهیدو چه سامان د بادشاه سره وی نو چه بادشاه وایس راتلو نو ملنګ څو میله مخکښ د بادشاه استقبال ته ولاړ وو نو بادشاه او لیدو او پوهه شو "فقال الملك ان که شیران راګردد رو بامزاج . احتیاج است احتیاج است احتیاج .

نو دا ملنګ هم هوښیار وو بیا دا خو دوی "ما" سره چل اوکړه چه تعلق ئ راله پیدا کړه نو قال للملك ان که شیران راګرد دوریاه . یك طلاق است دو طلاق است سه طلاق.

نو دلته هم د معنی جزی سره تعلقات او لوازمات دی نو غیر مستقل گرځیدله ده.

(غرض د شارح په نقل کولو ددی عبارت سره):نو غرض د شارح په نقل کولو ددی کلام دادے چه روستو به اعتراضات راځی نو دا عبارة هغی ته تمهید دے نو هغه به دفع کوی حل العبارة بالتیسیر و التسهیل "لمعنی کلی" لکه هغه نفس شروع کول دی.

لکل واحد من جزئیاته المخوصة دی ته ابتداء ات مخصوصه هم وایٔ چه هغه ابتداء دهر یو شیٔ کیدلے شی لکه ابتداء دسبق ابتداء د سفر او ابتداء د خوراك وغیره المتعلقه دا عبارت دوه طریقه سره دے یو المتعقله یعنی په تقدیم د ق سره په لام باندی او دویم المتعلقه یعنی په تقدیم د لام سره په ق باندی چه اول شی نو مقصد دادے چه هغه ابتدات مخصوصه چه په عقل کښ راځی خو د حیثیة د متعلقاتو نه چه هغه متعلقات مونږ بار بار بیان کړل او که دویم شی نو معنی به شی چه هغه جزئیات مخصوصة چه د هغی تعلق راغلی دے په دی حیثیة چه متعلقات ورله وی. "لمتعلقاتها" بالکسر او بالفتح دواړه یعنی اسم فاعل او اسم مفعول دواړه مطلب دادے چه دی سره ئ تعلق راغلی دےنو چه دیوشئ د بل شیٔ سره تعلق راغلی وی نو دهغه بل شیٔ تعلق هم دی شیٔ سره راغلی وی خو په دی مقام دایه فتح سره وئیل دیر اصح دی ځکه چه دی کښ یو قانون دے هغه دا چه دکوم شیٔ تعلق د بل شیٔ سره راغلی وی نو هغه کښ یو ضعیف وی نو دا تعلق د ضعیف د جانب نه معتبر وی اوس دلته د حرف دا معنی جزئیة ده نو ددی د هغه شیانو سره تعلق راغلی دے نو دی ته متعلق بالکسر وئیل صحیح دی او هغه شیانو ته متعلقات وئیل صحیح دی بالفتح دلته هم هغه مراد دی نو ځکه بالفتح وئیل اصح دی دغه شان دا دواړه اعتبارات په دی "المتعلقه" کښ هم دی کوم چه په کتاب کښ المتعلقة دے نویه دی دویم احتمال پکښ چه المتعلقة دے نو داهم بالکسر او بالفتح وئیل صحیح دی. "و لان لتعرف احوالها" او دپاره د معلوومولو د احوالو د متعلقاتو الات وی "و ذلك المعنی الکلی یمکن" دا تصریح ده په فرق کښ چه دا معنی کلی چه ده نو دا متعقل ده قصدا او ملحوظ فی ذاته ده نویه دی وجه باندی دا مستقل بالمفهومیة ده ځکه چه دا صلاحیة لری چه محکوم علیه او محکوم به واقع شی په خلاف د معنی جزی چه هغه مستقل بالمفهومیة نه ده ولی چه هغه محکوم علیه او محکوم به نه واقع کیږی او "لا" بدی ده دپاره دهر واحد ددی دواړو چه دواړه به ملحوظ وی قصدا ځکه چه ممکن شی په دی کښ نسبة تفصیل ددی خبری دادے چه دا نسبة یو امر غیر مستقل دے او دا محتاج دے دوو شیانو ته ځکه نسبة په درمیان د دوو کښ راځی او هغه دوه شیان یو محکوم علیه دویم محکوم به دے نو دا هواړه به قصدا ملحوظ وی چه دا نسبة پکښ معتبر شی او هر چه ابتدا جزئیه دی نو دایه دی کښ نه راځی مگر چه دی لره هغه متعلقات ذکر شی "وهذا هو المراد بقولهم "دا ضمیر نحاة ته راجع دے.

• سوال: داخو اضمار قبل الذکر لازم شو او داخو ناروا دے.

جواب: کوم فن کښې چه بحث کیږی نو اصحاب د هغه فن پکښې مراد وی ذهنا څکه دا بحث هغو کوی نو دلته نحاة ذهن کښې مستحضر دی "علی معنی فی غیرها" مقصد داد ے په ځپله معنی باندې دا حرف دلالت نه شی کولی مګر په امداد د بل شیٔ سره بیا دلالت کوی نو معنی د حرف به هم د بل په امداد سره مستقل ګرځی (د سید السند کلام ختم شو)

"و اذا عرفت هذا" دا اوس هغه اعتراضات دی دا مخکښې ورته تمهید وو .

سوال: تاپه "قال المصنف" سره "فی نفسه" کښې ضمیر راجع کړو معنی ته نو دا خو د احمال نه مخالف شو هلته خو کلمة ته ضمیر راجع وو.

جواب: "و اذا عرفت هذا" حاصل داد ے چه مقصد د دواړو یود ے چه استقلال بالمفهومیة د ے او دغه شان دلالت د معنی د ے په دی نفس د کلمه باندی بغیره احتیاج نه شیٔ اخر ته نویو کښې ضمیر دال ته راجع د ے چه کلمة ده او دویم کښې ضمیر مدلول ته راجع د ے چه معنی ده "فمرجع کیئو نته سره تفریع ده چه مقصد یود ے مرهم "و فی هذا الکتاب" دا دفع دیو بل سوال ده چه کافیه هم د مصنف کتاب د ے او ایضاح هم د مصنف کتاب د ے نو څه وجه ده چه تاسو په کافیه کښې ضمیر کلمة او معنی دواړو ته راجع کوی او په ایضاح کښې قول په تعیین د معنی کوی چه ضمیر صرف معنی ته راجع د ے.

جواب: دا دلته مجبوری ده هغه داچه دلته کافیه کښې اجمال د ے چه وجه د حصر ده او هغی کښې ضمیر راجع د ے کلمة نو دلته دیاره د لحاظ د موافقة د اجمال سره مونږ وایو چه ضمیر کلمة ته هم راجع کول صحیح دی ولی چه قیل او

تفصیل چه موافق شی د اجمال نو په دی کښې وی پوره جمال

نو اګرچه اصل هم داده چه ضمیر معنی ته راجع شی او په ایضاح کښې اجمال نشته چه دهغی لحاظ اوشی نو هلته مو معنی ته ضمیر راجع کړے د ے.

(یرجع الی "ما" الموصولة) دا دفع د سوال ده چه په فی نفسه کښې ضمیر معنی ته راجع د ے فقط نه کلمة ته ولی چه کلمة مونث او ضمیر خو مذکر د ے نو جواب داپه اعتبار د "ما" سره د ے او دا "ما" مذکر د ے "لفظا هو الظاهر" چه هغه موافقة د تفصیل د ے د اجمال سره "و لذا ذکر الضمیر" او دی وجه نه ئی ضمیر مذکر ګرو چه معنی ته هم راجع کیدل صحیح دی ولکن عبارة المفصل او عبارة د مفصل چه د ے نو دا ظاهر د ے چه ارجاع د ضمیر کښې معنی ته څکه چه ارجاع د ضمیر قریب ته وی او قریب هم دا معنی ده او کلمة خو بعیده ده چه هغه عبارة د ے د "ما" نه او داسی عبارة هم په مفصل کښې نشته یعنی اجمال پکښې نشته چه تفصیل ورسره موافق شی "و لما سبق من التحقیق" دا دفع د یو بل سوال ده هغه داچه د دا تعریف د اسم صحیح نه د ے څکه چه دا جامع نه د ے او بناء په دی باندی د حرف

تعریف هم نه دے صحیح ولې چه هغه مانع نه دے او په تعریف کښې د جامعیة او مانعیة نه لاپدې ده او د اسم تعریف ځکه جامع نه دے چه اسماء لازم الاضافة ترې نه خارج دي لکه "ذو" شو ځکه دا ضم د کلمه اخرې ته په دلالت علی معنی فی نفسه کښې محتاج دے او دا اسماء په تعریف د حرف کښې داخل شول نو هغه داسې مانع نه شو او په د ی اسماء باندې د حرف تعریف صادق شو چه ضم د کلمه اخرې ته دا محتاج دی.

جواب: د اسم تعریف جامع دے او د حرف تعریف مانع دے ځکه مونږ خبره د وضع کوو چه دا اسم نه په معنی مستقله دلالت کوی په اعتبار د وضع سره او حرف نه دلالت نه کوی په معنی مستقل په اعتبار د وضع سره نو دا اسماءلازم الاضافة په اعتبار د وضع سره ضم د کلمه اخرې ته محتاج نه دي په دلالت کولو کښې په خپل نفس باندې نو داسم ه تعریف کښې باقی دی او د حرف په تعریف کښې داخل نه دی او دالازم الاضافة چه ګرځیدلې دی نو دا په اعتبار د استعمال سره دی نو قانون خو دادے چه اعتبار وضع د واضع لره دے نه استعمال د مستعمل لره "لزمها تعقل" ، لازم دے ددی سره تصور کول د متعلقاتو ددی اجمالا او تبعا چه دا د استقلال سره منافی نه دے "لکن لما جرت" دلته دا "لکن" راغلی دے او دا دپاره د دفع د توهم وی چه دا شی وی د کلام سابق نه اوس دلته داوهم پیدا شو چه هر کله دا اسماء واضع وضع کړی دی د مفهومات کلیة دپاره او مستقل بالمفهومیة دی نو بیا پکار ده چه دا بغیر د مضاف الیه نه مستعمل وی او لازم الاضافة نه وی نو دا وهم د لاکن سره دفع کوی چه بس دی باندې عادت جاری دے نو ځکه لازم الاضافة شول او چه مضاف الیه ددی ذکر نه شی نو غرض نه حاصلیږی نو دپاره د فهم د معنی مرادی وی نه دپاره د فهم د اصل معنی چه ګنی د اسم تعریف جامع نه شی او د حرف تعریف مانع نه شی

(ولما کان الفعل دالا علی معنی فی نفسه) اجمالی خبرې (۱) ربط (۲) غرض د شارح ددی عبارة نه.

ربط:نو ربط دادے چه د اسم د تعریف دپاره دوه حصې وی یوه "مادل علی معنی فی نفسه" دویمه "غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة" بیا دا اوله حصه په پنځو حصو باندې مشتمله وه یو ه حصه ترقال المصنف پورې د تعریف د اسم نه دویمه تر محصوله پورې دریمه د تر الحاصل پورې څلورمه تر دې مقام پورې نو اوس ددی مقام نه پنځمه حصه شروع شوه فقال :ولما

(غرض د شارح ددی عبارت نه): نو اغراض د شارح ددی عبارت نه دری دی (۱) روستو متن چه را روان دے هغی ته تمهید اینبودل (۲) او د را روان متن د "ما" قبل سره ربط بیانول (۳) دفع د اعتراض کول دا اول دوه خبرې واضح دی او اعتراض دادے چه تا د اسم په تعریف کښ

اوی "ما دل علی معنی فی نفسه" نو دا معنی خویه دری قسمه ده یو مطابقی دویم تضمنی دریم التزامی نو دلته ستا کومه معنی مراد ده په هر یو باندی سوال راځی په دی شان سره چه که معنی مطابقی شی نو د حرف سره فعل هم خارج شو ځکه د فعل معنی مطابقی نه ده مستقل فعل دپاره معنی مطابقی دری اشیاء دی . (۱) نسبة (۲) حدث (۳) زمان نو دا حدث اوزمان پکښ مستقل دی او دا نسبة غیر مستقل او قانون خو دا دے چه مرکب د مستقل او غیر مستقل نه غیر مستقل وی نو فعل غیر مستقل شو نو خارج شو نو بیا دا "غیر مقترن" قید ذکر کول مستدرك دی ولی چه داته دپاره د اخراج د فعل ذکر کوی او که مراد د معنی نه معنی تضمنی وی نو معنی تضمنی معنی داده چه دلالت د لفظ په جزء د معنی موضوع له نو بناء په دی باندی هغه اسماء خارج شو د تعریف د اسم نه چه هغه اسماء بسیطه دی یعنی دیو معنی دپاره وضع دی نه دپاره د معنی مرکب چه ته تری نه یو جزء داخلی نو اسماء بسیطه خو مستقل دی او دا خارج شو اوکه مراد معنی التزامی وی نو دا خو په تعریفاتو کښ مهجوره ده نو چه دامراد شی نو لازم به شی اشتمال د تعریف په شناعة باندی او که مطلق معنی تری نه مرد شی نو د مطلق دپاره خو وجود نه وی مگر په ضمن د افرادو کښ نو دلته دی دپاره دا دری افراد دی نو چه کوم فرد اخلی نو بیا هغه اعتراض راځی چه کوم په هغه فرد باندی مستقل راتلو نو شارح ددی اعتراض جواب کوی حاصل دادے چه زما مراد د معنی نه په "مادل علی معنی فی نفسه" کښ مطلق معنی مراده ده، نو دا بیا عامه ده که مطابقی وی او که تضمنی علاوه د التزامی نه نو داسم معنی مطابقی او تضمنی دواړه مستقل دی او د فعل معنی تضمنی مستقل ده نوپه معنی فی نفسه سره فعل نه خارجیږی بلکه یو قید پکار دے او هغه هم دا غیر مقترن قید دے .

سوال: نو هغه اعتراضات چه په مقید باندی واردیږی نو هغه به دلته هم مراد دی.

جواب: کوم اعتراضات چه په مقید سره واردیدل نودلیه اعتبار د وجود سره وو او دلته زمونږ مراد په مطلق معنی کښ په اعتبار د دلالت سره دی نه په اعتبار د وجود سره شارح هم وائی چه وبما کان الفعل الخ دا عبارة د "ما" بعد متن دپاره تمهید هم دے او دما بعد متن دپاره ربط هم شو د "ما" قبل سره "غیر مقترن باحد الازمنة" کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل د اوله حصه د تعریف نه چه مشتمله وه په پنځو حصو باندی نو شروع ئ اوکړه په تفصیل د دویمه حصه د تعریف نو قال: "غیر مقترن" اوس ددی حصه تشریح ده، ربط لفظی دادے چه دا غیر خو یا مجرور دے ځکه دا صفة دے دپاره د "معنی" او معنی مجرور نو داهم مجرور شو او یا خو دا "غیر" منصوب دے نو بیا دا حال دے دغه "معنی" نه اویا خو دا "غیر" مرفوع دے نو دایا خبر دے دپاره د مبتداء محذوف چه "هو" غیر مقترن الخ او یا به دا غیر بعد الخبر شی دپاه د الاسم مبتداء.

دا تشریح شوه د لفظ د غیر الازمنه الثلاثه دا ترکیب توصیفی دے.

سوال: حال د ترکیب توصیفی پشان د حال د ترکیب اضاق دے او قانون په ترکیب اضاق د اعدادو کښ دادے چه هر کله دا عد داقل وو نو دا معدود که مذکر وو نو عدد به ورته مونث کیږی او که دا معدود مونث وو نو دا عدد به ورته مذکر کیږی لکه ثلاثة رجال او ثلاث نسوة نویه دی مقام کښ الازمنه مونث دے نو الثلاث مذکر پکار وو نه الثلاثة مونث.

جواب: او حال د ترکیب توصیفی پشان د حال د ترکیب اضاق دے چه کله معدود مذکر نو عدد مونث او که عکس نو عکس خو دا به په اعتبار د مفرد د معدود سره وی چه مفرد مذکر وی نو عدد به مونث وی او که مفرد مونث وی نو عدد به مذکر وی اوس په دی مقام کښ دا ازمنة دپاره مفرد زمان دے او دا مذکر دے نو عدد مونث صحیح دے چه "الثلاثة" دے ای غیر مقترن مع الخ غرض د شارح په دی عبارت سره یو د باء تعین کوی چه داپه معنی د مع سره ده او دویم دفع د وهم کوی چه دا باء به دپارهد سببیة وی ځکه د ا معنی د بناء دپاره دیره راځی نو ناء په دی بانذی خو دا معنی غلطه او مهمله ګرځی نو شارح دا وهم دفع کړو چه باء په معنی د مع ده.

سوال: باء په معنی د مع سره ګرځول مجاز دے نو قرینة څه ده؟

جواب: د اباء صله د اقتران واقع شوی ده او اقتران دلالت په معیة باندی کوی.

(فی الفهم عن لفظة الدال علیه) ددی قیوداتو تفصیل په وجه د حصر کښ تیر شوی دے. "فهو صفة" غرض د شارح د "غیر مقترن" دپاره اعراب ذکر کول دی.

(تشریح د مجموعه): په دی عنوان کښ دوه خبرې دی (۱) فوائد د قیوداتو چه په تعریف د اسم کښ دی (۲) دفع د بعض اعتراضاتو چه واردیږی په تعریف اسم اول تعریف کښ فوائد د قیودات نو شارح واقی: "فالصفة" حاصل دادے "ما" دل خویه منزله د جنس دے او صفة اول چه فی نفسه دے دی سره حرف خارج شو او صفة ثانی چه غیر مقترن دے دی سره فعل خارج شو.

دویم دفع د اعتراضاتو وارده وو په تعریف د اسم باندي نو شارح واقی: "او المراد بعدم الاقتران".

سوال: دادا چه کوم تعریف د اسم اوکړو نو دا صحیح نه د ے ځکه دا جامع او مانع نه دے او کوم تعریف چه جامع مانع نه وی نو هغه صحیح نه وی نو داهم صحیح نه شو اوس تعریف داسم جامع نه دے ځکه خارج شول تری نه اسماء الافعال داخو اسماء دی او تعریف د اسم پری صادق نه دے ځکه هغه مقترن دی د احد الازمنه سره ځکه دغه یاپه په معنی د ماضی او یا امر وی او مانع ځکه نه شو چه داخل شول پکښ افعال منسلخه ځکه دا غیر مقترن دی زمانه تری نه لرے شوی وی

جواب: شارح کوی حاصل دادے چه دا تعریف هم جامع دے او هم مانع دے ځکه داپه اعتبار دوضع اول سره دی نو اوس اسماء الافعال چه واضع وضع کول نو دی کښ زمانه نه وه بلکه دا روستو د وجې د استعمال نه راغلی ده او دغه شان افعال منسلخه هم دی چه واضع وضع کول نو زمانه پکښ وه روستو تری نه د زمانی انسلاخ شوی دے د وجه د استعمال نه او قانون دادے چه اعتبار وضع دا واضع لره وی نه استعمال د مستعمل لره "بحسب الوضع الاول" دا اول قید د وضع سره ځکه لګوی چه دا استعمال هم وضع ده خو ثانی ده نه اول "لان جميعها اما منقولة عن المصادر الاصلية" غرض د شارح په دی عبارت سره یو دلیل ذکر کول دی چه دا ځنګه اسماء دی او دویم دفع د سوال ده چه هر کله په دی کښ زمانه ده نو تاسو ورته اسماء ولی وائی افعال ورته او وائی کنه او که زمانه پکښ نه وی نو بیا ورته خالص اسماء او وائی نه اسماء الافعال.

جواب: خالص افعال ورته ځکه نشم وئیلی چه دا د افعال په وزن باندی نه دی نو داپه خو اقسامو باندی دی او چه موثر دی ته اوګورو نو دیووزن هم د فعل نه دے او خالص اسماء ورته ځکه نه وایو چه په اعتبار د استعمال سره پکښ زمانه شته دے او په معنی د فعل باندی هم راځی نو موثر د وضع اول او وضع ثانی لحاظ اوکړو او اسماء الافعال مو ورته اوی د وجه د عدل او انصاف نه.

بیا دا اسماء الافعال په څلور قسمه دی اول مصادر اصلیه مقصد دادے چه په اصل کښ دا مصادر وی او روستو نقل شی بیا دا نقل په دوه قسمه دے یو نقل صریحی چه هغه مصادر په خپله معنی مصدری باندی مستعمل وی لکه "روید" دا اسم فعل دے او داپه اصل کښ مصدر دے او دانقل صریحی دے ځکه دا مستعمل دے قال تعالی: فمهل الکافرین امهلهم رويدا شو او دویم چه نقل کښ صریحی نه وی بلکه غیر صریحی وی لکه "هیهات" شو دا اسم فعل دے او دا مصدر نه د ے مستعمل بلکه مصدریة ددی داسی معلومیږی چه داپه وزن د قوقات راځی او قوقات مصدر دے د قوقی نه او د قوقی معنی داده چه کله چرګه انډا واچوی او بیا اواز کوی ثانی چه په اصل کښ اصوات وی او بیا مصادر شی لکه "صه" دا صه صوت دے خو دا بیا په معنی دسکوت مصدر سره شو او بیا داپه معنی دا سکت سره شو.ثالث هغه دی چه ظرف وی لکه "امامك" شو دا ظرف دے او بیا په معنی قدم یا تقدم شو دے رابع چه جار مجرور وی لکه "علیك" دا جار مجرور دے بیا په معنی د الزم شو "لیس شئ منها" دا حاصل بیانوی چه په دی څلورو اقسامو کښ دایو هم دال علی الزمان نه دی نو غیر مقترن شول نوپه تعریف د اسم کښ داخل دی نه خارج. و "خرج عنه المضارع" دا دفع د بل سوال ده چه ستا دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکښ فعل مضارع ځکه تاخو اوی چه دیوے زمانی سره به مقترن نه وی او په فعل مضارع کښ خو دوه زمانی دی یو پکښ نشته دے

جواب: منعا نه منو: فعل مضارع کښې یوه زمانه ده دوه زمانې پکښې نشته ځکه دادویمه زمانه پکښې مجازًا ده حقیقةً پکښې هم دایوه زمانه ده او زمونږ مراد خو د زمانې نه حقیقةً ده نه مجازًا .

والجواب: تسلیما که دواړه زمانې پکښې موجود شي نوپه ضمن د دوو زمانو کښې ضمنا یوه زمانه شته دے نو هغه فعل چه پکښې یوه زمانه وی نو هغه په تعریف د اسم کښې داخل نه دے نو چه په کوم فعل کښې دوه زمانې وی دا خو په طریقه اولی سره نه دے داخل خارج دے "اذ "لا" یقدح" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د سوال ده چه هر کله تا دا مضارع مشترکه او گرزوله په درمیان د حال او استقبال کښې او تا اوی داپه دې دواړو باندې دلالت کوی نو داخو لازم شی [illegible] اراده [illegible] دیو لفظ نه په یو وخت کښې او دا عموم مشترك دے چه ناروا دے.

جواب: یو اراده ده او دویم دلالت دے یعنی یو اراده د دوو زمانو ده دیو لفظ نه په یو وخت کښې او دویم دلالت دیو لفظ دے په دوو زمانو باندې په یو وخت کښې نو دلته دا اول چه اراده کول دی نو دا ناروا ده خو دا زما مراد نه د ے او دا دویم چه دلالت کول دی نو د زما مراد دے خو دا ناروانه دے بے شك یو لفظ په دوو زمانو باندې په یو وخت کښې دلالت کولی شی ځکه که داسی نه شی نو الفا ظ مشترکه به د عالم نه خارج وی.

ترجمه: "اذ "لا" یقدح" ځکه منع نشته دے "نعم یقدح" او منع شته دے.

سوال: څه وجه ده چه دلالت کولے شی او اراده نشی راتلی خو چه یو ترې نه اراده کیږی نو دا دویمه دی هم مراد شی کنه؟

جواب: "و أین الدلالة "حاصل دادے چه نشی کیدلے چرته هم ځکه دلالت صفة د لفظ واقع کیږی او اراده صفة د متکلم واقع کیږی او د متکلم ذهن بسیط دے په ان واحده کښې توجه نه شی کولے دیو معنی نه زیاتو معانیو ته

(ومن خواصه دخول اللام) اجمالی خبری د دی مقام (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) مقصد د دی عبارت (۳) مقدار د هغه خواص چه ماتن ئی دلته ذکر کوی مع التعیین (٤) وجه د حصر په هغه خواصو کښې (٥) تشریح د عبارت د ماتن .

(ربط): (۱)ربط معنوی دادے چه لما فرغ الخ چه هر کله فارغ شو د تعریف د اسم نه نو په خواص د اسم کښې شروع اوکړم بیا دلته شارح لفظ د "اراد" اوی او د "ذکر" یا "کتب" ئی اونه وی دا ځکه چه فراغة د یو بحث نه مستلزم نه دے شروع لره په بحث کښې ځکه عادت په دی باندې جاری دے چه کله یو بحث ختم شی نو بیا خلق لږ استراحة او ارام کوی او بیا

په بل بحث کښې شروع کوی نو که ذکر ئې وشیلی وی نو چا به داوهم چه دا بحث د خواص ئې دی بحث پسې متصل شروع کړی دے حالانکه دا ضروری نه دہ. نعم اراده ئې د بل بحث وی نو ځکه ئې اراد اوی.

سوال: ذکر کول د خواص پس د تعریف د اسم نه صحیح نه دی ځکه دا اشتغال دے په غیر مقصود باندې او اشتغال په غیر مقصود باندې ناروا وی نو دا شروع په خواص الاسم هم صحیح نه ده. دا خبره خو واضح ده چه اشتغال په غیر مقصود ناروا دےدے ځکه دا عبث کار دے او "کل عبث حرام" خو دلته په غیر مقصود داسې اشتغال دے چه مقصد خو بحث دے د احوال د موضوع نه چه کون د دی موضوع ےد مرفوع یا معرب یا مبنی وغیره مرهٔ: دا تعریف د اسم هم غیر مقصود وو خو د امونږ د مجبورئ د وجه نه اوکړو هغه هم دا خبره ده چه یو شئ لرهٔ یو حال ثابتیږی نو دهغه شئ معرفة ضروری دے نو ځکه مونږ د اسم تعریف اوکړو خو دا خواص مکمل غیر مقصود دی.

جواب:"لیفید" دا دپاره د افادی ذکر کیږی چه اسم ښه او پیژندی شی تفصیل دادے چه دا خواص تتمه دہ د تعریف د اسم او اسم خو موقوف علیه وو دپاره د عوارض چه کلمه ته عارض کیږی نو دا خواص هم موقوف علیه شول نو دا اشتغال شو په موقوف علیه باندې او اشتغال په موقوف علیه باندې اشتغال په مقصود بناندی وی. (۲)او داسې ربط هم کیدلے شی چه دهر شئ دپاره دوه وجوده وی یو وجود ذهنی دویم وجود خارجی نو په تعریف د اسم سره وجود ذهنی معلوم شو اوس په خواص سره وجود خارجی معلوموی ځکه په تقسیم او خواص سره وجود خارجی معلومیږی او دا ځکه چه په تعریف سره لحاظ د ازکیاء او ساتلو او په خواس سره لحاظ د غیر ازکیاء ځکه د دواړو رعایة او لحاظ کول ضروری دی.

(۳)او داسې ربط هم کیدلے شی چه کتاب په دری حصو باندې مشتمل وو دوه حصې ختمے شوی او په دریمه حصه کښې شروع شوی ده چه هغه مقصود دے بیا دی مقصود کښې مباحث ثلاثه وو بحث الاسم بحث الفعل و بحث الحرف او په بحث الاسم کښې یوه مقدمه دویم مقصود دریمه خاتمه وه او بیا په مقدمه کښې دری خبری وی یو تعریف د اسم دویم خواص د اسم دریم تقسیم د اسم قسمین ته اجمالا نو ربط داشو چه کله فارغ شو مصنف دیوی خبری د مقدمه د بحث الاسم نه چه تعریف د اسم وو نو شروع ئې اوکړه په دویمه خبره د مقدمه د بحث الاسم کښې چه خواص د اسم دی "فقال ومن خواصه".

(ربط لفظی):دادے چه "واو" یا عاطفه یا استینافیه "من خواصه" په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم او "دخول اللام الخ" مبتداء موخر نو خبر مقدم او مبتداء موخره جمله خبریه اسمیه معطوفه یا استینافیة بیا چه مستانفه شی نو دا د سوال په جواب کښې وی نو گویا چه سائل سوال اوکړو چه "ما" دل الخ خو تعریف د اسم دے او وجود ذهنی پری معلوم شو خو د

وجود خارجي د معلومولو دپاره څه خواص شته دے او که نو مصنف جواب اوکړو چه او شته دے څه بعض پکښ دادی ومن خواصه .

(مقصد د دی عبارت):نو مقصد د عبارت دادے چه کلام دوو کلمو نه په جوړوی او زیات مقدار دپاره څه حد نشته دے نو چه هر کله یو کلام ډیر اوږدوی نوپه هغه کلام کښ به اسم، فعل او حرف درې وارړه وی نو دا اشکال پیدا کیږی چه اسم به پکښ کوم وی او فعل به کوم وی التباس راځی نو دپاره د ازاله د دغه اشکال دلته مصنف خواص بیانوی چه بیا به په هغه خواص او علاماتو سره مونږ یو پیژندلے شی بیا دلته ئی پنځه لوی لوی علامات بیان کړی دی نو مونږ په کلمه ته اوګورو که پری الف لام تعریفی یا په اول کښ پری حرف جر داخل وو او یا دهغی سره تنوین ملحق وی او یا دی کلمه کښ اضافة او یا اسناد وو نو بس د کلمه اسم دے نه فعل او حرف ځکه دایه فعل او حرف کښ نه راځی.

(مقدار د هغه علاماتو مذکورو): نو مصنف په دی مقام کښ پنځه علامات بیان کړی دی یو دخول د لام التعریف دویم دخول د حرف جر دریم لحوق د تنوین څلورم اضافة او پنځم اسناد.

(وجه د حصر په دی اقسامو خمسو کښ): نو دا خواص به خالی نه وی یا به لفظی وی او یا به معنوی که لفظی وی نو بیا به خالی نه وی یا به په اول کښ راځی ددی کلمه او یا په اخر کښ که په اول کښ راتلو نو دا الف لام تعریفی او که اخر کښ راتلو نو بیا به خالی نه وی یا به دا حرکت وی او یا تابع د حرکت که حرکت وو نو جر او که تابع د حرکت وو نو تنوین او که دا خواص معنوی وو نو بیا به خالی نه وی یا به دا نسبة ددی چه دے نو یا به دا تام وی او یا به دا ناقص که دا نسبة بین الکلمتین تام وو نو دا اسناد او که ناقص وو نو دا اضافة بیا مصنف دا لفظی علامات په معنوی باندی مقدم کړی دی ځکه دا علم د نحو دے او منظو ر النظر بالاصالة پکښ بحث دے د الفاظو نه نه د معانیو نه او بیا په لفظی علاماتو کښ الف لام مقدم کړو ځکه دایه اول کښ راځی او بیا جر ئی په تنوین باندی مقدم کړو ځکه دا اصل دے او تنوین تابع دے نو اصل مقدم وی طبعا نو وضعا هم مقدم شو چه وضع د طبع سره موافق شی.

بیا په اضافة او اسناد کښ نسخے مختلف دی په بعض کښ اضافة مقدم دے ا بعض کښ اسناد مقدم دے نوپه کومو نسخو کښ چه اضافة مقدم دے نو دا د وجې د کثرة الاستعمال نه ځکه اضافة ډیر مستعمل دے او چه کومو نسخ کښ اسناد مقدم دے نو دا د وجه د اصالة نه ځکه اسناد اصل دے.

(تشریح د اجزاء د عبارت):اول لفظ واو دے د دی تفصیل اوشو دویم لفظ "من" دے دریم خواص څلورم دا ضمیر مجرور په خواصه کښ.

... د من داده چه شارح وائی د دپاره د تبعیض دے.

(تشریح په خواص کښ) نو دلته یو صیغه د خواص دویم معنی لغوی دریم اصطلاحی معنی څلورم فرق په درمیان د علامة خاصة او تعریف کښ پنځم اقسام د خاصه.

صیغه د خواص نو شارح وائی: چه "وهی جمع خاصة" نو دا د جمع صیغه ده بیا جمع په اعتبار د معنی سره دوه قسمه ده (۱) جمع قلة چه د لسو نه په کم دلالت کوی (۲) جمع کثرت چه په لسو په په بره دلالت کوی اودا جمع کثرة ده.

سوال: نو چه دا د جمع کثرة صیغه ده نو پکار ده چه دا خواص د لسونه زیات وی او دلته خو دا لس هم نه دی بلکه پنځه دی نو څنګه مصنف جمع کثرة راوړی ده؟

جواب: "منها بصیغة جمع الکثرة" حاصل دا دے چه ماتن جمع کثرة څکه راوړه څکه دا ماتن ... ورکوی په دی خبرو باندی چه دا خواص په نفس الامر کښ ډیر زیات دی هم دا وجه ده چه بعضو نحاة لکه شرح ابن عقیل شو دوی ډیرش پوری بیان کړی دے دغه شان مغنی اللبیب شو او دغه شان په هدایة النحو کښ هم لس دی.

سوال: نو چه دا خواص ډیر وو نو مصنف دلته ولی بعض ذکر کوی او بعض نه کار ده چه ټول ئی ذکر کړی وی او یا ټول ئی نه وی ذکر کړی.

جواب: "و من التبعیضیه علی ان "ما" ذکره" حاصل دا دے چه نه ټول ذکر کوی او نه ټول پریږدی بلکه بعض ذکر کوی.

سوال: نو دلته خو ټولو څلور احتمالات دی ماتن پکښې یو احتمال ولی مختاره کړو هغه څلور احتمالات دا چه یو دادے چه ټول ئی ذکر کړی وی دویم دادے چه ټول ئی پریښودلی وی د ریم چه کوم مذکور دی دائی پریښودی وی او چه کوم غیر مذکور دی نو هغه ئی ذکر کړی وی څلورم چه داکوم صورة او احتمال ئی مختاره او معمول ګرځولے دے؟

جواب: که یوهم نه ذکر کوی نو د غیر ازکیاء لحاظ او رعایة نه راځی او که ټول ذکر کوی نو طوالة راځی نو بعض په ذکر کوی او بعض نه نو چه کوم ذکر دی نو دا خواص معظم: مکبره دی ددی ذکر کول ضروری وو او پریښودل ئی جائز نه وو او چه کوم غیر مذکور دی نو هغه معظمه مکبره نه دی نو هغه ئی پریښودلے دی او دا څنګه معظمه مکبره دی؟ نو دا څکه چه دلته لام ذکر دے نو دی نه مراد لام تعریف دے اوس داهر هغه ته شامل دے چه هغې سره تعریف حاصلیږی که علمیت وی که ضمیر وی که په موصول سره وی وغیره په خلاف ددی نور چه هغه دی ته نه شاملیږی دغه شان جرهم دے ټولو حروف جاره ته شامل شو تنوین هم په ډیر اقسام دے دغه شان اسادے او اضافة هم دے "معنی لغوی د خاصة" نو

خاصه د خصوص نه ماخوذ ده او خصوص په معنی د عدم شمول راځي يعنى خصوص دے د شمول.

(معنی اصطلاحی):د خاصه نو شارح وائي "وخاصة الشئ الخ" اصل کښې دلته مختلف اصطلاحات دي نو په اصطلاح د اصولو کښې خاص: "لفظ وضع لمعنى معلوم او لمسمى معلوم على الانفراد" او په اصطلاح د مناطقه کښې کلي مقول في جواب اى شئ هو في ذاته او په اصطلاح د نحاة کښې دا شوه چه "ما يوجد فيه الخ"

سوال: دا تعريف چه تاسو "ما" يختص الخ سره اوکړو نو د خصوص معنى داده چه "ما" يوجد فيه ولا يوجد في غيره نو د "لا" يوجد ذکر کول پس د يختص نه مستدرك دي.

جواب: اصل کښې دلته يختص کښې دوه اجزاء وو ايجابي او سلبی نو شارح دا جزأ سلبی صرف ذکر کړو نو دا تصريح بما عُلم ضمنا ده او دا مستدرك نه وی بيا د يختص معنى به صرف يوجد فيه وی ځکه چه هر کله يو خاص په مقابله دعام کښې راشی نو دا ديو بل نه مغائر وی يعنى مراد به د دی عام نه غير ددغه خاص وی "فرق په درميان د خاصه، علامه او تعريف" نو عند البعض په درميان د خاصة او علامة کښې څه فرق نشته دے او عند البعض په درميان د خاصة او علامة کښې فرق دے هم تعريفا او هم مصداقا نو تعريف کښې فرق داده چه خاصة "ما يوجد فيه" الخ او "علامه "ما" يدل على وجود الشئ ولا ينفك عنه" او مصداقا فرق دادے چه خاصه عام ده که وجود د شئ پکښې وی او که نه او علامه خاص ده چه وجود د شئ په ورسره وی او دا به پری دلالت کوی.

او فرق په درميان د تعريف ، خاصه او علامه کښې دا دے چه تعريف کښې جامعية او مانعية شرط نه دے او په تعريف کښې جامعية مانعية شرط دے مثلا په تعريف کښې مونږ وئيلی شو چه هره کلمه چه دلالت کوی په معنی في نفسه او غير مقترن باحد الازمنة وی نو دا به اسم وی او چه داسی نه وی نو دا به اسم نه وی خو داسی په خاصه او علامه کښې نشو وئيلی چه هر هغه کلمه چه پکښې لام تعريف وی نو دا اسم دے خو که چرته لام تعريف پکښې نه وی نو دا اسم نه دے دا قول صحيح نه دے ولی چه اسم اشاره به وی چه دا اسم دے بغير لام نه.

(اقسام د خاصه) : نو شارح دا ذکر کړی دی "وهی اما شاملة" الخ حاصل دادے چه د خاصه دپاره دوه اقسام دی يوخاصة شاملة چه هغه په ټولو افرادو خپلو کښې وی لکه کتابة بالقوة د پاره د انسان اوس هر فرد د انسان صلاحت د کتابة بالقوة لری که په هر شکل دے. دويم خاصة غير شامله چه هغه خپلو ټولو افرادو ته شامل نه وی لکه کتابة بالفعل دپاره د انسان چه دا د هغه دپاره خاصه ده چه هغه ليکل زده کړی وی دی سره دفع د سوال هم اوشوه چه

تا د خاصه تعریف اوکړو چه "مایوجد فیه" الخ نو دلام تعریف خوپه ډیرو اسماء کښې نه راځی دا څنګه خاصه ده لکه ضمائر شو اسماء موصولات وغیره.

جواب: دا خاصة ده خو دا خاصة غیر شاملة ده نه شاملة "فمن خواص الاسم" دا شارح ربط لفظی بیانوی "د خول اللام" دپاره د سهولة یو څو اجمالی خبری ضروری دی. (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) مقصد د عبارت (۳) تشریح د عبارة (٤) وجه د تخصیص د لام تعریف د اسم سره (٥) تعیین کول چه دا خاصة شاملة ده اوکه غیر شاملة ده (٦) مثال د دې دپاره.

(ربط): معنوی ربط دادے چه هر کله فارغ شو مصنف د اجمال د خواص نه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل دهغه خواص کښې نو درے سوالات معهود راغلل جوابات بالترتیب دادی چه نفس تفصیل خکه کوی چه تفصیل بعد الإجمال أوقع فی الذهن وی او تفصیل ته محتاج دے نو خکه ورله تفصیل کوی او بیا په تفصیل کښې لام مقدم کړو خکه دا لفظی دے او منظور النظر بالاصالة نحو کښې بحث د[illegible] لفظی وورخکه مقدم کړو او بیا لام ئې په دی نور مقدم کړو خکه لام په اول کښې راځی او په اول کښې ذکر کړو چه قول د فعل سره موافق شی او تفصیل به داسې کوی چه اول به [illegible] د خواص لفظیة اوکړی او بیا به تفصیا د خواص معنویة.

ربط لفظی:دخول اللام مبتدء موخر او من خواصه خبر مقدم او جمله اسمیه شوه.

(مقصد د عبارت):نو مقصد د عبارت دادے چه هر کله په یو کلمه باندی لام تعریفی داخل شوی وو نو دا اسم دے نه فعل او حرف.

(تشریح د عبارت):.نو ماتن "دخول اللام" اوی او شارح اوی-"لام التعریف" نو دا اشاره کوی دی خبری ته چه الف لام په اللام کښې عوضی دے اصل کښې دخول لام التعریف دے خو بیا په قطع د ترکیب اضاف سره مضاف الیه حذف شو نو الف لام په عوض [illegible] اشاره دی ته ده چه الف لام په "اللام" کښې عهدی دی معهود لام التعریف دے او په دی عبارت سره دفع د سوال هم اوشوه هغه داچه تا اوی لام خاصه د إسم ده نو مونږ به درته اوښایم چه لام به پری داخل وی او بیا به هم اسم نه وی لکه "لیضرب". "ایضرب" لام پری داخل دے او بیا هم دا اسماء نه دی بلکه دا خو افعال دی.

جواب: شارح اوکړو چه هر قسم لام نه دے مراد بلکه لام تعریفی او دلته یو لام تاکیدی دے او دویم لام امر دے "ولو قال دخول حرف التعریف" غرض د شارح په دی عبارت سره اشاره ده اعتراض ته چه مصنف اره پکار دی چه دخول حرف التعریف ئې وئیلی وی نو دابه ډیر اولی وو څکه هغه "میم" چه تعریفی دے هغی ته به هم شامل شوی وی لکه د نبی کریم علیه السلام دا قول دے هغه کس ته چه هغه تپوس اوکړو چه امن امبراصیام فی امسفر؟ نو نبی

عليه السلام ورته اوئ: لس من امبر مصيام فى امسفر او دا جواب نبى عليه السلام دهغه په لهجة كښ وركړو معجزةخادمة الكافية كښ وائى نبى عليه السلام ته يو كس راغئ او قال كم من كم فى كم على كم"؟ نو نبى عليه السلام ورته جواب اوكړو چه "اثنان من اثنين فى اثنين على اثنين" يعنى فرض او واجب دالله او د رسول ته په ليل او نهار كښ په جن او انس باندى لم يتعرض" دى سره اشاره كوى جواب ددى اعتراض ته شامل دادے چه مونږ مشهور ذكر كړو او دا ميم غير مشهور دے (۲) دى قول كښ دا ميم بدل دے د لام نه

﴿و فى اختياره اللام اشارة الى ان المختار عنده "ما" ذهب اليه سيبويه.﴾

تشريح د عبارت شروع ده دى مقام نه تشريح د باقى مانده عبارت كوى فقال "و فى اختياره" بيا غرض د شارح په دى عبارت سره دفع د اعتراض ده.

اعتراض دا دے چه علامه د اسم الف او لام دواړه دى نو ماتن لره پكار وو چه د خول الالف و اللام تى وئيلى وى نو څه وجه ده چه نسبة ئى صرف لام ته اوكړو.

جواب: حاصل دادے چه په دى مسئله كښ اختلاف دے چه الف يا لام يا دواړه خاصه د اسم ده ؟ نو درى مذاهب دى پكښ يو مذهب د سيبويه دے دويم مذهب د خليل دے دريم مذهب د مبرد دے. مذهب د سيبويه دادے چه علامه د اسم دا "لام التعريف" دے فقط دليل دا بيانوى چه دا"لام التعريف" مقابل واقع كيږى د"نون التنكير" او د تنكير دپاره علامه فقط دا نون دے نو مونږ به د تعريف دپاره هم علامه صرف دا لام ګرځو دپاره ددى چه زيادة د حرف التعريف را شى په حرف التنكير باندى.

مذهب د خليل دادے چه علامه د اسم دپاره الف لام دواړه دى دليل دا بيانوى چه دا تعريف ضدد تشكيك راځى او د تشكيك دپاره هل راځى چه دوه حرفه دے نو دابه دوه حرفه وى دى دپاره چه كم والى رانشى د حرف التعريف د حرف التشكيك نه.

مذهب د مبرد دادے چه، علامه د اسم فقط همزه ده دليل دا بيانوى چه دا د پاره د تعريف راځى چه دا ضد د تشكيك دےچه هغه استفهام او د استفهام دپاره اصل همزه راځى چه هغه يو حرف دے نو دابه هم يو حرف وى څكه چه زيادة د حرف التعريف رانشى په حرف الاستفهام باندى.

بيا په سيبويه باندى سوال راځى چه علامه كله لام دے نو دا همزه چه كوى ابتداء كښے

جواب: كوى چه دا دپاره ددى راوړو چه ابتداء بالساكن رانشى څكه ابتداء بالساكن تاروا او غير متصوره ده .

سوال: نو ددی دپاره دی دا همزه ولی متعین کړو بل حرف ولی نه راوړی.

جواب: د حروفو ابتداء د حروف حلقیونه ده اوپه هغی کښ بیا همزه دے اولاً او ابتداء نو په ابتداء ابتداء کښ دیو بل سره د مناسبة ساتلو د وجه نه می تعین د همزه اوکړو او په مبرد باندی دا سوال راځی چه هر کله علامه دا همزه ده نو دالام څه کوی؟ جواب کوی چه دالام څکه راوړم چه په درمیان د همزه د تعریف او همزه د استفهام کښ التباس رانه شی نو حاصل دادے چه دری مذاهب وو پکښ او ماتن ته د سیبویه مذهب مختاره وو نو دخول اللام ئی اوی.

سوال: ماتن د سیبوین مذهب ولی مختاره کړو؟

جواب: دانور مذاهب ضعیف دی په دی شان سره چه د مبرد په مذهب باندی ټوله علامة ساقطیږی او د خلیل په مذهب باندی جزء د علامة ساقطیږی په دی شان سره چه دا همزه په درج د کلام کښ ساقطیږی څکه داخو همزه وصلیه ده نو د مبرد په نزد باندی صرف همزه علامه وه نوکل علامه ساقط شوه او د خلیل په نزد علامة الف او لام دوارړه وو نو صرف یو جزء چه همزه ده دا ترې نه ساقط شو او قانون دا اتفاقا دوئ پاس کړی دے چه علامة "لا" تتغیر ولا تتبدل ولا تحذف "لا" کلاً ولا بعضًا نو د خلیل او د مبرد په مذهب سره ددی قانون خلاف اوشو "وجه د تخصیص دلام التعریف د اسم سره" دا شارح بیانوی و انما اختص سره حاصل دادے چه دالام التعریف واضع وضع کړی دے دپاره د تعین د معنی هغه معنی چه مستقل بالمفهومیة وی خویه دی شرط چه په دی معنی باندی دا لفظ مطابقة دلالت کوی اوس د حرف معنی خو غیر مستقل ده او د فعل معنی تضمنی مستقل ده او موږ مطابقی معنی یادوونو دا معنی صرف په اسم کښ ده نو فاختص. "تعیین ددی خاصه چه دا شامله ده که غیر شامله" نو شارح وائی چه و هذه الخاصة لیست شاملة چه دا خاصة غیر شاملة ده.

سوال: تا اوی چه د خول لام التعریف خاصة د اسم ده نو هذا، ذلك او التی اسماء دی او لام التعریف پری نشته دے.

جواب: موږ اوی دا غیر شامله خاصة ده و کذلك. ولی دا ټول خواص چه دی نو دا غیر شاملة دی.

(والجر) اجمالی خبری (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) تشریح د عبارت (٤) وجه د اختصاص ددی خاصه د اسم پوری.

(ربط): معنوی ربط داد ے چه هر کله فارغ شو مصنف دیوی خاصه مکبره معظمه د اسم نه چه دخول لام التعریف وو نو شروع ئی اوکړه په دویمه خاصه معظمه مکبره د اسم کښې چه جر دے فقال: "و الجر".

(ربط لفظی): داد ے چه والجر مجرور دے عطف دے په لام باندی. نو "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد وی په سر د معطوف کښې نو دا هم د خول الجر شو ځکه خو شارح هم وای: "منها دخول الجر" ربط لفظی ته اشاره کوی او منها ئی ځکه رامعاد کړو چه دا دخول اللام خنگه مبتداء موخره وه نو داسی دا دخول الجر هم ده.

(مقصد د عبارت):مقصد د کلام داد ے چه هر کله په کلام د عربو کښې په یوه کلمه باندی جر داخل شوی وی نو دا کلمه به اسم وی نه فعل او نه حرف.

سوال: زه درته یو هم کلمه ښایم چه جر به پری راغلي وی او بیا به هم اسم نه وی لکه قال تعالیٰ: "لم یکن الذین" دلته په یکن باندی جر راغلی دے او دا خو فعل دے.

جواب: په الجر کښې الف لام عهدی دے معهود په دی سره جر اصلی دے او جر اصلی هغه وی چه د وجه د جار نه وی او دلته دا د التقاء ساکنینو د وجه نه.

(تشریح د عبارت):نو اول لفظ "واو" دے دا دپاره د عطف دے بیا شارح "منها" اوی نو دی ته اشاره ده چه دا مبتداء موخره ده او بیا "دخول" ئی اوی دا اشاره کوی چه الجر په اللام باندی عطف دے او د دخول لاندی دے.

سوال: جر خو په اخر د اسم کښې راځی او دخول خویه اول د اسم کښې راځی.

جواب: ذکر د دخول دے او مراد تری نه تصال دے یعنی ذکر د خاص او مراد عام دے یا ذکر د ملزوم او مراد لازم دے بیا اتصال عام داسی دے چه اول کښې هم راځی او اخر کښې هم "الجر" دی کښې الف لام عهدی دے او جر په لغة کښې په معنی د راښکلو او اقضاء سره راځی او مصطلح جر ته هم ځکه جر وائی چه دا د راګاږی معنی د فعل او شبه فعل خپل مدخول ته.

(وجه د تخصیص د جر د اسم سره):نو شارح بیانوی چه و "انما اختص" الخ حاصل داد ے چه داجر اثر د حرف جر دے بیا دا جر عام دے که مذکور وی لکه مررت بزید کښې دا باء شوه او که محذوف وی لکه غلام زید چه داپه اصل کښې غلام لزید دے او حرف جر خو د اسم سره خاص وو نو موثر اثر د حرف جر هم د اسم پورې خاص کړو چه خلاف د اثر راتلو د موثر خپل نه ځکه دا ناروا ده.

او بیا دا حرف جر ځکه د اسم سره خاص دے چه دا حرف جر وضع شوی دپاره د افضاءمعنٰی فعل او شبه فعل مدخول خپل ته نو مدخول دی په یو امر مستقل وی نو حرف خو غیر مستقل دے هغه نه شی واقع کیدلے. او فعل هم نه شی واقع کیدلے ځکه چه بیا افضاء د شئ الی نفسه لازمیږی او دا خو بداهةً ناروا ده.

سوال: تا مخکښ اوی چه موثر جر د اسم سره خاص کړو ځکه ددی موثر د اسم سره خاص دے نو چه په درمیان ددی کښ خلاف رانه شی نو داخو ضروری نه ده چه موثر د څه سره خاص وی نو د هغه اثر به هم د هغی سره خاص وی ځکه دا "لن" ناصبه د فعل مضارع سره خاص دے او اثر ددی نصب دے او دا اثر د دی خو د فعل سره خاص نه دے.

جواب: داکلام په هغه اثر کښ دے چه هغه دیو خاص موثر د وجه نه راځی لکه جر صرف د حرف جر د وجه نه راځی "لا" غیر په خلاف د نصب ځکه دا د لن سره خاص نه دے "و اما الاضافة" عرض د شارح دفع د سوال ده هغه دا چه د تاکوم دلیل د اختصاص ذکر کړو نو دا دلیل د اختصاص صحیح نه دے ځکه دا د دعوی سره موافق نه دے او کوم دلیل چه د دعوی نه مخالف وی نو هغه صحیح نه وی دلته دلیل داسی مخالف دے چه ستا دعوی عامه ده او دلیل خاص دے په دی شان سره چه ته دعوی کوی چه هر جر خاص دے د اسم سره او د دلیل نه هغه جر معلومیږی چه هغه د حرف جر دوجه نه وی نو هغه جر چه د حرف جر د وجه نه نه وی راغلی نو دهغی تخصیص تری نه نه معلومیږی مثلا اضافة لفظی کښ لکه ضاربِ زید کښ زید مجرور دے او نه پکښ حرف جر لفظا شته دے او نه تقدیرا .

جواب: روستو شارح یو جواب کړے دے رابه شی چه په اضافة لفظیة کښ هم تقدیر د حرف جر شته دے (۲) دی مقام کښی جواب کوی چه دا تقدیر د حرف جر عام دے که لفظا وی که تقدیرا وی او که حکما وی په مررت بزید کښ لفظا دے او په اضافة معنویة کښي تقدیرا لفظیة کښي حکماً ځکه اضافة لفظیة نوع داضافة معنویه ده نو اضافة معنویه خو داسم سره خاص دے نو دا اضافة لفظیه هم د اسم سره خاص دے چه چرته خلاف دفرع رانه شی د اصل خپل نه ځکه داناروا ده بیا مخالفة د فرع د اصل نه په دوه ؤ صورتونو کښ وی یو دا چه اصل سره فرع ضد واقع شی لکه دا اضافة معنویه په اسم کښ شی او اضافة لفظیه په فعل کښ شی او دویم صورة دادے چه اصل کښ خصوص وی او فرع کښ عموم راشی نو دواړه صورتونه نا روا دی شارح هم دا خبره کوی. "ینبغی" چه واجب دے "بان یختص" دا شارح اول صورة د مخالفة د فرع بیانوی "او یزاد علیه" دا هغه دویم صورة بیانون بیا دلته دا باء راغلی ده په بان او بان کښ دا باء تصوریه ده صورت بیانوی صورة.

(والتنوین)اجمالی خبری (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) تشریح د عبارت .

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د دوو خواص مکبره معظمه د اسم نه نو شروع ئې اوکړه په دریمه خاصه مکبره معظمه د اسم کښې فقال

ربط لفظی:دادے چه "التنوین" عطف دے په "اللام" باندې تو "ما" قبل دمعطوف علیه نه معاد وی په سر د معطوف کښې "لاو منها دخول" سره هم داخیره بیانوی.

(مقصد عبارت): نو مقصد ع عبارت دادے چه په یو کلمه باندې تنوین وی نو دا اسم دے بیا د تنوین دپاره ډیر اقسام دی و سیاق تفصیلی

تشریح د عبارت: "واو" دپاره د عطف دے "منها" کښې اشاره ده چه دا دخول التنوین مبتداء موخره ده او دخول سره اشاره ده چه دا "التنوین" په "اللام" باندې عطف دے او "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد وی په سر د معطوف کښې او مراد د دخول نه اتصال دے فاندفع الاشکال "التنوین" ددی په تشریح کښې څو خبرې دی اجمالا یو (۱) لغوی تحقیق د تنوین (۲) اصطلاحی تعریف د تنوین (۳) اقسام د تنوین (٤) وجه د تخصیص ددی د اسم سره.

(لغوی تحقیق): یو صیغه نو دا مصدر دے د باب تفعیل نه نَوّن یُنَوّن تنوینا په معنی د جعل الشئ دا نون له والی او مصطلح تنوین هم په اخر کښې یوه کلمة ده نون شوی وی.

(اصطلاحی تعریف): "نون ساکنة تتبع حرکة اخر الکلمة "لا" لتاکید الفعل " نون په منزله د جنس دے هر نون له شامل دے "ساکنة" سره احتراز دهغه نه چه متحرك وی "اخر الکلمة" سره احتراز اوشو د هغه نه چه په درمیان کښې وی او دهغه نه چه د نفس کلمة وی او "لا" لتاکید الفعل" سره احتراز کوی د نون تاکیدی نه.

(اقسام د تنوین):نو تنوین په پنځه قسمه دے یو تنوین تمکّن دویم تنوین تنکیر دریم تنوین مقابله څلورم تنوین عوض پنځم تنوین ترنم و قال الشاعر:

تنوین به پنج قسم است اے یار من بگیر

اول تمکن است عوض ثالث و تنکیر

دیگر مقابله است ترنم برادرم---این پنج یادکن که شوی شاه بینظیر

"دهریو مختصر تعریف سره د مثال نه او ورسره وجه د تخصیص."

"تنوین تمکّن": دا هغه تنوین دے چه دلالت کوی په انصراف د کلمه باندې لکه "جاء زید".

(تنوین تنکیر): دا هغه دے چه یوه کلمه پری نکره گرځی لکه "صه" دا معرفه ده ځکه ددی معنی ده چه "اسکت السکوت الان" او چه صه شی نو نکره به شی معنی دا شوه چه اسکت سکوتا "ما" وقتاما چه چپ شه په څه چپ کیدلو سره په یو وخت کښ نو دا تنوین دپاره د تنکیر دے۔

(تنوین عوض):دا هغه دے چه دا د مضاف الیه په عوض کښ وی لکه "یو مئذ" ای یوم إذا کان کذا او دغه شان "حینئذ" او لکلٍ جعلنا ای لکل قوم۔

(تنوین مقابلة): دا هغه دے چه په مقابلة د نون د جمع مذکر سالم کښ وی لکه په مسلمات کښ دا تنوین په مقابلة د نون د مسلمون کښ دے۔

بیا دا څلور اقسام د تنوین د اسم سره خاص دی ځکه ددی د مدلولات د اسم سره خاص دی هغه دا چه انصراف او د تنکیر او د اضافة او د جمع تثنیه وغیرها نو دا د اسم سره خاص دی نو چه مدلولات ددی د اسم سره خاص وو نو موئز د دوال هم د اسم سره خاص کړل دپاره ددی چه په درمیان د مدلولات او دوال کښ خلاف رانه شی۔

(تنوین ترنم): دا هغه تنوین دے چه په اخر د مصراع او ابیاتو کښ راځی دپاره د تحسین د صوت بیا هغه تنوین چه د قوافی مقیده په اخر کښ راځی نو هغی ته "غالی" وائی او ددی بل دپاره څه نوم نشته البتة په دواړو اطلاق د ترنم کیږی بیا ترنم مد الصوت او حسن الصوت ته وائی دا تنوین سره خاص نه دے مثلا.

اقلی اللوم عاذلٍ و العتابن---و قولی ان اصبت لقد اصابن (جریر بن عطیه)

دلته په العتابن او په اصابن کښ دا تنوین د ترنم دے یو اسم دے بل فعل دے او مثال دپاره د حرف چه هغه زیاد بن معاویه وائی هدایة النحو کښ دے۔

افد الترحل غیر أن درّکابنا-----لما تزل برحالنا وکان قدن (نابغه زبیانی)

معنی اده چه نزدے شو کوچ کول مگر دومره ده چه زموږ کجاوی چه دی لانه دی جدا شوی د خیمو زموږ ه او دکورو نو زموږ نه خو زموږ عزم شته دے نو گویا په تحقیق سره جدا شوی دی.

شارح هم دا خبره کوی چه دا څلور اقسام د اسم پوری خاص دی او دا یو قسم ددی د اسم سره خاص نه دے "و سیجئ فی اخر الکتاب" دا دفع د سوال ده چه دا دودمره تفصیل تاسو ولی اوکړو دی کښ جواب دی کښ ډیر تفصیل دے رابه شی .

سوال: چرته به راشي.

جواب: اخر د کتاب کښ.

سوال: نو ته به ژوندی ئې څه؟

جواب: په ان شاء الله خبره کوو.

(و الإسناد إليه و الإضافة) دلته په الاسناد اليه والاضافة کښ څو خبرې دی اجمالی (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) تشريح د عبارت (٤) مثال (٥) وجه د تخصيص د اسناد د اسم سره . .

(ربط): معنوی ربط دادے چه هر کله فارغ شو مصنف د دريو خواصو مکبرو معظمو د اسم نه نو شروع ئې اوکړه په څلورمه او پنځمه خاصه مکبره معظمه داسم بيا مونږه داخبره کړی وه چه دا دوه معنوی خواص دی او هغه نور درے لفظی خواص وو او وجه د تقديم د خواص لفظية هم بيان شوی وه چه نحو کښ منظور النظر بالاصالة بحث دے د الفاظو نه نو هغه ئې څکه مقدم کړی وی نو چه دهغی نه فارغ شو نو شروع ئې اوکړه په معنوی خواصو کښ فقال: "و الاسناد اليه" "و الاضافة" بيا په دی مقام کښ دوه نسخې دی يوه نسخه د شارح ده چه اسناد پکښ مقدم دے په اضافة دا څکه چه اسناد اصل دے او اصل مقدم وی طبعا نو وضعا هم مقدم شوی دے دپاره د حصول د موافقة د وضع د طبع سره او دويمه نسخه د غير د شارح ده نو هغې کښ اضافة مقدم دے په اسناد باندی دا څکه چه اضافة کثير الاستعمال دے څکه چه دپله کلام ناقص او په کلام تام دواړو کښ راتلې شی او کثير الاستعمال مقدم وی په قليل الاستعمال باندی خو دا دواړه صحيح دی ولی چه وللناس فيما يعشقون مذاهب.

دهر چا خپله خوښه که په شاه ځی يا په مخه.

(ربط لفظی):شارح بيان کړی دے فقال: "هو بالرفع عطف على الدخول" يعنی دا عطف دے په دخول باندی او هغه مرفوع دے نو دابه هم مرفوع وی څکه معطوف په حکم د معطوف عليه کښ وی نو هغه مرفوع بالابتداؤ نو داهم مرفوع شو په دی سره دفع د سوال هم او شوه چه دا "الانساد" به عطف وی په "اللام" باندی نو هغه مجرور بالاضافةؤ نو دابه هم مجرور وی بالاضافة څکه "ما" قبل د معطوف عليه نه معادوی به معطوف کښې نو دابه دخول الاسناد اليه شی نو دپاره د دخول دوه معانی دی يو معنی حقيقی چه راتلل په اول کښ او دويمه معنی مجازی چه لحوق دے په اخر کښ حالانکه دا اسناد خو يو امر معنوی دے نه صلاحة د معنی حقيقی د دخول لری او نه صلاحة د معنی مجازی د دخول لری نو

جواب: اوشو چه دایه اللام باندی نه دے عطف چه دا اعتراض دی وارد شی بلکه دایه دخول باندی عطف دے.

سوال: عطف د اسناد په دخول باندی هم نه دے صحیح ځکه داخو په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښې فصل راغلو او داهم ناروا دے.

جواب: دا فصل جائز دے ځکه دا فصل په اقربی سره دے او ناروا فصل بهاجنبی دے او مثال ددی دپاره اختلاط ددی رحم محرم دے دیوی زنانه سره او ددی دویم مثال اختلاط د غیر ذی رحم محرم دے دیوی زنانه سره.

(مقصد د عبارت):نو مقصد دعبارت دادے چه چرته هم یوی کلمی ته اسناد الشئ شوی وی نو دا کلمه به اسم وی نه فعل او حرف.

(تشریح د عبارت):ماتن خو "الاسناد الیه" اوی شارح ورله ربط لفظی بیان کړو بیا شارح اوی "و كذا في الاضافة" غرض د شارح په دی عبارت سره ربط لفظی بیانول دی دپاره ددے روستو متن چه و الاضافة دے نو حاصل هم دادے چه داهم عطف دے په دخول باندی او داهم مرفوع دے او هغه سوال هم دفع شو چه دا به په "اللام" عطف وی د دخول لاندی به وی حالانکه دا خو نه دے صحیح الخ "والمراد به كون الشئ" مسند الیه غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د یو سوال ده سوال دادے چه تاسو اوی چه دا اسناد علامه د اسم ده نو دا اسناد علامه د اسم ګرځول صحیح نه د ی ځکه دا اسناد هغه نسبة دے په درمیان د مسند او مسند الیه کښې اوس چه دا اسناد د اسم خاصه ګرځی نو دابه په اعتبار د طرفین سره ګرځی یعنی یا به دا مسند وی او یا به دا مسند الیه په هر یو باندی اعتراض راځی په دی شان سره چه که مراد مسند شی نو فعل هم مسند وی لکه ضرب زید کښې ضرب فعل مسند دے نو بیا ددی اختصاص څنګه د اسم سره دے او که مراد مسند الیه شی نو داهم نه ده صحیح ځکه فعل هم مسند الیه راتلی شی لکه قال تعالیٰ: "و اذا قيل لهم امنوا" دلته دا "امنوا" فعل دے او دا مسند الیه دے نو بیا ددی څنګه اختصاص راغلی د اسم سره ذو جواب اوشو چه اسناد مصدر مجهول دے مبنی للمفعول دے او مراد مسند الیه یعنی كون الشئ مسنداً الیه مراد دے اوهر چه امنوا دلته مسند الیه دے نو دا موول دے په تاویل د"هذا اللفظ" سره او دا فعل نه دے بلکه اسم دے بیا چه شارح "كون" اوی نو دی سره بله دفع د سوال اوشوه هغه دا چه دا مسند الیه ګیدل علامه د اسم ګرځول صحیح نه دی ځکه دا د قبیلی د ذواتو نه دے او خواص خو د قبیلی د اعراضو نه دی.

جواب: "كون الشئ" مراد دے او داکون د قبیلی د اعراضو نه دے بیا شارح "الشئ" مقدر کړو داهم دفع د سوال ده هغه داچه الاسناد الیه کښې د الیه دا ضمیر مجرور راجع دے اسم

نه مقصد داچه دا استاد به قائم وی تر اسم پورې نو دا خو هسې هم د اسم علامه ده نو بیا "الیه" ته ضرورت نه وو ځکه دی سره څه جدیده فائده حاصله نه شوه.

جواب: دا ضمیر "الشئ" ته راجع دے نه اسم ته نو فائده ورکوی.

مثال: لکه ضرب زید کښ زید مسند الیه دے او "زید قائم" وغیره کښې هم.

(وجه د تخصیص د مسند الیه تر اسم پورې):شارح داخبره ذکر کړی ده "و انما اختص هذا المعنی" حاصل دادے چه فعل وضع شوی دے دپاره ددی چه دابه مسند وی همیشه او باقی حرف خو نه مسند او نه مسند الیه واقع کیدلے شی نو باقی اسم پاتې شولو دا متعین شو چه دا خاصه د اسم ده "و منها الاضافة" اجمالی خبری (۱) ربط د "ما" سبق سره (۲) مقصد د عبارة (۳) تشریح د عبارة (٤) مثال (٥) وجه د تخصیص.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د څلورو خواصو مکبره معظمه د اسم نه نو شروع ئې اوکړه په پنځمه خاصه مکبره معظمه د اسم کښ فقال و الاضافة او ربط لفظی هم دادے چه دا "الاضافة" عطف دے په "اللام" بعید باندی او یا دا عطف دے په الاسناد قریب باندی.

مقصد د عبارت دادے چه هر کله یو کلمه مضاف واقع وه نو دا اسم دے.

(تشریح د عبارت): شارح وائی "کون الشئ مضافا بتقدیر حرف الجر" نو اول ئې لفظ دکون اوی دویم الشئ دریم مضافا بتقدیر حرف الجر" نو د کون لفظ فائده خو داده چه هغه د فع د سوال وه چه په الاسناد الیه کښ تیره شوه او بیا د الشئ فائده داده چه داهم دفع د سوال ده هغه دا ده چه دا الاضافة مبتداء دپاره د من خواصه گرځول صحیح نه دی ولې چه خبر خو دپاره دا فائده جدیده وی او دلته خو فائده جدیده نشته دے ځکه دا اضافة خو هسې هم قائم بالاسم دے نو ومن خواصه سره څه نوی فائده رانغله.

جواب: اضافة د اسم نه دے مراد بلکه اضافة د شئ مراد دے او دا الشئ عام دے نو خبر فائده کوی دریم قید "مضافا بتقدیر حرف الجر" دے داهم دفع د سوال ده هغه دا چه دا اضافة خو یو نسبة دے په درمیان د مضاف او مضاف الیه کښ نواعتبار د خاصه به په اعتار د طرفین وی نو ستا مضاف مراد دے او که مضاف الیه په هر یو باندی سوال دے په دی شانس ره که مضاف وی نو فعل هم مضاف کیدلے شی لکه "مررت بزید" کښ دا مررتفعل مضاف دے اوکه ستادامراد مضاف الیه وی نو یوم ینفع الصادقین کښې فعل مضاف الیه واقع شوےدے نو شارح دده جوابونه ورکړه اول جواب په دے قول دے "وانما تسرنا الاضافة بکون الشئ مضافاً او صداو اولاقد یقال سره دویم جواب کوی چه دواړه مراد دی نو دا ینفع الصادقین په تاویل د نفع الصادقین دے نو اسم دے نه فعل

مثال . غلام زید، کتاب عمرو، قلم ناصح، راس عرفانِ وغیرها.

(وجه تخصیص): شارح وائی: "ووجه اختصاصها" حاصل دادے چه اضافة ملزوم دے تعریف تخصیص او تخفیف او دا لوازمات د اسم سره خاص دی نو مونږ ملزوم هم د اسم سره خاص کړو ځکه اختصاص د لوزمو مستلزم وی اختصاص د ملزوم لره

(وهو معرب و مبنی) په دی عنوان کښې اجمالی خبری بالترتیب یو د ربط د "ما" قبل سره دویم مقصد ددی عبارة دریم تشریح د عبارة څلورم وجه د حصر.

(ربط): یو ربط معنوی دے او بل لفظی دے ربط معنوی خو یو عام شارحین ذکر کوی چی کله مصنف علیه الرحمة فارغ شو د تعریف د اسم او د خواصو د هغی نه نو شروع ئی اوکړه په تقسیم د اسم کښې دوو قسمینو ته اجمالا ځکه په تعریف سره وجود ذهنی د شئ معلومیږی اوپه علاماتو او تقسیم سره وجود خارجی د شئ معلومیږی نوپه وجود ذهن کښې ئی لحاظ د ازکیاؤ طلباؤ او ساتلو او په وجود خارجی کښې ئی لحاظ د غیر د ازکیاؤ اوساتلو.

بل ربط معنوی تفصیلی داسی دے چی په مقصود د کتاب کښې درے مباحث وو بحث الاسم بحث الفعل بحث الحرف بیا په بحث الاسم کښې دری خبری وی مقدمه مقصود ، خاتمه بیا مقدمه په دریو خبرو مشتمله وه تعریف د اسم، خواص د اسم تقسیم د اسم معرب او مبنی ته اجمالا نو ربط په دی شان سره شو چی کله مصنف علیه الرحمة په مقدمه د بحث الاسم کښې ددوه و خبرو نه چی تعریف د اسم او خواص د اسم وو فارغ شو نو په دریمه خبره کښې ئی شروع اوکړه چی تقسیم د اسم دے معرب او مبنی ته اجمالا او ربط لفظی خو داسی دے چه دا واو یا عاطفه دے او یا استینافیه او "هو" مبتداء ده او "معرب و مبنی" ورله خبر دے نو مبتداء خبر جمله خبریه اسمیه معطوفة یا مستانفة شوه.

(مقصدِ عبارة): هغه تقسیم کول دی په اسم کښې په اعتبار د اخر سره معرب او مبنی ته چی اخر ئی بدلیږی رابدلیږی نو معرب اوکه نه بدلیږی نو مبنی.

(تشریح د عبارت):نو ماتن واتی: "هو" او شارح وائی: "ای الاسم" نو غرض د شارح په دی عبارت سره تعین د مرجع دهو. ضمیر کوی بیا شارح وائی: "قسمان" غرض د شارح په دی سره اشاره کول دی دی خبری ته چی دلته دا تقسیم د اسم معرب او مبنی ته د قبیلی د تقسیم د کلی نه دے جزئیاتو خپلو ته نه تقسیم د کل الی الاجزاء ته بیا دلته ربط مقدم دے په عطف باندی ځکه چی مونږ قانون وئیلی ووچه مبتداء مفرد وی او خبر ورله متعدد اشیاء وی نو ربط به په عطف مقدم وی او چی کله مبتداء جمع وی نو بیا عطف مقدم وی په ربط باندی او صاحب د خادمة الکافیه دلته غرض داسی بیان کړی دے چه هغه اورد اعتراض ئی کړی دے

او رد ئی په فاضل هندی صاحب کړی دے دهغی تحقیق په "هی اسم و فعل و حرف" کښې تیر شوی دے فانظر ثمه ان کنت من المحصلین.

(وجه د حصر په درمیان د معرب او مبنی کښې):شارح هغه ذکر کړی ده موئړ ورسره لږ زیادت کوو نو دا اسم به خالی نه وی یا به مرکب مع الغیر وی او یا نه که مرکب مع الغیر نه وو نو دا مبنی او که مرکب مع الغیر وو نو بیا به خالی نه وی یا به ورسره تحقُّق د عامل شوی وی او یا نه که تحقق د عامل ورسره نه وی شوی نو بیا مبنی اوِ که تحقُّق د عامل ورسره شوی وو نو بیا به خالی نه وی یا به مشابهة د مبنی الاصل سره لری یا نه که مشابهة ئی لرو نو بیا مبنی اوکه مشابهة ئی نه لرو نو بیا معرب دی وجه حصر نه معلومه شوه چی د اسم خلور احوال د ی په دریو احوالو کښې مبنی او په یو حالت کښې معرب دے. ددرے احوال (۱) یو چی د سر نه مرکب نه وی لکه اسماء معدودة چه زید، عمرو، بکر، الف، با، تا وغیر (۲) مرکب وی خو تحقق د عامل ورسره نه وی شوی لکه غلام زید، قلم کاتب (۳) مرکب وی او تحقق د عامل ورسره هم شوی وی لیکن د مبنی الاصل سره مشابهة ساتی لکه "هولاء" په جاء ئی هولاء کښې او یو حالت چی خلورم دے هغی کښې معرب دے چه مرکب وی او تحقق د عامل ورسره هم شوی وی او مشابهة د مبنی الاصل سره نه ساتی لکه زید په جاء زید کښې (تحریر سنبث)

سوال: ماتن ولی دلیل د انحصار ذکر نه کړو لکه چی څنګه ئی په اقسامو د کلمه کښې ذکر کړی وو.

جواب: ماتن اګرچه دلیل د حصر صراحة نه دے ذکر کړی خواشارة ئی ذکر کړی دے څکه چی کله ماتن په اقسامو د کلمه کښې وجه د حصر ذکر کړه نو د هغی نه دا خبره معلوم شوه چی داقسامو په درمیان کښې به ضابطه داسی جوړه وی چه تعریفات د اقسامو به د مقسم دهغی دیاره صفات او ګرځوی. او حرف د نفی او اثبات به پری داخل کړے نو دابه دلیل د حصر او ګرځی.

المعرب

(فالمعرب المرکب الذی لم)...دی مقام کښې هم څو خبری اجمالا ضروری دی.

(1)یو ربط (2)دویم لغوی تحقیق د معرب (3)دریم اصطلاحی تعریف د معرب (4)څلورم د معرب د اصطلاحی تعریف د اجزاء تشریح (5)پنځم د مجموعه تشریح .

ربط: معنوی یو عام شارحین ذکر کوی چی کله مصنف فارغ شو د اجمال نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل کښې نو وائی: فالمعرب نو دلته دری سوالات پیدا شول.

(۱)نفس تفصیل ولی کوی (۲) معرب په تفصیل کښ ولی مقدم کوی (۳)تذ بیر خنگه کوی؟ دی نه جوابات بالترتیب داسی دی .

اول: نه جواب تفصیل خکه کوی چی تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی په ذهن کښ پوره کینی. (۲) نفس تفصیل خکه کوی چی تفصیل ته محتاج دے. ددو ال نه د جواب معرب خکه مقدم کوی چی موافقة راشی د تفصیل د اجمال سره خک ال کښ معرب مقدم وو اما دا خبره چی اجمال کښ ولی معرب مقدم دے نو یوه و داده چه معرب کثیر المباحث دے دی مباحث ډیر دی په نسبة سره مبنی ته او قانون داد جه العزة للتکاثر والمعزز اولی بالتقدیم دویمه وجه داده چه معرب اصل دے خکه اسم دے او اصل په اسماء و کښ اعراب دے او مبنی فرع ده او اصل مقدم وی طبعا نو مقدم شو وضعا چی موافقة راشی بین الوضع و الطبع دریمه وجه داده چه اصل په هره نوع کښ داوی چی مشابهة نه ساتی د بل سره نو معرب د بل شئ سره مشابهة نه ساتی نو په خپل اصل ئی اتیان کړی دے اواسم مبنی مشابهة د بل شئ سره ساتی نو هغه په خپل اصل اتیان نه دے کړے نو اسم معرب قوی شو د وجی د اتیان نه په خپل اصل باندی او مبنی ضعیف شو د وجی د عدم اتیان نه په اصل باندی او قوی مقدم وی طبعا په ضعیف باندی نو مونږ په وضع کښ هم مقدم کړو چی موافقة راشی د وضع د طبع سره .

د دریم سوال نه جواب تفصیل داسی کوی چی یو به د معرب تعریف کوی دویم د معرب حکم ذکر کوی دریم د اعراب تعریف کوی څلورم انواع د اعراب به ذکر کړی پنځم تعریف دهر نوعی به اوکړی شپږم به تعریف د عامل اوکړی اووم اصناف د اعراب الاسم به ذکر کړی اتم تقسیم داسم به ذکر کړی منصرف او غیر منصرف ته نهم تفصیل د غیر منصرف به اوکړی او لسم تفصیل د منصرف به اوکړه بیا وروسی مقاصد ثلاثه او خاتمه په توابعو خمسو کښ.

دویم ربط معنوی داسی دے چه په بحث الاسم کښ دری خبری دی یو مقدمه دویم مقصودی دریم خاتمه ده. بیا مقدمه کښ دری خبری وی او مقصود د بحث الاسم کښ دوه بابونه دی باب اول په اسم معرب کښ او باب ثانی په اسم مبنی کښ نو کله چی فارغ شو مصنف د مقدمی د بحث الاسم نه چی مشتمله وه په دریو خبرو باندی نو شروع ئی اوکړه په مقصود د بحث الاسم کښ نو اول باب به په بیان د اسم معرب کښ ذکر کړی، او بیا بل باب په بیان د اسم مبنی کښ بیا دا باب اول په پنځو حصو مشتمل دے یو مقدمه او درے مقاصد او یو خاتمه او بیا مقدمه د باب اول په لسو خبرو مشتمله ده کما مرت او مقصد اول کښ اووه مرفوعات او مقصد ثانی کښ دولس منصوبات او مقصد ثالث کښ مجرورات او خاتمه کښ توابع خمسه دی.

ربط لفظی: نو "فالتفصیلیة" او "المعرب" مبتداء او باقی مانده خبره دے نو مبتداء خبر جمله خبریة اسمیة تفصیلیة شوه.

(لغوی تحقیق): دی کښ دری خبری پیژندل ضروری دی (۱) صیغه (۲) معنی (۳) وجه د تسمیی نو معرب صیغه د ظرف ده د اعراب نه او دایه معنی د اظهار سره راځی نو معرب ته ځکه معرب وائی چه دا ځائے د اظهار دے دپاره د معانی معتورو او یا معرب د اعراب نه ماخوذ دے چی هغه د عربت معدته اذا فسدت نه ماخوذ دے نو بیا دلته دا همزه دپاره د سلب د ماخذ ده نو معرب نه ځکه معرب وائی چی دا ځائے د ازالی د فساد دے هغه فساد چی کوم راځی د وجی د معانی معتورو نه نو په اعراب سره هغه زائل شوی وی. ځکه هر معنی واضحه شوی وی. په خلاف د مبنی چی هلته د فاعل او مفعول او مضاف الیه پته نه لګی ځکه هلته اعراب نه راځی.

(اصطلاحی تعریف د معرب):هغه ماتن کړی دے حاصل ئی دادے چه دری خبری په یکښ متحقق وی (۱) مرکب مع الاخر یه وی (۲) تحقق د عامل یه ورسره شوی وی (۳) مشابهة په د مبنی الاصل سره نه ساتی. او په المرکب کښ اولی او دویمی خبری ته اشاره ده او لم یشبه کښ دریمی ته نو چی دا دری خبری پکښ وی نو معرب اوکه داغه وی نو بیا مبنی دے.

(تشریح د اجزاء د تعریف اصطلاحی):دی عبارت کښ دوه قسمه تجزیه ده یو غټه تجزیه چی هغه دادة چه د معرب په تعریف کښ دوه اجزاء دی یو وجودی چی المرکب ے دویم سلبی چی لم یشبه ے.

دویمه تجزیه ورږه تجزیه ده چی هغه داسی ده چه دلته پنځه الفاظ دی یو فا دویم المعرب دریم المرکب څلورم لم یشبه او پنځم مبنی الاصل نو دی تشریح به شارح کوی.

فالمعرب المرکب الذی لم شبه مبنی الاصل:عبارت کښ اجمالی خبری شوی دی د دریو خبرو تفصیل شوی دے څلورمه خبره تشریح د اجزاء و د اصطلاحی تعریف ده په هغی کښ دوه قسمه تجزیه وه غټه تجزیه او ورږه تجزیه اوس دهغی تفصیل په یو ځائے باندی. فاء خو یا تفصیلیه ده او یا تفسیر یه ده بیا ماتن وائی: "المعرب" شارح وائی: "الذی هو قسم من الاسم" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د اعتراض ده چی معرب قسم د اسم دے صحیح ځکه قانون قسم او مقسم کښ دادے چی دا قسم خاص وی او مقسم عام وی او دلته خو عکس اوشو معرب چی قسم دے نو دا عام شو ځکه اسم فعل دواړه راځی لکه فعل مضارع و اسم چی مقسم دے نو دا خاص شوفعل ته نه شاملیږی. شارح جواب کوی چی الذی حاصل د جواب دادے چی په المعرب کښ الف لام عهدی دے معهود په دی سره اسم معرب دے مطلق معرب نه دے مراد

اعتراض: چې الف لام په المعرب کښې عهدی شو نو دا خو معرف دے او المرکب ...الخ ئې تعریف دے او تعریف د جنس په جنس سره کیږی نو پکار ده چې الف لام جنسی شی ځکه عهدی کښې اشاره فرد ته وی او تعریف د فرد نه کیږی.

جواب: دلته الف لام جنسی دے او دا المعرب صفة دے تقاضا د موصوف کوی او هغه الاسم دے ځکه شارح وائی چې "الذی هو قسم من الاسم" اعتراض ماتن معرب مطلق ذکر کړی دے او تاسو ترې اسم معرب مقید اخلئ نو داخو تقید د مطلق شو او دا مجاز دے او صیرورة د حقیقة نه مجاز ته قرینه غواړی نو قرینه پرې څه ده؟

جواب: قرینه په دې باندې بحث د اسم دے نو ځکه اسم معرب مراد دے. "المرکب" اعتراض دلته نحاتو دا قانون پاس کړی دے چې کله مبتداء خبر معرفه وی نو "لا" بدی ده په درمیان د مبتداء او خبرګښې د ضمیر فصل نه چه التباس رانشی د خبر او صفة درمیان کښې نو فالمعرب هوا المرکب وئیل پکار وو.

جواب: "المعرب" معرف ئے او "المرکب" معرف دے او دوی دا قانون هم پاس کړے دے چې معرف متعین وی دپاره د ابتدائية او معرف متعین وی دپاره د خبریت نو ضمیر فصل خو هلته ضروری دے چې التباس راځی او دلته خو تعیین شوی دے او التباس نه راځی. (۲) دا قانون د ضمیر فصل د دواړو هغه مقام کښې دے چې په جانب د مبتداء او خبر کښې الف لام حرفی تعریفی وی او دلته په جانب د خبر کښې چې "المرکب" دے نو دا الف لام اسمی دی نه چه الف لام حرفی تعریفی ځکه دا اسم مفعول دے او په اسم مفعول باندی الف لام اسمی وی چې تعبیر ترې نه په "الذی التی" سره کیږی ځکه شارح وائی چې "ای الاسم الذی رکب مع غیره" ...غرض د شارح په دی عبارة سره یو تعین کول د موصوف دی دپاره د المرکب صفة چې دا تقاضا د موصوف کوی نو الاسم سره تعین د موصوف اوسو. دویم غرض د شارح په دی عبارة سره ذکر دیو قانون دے اشارة هغه قانون دادے چې کوم الف لام داخل وی په اسم فاعل او اسم مفعول باندی نو ددی الف لام نه به تعبیر په الذی او التی سره کیږی او اسم فاعل نه به تعبیر په فعل معلوم سره کیږی او د اسم مفعول نه په فعل مجهول سره تعبیر کیږی ځکه خو شارح هم دلته داسی کوی.

سوال: ذکر کول د لفظ مرکب په تعریف د معرب کښې صحیح نه دی ځکه چې دا معرب قسم د اسم دے او اسم قسم د کلمې دے او ماخوذ په تعریف د کلمة کښې إفراد دے چې هغه مناقی دے د ترکیب سره نو شارح جواب کوی په "مع غیره" سره حاصل د جواب دادے چې مرکب په دوه قسمه دے. (۱) مرکب اصطلاحی چې دا عبارة دے د مجموعه د ضمیمتینو نه بالفاظ دیګر چه جزء د لفظ دلالت کوی په جزء د معنی او داد کلمې سره مناقی دے. (۲) مرکب لغوی چې عبارة دے د مضموم مع الاخر نه او داد کلمة سره مناق نه دے نو چې کوم

ترکیب مناق دے د کلمه سره هغه زموږ مراد نه دے او زموږ چی کوم مراد دے نو هغه مناق نه دے چی لغوی دے شارح هم دا وائی چه "رکب مع غیرہ"۔

سوال: ستا د کلام نه معلومه شوه چی لفظ مرکب مشترک دے په درمیان د لغوی او اصطلاحی مرکب کښ او دا خو تعریف دے او په تعریف کښ لفظ مشترک استعمالول نه دی۔

جواب: استعمال د لفظ مشترک په تعریف کښ ناجائز دے خو چی قرینه نه وی او چی قرینه وی نو بیا ئی استعمال جائز دےاو دلته قرینه شته هغه قرینه داده چی د مرکب لغوی په صله کښ "مع" او ... راځی او د مرکب اصطلاحی صله کښ دااله راځی او دلته لفظ مع راغلے دے نو معلومه شوه چه مرکب لغوی مراد دے نه اصطلاحی اعتراض کله چی مراد ــ مرکب نه لغوی دے نو تعریف دی په بعلبك باندې صادق نه دے او بعلبك معرب ــ منصرف دے ځکه دا مرکب اصطلاحی دے چی جزء د لفظ نه جزء د معنی دلالت کوی

جواب: بعلبك ته موږ معرب غیر منصرف وایو خو بعد العلمیت او پس د علمیت کیدلو نه دا مرکب نه دے او قبل العلمیت مرکب دے خو موږ ورته معرب غیر منصرف نه وایو "ترکیبا یتحقق" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د سوال ده او رد دے په شارح رضی صاحب باندې۔

سوال: داسی دے چی تا اوئیل چی زما مراد د ترکیب نه مضموم مع الاخر دے نو مرکبات ناقصه چی په صورت د اضافة کښ دی داپکښ تول داخل شول ځکه هلته یو مضاف او بل مضاف الیه وی نو دغه مضاف داخل شو په معرب کښ حالانکه د مصنف په نزد دغه مضاف په مبنی کښ داخل دے لکه غلام زید دے نو دلته غلام د مصنف په نزد باندی مبنی علی الضم دے او دا خو مضموم مع الاخر دے چه زید دے نو بایده چه معرب شی! نو ددی اعتراض نه یو جواب رضی کړی دے چی هندی په قبل سره نقل کړے دے چی زموږ مراد د اخرنه عامل دے نو اوس په غلام زیدکښ دا زید معرب دے ځکه د مضموم مع العامل دے چی مضاف په مضاف الیه کښ عامل وی خو مضاف معرب نه دے ځکه چی مضموم مع العامل نه دے ځکه مضاف الیه په مضاف کښ عامل نه وی نو داپه مبنی کښ پاتی شو او تعریف ورته دمعرب شامل نه شو. خو دا جواب شارح ته پسند نه وو ځکه په دی اعتراض راځی هغه داسی چی بناء په دی سره دی بیا په "زید قائم" کښ زید او قائم مبنی شی ځکه چی بناء بر مذهب اصح مبتداء په خبر کښ عامل نه ده او خبر په مبتداء کښ عامل نه دے نو زید مضموم دے ، قائم سره خو دا پکښ عامل نه دے دغه شان قائم هم مضموم دے د ... سره خو زید پکښ عامل نه دے بلکه عامل دواړو کښ معنوی دے او ضم د لفظی د معنوی سره محال وی نو مضموم مع العامل نه شو نو مبنی ورته وئیل پکار دی او تاسو ورته

معرب وائی نو ددی اعتراض د وجی دا جواب نه دے صحیح او شارح خیل داسی جواب کوی چی دا اعتراض پری نه راځی هغه داسی چی د مرکب نه مراد مضموم مع الاخر دے مطلقا نه مع العامل خویه داسی طریقه سره چی تحقق د عامل به ورسره شوی وی نو غلام زید کښ غلام مضموم مع الاخر دے خو تحقق د عامل ورسره نه دے شوی په خلاف د زید قائم چی مضموم مع الاخر دی خو تحقق د عامل ورسره شوی دے نو دا معرب شول او عامل ورسره معنوی دے شارح هم دا وائی. "فیدخل" غرض د شارح په دی عبارت سره ددی المرکب قید فائده ذکر کوی چی زید او قائم او هولاء په دی ترکیبونو کښ مضموم مع الاخر دی او ورسره تحقق د عامل هم شوی دے نو دایه دی کښ داخل دی.

سوال: هولاء خو منی دے دا څنګه داخل شو.

جواب: موبږ هولاء ته معرب نه وایو بلکه مرکب ورته وایو په داسی طریقه چی تحقق د عامل ورسره شوی وی څکه خو لی بیا شارح روستو په قید د لم یشبه سره او باسی د معرب نه بخلاف "ما" لیس دا بله فائده ده و بخلاف "ما" هو مرکب دا فائده د قید د یتحقق ده.

په څلورمه خبره کښ په غټه تجزیه کښ دیو جزء چی ایجابی وو او په وړه تجزیه کښ د دریو اجزاء و تشریح اوشوه

(لم یشبه مبنی الاصل):کله چی فارغ شو شارح د تفصیل د جزء ایجابی نه نو شروع ئی اوکړه په جزء سلبی کښ نو ماتن اوی لم یشبه او شارح وائی: "ای لم یناسب" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د اعتراض ده اعتراض دادے چی ته کوم تعریف د معرب اوکړو دا صحیح نه دے داخلیږی پکښ ټول اسماء مبنیه علاوه د موصولاتو او اسماء اشاراتو او مضمراتو نه څکه دا اسماء د مبنی الاصل سره مشابهة ساتی څکه مشابهة وشیږی شی اشتراک د شیئنو ته په وصف کښ او دایه دی دریو وارو کښ شته دے چی دا مشابه د حرف سره په احتیاج احتیاج کښ موصولات محتاج دی صلے ته او اسماء اشارات هم مشار الیه ته محتاج دی او مضمرات محتاج دی مرجع ته او ددی نه علاوه مثلا "یا رجل" شو نو دی ته خلق مبنی وائی او دا مشابهة نه ساتی.دوجی د عدم اشتراک نه دمبنی الاصل سره په وصف کښے کما هو تعریف المشابهة.

جواب: "ای لم یتاسب" حاصل د جواب دادے چی دلته دا مشابهة په معنی د مناسبة سره دے او مناسبة عام دے که په طریقهږ مشابهة سره وی او یا په طریقه د مجانسة، مماثلة، مشاکله سره وی. څکه دلته دا چند الفاظ دی (١) المشابهة عبارة دے د اشتراک د شیئنو نه په و صف کښ لکه رجل شجاع او اسد چی شریک دی په شجاعة وصف کښ (٢) مجانسة عبارة دے د اشتراک د شیئنو نه په جنس کښ لکه انسان او فرس شریک دی په حیوانیة کښ (٣) مماثلة عبارة دے د اشتراک د شیئنو نه په نوع کښ لك عمرو او بکر شریک دی په انسانیة

کښ (٤) مشاکلة عبارة دے د اشتراك د شیئونه په شکل کښ لکه هغه فرس چې منقوش علی الجدار وی دا شریك دهغه فرس سره چې په دی زمکه ګرځی صرف په شکل کښ (٥) مناسبة دا عام دے دی ټول ته شامل دے نو جواب دا شو چې اګرچه په اسماء مبنیة کښ علاوه د موصولاتو اسماء اشاراتو، مضمراتو ته مشابهة نشته خو مناسبة پکښ موجود دے.

اعتراض لم یشبه په معنی د لم یناسب ګرځول مجاز دے او صیرورة د حقیقة نه مجاز ته قرینه غواړی نو تاسره په دی څه قرینه ده

جواب: دوه قرینی دی (١) لم یشبه که په خپله معنی واخلو او د مناسبة معنی پریږدونو اعتراض پری راځی (٢) معرب مقابل د مبنی دے او په متقابلینو کښ دا قانون دے چې په احد المتقابلین کښ یو قید معتبر وی وجودا نو متقابل اخر کښ به معتبر وی عدما او عکس عکس نو د معرب مقابل مبنی دے نو هلته ناسب وو نو دلته به لم یناسب شی او که داسے نه شی نو بیا قانون مهمل ګرځی "مناسبة مؤثرة فی منع الاعراب" دا دفع دا اعتراض ده چې تعریف د معرب دی صحیح نه دے څکه خارج شو تری نه غیر منصرف چې دا قسم د معرب دے څکه دا مناسبة ساتی د مبنی اصل سره چې ماضی ده په وجود د فرعیتینو کښ. په دی شان سره چې فعل کښ دوه فرعی دی . (١) احتیاج ددی فعل فاعل ته په وجود کښ (٢) احتیاج ددی فعل مصدر ته په اشتقاق کښ او دغه شان غیر منصرف کښ هم وی لکه مثلا عمر کښ یو عدل چې دا د معدول عنه فرع ده او دویم علمیت چه دا فرع د نکری ده نو پکار ده چې دا مبنی شی څکه مناسبة پکښ موجود دے او دا خو غیر منصرف دے چې قسم دے د معرب نه دغه شان اسم فاعل د ماضی سره مشابه دے څکه په معنی د ماضی دے او ماضی مبنی الاصل ده او دی ته خلق معرب وائی پکار ده چه مبنی شی .

جواب : "مناسبة مؤثرة" حاصل دادے چې اعتراض به تا هله کوو چه زما مراد د مناسبة نه مطلق مناسبة وے حالانکه زما مراد مناسبة مؤثر په منع د اعراب کښ دے او د غیر منصرف مناسبة د ماضی سره مناسبة موثر نه دے په منع د اعراب کښ بس صرف مؤثر دے په منع د کسره اود تنوین کښ او مناسبة مؤثر په منع د اعراب کښ دی ته وائی چې دلیل د اعراب معارض نه وی واقع شوی د دلیل د بناء سره او غیر منصرف چې څنګه د ماضی سره مشابهة ساتی نو د مضارع سره هم مشابهة ساتی په وجود د فرعتنو کښ څکه دا د مطلق فعل سره مشابهة ساتی نو فعل ماضی دا تقاضا کوی چې دا دی مبنی شی او فعل مضارع دا تقاضا کوی چې دادی معرب شی نو "إذا تعارض الدلیلان ولا ترجیح لاحدهما تساقطا" نو دواړه ساقط شول او اصل ته اوکتلی شو چې دا اسم دے او اصل په اسماء و کښ اعراب دے نو معرب شو دغه شان اسم فاعل هم دے چې مناسبة د ماضی سره ساتی په معنی کښ او د مضارع سره ساتی په لفظ کښ چې هغه ترتیب د حروفو حرکاتو سکناتو دے نو دلته هم یو بل سره دوه دلیله معارض شول نو ترجیح نه وه یو لره نو ساقط شول او اصل ته اوکتلی شو چې اعراب وو

نو معرب شو. اعتراض چه ځ یشبه په معنی د ځ یناسب شو نو تعریف د معرب شامل شو مبنی اصل ته چې مرکب مع العامل شي ځکه دا مرکب هم نشو او مناسبة هم د مبنی اصل سره نه ساتی ځکه مثلا فعل ماضي یا فعل امر یا حرف دا خپله مبنی اصل دی نوکه مونږ وایو چې دا مناسبة د مبنی اصل سره ساتی نو لازمیږی. تشبیه د شئ دخپل نفس سره او دا ناروا ے نو ډادی معرب شی ځکه تعریف پری صادق دے نو تعریف دی مانع نه شو.

جواب: تعریف د معرب صحیح دے شامل نه دے مبنی اصل ته ځکه چه څنګه زمونږ مراد د معرب نه اسم معرب دے نو دغه شان د مرکب نه هم اسم مرکب دے او مبنی اصل اسماء نه دی. بیا قرینه په دی قید د اسم بحث د اسم دے. (۲) هر کله چې یو اسم د مبنی اصل سره مناسبة ساتی او مبنی وی نو مبنی اصل به په طریقه اولی سره مبنی وی ځکه چه غیر مشابه قوی دے او دا مشابه ضعیف نو چې ضعیف مبنی شو نو قوی به په طریقه اولی مبنی وی. (۳) بعض شارحین وائی چې مبنی اصل چې کله مرکب شی د عامل سره نو داهم مناسبة ساتی د مبنی اصل سره په دی شان سره چې دا دری واړه مناسبة ساتی بعض د بعضو سره په کون د دی کښ مبنی اصل. اعتراض د مناسبة موثره نه ستا څه مراد دے. خاص مناسبة که مطلق مناسبة خاص خو مجهول دے نو لازمیږی تعریف بالمجهول او دا ناروا دے او که مطلق شی نو هر اسم د مبنی اصل سره څه نه څه مناسبة ساتی نو بیا هر اسم مبنی ګول پکار دی.

جواب: مراد زما د مناسبة نه مناسبة مؤثره خاص دے چې هغه مناسبة مؤثره ے په منع د اعراب کښ چې هغه دادے چې دلیل د اعراب معارض نه وی واقع شوی د دلیل د بنا سره او دا مجهول نه دے بلکه مراد هغه دے چې صاحب المفصل بیان کړی دے چې روستو را روان دے. شپږ قسمه دے (۱) اسم متضمن وی مبنی اصل سره (۲) اسم مشابهة ساتی د مبنی اصل سره په احتیاج کښ (۳) اسم واقع وی په ځائے د مبنی اصل (٤) اسم مشابه وی دهغه اسم سره چې هغه واقع وی په ځائے د مبنی اصل (٥) یو اسم واقع په ځائے دیو اسم چې هغه مشابهة ساتی د مبنی اصل سره (٦) اضافة مبنی اصل ته روستو را روان دی سره دا مثلونه تقریبا ص ۲۱۱ "مبنی الاصل" دا پنځم جزء دے شارح د دی تشریح کوی اغراض د شارح یو تعریف د مبنی الاصل دویم دفع د اعتراض دریم تعین د اضافة د مبنی اصل ته څلورم تعیین د مبنی اصل کوی پنځم رد په صاحب المفصل کوی چه زمحشری دے.

"ای المبنی الذی هو الاصل فی البناء" دا اوله خبره شو" هغه مبنی چې اصل وی په بناء کښ اوپه زیادة دیو قید سره چې "حالا" هم وی دی سره دفع د اعتراض اوشوه.

اعتراض: اسم فاعل مناسبة ساتي د فعل مضارع سره او فعل مضارع فعل دے او اصل په افعالو کښ بناء ده نو دا دےهم مبنی شی. نو جواب اوشو چې حالا پکښ بناء وی او فعل مضارع فعل دے خو حالا پکښ بناء نشته .

"دویمه خبره" اعتراض ده چې د مبنی اضافة ته اصل ته اوکړم او په درمیان د مضاف، مضاف الیه کښ مغائرة وی او تا چې کوم اضافة د مبنی اصل اوکړو نو دی کښ مغائرة نشته .

جواب: فالاضافة بيا نيه چې دا اعتراض به ته هله کولی چې دلته اضافة لامی وی حالانکه دا اضافة بیانی دے او دی کښ مغائرة نه وی .

"دریمه خبره" هم واضح شوه چې تعیین د اضافة وو چه دااضافة بیانیة دے.

سوال: د مبنی اضافة اصل ته اضافة بیا نیه نه صحیح کیږی څکه اضافة بیانیه کښ په درمیان د مضاف او مضاف الیه کښ نسبة د عموم خصوص من وجه وی او دلته خو نسبة د عموم خصوص مطلق دے په دی شان سره چې مبنی خاص دے مطلقا او اصل عام دے مطلقا یعنی چې مبنی وی نو اصل به وی او دا ضروری نه ده چې اصل وی نو مبنی به وی بلکه کله په اصل مبنی وی او کله به نه وی نو قانون د اضافة لامی ورته متوجه دے نو بیانی صحیح نه شو.

جواب: صحیح ده چې نسبة د عموم خصوص مطلق په اضافة لامی کښ وی خو دلته دا نسبة نه دے بلکه دلته په درمیان د مبنی او اصل کښ نسبة د عموم خصوص من وجه دے دا نسبة دری مادی غواړی (۱) اجتماعی چې مبنی هم او اصل هم وی لکه ماضی، امر حاضر، جمله حروف (۲) افتراقی چې مبنی وی او اصل نه لکه تمام اسمائے مبنیة (۳) افتراقی چې مبنی نه وی اصل وی لکه اسماء معربه څکه اسماء کښ اصل اعراب دےنو اصل شته او بناء نشته.

سوال: اضافة بیانیه نه منم څکه اضافة بیانیة کښ دا قانون دے چې مضاف الیه د مضاف په اضافة بیانیة کښ اصل وی دپاره د مضاف لکه خاتم فضة چې فضة اصل دے خاتم لره او دلته دانه صحیح کیږی ؛

جواب: دا قاعده کلیة نه ده بلکه اکثریة ده "څلورمه خبره" تعین د مبنی اصل کوی فقال: "وهو الماضی" دری دی ماضی، امر بغیر اللام، حروف.

سوال: کله چې په نحو کښ امر ذکر شی نو مراد امر بغیر اللام وی نو ذکر د بغیر اللام پس د امر نه مستدرك دے.

جواب: دائی رعایة د مبتدئین کری دے. پنځمه خبره هم واضحه شوه چی رد شو په صاحب المفصل باندی چی هغه وائی چی مبنی اصل څلور دی دری دا او یو جمله من حیث الجمله نو ده پری رد اوکړو په دی شان چی هو مبتدا ده او الماضی الخ خبر ے او خبر ئی معرفه راوړو نو چی مبتداء خبر معرفه وی نو حصر پیدا کوی نو دا مبنی اصل ئی دری کښی منحصر کړه چی صرف دا دری دی نور نه دی.

(تشریح د مجموعه):دی کښی دوه خبری دی (۱) فوائد د قیوداتو (۲) دفع د بعض اعتراضاتو چی واردیږی په دی مقام کښی.

فوائد دقیوداتو دا څکه چی جامعیت مانعیت حاصل شی نو اول ده اوی: چی الاسم المعرب نو دا ټولو اسماء ته شامل شو که مرکب وی یانه اویا تحقق د عامل ورسره وی او یانه نودایه منزله د جنس شو بیا ماتن اوی؛ "المرکب" نویه دی سره احتراز راغئ دهغه الفاظو مفرده معدوده ونه بیا شارح اوی چی یتحقق معه عامله نو دی سره ئی احتراز اوکړو دهغه مرکباتو نه چه تحقق دعامل ورسره نه وی شوی او الذی لم یشبه قید فائده شارح وائی چی وبهذا القید هولاء په قام هولاء کښی اسم دے مرکب دے او تحقق د عامل ورسره هم شوی دے خو دا د مبنی اصل سره مشابهة ساتی نو لم یشبه نه شونو خارج دتعریف دمعرب نه . .

(دفع د اعتراضاتو):"اعلم ان صاحب" غرض د شارح په اعلم سره یو تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام دویم تنبیه د مخاطب ده په بیان الاختلاف دریم تنبیه د مخاطب ده په دفع د اعتراض باندی .

اعتراض : دا کافیة ماخوذ ده د مفصل نه او دهغی صاحب پکښی د معرب په تعریف کښی دا "المرکب" قید نه دے وئیلی او ابن حاجب صاحب د کافة کښی المرکب اوی نو لازم شو خلاف د ماخوذ د ماخوذ منه خپل نه او دا جائز نه دے نو دا تعریف صحیح نه شو.

جواب: اعلم حاصل د جواب دادے چی خلاف کول د ماخوذ دما خوذ منه نه په دوه قسمه دی (۱) بلا نکته و فائده و تحقیق (۲) مع نکتة و فائدة و تحقیق نو اول که ناروا او ناجائز دے خو "ما" کری نه دے اوکه دویم "ما" کرےدے خو ناروا او ناجائز نه دے. اوس هغه نکته څه ده نو اول به موږ دا او پیژنو چی یو معرب لغوی دے او دویم معرب اصطلاحی دے لغوی هغه دے چی په هغی اجراء د اعراب شوی وی نو دی کښی اتفاق دے چی دواړه (صاحب المفصل ، ابن حاجب) وائی چی دابه مرکب وی څکه اجراء د اعراب علاوه د ترکیب نه جائز نه ده او نا ممکن ده او دویم معرب اصطلاحی دے په دی عنوان کښی په درمیان د دواړو کښی اختلاف دے په دی شان سره چی صاحب بالمفصل پکښی ترکیب نه شرط کوی څکه خو په تعریف کښی قید د مرکب نه واق او ابن حاجب پکښی ترکیب شرط کوی څکه خو په تعریف د معرب کښی د المرکب قید بیانوی . اصل کښی دلته دا دری مراتب دی.

یوه نفس صلاحیة الاعراب و الاستحقاق دے دویمه حصول د استحقاق د اعراب دے بالفعل سره د نفس صلاحة نه دریم وجود الاعراب بالفعل نو صاحب المفصل اوله مرتبه کافی کوی چی د معرب دپاره نفس صلاحة د اعراب دپاره د اسحتقاق الاعراب کافی دے څکه خو په دی وجه اسماء معدوده لکه زید، عمر، بکر وغیره دهغه په نزد معرب دی او ابن حاجب صاحب ورسره دویمه مرتبه هم اخلی چی سره د صلاحة الاعراب نه حصول داستحقاق الاعراب هم شرط دے او دا هغه وخت کښ راځی چی ترکیب کښ واقع شی نو دا اسماء معدوة د ابن حاجب په نزد مبنی دی څکه دا منصودات دی او هر چه دریمه مرتبه نو هغه د دواړو په نز ضروری نه ده که وجود الاعراب بالفعل دےوی او یانه خو معرب به وی لکه "جاء لی زید" مرفوع کښ وجود شته دے او جاء لي زید چی مجزوم شی نو وجود الاعراب پکښے نشته او معرب دے عندهما اوس د شرح حل اسان شو "ولیس النزاع" سره تحریر د محل النزاع کوی. یعنی معرب لغوی کښ تنازع نشته . "لا ستحقاق الاعراب بعد الترکیب" یعنی چی کله دا مرکب شی او کوم اعراب پری راشی نو دهغی اعراب دپاره مستحق کیدل په دی حالت کښ چی مرکب نه دے نو کافی دے او دا قول د جرجانی صاحب هم دے.

دی دپاره مثال په حسّیاتو کښ داسی دے چی یو کس راشی او طلباء ته وائی چی تاسو لره "ما" دعوت کړی دے تاسو دلته پاتی شئ مه ځی جماعتونو ته اوس ددی قول دری مراتب دی (۱) نفس دا خبره کول چی خیرات دے او مه ځی (۲) دی خبری سره ئی یو دیګ دوه هم رامخامخ کړه (۳) دی دواړو سره ئی هغه چاول په یو لوښو کښ هم واچو. نو دوه طالبان په جګړه شول یو وائی چی جماعت ته خو مسی خبره ده پته نه لګی که دیګ ئی راوړی وی نو بیا به پاتی شو خو دیګ نه ښکاری نو خو او دویم طالب وائی چی پاتی کیږو نه خو دیګ پاشته او یا نه خو خبره ئی کړی ده نو دی اول طالب دویمه مرتبه شرط کړه سره د اولے چه ښکاره کیدل د دیګ دی او دویم صرف اوله مرتبه واخسته او هر چه دریمه مرتبه ده سره داولو چی خبره هم ده او دیګ د رواړل هم دی او بیا چاول په لوښو کښ تقسیم کول د دواړو په نزد شرط نه دی تدبر فی هذا المثال حتی یتبین لك الحق.

ولذلك یقال لم تعرب الکلمة. لکه جاءنی زید مجزوما یعنی اعراب بالفعل نشته او کلمه معربه ده په معنی اصطلاحی سره

﴿و انما عدل المصنف﴾ ......بحث د معرب کښ په مجموعه تشریح کښ دویمه خبره روانه وه چی دفع د بعض اعتراضاتو وه یو اعتراض په اعلم سره دفع شو دی ځائےنه غرض د شارح هم دفع دیو بل اعتراض ده. اعتراض دادے چی تاکوم تعریف د معرب اوکړو نو دا تعریف ستا صحیح نه دے څکه دا تعریف ستا چی المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل دے نو دا د تعریف د مشهور یئو نه خلاف دے او هر تعریف چی د مشهوریتو د تعریف نه خلاف وی

نو هغه صحیح نه وی نو داهم صحیح نه شو داخبره خو واضح ده چی د تعریف د مشهورینو نه خلاف کول صحیح نه دی ځکه هغوی خان کړولی وی حتی چی مشهور شوی وی نو هغوماهرین وی نو ښه پوهیږی په فن باندی نو خلاف کول ئی صحیح نه وی او دلته خلاف داسی دے چی کله مونږ دا علم شروع کړے دے نو د معرب تعریف مونږ داسی اوریدلی دے چی معرب هغه دے چی دهغی اخر مختلف کیږی په سبب د اختلاف د عواملو سره او مبنی هغه دے چی اخر ئی په یو حال وی ځکه خو شاعر وائی.

مبنی ان باشد کہ ماند بر قرار　　　معرب ان باشد کہ گردد بار بار

نو دا تعریف د هغوی دے او چی کافیه مونږ اوکتله نو تا دا اونه وی بلکه تا اوی چی المرکب الخ .

جواب: اما عدل سره شارح کوی حاصل د جواب دادے چی داخبره خو صحیح ده چی "ما" خلاف د مشهورینو د تعریف نه کړی دے لیکن دا دویمه کلیه چی تا ذکر کړه چی هرهغه تعریف چه دمشهورینونه خلاف وی صحیح نه وی . نو دا کلیه درسره نه منم بلکه دی کښ لږ تفصیل دے هغه داسی چی د مشهورینو نه خلاف کول دوه قسمه دے (۱) بغیر د څه نکته او باعث نه خلاف کول چی بناء ئی په مشروتیٔ باندی وی (۲) سره د نکته او د څه باعث نه خلاف کول.

اول قسم ناجائز دے خو ماګړی نه دے او دویم قسم ماګړی دے خو ناجائز نه دے. اوس هغه نکته او باعث څه دے نو هغه دادے چی د مشهورینو په تعریف باندی اعتراض راځی اګرچه هغو ترے جواب کوی او زمایه تعریف باندی هیڅ اعتراض نه راځی او داخبره خو مسلمه ده چی کوم تعریف چی په هغی اعتراض راځی اګرچه جواب تری نه کیدی شی دا بهتر او غوره نه وی د هغه تعریف نه چی هغه خالی وی د اعتراض نه اوس دا خبره چی دهغو په تعریف څنګه اعتراض راځی نو هغه داسی دے چی که دلته مونږ د معرب تعریف هغه اوکړو چی مشهورینو کړے دے چی "ما یختلف اخره باختلاف العوامل" نو لازم به شی تقدم د شی علی نفسه او دا باطل او محال دے نو هر هغه چی مستلزم وی باطل او محال لره هغه هم باطل او محال وی. نو دلته داهم باطلول او محال کول پکار دی خو بیا هم مشهورین دی نو باطل او محال کو وئی وله نه خو دورمه وایو چی غوره نه د ے اوس دلته دوه خبری دی (۱) تقدم د شیٔ په خپل نفس څنګه ناروا ده(۲) دا تعریف د مشهورینو څنګه دی لره مستلزم ګرځی نو دا اوله خبره خو ښکاره ده ځکه یو شیٔ د خپل خان نه نشی مخکښ کیدلی مونږ څه د خان د پیدا کیدو نه مخکښ نه یو پیدا شوی .

دویمه خبره چه دا تقدم ځنګه راځي نو ددې د معلومولونه اول یو څو مقدمې پیژندل ضروري دي (۱) غرض د شئ دا موخر وي د هغه شئ نه ځکه غرض وئیلې شي چه دا باعث وي په کولو دیو کار او ذهنا مقدم وي خو وجودا دهغه شئ نه متاخر وي (۲) غرض د شئ دا غیر وي د هغه شئ نه ځکه که عین هغه شئ غرض کړې نو هغه شئ مخکښ وي او غرض تے روستو وي نو دا خو تقدم د شئ علی نفسه راځي چې دانارروا دے (۳) یو شئ نه وي مګر عبارت وي د مجموعه اجزاء ونه لکه زید د خپلی مجموعې او تولو اجزاء و نه عبارت دے صرف پوزه یا سترګه وغیره نه نوکه یو شئ په بل شئ موقوف شي نو دغه شئ اول به په هر واحد هر واحد د اجزاء ودشئ ثانی باندې موقوفٌ وي چې هغه عبارت دمجموعه اجزاو نه دے نو ددې شئ اول هر جزء به د دې دویم شئ په هر جزء باندې موقوف وي.

توقف په معرّف داتوقف وي په معرف ځکه دا دواړه یو شئ دے صرف فرق دا جمال او تفصیل دے چې معرف مجمل او معرف مفصل وي (۵) علم النحو د حصول طرق چې کتاب کښ دې نو رجع ئې دریو ته کیږي (۱)په تتبع او تالاش ددې حصول (۲) په سماع سره د عربو نه ددې حصول (۳) تدوین ددې علوموو سره حصول د نحوې نو دا اولنې دوه طریقې چې دي په دې کښ غرض، غایة ته ضرورت نشته خو ددې ضرورت په دې دریمه طریقه کښ چه تدوین دے په دې کښ ضروري دي چې غرض، غایة څه دي اوس حل د کتاب. تر فالمقصود پورې. "لان العرض" سره دلیل ذکر کوي "من لم یتبع" دا فاعل دے دپاره "یعرف احکامها" ها ضمیر الی لغة العرب ته راجع دے. "کذلك" اشاره ده دې دوه طریقوته چې تتبع او سماع ده "مستغن عن تعلیم النحو التعلیم ولا فائدہ".

سوال: ولي ورته فائده نشته اصطلاحات خوبه ورته یاد شي کنه.

جواب: "معتدا بها" دا څه فائده نه ده داسې فائده مراد ده چې معتبره وي اصطلاحات نه څه ضرورت دے چې نور کار صحیح نه کوي. فالمقصود من معرفة.

اوس دا خبره ده چې کوم کس د علم نحو تتبع او سماع من العرب نه وي کړې نوددہ دپاره غرض پیژندل ضروري دي داپه امر د پنځمې خبرې دے او هغه غرض هغه معرفة د احوالو د اخر د کلمې دے کله چې دا غرض د علم نحو شو نو دا غرض به ددې د اجزاو هم وي لکه معرب شو نو د معرب غرض هم معرفة د احوالو د اخر شو داپه امر د درېمې خبرې سره نو د نحوموقوف شوه په دې غرض باندې نو اجزاء د نحو به هم په دې موقوف وي لکه معرب شو نو چې دا غرض د معرب شو نو دا غرض به د تعریف د معرب هم وي ځکه چې معرّف او معرّف یو شئ دے او داپه مرد څلورمې خبرې سره نو توقف د معرب په د غرض د معرب دا توقف د تعریف د معرب هم شوبه غرض دمعرب شارح هم وائي فالمقصود مثلا دا ځکه وائي مبنی هم وئیلې شي "ان یعرف" فاعل ورله هغه من دے. دا غرض د شئ دا غیر وي دهغه شئ

نه نو دا معرب ځان لره شئ دے او غرض ئی ځان لره شئ دے دایه امر د دویمی خبری سره نو بیا به دا غرض د دی معرب او د تعریف د معرب دابه روستو وی د دی تعریف د معرب نه په امر د اولی خبری باندی نو چی دا غرض ددی دا تا تعریف د معرب او گرځولو نو تقدم د شئ علی نفسه لازم شو. شارح هم دا وائی "فمعرفته" د معرب پیژندل به مخکښ وی په غرض د دی چی هغه مما یختلف دے "فلو کان" حاصل ددی دادے چه که معرفة متقدمه د معرب حاصل شی په سبب د معرفة د دی اختلاف او تعریف سره نو دا لازمه ده چی اول دی تعریف اوشی د معرب په "ان یختلف اخره" سره چی غرض ئی او پیژندلے شی چی هغه هم اختلاف دآخر دے نو تقدم د شی علی نفسه لازم شو. "فینبغی" نو مناسبه داده دا ینبغی ځکه وائی چی تعریف د جمهور خو باطلول پکار دی خو دا باطلول شه نه دے بلکه خلاف اولی به ئی کړو. نو وی مناسبه ده چی اول دی د معرب تعریف په هغه تعریف اونشی چه جمهورو کړی دے بلکه په غیر دهغی دی او شی او دهغو تعریف دی د احکامو د معرب نه یو حکم شی لکه دی صاحب داکار کړی دے. (و حکمه ای المعرب) دی عبارت کښ یو څو خبری بالترتیب پیژندل ضروری دی. (۱) ربط دما قبل سره (۲) مقصد العبارة (۳) تشریح العبارة.

(ربط): معنوی ربط دادے چی کله فارغ شو مصنف دیوے خبری د مقدمه د باب اول نه چی تعریف د اسم معرب وو نو شروع ئی اوکړه په دویمه خبره د مقدمة د باب اول کښ چی حکم د اسم معرب دے خو بیائی تعریف د معرب مخکښ کړو او حکم ئی روستو کړو دا ځکه چی تعریف تعلق ساتی د ذات د شئ سره او حکم تعلق ساتی د اوصافو د شئ سره او ذات مقدم وی په وصف باندی نو هغه شئ چی متعلق وی د اسم سره هغه به هم مقدم وی په هغه شئ چی متعلق وی دوصف سره .

(ربط لفظی): "واو" یا عاطفه یا استینافیه او "حکمه" مضاف، مضاف الیه مبتداء او باقی جمله په تاویل د مصدر سره خبر مبتداء خبر جمله خبریة اسمیة معطوفة یا مستانفة شوه .

(مقصد العبارة): مقصد دادے چه مصنف په دی الفاظو سره په معرب باندی چی کوم اثر مرتب کیږی نو دهغی بیان کوی چی هغه دادے چی ددی اخیرئ حرف به مختلف کیږی په سبب د اختلاف د عوامل باندی یعنی که عامل رافع وی نو آخر به ئی مرفوع که ناصب نو منصوب اوکه جار و نو اخر به ئی مجرور وی بیا اختلاف د اخر عام دے په دریو تعمیماتو سره که دا تا وی یا وصفا اوکه حقیقة وی او یا حکما او که لفظا وی یا تقدیرا ذا تا مقصد دادے چی اخیری حرف بدل شی په دی شان سره چی په رفع کښ یو حرف او نصب کښ بل حرف او جر کښ بل حرف وی لکه "جاء نی ابوک "رایت اباك "مررت بابیك" کښ واو، الف ، یا شول او وصفا کښ حرف یو وی خو صفت یی بدلیږی لکه "جاء نی زیدٌ"رایت زیدًا"مررت بزیدٍ" کله دوه زبرونه کله پیښونه او کله دوه زیرونه. حقیقة مقصد دادے چی په دریو وارو احوالو کښ اخر جدا جدا راځی لکه دا بره دوارو مثالونه او حکما کښ دری وارو احوال داسی

نه وی بلکه بعض احوال تابع د بعض وی لکه په تثنیه او جمع کښ دا راځی جاء نی رجلان رایت رجلین و مررت برجلین دغه شان مسلمون مسلمین هم دے چی حالت د نصب نی د حالت د جر تابع دے دغه شان جاء نی احمد رایت احمد مررت باحمد چی د جر حالت ئی د نصب د حالت تابع دے لفظا مقصد داد ے چی تغییر په اخر کښ لفظی راغلی وی او تقدیرا مقصد دادے چی په اخر کښ تغییر په نظرنه راځی بلکه پټ پکښ تغیر راغلی وی لکه جاء نی موسی رایت موسی مررت بموسی داپه ظاهر کښ یو شی دے خو تقدیرا یعنی پټ پکښ تغیر شته دے چی یو کښ دفع ده بل نصب کښ او بل کښ جر دے او دا ځکه تقدیرا دے چی اخر کښ الف صلاحیة نه لری د اعراب چی دا حرکات ښکاره شی ځکه که حرکات ښکاره شی نو د الف هغه صورة به ختم شی نو دا پټ دی او موجود دی۔

سوال: مونږ ستاسو په دی فلسفه نه پوهیږو چه په جاءنی موسی رایت موسی مررت بموسی کښ موسی یوشان دے درے احوالو کښ او معرب دے په اعراب تقدیری سره او جاءنی هولاء رایت هولاء مررت بهولاء هلته هم یو شان دے دریوے واړو احوالو کښ اودی ته مبنی وائی دلته هم اعراب تقدیری او وائی کنه۔

جواب: دی دواړو کښ فرق دے په هولاء کښ اخیری حرف صلاحیة د ښکاره کیدلو د حرکاتو لری او بیا هم په دریو واړو احوالو کښ یو شان راځی نو معلومه شوه چه دا مبنی دے۔ او موسی عیسی، حبلی دی کښ اخر کښ الف دے صلاحیة د ظهور د حرکاتو نه لری، نو یو صلاحیة د اعراب نه لری او د ظهور صلاحیة لری او بل صلاحیة د اعراب لری خو د ظهور صلاحیة نه لری نو اول مبنی دویم معرب۔

(تشریح د عبارت):نو دلته یو واو دے دویم حکمه دے په دی کښ بیایو معانی د حکم دی دویم تعین د اضافةد حکم ضمیر ته دریم تعین د معنی مرادی د حکم نو د واو تشریح خو اول اوشوه چی یا عاطفه دے او یا استینافیه دے او د باقی به شارح کوی۔

و حکمه ان یختلف اخره : تشریح د عبارت شروع وه دلته یو معانی د حکم دی دویم تعین د اضافة دریم تعین د معنی مرادی د حکم هاهنا اول معنی د حکم (۱) لغت کښ حکم منع ته وئیلی شی (۲) په اصطلاح د اهل عربو نحاتو کښ حکم الاثر المرتب علی الشئ ته وئیلی شی (۳) په اصطلاح د اصولیانو کښ حکم خطاب الله تعالیٰ المتعلق بافعال المکلفین اقتضاء و تخییرا طلب تری نه کوی سره د اختیار نه دا درے معانی د حکم شوی او شپږ معانی د حکم په منطق کښ دی. (۱) نسبة (۲) محمول (۳) نفس قضیه (٤) علم بالقضیة (٥) علم په نسبة تامی خبری (٦) اذعان چی عبارة دے د کیفیة لاحقه نه بعد الادراك نو ټولی نهه معانی شوی.

"ای من جملة احکام المعرب" غرض د شارح په دی عبارت سره یو تعین د اضافة کوی چی دا

اضافة عهدی دے دویم د ضمیر مجرور د مرجع تعین کوی چی معرب دے دریم دفع د اعتراض کوی.

سوال دادے چه تاحکم د معرب منحصر کړو په اختلاف داخر د معرب کښ او داخو صحیح نه دے یعنی انحصار صحیح نه دے ځکه چی چاءنی زید کښ زید معرب دے او حکم نی اختلاف نه دے بلکه احداث الاعراب دے نو انحصار باطل دے .

شارح د هغی جواب کوی ای من جملة احکام المعرب حاصل دادے چی دا اعتراض به هغه وخت وو چی اضافة د حکم ضمیر ته دپاره د استغراق وی حالانکه دا دپاره دعهد دے دی وجه نه "من" تبعیض نی پری داخل کړو چی انحصار نه دے مراد بلکه بعض د احکامونه یو حکم دادے. سوال دا

من تبعیضی خویه متعدد داخلیږی او دلته خو حکم مفرد دے.

جواب: حکم جنس دے اطلاق نی په کثیر او قلیل دواړو کیږی ځکه شارح تری نه تعبیر اوکړو په احکامو جمع سره اود احکام نه نی مخکښ لفظ جملة راوړو اشاره ده یکښ طریقی ده فصحاء او بلغاء ته چی دوی اول اجمال ذکر کوی او بیا تفصیل نو جمله اجمال او احکام تفصیل شو نو معنی شوه بعض د جمله د احکامو د معرب نه "واثاره المترتبة علیه" غرض د شارح دریمه خبره ده چی تعین د معنی د حکم دے نو وای چی الاثر المرتب علی الشئ مراد دے او دا اثاره، عطف دے په احکام باندی نو دا عطف تفسیری دے دهغی احکام معنی شوه چی اثار دی دویم غرض په دی عبارت سره . دفع د سوال ده سوال دادے چی حکم چی ذکر شی نو مراد تری نه ذات وی او دا حکمه ترکیب کښ مبتد ده اوان یختلف ورله خبر دے چی هغه په تاویل د مصدر سره وصف دے نو دا خو حمل د وصف راغلو په ذات چی داناروا دے نو شارح جواب کوی چی دا اعتراض به هغه وخت وی چی زما مراد د حکم نه نسبة وی حالانکه زما مراد د حکم نه اثر مرتب دے او اثر د شئ وصف وی نو مبتداهم وصف او خبر هم وصف نو حمل د وصف په وصف راغلو او دا جائز دے.

سوال: اثر د شئ خو صادر من الشئ وی او اختلاف داخر د معرب خو صادر د عامل نه دے نه د معرب نه نو دا حکم د عامل شو نو نسبة نی څنګه معرب ته کوی.

جواب: (۱) د حکم اضافة دی ضمیر ته په تقدیر فی سره دے نو معنی شوه چی حکمٌ فیه حکم په معرب کښ یعنی د اختلاف په دی معرب کښ راځی لکه ضرب الیوم ای ضرب فی الیوم (۲) که اضافة په واسطه د لام سره شی نو بیا به داسی شی چی والحکم للمعرب او حکم دپاره د معرب هغه اثر دے دپاره د معرب یعنی خاص دے او نسبة ورته د ادنی ملابسة د

وجی نه شوےدےچی هغه اقتضاء د عمل وه په دی معرب کښ او دی دپاره بل مثال دادے چی ستانه څوك تپوس اوکړی چی ته دکومی مدرسی طالب ئی نو ته خو د مدرسی طالب نه ئی بلکه د علم طالب ئی نو دا نسبة د طالب مدرسی ته د ادنی ملابسة د وجی نه دے چی ته خو طالب د علم ئی خو دا علم په مدرسه کښ طلب کوی "من حیث هو معرب" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د سوال ده .

سوال: تا اوی چی د معرب حکم یعنی اثر مرتب دادے چی اخر ددی به مختلف کیږی نو دا حکم دپاره د معرب صحیح نه دے بلکه داسی پکار وه چی حکم د معرب رفعه ده یا نصب دے یا جر دے څکه چی معرب راځی نو یا به فاعل وی نو دامر فوع وی او یا به مفعول وی نو هغه منصوب وی او یا مضاف الیه وی نو هغه مجرور وی نو اثر دمعرب یا مرفوع به وی یا منصوب یا مجرور به وی.

جواب: من حیث هو معرب چی اصل کښ دا حکم مختلف کیږی په حیثیاتو سره نو موږ چی دا حکم وایو چی اختلاف دے نو دا د حیثیة د معرب نه وایو نه په حیثیت د فاعل، مفعول، مضاف الیه اخستلو باندی.

(ان یختلف اخره) ان مصدریه یختلف فعل مضارع په تاویل د مصدر سره خبر دے نو معنی شوه چی اثر مرتبه په معرب باندی اختلاف د اخر د معرب دے شارح وائی: "ای الحرف الذی هو اخر المعرب" عرض د شارح په دی عبارة سره یو داخره د ضمیر مرجع متعین کوی چی معرب دے . دویم غرض د شارح دفع د سوال ده .

سوال : تا اوی چی حکم د معرب دادے چی اخر به ئی مختلف کیږی نوپه تثنیه اوجمع مذکرسالم کښ اخر حرف نون دے او دا خونه مختلف کیږی بلکه یا مفتوح لکه وی په جمع کښ او یا مکسور وی لکه په تثنیه کښ لکه جاءنی مسلمان رایت مسلمین مررت بمسلمین اوجاء نی مسلمون .رایت مسلمین مررت بمسلمین .

جواب: زما خو مطلق اخر حرف نه دے مراد بلکه مراد زما اخر حرف د معرب دے او په تثنیه اوجمع کښ دانون اخر د معرب نه دے بلکه مستقل کلمه ده ځان لره نو اخر د معرب په تثنیه کښ الف او جمع کښ واو دے.

سوال: اخر د معرب به وی او بیا به هم نو وی بدل شوی لکه زید په جاءنی زید رایت زیدا مررت بزید کښ دلته اخر د معرب دا کلمه د دال ده او دا کلمه په یو حالت کښ نه ده بدله شوی څکه که بدلیده نو پکار ده چی په جاءنی زید کښ دال وو او په رایت زیدا کښ بل حرف وو دغه شان مررت بزید کښ نو شارح جواب کوی ذاتاو صفة حاصل دادے چی دا اختلاف د اخر د معرب عام ... که ذاتا وی او که صفة نو صحیح ده که په جاءنی زید کښ

اخر د معرب نه دے بدل شوی په اعتبار د ذات سره چی یو حرف دے خو په اعتبار د صفة سره بدل شوی دے لکه جاءنی زید کښ صفة د رفعه ده او په رایت زیدا کښ صفة نصب دے او مررت بزید کښ صفة جر دے۔

شارح تعریف کوی د ذاتا "بان یتبدل" سره او روستو بیاپه د "بان یتبدل" سره د صفة تعریف کوی۔

سوال: تا اوی صفة نو صفة د شئ خو قائم وی په شئ پوری نو دغه ضمه ، فتحه، کسره خو په حرف پوری قائم نه ده، بلکه په متکلم پوری قائم ده نو دا څنګه صفة د حرف شول۔

جواب: صفة په معنی د تابع سره دے او د تابع مقصد دادے چی په دی حرکاتو تلفظ نه کیږی ترڅو چی تلفظ اونه شی په دی حرف باندی نو دا حرکات دهغه حرف تابع شول په تلفظ کښ او عکس نه دے چی تلفظ د حرف تابع شی دپاره د تلفظ په حرکاتو باندی۔

سوال: په جاءنی مسلمان، رایت مسلمین، مررت بمسلمین، او جاءنی مسلمون رایت مسلمین مررت بمسلمین په دی کښ په دی رایت مسلمین او مررت بمسلمین کښ خو حرف په حرف نه دے بدل شوی، نو اختلاف د اخر نه دے راغلی څکه دی تولو کښ صرف یو حرف دے چی یا ده په تثنیه کښ "ما" قبل مفتوح او جمع کښ "ما" قبل مکسور دے۔

جواب: "حقیقةً او حکمًا" حاصل دادے چی دا تبدلهٔ حرف په حرف باندی عام دے که حقیقةً وی او که حکمًا وی حقیقةً داچی تولو احوالو کښ مختلف وی او حکمًا دا چی بعض احوال تابع د بعضو وی. مثال د حقیقةً لکه جاءنی ابوك الخ او د حکمًا مثال دغه جمع، تثنیه شول دغه شان دا اعتراض په صفة هم راځی نو هلته هم حقیقةً او حکمًا دے لکه زید و احمد شول بیا څنګه چی دا تعمیم په اعراب لفظی کښ دے دغه شان دا تعمیم په اعراب تقدیری کښ هم دے د تقدیری حقیقة مثال لکه موسی، عیسی، او د حکما لکه حبلی "باختلاف العوامل" په سبب د اختلاف د جنس عامل شارح تعین د معنی باء کوی چه دپاره د سببیة ده بیا مونږ معنی سره دفع دا اعتراض اوکړه هغه اعتراض دا وو چی عوامل جمع ده او اقل مقدار د جمع درے دی نو مقصد دادے چی معرب کښ به اختلاف هله راځی چی کم ز کم دری عوامل پری داخل شی نو دوه نقصانات راځی (۱) زه به درته اوښایم چی په اختلاف دیو عامل به اختلاف راغلی وی، (۲) لازمیږی دخول د دریو عواملو په یو معرب باندی په یو وخت کښ او دا صحیح نه دے نا ممکن دی۔

جواب: جنس عامل مراد دے او دا څکه چی الف لام په جمع داخل شی نو جمعیت باطلوی۔

سوال: عوامل جمع د عامل ده او دا وزن دے فاعل دے او فاعل وزن جمع په وزن د عوامل نه راځی بلکه فاعلین فاعلون په وزن سره راځی او فواعل وزن جمع د فاعلة راځی لکه د

ضارب جمع ضاربون ضاربین او د ضاربة جمع ضوارب نو دلته څنګه په وزن د فواعل سره جمع د عامل راغلی دہ.

جواب: دا وزن د فاعل په دوه قسمه دے (۱) صفتی (۲) اسمی نو فاعل چې صفتی وی نو فواعل سره نه جمع کیږی لکه ضارب شو. او هر چه، اسمی وی نو دا په فواعل سره جمع کیدے شی لکه کواهل جمع د کاهل راغلی دہ نو دلته هم عامل فاعل اسمی دےځکه چه نقل شوی دے د وصفیة نه اسمیة ته ځکه اصل کښ دا وصف وو خو اوس نوم ګرځیدلے دے په نحو کښ دغه شی چه دهغی د وجی نه اختلاف راځی په اخر د معرب کښ (۲) د عوامل جمع د عاملة دہ ځکه دا صفة دے د کلمة او هغه مونث نو داهم (۳) دا وزن د فاعل د بعضو نحاتو په نزد جمع کیږی په وزن د فواعل سره لکه صواحب جمع د صاحب نو دلته هم داسی دے او ممکن دہ چې د ماتن هم دا مسلك وی "الداخلة علیه" غرض د شارح دفع د سوال دہ .

سوال: چې زه درته یو قسم ښایم چې اخر دهغی به مختلف شوی وی په اختلاف د عواملو سره او بیا به هم ورته خلق معرب نه وائی بلکه مبنی به وی لکه یو کس او وائی جاءنی زید سائل سوال اوکړی من؟ نو نون لره ئی ضمه ورکړه دغه شان هغه وائی رایت زیدا سائل وائی من؟ دغه شان هغه وائی مررت بزید سائل وائی من؟ نوپه تبع د ضمه ضمه راوړی او د فتحه په تبع فتحه او د کسری په تبع کسره راوړی او بیا هم دا"من" معرب نه دے بلکه مبنی دے. جواب: مراد د عواملو نه هغه عوامل دی چې داخل شوی وی په دی معرب نه چه مطلق عوامل او دا عوامل دلته داخل دی په زید باندی نه په من باندی. "فی العمل" غرض د شارح دفع د یل اعتراض دہ اعتراض دادے چې زه به درته اوښایم چې مختلف عوامل به په یو اسم معرب باندی داخل شوی وی لکن په هغه معرب کښ به ئی اختلاف نه وی راوستی لکه ان زیدا مضروب ان په زید داخل شو زید لره ئی نصب ورکړو او ضربت زیدا ضربت په زید داخل شو او نصب ئی ورکړیدے او په "انی ضارب زیدا" ضارب په زید داخل شو او نصب ئی ورکړی دے نو اختلاف د عواملو راغلی دے چې یو اسم دے بل فعل او بل حرف دے او معرب کښ اختلاف نشته .

جواب: "فی العمل" زما مراد د اختلاف د عواملو نه اختلاف په عمل کښ دے او دلته په ذات د عامل کښ اختلاف راغلی دے یو حرف دے بل فعل دے او بل اسم دے لیکن عمل کښ یودی چې تقاضا د نصب دہ ،

اعتراض: عمل کښ هم اختلاف شته دے داسی چې فعل عمل کوی بالاصالة او حرف او اسم عمل کوی د وجی د مشابهة نه د فعل سره نو عمل کښ اختلاف راغلو.

جواب: اختلاف د عواملو په عمل کښ دا مقصد نه دے داته چې کم اوی بلکه "بان يعمل بعض خلاف "ما" يعمل بعض". او دلته دا ټول يو قسم عمل کوی جدا جدا عمل نه کوی "وانما خصصنا" عرض د شارح په دے عبارة سره ددی "بالعمل" قيد فائده بيانول دی.

"لفظا او تقديرا" دا بل تعميم شو او دويم دفع د سوال ده چې هغه دادے چې زه به درته يو اسم او ښائم چې اخر دهغی به اختلاف د عامل سره نه وی مختلف شوی او خلق به ورته معرب وائی لکه جاءنی فتی رايت فتی مررت بفتی.

جواب: دا اختلاف په اخر کښ عام دے لفظا وی که تقديرا نو دلته اگرچه لفظا نه دے خو تقديرا دے بيا شارح وائی: "نصب علی التمييز" غرض د شارح علت د نصب ذکر کوی. نو وائی دا منصوب دی بنا بر تمييز بيا تمييز دوه قسمه راځی د مفرد نه (۲) د نسبة نه دلته دا دويم دے نو د يختلف نسبة چه اخر ته شوی دے نو دا مبهم وو نو د اوی چې ابه لفظا يا تقديرا وی نو رفع د ابهام اوشوه .

سوال: مونږ خو يو قانون اوريدلی دے چې هر کله نسبة د فعل اوشی فاعل ته او دهغی نه تمييز راشی نو دابه فاعل وی او که نسبة د فعل اوشی مفعول ته او تمييز راشی نو دا به مفعول وی او دلته دا "لفظا او تقديرا" د "يختلف" دپاره فاعل نه دے بلکه فاعل ورله "اخره" دے.

جواب: "لفظ اخره" حاصل د جواب دادے چه تاکومه قاعده اوريدلی ده نو دهغے مقصد دانے دے چه دغه تمييز به په لفظ کښ فاعل وی او دغه تمييز به په لفظ کښ مفعول وی بلکه که داسی شی نو بيا خو نصب بناء بر تمييز نه راځی. بلکه دابه فاعل او مفعول وی په اعتبار د معنی سره په دی شان سره چه کوم فاعل دے په لفظ کښ نوداېه په معنی کښ مضاف اليه وی او کوم چې تميز دے په لفظ کښ نو دا به په معنی کښ فاعل وی مضاف نو دا اخره چه لفظا فاعل دے دابه مضاف اليه مجرور شی او دا لفظا او تقديرا چه لفظا تمييز دے دابه فاعلی شی نو دا به مرفوع شی نو عبارة به شی "ای يختلف لفظا اخره او تقديره" دلته اوس لفظ فاعل شو کنه "او علی المصدرية" دا دويم علت د نصب بيانوی چه دا منصوب دے بنا بر مفعول مطلق.

سوال: مفعول مطلق خو هغی ته وائی چې مخکښ دهغی نه فعل وی او په دی باندی مشتمل وی د قبيلی د اشتمال د کل نه په جزءباندی او دلته خو فعل يختلف دے او روستو دے نه مفعول مطلق نشته چه اختلاف دے .

جواب: دا لفظا او تقديرا مفعول مطلق حقيقی نه دے بلکه دا مفعول مطلق مجازی دے او اشتمال شرط په مفعول مطلق حقيقی کښ دے نه په مجازی کښ هغه داسی چې اصل کښ دا لفظ او تقدير مضاف اليه دی دپاره د مفعول مطلق چې هغه اختلاف دے نو تقدير د

عبارة داسی دے چی "یختلف اخره اختلاف لفظ او اختلاف تقدیر" حو بیا اختلاف مفعول مطلق حقیقة حذف شو او دا مجازی دهغی حقیقة قائم مقام شو نو دهغی په اعراب سره معرب هم شو. "و الاختلاف لفظا" سره د دی تفصیل کوی "فصار الاعراب تقدیرا" ځکه په الف کښ صلاحیة د ظهورو د اعراب نشته "فان فتحةاحمد وبعد الجار" سره علامه د نصب او جر شانی چی التباس نشته خو که علامه د نصب وه پری نو دا منصوب اوګنه نو بیا مجرور تابع د نصب دے "فان قلت" سره اعتراض دے دا اعتراض مونږ وئیلی دے ضمنًا په "ای من جملة احکام المعرب" کښ او دلته پری تصریح بها علم ضمنًا ده حاصل دادے چی زید یو اسم معدود دے چی مشابهة د مبنی اصل سره نه ساتی دا د جاځی سره مرکب شو نو دلته نه په اخر د معرب کښ اختلاف راځی او نه په عامل کښ بلکه دلته حدوث الاعراب دے نو لهذا حصر کول د حکم د معرب تر اختلاف د اخره پوری صحیح نه دے. "قلت" سره جواب دے غایة الامر سره غرض دفع سوال ده.

سوال: دا حکم د شئ خاصه د شئ وی او خاصه مایوجد فیه ولا یوجد فی غیره یعنی خاصه د شئ نه منفك کیږی د شئ نه نوپه زید کښ چی حدوث الاعراب راغی نو اختلاف رانغئ نو دا خاصه چی اختلاف وو دا تری نه منفك شوه او داخو جائز نه ده.

جواب: "غایة الامر" حاصل دادے چی دا قانون منم چی خاصه نه منفك کیږی خو خاصه په دوه قسمه وه (۱) شامله (۲) غیر شامله.

شامله چی تولو افرادو کښ وی غیر شاملة چی تولو افرادو کښ نه وی نو دا حکم چی اختلاف د اخر دے دا خاصه ده معرب خو غیر شامله ده نو د بعضو افرادو نه ئی انفکاك جائز دے لکه داشو.

سوال: د معرب احکام ډیر دی نو دلته ماتن دا اختلاف د اخر حکم ولی ذکر کړو نور ولی نه ذکر کوی. لکه احداث الاعراب وغیره.

جواب: دا حکم ئی ځکه په ذکر سره خاص کړو چی دی رد کوی په هغه بعضو نحاتو باندې چی هغوی دا اختلاف د اخر تعریف د معرب ګرځولے دے

﴿الاعراب "ما" اختلف اخره به﴾.....دی عنوان کښ څو خبرې اجمالا ضروری دی. یو ربط دویم د اعراب لغوی تحقیق دریم اصطلاحی تعریف د اعراب څلورم د دغه تعریف مقصد پنځم دهغی تشریح او وضاحة.

(ربط): معنوی ربط دادے چی کله فارغ شو مصنف د تفصیل د دوو خبرو د مقدمی د باب اول نه چی یو تعریف د اسم معرب او دویم حکم ... نو شروع ئی اوکړه اوس

په تفصيل د دريمې خبرې د مقدمې د باب اول کښې چه هغه تعريف د اعراب دے نو اوئيل ئې چې الاعراب "ما" اختلف اخره به.....اما دا خبره چه د اعراب تعريف ولې کوئ نو دا ځکه چې پوره وضاحة د معرب چې راغې نوداپه دې راځې چې ته به د معرب تعريف او حکم او پيژنې او حکم چې پوره پيژندلے کيږي نو داپه پيژندلو د اعراب سره دے نو ګويا که معرب چه پوره پيژندلے کيږي نوپه پيژندلو د اعراب سره نو ځکه تعريف د اعراب کوئ.

سوال: پکار ده چې د اعراب تعريف ئې مخکښې کړې وې د تعريف د معرب نه ځکه چې اعراب مصدر دے او معرب ئې مشتق دے او معرفة د مشتق په معرفة د مصدر سره راځي او بل دا چې اعراب مصدر دے او مصدر اصل وي او معرب مشتق دے او مشتق فرع ده نو اصل طبعا مقدم وي نو وضعا هم مقدم کول پکار دي چې موافقة راشي نو ماتن ولې تعريف د اعراب روستو کړو .

جواب: دا معرب ذات دے او اعراب دلته په معنى مصدرى سره نه دے مراد بلکه دانوم ګرځيدلے دے دهغه حرکت او حرف چې اخر د معرب دهغې په وجه بدليږي نو معنى مصدرى پکښې نشته نو دا صفة د معرب واقع شو او ذات طبعا مقدم وي نو موتر وضعا هم مقدم کړو دپاره د موافقة د وضع د طبع سره او چه کله په اعراب کښې معنى مصدرى پاتې نه شوه نو اصالة پکښې دپاره د مشتق خپل پاتې نه شو نو دا حيثية هم ختم شو چې دا اصل او معرب فرع ده نو ځکه ئې داعراب تعريف د معرب د تعريف نه روستو کړو. (۲) دا اعراب چې راځي نو محل ورله اخر د معرب دے نو دا لاحق او ملحق او معرب ورله ملحوق شو او لاحق روستو وي ملحوق مخکښې وي طبعانو موتر وضعاهم مقدم کړو چه وضع دطبع سره موافق شي.

ربط لفظي:الاعراب مبتدا او "ما" اختلف الخ خبر مبتداء خبر جمله خبريه اسميه شوه.

(لغوى تحقيق د الاعراب): دلته درې خبرې ضرورى دي (۱) صيغه (۲) معنى (۳) وجه تسميه نو صيغه د مصدر د باب افعال ده او معنى به ورله شارح ذکر کړي ص ۲۹ ص ۳۷ وهو ماخوذ من اعربه اذا اوضحه لغوى معنى ورله ايضاح شوه او مصطلح اعراب ته ځکه اعراب وائي چې "فان الاعراب يوضح" او "من عربت معدته اذا فسدت" نو معرب ولې فساد راولي نو وي نه بلکه بيا افعال کښې همزه د سلب شوه "على ان يکون الهمزه للسلب" نو معنى ازالة الفساد شوه نو معرب ته ځکه معرب وائي چې دده سمى به لانه يزيل فساد التباس بعض المعانى ببعض".

(اصطلاحي تعريف):دا ماتن په خپله کړى دے چه الاعراب "ما" اختلف الخ.

(مقصد د اصطلاحی تعریف):مقصد واضح دے چه اعراب خوبا هغه حرکة او حرف دے چی مختلف کیږی اخر د معرب په دغه حرکت او حرف سره او دا اخر د معرب په دی حیثیة چی اخر د معرب لی واخلی بیا دا اختلاف عام دے که ذاتًا وی که صفةً وی که حقیقةً وی که حکمًا وی که لفظًا وی که تقدیرا وی او یا اعراب هغه شئ دے چی مختلف کیږی اخر د معرب په سبب د دی سره دلته هم هغه تعمیمات ثلاثه دی "الیدل" دا خکه چی دلالت اوکړی دا اختلاف یا مابه الاختلاف په هغه معانیو باندی چی وار په وار راتلونکی دی په دی معرب باندی بیا ذاتا اختلاف لکه جاءنی ابوك رایت اباك مررت بابیك . صفة لك جاءنی زید رایت زیدا مررت بزید حقیقة هم دا شول او حکما لکه جاءنی مسلمان رایت مسلمین مررت بمسلمین او جاءنی احمد رایت احمد مررت باحمد او لفظا هم دا شول او تقدیرا لکه جاءنی فتی رایت فتی مررت بفتی و التفصیل قد مر انفا.

(تشریح د تعریف):"الاعراب ما" دا لفظ د"ما" مبهم دے په اعتبار د موصولیة او موصوفیة او په اعتبار د مصداق سره نو شارح چی ای حرکة او حرف اوی نو تعین اوشو چه دا موصوفه ده نه که موصوله اما دا چه موصوله ولی نه دے نو دا خبره تیره شوی ده او مصداق ئی متعین کړو چی دا د حرکت او حرف نه عبارة دے او ددی قید فائده روستو راځی دا قید اول شو "اختلف اخره ای اخر المعرب" غرض د شارح په اخره کښ ده ضمیر د مرجع تعین کول دی من حیث هو معرب دا قید ثانی شو فائده راځی ذاتًا او صفةً دا تعمیم چه شارح اوکړو نو ددی تفصیل په حکم د معرب کښ شوی دے به "ای بتلك الحرکة او الحرف" غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دی چه دا ضمیر راجع دے لفظ د "ما" چی نه عبارة دے د حرکة او حرف نه سوال دفع شو.

سوال: به کښ ضمیر راجع دے حرکة ته او حرکة مونث دے او ضمیر د مذکر ورته راجع کوی نو جواب اوشو چی دا ضمیر لفظ د"ما" ته راجع دے او دا مذکر دے اعتبارًا للفظ. (و حین یراد بما الموصوله) ...غرض د شارح په دی عبارت سره د اول قید فائد ذکر کوی نو هغه دفع د اعتراض نه ده (۱) اعتراض لفظ د "ما" کښ عموم دے او تا دهغی تخصیص د حرکة او حرف پوری اوکړلو نو دی دپاره قرینه ضروری ده نو څه قرینه ده؟

جواب: قرینه حالیه هم شته او مقالیه هم حالیه داده چی د معرب په اخر کښ کوم اختلاف راځی نو دا یاپه حرکت سره او یاپه حرف سره وی مقالیه روستو ماتن اصناف د اعراب الاسم ذکر کوی نو هلته هم اعراب یا حرکت او یا حرف دے.

(۲)اعتراض: دا "ما" عامه ده نو دابه عبارة وی د شئ نه نو تعریف د اعراب دی مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکښ عامل او معنی مقتضی د اعراب خکه داهم یو شئ وی او اخر د معرب پری مختلف کیږی او عامل او معنی مقتضی د اعراب ته څوك اعراب نه وائی.

جواب: شارح کوی حاصل دادے چی دا اعتراض به تاهله کولے چه دا "ما" مونږ عبارة د شئ نه اخستلی حالانکه دا مونږ عبارة د حرکت او حرف نه اخلو نو عامل او معنی مقتضی خارج شول ځکه هغه حرکت او حرف نه دی۔

سوال: دا درسره منم چه معنی مقتضی للاعراب حرف او حرکة نه واقع کیږی او داهم منو چه عامل هم حرکت نه واقع کیږی خو دانه منو چی عامل حرف نه واقع کیږی مررت بزید کښ خو به عامل حرف واقع شوی دے دغه شان ان زیدا قائم کښ انّ شو حرف دے۔

جواب: بعض محشین حضرات وائی چه حروف دوه قسمه دی (۱) حروف معانی (۲) حروف مبانی زموږ مراد حروف مبانی دے نه معانی او حروف چی عامله واقع کیږی نو هغه حروف معانی وی نه چه مبانی

ترجمه د عبارة: اسانه ده "ولوابیقت" غرض د شارح ددی اعتراض نه دویم جواب کوی ځکه اول جواب صحیح نه دے ځکه الاعراب "ما" اختلف الخ کښ دا لفظ د "ما" جنس دے او جنس دپاره د جامعیت راخی ادخال پری کیږی مانعیت په فصول کیږی او دلته چه "ما" د حرکت او حرف نه عبارة شو نو په جنس سره مانعیت اوشو چه دا خلاف شو د تقاضا د جنس نه نو ځکه دویم جواب کوی حاصل دادےچه دا لفظ دما مونږ په تعریف کښ د حرکت او حرف نه عبارت نه اخلو بلکه دا مونږ عبارت د شئ نه اخلو او جواب د اعتراض نه داسی کوو چه ځغدئ ذهن ته د سبب نه سبب قریب راځی تو د سبب نه مطلق سبب نه دے مراد بلکه سبب قریب مراد دے او سبب قریب د اختلاف د اخر دپاره اعرا ب دے عامل او معنی مقتضی بعد دیاو سبب قریب هغه وی چی بلا واسطه سبب وی او سبب بعید هغه دے چی بالواسطه وی نو په اسم معرب کښ چه اختلاف راځی نو عامل چه اختلاف راولی نوپه سبب د معنی مقتضی او معنی مقتضی بیا په سبب د اعراب سره او اعراب بلا واسطة وی نو عامل بعید شو په دوه ؤ واسطو باندی یو معنی مقتضی او بل اعراب او معنی مقتضی په یو واسطی سره ده چی اعراب دے. نو دا دواړه خارج شول ځکه دا داسباب بعیده ؤ نه دی او اعراب سبب قریب مراد شو. شارح هم دا خبره کوی ترجمه اسانه ده. "و بقید الحیثیة" غرض د شارح د قید ثانی فائده ذکر کوی چی هغه هم دفع د اعتراض دے اعتراض غلام یو اسم معدود و نو تانی اضافة یاء د متکلم ته اوکړو نو غلامی شو نو اختلاف راغلو په اخر د معرب کښ او حالانکه دی ته خلق اعراب نه وائی ځکه که دا ځرته اعراب وو. نو پکار ده چه په حالت جری کښ د اعراب د غلامی لفظی شی حالانکه اعراب ئی په احوال ثلاثو کښ تقدیری اعراب دے.

جواب: چی مونږ مطلق اختلاف نه وایو په اخر د معرب کښ بلکه هغه وایو چی په حیثیت د معرب راغلی وی او غلامی کښ چی کوم اختلاف په اخر کښ راغلی دے نو دا په حیثیة د معرب نه دے بلکه داپه دی حیثیة دے چی داما قبل د یاء د متکلم دے. بیا دلته شارح

(علی اختیار المصنف) اوی وجه داده چه په دی کښی اختلاف دے چه غلامی معرب دے که مبنی نو بعض نحاة وائی چه دا مبنی دے ځکه یاء د متکلم مبنی دے او اضافة دیو معرب چه مبنی ته اوشو نو په دی اضافة سره مضاف د مضاف الیه نه بناء کسب کوی خو د مصنف په نزد دا مبنی نه دے بلکه معرب دے او اضافة دیو معرب چه مبنی ته اوشی نو بناء کسب کوی خو دهغه مبنی نه چه مبنی اصل وی او یاء د متکلم مبنی اصل نه ده "و بهذا القدر تم حد الاعراب جمعا و منعا" غرض د شارح په دےعبارت سره یو دے روستو متن ته تمهید دے او دویم دروستو متن د "ما" قبل سره ارتباط ذکر کول دی دریم دفع د اعتراض کول دی دوه اولنی خبری واضح دی اعتراض دادے چه تا د اعراب تعریف اوکړو چه "ما" اختلف الخ نو دا لیدل علی المعانی المعتورة علیه داپه تعریف کښی بے فائدے دے ځکه تعریف کښی قیودات یا دپاره د جامعیت وی یا دپاره د مانعیت وی بالفاظ دیگر یا دپاره دما به الاشتراك وی یا دپاره د "ما" به الامتیاز وی نو لیدل قید نه جامعیت دپاره صحیح کیږی او نه مانعیت دپاره ځکه تعریف په دغه قید د به سره جامع او مانع شو نو دی ته ضرورت پاتی نه شو دا بے فائدے شو.

جواب: دی قید کښی اختلاف دے په درمیان د شارحینو کښی اول مذهب دادے چه داپه تعریف کښی داخل نه دے او بعض وائی داخل دے کوم چه داپه تعریف کښی داخل نه وائ دهغو دلیل اول دادے چه په تعریف کښی کوم قیودات وی نو هغه دپاره یا د جامعیة وی او یا دپاره د مانعیة وی او دی قید سره نه جامعیة او نه مانعیة حاصلیږی لهذا خارج دے او دلیل ثانی ئی دادے چه مصنف په خپل کتاب امالی الکافیه کښی هم وئیلی دی چه "لیس هذا من تمام الح"د داپه تعریف کښی داخل نه دے خوپه دوی باندی سوال دے چه دا خارج شو نو دا د چا سره متعلق دے متعلق غواړی نو دوی جواب کوی چه دا متعلق کوو مونږ تر وضعَ مقدره پوری چی معلومیږی د مضمون د کلام نه ای وضع لیدل الخ نو دا جمله مستانفه شوه په جواب د سوال د سائل کښی ده سوال دا وئیل چه په دے اعراب ولی اخر د معرب مختلف کیږی نو جواب ئی اوکړو چه ددی وضع دی دپاره شوی ده چه دلالت اوکړی په معانی معتورو باندی دویم مذهب پکښی دادے چه دا قید په تعریف د اعراب کښی داخل دے دلیل اول دادے چی دائی تعریف سره متصل ذکر کری دے نو دا دلیل د د خول فی التعریف دے دلیل ثانی که داپه تعریف کښی داخل شی نو د اختلف فعل سره به متعلق شی نو دابه ظرف لغو شی او که خارج شی او د وضع سره متعلق شی نو ظرف مستقرته ا. لغو کښی نو لغو گرځول اولی دی د مستقر نه او جواب د دلیل اول د مذهب اول نه دادے چه هر قید د تعریف یا د جامعیت او یا د مانعیت دپاره کیدل ضروری نه دی. بلکه کله کله قید د نفس وضاحة او دنورو مقاصدو دپاره هم راځی لکه دلته پکښی مقصود تنبیه ده او د دویم دلیل نه جواب دادے چه د مصنف مقصد دادے چه دا قید د تمام دحد ته نه دے داسی نه چه د حد نه نه دے نو نفی د تمام الحد کښی اشاره ده چه دپاره د جامعیت یا مانعت نه دے نور

په تعریف کښې داخل دے چه مقصود پکښې تنبیه ده. شارح هم وائی چې لانه خارج داسی نه ده چه کنی دا خارج دے. او کنی لام متعلق دےتروضع پورے څکه دا بعید ده په نهایة لرې والی سره او دوه وجې دپاره د لرې والی او ونیلې شوے یو چې ظرف مستقر شی او لغو نه دویم چې تقدیر خلاف الاصل دے علاوه "لا" دا چه د ماتن د مقصد هم مخالف دے نو بعید شو "لیدل الاختلاف" غرض د شارح په دې عبارت سره د "لیدل" د ضمیر مرجع متعین کول او بیا اشاره کوی یو اختلاف ته اختلاف دادے چې په معانی معتورو دلالت اختلاف کوی اوکه مابه الاختلاف یعنی دا اعراب د څه نه عبارت دے د اختلاف نه اوکه د مابه الاختلاف نه نو متقدمین وائی دا د اختلاف نه عبارة دے څکه اعراب ضد د بناء دے او بناء عبارت دے د عدم اختلاف نه نو اعراب عبارة شو د اختلاف نه او متاخرین وائی چه اعراب عبارة دے د مابه الاختلاف نه یعنی هغه شئ نه چې هغی سره اختلاف راځی چې حرکت ، حرف دی څکه اعراب علامه ده او علامه داسی شئ پکار ده چه ظاهر وی او ظاهر کښې چه موجود دے او ښکاری نو هغه "ما" به الاختلاف دے نه چه اختلاف څکه دا ظاهری نه دے موجود بلکه معنوی دے بیا ماتن او شارح دواړه مذهبه نه خفه کوی. خو محشین حضرات دویم مذهب ته ترجیح ورکوی. "علی المعانی یعنی الفاعلیة" ....غرض د شارح تعین د معانی کوی اوپه فاضل رضی باندی رد ک چه هغه معانی عبارة ګرځولی دے دکون الاسم عمدة او غیر عمدة نه نو هغه وائی چه مراد تری نه دوه کونین دی یو کون الاسم عمدة دویم کون الاسم غیر عمدة بیا دا غیر عمده عام دے که بلا واسطه وی لکه منصوبات اوکه بالواسطه وی لکه جار مجرور نو شارح پری رد اوکړو او وجه د رد داده چه که د عبارت شی د کونین نه نو په کلام د ماتن کښې به تدافع او تعارض راشی په دی شان سره چه روستو ماتن پخپله وائی چه و انواعه رفع و نصب و جر فالرفع علم الفاعلیة الخ نو وی دا د فاعلیة او مفعولیة او اضافة نه عبارت ده او ته دلته کونین وائی. تدبر

﴿المعتورة علی صیغة اسم الفاعل﴾......تشریح د عبارت روانه ده . ماتن معتورة اوی او شارح وائی علی صیغة اسم الفاعل یو غرض د شارح د عبارت خپل نه تعین د صیغه کول دی څکه دا صیغه په درمیان د اسم الفاعل او اسم المفعول کښې مشترکه ده نو وای چه د اسم فاعل صیغه ده دویم غرض د شارح رد کول دی په فاضل هندی باندی په دی رد باندی معرفة په یو اعتراض موقوف دے اعتراض دادے چې د معتوره په صله کښې تاسو علی راوړو نو دا معتوره خو متعدی بنفسه دے څکه روستو ورله دی معنی کوی چه "اعتوروا الشئ" نو دی نه معلومیږی چه دا متعدی بنفسه دے نو یو نقصان خو دا شو دویم نقصان دادے چې ددې صلة کښې "علی" نه راځی لام راځی. نو یو جواب فاضل هندی کوی چه حاصل ئې دادے د هغی چه دا اعتراض به هله وی چه دا العتورة مونث صیغه د اسم الفاعل ویلے حالانکه دا مونث صیغه د اسم المفعول وایو او دا قانون دے چه کوم فعل متعدی بنفسه وی یو مفعول

ته او دا مجهول شی نو دالازم شی او کوم اسم فاعل چه متعدی وی او دا اسم مفعول شی نو داهم لازم شی نو دلته دا متعدی وو خو چه اسم مفعول شو نو لازم شو نو د متعدی کولو دپاره حرف جرته ضرورت راغئ نو علی مو راوړو نو معنی داشوه چه دلالت کوی په هغه معانیو باندی چه راوستلی شوی دی وارپه وار باندی په دی اسم معرب شارح په دی رد کوی ځکه دا ورته پسند نه دے ځکه چی وائی دا صیغه د اسم مفعول نه ده ځکه اصل په نسبة د فعل، شبه فعل کښ دادے چه دا فاعل ته اوشی نه مفعول ته نوکه دا د اسم مفعول صیغه شی نو نسبة مفعول ته راځی چه دا خلاف الاصل دے نو دا صیغه د اسم الفاعل ده او د اعتراض نه شارح جواب کوی چه "علی تضمین حاصل دادے چی دا معتورة متضمن دے د معنی د ورود او استیلاء لره او ددی صله کښ علی راتلی شی. نو دا "علیه" د معتوره په صله کښ نه دے چی ستا اعتراض وارد شی. مثال دادے چه فقه کښ راځی چه "ماء نجس ورد علی الماء فهو نجس" اوس دلته ورد علی الماء کښ علی دورد صله ده. یا "باب استیلاء المومنین علی الکفار" نو استیلاء صله کښ علی راغلی ده. نو دلته هم معتورة د ورود او استیلاء لره متضمن شو نو دا علی دهغی صله شوله نو څه اعتراض نشته اوس. بیا دلته لفظ "تضمین" راغئ نو ددی وضاحة ضروری دے نوپه دی کښ یو لغوی تحقیق دویم اصطلاحی تعریف دریم طریقه د استعمال نو دا صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه په معنی د چیزے در بغل گرفتن سره لکه وای ضمن الکتاب اذا وضعه فی ابطه دغه شان ضمن السوط و السکین او اصطلاحا ذکر کول دیو فعل، شبه فعل او د دی فعل، شبه فعل نه خپله معنی حقیقی اخستل خو دهغی سره اراده کول دیو بل فعل شبه فعل چه په هغه بل فعل شبه فعل باندی دهغی متعلقات دلالت کوی طریقه د استعمال نو د تضمین د استعمال دوه طریقی دی په دی تضمین کښ یو متضمِن وی او بل متضمَن وی چی کوم فعل شبه فعل مذکور وی نو هغه متضمِن دے بکسر المیم او چه کوم مذکور نه دے نو هغه متضمَن دے بفتح المیم طریقه اوله د استعمال دپاره داده چه دا متضمَن اصل شی او دا د متضمِن ورله تابع کړو دتابع مطلب دادے چه حال، صفة یا خبر واقع شی. دویمه طریقه د استعمال په عکس داولی ده چه دا متضمِن اصل کړی او دا متضمَن ورله تابع شی یعنی حال یا صفة او یا خبر واقع شی. او س دلته اجراء کوو په دی مثال کښ نو اول خو ماتن المعتورة علیه وئیلی دے نو دایو شبه فعل دے چه داپه خپله معنی حقیقی سره دے او دا متضمِن دے معنی دیو بل شبه فعل لره چه هغه واردةٌ او یا مستولیةٌ دے چی په دی باندی دا علی لفظ دلالت کوی. اوس دواړه طریقی د استعمال نو اوله طریقه د استعما ل خو به داسی شی چه د المعتورة متضمِن به اصل او گرځو او دا متضمَن چی واردةٌ او مستولیةٌ دے دا به تابع حال شی نو عبارت به شی "لیدل علی المعانی المعتورة واردةً علیه" چه دلالت اوکړی په هغه معانیو چه وار په وار راځی په داسی حال کښ چه وارد شی په دی معرب اوکه دویمه طریقه شی نو متضمَن به اصل شی او متضمِن به تابع حال شی نو عبارت به شی "لیدل علی المعانی الواردة علیه معتورةً" چه دلالت

اوکړی دایه هغه معانیو چه راتلونکی دی په معرب باندی په داسی حال کښ چه وار په وار به راځی یقال: "اعتورو الشئ و تعاوره" د اعتوار معنی کوی چه دا هغه وخت کښ وئیلی شی چه "اذا اخذه جماعة" یو جماعت واخلی بیا بل جماعة اخلی المناوبة دنوبة نه دے وار په وار اخستل مراد دی یعنی دا دری معانی چه فاعلیت مفعولیة اضافة به دادرے واړه دبه دی معرب په یو ځائے نه وی غونډے بلکه چه فاعلیت وی نو مفعولیة او اضافة به نه وی او چه مفعولیت وی نو فاعلیة او اضافة به نه وی او چی اضافة وی نو دا دواړه به نه وی "البدلیة" یعنی په طریقه د اجتماع سره به نه وی بلکه یو بل نه به انتظار کوی داسی نه چه په یو ځائے ځرو به جوړه کړی.

سوال: د اعرابِ علامه ده په دغه معانیو ثلاثو باندی نو علامه ته یو شئ ولی نه ګرځوی چه نه دری اوګرځول چه رفع، نصب، جر دی نو دا ته یوه اوګرځوه ځکه اصل په علامه کښ دادے چه دایه شئ واحد وی او چه علامات ډیر وی نو بیا په انسان خبط راولی.

جواب: "فاذا تداولت المعانی المقتضیة" حاصل د جواب دادے چه دا اعراب چه په کومو معانیو دلالت کوی هغه مدلولات دی په معرب کښ راځی نو دهغی په درمیان کښ دیو بل سره تضاد دے چه فاعلیة وی نو دا نور به نه وی وغیره نو چه مدلولاتو کښ تضاد دے نویه دال کښ هم تضاد پکار دے چه موافقة راشی په درمیان دد والو او مدلولاتو کښ نویه مدلولاتو ددوالو کښ تضاد دے او دا متعدد دی نو دغه شان دال هم پکار دے نو دوال هم متعدد شول چه تضاد پکښ متصور شی. شارح هم دا وائی ایضا کذلك دغه شان متعدد. "و انما جعل الاعراب" غرض د شارح دفع د بل سوال کوی چه د معرب دپاره خو امحله ثلاثه دی چه ابتداء وسط اخر دی نو د ا اعراب تاسو په ابتدا وسط کښ ولی نه ګرځولو چه په اخر کښ اوګرځولو.

جواب: "انما جعل" حاصل دادے چه دا نفس اسم دلالت کوی په مسمی باندی چه معرب دے او اعراب دلالت کوی په صفة د مسمی باندی چه فاعلیة مفعولیة اضافة دے. او صفة د موصوف نه متأخر وی نو موئر دال بالصفة هم دا دال بالموصوف نه متاخر کو دپاره د موافقة شارح هم داسی وائی.

سوال: داخبره به درسره په اعراب بالحرکت کښ او منم چه جاءنی زید دے چه په دی کښ دا اعراب روسنو دے ځکه اول دا اسم دے او بیا اخر کښ ضمه ده خو دا خبره په اعراب بالحرفْ کښ نه شم منلی ځکه په اعراب بالحرف کښے په موصوف او صفة راورو باندی تلفظ یو شان او یو ځائے کیږی.

جواب: دلته دا صفة په معنی د تابع سره دے او اعراب تابع دے او باقي شو معية نو دا په اعتبار د زمان سره دے او په اعتبار د ذات سره نه دے په اعتبار د ذات سره اعراب روستو دے د معرب نه نو مراد زمونږ د تقدم او تاخر نه ذاتي دے نه زماني.

یادا تقدم او تاخر عام دے که په اعتار د کل اجزاء سره وي او که په بعض اجزاء سره وي نو اعراب بالحرکت کښې په اعتبار د کل اجزاء و سره دے او اعراب بالحرف کښې په اعتار د بعض اجزاء سره دے وهو ماخوذ من اعربه ددې تفصيل په مخکښې سبق کښې تير شوی دے فلا نعيد تفصيله خوف التطويل

(و أنواعه رفع و نصب وجر) دې مقام کښې چند خبرې دي (۱) ربط (۲) مقصد د دې عبارت (۳) وجه د حصر په انواع د اعراب الاسم کښې (٤) د اجزاء تشريح (٥) د مجموعه تشريح

ربط: نو معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو ماتن د دريو خبرو د مقدمه د باب اول نه چه تعريف د معرب ، حکم د معرب او تعريف د اعراب وو نو په ځلورمه خبره ئې شروع اوکړه چه هغه ذکر د انواع د اعراب الاسم دے نو فقال و انواعه او د تعريف نه پس دا اقسام ځکه ذکر کوی چه تعريف سره وجود ذهنی راځی نو هغی کښې لحاظ دا ازکیاؤ وی او په اقسامو سره وجود خارجي د شئ معلوميږي چه د غير ازکیاؤ لحاظ ئې اوکړو او دغه شان چه د اعراب مفهوم او مصداق خه معلوم شي نو انواع ځکه ذکر کوی.

(ربط لفظی): دا "واو" یا عاطفه دے یا استینافيه دے "انواعه" مبتدا ده او باقي مانده خبر دے نو مبتداء خبر جمله خبرية اسمية معطوفة يا مستانفة.

(مقصد عبارت):نو مقصد دادے چه په دې عبارت کښې مصنف انواع د اعراب الاسم ذکر کوی چه هغه درې دی رفع، نصب، جر لکه ځنګه چه انواع د اعراب الفعل درې دی رفع، نصب، جزم نو داسې د اسم هم درې دی.نو داخبره معلوم شوه چه په انواعو د اعراب الاسم کښې او فعل کښې دا رفع او نصب مشترك د ی او بيا جر خاص دے د اسم سره او جزم خاص دے فعل پورې.

(وجه د حصر په انواع ثلاثوکښې): دا اعراب به خالي نه وي یا به دلالت کوی په عمده یا په غير عمده که په عمده دلالت کوی نو دا رفع ده اوکه په غیر عمده يعنی فضله ئې دلالت کوو نو بیا به کالی نه وی یا به بلا واسطه وی یابالواسطه که اول ؤنونصب او که ثاني نو جر .

(تشریح د اجزاؤ):نو اول لفظ واو دے نو یا خو عاطفه او یا استینافيه .

انواع: دا جمع د نوع ده نوع، صنف، قسم درې الفاظ دی مختلف او معنی یوه لرې فرق اعتباری یکښې داسې دے چه کله يوکلی مقيد شي په ذات سره نو نوع ورته وائي او چه مقيد ئې

کړی په عرض سره نو صنف ورته وائی او د قسم اطلاق په دواړوکیږی اوپه اصطلاح د مناطقو کښ نوع کلی مقول علی کثیرین متفقین بالحقائق دے. دلته هم داسی ده لکه رفع یو "کلی" دے چه صادق دے په کثیرین باندی چه متفق بالحقائق دی لکه د رفع اطلاق په فاعل هم کیږی په نائب فاعل هم کیږی په مبتدا او خبر هم کیږی دغه شان نور مرفوعات ټول د رفع لاندی دی دغه شان نصب، جر هم دی. "انواع اعراب الاسم" غرض د شارح په دی عبارت سره د ضمیر مجرور مرجع متعین کوی او دویم دفع د سوال ده چه حصر د انواعو په دریو کښ صحیح نه دے د وجی د وجود د قسم رابع نه لکه جزم شو.

جواب: دا اعتراض په هغه وخت وو چه زما مطلق اعراب مراد وی حلانکه زما مراد خو انواع د اعراب الاسم دی نه چه مطلق او جزم فعل کښ وی "ثلاثة" په دی کښ اشارة ده چه دا "انواعه" مبتداء ده او رفع و نصب و جر ورله خبر دے او عطف مقدم دے په ربط باندی او کله چه عطف په ربط مقدم شی نو د اخبارمتعدده نه تعبیر په لفظ او خبر واحد سره کیږی او دلته عطف ځکه مقدم دے چه مبتدا صیغه د جمع ده نو انواع به هله وی چه رفع ، نصب جر درے واړه راشی. هذه الاسماء دی مقام کښ شارح یو مسئله بیانوی چه دا زبر، زیر، پیش، غورندي دي نه کله دا خلق تعبیر په رفع نصب جر، جزا سره کوّی او کله تری نه تعبیر په ضمة فتحة ، کسرة، سکون سره کوی او کله په ضم، فتح، کسر، وقف سره تری نه تعبیر کیږی نو ددی مقصد څه دے؟ دلته څه فرق نشته او کنه. نو دی مسئله کښ دری مذاهب دی. (۱) کوفیان په مذهب کښ توسع ده هغو وائی چه د حرکاتو د معرب او د مبنی نه او د دوی د سکون نه په هر څه تعبیر چه کوی نو کولی شی فرق نشته (۲) بصریان وائی چه د رفع، نصب ، جر تعبیر خاص دے د معرب سره او پاتی شوه ضمه، فتحه، کسره نو دا د معرب سره خاص نه دی، په دی سره د حرکاتو د معرب او مبنی دواړو نه تعبیر کولی شی. خو صرف دومره خبره ده چه مبنی کښ استعمال زیات دے او معرب کښ کم دے او دلته خو ورسره تاء ذکر ده او هلته مبنی کښ بلا تاء مذکور دی شارح هم دا خبره کوی چه مذهب د بصرینو دادے ترجمه اسانه ده. (۳) بعض نحاة وائی چه پکښ عبد الغفور لاری صیب هم دے چه دا رفع، نصب ، جر خاص دی د حرکاتو او حروفو د معرب سره "لا" تستعمل فی المبنی او جزم خاص دے د سکون د معرب سره او ضم، فتح، کسر بلا تاء خاص دی د حرکاتو د مبنی سره او وقف خاص دے د سکون د مبنی سره "لا" تستعمل فی المعرب او ضمة فتحة کسرة مع التاء دا مشترك دی بین المعرب و المبنی دغه شان سکون هم دے.

سوال: مصنف دی مقام کښ د حرکاتو د معرب او د حروفو د معرب نه تعبیر په انواع سره کوی او په مبنی کښ دهغی د حرکاتو نه تعبیر په القابو سره کوی نو څه وجه ده چه فرق کوی نو جواب دادے چه دلته دا حرکات په خان خان له اشیاء دلالت کوی لکه رفع په فاعلية نصب په مفعولية، جر په اضافة نو دهر یو دپاره نوع جدا جدا ده نو تعبیر ځکه په انواع سره

کوی او حرکات د مبنی په ځان لره نو عودلالت نه کوی بلکه دا دهغه حرکاتو د مبنی دپاره نومونه دی او لقب نوم د شئ ته وائی نو د هغی نه ئ ځکه تعبیر په القابو سره اوکړو.

(تشریح د مجموعه):(۱) تعین د صیغه د رفع ، نصب او جر (۲) تعین د معنی لغوی ددی (۳) تعین د معنی اصطلاحی ددی (٤) وجه د تسمیه دهر واحد (۱) نو دا دری واړه صیغی د مصدرر دی (۲) رفع لغت کښ اوچتوالی ته وائی او نصب اودریدو(اغی قیام) ته وائی او جر راښکوته وائی (۳) رفع په اصطلاح کښ هغه ضمه یا قائم مقام د ضمه دے چه دلالت په فاعلیة کوی او نصب په اصطلاح کښ فتحه یا قائم مقام د فتحه دے چه دلالت کوی په مفعولیة دیو شئ باندی او جر په اصطلاح کښ کسره یا قائم مقام د کسره دے چه دلالت کوی په مضاف الیه دیو شئ باندی (٤) وجه تسمیه داده چه رفع ته ځکه رفع وائي چه دابه خپلو اخوینو باندی او چته ده او نصب ته ځکه نصب وائی چی نصب فضله واقع کیږی. ځه نقصان نه راځی که لری شی او اودرلے شی د کلام نه او جر ته ځکه جر وائي چه دا راکاږی معنی د فعل شبه فعل خپل مدخول ته والوجوه کثیرة فیها و نکتفی علی "ما" بیناه

(فالرفع علم الفاعلیة) دلته بالترتیب ځو خبری دی (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) د اصطلاحی تعریف تشریح (٥) وجه د تخصیص د رفع د فاعل سره او د نصب د مفعول سره او د جر اضافة سره.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف علیه الرحمة د تفصیل د ځلورو خبرو د مقدمه د باب اول نه چه یو تعریف د معرب دویم حکم د معرب دریم تعریف د اعراب ځلورم انواع د اعراب نو شروع ئ اوکړه په پنځمه خبره د مقدمة د باب اول کښ چه تعریف دهر نوع دے فقال و الرفع یا چه کله فارغ شو مصنف رحمه الله د اجمال د انواعو ثلاثه د اعراب الاسم نه نو اوس ئ دهغی په تفصیل شروع اوکړه دری سوالات راغلل نو بالترتیب جوابات دادی (۱) نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع ق الذهن وی او دغه شان دا نواع ثلثةتفصیل ته هم محتاج دی (۲) رفع ځکه مقدم کړه چه په اجمال کښ اول رفع وه نو چه تفصیل موافق شی د اجمال نوبه دی کښ وی جمال او په اجمال کښ دا ترتیب ځکه اختیار کړی وو چه رفع عمده وه نو عمده طبعا مقدم وی نو وضعا هم مقدم شو محصول الموافقة بینهما او نصب، جر اګرچه دواړه په فضلیة کښ شریك دی خو نصب بلا واسطة وی او جر مع الواسطة وی او بلا واسطه په نسبة سره ذی الواسطة ته اصل وی نو اصل مقدم وی په غیر اصل طبعا نو موثر وضع کښ هم مقدم کړو چه وضع د طبع سره موافق شی. (۳) تفصیل داسی کوی چه اول د رفع تعریف کوی او بیا د نصب او بیا د جر .

(ربط لفظی): فا تفصیلیة "الرفع" مبتداء "علم الفاعلية" خبر مبتداء خبر جمله اسميه معطوفة عليها والنصب علم المفعولية پرى هم عطف دے او والجر علم الاضافة پرى هم عطف دے نو معطوفة عليها سره د معطوفين نه نو دا جمله خبرية اسمية تفصيلية شوه.

(تحقيقى لغوى): دى كښ صيغه، معنى وجه تسميه عموما وى او دا په مخكښ سبق كښ تير دے.

(اصطلاحى تعريف): نو د رفع تعريف او د نصب او جر داماتن كړى دى

(تشريح د تعريف اصطلاحى):نو ماتن اوى فالرفع شارح وائى حركة كان او حرفا ددى قيد فائده به شارح بيانوى خو په دى تعميم كښ دى ته اشاره ده چه رفع كله په حركت سره وى او كله په حرف سره ئويه دى اعتار رفع په پنځه طريقے سره(۱) رفع په ضمه لفظى سره لكه جاءنى زيد (۲) رفع په ضمه تقديرى لكه جاءنى موسى (۳) رفع په الف لفظى سره لكه جاءنى رجلان (٤)رفع په واو لفظى سره لكه جاءنى مسلمون (٥) رفع په واو تقديرى سره لكه جاءنى مسلمى او په بعض اوقات كښ الف تقديرى هم راځى خو هغه قليل دے نونه ذكر كيږى "علم الفاعلية" اى علامة كون الشئ فاعلا غرض د شارح په دى عبارت تعين د معنى د علم كوى ځكه داپه درى معانيو راځى (۱) علم په معنى غر لكه وله الجوار المنشات فى البحر كالاعلام (۲) په معنى دنوم "ما" وضع لمعين بحيث "لا" يتناول غيره (۳)علم په معنى د علامة سره نو شارح تعين اوكړو چه دا دريمه معنى مراده ده او قرينة په دى عدم صحة د دغه دوو معانيو دے چه د غر معنى هم صحيح نه دے ځكه بيا معنى مهمله ګرځى او دغه شان دويمه معنى هم صحيح نه ده ځكه علم د شئ محمول په شئ وى او دلته رفع چه علم شى دپاره د فاعل نو حمل صحيح نه دے اى "لا" يقال الفاعل رفع نو دريمه معنى متعين شوه .

"الفاعلية" دلته په دى كښ دا"يا"ده داپه دوه قسمه ده (۱) ياء نسبتى دا هغه ده چه ګرځوى ملحوق خپل لره مضاف اليه د المنسوب په واسطه د الى لكه عربى نو داسى به شى چه الرجل المنسوب الى العرب ملحوق ئى مضاف اليه د المنسوب كړو په واسطه د الى سره دغه شان عجمى الرجل المنسوب الى العجم (۲)مصدريه دا هغه ده چه ګرځوى ملحوق خپل لره خبر دپاره كون محذوفه سره د اسم محذوفه لكه دلته چه كومه ده ځكه شارح داسى وائى چه كون اشئ الخ نو دا تعين شو چه د ياء مصدريه ده نسبية نه ده ځكه كه نسبيه شى نو معنى به شى "الرفع علامة الشئ المنسوب الى الفاعل" او دا معنى صحيح نه ده ځكه رفع علامه د فاعل ده او د شئ نه ده چه فاعل ته منسوب وى او كه بالفرض و التقدير ځوك محنت او كوشش اوكړى او داياء نسبيه كړى او معنى صحيح كړى خو دا بياهم د ماتن او شارح راى نه ده ځكه روستو ماتن وائي الاضافة مصدر دے نو بيا دا فاعلية، مفعولية هم مصدر پاتى كول پكار دى چه د متقابلينو په درميان كښ په مصدرية كښ مناسبة راشى.

سوال: ماتن لره پکار دی چه داسې او وائي چه فالرفع علم الفاعل ځکه دا متن دے او بناء د متونو په اختصار ده .

جواب: دا یاء مصدری ئے ځکه راوړه چه څوك وهم اونکړی چه دا رفع د ذات د فاعل دپاره علامه ده ځکه چه په جاءنی زید کښې خو ذات د فاعل شته او علامة چه رفع ده ورسره هم ده نو مقصد دادے چه چرته دا زید وی نو هلته به ورسره رفع وی او حالانکه رایت زیدا کښې زید نشته او رفع نشتې نو دایاء مصدریه ئي راوړه چه دا زید به مرفوع ګرځي خو هغه وخت چه دا موصوف وی په صفة د فاعل او که په صفة د فاعل موصوف نه وو نو بیارفع علامه نه ده دذات ددے.

سوال: زه درته داسې اسم ښایم چه علامه به ئې رفع وی او فاعل به نه وی لکه مبتداء او خبر مرفوع دی خو فاعل نه دی .

شارح جواب کوی "حقیقة او حکما" دا فاعل عام دے که حقیقی وی اوکه حکمی وی فاعل حقیقی هغه دے چه مخکښې دهغی نه فعل، شبه فعل وی او دهغی نسبة دی ته په طریقه د قیام سره شوی وی لکه ضرب زید او یا ضارب زید او فاعل حکمی هغه دے چه هغې کښې یو خصلة وی د خصلتونو د فاعل حقیقی نه د فاعل حقیقی دوه خصلته دی (۱) کون د دی مسند الیه (۲) کون ددی جز ثانی د جمله نو مبتداء حکمی فاعل دے اول خصلت دے پکښې او خبرهم فاعل حکمی دے ځکه دویم خصلت دے پکښې د فاعل حقیقی نه چه جزء ثانی د جملې راځی. شارح هم دا وائي و"النصب" چه د تعریف د رفع نه فارغ شو نو په تعریف د نصب کښې شروع شو بیا دلته هم تعمیم کوی چه حرکة کان اوحرفا نو دی کښې اشاره ده چه د نصب هم پنځه طریقے دی (۱) نصب په فتحه لفظی سره لکه رایت زیدا (۲) نصب په فتحه تقدیری سره لکه رایت موسی (۳) نصب په کسره لفظی سره لکه رایت مسلمات (٤) نصب په الف لفظی سره لکه رایت اباك (٥) نصب په یاء "ما" قبل مفتوح او مکسور لکه رایت مسلمین، مسلمین. "علم المفعولیة" دلته هم هغه یاء مصدریة ده. بیا سوال راځی ته وائي نصب علامه د مفعول ده نو مستثنی، تمیز دا منصوب دی او مفعول نه وی نو شارح وائي چې "حقیقةً او حکمًا" چه دا مفعول عام دے که حقیقی وی او که حکمی وی حقیقی هغه دے چه "ما" وقع علیه فعل الفاعل. بالفاظ دیګر چه تجاوز د فعل، شبه فعل ورته شوی وی پس د تمام د فعل، شبه فعل نه په مرفوع سره لکه ضرب زید عمروا نو د ضرب تمام په زید مرفوع اوشو او بیائي تجاوز عمرو ته اوکړو داشو مفعول حقیقی او مفعول حکمی هغه دے چه په هغې کښې یو خصلت وی د خصلتونو د مفعول حقیقی نه د مفعول حقیقی خصلت کون ددی دے چه واقع وی په مقام ثالث یاندی یا کون ددی دے فضله بلا واسطه نو پکښې داخل شول ځکه چه که مفعول حقیقی نه دی نو مفعول حکمی دی ځکه خصلت د مفعول حقیقی

پکښې شته دے چه مقام ثالث کښې راځي ځکه اول فعل شبه فعل راځي بيا فاعل، نائب فاعل او بيا مفعول حکمي او حقيقي راځي.

سوال: داخو په تمیيز د مفرد کښې نه راځي لکه رطل زيتا دلته خو زيتا مفعول دے او په مرتبه ثاني کښې دے نه مرتبه ثالث کښې

جواب: دادے چه دا رطل اسم تام دے په تنوين سره نو دا رطل اول او تنوين دويم او زيتا دريم نو په مقام ثالث کښې اوس هم دے. "والجر" کله چه فارغ شو د تعريف د رفع او نصب نه نو شروع ئې اوکړه په تعريف د دريم قسم کښې چه جر دے نو قال و الجر شارح هم هغه شان تعميم اوکړو نويه دې اعتبار سره د جر څلور طريقے راځي (۱) جر په کسره لفظي لکه مررت بزيد (۲) جر په کسره تقديري سره لکه مررت بموسى (۳) جر په فتحه لفظي سره لکه مررت باحمد (٤) جر په یاء "ما" قبل مفتوح یامکسور سره لکه مررت بالرجلين، بالمسلمين يا مررت بابيك بعض اوقاتو کښې یاء تقديري سره هم راځي خو هغه قليل دے نو "لا" يذکر دے "علم الاضافة اي علامة کون الشئ مضافا اليه" شارح يو تعين د معنى د علم اوکوی او د اضافة نه روستو ئې لفظ دکون راوړو دې کښې اشاره دې ته ده چه جر علامه د ذات د اضافة دپاره نه ده ځکه دا اضافة يو نسبة دے په درميان د منتسبينو کښې داچه متحقق کيږي نويا په ضمن د مضاف او يا مضاف اليه کښې نو چا به داوهم کړی وو چه داجر به يا د مضاف د ذات او يا د مضاف اليه د ذات دپاره علامه وی نو بيا خو په مررت بزيد کښې د زيد مجرور دے نو چه چرته دا......وی نو مجرور به وی حالانکه په جاءني زيد کښې زيد شته دے او علامه ته دجرنشته نو شارح لفظ د کون زيات کړو چه دا د دې دپاره علامه ده خو په حيثيت د دې چه ته ئې مضاف اليه راواخلې يعنې په صفة د اضافة باندې که په دې صفة دې راوانخستو نو بيا د اجر علامه نه ده بيا شارح مضافا اليه اوی دې سره دفع د سوال ده چه اضافة خو نسبة دے په درميان د مضاف او مضاف اليه کښې نو معنى داده چه داجر به ددولړو علامه وی حالانکه مضاف خو کله مرفوع راځي لکه جاءني غلام زيد دغه شان منصوب هم لکه رايت غلام زيد نو شارح جواب اوکړو چه زما مراد د اضافة نه هغه نسبة دے چه په ضمن مضاف اليه کښې متحقق وی.

دويم سوال داهم وو چه دا اضافة نسبة دے يو امر معنوی دے او علامه خو امر لفظي وو نو جريان د لفظي په معنوی صحيح نه دے نو ځکه داعلامه د اضافة کرځوي نو شارح اوی چه اضافة مصدر مبنى للمفعول اخلم او بيا پکښې مضاف اليه اخلم.

سوال: تايه الفاعليه، المفعولية کښې ياء مصدريه راوړه نو دلته په اضافة کښې دی ولی نه ده راوړی شارح جواب کوی چه و "اذ كانت الاضافة" چه ضرر نشته چه دا اضافة دی محتاج شی يا مصدرية ته ځکه دا مصدر دے لم تحتج ضمير پکښې اضافة ته راجع دے.

(وجه د اختصاص د رفع د فاعل سره او د نصب د مفعول او جر د اضافة سره :)

(انما اختص) حاصل دادے چه رفع په ضمه او واو سره ده نو ثقیله ده او فاعل قلیل دے نو خفیف دے نو ثقیل مو دے خفیف لره ورکړو د وجې د عدل او انصاف نه اعدلوا هو اقرب للتقوی. الایة....

سوال: تا اوې چه فاعل قلیل دے نو دا په کوم اعتبار سره وائې په اعتبار د افرادو اوکه په اعتبار د انواعو سره که په اعتبار د افرادو شی نو فاعل خو بیا قلیل نه دے کثیر دے ځکه چه هم د فعل لازم دپاره راځی او هم د فعل متعدی دپاره په خلاف د مفعول چه صرف د فعل متعدی دپاره دے او که په اعتبار د نوع سره وائې نو بیا خو فاعل یو نوع ده قلیل دے خو دا صحیح نه ده ځکه چه رفع خو علامه د افرادو ده نه د نوع ځکه هغه عبارة دے مفهوم نه دغه شان که نوع شی خو بیا هم افراد د فاعل ډیر دی دهغے په چه سره پکښے ثقل راغلو په هغه ډیرے دثقل دانواعودمفعول نه نو دی لره څه اعتبار نشته .

جواب: (۱) زما مراد په اعتبار د نوع سره قلة دے او که بیا هم افراد زیات دی خودفاعل دیو نوع افراد کم وی د افرادو ډیر و انواعو نه کما فی المفاعیل الخمسة (۲) دا شارح یوه نکته وئیلی ده چه جامعیت مانعیت پکښ شرط نه دے (۳)او اصل خبره داده چه رفع مو فاعل سره ځکه خاص کړه چه رفعه عمده ده او فاعل هم عمده دے نو عمده لره مو عمده د وجې د مناسبت نه ورکړه. او بیا نصب خفیف وو نو مفعول لره مو ورکړه ځکه دا هم خفیف وو خفیف مو خفیف لره ورکړو او باقی جر پاتې شو مضاف الیه لره.

سوال: تاسو دا جر علامه د مضاف الیه ولې ګرځوئ د مضاف نې او ګرځوئ .

جواب: دا جر مقابل واقع کیږی د رفع او نصب نو ځنګه چه دی کښ تقابل دے نو ددی په مدخول کښ هم تقابل پکار دے او تقابل په هله راځی چه دا جر د مضاف الیه علامه شی ځکه چه مضاف الیه همیشه مجرور وی په خلاف د مضاف بانډی چه کله مرفوع منصوب هم راځی نو د تقابل دپاره مو مضاف الیه واخستو.

(العامل "ما" به یتقوم) دلته چند خبرې دی اجمالا (۱) الربط بما قبل (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) تشریح د اصطلاحی تعریف (٥) وضاحة بالمثال

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د پنځو خبرو د مقدمه د باب اول نه نو شروع ئې په شپږمه خبره اوکړه چه تعریف د عامل دے اوتعریف د عامل ځکه کوی چه معرفة د معرب موقوف دے په معرفة د اعراب او معرفة د اعراب موقوف دے په معرفة د عامل نو معرفة د معرب موقوف شو په معرفة د عامل بانډی اما دا خبره چه تعریف د اعراب ئې په عامل ولې مقدم کړی دے؟ نو دا ځکه چه اعراب د تعریف د عامل یو جزء

دے او عامل ورله کل دے او معرفۀ کل موقوف وی په معرفة د جزء باندې نو تقدم تعریفه .

(ربط لفظی): العامل مبتداء او باقی مانده ورله خبر مبتداء سره د خبر نه جملة خبرية اسمية شوه.

(تحقیق لغوی): نو یو صیغه دویم معنی دریم وجه دتسمیة نو عامل صیغه د اسم فاعل ده د باب سمع نه عمل یعمل معنی ئې کار کونکی سره راځی او مصطلح عامل ته هم ځکه عامل وائی چه دی په معرب کښې کاروائی کوی. چه کله چه احداث الاعراب سره وی او کله اختلاف راولی

(تعریف اصطلاحی): نو یو مطلق عامل دے دویم عامل الاسم دے مطلق عامل تعریف (۱) "ما" به رفع و نصب و جر او جزم (۲) "ما" به یختلف اخر المعرب بوجه مخصوص د عامل الاسم تعریف مصنف کوی. سوال تا د عامل کوم تعریف اوکړو نو دا جامع نه دے خارج شو ترې نه عامل د فعل مضارع چه ورسره حصول د معنی مقتضی نه کیږی ځکه هغه نه فاعل دے او نه مفعول او نه مضاف الیه نو دا تعریف صحیح نه شو.

جواب: په العامل کښې الف لام عهدی دے نو معهود عامل الاسم دے.

سوال: دلته مطلق ذکر دے او ته ئې په اسم سره مقید کوی نو دا مجاز دے قرینه څه ده.

جواب: بحث الاسم ورله قرینه ده.

سوال: نو ستا مراد به د عامل نه لفظی وی نو عامل د مبتداء څخبر ترې خارج شو ځکه هلته خو عامل لفظی نشته دے په اصح مذهب سره.

جواب: عامل نه مراد عام دے که لفظی وی او که معنوی نو عامل معنوی چې د مبتداء، خبر دے داپکښې داخل شو

(و العامل "ما" به یتقوم)...څلورمه خبره تشریح د اصطلاحی تعریف ده نو العامل تشریح شوی ده "ما" به یتقوم اول لفظ "ما" دے نو موصوله او موصوفه دواړه صحیح کیږی خو موصوفه کرخول غوره دی ځکه داپه جانب د خبر کښې ده او خبر نکره وی نو نکره به هله شی چه دا موصوفه شی نو عبارت شو د شئ نه "به" دا باء دپاره د سببية ده اعتراض دفع شو.

سوال: دا تعریف د عامل صحیح نه دے ځکه داخل شو پکښې اسناد چه داهم یو شئ دے او ددی په وجه باندی معنی مقتضی حاصلیږی دپاره د اعراب او حالانکه څوک ورته عامل نه وائی.

جواب: (۱) باء دپاره د سببية ده او اسناد دا شرط د تقوم د معنى مقتضى دے او كه بالفرض دا اومنو چه دا سبب دے نو بيا مراد زمونږ د سبب نه سبب قريب نه دے بلكه بعيد دے او اسناد سبب قريب دے.

سوال: اصل په سبب كښ سبب قريب دے او بعيد خلاف الاصل دے نو سبب قريب مراد كول حقيقة دے او سبب بعيد اخستل مجاز دے او د حقيقة نه مجاز ته صيرورة كول قرينه غواړى نو قرينه څه ده .

جواب: قرينه داده چه كه سبب قريب واخلو نو بيا اسناد ته هم عامل وئيل پكار دى او حالانكه اسناد عامل نه دے. (۲) مراد د"ما" نه عامل دے نو اسناد خارج شو څكه هغه عامل نه دے.

سوال: دا خو لازم شو اخذ د محدود په حد كښ او دا جائز نه دے.

جواب: محدود كښ مراد د عامل نه عامل مصطلح دے او حد كښ مراد عامل لغوى يعنى تاخير كونكى .

سوال: (۱) دا"به" جار مجرور دے متعلق غواړى نو هغه يتقوم دے و دا قانون دے چه متعلق په خپل متعلق كښ عامل وى. اوعامل په اصل كښے په معمول خپل مقدم وى او دلته عكس او شو (۲) تا چه د اعراب تعريف كوو نو دا"به" دى روستو كړے دے او دلته دى مقدم كړى دے نو دلته څلور صورتونه دى (۱) چه دلته او هلته مقدم وى (۲) چه هلته او دلته موخر وى (۳) چه هلته مقدم دلته موخر (٤) هلته موخر او دلته مقدم نو دا څلورم صورت دى ولى خاص كړے .

جواب: دا موئر څكه مقدم كړى دے چه حصر پكښ حاصل شى چه خاص په دى عامل سره معنى مقتضى راځى نه په بل شئ باندى نو څكه تقديم راغلى دے او هلته څكه نه مقدم كوو چه هلته حصر مقصود نه د ے څكه چه دا اختلاف د اخر د معرب د اعراب په وجه هم راځى او د عامل په وجه هم راځى اوو دغه شان په معنى مقتضى هم راځى "يتقوم" .

سوال: تقوم د قيام نه دے اود قيام تعلق د ذوى الروح او ذى الاجساد سره وى او دا عمل خو د ذوى الاجساد نه نه دے.

جواب: يحصل ذكر د تقوم مراد حصول.

سوال: دا تقوم په خپله معنى حقيقة او په معنى د حصول باندى مجاز دے نو د حقيقة نه چه صيرورة كيږى مجاز ته نوقرينه او علاقه غواړى تاسره قرينه او علاقة څه ده؟

جواب: قرینه خو دلالت نفس الكلام دے چه د تقوم خپله معنی صحیح نه ده او علاقه په درمیان د حصول او اوتقوم کښے دلزوم ده﴿المعنى المقتضى اى معنى من المعانى﴾....غرض د شارح دفع د سوال ده.

سوال: دا تعریف دعامل صحیح نه دے ځکه دا مانع نه دے داخل شو پکښ حرف مضارعة ځکه هغه یو شئ دے او چه کله د فعل مضارع سره یو ځائے شی نو معنی مقتضی د اعراب حاصلیږی چه مشابهة ئی دے د اسم فاعل سره په عدد د حروفو او ترتیب د سکناتو او حرکاتو نو حرف مضارعت بانذی تعریف صادق دے او څوك ورته عامل نه وائی.

جواب: "معنی" حاصل دادے چه د معنی نه مطلق معنی نه ده مراده بلکه معنی د معانیو معتورة نه مراد ده چه فاعلية، مفعولية او اضافة دے نو مشابهة اسم فاعل معنی مقتضی نه ده.

سوال: ماتن اوی المقتضی شارح وائی المقتضية نو شرح د مشروح خلاف شوه.

جواب: متن کښ المقتضی صفة د المعنى دے او المعنى مفرد مذکر دے نو صفة هم مفرد مذکر دے او شرح کښ دا صفة د معانیو دے او دا جمع ده او دایه تاویل د جماعة سره مفرد مونث وی نو صفة هم مونث شو. "للاعراب" دپاره د اعراب.

وضاحة بالمثال: ففی جاء زید مخکښ اسم معرب تیر شو چه المرکب الذی الخ چه دابه مرکب وی او په هر مرکب کښ لابدی وی د علل اربعونه (۱) علت مادی چه دهغی په وجه حصول د مرکب راخی بالقوة (۲) علت صوری چه د هغی په وجه حصول د مرکب راخی بالفعل (۳) علت فاعلی چه دهغی نه صدور د مرکب کیږی (٤) علت غائی چه هغه باعث وی په کولو د دغه مرکب بانذی دا ذهناً مقدم وی او وجوداً موخر وی که مثلا کټ یو مرکب دے علت مادی پکښ بازوګان، پښی، بند دے چه صلاحية د کټ لری او چه دا کټ جوړ شو نو دا علت صوری دے او د کټ جوړونکی ورله علت فاعلی دے او په دی کټ کښ او ده کیدل سملاستل ، یو پښه په بله اچول وږهم وهل دا وارهم علت غائی دے نو دایه تصور کښ مقدم وی او وجود کښ د ټولو نه روستو وی بیا دا علل اربعه په هر مرکب کښ وی نو اوس دا اسم معرب هم یو مرکب ے علت مادی ورله دا اسم معرب او ورسره عامل او علت فاعلی پکښ عامل دے او علت غائی پکښ دا اختلاف ده اخر دے او علت صوری ورله دا اعراب ورکول دی شارح وائی ففی جاء زید زید عامل دے ځکه تقوم د معنی د فاعل ورسره او شو او دا زید معرب دے او دا رفع اعراب دے نو دا علامه د فاعلية شوه او اختلاف پکښ غایه شوه دغه شان رایت زیداً، مررت بزید هم دے.

﴿معرب﴾

(فالمفرد المنصرف و الجمع المکسر) دی عنوان کښ چند خبری ضروری دی اجمالا (۱) ربط (۲) اجمالی مقدر د اصنافو د اعراب الاسم (۳) تعین د اصنافو د اعراب الاسم (٤) وجه د حصر په اصنافو کښ (۵) تعین د هغه اسماءو چه اول صنف پکښ جاری دے (٦) تعریف د قسم اول د اصنافو د اعراب الاسم (۷) مثال دهغی (۸) وجه تخصیص .

(ربط): ربط معنوی (۱)دادے چه کله فارغ شو مصنف رحمه الله د شپږو خبرو د مقدمه د باب اول نه نو شروع ئی په اوومه خبره اوکړه چه هغه اصناف د اعراب الاسم دے نو فقال:فالمفرد الخ (۲)یا مخکښ مصنف انواع د اعراب الاسم ذکر کړل اوس ورله اصناف ذکر کوی نوع دی ته وائی چه کلی په قید د ذاتی مقید شی او صنف چه مقید شی په قید د عرضی سره نو اول هغه وو چه په قید د ذاتی مقید وو اوس هغه چه مقید دی په قید د عرضی سره (۳)یا کله چه فارغ شو مصنف د اقسام د اعراب الاسم نه باعتبار الذات نو شروع ئی اوکړه په اقسامو د اعراب الاسم کښ باعتبار الو صف لکه لفظی به وی که تقدیری او دغه شان دا اعراب به حقیقة وی که حکما او دایه بالحرکت وی او که بالحرف به وی.

ربط لفظی:فاء تفصیلیه المفرد المنصرف معطوف علیه واو حرف عطف الجمع المکسر المنصرف معطوف شو معطوف سره د معطوف علیه نه مبتداء شوه دا بالضمة رفعا والفتحة نصبا و الکسرة جرا په اعتبار د متعلق سره خبر شو مبتداء سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه تفصیلیه شوه.

(اجمالی مقدار د اصنافو د اعراب الاسم) : نو دی کښ اختلاف دے بعضو شپاړس ذکر کړی دی او بعضو نه او بعضو صرف دوه ذکر کړی دی. خو دا اختلاف صرف د اجمال او دتفصیل دے چا چه دوه ذکر کړی دی نو هغو صرف لفظی او تقدیری ته کتلی دی او چا چه نه ذکر کړی دی نو هغو اقسامو د اعراب ته کتلی دی چه اسماء ورله ډیر دی خو دا اعراب چه کوم ترتیب سره دی نو نه دی مثلا اول قسم اعراب په دری اسماء کښ راځی نو اسماء دری دی خو اعراب یو قسم دے نو دی ترتیب سره دا نه دی. او چا چه شپاړس ذکر کړی دی نو هغو په اعتبار د اسماؤ سره ذکر کړی دی لکه اول قسم اعراب په دریو اسماؤ کښ راځی نو هر یو ئی جدا جدا حساب کړی دے. موږ به نه ذکر کوو ځکه دا متوسط دے نو اجمالی مقدار د اصنافو نه شول.

(تعین د اصنافو د اعراب الاسم) : (۱) اعراب بالحرکة لفظی په احوالو ثلاثو کښ (۲) اعراب بالحرکة لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر (۳) اعراب بالحرکة لفظی په حالتینو کښ جر تابع د نصب (٤) اعراب بالحرف لفظی په احوال ثلاثو کښ (۵) اعراب بالحرف لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر یا ء "ما" قبل مکسور (٦) اعراب بالحرف لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر یا "ما" قبل مکسور (۷) اعراب بالحرکة تقدیری په احوال ثلاثو کښ (۸)

اعراب بالحركة تقديرى په حالتينو كښې او لفظى په حالت واحده كښې (۹) اعراب بالحرف لفظى په حالتينو كښې او تقديرى په حالت واحده كښې.

(وجه د حصر په دې اقسامو كښې): دا اعراب به خالى نه وى يا به لفظى وى او يا تقديرى كه لفظى وو نو بيا به خالى نه وى يا به بالحركت وى او يا به بالحرف كه بالحركت وو نو بيا به خالى نه وى يا به په احوالو ثلاثو كښې وى او يا به حالتينو كښې كه اعراب لفظى بالحركة په احوال ثلاثه كښې وو نو قسم اول اوكه په حالتينو كښې وو نو بيا به خالى نه وى يا به نصب تابع د جر وى او يا جر تابع د نصب وى كه اول وو نو قسم ثانى او كه دويم وو نو قسم ثالث او كه اعراب بالحرف وى نو بيا به خالى نه وى يا به په احوال ثلاثو كښې وى يا په حالتينو كښې كه په احوال ثلاثه كښې وو نو قسم رابع او كه په حالتينو كښې وو نو بيا به خالى نه وى يا به ياء "ما" قبل مفتوح وى او يا مكسور كه اول وو نو قسم خامس او كه دويم نو قسم سادس او كه تقديرى وو نو بيا به خالى نه وى يا به بالحركة وى يا بالحرف كه بالحركة وو نو بيا به خالى نه وى يا به په احوال ثلاثو كښې تقديرى وى او يا په حالتينو كښې كه اول وو نو قسم سابع او كه دويم وو نو قسم ثامن او باقى بالحرف پاتى شو يعني تقديرى بالحرف نو دا قسم تاسع شو.

(تعين د هغه اسماء چه اول قسم د اعراب پكښې جارى كيږى مع التشريح

تعين خو دادے چه اول قسم اعراب په دريو اسماؤ كښې جارى كيږى (۱) مفرد منصرف صحيح (۲) جارى مجرى صحيح (۳) جمع مكسر منصرف صحيح.

تشريح: فاء تفصيليه يا فصيحيه ده فاء فصيحيه هغه ده چه مدخول ئې جزاء د شرط مقدر وى نو شرط به شى اذا كان الامر كذلك فالمفرد الخ المفرد مفرد په پنځو معانيو راځى (۱) مفردمقابل د مركب راځى لكه په تعريف دكلمة كښې (۲) مفرد مقابل د مضاف، شبه مضاف لكه منادى كښې (۳) مفرد مقابل د جمله لكه بحث د تمييز كښې (٤) مفرد مقابل د تثنيه او جمع لكه دلته (٥) مفرد مقابل د زوائد و د مسند ، مسند اليه كښې لكه زيد قائم مفرد دے په نسبة سره والله ان زيدا لقائم نه ځكه هلته دا زوائد د مسند ، مسند اليه نشته چه والله ،إن ، لام ، دى.

سوال: لفظ مفرد خو دے معانيو كښې مشترك دے ستا كومه معنى مراد ده.

جواب: دلته مراد هغه دے چه مقابل د تثنيه او جمع دے.
سوال: د مشترك نفذ لهٔ يوه معنى اخستل قرينه غواړى دلته څه قرينه ده په دې معنى باندې.

جواب: قرينه پرى ذكر د اعراب د تثنيه او جمع دے چه روستو راځى نو دا دلالت كوى چه دلته مراد دهغى مقابل دے چه مفرد دے . "المنصرف" دا وړله صفة دے دى سره احتراز دهغه مفرد نه دے چه هغه غير منصرف وى ځكه دهغى اعراب روستو راځى.

سوال: زه به درته مفرد او شائم او دا اعراب به ئې نه وى لكه قاضى.

جواب: مراد د مفرد نه مفرد مطلق نه دے بلكه مفرد صحيح او قاضى صحيح نه د ے.

سوال: زه به درته مفرد منصرف او شائم صحيح به نه وى او دا قسم اعراب به په كښے وى لكه زيد چه مفرد غير صحيح دے ځكه چه په عين كلمه كښې حرف علت دے او دا قسم اعراب دے وړله.

جواب: زما مراد د صحيح نه صحيح د نحاتو دے چه هغه دى ته وائى چه اخر كښې حرف علت نه وى نو زيد صحيح دے او صحيح د صرفيانو مې نه دے مراد هغه دى ته وائ چه په مقابله د فاء عين لام كلمه كښې ئے حرف علت نه وى او دا اختلاف ځكه په تعريف كښې راغلى دے چه منظور النظر د نحاتو اخر د كلمه وى نو اخر لره اعتبار وركوى او منظور النظر د صرفيانو ذات د كلمه دے چه دا اخر، وسط، اول ټولو ته شامل دے نو هغو اول وسط، اخر دريو واړو لره اعتبار وركړے دے نو حاصل داشو چه زما مراد مفرد منصرف صحيح دنحاتودے او يا جارى مجرى د صحيح .سوال: دفع شو چه زه به درته اوشائم چه د نحاتو صحيح به نه وى او دا قسم اعراب به پرى راغلى وى لكه دَلْو، ظَبى شو.

جواب: اوشو چه دا قسم اعراب په جارى مجرى د صحيح كښې هم راځى جارى مجرى د صحيح هغه دے چه اخر كښې حرف علت وى خو "ما" قبل ترى نه ساكن وى او دا ځكه چه په صحيح مفرد باندى تلفظ كولو كښې څه تكليف نه وى نو دغه شان په دى جارى مجرى باندى هم څه تكليف نه وى ځكه د حرف علت نه قبل سكون راغلى وى او سكون په منزله د سكوت وى نو چه حرف علت ته انسان ساكت شى او بيا پرى تلفظ كوى ابتداء نو هيڅ تكليف نه وى، "الاسم المفرد الذى".....غرض د شارح په دى عمارت سره يو د المفرد دپره موصوف تعين كوى ځكه دا صفة وو تقاضا د موصوف ئې كوله.

سوال: المفرد ماتن مطلق ذكر كرى دے او تا په اسم سره ولې مقيد، كړو قرينه څه ده .

جواب: بحث الاسم دويم غرض د شارح په دى عبارت سره هغه مشهورى قاعدى ته اشاره كوى چه كله اسم فاعل او اسم مفعول باندى الف لام داخل شى نو د الف لام نه به تعبير په الذى، التى سره كيږى او د اسم فاعل نه په فعل ماضى، مضارع، معلوم سره او د مفعول نه به په فعل ماضى، مضارع مجهول سره "لم يكن مثنى ولا مجموعا" دريم غرض د شارح تعريف كول د مفرد دى چه مفرد نه مراد مقابل د مثنى او مجموع دے.

سوال: قانون دادے چه کله په اسم فاعل او سم مفعول لام داخل شي نو دهغی اسم فاعل او اسم مفعول نه به تعبیر په فعل سره کیږی نو دلته د مفرد نه تعبیر په فعل سره پکار وو چه د وئیلي وو چه الذی افرد یا الذی یفرد نو ده خو ددی په ځائے "لم یکن" راوړی دے چه نه ماضی مجهول ده او نه مضارع ،مجهول دالمفرد.

جواب: دا مې دپاره د قصر دمسافة یعنی که "ما" دغه شان تعبیر کړی وی نو بیا به چا وی چه الذی أفرِدَ څه شئ دے نو مابه بیا وئیلي وو چه لم یکن مثنی ولا مجموعا نو بس اول نه می داسی اوی چه قصر راشي "ولا غیر منصرف" دی سره اشاره دی ته ده چه دا قید د المنصرف په متن کښ احترازی دے "کزید و رجل" .

سوال: مثال خو دپاره د وضاحة د ممثل وی او هغی لره یو مثال کافی وی دوه دی ولی ذکر کړل.

جواب: یو مثال د معرفه دے او دا بل د نکره دے "و کذا الجمع" ....شارح دلته لفظ د کذا زیات کړو نو اشاره ده چه دا عطف د جمع مکسر په مفرد منصرف د قبیلی د عطف د مساوی نه په مساوی نه دے بلکه دا عطف د قبیلی د مشبه نه دے په مشبه به باندی او وجه ورله داده چه دا انصراف په دی مفرد کښ اصل دے او په جمع کښ اصل نه دے او دا منصرف خو چه راځی په جمع کښ نوپه اعتبار د مفرد سره راځی .

سوال: دا متن دے او بناء د متونو په اختصار ده نو ماتن لره داسی عبارت پکار وو چه "فالمفرد والجمع و المکسر المنصرفان ".

جواب: داسی به وو خو بیا به درمیان د موصوف چه المفرد دے او دهغه د صفة چه منصرف دےفصل بالا جنبی راتلو چه الجمع المکسر دے.

سوال: المکسر د الجمع دپاره صفة نه دے صحیح ځکه مکسر معنی ده چه مات کړی شوی وی نو ماتوالی خو په جمع کښ نشته بلکه په مفرد کښ راغلے دے او دغه شان د دی مقابل جمع سالم راځی نو دهغی مفرد سالم وی نو ددی مفرد به مکسر وی جمع .

جواب: صفة په دوه قسمه دے (۱) صفة بحاله (۲) صفة بحال متعلقة دلته دامکسر د جمع دپاره صفة بحال متعلقة دے ځکه خو شارح وائی چه "الذی لم یکن بناء الواحد فیه سالما" ذکر د مفرد کوی دپاره د دی جمع "ولم یکن غیر منصرف"چه دی کښ اشاره ده چه دا منصرف قید احترازی دے احتراز د هغه جمع نه دے چه هغه غیر منصرف ده. "کرجال و طلبة" دا ورله مثال دے خو دلته هم اعتراض دے چه یو مثال کافی وو دوه ۆ ته څه ضرورت دے نو جواب دادے چه دا تکسیر په مفرد کښ کله په زیادة سره وی لکه رجال واحد ئې رجل دے نو الف

یکښې زیات شو او که دا تکسیر په نقصان سره وی لکه طلبة جمع د طالب دی په نقصان د الف سره طلبة جمع مکسر شوه.

"فالمفرد المنصرف و الجمع المکسر" اجمالی خبرو کښې پنځه خبری او شوے چه یو ربط دویم اجمالی مقدار د اضافو د اعراب الاسم دریم دهغی تعین څلورم وجه د حصر پنځم تعین دهغه اسماؤ چه دا قسم اعراب ورسره خاص دے سره د تشریح نه او شپږم تعریف د قسم اول د اعراب نو تعریف د دی قسم اول دادے اعراب بالحرکة لفظی حقیقی یعنی په احوال ثلاثوکښې یعنی رفع په ضمه لفظی نصب په فتحه لفظی او جر په کسره لفظی سره او ماتن هم داګری دے "بالضمه رفعا و الفتحة نصبا الخ". بیا ماتن اوی بالضمه شارح ورسره فالاعراب فیها اوی ځکه دا بالضمه جار مجرور دے متعلق ورله پکار دے نو شارح د هغی متعلق ته په فالاعراب سره اشاره اوکړه نو هغه متعلق به د دی قبیلې نه وی نو که متعلق یعرب شی نو مراد به هر واحد شی او که یعربان شی نو دواړه به یو ځائے مراد شی.

سوال: دا یعربان خو متعلق خاص دے او د متعلق خاص حذف کول جائز نه دی په خلاف د افعال عامو کښې.

جواب: د افعال خاصه حذف کول هغه وخت جائز نه دی چه قرینه په تعین د محذوف نه وی که قرینه په تعین د محذوف وی نو بیا حذف کول جائز دی دلته قرینه موجوده ده چه بحث د اعراب دے او دا ضمه چه رفع سره وی نو اعراب راځی.

سوال: دا متن دے او مبنی د متونو په اختصار وی نو لنډ به وئیلی وو چه بالضمة والفتحة والکسرة دی رفعا نصبا جرا ته ضرورت نه وو.

جواب: چرته څوک دا وهم اونکړی چه دابه مبنی وی ځکه چه د ضمی فتحی او کسری زیات استعمال په مبنیاتو کښې دے نو بحث د معرب روان دے او خبره یکښې د مبنی شوه نو دا وهم ئې دفع کړو چه هغه ضمه، فتحه او کسره مراد ده چه په معرب کښې راځی.

سوال: (په طور د مشوری) بیا بالرفع و النصب والجر ا وایه کنه دانور ورسره مه ذکر کوه.

جواب: د مشوری نه دی قربان شم خو د منلو نه معذور یم ځکه که داسی اوکړو نو بیا دا رفع، نصب او جر په حرکة او حرف دواړو کښې راځی نو چا به دا وهم کړی وی چه دی مفرد منصرف او جمع مکسر منصرف کښې اعراب بالحرف هم راتلی شی حالانکه خبره داسی نه ده نو موتې ورسره زیادة اوکړو "ای حالة الرفع" غرض د شارح اشاره کول دی علت د نصب د رفعا، نصبا او جرا ته "فنصب قوله رفعا" ...... غرض د شارح تصریح کول دی په علت د نصب د رفعا نصبا جرا نو وی دا منصوب دی بناء بر ظرفیة.

سوال: ظرف خو یا زمان وی او یا مکان او رفع نصب جر خو نه زمان او نه مکان دے .

جواب: "بتقدیر مضاف" داپه تقدیر د مضاف سره دے چه حالة دے او دا ظرف زمان دے نو بیا مضاف حذف شو او دهغی په خائے مضاف الیه قائم شو او دهغی په اعراب سره چه نصب وو نو منصوب شو. "و یحتمل" غرض د شارح بل احتمال په علت د نصب د رفعا، نصبا او جرا کښ ذکر کوی چه دا حال شی.

سوال: حال خو محمول وی په ذو الحال باندی چه دا حال شو د ضمیر د یعربان نه چه دا جمع دے مفرد منصرف او جمع مکسر منصرف ته نو داپه هغی حمل دے او هغه ذات دے او دا وصف دے نو حمل د وصف راځی په ذات او دا جائز نه دے.

جواب: دا حال مجازًا دے مجاز فی الکلمة کوو په دی شان سره چه دا مصادر دی او دا مبنی للمفعول وایو نو مراد به حال کونهما مرفوعین منصوبین مجرورین شی نو حمل صحیح شو "او بالمصدریة" بل علت ذکر کوی چه دا منصوب دی بناء بر مفعول مطلق .

سوال: مفعول مطلق نه خو مخکښ فعل یا شبه فعل وی او هغه به مشتمل وی په دی باندی د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء باندی نو دلته یعربان نه په رفع مشتمل دے او نه په نصب او جر.

جواب: دا اشتمال شرط دے خو په مفعول مطلق حقیقی کښ او داخو مفعول مطلق مجازی دے په دی شان سره چه دا مفعول مطلق مجازی اصل کښ مضاف الیه دے دپاره د مفعول مطلق حقیقی نو عبارت به شی "اعراب رفع و اعراب نصب و اعراب جر" نو بیا دا اعراب مصدر حذف شو او دا مضاف الیه دهغی په خائے قائم شو نو هغه اعراب منصوب وو نو داهم منصوب شو.

(و ضاحة بالمثال):فالقسم الاول جاءنی زید زید مرفوع دے په ضمه لفظی سره دغه شان رایت زیدا کښ زیدا منصوب دے په فتحه لفظی سره وغیره دغه شان د جمع مثال هم دے چه طلبة دے.

وجه د تخصیص د دی نمونه اعراب "چه بالحرکت لفظی په احوال ثلاثو کښ دے" دی نمونه اسم "چه مفرد منصرف او جمع مکسر منصرف دے" سره.

نو شارح وائی حاصل ئی داځے چه اعراب بالحرکت اصل دے ځکه دا اعراب علامه ده او علامه د کلمی نه بهر وی نو حرکت د کلمه نه بهروی په خلاف د حرف چه هغه په کلمه کښ داخل وی نو بالحرکت اصل شو دیاالحرف او لفظی اصل دے د تقدیری نه ځکه د لفظی سره معانی معتوره ښکاره وی په خلاف د تقدیری کښ چه هلته ښکاره نه وی او په احوال ثلاثه

کښ اصل دے دا حالتونو نه څکه احوال ثلاثو کښ چه وی نو هغه حقیقی وی او حالتونو والا حکمی وی او حقیقی اصل وی د حکمی نه نو دا قسم اعراب اصل شو او بل طرفته دا نمونه اسم اصل دے په دی شان سره چه مفرد اصل دے د تثنیه او جمع نه او متصرف اصل دے د غیر منصرف نه او صحیح اصل دے د ناقص نه دغه شان جمع مکسر اصل دہ د جمع سالم نه څکه چه جمع مقابل د مفرد راځی نو د جمع او مفرد درمیان کښ مغائرة دے معنی نو لفظا مغائرة هم پکار دے او دا مغائرة په جمع مکسر کښ راځی او منصرف اصل دے د غیر منصرف نه نو دا اعراب هم اصل او دا اسماء هم اصل نو اصل ئی اصل ته ورکړو دپاره د موافقة نو شارح هم وائی "فالاعراب فی هذین" او د بالحرکة دا اصالة دپاره دوهم وجه داده چه دی کښ تخفیف دے او باالحرف کښ ثقل دے او تخفیف اصل دے د ثقل نه شارح د اصالح د اعراب دپاره دوه وجی بیان کړی دی مونږ ورسره دوهمه وجه هم اوی چه کون ددی اعراب دے لفظی.

﴿جمع المونث السالم﴾:اجمالی خبری پنځه دی (۱) ربط (۲) تعین د هغه اسم چه دویم قسم د اعراب پکښ جاری دے سره د تشریح نه (۳) تعریف د قسم ثانی د اعراب (٤) وجه د تخصیص د دی اعراب په دی اسم پوری (٥) وضاحة بالمثال .

تنبیه: دا اجمالی پنځه خبری په غیر المنصرف کښ هم دی.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف دیو صنف داصنافو تسعو نه نو شروع ئی اوکړه په دویم صنف کښ چه دا اعراب بالحرکت لفظی حکمی دے نو فقال جمع المونث او دا اعراب ئی د مخکښ قسم نه روستو کړو څکه هغه حقیقی وو او دا حکمی دے او حقیقی اصل وی او حکمی فرع او اصل طبعا مقدم وی نو مونږ وضعا هم مقدم کړو او فرع طبعا هم روستو وی نو وضعا موهم روستو کړه چه وضع د طبع سره موافق شی او بیادا قسم اعراب ئی په دریم قسم اعراب مقدم کړو حالانکه دواړه حکمی دی خو دا څکه چه دلته نصب تابع د جر دے او دا کثیر الوقوع دے او هلته جر تابع د نصب دے او هغه قلیل الوقع دے او کثیر په منزله د اصل وی په نسبة سره قلیل ته چه هغه ورله فرع شوه نو اصل طبعا مقدم وی نو وضعا موهم مقدم کړو دپاره د موافقة .

ربط لفظی: جمع المونث السالم مبتداء او بالضمة والفتحه په اعتبار د متعلق سره خبر نو مبتداء او خبر جمله خبریه اسمیه شوه.

(تعین د اسم): ماتن وائی جمع المونث السالم تشریح: دا جمع مضاف دے المونث ته نو دا موصو ف دے او السالم مرفوع صفة دے دپاره دجمع مرفوع.

سوال: دوی په موصوف صفة کښ دا قانون پاس کړے دے چه دا موصوف به اعلی وی د صفة نه او یا مساوی او دلته خو خبره د اسی نه ده ځکه السالم کښ تعریف بالذات دے او جمع کښ تعریف راغلی دے خو د مضاف الیه نه ئې کسب کړی دے نو تعریف د موصوف ادنی شو د تعریف د صفة نه.

جواب: دی مسئله کښ دوه مذهبه دی (۱) سیبویه وائی چه تعریف د مضاف مساوی وی د مضاف الیه سره (۲) مبرد وائی چه تعریف د مضاف د مضاف الیه نه ادنی وی نو دلته جمع او السالم یو برابر یعنی مساوی شول ځکه کلام په مذهب د سیبویه بناء دے "وهو "ما" یکون" غرض د شارح یو د جمع مونث سالم تعریف کوی او دویم دفع د اعتراض ده چه داته کوم اعراب ذکر کړو دپاره د جمع المونث السالم نو زه به درته اوښایم چه مونث سالم به وی او دا قسم اعراب به ئې نه وی او دغه شان جمع مونث سالم به نه وی او د ا قسم اعراب پکښ وی مثلا ارض مونث دے په دلیل د اریضة سره نو پکار ده چه ددی د جمع اعراب داسی راغلی وی او حالانکه دهغی اعراب د جمع مذکر سالم رازی لکه ارضون ، ارضین دغه شان لفظ د مرفوع مذکر دے نو د دی جمع به جمع د مذکر وی او اعراب پری د جمع مونث سالم راځی لکه مرفوعات وغیره نو یوه جمع د مونث سالم ده او دا اعراب ورسره نشته او بله جمع د مونث سالم نه ده او دا اعراب ورسره شته.

جواب: "ما یکون" حاصل دادے چه مراد زمونږ د جمع مونث سالم نه هغه ده چه جمع د هغی په الف او تاء سره راغلی وی برابره ده که مفرد ئې مذکر وی او که مونث نو مرفوعات ، منصوبات، مجرورات ته دا شاملیږی اگرچه مفرد ئې مذکر دے او ارضون تا دانه شاملیږی اگر چه مفرد ئې مونث دے "احتراز عن المکسر" د سالم قید فائده ده.

سوال: مصنف چه روستو کوم مثال پیش کړی دے نو دا مثال مطابق نه دے د ممثل سره ځکه ممثل دادے چه بناء د واحد پکښ روغه وی نو مثال به هغه وخت صحیح وی چه مسلمات ئې وئیلی وی ځکه مفرد ورله مسلمة دے او اخر کښ ورسره تاء ده. نو دا به سالم هله وی چه دا تاء ورسره باقی راشی.

جواب: "السالم" په دی معنی سره چه د جمع د وجی نه پکښ تغییر نه وی شوی او دلته په مسلمة کښ چه دا تغییر شوی دے نو دا تغییر د جمع د وجی نه نه دی شوی بلکه د دی وجه نه شوی دے چه په مسلمات کښ تاء راغله هغه د تانیث کار کوی د مسلمة تاء ته ضرورت پاتی نه شو نو حذف شوه د جمع د وجه نه نه دے ولی که د جمع نه علاوه د بلی وجه نه پکښ تغییر راشی نو دا به سالمیت کښ خلل واقع کړی نو بیا خو مصطفون ته جمع السالم وئیل نه دی پکار او حالانکه دا خو جمع سالم ده.

(تعریف د دی قسم اعراب): نو دا اعراب بالحرکت لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر یعنی رفع به ضمه لفظی سره او نصب او جر په کسره لفظی سره شارح هم وائی بالضمة رفعا والفتحة نصبا و جرا غرض د شارح په رفعا سره تعین کول دی چه رفع په ضمه سره او نصب، جر په فتحه سره.

سوال: دا قید د رفعا او نصبا او جرا ماتن ولی ذکر نه کړو.

جواب: دا د وجی د اختصار نه او د وجه د اکتفاء نه په سابق سره دلاحق نه "ما" سبق ذکر دی.

(وجه د تخصیص):چه دا اعراب بالحرکة لفظی په حالتینو کښ چه نصب تابع د جر دے دا ولی دی اسم پوری خاص شولو نو اعراب بالحرکت خو ځکه چی اصل په اعراب کښ اعراب بالحرکت دے او د اصل نه چه خو اعراب بالحرف ته نو د وجی د مانع د اعراب بالحرکت نه او دلته مانع نشته نو اعراب بالحرکت مو ور کړو بله وجه داده چه اعراب بالحرف هغه اسم کښ راځی چه دهغی اخر صالح وی دپاره د اعراب بالحرف او د جمع مونث سالم اخر صالح د اعراب بالحرف نه دے نو بالحرکت مورته ورکړو او لفظی ځکه چه لفظی اصل دےد تقدیری نه او د اصل نه چی خلاف الاصل ته خلق ځی نو د مجبورئ د وجی نه ئی او دلته مجبوری نشه نو لفظی موکړو او بیا پکښ دا نصب تابع د جر ځکه شو چه دا جمع مونث سالم فرع د جمع مذکر سالم ده او په جمع مذکر سالم کښ نصب تابع د جر وو نو دلته موهم نصب د جر تابع کړو چه مخالفة او زیادة د فرع راشی په خپل اصل باندی شارح هم دا وائی .

فان النصب اوتیرة بمعنی طریقه .

سوال: تا اوی چه دا جمع مونث سالم فرع ده او جمع مذکر سالم ورلره اصل دے او زیادة او مخالفة د فرع نه دے پکار په اصل خپل باندی او دلته خو دی زیادة کړی دے په دی شان سره چه په جمع مذکر سالم کښ اعراب بالحرف راځی او دلته اعراب بالحرکت راغلے او اعراب بالحرکت اصل دے د اعراب بالحرف نه نو فرع د اصل نه زیاته او خلاف شوه.

جواب: (۱) داکار د مجبورئ د وجی نه شوی دے چه الضروریات تبیح المحذورات هغه مجبورئ داده چه د جمع مونث سالم په اخر کښ داسے حرف نشته دے چه صالح د اعراب بالحرف شی نو مونږ ورته اعراب بالحرکت ورکړو. (۲) اعراب بالحرکت اصل دے په مفرداتو کښ او اعراب بالحرف اصل دے په تثنیه او جمع کښ ځکه چی دا تثنیه او جمع فرعی د مفرد دی نو دی لره هم اعراب فرعی پکار دے چه هغه بالحرف دے نو دا اعراب بالحرف اصل شو په تثنیه او جمع کښ اوس دلته په جمع مونث سالم کښ اعراب بالحرکت دے نو دا

خلاف الاصل شو نو زیادة د فرع نشته بلکه فرع کمه شوی ده. ځکه مساوی او برابر نه ملي وه چه اعراب فرعی چې بالحرف دے داتي ورته ورکړی وی.

وضاحة بالمثال: "هذه مسلمات، جاءتني مسلمات"....الخ

غير المنصرف. لما فرغ الماتن من القسمين فشرع في القسم الثالث.

دا شو ربط معنوی او ربط لفظی داده چه غیر المنصرف مبتداء ده او بالضمة ورله په اعتبار د متعلق سره خبر دے تعین د اسم هم او شو چه غیر منصرف دے غیر منصرف هغه اسم دے چه پکښ دوه علته د نهو نه وی او یا یو وی خو چه قائم وی په مقام د دوه ؤ باندی و سیجئ ان شاء الله نو د تاخیر د غیر منصرف د جمع مونث سالم نه یوه بله وجه هم معلومه شوه چه معرفة د جمع مونث سالم اسان دے نو اصل شوه او معرفة د غیر منصرف گران دے نو دا خلاف الاصل شو. نو اصل طبعا مقدم وی او خلاف الاصل طبعا موخر نو په وضع کښ هم اصل مقدم او خلاف الاصل موخر شو چه موافقة د وضع راشی د طبع سره "تعریف د اعراب" نو دا اعراب بالحرکت لفظی په حالتینو کښ جر تابع د نصب یعنی رفع په ضمه لفظی سره او نصب او جر په فتحه لفظی سره والجر فیه تابع "وجه د تخصیص" دا ده چه اعراب بالحرکت ئې ځکه ورکړو چه دا اصل دے او د اصل نه چه خلاف الاصل ته صیرورة کیږی نو په حالت د نا ممکن والی د اصل کښ او دلته اصل ممکن دے نو خلاف الاصل ته ولې ځو او لفظی ځکه چه داهم اصل دے د تقدیری نه او کله چه اتیان په اصل کیدلے شی نو خلاف الاصل ته به نه ځو او بیا جر ئې ځکه د نصب تابع کړو چه دا غیر منصرف مشابه دے د فعل سره په وجود د فرعیتنو کښ چه فعل کښ دوه فرعی دی (۱) احتیاج الی الفاعل فی الوجود (۲)احتیاج الی المصدر فی الصدور او غیر منصرف کښ دوه سببه وی او هر سبب فرع وی نو چه کله دا مشابه شو د فعل سره نوپه فعل باندی کسره او تنوین نه راځی نو په دی به هم نه راځی د وجی د مشابهة نه

وضاحة بالمثال: جاءني احمد، رایت احمد، مررت باحمد.

(اخوك ابوك و حموك نه) ....دلته اجمالی خبری یو څو دی (۱) ربط (۲) تعین دهغه اسماؤ چه دا ټمونه اعراب ورسره خاص دے (۳) وضاحت (٤) تعریف د دی قسم اعراب (٥) وجه د تخصیص د دی اعراب د دی اسماء پوری.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو ماتن د دریو اصنافو د اعراب الاسم چه بالحرکت وو نو شروع ئې اوکړه په څلورم قسم کښ چه دا اعراب بالحرف دے او دا ئې ځکه د اعراب بالحرکت نه روستو کړو چه هغه بالحرکت وو نو هغه اصل وو او دا بالحرف دے نو دا

فرع ده نو اصل په طبع کښې مقدم وی نو وضع کښې موهم مقدم کړو چه وضع د طبع سره موافق شی. او دائی په پنځم قسم مقدم کړو ځکه دا حقیقی دے او هغه حکمی دے او حقیقی اصل وی نو اصل په طمع کښې الخ او بیا پنځم قسم ئی په شپږم قسم ځکه مقدم کړو چه دا پنځم قسم تثنیه ده او شپږم قسم جمع ده او تثنیه په نفس الامر کښې مقدم وی نو مونږ په ذکر کښې هم مقدم کړو دپاره د موافقة .

(ربط لفظی):دادے چه اخوك......مضافة الی غیر یاء المتکلم مبتدا ده او بالواوْ و الالف او الیاء په اعتبار د متعلق سره خبر دے نو مبتداء خبر جمله اسمیه شوه

(تعین د اسماء): نو دا اعراب په اسماء ستة خبره موحده کښې راځی خو چې مضاف وی غیر دیاء د متکلم ته.

(تشریح د عبارت):اخوك و ابوك بکسر الکاف و فتحها دواړه وئیل جائز دی بیا ماتن حموك اوی او شارح ورته بکسر الکاف راوړو دا ځکه چې دهغه رشته دار د ښځی ته وائی چه د جانب د زوج نه وی نو زوج صرف د زنانه دپاره وی نو نسبة ئی د زنانه سره خاص شو شارح هم داخبره کوی. هنوك دلته هم کسره مع الفتحه جائز ده "والهن" شارح تشریح کوی د هن لفظ چه دا عورة غلیظه ته وائی لکه فلان طویل الذکر او یا فلان واسع الدبر دغه شان صفات ذمیمه لکه فلان بخیل او دغه شان افعال قبیحه لکه فلان سارق، تارك الصلوة "و هذه الاسماء الاربعة" دا پکښې لفظی تشریح کوی چه دا اول څلور ناقص واوی دی دلیل په دےدادے چه تثنیه ، جمع،تصغیرددوی کښې واو راځی لکه اخیو وغیره او قانون دادے چه په تثنیه او جمع او تصغیر کښې شئ خپل اصل ته رد کیږی "فوك" اجوف واوی دے ځکه جمع ئی افواه راځی بیا دی نه دا معلومیږی چه دا ناقص اګرچه د اجوف نه روستو وی خو دا زیات دی او العزة للتکاثر و المعزز اولی بالتقدیم نو ځکه ئی مخکښې کړل او بیا اخ ئی په اب مقدم کړو ځکه قرآن کښې هم داسی دے یوم یفر المرء من اخیه و امه و ابیه او هلته دا ترتیب ځکه دے چه ترقی د ادنی نه اعلی ته ده بیا دا خو اصل کښې "فوه" دے هاء خلاف القیاس حذف شوه نو "فو" شو نو دا واو په میم بدل شو ځکه دا داوړه شفویه دی په یو بل بدلیږی، او که دا واو په میم بدل نشی نو بیا به پری اجراء د اعراب او شی نو متحرك به شی نو "ما" قبل ئی مفتوح دے په الف سره به بدل شی نو فا به شی نوکه اضافة ئی دیاءد متکلم ته اوشی نو دیاء د وجه به الف حذف شی نو لازم به شی بقاء د کلمه په حرف واحد سره نو بیا چه دلته ئی کله ك ضمیر ته اضافة و شو نو واپس مو هغه واو راوړه علت د سقوط د واو ختم شو چه اجراء د اعراب بالحرکت وو "ذو مال" دا اصل کښې ذوو لفیف مقرون وو بیا دا یو واو تری نه حذف شو تخفیفا بیا په حالت رفعی کښې به ذال لره ضمه ورکو د وجې د مابعد

واونه او په حالت نصبی کښ به په خپل حال باندی باقی وی ځکه الف سره د مطابقة د وجې نه اویه حالت جری کښ به ورله کسره ورکړو د وجې د "ما" بعد یاء نه.

سوال: دا مخکښ اسماء خمسه داضافة دی ضمیر ته اوکړو او دلته دی اضافة اسم ظاهر ته اوکړو نو اصل په کلام کښ داده چه دابه په یو ترتیب سره وی او دغه شان دا ماتن عمده شخص دے او ترتیب کښ ئې تغییر راوستی دے نو د عمده شخص تغییر په کلام کښ د څه نکته نه خالی نه وی نو دلته نکته څه ده؟

شارح جواب کوی چه "إنما اضیف" حاصل دادے چه دا ذو واضع وضع کړے دے دپاره د توصیف د شئ په اسم جنس سره او اسم جنس اسم ظاهر واقع کیږی نه اسم ضمیر نو ځکه ماتن تغییرراوستے دے بیا دی مقام کښ دوه نسخی دی یو دا نسخه د شارح ده چه په کښ دا "مضافة" قید د بالواو وغیره نه روستو دے په دی باندی څه اعتراض نشته او دویمه نسخه د متن د کافیه ده چه هلته دا مضافة مقدم دے په بالواو باندی.

سوال: دا مضافة ولی منصوب دے.

جواب: حال دے او هغه دمنصوباتو نه دے.(اودا سوال: بناء دے په دویمه نسخه باندی)

دا د چانه حال دے اخوك ابوك خو مبتداء ده او حال خو هیئة د فاعل یا دمفعول بیانوی نو داخو نه فاعل او نه مفعول دے جواب (۱) دا کلام مصنف بناء کړی دے په مذهب و ابن مالك باندی چه هغه وائی د مبتداء نه حال راځی او دا ځکه کوی چه بچ د تعصب نه شی (۲) دا حال دے د ظرف نه او هغه کښ ضمیر ذو الحال دے چه دی اسماؤ ته راجع دے.

سوال: داخو لازم شو تقدیم د حال په ذو الحال معنوی باندی چه دا ظرف عامل معنوی دے او دا جائز نه ده جواب دلته عامل معنوی کښ اختلاف دے شارح وائی چه عامل معنوی هغه دے چه نه ملفوظ فی الکلام وی او نه مقدر فی الکلام بلکه د کلام د محوی نه به معلومیږی نو د ظرف متعلق مقدر دے نو دا عامل لفظی شو نو تقدیم جائز دے او د ماتن په نزد عامل معنوی دے ځکه هغه وائی عامل معنوی هغه دے چه حصه ورله په تلفظ کښ نه وی نو دلته دا مقدر دے تلفظ کښ ورله حصه نشته دے نو بیا جواب داسی دے چه عامل معنوی دوه قسمه دے (۱) ظرف (۲) غیر ظرف په غیر ظرف کښ بالاتفاق تقدیم د حال په عامل معنوی ناجائز دے او په ظرف کښ بیا دوه مذهبه دی (۱) سیبویه مذهب دادے چه په ظرف کښې هم داخیره ده چه تقدیم جائز نه دے (۲) اخفش وائی چه په ظرف کښ تقدیم د حال جائز دے په ذوالحال اګرچه داظرف عامل معنوی دے چه مخکښ تری مبتدا وی نو دلته دا کلام په مذهب د اخفش بناء دے. درجه خبره تر څه حد خلاصه شو.

(خلورمه خبره تعریف):اعراب بالحرف لفظی په احوال ثلاثو کښې یعنی رفع په واو لفظی سره نصب په الف لفظی سره جر په یاء لفظی سره شارح هم داسې وائی "فالاعراب فی هذه الاسماء" غرض د شارح اشاره کول دی د جار مجرور متعلق ته چه تعرب دے او رفعا نصبا جرا سره اشاره احوال ته ده "لکن "لا" مطلقا" غرض د شارح دفع د سوال ده چه زه به درته او ښائم چه دا اسماء به وی او دا اعراب نه ئی نه وی لکه جاء لی اُخَیك رایت اُخَیك مررت باخیك جواب "مکبرة" چه مصغره نه دی مره او دا مصغره دی.

سوال: زه به درته اوښائم چه دا اسماء به وی او مکبره به وی او بیا به هم داسې اعراب سره نه وی لکه جاءنی اخوان رایت اخوین مررت باخوین نو دلته خو اعراب د تثنیه دے.

جواب: بل حال کونها حاصل دادے چه توحید قید پکښې هم شرط دے او دلته تثنیه ده.

سوال: چه کله دا دوه شرطونه مراد وو نو ماتن به ذکر کری وو کنه.

جواب: "اماانه لم یصرح اکتفاء" چه په امثلو باندی اکتفاء کری ده. "مضافة" دا دریم قید پکښې ماتن ذکر کوی.

سوال: په جاءنی اخی کښې خو دادرے واړه شروط موجود دی او داسې نه دیلکه تقدیری دے.

جواب: "ولکن الی غیره"....حاصل دادے چه اضافة مطلقا نه دے مراد بلکه علاوه دیاء د متکلم نه چه وی او دے مثال کښې یاء دمتکلم ته اضافة شوے دے.

سوال: چه دا اضافة کښې ده دے هم اکتفاء بالامثله پکار وه کنه.

جواب: (۱) النکة للفار "لا" للقار هلته نه وو ذکر نو ځکه او دلته خو ذکر دے صحیح کار ئی کری دے خو دلته چه وران او غلط کار کوی نوهم اعتراض او چه صحیح کار کوی نو هم اعتراض دے (۲) دا نکات بعد الوقوع دی جامعیة مانعیة پکښې شرط نه دے (۳) دلته اکتفاء بالامثله ځکه نه کوی چه ځوك به دا وهم اوګری چه دا اعراب د اسماء ستو سره خاص دی خو هغه وخت کښې چه اضافة ئی کاف ضمیر ته اوشی او دا دریم جواب شارح کوی.

(وجه د تخصیص د دی اعراب د اسماء سته سره): سوال دا اسماء سته خو مفردات دی او په مفرداتو کښې خو اعراب بالحرکت وی نو بالحرف څنګه راغلو.

جواب "و انما جعل" حاصل دادے چه په درمیان د تثنیه او جمع او مفرداتو کښې منافات شته دے نوکه موثر هر مفرد لره اعراب بالحرکت ورکو نو دا مناقاة به منافرة تامه شی نو موثر خو

صرف فرق راولو منافرۃ تامه نه راولو نو دامو مختاره کړه چه بعض مفرداتو لره به اعراب بالحرف ورکړو چه دا منافرۃ تامه ختم شی شارح هم دا خبره ذکر کوی.

سوال: مفردات خو نورهم دی د اسماء مو ولی متعین کړه .

جواب: "و انما اختاراه" حاصل دادے چه د دی مفرداتو د تثنیی او جمع سره مناسبة دے لفظا هم او معنی هم لفظا داسی چه صالحة د اعراب بالحرف لری او معنی دادے چه څنګه په تثنیه جمع کښ تعدد وي نو دی کښ هم تعدد دے لکه اخ شو نو بل به ورله خامخواه وی نو اخ غواړی اب ابن غواړی او حم زوج غواړی او هن دا شئ مستکره دے نو مستکره غواړی او فم صاحب الفم غواړی او ذو خاوند د څه غواړی چه مال وغیره دی شارح هم دا وائی.

سوال: دا اسماء دی شپږ ولی اوګرځول .

جواب: دا څکه چه د تثنیه هم دری احوال دی او د جمع هم دری نو درے سره دریی شپږ شول نو دهر حال مقابله کښ یو یو اسم شو شارح هم دا وائی.

سوال: دا خو حال په مقابله د ذات کښ شونو یا خو ذات په مقابله د ذات کښ پکار وو او یا حال په مقابله د حال کښ.

جواب: تثنیه دری قسمه ده حقیقی، صوری، معنوی دغه شان جمع هم دری قسمه ده نو شپږ شول نو دهر ذات په مقابله کښ یو یو اسم شو.

سوال: زه به درته اوښائم چه داسی اسماء به وی د دی نه علاوه او اخر به ئی صالح د اعراب بالحرف وی لکه ید، دم چه اصل کښ یدو او دموؤ نو دلته هم یدوك، دموك، یداك وغیره او وایه .

جواب: شارح جواب داسی کوی چه داکار مونږ هغه اسماء کښ کوو چه دهغی د آخیری حرف رد (واپس کیدل) د عربو نه اوریدلی شوی وی او دایه اسماء سته کښ اوریدلی شوی دی نورو کښ نه دی اوریدلی شوی او دا اسماء محذوفه الاعجاز دی (چه ادبار ئی حذف شوی وی) شارح هم دا وائی

مثال: د ا مثال ماتن ذکر کړی دے چه جاء نی اخوك......الخ

(المثنى و كلا مضافا الى مضمراه) دى عبارت كښې څو خبرې اجمالا ضرورى دى بيا د هر خبرې تفصيل مناسب (۱) ربط (۲) تعين دهغه د اسماؤ چه دا قسم اعراب پكښې جارى كيږى (۳) تشريح د هغى (٤) تعريف د دى قسم اعراب (٥) وضاحة بالمثال

(ربط): معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د اقسام اربعه د اعراب الاسم نه چې درى اقسام د اعراب بالحركت وو او يو قسم د اعراب بالحرف وو نو په پنځم قسم لې شروع اوكړه نو فقال المثنى و كلا الخ بيا لې دا قسم اعراب د څلورم قسم نه روستو كړو ځكه هغه حقيقى دے او دا حكمى او بيا د شپږم نه لې مخكښې كړو ځكه دا تعلق د مثنى سره ساتى او هغه شپږم تعلق د جمع سره ساتى نو تثنيه په جمع باندى مقدم وى نو دهغى اعراب هم مخكښې كول پكاردى د اعراب د جمع نه دپاره د موافقة بين الطبع والوضع.

ربط لفظى:"المثنى" معطوف عليه او "كلا مضافا الى مضمر و اثنان" ورله معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه مبتداء او "بالالف و الياء" په اعتبار د متعلق سره خبر مبتداء خبر جمله خبريه اسميه شوه.

(تعين د اسماء): نو دا اعراب په تثنيه او ملحقاتو د تثنيه كښې جارى كيږى.

(تشريح): نو ماتن المثنى اوى نو دلته يو د مثنى لغوى تحقيق دويم اصطلاحى تعريف نو لغوى تحقيق د المثنى كښې صيغه، معنى ، وجه تسميه نو صيغه د اسم مفعول ده د باب تفعيل نه په معنى دو بل كړى شوى سره د اثنين نه ماخوذ دے او مثنى مصطلح ته ځكه مثنى وائى چه يو مفرد پكښې د بل سره د بل شى يا دا ماخوذ دےد شئ نه په معنى د ميلان سره نو مثنى كښې هم يو مفرد بل مفرد ته مائل شى نو مثنى شى.

(اصطلاحى تعريف د مثنى) چه لفظ لفظ د تثنيى وى معنى معنى د تثنيى وى او مفرد من لفظه ورله وى. مراد د لفظ د تثنيى نه دادے چه په اخر د مفرد كښې الف او يا دېا ماقبل مفتوح او نون راغلى وى لكه رجلان، رجلين شو. معنى د تثنيى چه په دوو دلالت كوى او مفرد من لفظه ورله وى لكه رجلان دپاره د رجل او ملحق د تثنيى هغه وى چه هغه داسى نه وى يا خو لې لفظ لفظ د تثنيى نه وى لكه كلا ځكه اخر كښې الف يا ياءاو نون تثنيه نشته يا لفظ لفظ د تثنيى وى او معنى لې هم د تثنيى وى خو مفرد من لفظه ورله نه وى لكه اثنان شو ماتن اوى "المثنى" شارح اوى "وما يلحق" په غرض د شارح دفع د سوال ده چه ستا مراد د مثنى نه لفظ د مثنى دے او كه مصداق د مثنى دے كه ستا مراد لفظ ثى نو دا اعراب خو په لفظ د مثنى كښې نه راځى بلكه داخو اسم مقصود دے لكه د موسى او ددى اعراب بالحركت تقديرى وى و سيجئ ان شاء الله او كه ستا مراد دمصداق د المثنى وى نو بيا ذكر د كلا او اثنان پس د مثنى نه مستدرك دى ځكه مصداق د مثنى هغو ته شامل دے .نو شارح

جواب کوی چه زما مراد مصداق د مثنی دے خو د المثنی مصداق دادے چه لفظ د لفظ دتثنیے وی اومعنی معنی د تثنی وی او مفرد من لفظه ورله وی او دا کلتا او کلا دوی لفظ د تثنی نه دے معنی ئی ده او اثنان لفظ او معنی دواړه د تثنیے دی خو مفرد من لفظه ورله نشته نو مستدرك نه شو.

"وکذا کلتا" غرض د شارح اشاره ده چه دا عبارت په حذف د معطوف سره دے .

سوال: د "کلا" چه دا حکم دے نو د "کلتا" به نه وی.

جواب: و کذا کلتا یو شئ دے. "ولم یذکره" دی کښ اشاره ده اعتراض ته چه ماتن د کلتا ولی ذکر نه کړو "لکونه فرع کلا" دی کښ اشاره ده جواب ته چه دا د کلا فرع ده او هغه ورله اصل نو اصل د ذکر شو فرع راغله ځکه ذکر د اصل مستلزم وی فرع لره نو دا خپله راغلے د اویا ځکه چه اکتفاء کوی په اذهانو د طالبانو باندی . "مضافا". دا منصوب دے نو شارح ورله علت د نصب بیانوی ای حال سره .

سوال: دا مضافا د څه نه حال واقع. **جواب:** د کلا نه .

سوال: مضافا د کلا نه حال وئیل صحیح نه دی ځکه چه دلته یو قانون دے چه کوم شئ حال وی د معطوف نه نو هغه حال د معطوف علیه نه هم وی نو دلته چه د کلا نه حال واقع نو دا المثنی نه به هم حال واقع نو دوه نقصانه شول (۱) د مثنی دپاره اضافة الی المضمر شرط نه دےاو ددے نه شرطیت معلومیږی. (۲) مضافا حال شو نو کاً حال حمل وی په ذو الحال نو دلته حمل نه دے صحیح ځکه ذو الحال تثنیه ده نو بیا مضافین وئیل پکار و.

جواب: دا صرف د کلا نه حال دے ده مثنی نه ئی نه وایم نو حمل خو صحیح شو او هر چه قانون دے نو دا قانون کلی نه دے بلکه اکثری دے.

سوال: حال خو هیئة د فاعل یا مفعول بیانوی او دا کلا خو نه فاعل دے نه مفعول بلکه دا خو په المثنی عطف دے مبتداء ده.

جواب: (۱) دا کلام د ماتن بناء دے په مذهب د ابن مالك او دهغه په نزد د مبتداء نه حال واقع کیدل صحیح دی (۲) دا حال دے د نائب فاعل د "یعرب" عامل معنوی نه چه معلومیږی د معنوی د کلام نه چه "یعرب مضافا" دے (۳) دا حال دے د ظرف نه چه روستو دے بناء بر مذهب اخفش رحمه الله نو بیا په هغی کښ ضمیر دے او کلا کلتا ته راجع دے "و انما قید" غرض د شارح د دی عبارة نه ددی شرط دپاره د لیل ذکر کوی چه کلا مطلقا ولی په دی اعراب نه معرب کیږی وځے چه اضافة ورله شرط شو نو حاصل د دلیل دادے چه په دی کلا او کلتا کښ دوه اعتباره دی یو اعتبار د لفظه دے چه لفظ ئی مفرد

دے په دلیل د دی سره چه ضمیر د مفرد ورته راجع کیږی او بل اعتبار د معنی دے چه معنی ئی د تثنیی ده په دلیل ددی چه صفة د تثنیی واقع کیږی نو لفظ ئی تقاضا کوی د اعراب بالحرکت ځکه لفظ ئی مفرد دے او مفرد کښ اعراب بالحرکة وی او معنی ئی د دی تقاضا کوی چه اعراب بالحرف دی پکښ راشی ځکه معنی ئی د تثنیی ده او تثنیه کښ اعراب بالحرف وی نو جګړه شوه بیا موړښی چه د کلا استعمال ته اوکتل نو دوه طریقی د استعمال وی یو داچه اضافة ئی اسم ظاهر ته او دویم اسم ضمیر ته ځکه دا د اسماءلازم الاضافة نه دے نو موږ اوی چه کله د کلا او کلتا اضافة اسم ظاهر ته شوی وو نو دابه معرب وی په اعراب بالحرکت سره او چه کله ئی اضافة اسم ضمیر ته شوی وو نو اعراب بالحرف سره به معرب وی.

سوال: چه داسی دی ګول نو عکس دی ولی نه کوو.

جواب: اضافة اسم ظاهر ته اصل دے او اعرب بالحرکت هم اصل دے نو اصل مو اصل لره ورکړو للعدل او اضافة اسم ضمیر خلاف الاصل ے او اعراب بالحرف هم خلاف الاصل دے نو خلاف الاصل خلاف الاصل لره لارو شارح هم دا ذکر کوی و انما قید سره "لکن تکون حرکاته تقدیریه".

دفع د سوال ده چه تا اوی چه اعراب بالحرکت شو نو په جاءلی کلا الرجلین، رایت کلا الرجلین مررت بکلا الرجلین کښ خو اعراب بالحرکت نشته دے شارح جواب اوکړو چه اعراب بالحرت مطلق نه دے مراد بلکه تقدیری دی، نو تقدیری خلاف الاصل دی خو دلته مجبوری ده او مجبوری کانام شکریه اخر کښ داسی حرف دے چه صلاحیة د قبول د حرکاتو نه لری چه هغه الف دے فائده دلته ورسره وضاحت بالمثال هم اوشو ضمنا روعی جانب معناه الذی هو الفرع" معنی ئی فرع ده ځکه تثنیه ده نو تثنیه د مفرد دپاره فرع او هغه ورله اصل وی "و اثنان وکذا اثنتان و ثنتان" ماتن اثنان اوی شارح ورسره اثنتان او اثنتان راوړل اشار ده دی خبری ته چه عبارت په حذف د معطوف سره دے او د اثنان حکم د اثنتان هم دے او بیا په اثنتان کښ دویم لغت ثنتان وو نو دائی هم ذکر کړو. دلته بیا دوه نسخې دی یو دا زمونږ مخی ته د شارح نسخه ده او دویمه متن چه د کافیه ده نو په هغی کښ د اثنان نه روستو اثنتان ذکر کړی دے نو اعتراض پرې واردیږی چه موږ یو تپوس کوو چه دلته اثنان اصل دے او اثنتان فرع ده نو ذکر د اصل مستلزم فرع لره دی او که ته وائی چه اصل مستلزم دے فرع لره نو بیا دے اثنتان پس د اثنان نه ولی ذکر کړو او که ته وائی چه اصل مستلزم نه دے فرع لره نو بیا ذی کلا پسی کلتا ولی نه دے ذکر کړے.

جواب: اصل ذکر کول مستلزم ګرځی فرع لره او په اثنان پسی موږ اثنتان ځکه ذکر کړی دے (۱) چه دا نکات بعد الوقوع دی جامعیت مانعیت پکښ شرط نه د ی (۲) دغه شان النکتة

للفار "لا" للقار (۳) دا دپاره د دفع د وهم ځکه چه عدد خلاف القیاس مستعمل دے په دي شان سره چه معدود مذکر نو عدد به مونث وي او که معدود مونث نو عدد به مذکر وي لکه ثلاثة رجال او ثلاث نسوة نو چا به دا وهم کړی وو چه د اثنان، اثنتان استعمال به هم خلاف القیاس وي حالانکه دا داسی نه وه او یا دا جواب هم دے چه عدد کښ اکثر خلاف القیاس ذکر وي نو اصل دادے چه اصل مستلزم دے فرع لره نو اثنان مستلزم دے فرع اثنتان لره نوذکرکول ئے نه و پکار خو مونږ خلاف القیاس ذکر کړو.

سوال: اثنتان، اثنتان ته ملحق د تثنیه وئیل شه نه دی ځکه دا تثنیه ده ځکه دهغی اخر کښ هم الف نون یا یاء نون وی نو دلته هم داسی ده.

جواب: تعریف د تثني حقیقی فقط دانه دے بلکه لږ تفصیل ورسره نور هم شته دے په دی شان سره چه مفرد من لفظه ورله وی او اثنان ظاهرا لفظ د تثنیی دے خو مفرد من لفظه ورله نشته شارح هم دا وائی چه فان هذه الالفاظ.

(تعریف د اعرابِ و تعیینه) ...نو دا اعراب بالحرف لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر یعني ضمه په الف لفظی سره نصب او جر په یا "ما" قبل مفتوح سره ماتن هم دا وائی بالالف و الیاء سره.

سوال: دا خو الناس راغلو د جمع مذکر سره هلته هم یاء سره وی.

جواب: "المفتوح" چه دلته په "ما" قبل مفتوح وی او هلته "ما" قبل مکسور وی.

سوال: عکس ولی نه کوی چه هلته "ما" قبل مفتوح شی او دلته "ما" قبل مکسور شی.

جواب: تثنیه کثیر الاستعمال ده تقاضا د خفة کوی او جمع په نسبة سره تثنیة نه قلیل الاستعمال ده نو تقاضا د تخفیف نه کوی نو تخفیف به فتحه کښ وو نو دلته مو ځکه فتحة ورکړو او هلته کسره اما دا خبره چه تثنیه ځکه کثیر الاستعمال ده چه مستقلا هم راځی او په ضمن د جمع کښ هم راځی او جمع ځکه قلیل الاستعمال ده ځکه چه صرف مستقلا راځی

(وضاحت بالمثال):جاءنی رجلان کلاهما و اثنان رایت رجلین کلیهما و اثنین او مررت برجلین کلیهما و اثنین...

﴿جمع المذکر السالم و اولوا عشرون و اخواتها﴾ دلته څو خبری اجمالا ضروری دی (۱) ربط (۲) تعیین دهغه اسماؤ چه دا اعراب ورسره خاص دے (۳) تشریح د عبارت (٤) تعریف او تعیین ددے اعراب (٥) وجه د تخصیص د اعراب د جمع مع التثنیه.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د اقسام خمسو د اصنافو د اعراب الاسم نه نو شروع ئی اوکړه په شپږم قسم کښ فقال جمع المذکر.

(ربط لفظی): دادے چه "جمع" مضاف "المذکر" مضاف الیه مضاف الیه موصوف او "السالم" صفة موصوف صفة معطوف علیه او اولو عشرون وع اخواتها معطوف معطوف سره د معطوف علیه نه مبتداء شوه او "بالواو و الیاء" په اعتبار د متعلق سره خبر مبتداء سره د خبر نه جمله خبریه اسمیة شوه.

(تعین د اسماؤ چه دا قسم اعراب ورسره خاص دی): نو (۱) جمع مذکر سالم (۲) ملحقات د جمع مذکر سالم جمع مذکر سالم هغه ده چه لفظ ئی لفظ د جمع وی او معنی ئی معنی د جمع وی او مفرد من لفظه ورله وی او مفرد ئی جمع شوی موافق د قانون د جمعیة راخیل او ملحق د جمع هغه ده چه داسی نه وی یا خوئی لفظ د جمع نه وی یا لفظ او معنی ئی د جمع وی خو مفرد من لفظه ورله نه وی یا لفظ او معنی ئی د جمع وی او مفرد من لفظه هم وی خو مفرد ئی نه وی جمع شوی موافق د قانون د جمعیة خپل نو ملحق د جمع دے.

(تشریح):ماتن اوی جمع المذکر السالم شارح اوی "والمراد به ماسمی" دی عبارت نه د شارح درے اعراض دی (۱) مراد د جمع مذکر سالم ذکر کوی (۲) تعریف د جمع مذکر سالم کوی (۳) دفع د اعتراض کوی چه زه په درته اوښائم چه جمع د مذکر به وی او بناء د واحد به پکښ هم نه وی ماته شوی او دا اعراب به ئی نه وی لکه مرفوع، منصوب ، مجرور دا مذکر دی او د دی جمع مرفوعات، منصوبات، مجرورات راځی نو دا جمع د مذکر دی او بناء د واحد پکښ هم سالم ده او دا اعراب ئی نه دی بلکه اعراب بالحرکت ئی دی او دغه شان ارض، سنة مونث دی او جمع ئی ارضون، سنون، دی نو دا جمع د مونث دی او بناء د واحد پکښ باقی ده نو دا جمع د مونث نه دی نو د مذکر نو دا اعراب ورله نه وو پکار حالانکه دا په دی اعراب بائندی معرب دے.

جواب: "و المراد به "ما" سمی به اصطلاحا" حاصل دادے چه مراد د جمع هغه ده چه جمع شوی وی په واو نون یا یاء نون سره که مفردئے مذکر وی او که مونث "فیدخل" نو دا ستون او ارضون پکښ داخل شول او مرفوعات ، منصوبات تری نه خارج شول.

سوال: د جمع مذکر سالم نه ته لفظ د جمع اخلی او که مصداق او افراد د جمع اخلی که لفظ د جمع اخلی نو دا لفظ مفرد منصرف صحیح دے دا قسم اعراب ورله نه دی بلکه اعراب بالحرکت لفظی حقیقی دی او که ته تری نه افراد او مصداق د جمع اخلی نو بیا خو اولو او عشرون و اخواتها ذکر کول پس د جمع نه مستدرك دی حکه داتی افراد دی.

جواب: زما مراد د جمع مذکر سالم نه افراد او مصداق دی او مصداق دهغی مونثِ ذکر کو چه لفظ ئی لفظ د جمع وی او معنی ئی معنی د جمع وی او مفرد من لفظه ورله وی او جمع شوی وی موافق د قانون د جمعیة نو اولو او عشرون داسی نه دی نو دائی افراد نه شول نو ذکر ئی پس د جمع نه مستدرك نه شو. شارح هم دا وائی چه "وما الحق به" چه دائی افراد نه دی بلکه ملحقات دی "اخواتها" اخوات دهغی .

سوال: اخوات جمع داخت ده او اخت خو خور ته وائی او داخو په ذوی الارواح کښ وی او دلته خو ذوی الارواح نشته نو ذکر ئی شه نه شو .

جواب: "ای نظائر ها" حاصل دادے چه ذکر د اخوات مراد تری نظائر او امثال دی او اخت په معنی د مثل او نظیر سره راځی قال تعالی "کلما دخلت امة لعنت اختها" السبع لکه ثلاثون، اربعون، خمسون، ستون، سبعون، ثمانون، "و لیس عشرون جمع عشرة" غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی چه اولو عشرون جمع نه ده خکه مفرد من لفظه ورله نشته نو اولو خو داسی دے خو عشرون دپاره خو مفرد من لفظه شته دے چه عشرة دے او یا عشر دے

جواب (۱) ولیس عشرون حاصل دادے چه عشرون جمع د عشرة نه ده او ثلاثون جمع د ثلاثة نه ده اوکه دا جمع شی نو بیا اقل د جمع دری وی نو عشرون دپاره اقل چه درے عشری پکښ وی نو چه دری عشری پکښ وی نو هغه عشرون نه وی بلکه هغه ثلاثون وی او دغه شان ثلاثون د ثلاثه جمع نه ده خکه چه اقل د جمع دری دی نو چه دری ثلاثه پکښ جمع شی نو هغه تسعة وی ثلاثون نه وی نو لهذا دی ته مونثِ جمع نه شو وئیلی "مقادیر العشرة" دری مقدارونه "البواقی" لکه اربعون شو نو درے اربعی خو دولس وی نو اطلاق د اربعون په دولس باندی اوشی و ذا باطل دغه شان خمسون هم دے "و ایضا" (۲) دی ته مونثِ جمع حقیقی خکه نه شو وئیلی چه جمع حقیقی د دریو نه په بره دلالت کوی خو په غیر متعین مقدار نه په متعین مقدار لکه مسلمون جمع ده نو ددی په څلورهم اطلاق کیږی په پنځو هم په هر څومره غیر متعین او عشرون خو دیو خاص مرتبی نوم دے په څلورو پنځو وغیره باندی ئی اطلاق غیر صحیح دے.

سوال: اے مصنف تا دا شروع کړی ده چه ته وائی زما تری نه دا مراد دے او زما تری نه دا مراد لکه جمع مونث سالم ذکر شوی ده ته وائی زما تری نه دا مراد ده دغه شان المثنی دغه شان جمع مذکر سالم نو دی دپاره خو خپلی معانی دی دا معانی تری نه ته په کوم حیثیت سره اخلی؟

جواب: دا ذکر د علم دے او مراد تری وصف مشهور دے.

سوال: د دی دپاره څه نظیر شته دے.

جواب: او لکل فرعون موسی نو دی زمانه کښ خو فرعون نشته دے نو مراد تری نه باطل پرست او حق پرست دے چه دا وصف مشهور د فرعون او موسی دی. نو دلته هم ذکر د علم دے او مراد تری نه وصف مشهور دے.

سوال: تا اوی چه عشرون د عشرة جمع نه ده صحیح ځکه چه ته وائی چه اقل د جمع دری دی او چه دری عشری شی نو د عشرون اطلاق به په ثلاثون اوشی نو دلته د جمع په "ما" فوق الواحد په معنی سره واخله کنه نو په دی معنی سره عشرون د عشرة جمع صحیح کیږی ځکه چه په عشرون کښ دوه عشری راجمع شوی دی کنه؟

جواب: دا اصطلاح د مناطقو ده او موټر اصطلاح د نحاتو ده او "کل متکلم یتکلم باصطلاحه" او علاوه له داهم وایو چه مناطقه حضرات چه د جمع اطلاق په "ما" فوق الواحدکوی نو په دے شرط چه صحیح وی اطلاق دجمع په ثلاثه یازیات او دلته خو داسے نه ده نو شرط فوت شو نو مشرزط هم فوت شو نو داجواب صحیح نه دے.

(تعریف د اعراب او دهغی تعین): نو دا اعراب بالحرف لفظی په حالتینو کښ نصب تابع د جر یعنی رفع په واو لفظی سره او نصب او جر په یاء لفظی سره چه قبل تری نه مکسور وی ماتن هم دا وائی بالواو سره "رفعا" یعنی حالت رفعی کښ "والیاء "نو سوال راځی چه دایاء خو علامه د حالت نصبی او جری په تثنیه کښ هم ده نو لازم شو التباس بینهما نو.

جواب: "المکسور "ما" قبلها" چه فرق پکښ شته دے هلته "ما" قبل مفتوح دے او دلته "ما" قبل مکسور دے "نصبا و جرا" سره تعین دے.

(وجه د تخصیص) :(۱)یعنی اعراب بالحرف ئی تثنیه او جمع لره ولی ورکړو؟ (۲)او لفظی ئی ولی کړو (۳) او په حالتینو کښ ئےولی کړو؟

(۱)ځکه تثنیه او جمع سره فرع دمفرد دے او اعراب باالحرف فرع د اعراب بالحرکت ده نو فرع موفرع لره ورکړه دپاره د مناسبة شارح هم وائی "انما جعل" سره یا (۲) ځکه مو تثنیه او دهغی ملحقاتو او جمع او دهغی ملحقاتو لره اعراب بالحرف ورکړو چه اخر کښ صلاحیة د قبول د اعراب بالحرف شته دے شارح هم دا خبره ذکر کوی.

(۲)او دا اعراب مو لفظی ځکه ورکړو چه اعراب لفظی اصل دے او تقدیری خلاف الاصل دے او چه اتیان بالاصل ممکن وی صیرورة خلاف الاصل ته کول ښه نه دی دلته هم داسی خبره ده چه اتیان په اصل ممکن دے نو اعراب تقدیری چه خلاف الاصل دے هغه ته صیرورة نه کوو نو لفظی موکړو (۳) او دا اعراب په حالتینو کښ ولی شو.؟ نو دلته یو تفصیل دے هغه داسی دے چه دری احوال د تثنیی دی او دری احوال د جمع دی نو ټول احوال شپږ شول او اعراب بالحروف په دری حروفو سره راځی چه واو، الف، یاء دی نو احوال لاعراب

شپږ او حروف الاعراب درې دي نو دلته درې صورتو دي (۱) که دا درې وارږه حروف دوارو یعنی تثنیی، جمع لره ورکوو نو التباس به لازم شي په درمیان د تثنیه او جمع کښې (۲) که درې وارږه حروف تثنیی لره ورکوو نو جمع بلا اعراب پاتې کیږي (۳) که دا درې وارږه حروف جمع لره ورکو نو تثنیه بلا اعراب پاتې کیږي نو دا درې وارږه صورتو جائز نه دي نو مونږ به څلورم صوره اختیار کو چه هغه تقسیم یعنی صلح ده. نو صلحه به دې طریقه سره کوو چه د تثنیه حالت رفعي لره مو الف ورکړو او د جمع حالت رفعي لره مو واو ورکړو نو دا حالت رفعي د تثنیه او جمع د دې نورو احوالو دپاره یو تقسیم وو نو دا مشران مو ورله په دې د رشوت باندې رضاء کړل او بیا مو ورته اوې چه دا خیل کشران چه حالت نصبي او جرې دے دوې پوهه کړئ چه جنګ نه کویه کښې کوي نو دوې لاړل او خپلو کشرانو ته ئې او وئیل چه یو حرف باقي دے که اخلئ نو واخلئ کنه مه اخلئ. نو دوې اوئیل راکړه ئې نو هغه یو حرف ئې څلورو وارو لره ورکړو نو د نصب او جر پرې جګړه شوه نو دوې دې نصب ته اوې چه ته وخت په وخت د جر تابعداري کوي نو دلته جنګ مه کوه تابع شه نو هغه اوې چه خه نو نصب د جر تابع شو.نو احوال دوه پاتې شول نو ورته مو اوې چه خانه دایو حرف دے چه یاء ده او ځان پرې مشغوله کړئ نو درے اوے خه ده کنه خو دوې اوې چه دې عوامو ته تکلیف جوړ شو. عوام او سامعین خو به پوهه نه شي چه دا تثنیه ده او که جمع ده څکه چه یاء حرف دوارو کښې دے نو مونږ دلته حیله ګرملیان طلب کړل نو هغو اوې چه په تثنیه کښې دیاء "ما" قبل مفتوح کړئ او جمع کښې مکسور او بیا به عوامو ته او وائي چه اې خلقو مخکښې ګورئ دما قبل دیاء که فتحه وه نو تثنیه به وي او که کسره وه نو جمع به وي، نو هغوی خلقو اوی چه مونږ خو مخکښې نه شو کتلي فقط شاته به خامخواه ګورونو مونږ ورته اوې چه خه شاته بیا نون نه ګورئ که مکسور وو نو تثنیه ده او که مفتوح وو نو بیا جمع ده. دا اعراب ورته برابر شو. شارح هم په دې طریقه سره وائي.

"فلو جعل اعراب کل واحد منهما" سره هغه دریو ناجائزو صورته دي.

"بان جعلوا الالف علامة الرفع" دلته دا سوال راځي چه الف موتثنیی لره ورکړو او واو جمع لره نو عکس مو ولې نه کولو؟

جواب: شارح کوي چه "لانه الضمیر المرفوع" ...حاصل دادے چه دا الف علامه د فعے وه په فعل کښې لکه ضربا او یضربان چه دے نو دلته موهم الف علامه د رفع اوګرخوله او دغه شان په فعل کښې واو علامه د رفع وه نو دلته مو هم علامه د رفع اوګرځوله "حال الجر علی الاصل" څکه چه حالت جرې په کسره سره وي او یاء د دوو کسرونه جوړه وي. و فرقوا بینهما دې سره هغه د ملیانو حیله ده دپاره د تکلیف لرے کولو د عوامو ته "لخفة الفتحه و

كثرة التثنية" سره دفع د سوال ده چه په تثنيه كښ د ياء نه "ما" قبل لره فتحه وركوى او په جمع كښ دياء نه "ما" قبل كسره وركوى نو عكس اوكړئ كنه نو شارح جواب اوكړو چه تثنيه كثير الاستعمال ده په دى شان سره چه مستقلا هم راځى او په ضمن د جمع كښ هم راځى نو تقاضا د خفة ئ كوله نو تخفيف په فتحه كښ وو او جمع قليل الاستعمال وه صرف مستقلا راځى نو خفه پكښ وو نو ورله مو كسره وركړه و حملوا النصب على الجر "لا" على الرفع لمناسبةاو دفع د سوال ده چه نه نصب د جر تابع كوى نو د رفع ئےتابع كړم كنه؟ نو جواب اوشو چه د نصب او رفع درميان كښ مناسبة نشته په خلاف د نصب او جر كښ چه په درميا ددى كښ مناسبة شته دے هغه داچه دا دواړه په كلام كښ فضله واقع كيږى فرق دومره دے چه نصب فضله فى الكلام بلا واسطه وى او جرومع الواسطه وى بيا دلته مونږ نون د تثنيه مكسور كړو او د جمع نون مو مفتوح كړو دا ځكه (۱)چه داپه اصل كښ ځه تنوين شاته دے نو دلته التقائے د ساكينو راغله په درميان د نون او "ما" قبل ساكن كښ نو مونږ نون لره حركت وركړه ځكه دا اخيرى حرف د كلمه وو او بيا حركت د كسرى ځكه چه لان الساكن اذا حرك حرك بالكسر اوس دغه قانون نون د جمع ته هم متوجه دے نوكه هلته هم حركت د كسره وركوو نو التباس راځى نو باقى ضمه او فتحه وو نو ضمه سره ثقل راځى او ثقل سه نه دے نو فتحه پاتى وه نو فتحه مو ورله وركړه (۲) په تثنيه كښ مونږ "ما" قبل دياء لره فتحه ركړى وه او په جمع كښ مو كسره وركړى وه نو چه نون راغئ نوكه دلته هم هغه شان نون د تثنيه لره فتحه او نون د جمع لره كسره وركړو نو دا خو محض ظلم وو نو مونږ د عدل كولو دپاره د معامله اوكړه.

﴿التقدير فيما تعذر كعصا و غلامى مطلقاو﴾ ..دى عبارت كښ بالترتيب څو خبرى اجمالا ضرورى دى (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) تعين او تعريف د هغه اعراب چه دلته مذكور دے (۳) د عبارت د ماتن تشريح (٤) تعريف او تعين دهغه اسماء چه دا اعراب پكښ جارى دے (٥) وجه د تخصيص د اعراب په دى اسماء پورى.

(ربط): ربط معنوى په دوه قسمه دے يو څو زمونږ هغه زوړ ربط دے چه ماتن په اصناف د اعراب الاسم كښ شروع كړى وه نو چه كله فارغ شو د شپږو اقسامو د اعراب الاسم نه چه دا لفظى وو نو شروع ئ اوكړه په اووم قسم د اصناف د اعراب الاسم كښ چه هغه اعراب بالحركت تقديرى دے په احوال ثلاثه كښ نو "قال التقدير" او بيا وريسى اتم قسم ذكر كوى چه هغه اعراب بالحركت تقديرى دے په حالتينو كښ او لفظى دے په حالت واحده كښ او بيا په وريسى نهم قسم ذكر كړى چه هغه اعراب بالحرف تقديرى دے په حالت واحده كښ او بيا په اخر كښ دفع ديو وهم اوكړى "و اللفظى فيما عداه" سره وهم دا راځى چه دا درى اقسام چه دى نو دى كښ تا دا تشريح اوكړه چه دا تقديرى دى او مخكښ چه كوشپږ اقسام

تیر شوی دی نو هغی کښې تا دا قسم تشریح نه وه کړی چه هغه تقدیری دی او یا هغه لفظی دی نو دفع اوشوه چه دی نه علاوه کوم دی نو دا ټول لفظی دی نو اګرچه هلته نه دے ذکر شوی خو چه التقدیر ئی اوی نو معلوم شو چه هغه لفظی دی دویم ربط هغه شارح بیانوی چه وائی "ولما فرغ من تقسیم الاعراب" نو غرض د شارح په دی عبارت سره یو د "التقدیر عبارت دما قبل سره ربط بیانوی دویم هغی عبارت نه تمهید ایښودل دی او دریم دفع د اعتراض ده دا دوه اول خو واضح دی او اعتراض داسی دے چه دا دلته چه تقسیم د اعراب بالحرکت او د بالحرف دے تقدیری او لفظی ته نو داسی تقسیم مخکښې اجمال غواړی حالانکه مخکښې خو اجمال نه دے ذکر او تفصیل ئی دلته کوی نو دا خو د بلاغت او فصاحت د اصولو نه خلاف دے نو شارح به جواب اوکړی چه دا اجمال د تقسیم مخکښې د تفصیل د هغی نه عام دے که صراحةً وی او که ضمنا نو دلته اګرچه مخکښې ذکر د تقسیم الاعراب بالحرکت او بالحرف لفظی او تقدیری صراحة نه دے شوی خو اشارةً او ضمناً شوی دے په ذکر کولو د لفظا او تقدیرا سره په حکم د معرب کښې شارح هم دا وائی چه ولما فرغ.... "و لما کان التقدیری" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع دیو بل سوال دی سوال ده دادے چه هر کله تا اعراب بالحرکت او بالحرف تقسیم کړو لفظی او تقدیری ته نو لفظی اصل دے د وجه د اظهار د اعراب نه په دی کښې او تقدیری خلاف الاصل دے د وجه د عدم اظهار د اعراب نه په دی کښې نو اصل مخکښې کول پکار وو نو تا خو خلاف الاصل چه تقدیری دے دا دی مخکښې ذکر کړو چه "التقدیر فیما تعذر" او اصل چه لفظی دے دا دی روستو ذکر کړو چه "و اللفظ فیما عداه" نو دا خو تا د قانون د اصل نه خلاف اوکړو شارح جواب کوی چه دلته مونږ بل یو قانون سره موفقة کړی دے هغه دادے چه اقسام د اعراب تقدیری اقل دی نو ضبط کښې راځی او د لفظی اقسام اکثر دی ضبط کښې نه راځی نو که مونږ لفظی مخکښې کړو نو بیا اختصار نه حاصلیږی په متن کښې او په تقدیم د تقدیری سره اختصار حاصلیږی نو دامتن دے او بناء د متونو هم په اختصار وی او ربط لفظی چه ترکیب دے نو هغه داسی دے چه "التقدیر" مبتداء ده او "فیما تعذر" په اعتبار د متعلق سره خبر دے نو مبتداء خبر جمله اسمیه ده

(تعیین او تعریف ددی قسم اعراب):نو دا اووم قسم د اصنافوو د اعراب الاسم نه دے چه تعریف ئیدادے اعراب بالحرکت تقدیری په احوالو ثلاثو کښې یعنی رفع په ضمه تقدیری سره او نصب په فتحه تقدیری سره او جر په کسره تقدیری سره او بیا دا اعراب چه اعرب بالحرکت تقدیری دے نو دائی مقدم کړو په اعراب بالحرف تقدیری باندی ځکه بالحرکة اصل دے او بالحرف خلاف الاصل دے او اصل په خلاف الاصل مقدم وی او بیا ئی اعراب بالحرکت تقدیری په احوالو ثلاثو کښې مقدم کړو په اعراب بالحرکت تقدیری په حالتینو کښې او لفظی په حالت واحده کښې ځکه دابه منزله د مفرد دے او هغه په منزله د مرکب دے او عین مفرد د مقدم

وی په عین مرکب باندی نو په هغه چه په منزله د مفرد دے هغه هم مقدم وی په هغه چه په منزله د مرکب وی.

(تشریح د عبارت د ماتن): ماتن اوی "التقدیر" شارح اوی "ای تقدیر الاعراب" نو غرض د شارح په دی عبارت سره یو دفع د اعتراضینو ده او دویم رد کول دی په فاضل هندی باندی یو اعتراض دادے چه تا اوی چه تقدیر په هغه ځائے کښ وی چه هلته تعذر وی حالانکه قران کښ الله وائی: "واسئل القریة" نو مفسرینو وئیلی دی چه دلته اهل مقدر دے نو دلته خو تقدیر شته دے او تعذر پکښ نشته .

جواب: "تقدیر الاعراب" حاصل دادے چه زما مراد د تقدیر نه مطلق تقدیر نه دے مراد بلکه تقدیر د اعراب می مراد دے او په ایت کښ تقدیر د کلمه دے دی دپاره تعذر شرط نه دے دویم اعتراض دادے چه بحث زموږ په اصنافو د اعراب الاسم کښ دے او تاخو پکښ التقدیر ذکر کړو نو داخو خروج د بحث نه لازم شو.

جواب: تقدیر الاعراب یعنی په التقدیر کښ الف لام عوض د مضاف الیه نه دے اصل عبارت تقدیر الاعراب دے خو بیا چه هر کله قطع د ترکیب اضافی اوشوه په حذف د مضاف الیه سره نو عوض کښ مو الف لام راوړو او یا الف لام عهدی دے معهود تقدیر الاعراب دے دویم رد کوی فاضل هندی باندی ځکه هغه وائی چه دا عبارت د قبیلی د ترکیب توصیفی نه دے نه چه د اضافی نه نو هغه وائی چه عبارت اصل کښ دے "الاعراب التقدیری" نو شارح په هغه رد اوکړو چه دا عبارة د قبیلی د ترکیب اضافی نه ګرځول بهتر دی نه د ترکیب توصیفی نه ځکه که دا ترکیب توصیفی شی نو بیا کثرة حذف راځی په دی شان سره چه یو به حذف د موصوف شی دویم به حذف د موصوف سره د الف لام شی او دریم به حذف د یاء شی چه په التقدیری کښ ده او که د قبیلی د ترکیب اضافی نه شی نو بیا قلة حذف راځی په د شان سره چه صرف مضاف الیه به حذف شی نو دا قلة حذف اولی دے د کثرة حذف نه . فیما تعذر ای فی الاسم المعرب غرض د شارح په دی عبارت یو تعین د لفظ "ما" کوی چه دا عبارت دے دالاسم المعرب نه دویم دفع سوال ده چه یره دا"ما" به عبارت د "شئ" نه وی نو معنی به شی چه تقدیر د اعراب په هغه شئ کښ دے چه په هغی کښ اظهار د اعراب متعذر وی نویه فعل ماضی کښ هم اظهار د اعراب متعذر دے او امر حاضر کښ هم او دا شیان هم دی نو دلته به هم تقدیر د اعراب وی حالانکه هغه مبنی الاصل دی.

جواب: "فی الاسم" چه "ما" عبارت د شئ نه نه دے بلکه د اسم نه دے او فعل ماضی او امر حاضر خو افعال دی نه چه اسماء .

سوال: نو مضمرات، موصولات او اسماء اشاراتو کښ هم اظهار د اعراب متعذر دے او اسماء هم دی او دی ته خلق مبنی وائی تقدیر د اعراب پکښ نه وائی.

جواب: "ای فی الاسم المعرب" مطلقا اسم نه دے مراد بلکه اسم معرب مراد دے او دغه مبنیات دی.

سوال: دا لفظ د "ما" عام دے هر څه ته شامل دے نو تاسو سره قرینه څه ده په اخستلو د اسم معرب.

جواب: قرینه پری راسره بحث د اسم معرب دے "تعذر الاعراب فیه".

سوال: دا ضمیر د تعذر څه ته راجع کوی اسم ته کنه اعراب ته که اسم ته راجع شی نو معنی به فاسده شی او که دا راجع شی اعراب ته نو لازمیږی خالی والی د صلی د عائد د موصول نه تعذر صله ده دپاره د "ما" موصولی نو دی کښ ضمیر موصول ته راجع وی او دلته خو "ما" ته ضمیر راجع نه شو بلکه اعراب ته راجع شو، نو موصول بلا عائد پاتی شو.

جواب: دا تعذر کښ ضمیر اعراب ته راجع کوم ماته ئی نه راجع کوم چه عبارت دے د اسم معرب نه ځکه معنی به شی چه تقدیر د اعراب هغه ځائے کښ دے چه متعذر وی دا اسم معرب نو دا معنی مهمله ده نو راجع شو اعراب ته نو معنی صحیح ده خو د اعتراض نه جواب دادے چه عائد د موصول محذوف دے چه هغه فیه دے.

سوال: تعذر وئیلی شی چه یو شئ نه حاصلیږی مګر په مشقة او کُلفة سره او دا روستو چه تاکوم اسماء ذکر کړی دی نوکه دی کښ مونږ ډیر مشقة برداشت کړو خو حصول ئی ممکن نه دے.

جواب: "ای امتنع" حاصل دادے چه دا تعذر په معنی د امتناع سره دے یعنی اعراب پکښ ممتنع دے.

سوال: چه اعراب پکښ ممتنع شو نو بیا ورته اسم معرب ځنګه والی ځکه چه معرب کښ اعراب ممتنع نه وی ممکن وی پکښ بیا که لفظی وی او که تقدیری.

جواب: "امتنع ظهوره" امتناع د اعراب مطلقا نه ده مراده بلکه ظهور. اعراب ممتنع نه دے اعراب پکښ شته دے خو ظهور ئی ممتنع دے.

(تعیین د هغه اسماؤ چه دا اعراب پکښ دے): نو ماتن په عصا او غلامی سره تعیین د اسماء کوی چه دا دوه مقاماته دی . شارح دغه دوه مقامات ذکر کوی په طریقه د کلیة اوقانون سره دپاره د دی چه تخصیص راشی د اعراب د دی دوه اسماؤ سره نو د اول مثال نه ئی دا قاعده جوړه کړه چه و "ذلک" حاصل ئی دادے چه دا قسم اعراب چه راځی نو یو په اسم مقصور کښ یعنی هر هغه اسم چه اخر کښ ئی الف مقصوره وی. او بیا دا الف مقصوره عام دے که حقیقة وی لکه العصا او که حکما وی لکه، عصا شو. شارح وائی "سواء کانت" دفع

د سوال دہ چہ مثال د ممثل سرہ مطابق نہ دے ځکہ ممثل دے چہ د اسم اخر کښې الف مقصورہ وی او مثال خو عصا دے اخر کښې الف مقصورۃ نشته بلکہ تنوین دے

جواب: دغه الف عام دے کنه که په لفظ کښې وو لکه العصا او یا محذوف لکه عصا دویم مقام هم ذکر کوی په طریقه د کلیهٔ اوقانون سره "وکما فی الاسم المعرب بالحرکة "اوحاصل دادے چه دویم قسم هر هغه اسم معرب دے چه معرب بالحرکة وی او اضافة ئې شوی وی یاء د متکلم ته او معرب بالحرکت ځکه وائی چه احتراز شی د جمع مذکر سالم مضاف نه یاء د متکلم ته ځکه هغه معرب بالحرکة نه ده. او دغه شان د تثنیه نه هم احتراز شو ځکه هلته هم اعراب بالحرف وی ادا دویم قسم شو لکه غلامی دلته د غلام اضافت یاء د متکلم ته شوی دے اوس هر کله چه مونږ هغه دوه مقامات او پیژندل چه دا اعراب پکښې جاری دی په طریقه د کلیهٔ اوقانون سره نو دا اعراب خاص نه شو د عصا او غلامی سره.

(وجه د تخصیص د دی اعراب دی دوه قسم اسماؤ سره):نو شارح هغه بیان کړی دہ د اول اسم دپاره "و ذلك اذا لم یکن الحرف الذی" سره او دویم دپاره "فانه لما اشتغل" "ما" قبل سره حاصل ئې دادے چه هر هغه اسم چه معرب وی بالحرکت او اخر کښې الف مقصورة وی نو دی کښې به اعراب تقدیری وی نه لفظی ځکه دی په اخر کښې الف دے چه صالح نه دے دپاره د اعراب لفظی اظهار د اعراب پری نهه کیږی ځکه که اظهار د اعراب پری اوشی نو الف به همزه شی او اعراب بالحرکت ځکه شو چه دا اصل دے د اعراب بالحرف نه او تقدیری ځکه چه صلاحیة د ظهور د اعراب لفظی نه لری او بیا په احوال ثلاثه کښې تقدیری شو ځکه دری وارو احوالو کښې الف دے او دغه شان شارح هم وائی فی الصورتین چه الف مقصوره موجود وی او نه وی موجود او دغه شان په دویم قسم کښې هم دے چه اعراب بالحرکت ځکه چې دا اصل دے او اصل پکښې راتلی شی نو صیرورة ته کوّ خلاف الاصل نه او تقدیری په احوال ثلاثه کښې ځکه وایو چه کله دیا مناسبةد ماقبل مکسور شو د وجې د یاء نه مناسبة نو اوس که په دی باندی عامل رافع یا عامل ناصب داخل شی نو دا عامل رافع او عامل ناصب تقاضا د ضمة او فتحة کوی او یاء تقاضا د کسره د ماقبل کوی نو لازمیږی اجتماع د حرکتینو مختلفینو په حرف واحد باندی او اجتماع د حرکتینو مختلفینو په حرف واحد باندی نا ممکن ده او که په دی باندی عامل جاره داخل شی نو هم به اعراب تقدیری وی ځکه چه دا "ما" قبل دیاء د مناسبة دیاء د وجی نه راغلی ده نوکه مونږ په دی باندی د عامل جاره د وجی نه بله کسره راولو نو لازمیږی توارد د حرکتینو متماثلینو په حرف واحد په حین واحد کښې او دا جائز نه دے ځکه بیا به مونږ په یو وخت کښې او یو چه د کسره د وجی د عامل ده او دغه شان داکسره د وجی د مناسبة دیاء نهه ده شارح هم دا وائی چه "فانه لما اشتغل ..."موافقة لها" لکه چه په حالت جری کښې "و مخالفة" لکه چه په حالت رفعی او نصبی کښې "فما ذهب الیه بعض" غرض د شارح په دی عبارة سره رد کول دی په بعض الناس باندی او دفع د اعتراض ده اعتراض دادے چه مونږ خو اوریدلی دی چه غلامی او امثال د غلامی د

دی اعراب بالحرکت تقدیری دی په حالتینو کښ او لفظی دے په حالت واحده کښ نو جواب شارح اوکړه چه دا خبره کمزوری ده ځکه که مونږ په حالت جری کښ اعراب لفظی ورکړو نو بیا به لازم شی توارد د حرکتینو متماثلینو په حرف واحد او په حین واحد کښ او دا جائز نه ده نو دا خبره غیر مرضی ده ناپسند ده. ....اوس دلته یو دریم قوم هم شته دے هغو دا وائی چه کله اضافت د اسم اوشی یاء د متکلم ته نو دااسم به دغه وخت کښ مبنی وی ځکه چه مضاف د مضاف الیه نه بناء کسب کوی لیکن دوی سره ماتن موافق نه دے ځکه چی مضاف د مضاف الیه نه بناء کسب کوی خو په هغه وخت کښ چه دا مضاف الیه مبنی الاصل وی او دلته خو یاء د متکلم مبنی الاصل نه ده ځکه اسم دے او اصل په اسماؤ کښ اعراب دے "مطلقا" شارح د مطلقا معنی ذکر کوی چه په احوالو ثلاثو کښ او بیا حاصل د معنی هم ذکر کوی....

(او استثقل کقاض رفعا و جرا) ....دلته اجمالا یو څو خبری دی بیا دهر یوی خبری مناسب تفصیل دے (۱) ربط (۲) تعیین د اسماؤ چه دا اعراب ورسره خاص دے (۳) تشریح د عبارت د ماتن (٤) تعیین او تعریف د دی قسم اعراب (٥) وجه د تخصیص.

(ربط): معنوی ربط دادے چه مصنف شروع کړی وه په اعراب بالحرکت تقدیری کښ نو چه کله دیو قسم نه فارغ شو نو شروع ئی اوکړه په دویم قسم د اعراب بالحرکت تقدیری کښ چه په حالتینو کښ تقدیری دے او په یو حالت کښ لفظی دے او د مجموعه په اعتبار سره چه کله فارغ شو د اوو اصنافو د اعراب الاسم نه نو شروع ئی اوکړه په اتم قسم د اصناف د اعراب الاسم کښےچه اعراب بالحرکت تقدیری دے په حالتینو کښ لفظی په حالت واحده کښے او ربط لفظی یعنی ترکیب شارح ذکر کوی چه "عطف علی تعذر" یعنی په "ما" قبل تعذر باندی عطف دے نو دا معطوف او تعذر معطوف علیه معطوف معطوف علیه یو ځائے شول او صله د موصول شوه او موصول صله مجرور د حرف جر "فی" جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر د التقدیر مبتداء خبر جمله خبریه اسمیة شوه.

(ای تقدیر الاعراب فیما تعذر او فی الاسم الذی). غرض د شارح په دی عبارت سره اشاره کول دی هغه قانون ته چی "ما" قبل د معطوف علیه معاد وی په معطوف کښ او حاصل د معنی هم ذکر کوی چه تقدیر د اعراب یا خو په هغه اسم کښ وی چه ممتنع وی ظهور د اعراب لفظی په هغه کښ او یا ثقیل شوی وی په هغی کښ ظهور د اعراب دا شو ربط لفظی او معنوی.

(تعین د اسماؤ او تشریح د عبارت د ماتن): دا دواړه خبری به یو ځائے وایو نو ماتن د کقاض سره تعیین د اسماء کوی او شارح په هغی باندی تصریح کوی په داسی طریقه باندی چه یو کلیة او قانوی تری نه جوړ کړی دے ځکه چه ماتن خو یو جزی مثال پیش کړی دے نو وائی:

"و ذلك اذا كان" یعنی دا استثقال د اعراب په هغه ځائے کښ دے چه محل د اعراب پکښ قابل د حرکت اعراب وی نو توهم راپیدا شو چه بیا ورته تقدیری ولی واتی بلکه اعراب لفظی ورته او وایه کنه نو "لکن" سره دغه وهم دفع کوی ځکه لکن دپاره د استدراك یعنی دفع کول دهغه وهم چه هغه جوړ شوی وی دما قبل کلام نه نو اوئیل ئی چه دا ظهور پکښ ثقیل دی که کما فی الاسم الذی...... دلته اوس شارح یو کلی ممثل بیانوی چه هر هغه اسم چه په اخر دهغی کښ یاء وی او د یاء نه "ما" قبل مکسور وی نو هغی کښ به اعراب بالحرکت تقدیری وی په حالت رفعی او جری کښ او لفظی به وی په حالت نصبی کښ لکه قاضی شو چه اخر کښ یاء او "ما" قبل تری نه کسره ده نوبه دی یاء باندی موثره ظهور د ضمه اوکسره نه شو کولی ځکه چه دایاء ضعیفه ده او ضمه، کسره ثقیله ده نو دایاء ددی برداشت نه شی کولی. نو دا د قاض پوری خاص نه دے.

سوال: مثال د ممثل سره مطابق نه دے ځکه ممثل دادے چه اخر د اسم کښ یاء وی او "ما" قبل مکسور وی او مثال کښ قاض دے یاء پکښ نشته.

جواب: (سواء کان محذوفة)او حاصل دادے چه دایاء پکښ عامه ده که حقیقة وی یعنی محذوفه نه وی او که حکما وی یعنی محذوفه وی نوداهم په حکم د ملفوظ کښ وی.

(تعین او تعریف ددی قسم اعراب):ماتن وائی: "رفعا و جرا" نو تعین دادے چه دا د اعراب تقدیری بالحرکت دویم قسم او د مجموعه اتم قسم اعراب دے او تعریف ئے دادے چه اعراب بالحرکت تقدیری په حالتینو کښ او لفظی په حالت واحده کښ یعنی رفع په تقدیر د ضمه او جر په تقدیر د کسره او نصب په فتحه لفظی سره بیا دا رفعا و جرا منصوب دی شارح ورله علت د نصب ذکر کوی "ای فی حالتی" سره حاصل دادے چه دا منصوب دی بناء بر ظرفیة .

سوال: ظرف خو یا زمان وی او یا مکان او دا رفعا او جرا نه زمان او نه مکان دے.

جواب: دا ظرف حقیقی نه دے بلکه ظرف مجازی دے په دی شان سره چه دا اصل کښ مضاف الیه دے دپاره د مضاف محذوف چه هغه حالت دے او هغه ظرف زمان دے بیا هغه حذف شو او دا رفعا و جرا د هغی په ځائے قائم شو نو دهغی په اعراب معرب شو نیابة بیا دلته شارح لفظ د فی حرف جر راوړی دے په دی کښ اشاره دی خبری ته ده چه شرط دپاره د نصب د ظرف تقدیر د فی دے او دا حکم به راشی "لا فی حالة النصب" شارح د رفعا او جرا قید فائده بیانوی.

(وجه د تخصیص):شارح وائی: "لا ستثقال الضمة و الکسرة دون" یعنی دا تقدیری اعراب بالحرکت په حالتینو کښ او لفظی په حالت واحده کښےولی ددی اسم سره خاص شے؟ نو دا

خکه چه ضمه او کسره ثقیله ده او یاء حرف علت ضعیف دے د دی برداشت نه شی کولی نو په دی دوه حالتینو کښ تقدیری شو او بیا فتحه خفیفه ده نو یاء ئی برداشت کولی شی نو هغه فتحه لفظی شوه او دلته بعض شارحینو دا خبره بیان کړی ده چه د ثقل د ضمه او د کسره په یاء متکلم پوری مشروط دے په دریو شرائطو سره (۱) دیاء به د کلمه اخر کښ وی (۲) د یاء به متحرکه وی (۳) او دیاء "ما" قبل به هم متحرك وی نو احتراز شو د خیول نه خکه یا متحرك ده او "ما" قبل هم متحرك دے خو یاء په اخر د کلمه کښ نه ده دغه شان د ظبی نه هم احتراز دے خکه "ما" قبل تری نه متحرك نه دے او په مسلمی کښ د أولی یاء نه هم احتراز دے خکه اخر د کلمه کښ دے او "ما" قبل تری نه متحرك هم دے خو دایاء ولی په خیله متحرکه نه ده. نو دابه داسی ئی چه جاءنی القاضی مررت بالقاضی رایت القاضی دلته صاحب د خادمة الکافیة یو اعتراض کوی هغه داسی چه ماته موبر ستاسه یو تپوس کوو چه ته ظهور د اعراب په عصا کښ ممتنع وائی او په قاض کښ ظهور د اعراب په حالتینو کښ ثقیل وائی نو دا قبل الاعلال وائی او که بعد الاعلال وائی؟ که قبل الاعلال ظهور د اعراب په عصا کښ ممتنع وائي او په قاض کښ ثقیل وائی نو قبل الاعلال په عصا کښ ظهور د اعراب ممتنع نه دی بلکه ثقیل دی خکه اصل د عصا عصو دے. نو قبل الاعلال ظهور د اعراب په قاضی کښ ثقیل وئیل اویه عصا کښ نه وئیل خو تر جیح بلا مرجح ده او که ظهور د اعراب بعد الاعلال په عصا کښ ممتنع وائی او په قاض کښ ثقیل وائی نو بعد الاعلال چه څنګه ظهور د اعراب په عصا کښ ممتنع دے نو دغه شان په قاض کښ هم ممتنع دے نوپه قاض کښ ثقیل وئیل او په عصا کښ ممتنع وئیل خو ترجیح بلا مرجح ده؟

جواب: دواړو کښ ظهور د اعراب ممتنع او ثقیل وائم قبل الاعلال او بعد الاعلال دواړه خو په دواړو کښ اعلال جدا جدا وائم هلته د اعلال نه مخکښ عصا نه العصا وائم او قاض نه قاضی وایم نوپه العصا کښ اخر کښے الف مقصوره دے اعراب پری ممتنع دے او بعد الاعلال عصا دے نو هم پری اعراب ممتنع دے خکه المحذوف کالملفوظ نو الف محذوف دے او اعراب پری ممتنع دے او قاضی قبل الاعلال قاض دے نو اعراب پری ثقیل دے او چه اعلال پکښ اوشو نو یاء د التقاء ساکینو د وجی نه حذف شو نو قاض شو نو المحذوف کالملفوظ دے نو بیا به یاء باندی ضمه او کسره ثقیله ده کنه نو حاصل دا شو. چه اعلال کښ فرق وایم په حکم کښ فرق نه وایم حکم د عصا قبل العلال او بعد الاعلال دواړه ممتنع دے او حکم د قاض قبل الاعلال او بعد الاعلال دواړه ثقیل وایم خو په اعلال کښ فرق وایم په دی شان سره چه عصا قبل الاعلال العصا وایم او بعد الاعلال عصا وایم او قاض قبل الاعلال قاضی وایم او بعد الاعلال قاض وایم

(و نحو مسلمی).. کله چه فارغ شو مصنف د اعراب بالحرکت تقدیری نه نو شروع ئ اوکړه په اعراب بالحرف تقدیری کښ نو په تقدیری کښ دریم قسم دے او په مجموعه کښ نهم قسم دے اخری قسم دے. او یا استثقال د دوو وجو راخی د حرکت د وجی چه ضمه او

کسرہ دہ او د حرف د وجی نہ چہ واو دے نو کلہ چہ فارغ شو دھغہ نہ چہ ثقل پکښ د حرکت د وجی نہ وو نو شروع لی اوکړہ پہ ھغہ کښ چہ ثقل پکښ د حرف د وجی نہ دے نو مستثقل پہ دوہ قسمہ شو بالحرکت او بالحرف .

ربط لفظی: خو شارح ذکر کوی نو وی عطف علی قولہ کقاض یو غرض ربط لفظی ذکر کول دی دویم دفع د اعتراض دہ اعتراض داچہ نحو مسلمی پہ قاض باندی عطف دے او د کاف دلاندی دے نو "ما" قبل د معطوف علیہ پہ معطوف کښ معاد وی نو دا عبارۃ شو و کنحو مسلمی نو دلتہ یو کاف او دویم نحو راغلل چہ دا دوارہ پہ یوہ معنی دلالت کوی نو نحو ذکر کول مستدرک دی

جواب: دا اعتراض پہ ھغہ وخت وو چہ دا موني صرف پہ قاض عطف کولی حالانکہ دا مونږہ پہ مجموعہ د کقاض عطف کوو نو د کاف لاندی نہ شو.

سوال: پہ قاض بہ دے عطف کړی وو نو د کاف لاندی بہ راغلی وو نو د نحو ذکر کول تہ پکښ ضرورت نہ وو نو کمسلمی نہ وو نو اختصار بہ هم حاصل شی ځکہ دا متن دے او مبنی د متونو پہ اختصار وی او خپل مقصد بہ هم حاصل شوی وی.

جواب: دا خبرہ صحیح دہ چہ بناء متونو پہ اختصار دہ خو دومرہ اختصار بہ هم نہ کوی چہ ھغہ مخل للفھم شی دغہ شان دلتہ هم بہ بیامخل للفھم وو پہ دی شان سرہ چہ دی مخکښ قسم کښ هم استثقال دے او پہ دی قسم کښ هم استثقال دے نو چا بہ دا وهم کړی وو چہ دا دوارہ یو شئ دے حالانکہ ھغہ بالحرکت دے او دا بالحرف دے نوپہ زیادۃ د نحو سرہ اشارہ دہ چہ دا ځان لرہ مستقل قسم دے. تعیین د اسم تری نہ هم معلومیږی چہ جمع مذکر سالم مضاف بیاء متکلم او تشریح د عبارۃ الماتن هم اوشوہ او تعیین او تعریف د اعراب دا دے چہ دا نهم قسم دے چہ دا اعراب بالحرف تقدیری پہ حالت واحدہ کښ او لفظی پہ حالتینو کښ یعنی رفع پہ واو تقدیری سرہ او نصب او جر پہ یا لفظی سرہ شارح هم ځکہ داسے شان واق اول ربط ذکر کوی چہ "تقدیر الاعراب" او د "رفعا" علت د نصب ذکر کوی چہ "انما هو فی حالۃ الرفع" او د رفعا قید فائدہ بیانوی چہ "دون النصب" "نحو جاءنی مسلمی" غرض د شارح پہ دی عبارت سرہ وضاحت بالمثال او وجہ د تخصیص بیانوی چہ د اسم سرہ دا قسم اعراب ځکہ خاص شو چہ کلہ جمع مذکر سالم مضاف شی یاء د متکلم نہ نوپکښے یو اعلال کیږی او دویم ادغام کیږی او پہ دی سرہ شئ د خپل اصل نہ اوړی نو پہ حالت رفعی کښ واو پہ یا بدل شو او یاء پہ یاء کښ مدغم شوہ نو واو خپل اصل نہ اوتلو یاء نہ نو ځکہ تقدیری شو او پہ حالت نصبی او جری کښ نفس ادغام اوشو اوډی سرہ شئ د خپل اصل نہ نہ اوځی نو موږ ورتہ لفظی وایو. "فان اصلہ مسلموی" اصل ورلہ بناقی چہ اول تری نہ نون ساقط شو د اضافۃ سرہ بیا واو پہ یاء سرہ بدل شو د قانون د صرف موافق او بیا پکښ ادغام

اوشو او بیا د ادغام نه روستو "ما" قبل ضمه دیاء په کسره سره بدل شوه د وجې د مناسبة نه دیاء سره نو مسلمی شوه نو د واو اصل بدله شو نو تقدیری اعراب شو او حالت نصبی او جری کښې ادغام شوی دے نو "فان الادغام "لا" یخرج" .... ځکه چه هغه یاء مدغمة هم یاء ده لکه چه ځنګه مدغم فیه ده "و قد یکون الاعراب" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه حصر د اعراب تقدیری په درې اقسامو کښې صحیح نه دے د وجې د وجود قسم رابع نه نو دغه شان حصر د مجموعه اصنافوداعراب الاسم په نهو کښې صحیح نه شو بلکه لسم قسم هم موجود دے په دې شان سره چه موجود شوی دے اعراب بالحرف تقدیری په احوال ثلاثو کښې لکه جاءنی ابو القوم رایت ابا القوم مررت بابی القوم اوس دلته دا واو الف یاء د التقائے ساکنینو د وجې نه ساقط شول نو باقی پاتې نه و نو اعراب تقدیری شو.

جواب: و قد یکون سره جواب دے په دې شان سره چه قد ئې په فعل مضارع داخل کړو او قدچه په فعل مضارع راشی نو فائده د تقلیل کوی یعنی دا قسم اعراب قلیل دے او د عارض د وجې نه تقدیری شوی دے او مونږ خو هغه ذکر کوو چه هغه کثیر وی او د ذات د وجې نه راغلی وی ترجمه اسانه ده. "و اللفظی فیما عداه" نو کله چه فارغ شو مصنف د تعین د مقاماتو د اعراب تقدیری نه نو شروع ئې اوکړه په تعین د مقامات د اعراب لفظی باندې نو فقال و اللفظی بیا دا "واللفظی" مبتدا ده او "فیما عداه" په اعتبار د متعلق سره خبر دے مبتدا ، خبر جمله خبریه اسمیه معطوفه ده بیا دلته دا واللفظی اسم منسوب دے او منسوب په حکم د مشتقی کښې وی او بیا مشتقی صفت وی موصوف غواړی شارح ورله موصوف ذکر کړو چه "الاعراب" دے.

سوال: چه د لفظی اطلاق د درېو اقسامو نه علاوه په نورو کول اوپه دې درېو اقسامو نه کول دا صحیح نه دې ځکه د لفظی اطلاق په دواړه کیږی ځکه لفظی دوه قسمه دے (۱) حقیقی (۲) حکمی نو تقدیر داعراب هم لفظی حکمی دے ځکه مقدر په حکم د ملفوظ کښې وی.

جواب: "الاعراب المتلفظ به" حاصل دادے چه دا لفظی منسوب دے او دا قانون دے چه کله د اسم منسوب نه تعبیر اوشی په اسم مفعول سره نو مراد ترې نه لفظ حقیقی وی نه حکمی نو دلته هم داسې شو چه په هغې باندې تلفظ کیدلاوشی او په مقدر باندې تلفظ نه کیږی "فی "ما" عداه".

سوال: دا ضمیر د "ما" عداه چه "ه" ضمیر دے دا څه ته راجع کوی تعذر ، استثقال نه او که دی اقسام ثلاثه ته که تعذّر استثقال ته شی نو هغه تثنیه ده اودا ضمیر د مفرد دے او که دغه درې اقسام شی نو هغه جمع ده او داضمیر د مفرد دے نو یا خو "ما" عداهما او که اول شق اخلی او یا خو "ما" عداهم یا ماعداها او ایه که دویم شق اخلی نو ضمیر د مونث ورته

په اعتبار د جماعة سره راجع کړه. نو "ما" عداه وتبل جائز نه دی ځکه چه د راجع مرجع کښ ضروری دے او دے کښې نشته مطابقة په درمیان د

جواب: "یعنی فیما عداما ذکر" حاصل دادے چه څه ضمیر اقسام ثلاثه ته راجع کوم خو په اعتبار د "ما" ذکر سره او "ما" ذکر نه مراد هغه دی چه تعذر او استثقال وی پکښ نو ددی نه علاوه باندی په اطلاق د لفظی کوو هغه مخکښ شپږ اقسام مراد دی (۲) تاشکندی صاحب داسی جواب کوی چه دا "ه" ضمیر څه راجع کوم په اعتبار د لفظ د "ما" سره چه هغه عبارة دے دهغه اقسام نه او دا قانون خو دوی پاس کړی دے چه کله د متعدد نه تعبیر په لفظ "ما" اومن سره اوشی نو فلك الاختیار فی الضمیر بان تاتیه مفردا باعتبار لفظ "ما" او جمعا باعتبار التعدد نو دلته موثر په اعتبار د لفظ "ما" سره راجع کړی دے ځکه چه په نحو کښ منظور النظر الفاظ وی نو د لفظ لحاظ مو اوکړو. معنی شوه چه اعراب لفظی د دغه اقسام ثلاثو نه علاوه کښ دے. (۳) دلته دا ضمیر د مفرد زه دی اقسام ثلاثه ته راجع کوم خو په اعتبار د جمع سره نه د جماعة سره نو جمع مذکر مفرد دے نو ضمیر هم مذکر مفرد شو.

غير المنصرف

(غیر المنصرف)....اجمالی خبری ملحوظ کړی (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق د غیر منصرف (۳) اصطلاحی تعریف د غیر منصرف (٤) تعین د مباحثو په دے عنوان کښ (۵) د مباحثو تشریح.

(ربط): معنوی ربط خو یو دادے چه مصنف په مقدمه د باب اول کښ لس خبری کولی نو چه کله فارغ شو داوو خبرو نه نو شروع ئی اوکړه په اتمه خبره کښ چه تقسیم د اسم معرب دے منصرف او غیر منصرف ته بیا نهم تفصیل د غیر منصرف او لسم تفصیل د منصرف دے او دویم ربط معنوی شارح ذکر کوی. نو شارح وائی "و لما ذکر فی تفصیل" نو دی عبارت نه اغراض د شارح دری دی (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) تمهید "ما" بعد ته (۳) دفع د بعض اعتراضاتو دوه خبری واضح دی دریمه خبره دفع داعتراضاتو اعتراض تفصیل د منصرف او غیر منصرف ولی کوی؟

جواب: تفصیل ځکه کوو چه په اصناف تا اعراب الاسم کښ منصرف او غیر منصرف تیر شو نو دا الفاظ پکښ نا اشنا وو نو دلته دهغی تفصیل کوی چه د اسم معرب تول احکام واضح شی نو ځکه تفصیل کوو.

اعتراض چه کله ته پوره تفصیل د منصرف او غیر منصرف نو تالره پکار وو چه تفصیل د منصرف دے مخکښ کړی وی ځکه منصرف اصل دے ځکه اصل په اسماء کښ انصرف دے

او غیر منصرف خلاف الاصل دے نو خلاف الاصل روستو کول پکار دی او اصل مخکښ کول ځکه اصل طبعا مخکښ وی نو وضع کښ هم مخکښ کول پکار دی چه موافقة راشی .

جواب: "وكان غير المنصرف اقل" .... حاصل دادے چه تفصیل د غیر منصرف محدود وو نو دا اقل وو او منصرف غیر محدود وو ځکه کثیر دے نو غیر منصرف په منزله د مفرد شو او منصرف په منزله د مرکب شو نو څنګه چه عین مفرد په عین مرکب باندی مقدم وی نو چه په منزله د مفرد وی هغه هم په هغه چه په منزله د مرکب وی مقدم وی نو غیر منصرف ئی مقدم کړو. اعتراض نو بیا څه وجه ده چه مصنف د غیر منصرف تعریف کوی او د منصرف تعریف نه کوی.

جواب: "و بمعرفته يعرف المنصرف"..... حاصل دادے چه غیر منصرف ضد د منصرف دے او اشیاء په اضدادو سره پیژندلے شی لکه وائی. چه تعرف الاشياء باضدادها او دغه شان و نذرتهم و بهم عرفنا فضلهم و بضدها تتبين الاشياء نو دی وجه نه ئی دغیر منصرف تعریف اوکړو او د منصرف ئ پری قیاس کړو .

اعتراض داسی چرته بل ځائے کښ شته دے.

جواب: او شته "على قياس الاعراب التقديري". مخکښ عبارة کښ تیر شو کنه چه د اعراب تقدیری تعین د مواضع ئی اوکړو او د لفظی ئی پری قیاس کړو.

ربط لفظی:"غير" مضاف او "المنصرف" مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء او باقی مانده ورله خبر دے مبتداء خبر جمله خبریه اسمیه شوه .

سوال: غیر خو نکره ده مبتداء خو معرفه وی نو دا څنګه دلته مبتداء شوه.

جواب: غیر نکره محضه نه ده بلکه اضافة ئی معرفه ته شوی دے چه المنصرف دے نو دهغی نه ئی تعریف کسب کړی دے

سوال: "غير"د وجی د توغل فی الابهام نه چه په "غير" کښ دے دا په اضافة سره معرفه ته معرفه نه ګرځی نو بیا نکره شو.

جواب: دا قانون صحیح دے خو دا په هغه وخت کښ چه د غیر د مضاف اليه اضداد ډیر وی. او که اضداد زیات نه وو بلکه یو ضد وو نو بیا معرفه ګرځی نو معرفه ده ځکه دلته د غیر د مضاف اليه چه المنصرف دے ددی ضد یو دے چه منصرف دے.

(لغوی تحقیق د غیر منصرف):نو دلته یو صیغه دویم معنی دریم وجه دتسمیه نو غیر خو دلازم الاضافة نه دے اسم مفرد جامد دے په معنی د عدم سره راځی او المنصرف صیغه د اسم فاعل ده د باب انفعال نه په معنی د زائد او راجع او خالص سره راځی او دی منصرف ته ځکه منصرف وائی چه په دی کښ زیادة د کسری او تنوین راغلی وی او دغه شان رجوع ئی کسری او تنوین ته کیږی او دغه شان خالص دے د مشابهة نه د مبنی الاصل سره نو غیر منصرف تری نه هم معلوم شو چه دا دری معانی پکښ عدم وی یعنی غیر منصرف ته غیر منصرف ځکه وائی چه پکښ عدم زیادة د کسره او تنوین وی او دغه شان عدم رجوع ئی کسره او تنوین ته وی او دغه شان عدم خلوص د مشابهة نه د مبنی الاصل سره پکښ وی یعنی مشابهة د مبنی الاصل سره ساتی خالص نه وی۔

(اصطلاحی تعریف):ماتن کړے دے چه "ما" فیه علتان من تسع الخ

(تعیین د مباحثو په دی عنوان کښ):(۱) تعریف د غیر منصرف کوی "ما فیه علتان" سره (۲) تعین د عللو تسعو کوی اجمالا یا د بعض اجزاء د تعریف وضاحت کوی "وهی شعر عدل و وصف" سره (۳ امثلة دپاره د اسبابو ذکر کوی یا د تعریف د بعض اجزاء وضاحت بالامثلة کوی مثل "عمرو ا حمر" سره (٤) حکم د غیر منصرف به اوکړی "و حکمه سره (۵) تفصیل د اسبابو به اوکړی "فالعدل" سره نو اوس دهریو جزء بالترتیب تفصیل داسی دے

(۱)مافیه علتان ...ماتن وائي: "ما" شارح وائی "ای اسم معرب" نو اغراض د شارح څلور دی یو تعین د لفظ ماکوی په اعتبار د نوع سره چه دا موصوله ده که موصوفه ده نو ده اسم معرب د اما موصوفه ده ځکه خو تری نه تعبیر په نکره سره کوی.

سوال: داما خو مشترکه ده په "ما" بین د موصوله او موصوفه کښ تا سره په موصوفه اخستلو څه قرینه ده.

جواب: قرینه پری وقوع ددی ده په جانب د خبو کښ ځکه خبر نکره وی نو هله به دانکره ګرځی چه "ما" موصوفه شی دویم تعین دما کوی په اعتبار د مصداق سره ځکه دا مشترکه ده بین الشئ و اللفظ و الکلمة و الاسم نو تعین ئی اوکړو چه "اسم" د سم نه عبارت دے

سوال: چه داما په اعتبار د مصداق سره په دی څلورو اشیاء کښ مشترکه ده نو ته تری اسم مصداق اخلی تا سره څه قرینه ده

جواب: دوه رینی دی (۱) بحث الاسم شروع دے نو ځکه (۲) دا تعریف دے او "ما" پکښ جنس دے او جنس په دوه قسمه دے (۱) قریب (۲) بعید نو دا اسم دپاره د غیر منصرف جنس قریب دے او کلمة، لفظ شئ ورله اجناس بعیده دی او قانون دادے چه ضرورت په جنس قریب پوره کیږی نو صیرورة په جنس بعید ته نشی کیدی. دریم دفع د اعتراض کوی

اعتراض دادے چه دامانه متبادره "ما" موصوله وی نو دلته به هم دا "ما" موصوله وی نو دوه نقصانه راغلل (۱) دا "ما" موصوله معرفه وی نو دلته دایه جانب د خبر کښ ده نو خبر معرفه شو او مبتداء او خبر چه کله معرفه شی نو ضمیر فصل په درمیان کښ دپاره د دفع د التباس راوړی شی نو دلته عبارت داسی پکار وو چه غیر المنصرف هو مافیه (۲) دا تعریف دے او په تعریف کښ جنس او فصل ضروری وی نو چه دلته "ما" هو موصوله شی نو دابه سره د صلی نه یو جز شی نوکه جنس شی نو فصل نشته اوکه فصل شی نو جنس نشته.

جواب: "اسم معرب" یعنی دا اعتراض به هغه وخت وو چه دا"ما" موصوله وی بلکه دا خو موصوفه ده نو هیڅ نقصان نشته "اسم" سره څلورم غرض د شارح بله دفع د اعتراض ده چه ستا دا تعریف مانع نه دے د دخول د غیر نه ځکه چه "ضربت" پکښ داخل شو ځکه داهم یو لفظ او کلمه ده او دوه علته پکښ هم دی چه وصف او تانیث دے نو تعریف پری صادق دے او داخو مبنی دے.

جواب: اسم یعنی زما مراد اسم دے او "ضربت" فعل دے.

سوال: زه به درته اسم هم اوښائم سره د دوو اسبابو نه او بیا به هم غیر منصرف نه وی لکه "حضار" او طماد نو تعریف پری صادق دے په دی شان سره چه دا دواړه اسماء دی او دوه علته پکښ هم شته دے چه یو علمیة دے دویم پکښ تانیث دے نو تعریف پری صادق دے او دا غیر منصرف نه دی بلکه مبنی دی.

جواب: "اسم معرب" یعنی مطلق اسم می نه دے مراد بلکه اسم معرب می مراد دے نو دا خو مبنی دی دا خارج دی. "فیه علتان توثران" غرض د شارح په قید د توثران سره دفع د اعتراض ده چه زه به درته اوښائم چه اسم به وی او معرب به هم وی او دوه علته به پکښ هم وی او بیا به هم غیر منصرف نه وی لکه "ضاربة" دلته د اسم معرب دے او دوه علته دی پکښ یو وصف دویم تانیث اوسره ددے چه منصرف نه دے

جواب: توثران... حاصل دادے چه مطلق علتان می نه دی مراد بلکه چه اثر کوی او دلته دا موثر نه دی ځکه وصف اثر هغه وخت کوی چه اصل کښ وصف وی. او دغه شان تانیث دپاره علمیت شرط دے نو دا خو علم نه دے او که علم شی نو یو علت به پکښ شی خو په یو علت سره غیر منصرف نه شی کیدلے. "باجتماعها" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه دا اسباب تسعه چه په یو اسم کښ تاثیر د عدم انصراف کوی نو دا هغه وخت چه دوه راجمع شی نو د عدم انصراف به علت شی او که هر واحد هر واحد به علت وی نوکه هر واحد علت شی. نو بیا د عدم انصراف دپاره یو علت کافی دے نو علتان نه و وو وتیل پکار او که چه دواړه راجمع شی نو علت گرځی نو بیا په هرواحد باندی د علت اطلق نه دی پکار.

جواب: زما مراد چه داوړه راجمع شي نو د عدم انصراف به علت شي او په یوهو باندې اطلاق د علت مجازا دی و سیاق التصریح علی هذا. "و استجماع شرائطهما" غرض د شارح دفع د سوال ده چه زه به درته او ښائم چه اسم به وي او معرب به هم وي او دوه علته به پکښ وي او دواړه به جمع وي په یو اسم کښ او بیا به هم غیر منصرف نه وي لکه "نوح" اسم معرب دے او دوه علته پکښ دی یوه عجمه دویم علمیة. اوسره ددے چه داغیر منصرف نه دے بیا بر مذهب اصح

جواب: استجماع .. یعنی نفس وجود د علت نه دے مراد بلکه سره د شرائطونه او دلته عجمه بغیر د شرائطو نه ده ځکه دی دپاره دا شرط دے چه دابه متحرك الاوسط وي او یابه الزائد علی الثلاثة وي او دلته یو هم نشته.

سوال: زه به درته او ښائم چه شرائط به نه وي او علت به موجود وي لکه عجمه په نوح کښ شته دے او شرط ورله نشته دے چه تحرك الاوسط و الزیادة علی الثلاثه دے.

جواب: شرط دپاره د وجود نه وایو بلکه شرط دپاره د تاثیر د عدم انصراف وایو ځکه شارح ورسره "اثرا" زیاد کړو، چه شرائط د ه د اثر نه. بیا ماتن اوی :"من تسع" او شارح والی: "علل" غرض د شارح یو تعین د موصوف کول دی دپاره د تسع چه دا صفة دے تقاضا د موصوف کوی نو وی من علل تسع دویم غرض د شارح رد کول دی په فاضل رضی صیب باندی ځکه هغه دلته دا عبارة په حذف د مضاف الیه ګرځولی دے، نو وی دا ترکیب اضاق دے ای من تسع علل نو شارح پری رد اوکړو چه دا دلته په حذف د موصوف دے نه د مضاف الیه یعنی دا ترکیب توصیفی دے ځکه چه بیا وریسی واحدة دے نو دلته هم ترکیب توصیفی دے اضاق نه دے صحیح نو هلته هم مرکب توصیفی پکار دے چه موافقة راشی په کلام کښ او د مخالفة نه بچ شی ځکه موافقة د مخالفة نه بهتر دے. "منها" ای من تلك التسع" غرض د شارح تعین د مرجع دها ضمیر کول دی "تقوم هذه العلة" غرض دشارح یو تعین د مرجع د تقُوم د ضمیر کوی دویم دفع دسوال کوی.

سوال: تقُوْمُ د قیام نه دے او قیام په ذوی الارواح او ذوی الاجساد کښ وی نو دلته خو دابه علت کښ راغلی دے او علت نه ذی روح او نه ذي جسد دے نو جواب روستو وریسی جواب دے چه "بان تونر وحدها" یعنی مراد تاثیر دے او دا عام دے دریم غرض د شارح چه "ای مقام هاتین" سره تعیین د مرجع د هما ضمیر کوی.

"وهی عدل و وصف". په تشریح د مباحثو کښ دیو مبحث وضاحت او تشریح اوشوه اوس دویم مبحث چه هغه ذکر د اسباب تسعو دے اجمالا نو دایپش کوی بیا دا دی په شعر کښ

ذکر کوی ځکه شعر په نسبة سره نثر ته ښه یادیږی او دا شعر د ابو سعید انباری الکوفی دے چه اوله لکیره ئی داسی ده چه.

موانع الصرف تسع کلما اجتمعت ثنتان منها فما الصرف تصویب

او بیا وریسی دابله تکره ده چه وهی عدل الخ او ماتن تری نه دلته دویمه تکره ځکه ذکر کړه چه هغی کښ مقصد پروت وو. "وهی ای العلل التسع" شارح تعین د مرجع د ضمیر کوی.

سوال: علل خو جمع د علة ده او ضمیر ورته د مفرد مونث راجع کوی مطابقة نشته دے؟

جواب: هره جمع چه علاوه د جمع مذکر سالم نه وی هغه په تاویل د جماعة سره مفرد مونث ګرځی کما قال زمخشری غالبا الشاعر.

انّ قومی اجتمعوا و بقتلی تحدثوا

لا ابالی بجمعهم کل جمع مونث

زما قوم راجمع شوی وو او زما د قتل خبری ئی کولے خو زما هیڅ پروا د دوی په جمع کیدو باندی نشته ځکه هر جمع مونث وی په تاویل د جماعة سره.

"مجموع "ما" فی هذین" غرض د شارح په دی عبارت سره اشاره کول دی دی خبری ته چه دلته داهی مبتدا ده او باقی عدل الخ ورله خبر دے او دلته خبر امور متعدده دی په طریقة د عطف سره راغلی دی. نو اشاره کوی دلته چه عطف په ربط باندی مقدم شوی دے نه ربط ځکه بیا انحصار د عام په خاص کښ راځی او دا جائز نه دے نو چه کله عطف په ربط باندی مقدم شی نو بیا د اخبار متعدده نه تعبیر په خبر واحد سره ....کیږی ځکه خو شارح وائی مجموع "ما" فی هذین التبین.

سوال: تا اوی چه دی شعر کښ څه دی نو دا اسباب دی حالانکه په شعر کښ خو "ثم هذا القول"، تقریب" هم دی او دا خو داسباب نه نه دی ځکه بیا به اسباب دیر شی.

جواب: "من الامور التسعة" صرف دا ښه مراد دی تول هر څه نه دی مراد نو د امن دلته بیانیة دے او دا باقی بیان دپاره د "ما" دے. لاکل واحد شارح تصریح کوی چه ربط مقدم نه دے بلکه عطف مقدم دے ځکه که ربط مقدم شی نو اول یو به دا مور متعددونه دما قبل سره مربوط شی نو دا علل تسع به په یو کښ منحصر شی. او دا جائز نه ده حتی یقال دا

متعلق دے د منفی پورې یعنی که کل واحد شی نو بیا به او ونیلی شی چه حکم په یو سبب د علل تسعو صحیح نه دے. "و ذلك المجموع" دا اعاده برائے بعد عهد ده یعنی اول ئې هم دا خبره اوکړه خو هغه لرې شوه نو دوباره ئې بیا کوی. شعر الخ "و العدول" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه تا اسباب ذکر کړل اجمالا نو د بعضو سره دې دواو راوړو چه دادیاره د مطلق جمع راځی نه په ترتیب دلالة کوی او نه په وصل یا فصل باندې لیکن په دوو علتونو کښ دې ثم راوړی دے چه دادیاره د ترتیب مع التراخی راځی یعنی یو دپاره د جمع بین المعطوف و معطوف علیه دریم ترتیب دپاره دویم تراخی (روستوالی) نو مطلب داشو چه دا روستو دوه علته چه دی نو دابه روستو وی او ډیری تراخی به پس به سبب ګرځی حالانکه دا د نفس الامر نه خلاف دے.

جواب: "والعدول" حاصل دے چه ثم دلته صرف دپاره د وزن د محافظة ساتلو دے معنی د واو پکښ ملحوظ ده. ځکه که ثم نه راوړو نو بیا به اول نیم بیتی او دویم نیم بیتی کښ برابر والی رازی نو ددی مجبوری د وجی نه ثم راوړی شو "فقوله زائدة" اغراض د شارح په دی عبارت سره دری دی، یو اعراب د زائدة ذکر کوی دویم رد کوی په فاضل هندی صیب باندې دریم دفع د اعتراض ده اعتراض به را مخکښ کړو نو دانور دوه به ترې نه هم معلوم شی نو اعتراض دادے چه د زائدة اعراب څه دی یا خو به ئې منصوب وائی او یا مرفوع که منصوب شی نو په دولسو منصوبات کښ احتمال د حالیت لری او هغی باندې هم اعتراض راځی چه حال خو هیئة د فاعل یا دمفعول بیانوی او دلته خو به داد والنون نه حال شی چه نه فاعل دے اونه مفعول اوکه مرفوع شی نو علاوه د صفة د النون بل هیڅ صحیح نه دے نو صفة خو د موصوف جېل سره موافق وی په تعریف تنکیر کښ او دلته دا موافقة نشته ځکه موصوف چه النون دے دا معرفه ده او زائدة صفة نکره شوه نو شارح هندی دا جواب کوی چه دا زه مرفوع وایم په اعتبار د صفة سره دپاره د النون مرفوع او جواب داکوم چه مطابقة شته دے ځکه چه النون کښ الف لام زائد دے نو نکره ده. لیکن داجواب شارح نه خوښ نه دے نو په دی باندې رد کوی او بیا خپل جواب کوی رد پری داسی کوی چه که الف لام زائد شی نو زیادة د کلمات په کلام کښ خلاف الاصل دے او اصل عدم زیادة دے نو شارح وائی چه "منصوب علی انه حال" چه دا منصوب دے بنا بر حالیت او جواب دادے د اعتراض نه چه دلته دا النون فاعل دے دپاره د فعل معنوی چه هغه د فحوی د کلام نه معلومیږی په دی شان سره چه د شعر په اول کښ ابو سعید انباری لفظ د موانع ذکر کړے دے چه دا نول اسباب مانع دی نو د هغی په اعتبار سره دلته تمنع فعل معنوی دے چه فاعل ورله دا النون دے "ای و تمنع النون الصرف حال کونها زائدة".

"و قوله الف" غرض د شارح په دی عبارت سره دوه دی یو اعراب د الف ذکر کوی دویم رد کوی په بعض الناس باندی رد اول وایو نو اعراب به هم معلوم شی.

بعض خلقو دلته دا الفّ فاعل گرځولی دے دپاره د "من قبلها" ظرف په اعتبار د متعلق سره چه معه تثبت دے نو وای دامن قبلها دهغی سره متعلق د او الف ورله فاعل دے نو ځکه مرفوع دے او بعضو خلقو دا الف مبتداء موخره گرځولی ده او "من قبلها" ورله په اعتبار د متعلق سره خبر گرځولی دے د دوارو په نزد الف مرفوع دے خو فرق پکښ دادے چه یو رفع په اعتبار د فاعلية سره وائی او دویم په اعتبار د ابتدائية سره نو بناء په دی اعتبار سره به دا جمله فعلية او یا جملة اسمية حال شی او ذو الحال به ورله النون شی لیکن شارح په دوی رد کوی او خپل اعراب او علة ورله بیانوی د رد وجه داده چه که مونږ الف په اعتبار د فاعل او یا ابتداء سره مرفوع کړو نو زیادة د الف به د معنی نه معلوم نه شی په اسم کښ حالانکه ځنګه چه نون زائده دے نو الف هم دے. نو ولا یخفی سره رد دے چه معنی به شی چه منع کوی نون صرف لره په حال کون د دی نون کښ چه دابه زائده وی او په حال کون د دی نون کښ چه ثابت به وی تری نه مخکښ الف نو په دی ترکیب سره ثبوت د الف مخکښ د نون نه معلومیږی خو زیادة د الف نه معلومیږی نو شارح وائی چه دانون چه ځنګه زائده دے نو الف هم دے "و لهذا" سره دلیل ذکر کوی د زیادة د الف دپاره "ولو جعل" سره غرض د شارح خپل ترکیب ذکر کوی چه زیادة د الف به تری نه هم معلوم شی نو حاصل ئی دا دے چه دا الف مرفوع دے بناء بر فاعلية نو دا چه فاعل شی دپاره د اسم فاعل چه زائدة دے او بیا دامن قبلها متعلق شی د شبه فعل سره چه زائدة دے نو دابه ظرف لغو شی نه ظرف مستقر او دا ظرف لغو اولی دے او دابه دوه مقصد ورکوی یو زیادة د الف دویم تقدیم د زیادة د الف په نون باندی نو.

ملنګه دوه کتی دی اوکړی یو دی کچکول شو بل دی اوکړل دیدنونه

شارح هم وائی داخبره کړی ده نو معنی به شی چه منع کوی دانون صرف لره په حال کون د دی نون کښ چه زائد وی مخکښ د دی نه الف. "و هذا کما اذا قلت" غرض د شارح یو قاعدة ذکر کول دی چه په هغه قاعدة باندی دا ترکیب بناء دے.

قاعده: هر کله چه یو مشتق ذکر شی او دا جاری علی الغیر وی یعنی دا دبل شیٔ دپاره یا خبر وی یا حال او یا صفت وی او روستو د دی مشتق نه ظرف وی چه دهغه ظرف نه روستو هم یو اسم وی نو دا قسم ترکیب به دلالت کوی په اشتراک د "ما" بعد د ظرف د "ما" قبل د ظرف سر په وصف او مبتدا د دغه مشتق کښ او په تقدیم دما بعد د ظرف په "ما" قبل د ظرف باندی په وصف د دغه مشتق کښ اجراء دلته دا "زائدة" یو مشتق او جاری علی الغیر دے یعنی حال دے د نون نه او روستو تری نه من قبلها ظرف دے چه دهغی نه روستو اسم دے چه الف دے نو دا الف دهغی دپاره فاعل دے او دا ظرف ورسره متعلق دے. نو دا ترکیب خو یو دلالت کوی چه دا الف چه روستو د ظرف نه دے دا د "ما" قبل د

ظرف چه هغه نون دے دهغه سره په وصف د دی مشتق کښ چه "زائدة" مشتق دے وصف لی زیادة دے نو هغی زیادة کښ شریک دے او دویم داچه په دی وصف کښ نری مقدم هم دے. نو زیادة د الف هم ثابت شو او تقدیم هم خکه دا مقدم هم وی خه هم دا اجراء په مثال د شارح کښ هم ده چه جاء زید راکبا من قبله اخوه دے.

"و قوله و هذا القول تقریب"....... غرض د شارح فوائده ثلاثه دی دپاره د دی قول چه ابو سعید انباری دا راوری دے نو څه اغراض او فوائد دی پکښ نو دری مقاصد او فوائد ورله بیانوی اول غرض خو دادے چه دا اسباب تسعه خو "ما" درته په نثر کښ هم پیش کولی شو خو "ما" درته په نظم کښ خکه دریش کړو چه دا اسباب درته په یاد شی خکه د نظم یادول اسهل دی دنثر نه "او القول بان". شارح دویم غرض ذکر کوی ددی قید چه هغه دفع د اعتراض ده اعتراض دادے چه داکوم اسباب ذکر شو نو په دی کښ هر یو علت دے دپاره د عدم انصراف او کله چه دوه جمع شی نو بیا علت دے دپاره د عدم انصراف که هر واحد علت شی نو دی سره تعریف د غیر منصرف موافقة نه کوی خکه هلته تا اوی چه مافیه علتان نو چه هر واحد علت دپاره د عدم انصراف گرخی نو بیا دوه علتان ته څه ضرورت دے یو کافی دے کنه او که دوه جمع شی او علت دپاره د عدم انصراف گرخی نو بیا خو تعریف ورسره موفق دے لیکن په هر واحد باندی اطلاق د علت صحیح نه دے.

نو ماتن جواب اوکړو چه "هذ القول تقریب" یعنی چه دوه راجمع شی نو علت به گرخی دپاره د عدم انصراف او دا خبره چه په هر واحد اطلاق د علت دے نو دا مجازی دے "لا" تحقیقی او دریم غرض ذکر کوی په او "القول بانها تسع" سره حاصل ئی دادے چه په اسباب د منع صرف کښ اختلاف دے لو مشهور اقوال پکښ دری دی. نفس اقوال پکښ زیات دی خو مشهور دری دی هغه به بیان کړو نو اول قول دادے چه اسباب د غیر منصرف دپاره صرف دوه دی (۲) ترکیب چه دا عبارة دے د ضم د سبب نه د بل سبب سره (۲) حکایة دی نه وائی چه نقل پکښ وی د فعلیة نه اسمیة ته نو دا حکایة چه وزن فعل کښ دے او ترکیب په باقی کښ دے دویم قول پکښ دادے چه دا اسباب ټول نهه دی لکه کتاب کښ چه کوم مذکور دے دریم قول پکښ دادے چه دا اسباب ټول یوولس دی نهه دا مذکور او دوه ورسره نوردی په دی شان سره چه لسم سبب هغه الف دے چه مشابهة ساق د الف د تانیث سره بیا عام دے که هغه ممدوده وو لکه په اشیاء که او که مقصوره وو لکه ارطی کښ چه دے اوس اشیاء مشابهة ساق د حمراء سره او ارطی د حبلی سره په اشیاء کښ دا الف ممدوده دپاره د تانیث خکه نه د ے چه هغه الف علامه د تانیث وی او علامه د شئ نه علاوه وی او اشیاء د شئ جمع ده الف (همزه) د دی کلمه خپل دے زائد نه دے بلکه په عین کلمه کښ واقع دے او دغه شان الف دا ارطی دپاره د تانیث نه دے خکه د دی مونث ارطاة راځی

نوکه دا دپاره د تانیث وے نو بیا ئی مونث په تاء سره نه راتلو. او یوولسم سبب هغه نورو د وصفیة دے په مثل داحمر کښ یعنی یو خو پکښ وصف دے او بل پکښ دا لزوم د وصفیة دے نو دا دری مذاهب پکښ مشهور وو نو دلته سوال راتلو چه دا مذهب دی ولی مختاره کړو نو ماتن په لسان دشاعر جواب اوکړو چه "و هذا القول تقریب لها ای الی الصواب" حاصل دادے چه په دی اول مذهب کښ چه دوئ واتی اسباب دوه دی کښ تفریط دے او په دریم کښ چه ری یو ولس دی دی کښ افراط دے او دا نهه والا پکښ معتدل مذهب وو نو دا می خکه مختاره کړو. شارح هم دا دری مذاهب ذکر کړی دی "إلی ماهو الصواب من المذاهب الثلاثة" دلته "ما" عبارت د ے د عدد نه یعنی په طرف د هغه عدد.... الخ اوس دا خبره چه دا قول خو معتدل دے خو هغه دوه قولونه ولی صحیح نه دی نوهر چه اول قول دے نو هغوی اوی چه ترکیب ضم دیو سبب دے د بل سره نو اوله وجه د ضعف داده چه کوم ترکیب دلته په اسبابو کښ ذکر دے نو دهغی نه علاوه نور ترکیبات نه دی مراد او دا ترکیب د هغی نه علاوه دے او بله وجه دا ده که بالفرض دا، ترکیب شی دا تاسو چه ذکر کړی دے نو بیا د نو سبب کافی دے حکایة ته ضرورت نشته دے خکه چه دا حکایة په زن فعل کښ راځی نو هغه خو هم دیو بل سبب سره مرکب شوی دے نو د ترکیب تعریف پری صادق شو. نو صرف ترکیب کافی دے او هرچه دریم مذهب دے چه وای یوولس دی نو هغی ته دا جواب دے چه دا الف ممدوده او مقصوره چه مشابهة ساتی د الفان دتانیث سره نو دا مستقل سبب نه دے داپه دی الف تانیث کښ داخل دے او یوولسم سبب چه وائ لزوم د وصفیة دے نو داهم مستقل سبب نه دے بلکه دا د وصف دپاره شرط دے او ددی تفصیل به په "و شرطه ان یکون فی الاصل" سره راشی "ثم انه ذکر امثلة" غرض د شارح یو دی متن ته تمهید دے او دویم د "ما" قبل سره ربط دے د ریم دفع د اعتراض ده اول دوه خبری واضح دی دریم چه دفع د اعتراض ده داسی ده چه اعتراض راتلو چه مثال خو دپاره د وضاحت د ممثل وی او دی دپاره یو مثال کافی دی نو غیر منصرف لره به دی یو مثال ذکر کړی وو نو دا دومره ګنړه امثله ولی ذکر کوی.

جواب: شارح اوکړو چه دا تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندی نو اسباب ئی نهه ذکر کړل نو اوس ورله د هغی مطابق امثله ذکر کوی. "علی ترتیب" "ما" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه دا امثله دی په دی ترتیب مذکوره ولی راوړل عمر به دی روستو کړی وی که نو شارح جواب اوکړو چه داپه ترتیب د بیت سره ذکر دی. خکه دا امثله یو قسم شان تفصیلدے او په بیتونو کښ ذکر کول د عللو داپو قسم اجمال دے او تفصیل موافق دا جمال سره وی.

کما قال او تفصیل چه موافق شی د اجمال نو په دی کښ وی جمال کمال "فقال مثل عمر" غرض د ماتن په دی تولو کښ ذکر د مثال دے دپاره دهر سبب او غرض د شارح په دی تولو کښ تطبیق د مثال د ممثل سره دے او تعین د ممثل کول دی دپاره دمثال "و فی ایراد" غرض

د شارح دفع د سوال دی چه دا طلحة مثال کافی وو دپاره د تعریف او تانیث و زینب ته ضرورت نه وو نو جواب کوی چه دلته بله نکته ده چه هغه اشاره کول دی د تانیث دوو اقسامو ته چه لفظی او معنوی دے او دا ځکه چه چرته خوك وهم او نکړی چه دا طلحة مثال فقط د علمیة دپاره دے ځکه چه مسمی د طلحة مذکر دے اګر که لفظ مؤنث دے او دا به د تانیث د پاره نه وی نو شارح روستو زینب ذکر کړو چه دا طلحة مونث لفظی دے او زینب تانیث معنوی دے نو دواړه په عدم انصراف کښ موثر دی. "و حکمه ان لا کسرة" خلورمه خبره ذکر کوی چه حکم د غیر منصرف دے "ای حکم غیر المنصرف" غرض د شارح د ضمیر مجرور مرجع تعین کوی. "و الاثر المترتب علیه" (۱) غرض د شارح تعیین د معنی د حکم کوی ځکه دا خو په نهو معانیو سره راځی کما مرت کلها نو دلته تری نه اثر مرتبه مراده ده (۲) دفع د اعتراض ده چه حکم به دلته په معنی د "اسناد امر الی اخر ایجابا و سلبا" سره وی نو بیا دا حکمه ترکیب کښ مبتدا ده او ان "لا" کسرة ولا تنوین په تاویل د عدم الکسرة و التنوین سره وصف دے او حمل د وصف په ذات راغلو وذالا یجوز نو شارح جواب اوکړو چه حکم په معنی د اثر سره دے نو دا وصف دے نو حمل د وصف په وصف شو او دا جائز دے.

سوال: حکم په معنی د اثر سره شو نو بیائی نسبة کول غیر منصرف ته صحیح نه دی ځکه اثر د شئ خو صادر من الشئ وی او دلته اثر چه عدم د کسره او عدم د تنوین دے دا صادر د غیر منصرف نه نه دے بلکه د علتانو نه صادر دے.

جواب: "من حیث اشتماله علی" ... حاصل دادے چه دا اضافة او نسبة د حکم چه په معنی د اثر مرتب دے او غیرمنصرف ته چی شوی دے نو دا د وجی د ادنی ملابسة نه په دی شان سره چه غیر منصرف مشتمل (بکسر المیم) او علتان ورله مشتمل دے بفتح المیم نو دا نسبة د مشتمل مشتمل ته شو.

سوال: دا حکم خو په اصناف د اعراب الاسم کښ تیر شوی دے نو دلته دوباره ولی ذکر کوی دا خو مکرر دے او مبنی د متونو خو په اختصار وی.

جواب: باسولی والا کوی چه دا تصریح بما علم ضمنا ده.

سوال: نو تصریح بما علم ضمنا دپاره فائدی وی نو دلته څه فائده ده؟

جواب: دپاره د اسراع د رد په بعضو نحاتو چه هغو دا حکم د غیر منصرف دهغی تعریف ګرځولی دے نو ماتن پری رد اوکړو چه دائی حکم دے او تعریف ئی هغه دے چه "ما" فیه علتان او دا ځکه چه تعریف په حکم سره تعریف بالاثر وی او تعریف په "ما" فیه علتان سره تعریف حقیقی دے او قانون دادے چه تعریف حقیقی تر څو پوری ممکن وی نو صیرورة

او انتقال په نشی کیدلے تعریف بالاثر ته "ان "لا" كسرة" ماتن اوی شارح اوئ: "فیه" غرض د شارح اشاره ده چه دلائے نفی جنس دے او کسرة ورله اسم دے او خبر ورله محذوف دے چه فیه دے "ولا تنوین":

سوال: دا خو متن دے او مبنی د متونو په اختصار وی نو بیا خو دلته دلا اولا دی ولی دوه خله ذکر کړو بس داسی کافی وو چه ان "لا" كسرة و تنوین ځکه چه "لا" او "لا" جمع شی نو بیا "لا" لا شی.

جواب: دلته مقصود په نور نحاتو رد دے هغو دا خبره کړی ده چه دا عدم تنوین په غیر منصرف راځی اصالة او دا عدم د کسره په دی غیر منصرف راځی تبعا نو ماتن پری رد اوکړو چه دا دواړه پری اصالة نه راځی نو علاوه د تکرار د "لا" نه دلته حاصلیدو نو فتکررت" و ذلك لان" غرض د شارح دلیل ذکر کوی دباره د دی حکم چه داولے دے؟ نو دسوال حاصل دادے چه دا کسره او تنوین د الله یو نعمت دے او که زحمت دے؟که دا نعمت وی نو دا غیر منصرف تری نه ولی محروم شوی دے او که زحمت وی نو بیا منصرف ولی په دی مبتلا دے او غیر منصرف تری نه بچ دے.

جواب: په داسی شی چه کسره او تنوین راتلل په اسم باندی د الله لوی نعمت دے خو دا غیر منصرف غریب چه دے نو دا تری نه محروم شوی دے ځکه ده دغیر سره مشابهة کړی دے او من تشبه بقوم فهو منهم اوس هغه مشابهة ئی د فعل سره کړی دے نو هغه مشابهة په وجود دفرعیتنو کښ دے په دی شان سره چه ځنګه فعل محتاج دے دوو فرعو ته (۱) اسم ته په وجود کښ چه فاعل دے (۲) او مصدر ته په اشتقاق کښ نو اول احتیاج یو فرعه ده او دویم احتیاج بله فرع ده نو دوه فرعی شوی دغه شان په غیر منصرف کښ هم دوه سببه وی چه هر یو سبب فرع وی نو دوه فرع شوی. نو په فعل باندی کسره او تنوین نه راځی نو په دی به هم دا کسره او تنوین هم نه راځی شارح هم دا وائی "التنوین الذی هو علامة التمکن" غرض د شارح دفع دسوال ده چه زه به درته اوښایم غیر منصرف په وی او تنوین به پری راغلی وی لکه عرفات بالتنوین.

جواب: زما مراد د تنوین نه چه په غیر منصرف نه راځی هغه تنوین د تمکن دے او دلته دا تنوین د تمکن نه دے بلکه دا تنوین د مقابلے دے ځکه دا عرفات جمع مونث سالم وو او په جمع مونث سالم باندی چه کوم تنوین وی دایه مقابله دنون د جمع مذکر سالم کښ وی نو دلته هم داسی وه خو بیا دا غیر منصرف شو نو تنوین ورسره پاتی شو او س شارح فرعیة د هر سبب بنائی او مناسبة دادے چه دا به حفظ کړی شی. و الالف و النون دا دواړه فرع دی د "ما" زید تاعلیه لیکن دلته بل قول هم دے و سیاتی فی التفصیل

﴿و يجوز صرفه للضرورة او للتناسب﴾ كله چه فارغ شو مصنف رحمه الله د غلورو خبرو د تفصيل نه چه تعريف د غير منصرف وو، تعين دا سبابو وو اجمالا امثله د اسبابو، او حكم د غير منصرف وو نو اوس بعض اسباب د انصراف ذكر كوى چه ضرورة او تناسب دے اصل كښ ټول اسباب د انصراف پنځه دى (١) ضرورة (٢) تناسب (٣) تنكير يعنى نكره كول د هغه اسم چه علمية پكښ وى (٤) دخول د الف لام چه په غير منصرف وى (٥) اضافة د غير منصرف بوا ټروى بل شئ ته دا ټول پنځه اسباب دى دلته صرف دوه ذكر كوى بيا دا اسباب دا انصراف په دوه قسمه باندى دى يو هغه قسم دى چه دهغى په وجه باندى ټول غير منصرف په حكم د منصرف كيږے يا منصرف ګرځى نو هغه دوه دى (١) الف لام (٢) اضافة او دويم قسم هغه دى چه دهغى په وجه ټول غير منصرف نه بلكه بعض غير منصرف منصرف ګرځى يا په حكم د منصرف كيښ او هغه باقى درى دى.

سوال: تفصيل د غير منصرف شروع دے نو ماتن لره پكار وو چه اسباب د انصراف ئى دلته نه وے ذكر كړى بلكه چه د غير منصرف تفصيل شوى وے نو بيا به ئى ذكر كړى وو او چه بيا خامخواه نه قلاريدو او ذكر كول ئى نو بعض دلته ولى ذكر كوى ټول به ئى ذكر كړى وو كنه؟

جواب: دا دپاره د دفع د اعتراض ذكر كوى هغه اعتراض په حكم د غير منصرف راځى چه دوى وائى حكم د غير منصرف دادے چه كسره او تنوين به پرى نه راځى نو چا اعتراض اوكړو چه زه به درته اوښايم چه غير منصرف به وى او تنوين او كسره به پرى راغلى وى لكه دا يو شعر دے چه فاطمة الزهراء رضى الله عنها ته منسوب دے چه د نبى په مرثيه كښے ئے ويلے دے..

ما ذا على من شم تربة احمد ان "لا" يشم مدى الزمان غواليا

صبت على مصائب لو انها صبت على الايام صرن لياليا

دلته مصائب باندى تنوين دے او دا منتهى الجموع ده غير منصرف دے يو سبب قائم دے په مقام دوه باندى دغه شان يو بل شعر دے چه امام شافعى رحمه الله ته منسوب دے چه د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله صفت ورته چا بيان كړو نو امام شافعى رحمه الله ورته وائى.

اعد ذكر نعمان لنا ان ذكره هو المسك "ما" كررته يتضوع

دلته نعمان غیر منصرف دے د وجې د علمیة او الف نون مزید تین نه او بیا پرې هم کسره مع التنوین راغلی دے دغه شان یو بل شعر کښې هم دے چه علی رضی الله عنه ته منسوب دے.

سلام علی خیر الانام و سید حبیب اله العالمین محمد

بشیرٍ نذیرٍ هاشمي مکرم عطوفٍ رؤفٍ من یسمی باحمد

دلته دا احمد غیر منصرف دے د وجې د علمیة او وزن فعل نه او بیا هم مکسور دے، دغه شان یو بل ځائے هم راغلی دے چه غیر منصرف بانډی به تنوین راغلی وی لکه قران کښې الله تعالی فرمائی چه سلاسل و اغلالا دے نو دلته یو قراة دے چه سلاسلا منون دے نو دا خو صیغة د منتهی الجموع ده او بیا پرې هم تنوین راغلے نو ماتن جواب کوی چه "و یجوز صرفه للضرورة او للتناسب"... حاصل دادے چه په دې طائفه اولی کښې چه دا اشعار دی دلته ضرورة راغلی دے او الضروریات تبیح المحذورات (اصطلاح الفقه) او دا مقوله په نور الفاظو سره هم ده چه "ضرورت باشد روا باشد اگر چه ناروا باشد" دغه شان پنجابیان هم وائی چه مجبوری کا نام شکریه او اردو والا هم وائی چه "مجبوري کا نام شکریه" لو مونږ څه مستی نه کوو خو ضرورة دے بیا شارح وائی "لا" یمتنع غرض د شارح دفع د سوال ده چه جواز خو عبارت دے د استواء الطرفین نه یعنی کول او نه کول پکښې دواړه برابر وی، نو هغه صرف چه واجب دے هغې نه شامل نه شو ځکه واجب خو صرف کول وی چه کول ئې ضروری دی. نو شارح په "لا" یمتنع سره جواب کوی د جواب نه مخکښې یوه اصطلاح یادول ضروری دی. هغه اصطلاح داده چه جواز په دوو مرتبو کښې موجود کیږی (۱) په مرتبه د امکان خاص کښې (۲) په مرتبه د امکان عام کښې نو امکان خاص عبارت دے د سلب د ضرورة د جانبینو نه یعنی وجود او عدم ئې ضروری نه دے او امکان عام عبارت دے د سلب د ضرورة د جانب مخالف نه نو د دی بیا دوه اقسام دی (۱) امکان عام مقید بجانب الوجود (۲) امکان عام مقید بجانب العدم اول عبارت دے د سلب د ضرورة د جانب مخالف نه چه عدم ئې ضروری نه دے باه ، وجود د نو ضروری اوغیر ضروری دواړه کیدلے شی او ددی نه تعبیر په "لا" یمتنع سره کیږی او دویم عبارت دے د سلب د ضرورة د جانب موافق نه چه وجود ئې ضروری نه دے باقی عدم ئے ضروری او غیر او ضروری دواړه کیدلے شی او د دی نه تعبیر په "لا" یجب سره کیږی. اوس د معرفة د دی اصطلاح نه بعد جواب دادے چه دلته ز "ما" مراد د جواز نه جواز په مرتبه د امکان عام مقید بجانب الوجودکښې دے او اعتراض په هغه وخت وی چه مراد زما د جوازنه په مرتبه د امکان خاص کښې وے حالانکه داسې دے مراد نو اوس مقصد داشو چه عدم انصراف د منصرف ضروری نه دے البته انصراف ئې نو ضروری او غیر ضروری دواړه کیدے شیلکه په تناسب کښې غیرضروری دے او په ضرورة او وزن شعری

اورعایة قافیه کښې ضروري دے. شارح والي "اي جعله" غرض د شارح د فع د اعتراض ده چه تا اوي د غیر منصرف منصرف کول جائز دي په وخت د ضرورت او تناسب کښې نو غیر منصرف خو عند المصنف هغه دے چه علتان پکښې وي نو د کسرے او تنوین راتلو په وخت کښې چه ضرورة وي یا تناسب نو علتان خو باقي دي نو څنګه ورته منصرف وائي.

جواب: (۱) دلته مراد زمونږ د انصراف نه حکم د انصراف دے چه هغه راتلل د کسرهٔ او د تنوین دی دانه چه عین منصرف شو بلکه حکم دهغی کښې شو، نو معنی به شي چه جائز دے ګرځول د غیر منصرف په حکم د منصرف کښې. (۲) دلته دے صرفه کښې د صرف نه معنی لغوي مراد ده نه معنی اصطلاحي او دا ضمیر مجرور غیر منصرف ته نه دے راجع بلکه دا حکمه ته راجع دے نو معنی شوه چه جائز دے تغیر د حکم د غیر منصرف چه هغه عدم اتیان وو په دی د کسرے او تنوین نو هغه مو متغیر کړو نو د عدم اتیان په ځائے اتیان شو. بیا دا جواب شارح په قیل سره مصدر کړو چه دا صیغه د تمریض ده نو اشاره ده پکښې ضعف د جواب ته چه دا جواب کمزوری دے ځکه چه قانون دے چه کل متکلم یتکلم باصطلاحه او دلته ضیرورة د اصطلاح نه شوی دے لغت ته. "للضرورة" شارح والی "لضرورة وزن الشعر" اشاره ده دی خبرې ته چه الف لام په الضرورة کښې عوض د مضاف الیه نه دی خو بیا چه کله قطع د ترکیب اضافي اوشوه په حذف د مضاف الیه سره نو مونږ الف لام په عوض د مضاف الیه کښې راوړو نو د ضرورة الشعر نه الضرورة شو.

تنبیه: دلته شارح په یوبله اصطلاح کښې تفصیل ... مونږ وهم دغه اصطلاحات پکښې ګورو کنه چه څه والي دلته څو اصطلاحات دي چه تری نه "لا" بدی ده. یو ... د وزن الشعر دے دویم ضرورة د قافیه دے. او دغه شان د شعر دپاره خپل اوزان دی اوبحور بیا په هر شعر کښې شپږ اجزاء وی یو سبب خفیف دویم سبب ثقیل دریم وتد مضموم څلورم وتد مفروق پنځم فاصله صغری شپږم فاصله کبری دغه شان روستو انکسار هم را... انزحاف هم راځی نو دا اول به مونږ د شعر دا شپږ اجزاء او پیژنو نو بیا به دانور اشیاء پیژنو نو دا شپږ اجزاء دپاره یو مثال ذکر کوو چه دا ټول پکښې داخل شی نو هغه مثال "لَمْ أَرَ عَلَىٰ ظَهْرِ جَبَلٍ سمكتا".

اوس اجزاء د شعر نو سبب خفیف هغه چه کلمه دوه حرفه وی او اول حرف تی متحرک وی او دویم ساکن وی لکه لم شو سبب ثقیل هغه چه یو کلمه دوه حرفه وی او دواړه متحرک وی لکه ارا او وتد مضموم هغه دے چه یو کلمه دری حرفه وی او اول دوه حرفه متحرک وی او دریم ساکن وی لکه علی چه اخر کښې الف ساکن دے وتد مفروق هغه دے چه یوه کلمه درے حرفه وی او اول ثالث متحرک وی او درمیان والا ساکن وی لکه ظهر فاصله صغری هغه

ده چه يو كلمه غلور حرفه وي او اول دري حروف متحرك وي او اخيري حر ف ساكن وي لكه جبل اوس دلته اخر حرف تنوين دے د دوي په نزد دا تنوين هم حرف وي نو هغه ساكن دے فاصله كبرى هغه ده چه كلمه كښ پنځه حروف وي اخيري ساكن وي او دانور متحرك وي لكه سمكتا چه اخير كښ الف ساكن دے دا شو اجزاء د شعر اوس "انكسار" څه دے نو انكسار دا هغه نقصان ته وائي چه نه وي راغلي مثل دهغي په اصول ديو بحر د بحور كښ يا په اصولو ديو بحر خاص كښ. انزحاف هغه نقصان دے چه سبب كښ راغلي وي په سقوط د ساكن سابع سره داشو وزن د شعر چه دي كښ په داهر څه برابر وي. او چه دلته كوم اشعار راغلي دي نو د اول شعر بحر چه دے نو هغه متفاعلن متفاعلن متفاعلي

متفاعلن متفاعلن متفاعلن دے

اوس كه په مصائب كښ په "ب" باندي تنوين رانشي نو دايه دي كښ انسكار راغلو او دويم شعر بحر دے

فعولن مفاعيلن فعولن مفاعيلن

فعولن مفاعيلن فعولن مفاعيلن

نو كه دلته په نعمان باندي مونږ تنوين رانولو نو بيا به اثر حاف لازم شي. اوس د انكسار نه خان ساتل په شعر كښ دا شعراء په نزد باندي واجب دي. او د انزحاف نه خان ساتل غوره او ادق دي ځكه په انكسار سره شعر د وزن نه اوځي خو انزحاف شعر د وزن نه نه او باسي خو د چلن (سلاسة) نه شعر او باسي نو چه داهر څه برابر واوزن الشّعر دي ته وائي چه د اول نيم بيتي حروف د دويم نيم بيتي سره برابر يدل. او باقي قافية پاتي ده نو قافية عبارت دے دهغه مجموعه نه چه د اول ساكن نه روستو راځي او حرف روی هم پيژندل ضروري دي نو دا هغه حرف دے چه دهر شعر په اختتام كښ د اخيري كلمه د شعر اخيري حرف وي حل د عبارت اباالتيسير دلته په مصائب كه تنوين رانشي نو انكسار به لازم شي نو وزن نه به شعر اوځي ځكه د تفاعلن وزن به د تفاعل سره بدل شي او دا جائز نه ده د شعراء په نزد باندي پاك كفر دے او نعمان كښ كه "ن" باندي تنوين رانشي نو دايه نقصان په سبب كښ راشي چه انزحاف دے هغه په دي شان سره چه نن كښ دوه حرفه دي نوكه نون تنوين حذف شي نو يو حرف به پاتي شي او دا سبب خفيف دے نو دي كښ نقصان راغلو نو د مجموعه په اعتبار سره به دا تنوين سقوط د حرف سابع شي. نو دا خو شعر د وزن نه نه اوباسي ځكه چه دا د اصول د دي بحر نه دے ليكن د روانيدو نه به اوځي نو ځكه دي نه خان بچ كول اولي او بهتر دي.

"فان قلت" سره اعتراض دے چه د زحاف نه خان ساتل خو ضروری نه دی ځکه چه د شعر وزن نه خرابوی صرف د روانیګی نه ئی اوباسی او دا خو واجب نه دی نو تاخو ضرورة سره ذکر کړو او په ضرورت کښې خو ځان ساتل واجب دی نو دا ضرورت د ورته شامل نه شو. "قلنا" سره جواب دے چه احتراز ممکن وی نو دی نه ځان ساتل هم ضروری دی او د ےاحمد پاندې چه کسره راغلی ده نو د رعایة د قافیة دوجےنه ده او دا هغه دویم ضرورة شو که په دال داحمد فتحه شی نو هیڅ نقصان نه راځی که انکسار نهیا انزحاف خو اخیری حرف د کلمة په برابر نشی نو قافیة کښے نقصان شو

﴿او للتناسب مثل سلاسلا و اغلالا﴾... کله چه فارغ شو مصنف علیه الرحمة د ذکر کولو د یو سبب د انصراف نه چه ضرورة د وزن الشعر او رعایة د قافیه وو نو شروع ئی اوکړه په دویم سبب د انصراف کښی چه هغه مناسبة بین الکلمتین دے نو فقال او للتناسب شارح واؤ و "یجوز صرف غیر المنصرف" غرض د شارح په دی عبارت سره ربط لفظی بیانول دی چه او عاطفه دے او "للتناسب" په "للضرورة" باندی عطف دے او دا قانون دے چه "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد وی په معطوف کښ نو ځکه وائی چه و یجوز یعنی جائز دے ګرځول د غیر منصرف په حکم د منصرف کښ د وجی د مناسبة نه مقصد د ادے چه بعض وخت کښ غیر منصرف د مناسبة د وجی نه چه د منصرف سره ئی مناسبة حاصل شی نو دمنصرف په حکم کښ شی لکه دلته چی سلاسل غیر منصرف دے نو دا غلالا منصرف د وجی نه دی لره هم حکم د دی ورکړی شو نو سلاسلا شو "ان رعایة التناسب" غرض د شارح دلیل ذکر کول دی چه غیر منصرف ولی په حکم د منصرف کښ ګرځی د وجه د تناسب نه نووای دا ځکه چه دا تناسب راوستل بین الکلمات یو امر مقصودی دے. "وان لم یصل" دا دفع د اعتراض ده چه چدا ذکر کولو نه څه ضرورة نه وو بلکه په هغه للضرورة کښ به دی داخل کړی وی کنه؟ نو شارح جواب اوکړو چه مناسبة بین الکلمتین اهم دے خو ضرورة تری نه ډیر قوی دے نو ځکه مو داخل نه کړو مثل سلاسل و اغلالا دا وضاحت بالمثال کوی چه که سلاسل بلا تنوین وی نو دا اغلالا سره ئی مناسبة نه راتلو نو سلاسلا. شو. فقوله غرض د شارح دفع د سوال ده چه مثال خو راځی دپاره د وضاحت د ممثل نو بیا اغلالا ذکر کولو ته ضرورت نه وو ځکه چی د وضاحت د ممثل دپاره یو مثال کافی وی نو سلاسلا کافی وو کنه

جواب: حاصل دادے چه تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو یعنی دلته دوه ممثله دی یو هغه چه غیر منصرف وی او په حکم د منصرف کښ شوی وی نو دی دپاره مثال سلاسلا شو او دویم هغه چه منصرف وی اوو دهغی سره د مناسبة د وجی نه غیر منصرف په حکم د منصرف کښ شوی وی نو هغی دپاره اغلالا شو. "وما یقوم مقامها" ، د تعریف د بعضو اجزاء تشریح شروع وه نو چه دیو جزء تشریح اوشوه چه علتان من تسع وو نو اوس ئی په بل

جزء کښې تشريح شروع کړه چه هغه او واحدة تقوم مقامهما دے نو فقال وما يقوم او يا مصنف تعيين کو د اسبابو د غير منصرف اجمالا نو دوه پکښې داسې وو چه هغه قائم د سببينو وو نو دهغې تعين کوی نو فقال :"ومايقوم مقامهما" نو دا هغه زړه خبره ده خو په درميان کښې و يجوز صرفه دپاره د دفع د اعتراض وو چه په حکم د غير منصرف راتلو. "العلة الواحدة" ددی شرح نه د شارح درې اغراض دی (۱) دا لفظ د "ما" مبهم دے نو تعيين ئې کوی په اعتبار د مصداق سره په العلة الواحدة سره (۲) د مقامهما د ضمير مجرور مرجع متعين کوی په مقام العلتين سره (۳) وجه د قايمدو ديو علت په مقام دعلتينو کښې ذکر کوی لتكرارها سره "من العلل التسع" غرض د شارح دفع د وهم کوی چه دا دوه علته به علاوه د هغه نهو نه وی نو دا وهم ئې دفع کړو چه داهم دهغې نه دی. "علتان" غرض د شارح په دی عبارة سره اشاره کوی دی خبرې ته چه په ترکيب کښې "ما" يقوم مقامهما مبتداء ده او الجمع و الفا التانيث ورله خبر دے. او کله چه خبر متعدد وی نو هلته کله ربط مقدم وی او کله عطف مقدم وی نو دلته دا سوال راځی چه ځه مقدم دی نو شارح په علتان سره اشاره اوکړه چه ربط مقدم دے په عطف باندې ځکه که عطف مقدم شي نو معنی به شي چه داجمع او الفاالتانيث دواړه راجمع شي نو بيا به دواړه قائم شي په مقام د علتينو باندې حالانکه خبره داسې نه ده بلکه هر واحد جدا جدا قائم دی په مقام د علتينو "لا" مجتمعة نو علتان سره داخبره چه مجموعه نه ده مراد بلکه دوه دی چه علتان دی او د مزيد تاکيد دپاره "قامت کل واحدة منهما" هم واې. لتكرارهما سره دريم غرض دے چه وجه د قيام په مقام د علتينو ده خو اشارة ده روستو تفصيل سره ده فاصبر.

سوال: قيام په ذوی الارواح کښې وی او علت د ذوی الارواح نه نه دے.

جواب: قيام په معنی د اثر سره دے او اثر علت هم کوی. احداهما غرض د شارح بيا تائيد د خپل قول کوی چه دلته ربط مقدم دے په عطف باندې ځکه که عطف مقدم شي نو خبر به بيا مجموعه وايو نو دلته شارح ځان لره مبتداء خبر کړل چه مجموعه نه شي. او هر واحد ځان لره مراد شي. "الجمع".

سوال: درجال جمع ده او منصرف ده قائم نه ده په مقام د علتينو باندې نو نقض راغلو.

جواب: "البالغ" حاصل داد دے چه مطلق جمع نه مراد بلکه چه صيغه د منتهی الجموع ته رسيدلی وی نو رجال خو جمع مکسر ده خو رسيدلی نه ده کنه اوس دا جمع چه قائم ده په مقام د علتينو نو نکته پکښې بعض خلق دا وائي چه دا منتهی د جمعو مکسر ده نو دا قوی شوه نو د قوة په وجه د دوو قائم شوه او بعض وائي چه په دی د جمعو مکسر و انتهاء اوشوه نو دا د مفرد سره بالکلية مفارقه شوه نو قوی شوه ځکه چه څومره د مفرد سره مشابهة راځی نو سبب ضعيف کرځی او دلته خو مکمل مخالفة شو نو ځکه قائم شوه په مقام د علتينو خو

شارح وائی "فانه قد تكرر" حاصل ئی دادے چه په دی کښ تكرار د جمعیة راغلی دے نو گویا کښ دوه سببه شوو.

سوال: مساجد چه جمع د مسجد ده او مصابیح چه جمع د مصباح ده نو دا خو غیر منصرف دی او پکښ تكرار د جمعیة نه دی راغلی بلکه سیدها جمع شوی دی.

جواب: "حقیقةً او حكمًا" دا تكرار د جمع عام دے كه حقیقة وی لكه اكالیب جمع دا كلب ده او هغه جمع د كلب ده دغه شان اساور جمع د اسورة ده او هغه جمع د سوار ده دغه شان اناعیم جمع د انعام ده او هغه جمع د نعم ده نو دلته تكرار راغلی دے حقیقةاو حكما هغه دے چه پکښ تكرار نه وی راغلی خو موافق وی د هغه جمع سره چه تكرار پکښ حقیقة راغلی دے په عدد د حروفو ، سكناتو حركاتو کښ لكه مصابیح په وزن د اناعیم دے او مساجد په وزن اساور دے "وثانیتهما" هغه خبره ده چه اشاره كول دی چه ربط مقدم دے په عطف باندی "التانیث لكن لا" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه تاخو اوی چه داما یقوم مقامهمابه خو د عللو تسعو نه وی نو موثر خو په عللو تسعو کښ الفان نه دی وئیلی دے شارح جواب كوی چه مراد می تانیث دے چه په عللو تسعو کښ شته دے خو دوهمه خبره ده چه تانیث مطلقا نه شی قائم كیدلے په مقام د علتینو باندی بلكه بعض افراد دهغی چه الف مقصورة او ممدودة دی. كل واحدةمنها غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا دواړه انفان چه راجمع شی نو بیا به قائم مقام د علتینو گرځی نو به دی کښ خو جمع محال ده ځكه مقصودة د قصر نه دے لند والی ته وئیلی شی او ممودوده د مد نه دے اوږد والی ته وئیلی شی نو لند او اوږد خو نه جمع كیږی نو شارح جواب اوكړو چه هر واحد جدا جدا مراد دے. "كحبلی" وضاحت بالمثال كوی. حمراء مثال د الف ممدودة دے.

سوال: نسبة د الف كولو مقصورة ته صحیح دے ځكه اخر کښ الف راغلی دے لیكن نسبة د الف ممدودة ته صحیح نه دی ځكه الف ممدودة چه دے نو دا علامه د تانیث نه ده او دا دپاره د مد الصوت دے او علامه د تانیث حمراء کښ دا همزه ده نو چی كوم علامه د تانیث ده نو هغه الف نه دے او كوم چه الف دے نو هغه علامه د تانیث نه ده.

جواب: (۱) دا نسبة مجازا شوی دے ځكه چه دا د همزے سره لازم دے او دپاره د مد الصوت دے خو دهمزی نه ئی انفكاك نا ممكن دے خه. (۲) په دی همزه هم بعض وخت کښ اطلاق د الف كیږی كهها تفصیل د خبری دادے چه دا حمراء اصل کښ حمرا وو نو الف تانیث په اخر کښ وو بیا د مد الصوت دپاره دویم الف راوړلی شو نو حمراء شو نو اجتماع د الفینو ساكینو راغله نو تلفظ پری ممكن نه وه نو دا دویم الف په همزه سره بدل شو نو حمراء شو. نو داهمزه چه دپاره د تانیث دے دا دویم همزه نو دایه اصل کښ الف وو او روستو همزه شوی دے نو نسبة ورته هغه زوړ كیږی ځكه چه الف هغه دے چه بلا حركت

و سکون وی او همزه هغه دے چه سره د حرکت یا سکون سره وی. "لانهما لازمتان" غرض د شارح په دی عبارة سره وجه د قیام د دی په مقام د علتینو ذکر کوی چه دا دی سره لازم دی بالکل نه جدا کیږی نو دا لزوم په منزله د تانیث اخر شو.

سوال: چه ته وجه دقیام لزوم بیانوی نو بیا انواع التانیث پریږده بلکه مطلق تانیث اوایه ځکه چه تاء د تانیث هم د کلمه سره لازم ده. بلکه په طلحة کښې چه داتاده نو دده سره لازمه ده ځکه دا علم دے او اعلام محفوظ وی د تغییر او تبدیل نه بقدر الامکان نو مطلقا وئیل پکار دی جواب مراد هغه لزوم دے چه وضعا وی او دلته چه کوم لزوم د تاء د طلحة سره راغلی دے نو دا وضعا نه دے بلکه د وجی د عارض نه دے چه علمیت دے په خلاف د الفی التانیث چه دا د کلمه سره په اعتبار د وضع سره لازم دی په دی شان سره چه کله واضع د دی کلمه وضع کوله نو دا الفا التانیث سره ئےکړی ده.

(فالعدل خروجه) دلته اجمالا څو خبری دی (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲)لغوی تحقیق د عدل (۳) اصطلاحی تعریف د عدل (٤) د اصطلاحی تعریف تشریح (٥) د عدل دوه اقسام تحقیقی او تقدیری دهغے تفصیل کول

(ربط): ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف علیه الرحمة د اسباب د منع صرف نه نو شروع اوکړه په دغه اسبابو کښ تفصیلا فقال فالعدل دری سوالات راغلل (۱) نفس تفصیل ولے کوی (۲) تفصیل کښ عدل ولی مقدم کړو؟ (۳) تفصیل څنګه کوی؟

جوابات بالترتیب: (۱) نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی یا نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل ته محتاج وو او چا ورلره تفصیل نه وکړی نو ځکه ئے تفصیل کوی (۲)عدل ئی تفصیل کښ ځکه مقدم کړو چه اجمال کښ مقدم وو نو چه د تفصیل د اجمال سره موافقة راشی ځکه چه تفصیل چه موافق شی د اجمال نو په دی کښ وی جمال اما دا خبره چه اجمال کښ عدل ولی مقدم وو نو دی دپاره څو وجوه دی (۱) یود وجے د ضرورة شدیده نه (۲) عدل قوی دے په نسبة سره نورو اسبابو ته ځکه دا سبب د عدم انصراف دپاره بغیر د شرائطو نه ګرځی او نور اسباب سره د شرائطو نه نو هغه قوی نه دی ضعیف دی نو قوی په طبع کښ مقدم وی په ضعیف باندی نو مونږ وضع کښ هم مقدم کړو چه د وضع د طبع سره موافقة راشی. (۳) کله چه عدل سبب بغیر د شرائطو نه ګرځی او نور اسباب سره د شرائطو نه نو عدل په منزله د مفرد شو او نور اسباب په منزله د مرکب شو. نو عین مفرد په عین مرکب مقدم وی طبعا نو هغه چه په منزله د مفرد وی هغه هم مقدم وی په منزله د مرکب باندی طبعا نو مونږ په وضع کښ هم مقدم کړو چه موافقة حاصل شی. (٤) دا عدل صرف په دے ځائے کښ ذکر کیږی بل ځائے کښ نه ذکر کیږی او دا نور اسباب په نور مواضعو کښ هم راځی نو د عدل د لحاظ ساتلو نه مونږ مقدم کړو او ځکه د عدل

تعریف هم کوی او د نورو اسبابو تعریف نه کوی. (۳)تفصیل داسی کوی چه "فالعدل" سره د عدل تعریف کوی او "تحقیقا او تقدیرا" سره ورله دوه قسمونه ذکر کوی او "کثلاث و مثلث" سره ورله امثله بیانوی.

ربط لفظی دادے چه فاء تفصیلیة او العدل مبتداء ده او باقی مانده ورله خبر مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه.

(لغوی تحقیق د عدل): نو یو صیغه د ویم معنی دریم مناسبة په درمیان د معنی لغوی او اصطلاحی کښ نو دا صیغه دوه قسمه راځی (۱) صفة مشبه (۲) مصدر دلته مصدر مراد دے معانی د عدل پنځه دی خو داپه اعتبار د اختلاف د صلو سره دی (۱) چه کله ئی صلة إلی راشی نو بیا په معنی د میلان سره وی لکه فلان عدل الیه ای مال الیه (۲) چه صله ئی عن راشی نو په د اعراض سره وی لکه فلان عدل عنه ای اعرض عنه (۳) چه صله ئی من راشی نو په معنی د بعد سره وی لکه عدل البعیر من الجمال ای بعد (٤) چه صله ئی فی راشی نو په معنی د تصرف او تغیر سره راځی لکه فلان عدل فی الکتاب ای تصرف فیه (۵) چه صله ئی بین راشی نو په معنی د مساواة او انصاف سره راځی لکه عدل القاضی بین زید و عمرو ای ساوی بینهما فانصف. دلته دوه معانی صحیح کیږی (۱) اعراض (۲) تغیر نو دی عدل ته ځکه عدل وائی چه د معدول صیغه د معدول عنه د صیغه نه اعراض کړی وی او یا د معدول صیغه مغیره وی د صیغه د معدول عنه نه.

(اصطلاحی تعریف د عدل):نو دا ماتن کوی چه خروجه الخ مقصد ئی دادے چه عدل اصطلاحا هر هغه اسم دے چه دا راوستلی شوی دی د صیغی اصلی نه او بلی صیغی ته نقل شوی وی بغیر د قانون صرفی نه او سره د بقاء د مادی اصلی نه او بیا دا راویستل دوه قسمه دی (۱) تحقیقی یعنی په مخرجیة د دی صیغی د صیغی اصلی نه د عدل نه علاوه بل دلیل وی لکه ثلاث معدول دے د ثلاثة ثلاثة معدول عنه نو دی دپاره بل دلیل هغه تکرار د معنی دے (۲) تقدیری یعنی په مخرجیة د دی صیغی د صیغی اصلی نه بل دلیل نه وی سوا دعمل نه لکه عمر معدول دے د عامر نه خو د عدل نه علاوه په دی راوستلو بل دلیل نشته.

(تشریح: د اصطلاحی تعریف د عدل):ماتن اوی فالعدل شارح اوی "مصدر" غرض د شارح یو تعین د صیغی کوی دویم دفع د اعتراضونو کوی. (۱) چه ذکر کول د عدل په اسبابو د منع صرف کښ صحیح نه دی ځکه چه عدل بفتح العین و سکون الفاء ای وزن فَعل دا صیغه د صفة مشبه ده او صفة مشبه ذات مع الوصف وی او دا اسباب د منع صرف خو د قبیلی د اوصافو نه دی نو دا عدل دهغی نه شمیرل صحیح نه دی (۲) دا عدل په ترکیب کښے مبتداء ده او دا ذات مع الوصف دے نو خروجه وصف دے او دا خبر دے او خبر په مبتداء حمل

وی نو حمل دلته صحیح نه دے ځکه حمل د وصف راځی په ذات مع الوصف او دا جائز نه دے۔

جواب: مصدر حاصل دادے چه دا صیغه په درمیان د صفة مشبه او مصدر کښ مشترکه ده خو دلته مراد صیغه د مصدر ده نو مصدر وصف وی نو سبب هم شو او حمل هم صحیح شو۔

سوال: دا مشترکه صیغه ده نو قرینه څه ده په اخستلو دیوی صیغی باندی۔

جواب: قرینه پری ذکر د عدل دے په دی مقام کښ ځکه که دلته مونږ صیغه د صفة مشبه واخلو نو اعتراض به وارد شی۔ "مبنی للمفعول" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د داعتراضینو ده۔ کله چه دا عدل صیغه د مصدر شوه نو د دی معنی ده "بیرون اوردن" یعنی بهر ته راویستل نو دا صفة دمتکلم دے او خروج هم مصدر دے معنی ئی "بیرون امدن" یعنی بهر ته راوتل او دا صفة د لفظ شو نو دلته دوه نقصانات اوشول (۱) حمل د صفة د لفظ اوشو په صفة د متکلم نو ځنګه چه لفظ په متکلم نه حمل کیږی ځکه چه ددے درمیان کښ مبائنه دے، متکلم ذات دے او لفظ عرض دے نوصفة د لفظ هم مبائن شو د صفة د متکلم سره نو لازم شو حمل د صفة دیو متبائن په صفة د متبائن اخر او دا ممنوع دے۔ (۲) عدل چه صفة د متکلم شو نو د اسبابو د غیر منصرف نه ئی شمیرل هم صحیح نه دی ځکه چه دا قسم د اسم دے او عدل خو صفة د اسم نه راځی نو دلته ځنګه راغلو۔

جواب: مبنی للمفعول حاصل د جواب دادے چه دا نقصانات به هغه وخت وی چه دا عدل په خپله معنی باقی وی حالانکه دا خو مصدر مبنی للمفعول دے نو معنی ئی شوه "بیرون اورده" شده یعنی بهر ته راوتلی شوی نو صفة د لفظ شو نو شمیر ئی هم د اسبابو نه صحیح شو۔ "کون الاسم معدولا" غرض د شارح په دی عبارت سره هم دفع د اعتراضینو ده (۱) کله چه عدل مصدر مبنی للمفعول شو نو مفعول ذات مع الوصف وی نو د اسبابو نه ئی شمیرل بیا صحیح نه شو ځکه چه اسباب او صاف دی (۲) چه دا مبنی للمفعول شو نو د خروج چه خبر دے حمل پری صحیح نه شو ځکه خروج لازم دے او عدل خو متعدی شو نو لازم شو حمل د لازم په متعدی او دا جائز نه دے۔

جواب: "کون الاسم معدولا" حاصل د جواب دادے چه دا حاصل بالمصدر دے او هغه وصف وی یعنی کون وصف دے او کون لازم دے نو حمل هم صحیح شو "خروجه" ای خروج الاسم" غرض د شارح په دی عبارت سره یو تعین د مرجع کول دی د ضمیر مجرور د خروجه دویم غرض دفع د اعتراض ده چه دا ضمیر ته څه ته راجع کوی اسم ته کنه عدل ته که اسم ته راجع شی نو اضمار قبل الذکر لازمیږی او که عدل ته راجع شی نو اخذ محدود په حد کښ راځی او دا دواړه جائز نه دی۔ نو شارح جواب اوکړو خروج الاسم حاصل ئی دادے چه دا زه

اسم ته راجع کوم او اضمار قبل الذکر نشته خکه د ابحث د اسم دے نو اسم پکښ مذکور دے په دی شان سره چه دا عدل قسم د غیر منصرف دے او هغه د معربؔ او معرب د اسم. "ای کونه مخرجا" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه اوس هم حمل د خروجه په حاصل بالمصدر نه دے صحیح چه کون الاسم معدولا دے خکه چه مصدر په شپږ قسمه دے (۱) نفس مصدر معلوم (۲) نفس مصدر مجهول (۳) مصدر مبنی للفاعل (٤) مصدر مبنی للمفعول (٥) حاصل بالمصدر معلوم (٦) حاصل بالمصدر مجهول او دی ټولو درمیان کښ فرق دے نو دلته خو حمل د نفس مصدر راغلو په حاصل بالمصدر چه دا ناروا دے.

جواب: "کونه مخرجا" حاصل دادے چه داهم حاصل بالمصدر وایم نو حمل صحیح شو. عن صیغته الاصلیة دلته یو اعتراض راځی خو دهغی نه مخکښ د څو اشیاء معرفة ضروری دے (۱) صیغه (۲) هیئة (۳) صورة (٤) مادة. نو صورة او هیئة دواړه یو شئ دے او هیئة عبارت دے د ترتیب د حرکاتو او سکناتو نه لکه ضرب کښ دا ترتیب د دریو حرکاتو یو هیة دے دغه شان یضرب کښ د اول متحرك دویم ساکن او دا باقی متحرك حروفو یو هیئة دے او ماده عبارت دے د حروفو د دغه کلمه نه خو اصلی حروف نو په ضرب او یضرب کښ ماده هم دغه درے حروف دی چه ض ، ر ، ب ، دی. صیغه عبارت دے د هیئة مع الماده نه.

اوس اعتراض دادے چه تا اوی خروج الاسم نو اسم عبارت دے د هیئة او ماده نه او روستو واٸی صیغته نو صیغه هم عبارت دے د هیئة او ماده نه نو دا هیئة او ماده به راوستلی شوی وی د هیئة او ماده نه نو دا خو خروج د کل د کل نه راغلو او دا جائز نه دے خکه کل په کل کښ داخل نه وی نو خارج به تری نه څه شی. او بالفاظ دیگر دا خو لازم شو خروج د شئ عن نفسه او داهم جائز نه دے.

جواب: "ای عن صورته" ... حاصل دادے چه خروج د کل د کل نه نه راځی خکه زما مراد د صیغه نه صرف هیئة او صورة دے.

سوال: هیئة ته څنګه اخلی هیئة بلا ماده نه شی راتلی خکه هیئة عرض دے او ماده ورله ذات دے نو د عرض دپاره ذات پکار وی چی قائم شی پورے.

جواب: زما مراد دادے چه ماده به په خپله حال وی او هیئة به دیو هیئة نه بل ته منتقل شوی وی دانه چه ماده به نه وی مراد.

سوال: نو دا خو لازم شو خروج د کل د جزء نه او داهم جائز نه دے بداهة.

جواب: زما مراد د اسم نه مادة الاسم دے یعنی معدول مادة ده او معدول عنه هیئة دے.

سوال: نو دا خو لازم شو خروج د جزء د جزء نه په دی شان سره چه معدول ماده جزء د صيغه ده او معدول عنه هيئة جزء د صيغه شو. او داهم نا رواده.

جواب: "ما" اوی چه ماده به په دواړو کښ په يو حالت وی او هيئة به بدليږی نو مطلب داشو. چه د دی ماده دپاره به بل هيئة راغلی وی، ځکه چه ديو قسم مادی دپاره مختلف هيئات راتلی شی. نو دلته هم داسی مراد شو چه د دی مادی به يو هيئة بل راغلی وی نو ګوټا چه دا ددی نه راوتلی دے.

﴿التی تقتضی الاصل و القاعدة﴾... غرض د شارح تعريف د اصلية کول دی او د دی تعريف فائده به روستو راشی. نو د تعريف حاصل دادے چه دا خروج به د داسی صيغه نه شوی وی چه هغه قاعده او اصل به دا تقاضا کوی چه دا اسم دی په دی هيئة پاتی شی او هغه به راوتلی وی هغه شان به نه وی پاتے لکه ثلاث دے نو دا معدول دے د ثلاثة ثلاثة نه نو اوس د دی معنی دری دری ده نو دا معنی دا تقاضا کوی چی دا لفظ دی ثلاثة ثلاثة شی ثلاث او مثلث نه ځکه تکرار د معنی بناء وی په تکرار د لفظ خو بيا هم د هغی خلاف شوی دے او ثلاث شوی دے. دا شو مقصد د شارح په خپل عبارت سره. اوس په دی تعريف اعتراض راځی په دی شان سره چه دا تعريف صحيح نه دے ځکه دا جامع نه دے خارج شو تری نه عدل تقديری ځکه چه په عدل تحقيقی کښ خو به اصل محقق وی چه دا تقاضا اوکړی او په تقديری کښ خو اصل محقق نه وی نو تقاضا به څه اوکړی. نو بعضو وئيلی دی چه دلته مصنف صرف د عدل تحقيقی تعريف کوی نه دتقديری لکن دا جواب ښه نه دے ځکه چی دلته مصنف تعريف د عدل کوی مطلقا نو دواړو ته شامل دے ځکه چه مطلق عدل مقسم دے او تحقيقی او تقديری ګيدل ورله قسمين دی او مقسم په خپلو اقسامو کښ وی او حمل کيږی پری هم نو غوره او بهتره خبره دا ده چه مونږ د اصليه تعريف اوکړو په دی شان سره چه دواړو ته شامل شی. نو مونږ وايو چه دا عبارت دے دهغه هيئة او صورة د معدول عنه نه برابره خبره ده که قاعده او اصل ورله وی لکه عدل تحقيقی شو او که قاعده ورله نه وی لکه عدل تقديری شو لکه ثلاث دپاره اصل شته دے چه ثلاثة ثلاثة دے او د قاعده نه لاندی هم دے او د عمر دپاره اصل چه عامر دے د قاعدے لاندی نه دے

ولا يخفی غرض د شارح د تعريف د قيوداتو فوائد ذکر کوی دی په صورة د اعتراضاتو دفع کولو کښ نو په دی عبارت سره هم دفع د اعتراض ده چه تعريف د عدل دی صحيح نه دے ځکه چه مانع نه دے د دخول دغير نه داخل شول پکښ اسمائے مشتقات لکه ضارب دا هم د ضَرب نه راوتلی دے نو تعريف پری صادق شوا و ځوک ورته عدل نه وائی.

جواب: مونږ اوی چه د معدول او معدول عنه هيئة به جدا جدا وی خو معنی به يوه او متحده وی او دلته خو معنی متحده نه ده بلکه جدا جدا ده ځکه ضَرب وهل دی فقط او

ضارب ذات من له الضرب دے او داپه دی شان سره معلومه ده چه د صیغه اضافه شوی دے اسم ته په "صیغته" کښې نو دا د دی قید فائده شوه. "وان اعتبار" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه تعریف د عدل دی مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو پکښې اسماء محذوفة الاعجاز لکه ید او دم شو نو داهم د یدو او دمونه راوتلی دی ید اودم ته نو یدواو دمو ورله معدول عنه اصل شو او ید او دم معدول شو حالانکه دی ته څوك عدل نه وائی.

جواب: "وان المتبادر" ... حاصل دادے چه سمدست ذهن ته داخبره راځی چه تغییر به صرف په صورة کښې راغلی وی او ماده اصلیه به په خپل حال باقی وی او اسماء محذوفة الاعجاز خو په خپله ماده اصلیه باقی نه دی پاتی څکه چه ددی د لام کلمه مقابله کښې چه کوم حرف دے دا حذف دے. بیا موئږ د مادے سره قید داصلی اولګو دے سره موئږ مر دفع د اعتراض اوکړه . اعتراض دادے چه تا اوی چه ماده به باقی وی نو مثال دی د ممثل سره موافق نه دے څکه ممثل دادے چه "ما" ده به په حال خپل باقی وی او په مثال کښې دی خلاف کړی دے څکه چه ثلاث د ثلاثة ثلاثة نه راوتلی دے نوپه ثلاث کښې خو د ثلاثة ثلاثة هغه تاء مدورة نه ده راغلی.

جواب: "ما" ماده مطلق نه ده وئیلی بلکه ماده اصلیه مراد ده چه په مقابله د فاء ، عین ، لام کلمه کښې وی او دا تا د یو مقابله کښې نه ده نو اصلی نه ده. بناء په دی خبره باندی نحاتو وئیلی دی چه سحر معدول دے د السحر نه اگرچه په سحر معدول کښې الف لام نشته څکه دا اصلیه نه دے. نو اعتراض پری واردیږی چه سحر دا لسحر نه معدول وئیل صحیح نه دی څکه چه تاسو وئیلی دی چه هر سبب به فرع وی. نو دلته خو کار الټه دے په دی شان سره چه سحر نکره ده او السحر معرفه ده نو سحر چه معدول دے نو دا اصل شو څکه نکره اصل وی او السحر چه معدول عنه دے دا فرع شوه.

جواب: الف لام په السحر کښې زائد دے نو نکره شوه نو اصل ده او سحر معدول فرع شوه څکه عدل پکښې دے .

سوال: تعریف د عدل دی اوس هم د دخول د غیر نه مانع نه دے داخل شول پکښې مغیرات قیاسیة په دی شان سره چه هغه هم داصل خپل نه راوتی وی لکه رام او داع دا د اصل خپل چه رامی او داعو دے دهغی نه راوتلی دی او څوك ورته عدل نه وائی حالانکه تعریف پری صادق دے .

جواب: موئږ دی سره یو قید لګولی وو چه دا تغییر به پکښې د قانون صرفی د وجی نه نه وی راغلی او دلته خو د قانون صرف د وجی نه دا تغییر راغلی دے (۲) دا جواب شارح کوی او دا دهغه قید فائده هم ده چه مصنف داصلیة کوم تعریف کړی وو هغه داسی و چه ا حل او قانون به دا تقاضا کوی چه دا معدول عنه دی په دی طریقه وی او معدول به دا

تقاضا نه کوی یعنی اصل به د قانون د تقاضا موافق وی او فرع به مخالف وی لکه ثلاث فرع ده نو قانون وائی چه معنی کښ تکرار دے نو لفظ کښ هم تکرار پکار دے لیکن دی خلاق کړی دے او ددی اصل لکه ثلاثة ثلاثة د قانون موافق دے خکه تکرار د معنی به تکرار د لفظ بناء دے اوس دلته په رام او داع کښ اصل او فرع دواړه د قانون موافق دی اصل په دی شان سره چه هر اسم فاعل چی د ثلاثی مجرده نه وی نو په وزن فاعل به وی نو رامی او داعو صحیح دی او فرع په دی شان موافق ده چه رامی کښ په یاء ضمه ثقیله ده نو حذق شوه او بیا یاء د التقائے ساکنینو د وجه نه حذف شوه نو رام شو دغه شان داع کښے حذف دے اصل کښ داعوو دے نو د قانون مطابق واو په یاء بدل شو ولی مخکښ کسره وه او داپه لام کلمه کښ وو او بیا به یا باندی ضمه ثقیله وه نو حذف شوه او بیا یاء هم حذف شوه د وجه د التقاء ساکنینو نه نو داع پاتی شو.

فائده: دا اول جواب بهتر دے خکه که دا جواب د دغه قاعدے موافق ورکړی شی نو عدل تقدیری به د تعریف د عدل نه خارج شی.

ولا یبعد او لرے نه ده چه معتبر شی مغائرة د دی صیغی اخری دپاره کیدلو د دی صیغے اصلیے په کون ددے صیغے اخری کښے کښ نه داخل لاندی د اصل او قاعدة نه لکه چه خنګه اوله صیغه د قاعدی لاندی ده. "و اما المغیرات الشاذة" غرض د شارح دفع د بل اعتراض ده چه تعریف د عدل دی مانع نه دے د دخول د غیر نه داخل شول پکښ هغه مغیرات شاذة چه هلته هم اصل د قانون موافق وی او فرع مخالف لکه اقوس او انیب دا جمع د قوس او ناب ده چه داپه وزن د فعل د اجوف نه دے او قانون په وزن د فَعل کښ دادے چه دا کله د اجوف نه وی نو دابه جمع کیږی په وزن د افعال لکه ثوب په اثواب سره نو دلته اقواس او انیاب پکار وو او خلاف شوی دے نو اقوس او انیب راغلی دی. نو دی نه معلومه شوه چه دا اقوس و انیب د اقواس او انیاب نه راوتلی دی نو اصل چه اقواس او انیاب دے دا د قانون موافق دے او اقوس او انیب چه فرع ده نو دا مخالف ده.

جواب: و اما المغیرات الشاذة فلا نسلم حاصل د جواب دادے چه دا خبره نه منم چه دا أقوس او انیب دا قواس او انیاب نه راوتلی دی او قوس او ناب په اقواس او انیاب جمع شوی دی اولا خکه چه دی ته خلق شاذ وائی نو چه دا اقواس او انیاب باندی جمع شوی وو نو بیا خو شاذ نه دی بلکه د قانون موافق وو خو په اقوس او انیب سره ابتداء جمع شوی دی. شارح هم دا خبره کوی خو صرف عربی زبان دے ترجمه ئې اسانه ده.

و قال بعض الشارحین: دوه اغراض به وایو یو غرض د بعضو شارحینو دویم غرض د شارح د نقل ددی عبارت نه تو غرض د بعضو شارحینو دادے چه رد کوی په ماتن باندی په دی شان سره چه دا دومره تکلفاتو پورته کولو ته څه ضرورت دے خو د عدل تعریف ته تعریف

بالاعم او وایه چه په تعریف بالاعم کښې تمییز او احتراز د بعضو "ما" عدا نه راغلی وی، نو دلته دی تعریف سره به امتیاز د بعضو "ما" عداه نه شی چه هغه باقی علل دی. نو دی تکلفاتو ته به ضرورت رانشی دویم غرض د شارح هغه اشاره کول دی.

جواب: ته حاصل دادے چه په جواز د تعریف بالاعم کښې اختلاف دے په درمیان د متقدمینو او متاخرینو کښې په دی شان سره چه متقدمین وائی چه تعریف بالاعم یعنی په تعریف کښې امتیاز د بعض ماعداه نه کافی دے او متاخرین وائی چه تعریف بالاعم یعنی امتیاز د بعض "ما" عداه نه جائز نه دے نو ماتن په مذهب د متاخرینو دے نو ځکه دا دومره تکلفات پورته کوی او دلیل پری دادے چه د ماتن په کتاب اما لی الکافیه کښې هم داسی تکلفات دی.

﴿و اعلم انا نعلم قطعا﴾ ....غرض د شارح په اعلم سره یو تنبیه د مخاطب ده په ع·متلم دلو د تمهید راتلونکی متن ته او دویم غرض تنبیه د مخاطب ده په ذکر د ربط د روستو د "ما" قبل سره دریم تنبیه د مخاطب ده په بیان الاختلاف دوه خبری واضح دی دریمه خبره د اختلاف ده نو "لا" بدی د معرفة د امورو خمسو نه (۱) تحریر د محل النزاع نو دلته ټول څلور صورتونه دی اتفاقی دری دی او اختلاقی یو دے دری اتفاقی (۱) عدل په دوه قسمه دے تحقیقی، تقدیری (۲) موثر په اسبابو کښې دوارهٔ دی (۳) اول امثله د عدل تحقیقی دی او دویم امثله د عدل تقدیری دی اخیری څلورم اختلاقی صورت چه هغه په تعریف دتحقیقی کښې درے ذکر دتقدیری به تبعا وی.

(۲)ذکر د مختلفینو نو اول مذهب د جمهورو دویم د محققینو دے (۳) ذکر د دعوو ددوارو نو جمهور وائی چه عدل تحقیقی وئیلی شی خروج محقق د اصل محقق نه او تقدیری وئیلی شی خروج مقدر د اصل مقدر نه او محققین وائی چه عدل تحقیقی وئیلی شی خروج مقدر د اصل متحقق نه او تقدیری وئیلی شی خروج مقدر د اصل مقدر نه وضاحت د دعوو د دوی ځکه چی دی کښې لږ احتیاج دے تفصیل او وضاحت ته.

جمهور وائی چه خروج به محقق وی نو مطلب دادے چه علم به په عدل باندی اول راغلی وی مخکښې د علم نه په عدم انصراف او نحاتو به تری نه خبر ورکری وی په حین د منع صرف کښې او دا خروج د فرضیاتو ، اعتباراتو د نحاتو نه به نه وی. او خروج مقدر مطلب دادے چه علم په عدل باندی به مخکښې نه وی او په عدم انصراف به علم مقدم وی. او دابه د اعتباراتو د نحاتو نه وی.

الحاصل د جمهور مسلك دادے چه علم به په عدل اول راغلی وی او سبب اعتباری به نه وی او د محققینو مسلك دادے چه علم به په عدم انصراف اول وی روستو به په عدل وی او دا

په سبب اعتباری وی نوپه دوی باندی اعتراض راځی چه دلته خو په مابین د عدل تحقیقی او تقدیری کښ فرق رانغلو دواړو کښ یو شئ شو.

جواب: عدل تحقیقی او تقدیری کښ فرق داشو چی په عدل تحقیقی کښ به په عدم انصراف د عدل نه علاوه بل دلیل وی او په تقدیری کښ به نه وی.

دلائل د جمهور درے ادله دی (۱) ماتن په کلام کښ تحقیقا او تقدیرا صفة د خروج راوری دی نو که خروج په دواړو کښ مقدر شی نو صفة نه دے صحیح.

(۲)که خروج په دواړو کښ مقدر شی نو عدل به مطلقا تقدیری شی نو لازم به شی تقسیم دشی الی نفسه والی غیره ځکه چه کله عدل تقدیری شو نو تقسیم دعدل تحقیقی ته الی غیره دے او تقدیری ته الی نفسه دے او داناروا دے. (۳) په عدل تحق یقی کښ په اصل دلیل شته دے چی معدول عنه دے او دلیل په اصل مستلزم وی دلیل لره په فرع باندی چه معدول دے او دلیل په فرع باندی مستلزم دے دلیل لره په خروج باندی نو دلیل په اصل مستلزم شو دلیل لره په خروج باندی نو اصل خو متحقق دے چی معدول عنه دے نو خروج هم محقق شو.

د محققینو یو دلیل دے چه که مونږ په عدل تحقیقی کښ خروج مقدر نه کړو او محقق شی نو هغه اتفاق او اجماع د نحاتو به درهم برهم شی ځکه دوی دا اجماع کړی ده چی عدل مطلقا سبب اعتباری دے او چی په تحقیقی کښ خروج محقق شی نو عدل به مطلقا اعتباری سبب باقی نه شی نو اجماع باطله شوه .

(۵)ترجیح د "ما" هو الراجح نو شارح د محققینو مذهب لره ترجیح ورکوی نو مونږ دهغو د ادله نه بالترتیب جوابات کوو. نو ددلیل نه جواب دا بیا دے چه تحقیقا صفة د خروجا دے په متن کښ خو دا صفة بحاله نه دے بلکه بحال متعلقه دے چه هغه متعلق ورله اصل دے نو صفة صحیح شو او د دویم نه هم جواب اوشو چه صفة په اعتبار د متعلق شو نو تقسیم د شئ الی نفسه او غیره ته رانغلو او دریم دلیل نه جواب دادے چه دا قانون درسره تر څه حده پوری منو چه دلیل په اصل دلیل په فرع دے او دلته په عدل تحقیقی کښ په اصل او فرع باندی دلیل شته دے خو دا خبره نه منو چه دلیل په فرع مستلزم دے دلیل لره په خروج باندی داضروری نه دے کله وی او کله نه که بعض مواضع سته دے لکه جمعه شاذه چه اقوس انیب دی مفرد د دی قوس او انوب په وزن د فعل دے نو په اصل دلیل شته دے چه پکار ده چی جمع شی په اقواس او انیاب باندی نو دا جمع شوی دی په اقوس او انیب باندی نوپه اصل او فرع دواړو دلیل شته دے خو په خروج دلیل نشته دے چی دا اقوس او انیب د اقواس او انیاب نه راوتلی دی. نو دلته هم داسی خبره ده چه په اصل فرع دلیل شته دے خوپه خروج باندی دلیل نشته. شارح هم دا وائی واعلم چه پوهه شه. لأنهم

بیهوا دامی نه ده چه کنی دا نحاة خبر شوی دی الی اخره "ولکن "لا" بد" سره دفع د وهم ده چه تاته څه معلومه ده چه دا اول امثله دپاره د عدل تحقیقی دی او دا نور د عدل تقدیری دی... جواب دلیل په اصل باندی لکه ثلاث کښ چه په لفظ کښ تکرار نشته او معنی کښ تکرار دے نو دی نه معلومیږی چه دا ثلاث دا دامی لفظ نه وتلی دے چه معنی کښ تکرار وی نو داپه اصل دلیل شو. دا تحقیقی شو. او تقدیری عمر دے چه د عدم انصراف نه علاوه بل دلیل نشته دے. فانقسام العدل دی کښ اشاره جواباتو د دلائلو د جمهور ته ده.

"فعلی هذا" دا اوس شارح تفریع کوی په دی خبره باندی چه کله مذهب د محققینو راجح شو نو دا تحقیقا او تقدیرا به څنګه اولګی نو فسال و علی هذا چه معنی د تحقیقا څه ده "معناه" غرض د شارح یو نصب دپاره علت واثی چه دا تحقیقا منصوب دے بناء بر مفعول مطلق.

سوال: مفعول مطلق کښ خو اشتمال د "ما" قبل د فعل یا شبه فعل نه په دی باندی شرط دے او دلته خو نشته.

جواب: اشتمال په مفعول مطلق حقیقی کښ شرط دے دلته دا مفعول مطلق مجازی دے یعنی اصل کښ مفعول مطلق خروجا دے او دا ورله صفة دے بیا موصوف حذف شو او صفة ئی قائم مقام شو نو دهغی په اعراب معرب شو.

فائده جلیله :دلته خروجه راغلی دے او روستو خروجا شارح مقدر مفعول مطلق ګرځوی نو دا خروجه عامل په حئ د عمل کښ په تاویل د ان سره فعل وی لو دا خروجا به تری مفعول مطلق صحیح شی ای یخرج خروجا او تخرج خروجا.

سوال: دا تحقیقا چه صفة د خروج شو نو تا خو اوی چه خروج محقق نه دے بلکه مقدر دے نو صفة نه صحیح کیږی.

جواب: دا صفة د خروج په اعتبار د متعلق سره دے چه اصل دے "بان" سره دی ته اشاره ده.

سوال: دا تحقیقا صفة دپاره د اصل هم صحیح نه دے څکه اصل ذات او تحقیقا وصف او صفة په موصوف حمل وی او دلته حمل صحیح نه دےځکه حمل د وصف په ذات راځی.

جواب: محقق یعنی مصدر مبنی للمفعول دے او معنی د عبارت هم کوی چه خروج مقدر د اصل مقدر نه.

سوال: اصل محقق څه مطلب دے.

جواب: "یدل علیه" دلیل یعنی په وجود د دغه اصل په غیر منصرف کیدو باندی د عدل نه علاوه بل دلیل وی.

﴿ كثلاث و مثلث ﴾.... ربط معنوی خو اسان دے چه امثله ذکر کوی د عدل تحقیقی دپاره او ربط لفظی هم چه د عدل تحقیقی مثال به څه وی نو كثلاث: اوس دا د عدل تحقیقی دپاره څکه مثال دے چه تعریف د عدل تحقیقی پری صادق دےیعنی به دی مثال باندی څکه چه عدل تحقیقی هغه دے چه په مخرجیة د معدول د معدول عنه نه علاوه د عدل نه بل دلیل وی نو دلته هم موجود دے نو تعریف دعدل تحقیقی پدے صادق شو اوس دلته څه.گردان دے په ثلاث او مثلث کښ هغه:دا چه ثلاث او مثلث کله بیا او موند و نحاتو په کلام د عربو کښ غیر منصرف او غیر منصرف هغه وی چه په هغی کښ دوه سببه یا یو سبب قائم مقام د سببین وی د نه اسبابو د منع صرف نه او په دی کښ دوه سببه نه واو نه هغه یو سبب چه قائم مقام وی د سببینو بلکه وصفیة وحدها وو او دا د عدم انصراف دپاره کافی نه وو نو دوی مجبورا عدل تحقیقی معتبر کړو او تحقیقی څکه چه تعریف ئےپری صادق دے چه په مخرجیة دیوی صیغی د صیغی اخری نه علاوه د عدل نه بل دلیل دی او دلته هغه دلیل شته دے چه د ثلاث او مثلث په معنی کښ تکرار وو او لفظ کښ تکرار نه وو او حالانکه تکرار د معنی په تکرار د لفظ باندی بناء وی نو دا معلومه شوه چه دا د ثلاثة ثلاثة نه راوتلی دی نو دوه اسباب شول نو غیر منصرف شول. "و كذا الحال سره دفع د وهم ده چه دا تکرار د معنی صرف د ثلاث او مثلث سره خاص دے نو شارح اوی چه نه دا تر رباع پوری اتفاقا دی و فی "ما" وراء ه الی عشار دوه مذهبه دی (۱) مبرد او کوفیان چه دوی وائی چه دانور هم راتلی شی څکه چه په بعض کښ اشعار راغلی دی او دانور پری قیاس دی (۲) رضی وغیره من النحاة وائی چه دا صرف تر رباع پوری دی او نور نشی راتلی څو و الصواب مجیئها څکه دابه کلام د عربو او اشعارو کښ راغلی دی "والسبب فی منع صرف ثلاث" غرض د شارح تعین د سببینو کوی چه العدل و الوصف لان الوصفیة العرضیة غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه تا اوی چه ثلاث مثلث کښ عدل او وصف دے نو وصف نشته څکه ثلاث د ثلاثة ثلاثة نه ماخوذ دے او دانوم دے دا یوے مرتبے د عدد چه ددوو نه لړبره او دڅلورو نه شکته ده اوو صف نه دے او که دی کښ وصفیة راشی نو هغه به عارضی وی نه اصلی او شرط د سببیة د وصف دپاره وصف اصلی دے نو یا خو پکښ وصف هډو شته نه او یا شته دے خو اصلی نه دے عارضی دے نو شارح جواب کوی چه اګرچه وصف دی کښ عارضی دے خو چه پکښ عدل اوشو نو دا عدل په منزله د وضع ثانی وی نو چه په وضع سره راغئ نو وصف اصلی شو. فیما وضعا له په هغه معنی کښ چه دا ثلاث او مثلث وضع شوی دی دهغی دپاره چه عدل دے

سوال: تا اوی ثلاث په تکرار دلالت کوی نو د ثلاثة ثلاثة نه معدول دے. نو په تثنیه او جمع کښ هم دلالت په تکرار دے نو هلته هم عدل او وایه کنه؟

جواب: تثنیه او جمع کښ تعدد دے او په ثلاث کښ تکرار دے او دا ځان له شیان دی تعدد وئیلی شی ضم کول دیو مثل د مثل سره په تثنیه کښ او ضم کول دیو مثل داکثر د مثل سره په جمع کښ دا تکرار نه دے.

سوال: تا اوی ثلاث او مثلث کښ تکرار دے نو قران کښ دا شته دے چه "فانکحوا "ما" طاب لکم الخ" نو پکار ده چه دا تل ۱۸/سو زنانوو سره نکاح جائز شی ځکه مثنی دوه دوه نو ځلور او ثلاث درے نو شپږ او رباع ځلور ځلور نو اته اولس نو اتلسو زنانو سره نکاح جائز دے او په دی خو هیڅا قول نه دے کړی

جواب: دلته جمع مقصد نه د ے بلکه اختیار دے په دوو دوو او دریو دریو او ځلورو ځلورو کښ.

سوال: نو بیا خو د نهو سره جائز شو ځکه چی دوه دوه اودری دری پنځه او بیا ځلور ځلور کښ پنځه او ځلور نو نهه شو نو دوی سره هم نکاح جائز نه دے.

جواب: دا محاورة د عربو ده چه هر کله یو عدد دا رامتوجه شی جمع ته نو مقصود پکښ اختیار ورکول وی. مخاطبینو د هغه جمع ته په مختاره کولو دیو عدد سره د ټولو جمع نه لګه وئیلی شی چه دا څیز خپلو کښ دوه دوه کړی نو دا مطلب نه چی ځلور واخلی بلکه دوه یو او دوه بل واخلی دلته اوس فانکحوا جمع ده او روستو وریسی عدد دے چه مثنی دے او ثلاث او رباع دے یعنی په دی کښ درله اختیار دے.

سوال: تا اوی ثلاث د ثلاثة ثلاثة نه معدول دے او تا اوی چه په ثلاثة ثلاثة کښ وصفیة عارضی دے او ثلاث کښ وصفیة اصلی شو نو داخو فرق راغلی په معنی د معدول او معدول عنه کښے حالانکه معنی کښ مونږ اتحاد شرط کړی وو.

جواب: اتحاد د معدول او معدول عنه شرط دے خو په اصل معنی کښ او عارضی کیدل او اصلی کیدل مشروط نه دی "وأُخر" دا دریم مثال دے دپاره د عدل خو دلته هم هغه زور ګردان دے چه کله اومونږو نحاتو لره دے غیر منصرف الخ اوس دلته په مخرجیة ددی ...دصیغه اخری نه بل دلیل علاوه د عدل نه هم شته دے بیا هغه دلیل دادے چه اخر جمع د اخری ده او هغه اخری چه مونث د اخر دے او اخر اسم تفضیل دے نو سوال راغی چه اخر خو په معنی د غیر سره دے نو اسم تفضیل ورته وئیل نه دی صحیح.

جواب: مونږ په اعتبار د اصل وضع وايو او په دی اعتبار کښې وصفية دے او "ثم نقل" معنی د "غير" ته او نقل د وصفية نه اسمية ته مضر نه دے كما سياتی فی بيان الوصف بقوله فلا تضره الغلبة نو اخر اسم تفضيل شو او قانون په اسم تفضيل کښې دادے چه "ان يستعمل" په يو د وجوه ثلاثو سره استعمال شی (۱) يا په الف لام سره (۲) يا په اضافة (۳) يا په كلمه من سره لكه زيد الافضل يا زيد افضل من الناس او يا زيد أفضل من عمرو او دلته اخر په يوه طريقه هم نه دے مستعمل نو معلومه شوه چه دا معدول دے د يو دهغی نه نو دا د عدل نه علاوه بل دليل شو چه استعمال شوی نه دے قياسا اوس د دی معدول عنه څه دے؟ نو "قال بعضهم انه معدول مما فيه اللام" يعنی اصل کښې الاخر وو نو بيا اخر شو "و قال بعض" يعنی د اخر من نه.

سوال: چه اسم تفضيل مستعمليږی په طرقو ثلاثه وسره او تا دا معدول کړو د دوو نه نو د اضافة والا ولی معدول عنه نه ګرځوی.

جواب: "و انما لم يذهب" حاصل دادے چه كه دا مستعمل وے په اضافة سره نو كله چه قطع د تركيب اضافی اوشی نو بيا خو يا په مضاف کښې تنوين راځی عوضا لكه "يو مئذ حينئذ" کښې او يا دا مضاف مبنی على الضم شی لكه "قبل بعد" او يا پكښې اضافة كيږی په مثل د اولنی باندی لكه يا تيم تيم عدی اوس اخر کښې دايو امرهم نشته-ابناء خو نه شو راوستی ځكه معرب دے او اضافة ثانيا او تنوين هم د غير منصرف سره منافی دی نو ځكه دا معدول عنه نه ګرځو شارح هم دا خبره کوی.

سوال: تا اوی چه "اخر" د الاخر نه معدول دے نو الاخر معدول عنه معرفه ده او اخر معدول نكره دے نو اتحاد پكښې نشته دے.

جواب: اتحاد په مابين د معدول او معدول عنه کښې په اصل معنی کښې شرط دے او داخو امور عارضی دی دی کښې شرط نه دے نو نكره شی او كنه څه ضرورت نشته.

سوال: تا اوی چه دا اخر د اخر من نه معدول دے نو دا مستلزم دے من لره نو پكاروه چه ددے بناء واجب شی ځكه من حرف وے او كوم اسم چه متضمن وی حرف لره هغه مبنی وی حالانكه داخومعرب دے.

جواب: اصل کښې دانقل شوی دے د وصفية نه اسمية ته نو دابه موافق وی د ځپل موصوف سره دهغی معنی تفصيلی نه وتلے دے.نو اوس پکښوی "من" نشته

"و جمع" دا دريم مثال دے د عدل تحقيقی دلته هغه شان تقرير دے چه جمع بيا او منذو الخ نو دا عدل تحقيقی دے ځكه چه يو بل دليل د عدل نه علاوه په مخرجية شته دے هغه په دی شان سره چه جمع جمع د جمعاء ده او جمعاء مونث دا جمع دے و كذلك كتع

دانی دفع د وهم اوکړه چه دی یو سره خاص نه دے "و قیاس فعلاء" که دا وزن د فعلاء صفتی وو نو بیا به راجع کیږی په فعل سره بضم الفاء و سکون العین لکه حمراء په حمر پاندی او که اسمی وی نو بیا به جمع کیږی په وزن دفعالی او فعلاوات لکه صحراء په صحاری او صحراوات سره اول په جمع تکسیرکښی او دویم په جمع سالم کښ اوس دے جمع ته چه مونږ اوکتل نو فُعَل بسکون العین نه دے بلکه بفتح العین دے او نه فعالی او نه فعلاوات دے نو په یو نه دے جمع شوی نو مونږ ته معلومه شوه چه په دی درې اوزانو کښ دا دیو نه معدول دے او هغه ورله معدول عنه دے "و الاخر الصفة الاصلية" دفع د وهم چه دا اصلیه دے لکه فلا تضرن الغلبة به راشی فلا تضره الغلبة راشی نو داخو وصف نه شو جواب دادےچه وصفیة شارح دفع د اعتراض ده چه د اجمع چه جمع د جمعاءده تا پکښےعدل اوبل وصف سببین اوګرځول نو په اجمع کښ هم دا دوه اوګرځوه نو شارح.

جواب کوی چه عدل خو سبب اعتباری وی دے هغه ځائے کښ به وی چه بل سبب نه وی او دلته خوبو وزن فعل مع الوصف شته دے نو عدل ته ضرورت نشته دے. "علی "ما" ذکرنا" غرض د شارح دفع د سوال ده چه جموع شاذه چه اقوس او انیب دی نو هلته هم د عدل تحقیقی دپاره دلیل شته دے نو هلته عدل او وایه.

جواب: عدل خو په وخت د ضرورة کښ معتبر کولی شی یعنی چه یو اسم غیر منصرف وی او یو سبب وی پکښ بل نه وی نو بیا به عدل معتبر کوو او داخو غیر منصرف نه دی نو ضرورت هم نشته دے. ترجمه اسانه ده "ولا قاعدة" غرض د شارح دفع د سوال ده مخکښ شارح اوی چه دا د اقوس انیاب نه نه دی راوتلی که راوتلی وی نو بیا ورته جموع شاذه ونیل نه دی پکار نو معترض چه نه دابه دهغی نه راوتلی وی او جموع شاذه به ورته ځکه وائی چه د عدل دیو قانون خلاف به ئ کړی وی نو ځکه ورته شاذه وائی فقال جوابا عنه "ولا قاعدة" چه هیڅ قاعدة نشته دے. د عدل "لیلزم" ګنی چه لازم شی د مخالفة د هغی نه شذوذ نو فرق معلوم شو چه شاذ به د قانون خلاف راغلی وی او عدل کښ به داسی نه وی بلکه مجبوری به وی

"او تقديرا" چه فارغ شو ماتن د عدل تحقيقی نه نو شروع ئ او کړه په عدل تقديری کښ نو فقال او "تقديرا شارح وائی "ای خروجا کائنا" غرض د شارح خو یو علت د نصب د تقديرا وائی چه دا مفعول مطلق دے.

سوال: دا مفعول مطلق نه دے ځکه مخکښ پری مشتمل نه دے.

جواب: اشتمال په مفعول مطلق حقيقی کښ شرط دے او دلته دا مفعول مطلق مجازی دے نه حقيقی يعنی د اصل کښ صفة د مفعول مطلق دے چه هغه "خروجا" دے بيا هغه

حذف شو او صفة دهغی قائم مقام شوی دے نو دهغی په اعراب معرب شو "کائنا عن اصل مقدر" غرض د شارح اشاره ده چه دا تقدیر صفة د خروج دے خو په اعتبار د متعلق سره چه اصل دے او دا څکه چه که دلته دا د خروج صفة شی نو تحقیقا به هم د خروج صفة شی نو خروج به په عدل تحقیقی کښ محقق شی او دا مذهب مرجوح دے څکه راجح مذهب د محققینو دے بیا شارح اوی "مقدر" دا دفع د اعتراض ده چه دا تقدیرا صفة د اصل نه دے صحیح څکه هغه ذات دے او تقدیرا وصف دے نو بیا خو وصف حمل کبری په ذات او دا جائز نه دے نو شارح جواب اوکړو چه دا مصدر مبنی للمفعول دے او دا جار مجرور دے نو شارح ورله متعلق راوباسو چه هغه کائنا دے نو معنی شوه چه خروج هسی خروج چه کائن دے د اصل نه هسی اصل چی مقدر دے "ای مفروض" چه په نفس الامر کښ به نه وی موجود بس فرض شوی به وی او دابه څکه فرض وی چه "یکون الداعی الی فرضه" چه غیر منصرف به وی نو څکه نو موثر نه تعریف هم د عدل تقدیری معلوم شو چه عدل تقدیری هغه دے چه دغه کله په کلام د عربو کښ غیر منصرف موجود شوه او په هغی کښ یو سبب وی چه کافی نه وی دپاره د عدم انصراف او کلمه غیر منصرف وی نو بیا پکښ مجبورا بل سبب معتبر کولی شی چه تعریف د غیر منصرف پری صادق شی نو بیا به هغه عدل تقدیری معتبر شی او عدل تقدیری هغه چه په مخرجیة د معدول د معدول عنه نه د عدل نه علاوه بل دلیل نه وی لکه عُمَر د عامر نه او زفر د زافر نه او "کذلك زفر" کښےاشاره ده چه دا د عمر سره خاص نه دے بلکه عام دے شارح هم داخیره کوی اعتبر العدل.

سوال: د عدل نه علاوه خونور اسباب هم شته دے نو هغه نور ولی نه معتبر کوی.

جواب: دا خو مجبوری ده کنه نور اسباب نه دی معتبر څکه دلته نور اسباب نشی راتلی لکه ته سوچ په عمر کښے او کړه.

سوال: نو چه کله هغه نور پکښ صلاحیة نه لری نو دپاره د اعتبار د عدل په غیر منصرف کښ خو صرف عدم انصراف مخ دے په کلام د عربو کښ کما قال لشارح "و یکون الداعی الی التقدیر و فرضه منع الصرف "لا" غیر" بلکه عدم صلاحیة دنورواسباب هم شو نو ته څنګه انحصار کوے دعدم اصراف یو دے اودغسے عدم وجدان دنورو اسباب هم شته جواب زما مراد دلته په باعث او داعی سره دپاره د اعتبار د عدل هغه باعث وجودی دے نه عدمی او وجودی باعث صرف عدم انصراف وو نه دا دوه نور علاوه له دا وایم چه هغه نور دوه داعیان د دی سره ضمنا راغلل په دی شان سره چه هر کله پکښ "ما" عدل لره اعتبار ورکړونو یو سبب و و پکښ او د بل سبب عدم وجدان وو او عدم صلاحیة هم وو نو بیا می عدل معتبر کړو" و مثل باب قطام" کله چه فارغ شو مصنف د هغه عدل نه چه دپاره د غیر انصراف وی نو شروع ئی اوکړه په هغه عدل کښ چه هغه راځی دپاره د حمل علی النظائر نو فقال و باب قطام .. بیا دلته دوه نسخی دی په یوه نسخه کښ دا لفظ د مثل شته دے او دویمه نسخه

وو او تاسو ورسره دا قیودات ثلاثه ولی اولګول نو جواب اوشو چه دپاره د اخراج دهغه باقی په اوزان د فعال څکه هغه مبنیات دی. بیا شارح وائی فی لغة تمیم نو د لغت لفظ ئی زیات کړو څکه چه د فی مدخول ظرف وی حقیقی چه عبارة وی د مکان یا زمان نه او یا تشبیهی چه هغه وصف وی او دا تمیم نه ظرف حقیقی او نه ظرف تشبیهی وو څکه وصف نه دے نو لغة وصف دے نو دا ظرف تشبیهی شو.

سوال: د تمیم نه یو سړی مراد دے نو دیو سړی خبری لره دومره اعتبار ولی ورکوی.

جواب: "بنی تمیم" حاصل دادے چه یو سړی نه دے بلکه لویه قبیله ده. باقی ترجمه دحضار نوم د ستوری دے او "طمار" د بقعی نوم دے نو تانیث او علمیت پکښ دی نو. حاصل د ادی شرح دادے چه په دوو سببو سره اسم غیر منصرف ګرځی او دپاره د حصول د بناء بیا دریم سبب غواړی اوس حضار او طمار کښ دوه اسباب وو چه علمیت او تانیث دے خو دریم پکښ دپاره د حصول د بناء عدل تقدیری معتبر کړو نو مبنی شول . نو بیا دا قطام او غلاب دی کښ هم عدل تقدیری معتبر شو. د وجی د موافقة نه د خپلو ملګرو سره نه دپاره د حصول د بناء څکه چه څه حاجت نشته بناء ته اوس سوال راځی چه په حضار او طمار کښ هر کله ددے اسباب شول او مبنی شول نو دا قطام او غلاب ولی سره د دریو اسبابو نه معرب غیر منصرف وائی د خپلی خبری خلاف کوی.

جواب : سبب ثالث کافی نه دے دپاره د تحصیل د بناء بلکه د سبب سره ثقل هم ضروری دے نو په حضار طمار کښ ثقل شته دے چه حرف راء ده او په قطام او غلاب کښ ثقل نشته دے نو څکه مبنی نه شول. دی وجه نه یو داسی اسم هم شته دے چه پکښ به اسباب دیر وی خو ثقل به پکښ په اخر کښ نه وی نو مبنی به هم نه وی لکه اذر بائجان دلته (۱) علمیت دے د وطن نوم دے (۲) تانیث دے پکښ څکه د بقعة دپاره نوم دے چه دا مونث دے (۳) ترکیب دے بداهة (٤) عجمه هم ده (٥) او الف نون مزتدین هم دی اخر کښ نو دلته ٥ اسباب دی او بیا هم مبنی نه دے نو معلومه شوه چه نفس کثرة د اسباب دپاره د بناء نه دے کافی بلکه د ثقل نه پکښ لابدی ده "لهذا یقال" غرض د شارح رد کول دی په ماتن چه دا قطام دلته ذکر کول نه دی پکار څکه دلته مونږ هغه عدل وایو چه دپاره د تحصیل د منع صرف راځی او دا خو دی دپاره نه دے خو دی نه جواب کیدے شی چه دا ذکر د قطام دلته صحیح نه دے خو مصنف رحمه الله تبعا او طردا ذکر کړی دے او داسی کیږی کله کله

او بل جواب دادے چه په بعضو نسخو کښ دا باب د قطام نشته دے څکه چه یو کس وائی چه "ما" یو بل سړی اولیدلو او ورسره یو نسخه وه چه هغه لیك د مصنف وو نو داباب د قطام ئی تری نه کټ کړی وو نو وی "ما" د هغه لوستونکی نه تپوس اوکړو چه دادی ولی کټ

کړی دے نو هغه راته اوی چه کله مصنف په اخره کښ طلباء ته دا کتاب وئیلو نو دالی ورته وئیلو چه دا باب قطام تری نه لرے کړی ځکه دا دلته مطابقة نه لری خه نوکه هغه نسخه صحیح شی نو بیا هیڅ ته ضرورت نشته و انما قال فی تمیم سره غرض د شارح د تمیم قید فائد بیانوی چه عندهم مبنی دے نه عند الحجازئین ځکه بیا خو غیر منصرف نه دے کنه.

سوال: مونږ خو اوریدلی دے چه بنی تمیم په مابین د ذوات الراء او غیر ذوات الراء کښ فرق نه کوی بلکه دواړو ته معرب غیر منصرف وائی.

جواب: دغه مذهب د یو نیم کس دے او د ډیرو مذهب دادے چه مونږ کوم اوی شارح هم دا وائی چه والمراد من بنی تمیم الخ .

سوال: نو داقلو مذهب به دی راخستی وی.

جواب : للاکثر حکم الکل ځکه خو شارح د لغت قید اولګو او د اکثر قید ئی اونه لګو.

﴿الوصف شرطه ان یکون فی الاصل﴾.... دلته یو څو خبری اجمالی پیژندل پکار دی بیا به مناسب تفصیل کوو (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) شرط د وصف دپاره د تاثیر (۵) اجراء د شرط .

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو ماتن د تفصیل د یو سبب نه چه عدل وو نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د دویم سبب کښ چه وصف دے نو فقال الوصف شرطه دری سوالات معهو ده راغلل نو ددی نه بالترتیب جوابات دادی چه نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او محتاج هم دے تفصیل ته او دی دویم مقام کښ ځکه ذکر کړو چه اجمال کښ دویم مقام کښ ؤ او تفصیل چه موافق شی د اجمال نو په دی کښ وی جمال او اجمال کښ ځکه دویم مقام کښ وو چه یو خو ضرورة د وزن الشعر وو دویم د وصف د عدل سره تعلق ډیر دے ځکه خو بعض امثله د عدل د وصف هم دی دریمه وجه داده چه عند المصنف په اسبابو کښ اقوی اول عدل دے او بیا وصف دے نو دا ترقی د اعلی نه ادنی ته شوه او تفصیل داسی کوی چه اول به د دویم سبب تعین اوکړی دا "الوصف" سرهاو ویم به شرط د تاثیر د وصف ذکر کړ "شرطه" سره او دریم تفریع کوی" فلا تضره او فلذالك" سره او څلور رد په بعض الناس کوی د "وضعف منع افعٰی" سره .

سوال: ماتن د عدل تعریف کړی وو او د وصف تعریف ئی او نکړو شارح کړی دے نو ماتن ولی نه دے کړے.

جواب: (١) دا عدل تعریف ته محتاج وو ځکه نورو مواضعو کښې غیر مذکور دے او دادے نورو اسباب بعض مواضع کښې تعریفات شوی دی (٢) د عدل تعریف ځکه ماتن اوکړو چه رد اوکړی په بعض الناس باندی په سرعة سره ځکه د ماتن او د بعضو نحاتو په تعریف د عدل کښې اختلاف دے بعضو تعریف په اخراج سره کړی دے او ماتن خروج سره .

ربط لفظی:دادے چه "الوصف" مبتدا ده او "شرطه باقی" خبر دے نو مبتداء خبر جمله اسمیه شوه.

لغوی تحقیق: دری خبری پیژندل ضروری دی نو دا وصف صیغه د مصدر ده د باب ضرب یضرب معتل واوی نه او په معنی د بیان او وضاحت سره قال تعالیٰ: "و تصف السنتهم الکذب او مصطلح وصف ته هم ځکه وصف وائی چه پکښې وضاحت دیو مبهم وی

(اصطلاحی تعریف):نو وصف اصطلاحا په دریو معانیو راځی (١) نعت سره کما فی التوابع الخمسه ای تابع یدل علی معنی فی متبوعه او فی متعلق متبوعه (٢) قائم بالغیر مرادف د عرض "مقابل دجوهر" سره (٣) هغه اسم چه دال وی په ذات مبهمه ماخوذ وی سره د بعضو صفاتو نه او دلته هم دا معنی مراد ده.

سوال: په دی معنی سره وصف ذات شو ځکه دال په ذات دے نو بیا ذکر کول د وصف د اسبابو د عدم انصراف نه صحیح نه دی ځکه دا اوصاف دی او امور اعتباریّهٔ دی. نو شارح جواب کوی چه کون الاسم چه مراد د وصف نه وصفیة دے کون وصفی معنی ده نو اوس ئی شمیرل د اسبابو نه صحیح دی خو بیا شارح پوره تعریف کوی او مثال پیش کوی چه احمر دے نو بعض صفات پکښې حمرت دے او بیا کون سره اشاره ده چه وصف په معنی د وصفیة دے او دال علی ذات سره احتراز دهغه کون الاسم نه دے چه دلالت کوی په اوصافو لکه مصادر شول او بیا مبهمة سره احتراز "دکون الاسم دالا نه" خو په ذات مبهمه باندی نه بلکه په ذات معینه باندی او "ماخوذة مع بعض صفاتها" سره احتراز دے د هغه ذات مبهمةنه چه صفات پکښې نه وی ماخوذ لکه رجالیة شو ذات مبهم : دے خو ماخوذ ورسره بعض صفات نه دی. "سواء کان" غرض د شارح په دی عبارت سره یو تعمیم کول دی په وصف کښې او دویم د ؤصف دوه قسمین ذکر کول دی او دریم دفع د اعتراض ده.

اعتراض: دادے چه زه به درته اوښایم چه خلق به ورته وصف وائی او ستا تعریف د وصف به ورته شامل نه وی لکه اربع په مررت بنسوة اربع کښې نو دا اربع خو کون د اسم چه الخ دانه دے بلکه دا خو یوه مرتبه ده د دری نه بره او د پنځو نه ښکته .

جواب: چه داکون د اسم دالا الخ عام دے که په اعتبار د وضع سره دوی او که بد په اعتبار د استعمال سره نو اصل کښې وصف نه دے بلکه وصفیة پکښې عارضی دے په دی شان سره چه

کله دلته په دی ترکیب کښے دا صفة دپاره د نسوةٌ شو نو معلومه شوه چه هغه نسوة مراد دی چه هغه موصوف وی په صفة د اربعیة سره "و المعتبر فی سببیة" غرض د شارح په دی عبارة سره یو تمهید دے روستو متن ته دویم د روستو متن د "ما" قبل سره ربط پیدا کوی دریم اعتراض دفع کوی په دی شان سره چه تا اوی چه وصفیة عام دے نو بیا خو دا اربع په دی ترکیب کښ دے غیر منصرف شی ځکه یوپکښے وزن فعل دویم وصفیة دے حالانکه دا منصرف دے.

جواب: تعریف شاملیدل خان لره خبره ده او سبب واقع کیدل خان لره خبره ده نو چه سبب دپاره د عدم انصراف کله ګرځی نو هغه شروط دے په شرط د اصلی سره چه اصلی به وی او دا عارضی دے نو چه شرط نه وی نو شروط هم نه وی نو دا سبب نه دے صحیح.

سوال: نو دا وصفیة اصلیّة ولی تاسو شرط کوی مطلق وصف ولی نه وائی.

جواب: اصل په اسماء کښ انصراف دے او عدم انصراف خلاف الاصل دے نوکوم څیز چه د اصل نه خلاف الاصل ته منتقل کیږی نو په پوره قوة سره او دا قوة په وصف اصلی کښ دے نه عارضی کښ بلکه دی کښ ضعف دے ترجمه اسانه ده. "شرطه" څلورمه خبره ده شرط د تاثیر دپاره "ای شرط الوصف" غرض د شارح تعیین د مرجع کوی "فی سببیة منع الصرف" سره غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه تا اوی چه شرط د وصف اصلی کیدل دی نو اربع خو وصف دے او شرط نشته نو دا څنګه وصف شو.

جواب: شرط دبره دوجود نه وایم بلکه دپاره د تاثیر په منع صرف کښ "ان یکون فی الاصل" چه وی به دا وصف وصف اصلی نه عارضی بیا ماتن ان یکون اوی شارح اوی "وصفاً" غرض د شارح دفع د چه د فی الاصل متعلق څه دے نو .

جواب: اوشو په وصفاً سره

سوال: دا متعلق ورلره " یکون" ولی نه وائی نو ظرف لغو به شی او ظرف لغو اولی دے د ظرف مستقر نه ځکه دے کښ تقدیر دے چه دا خلاف الاصل دے.

جواب: که دا متعلق شی دیکون سره نو لازم به شی وجود د فعل ناقص بغیر د خبر نه چه دااناروا دے په دی شان سره چه دافی الاصل جار مجرور خبر راځی په اعتبار د متعلق سره نو چه هغه متعلق ورله یکون شی نو دا فعل ناقص به بدون الخبر شی.

سوال: نو وصفا راوستلو ته ضرورت نشته دے بلکه یکون کښ ضمیر وصف ته راجع دے نو هغه دی ورله متعلق شی کنه .؟

جواب: بیا به لازم شی کون د شئ واحد اسم او خبر دواړه د کان دپاره او داهم ناروا دے په دی شان سره چه هغه وصف اسم دے د یکون او چه متعلق شی دپاره د فی الاصل نو دا دهغی په اعتبار خبر شو نو داهم نه شو کولی.

سوال: نو دا نقصان خو په دی وصفا راویستلو کښ هم دے ځکه چه معنی داده چه وی دا وصف وصف نو یو شی چه وصف دے داهم اسم شو اوهم خبر شو دپاره د یکون.

جواب: فرق پکښ موجود دے ځکه چه کوم اسم دے هغه مطلق دے او کوم چه خبر دے نو مقید دے په قید د فی الاصل سره نو یو شی نه دے.

سوال: بل نقصان راغی په دی شان سره چه اسم مطلق شو نو عام شو او چه خبر مقید شو نو خاص شو نو لازم شو انحصار د عام په خاص کښ او داهم ناروا دے په دی شان سره چه مسند الیه منحصر وی په مسند کښ نو دا وصف منحصر شو په وصف فی الاصل کښ چه یو عام بل خاص دے.

جواب: په ظاهر لباس ئی مه شه عبد الرحمانه

مینځ ئی ګوره چه چغجی دے که متاک

حاصل دادے چه ظاهر هم دغه شان ده خو حقیقة دادے چه یکون کښ ضمیر کوم وصف ته راجع دےنو مراد تری نه هغه دے چه سبب د منع صرف دے او "وصفا فی الاصل" عام دے که سبب وی دپاره د عدم انصراف او که وی نو هغه خاص او دا عام دے او دا ناروا نه دے. "الذی هو الوضع" غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د اعتراض ده چه قانون دادے چه په باب د وصف کښ کله اصل ذکر شی نو مراد تری نه موصوف وی نو دلته هم داسی دے نو مراد به تری نه موصوف وی نو معنی به شی چه شرط ئےدادے چه وی دا وصف په موصوف کښ نو ځنګه چه وصف اصلی په موصوف کښ دے نو عارضی هم دے نو داهم سبب د عدم انصراف ګرځول پکار دی.

جواب: مراد دلته وضع ده نه موصوف او دا قانون اکثری دے نه کلی او که دا قانون کلی شی نو بیا به موصوف هغه وخت مراد وی چه قرینه د خلاف نه وی او دلته قرینه د خلاف شته دے هغه دادے چه روستو دی تفریع کوی نو وای "اربع" منصرف دے نو هغه عارضی دے نو دا معنی نه ده مراد تری نه .

سوال: دا"فی" دپاره د ظرف راغی یعنی مدخول د "فی" ظرف وی دپاره د "ما" قبل د "فی" نو دا الوضع خونه ظرف حقیقی دے ځکه نه مکان دے او نه زمان او نه ظرف تشبیهی ځکه هغه وصف د شئ وی او دلته دا وصف نه دے.

جواب: (۱) دا في په معنی د عند سره دے (خادمة الکافیه) (۲) داپه حذف د مضاف سره دے ای في زمان الاصل نو زمان ظرف دے

"فلا تضره الغلبة" غرض د مصنف په دې عبارت سره اخیری خبره ده چه اجراء د شرط ده نو دا فاء تفریعه ده او "ما" قبل شرط ورله متفرع علیه شو او یا دا فاء نصیحیه ده نو شرط مقدر دادے چه "اذا کان شرط تاثیره في منع الصرف ان یکون في الاصل فلا تضره الغلبة" نو غلبه د اسمیة ورته نقصان نه رسوی. "بان تخرجه" غرض د شارح د فع د سوال ده چه غلبه ورته نقصان او ضرر رسوی په دې شان سره چه اول صرف خالص وصف وی نو عام وی او بیا روستو اسم ئی نو خاص شی.

جواب: حاصل دادے چه مطلق ضرر نه بلکه چه د سببیة او تاثیر نه لی او باسی یعنی که اسمیة یکښ راشی نو بیا به هم سبب د عدم انصراف وی.

"الغلبة ای غلبة الاسمیة علی الوصفیة" غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دی دې خبرې ته چه الف لام په الغلبة کښ عوضی دے مراد غلبه د اسمیة ده او یا اشاره ده چه الف لام عهدی دے معهود غلبه د اسمیة ده. "معنی الغلبة" غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده چه تا اوی چه غلبه به ضرر نه رسوی نو داخو ضرر رسوی په دې شان سره چه یو رجل ابیض لره "اسود" نوم کیښودی شی او یا "رجل اسود" لره نوم "اسود" کیښودی شی نو اوس دا اسود غیر منصرف دے د وجه د علمیة او وزن فعل نه نه د وجی د وصفیة نه نو دا ضرر شو دغلبه د اسمیت په وصفیة باندی.

جواب: اول معنی د غلبی ملحوظ کول پکار دی چه غلبه خاص کیدل د اسم دی د بعض افرادو خپلو سره په دې شان سره چه محتاج نه وی په دلالت کښ په دې باندی قرینه ته اوس حاصل د جواب دادے چه دوه شرطونه دی په تعریف د غلبه کښ یو افراد خپل دویم عدم احتیاج الی قرینة نو په اول صورة کښ چه رجل ابیض لره نوم اسود شی نو دا رجل ابیض د اسود د افرادو نه نه دے نو غلبه نه شوه او په دویم صورة کښ که د افرادو د اسود نه دے خو دا محتاج دے قرینی ته په دې شان چه اوئیلی شی چه "رایت اسود في المسجد یصلی" نو دلته د یصلی نه معلومیږی چه داسود نه د رجل اسود مراد دے نو دا بیا غلبه نه شوه. په خلاف د هغه کښ چه دا دتور مار نوم شی نو دهغی د افرادو نه هم شو او دا بغیر د قرینی نه مراد وی سمدست ذهن ته راځی دغه شان "ارقم" هم دے نو دلته غلبه ده خو ضرر پکښ نشته "فلذالك صرف" غرض د ماتن تفریع کول دی په "ما" قبل دوو خبرو باندی یو چه شرط د تاثیر وصفیة اصلیة کیدل دویم عدم ضرر د غلبے د اسمیة په وصفیة نو په یو باندی په "صرف" سره دویم باندی په "امتنع" سره نو دا د قبیلی د لف نشر مرتب نه شو. و شرطه ..... فلا تضره د الف دے او "صرف امتنع" نشر دے خو په ترتیب سره په دې شان چه په نشر

کښې کومه تفریع مقدمه ده نو د هغې په لَف کښې متفرع علیه هم مقدم دے او چه کومه موخره نو هلته هم موخردے. او چه داسې نه وی نو هغه غیر مرتب وی بیا دلته "فلذلك" کښې دا لام راغلی دے لام تعلیلی دے او ذلك اسم اشاره ده نو قانون دادے چه کله لام د اخل شی په اسم اشاره باندې نو مشار الیه د اسم اشاره علت وی دپاره د راروان حکم نو دلته مشار الیه دوه دی. "شرطه فی الاصل او فلا تضره الغلبة" او دا مابعد حکم هم دوه دی چه صرف او امتنع دے.

سوال: فاء راځی دپاره د سببية د "ما" قبل دپاره د مابعد او لام هم دپاره د تعلیل راځی د مابعد دپاره د "ما" قبل یعنی "ما" قبل د فاء علت دے دپاره د "ما" بعد د فاء او مدخول دلام علت وی، نو "ما" قبل د فاء هغه دوه خبرے دی او "ما" بعد د لام اسم اشاره هم اشاره کوی هغه دوه ؤ خبرونه نو ذکر کول د دواړو په دی مقام کښې صحیح نه دی یو تری نه مستدرك دے.

جواب: (۱) دا فاء تفریعیه ده او یا خبره د سببية پکښې ضروری نه ده او په لام کښې ضروری ده نو ځکه ئې دواړه جمع کړل (۲) یا دا فاء دپاره د تعلیل ده خو ضمنا او لام دپاره د تعلیل د ے خو صراحة نو استدراك نشته بلکه تصریح بما عُلِمَ ضمناً ده.

سوال: ذلك اسم اشاره مفرد ده او مشار الیه دوه دی نو موافقة پکښې نشته.

جواب: "المذکور" نو دایه تاویل د المذکور سره دے نو دا مفرد دے.

سوال: مذکور خو ټول کتاب دے نو دا ټول کتاب مشار الیه دے .

جواب: "من اصالة" حاصل دا دے چه صرف دا دوه خبری وی او من بیانیه شو "صَرف" ځکه اول شرط معدوم دے بیا دلته دوه نسخې دی یوه نسخه داده چه د" صَرف" نسبة پکښې اربع ته شوی دے نو دلته ځه سوال نه راځی دوېمه نسخه د شارح سره ده نو دلته د "صَرف" نسبة دی مررت بنسوة اربع جمله ته شوی دے نو په دی سوال راځی چه د صرف نسبة دی ته کول صحیح نه دی ځکه دا جمله ده او جمله په انصراف او عدم انصراف باندې نه موصوف کیږی نو شارح "اربع" قید لګولو سره جواب اوکړو چه حاصل ئےدادے چه نسبة د صرف جملې ته مجازا دے مراد تری نه اربع جزء دے او دا کیږی چه ورته نسبة د جزیه طرف دکل واقی. بیا ماتن "فی" وئیلی دی او شارح ورسره "قولهم" اوی چه د "فی" مدخول صحیح شی ځکه چه مررت الخ جمله ده او دا ظرف نه صحیح کیږی او بیا قول مقوله غواړی نو مقوله جمله وی نو هغه ئی ورله دا جمله اوګرځوله چه مررت بنسوة اربع ده "و امتنع اسود" سوال: ممتنع خو په خارج کښې وجود نه لری او دا خو موجود شو چه تاپری تلفظ اوکړو.

جواب: "من الصرف" د وجود نه نه بلکه د صرف نه او دا ځکه چه غلبه څه ضرر نه رسوی، بیا شارح اوئ: چه "الاول لحیة السوداء" نو دفع د وهم ئې اوکړه چه دا اسود ارقم به دیو مار نوم وی نو وی نه دوه ماران دی یو نه او بل ادهم بیرو ته وائې خو توری بیرئ، حاصل د شرح دادے چه دی کښ غلبه راغلې ده او ضرر ئې نه دے رسولی بلکه بیا هم د وزن فعل او صفة اصلیه له دا غیر منصرف دی، دے غلبه کښ چه کوم دوه شرطونه وو چه یو کیدل د اسم د افرادو نه او دویم بلا قرینه ذهن ته راتلل، نو دا دواړه دلته موجود دی ځکه ادهم هر مار ته بلکه تور مار ته وائې او ارقم هم هر مار نه بلکه برګ (پټی دار) مار ته وائې او ادهم توړو بیرو ته وائې.

سوال: دایو قانون دے چه تخصیص باسم الشئ په روایاتو کښ دلالت کوی په نفی د حکم د "ما" عدانه نو اوس دلته مصنف د نحو روایة نقل کوی چه اسود ارقم او ادهم کښ دا عدم انصراف د وجې د وصفیة اصلیه او د وزن الفعل د وجې نه دے نو دی نه دا معلومه شوه چه په دی دریو کلماتو کښ له دا غلبه د اسمیة نه وی یعنی اسود او ارقم دمار نوم نه وی او دا ادهم د قید نوم نه وی نو بیا به دا غیر منصرف نه وی د وجې د وصفیة خالصه نه دا د وجې د تخصیص نه په روایت کښ "بقوله فالمانع من الصرف فی هذه الاسماء الصفة الاصلیة".

جواب: "و اما عند استعمالها" حاصل د جواب دادے چه دغه قانون صحیح دے خو دا نفی د حکم په "ما" عدا کښ به هله وی چه په "ما" عدا کښ دا حکم نه وی ثابت په طریقه اولی سره که په ماعدا کښې حکم ثابت وو په طریقه اولی سره نو بیا داتخصیص په روایاتو کښې نفی دحکم دماعدا نه نه کوی نو دلته داسې دے ځکه چه کله په کښې غلبه ده او غیر منصرف دے نو چه غلبه پکښ نه وی نو بیا خو په طریقه اولی سره غیر منصرف وی، ترجمه د باقی اوکړه.

"وضعف منع افعی":غرض د ماتن په دی عبارت سره رد علی البعض دے په دی شان سره چه بعضو خلقو وئیلی دی چه افعی غیر منصرف دے د وزن الفعل او د وصفیة د وجې ځکه کیدلے شی چه د فُعوة نه مشتق وی او مغه خباثت ته وائې او وای اجدل هم ځکه چه پکښ وزن الفعل دے او کیدلے شی چه د جَدَل نه مشتق وی او جد لقوة ته وائې نو وصف دے او دغه شان اخیل هم دے د وزن الفعل او کیدلے شی چه دا د خال نه مشتق وی او دا نشان ته وائې او دا وصف دے اګرچه دانوم ګرځیدلی دی لکه افعی اژدها ته او اجدل مارغه ته او اخیل هم یو مارغه دے چه په دی بنړو باندی ټکی وی دی ته وئیلی شی نو ماتن پری رد اوکړو چه یو اسم د انصراف نه عدم انصراف ته اوړی نو په سبب قوی او یقینی سره ځکه اصل انصراف دے په اسماؤ کښ او عدم انصراف خلاف الاصل دے نو دپاره د خلاف الاصل مضبوط او قوی یقینی سبب پکار دے او ستا خبره په شك او کیدے شی باندی بناء ده نو داکافی کیږی.

سوال: تا اوئ چه د دی دریو کلماتو عدم انصراف ضعیف دے نو مطلب دادے چه غیر منصرف کیدل ئی جائز مع الضعف دی حالانکه د مصنف په نزد دا د سر نه غیر منصرف نه دی بلکه انصراف ئے واجب دے نو ضعف نه بلکه باطل وئیل پکا وو.

جواب: دا ضعف قول ده مصنف نه دے بلکه عبارة اصل کښ داسی دے چه وضعف منع من منع افعی من الصرف چه ضعیف دے منع الصرف د هغه چا چه افعی وغیره د صرف نه منع کوی نو دا قول د ضعف مصنف ته نه دے منسوب باقی صرف عربی ده. "فانها لم بلکه هغه څوک چه دے اسماء نه غیر منصرف دائ نو دهغو داقول ضعیف دے ځکه چه دجمهورنحات نه (چه مصنف پکښے هم) خلاف دے. یقصد" دفع د سوال ده چه هر کله په دی دریو کلمو کښ احتمال شته دے چه دا د دهغی نه مشتق شوی وی نو ځنګه ورته غیر منصرف نه وائی.

جواب: چه کله یو اسم غیر منصرف ګرځی په وصف سره نویا به په اصل کښ وصفیة وی او یا فی الحال نو دلته نه فی الحال وصف شته بداهةً او نه فی الاصل ځکه چه داخو په "کیدے شی" بناء ده.

سوال: دلته دوه احتماله دی کیدل دوصف او نه کیدل نو ته ترجیح نه کیدلو لره ورکوے نو کیدلو لره ورکړه کنه؟

جواب: دلته په دی عدم کیدو د وصف والا احتمال کښ مرجح شته دے چه اصل په اسماؤ کښ انصراف دے .

(التّانیث بالتّاء شرطه العلمیّة)دلته څو خبری اجمالی ضروری دی (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق د تانیث (۳) اصطلاحی تعریف (٤) اقسام د تانیث (٥) شرط

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د دوو اسبابو د نه و نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د دریم سبب د منع صرف د تهو اسبابو نه چه تانیث دے فقال التانیث دری سوالات معهودة راغلل نو جوابات بالترتیب دادی اول نه نو تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی یا دا تانیث تفصیل ته محتاج وو نو تفصیل کوی ددویم سوال جواب دادے چه دی مقام کښ ځکه تفصیل کوی چه اجمال سره موافقة راشی ځکه چه تفصیل چه موافق شی د اجمال نو په دی کښ وی جمال او په اجمال کښ ځکه په دریم مقام کښ وه چه یا څو د ضرورة د وزن الشعر نه او یا دا په نسبة سره "ما" قبل ته ضعیف او په نسبة سره "ما" بعد ته قوی وو په دی شان سره چه "ما" قبل وصف دے نو هغه ځکه قوی دے چه موصوف او صفة جدا جدا الفاظ وی او تانیث کښ لفظ یو وی لکه قائمة نو قائم او قائمة یو لفظ دی. او د "ما" بعد ته قوی دے چه معرفه ده ځکه چه دمعرفة نه عَلَم مراد دے نو


تانیث دپاره په لفظ کښ علامه شته دے او په علم کښ علامه نشته نو تانیث ظاهر دے او دریم سوال نو تفصیل داسی کوی چه اول په تعیین اوکړی دے سبب په "التانیث" سره او بیا دوه قسمونه د تانیث په "بالتاء" سره او بیا شرط د تاثر د تانیث په "شرطه" سره او بیا کلی په "فهند" سره او بیا تفریع جزی په "فان سمی" سره.


ربط لفظی: دادے چه دری ترکیبات عام دی (۱) التانیث مبتداء موخره ده او منها ورله خبر محذوف دے په اعتبار د متعلق سره مبتداء خبر جمله اسمیه شوه (۲) التانیث مبتداء او بعضها محذوف خبر نو بیا جمله اسمیه شوه(۳) التانیث بالتاء مبتداء او شرطه ورله خبر نو بیا جمله اسمیه ده.

(لغوی تحقیق): دری امور ملحوظ کړئ (۱) صیغه نو دا صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه أنث یؤنث مهموز الفاء (۲) معنی ئی کرخول دیو اسم مونث (۳) مناسة دادے چه په مصطلح مونث کښ هم مذکر مونث کرخیدلی وی.

(اصطلاحی تعریف):نو تانیث په اصطلاح کښ هر هغه اسم دے چه پکښ علامه د تانیث وی لفظا او یا تقدیرا علامات د تانیث دری دی (۱) تاګله ملفوظًا او کله مقدرًا (۲) الف مقصوره (۳) الف ممدوده دابه دواړه همیشه لفظی وی او لند تعبیر د علامانو داسی دے چه پته تاء بشکاره تاء ورکوتی الف اورد الف امثله داسی دی چه طلحة تانیث بالتاء لفظا زینب تانیث بالتاء معنی حبلٰی او حمراء تانیث بالا لفین مقصورة و ممدودة

اقسام التانیث : اقسام لاندی نقشه کښ ملحوظ کړئ.





حاصل دادے چه تانیث اول په دوه قسمه دے (۱) بالتاء (۲) بدون التاء بیا بالتاء په دوه قسمه دے (۱) لفظا (۲) معنی بیا لفظا دوه قسمه دے په (۱) تا متحرکه سره اوداد اسماؤ سره خاص ده (۲) تا ساکنه خاص ده د افعال سره او بیا معنی کښ دوه تقسیمات دی اول هم دوه اقسام لری چه (۱) چه سمع ئی دپاره د شخص شوی وی لکه زینب (۲) سمع ئی دپاره د نوع وی لکه نارا نور او دویم تقسیم هم دوه اقسام لری (۱) تا مقدر سره (۲) حرف رابع قائم مقام د تانیث وی لکه عقرب او بل تقسیم په مطلق تانیث کښ حقیقی او لفظی ته دے یعنی که مقابله کښ مذکر من الحیوان وی نو (۱) حقیقی او کنه نو (۲) لفظی.

﴿التانیث بالتاء اللفظی﴾ قید د "اللفظی" سره غرض د شارح دفع د اعتراض کوی چه دا تانیث بالتاء په مقابله د معنوی کښ دے نو تقابل صحیح نه دے ځکه معنوی هم د تاء سره وی.

جواب: مراد بالتاء سره تانیث لفظی دے او مقابله کښ ئے معنوی دے نو تقابل صحیح شو. بیا شارح "الحاصل بالتاء" اوئ اشاره ده چې بالتاء جار مجرور دپاره متعلق الحاصل دے او بیا دا معرفه شوه نو اشاره ده چه دا بالتاء په اعتبار د متعلق سره صفة دے دپاره د تانیث او که نکره شی نو حال به وو خو بیا تفخیم فی المعنی نه راتلو او دی سره احتراز دهغه نه دے چه په الف سره وی ځکه "فانه "لا" شرط له" ځکه دا شرط دپاره د لزوم د تاء دے او هلته هغه الف خپله لازم دے د کلمه سره او د لزوم د وجی نه قائم مقام دے د سببین.

سوال: تانیث بالتاء لفظی به وی او غیر منصرف به نه وی لکه اخت چه علم شی دچا.

جواب: مراد د تاء نه هغه ده چه زائده وی او ملحقه وی د اسم سره او "ما" قبل تری نه مفتوح وی او په حالت د وقف کښ ها وی. اس اخت والا تا اخر کښ ده او زائده هم ده خو "ما" قبل تری نه مفتوح نه دے او هاء نه کیږی فی حالة الوقف او بیا که نوم شی د مذکر لو مکمل منصرف او که نوم شی د مونث نو حکم ئی د هند پشان دے "شرطه".

سوال: شرط د وجود به مراد وی.

جواب: "فی سببیة منع الصرف" شرط د تاثیر مراد دے العلمیة شارح وائی "ای علمیة الاسم المونث" غرض د شارح په دی عبادت سره یو اشاره ده چه الف لام په العلمیة کښ عوضی دے

د مضاف الیه نه او دویم اشاره ده چه دا یاء په العلمیة کښې مصدری ده او دریم دفع د اعتراض ده چه یا او تاء مصدری دی نو مصدری خو هغه وی چه گرخوی ملحوق خپل خبر دپاره د کون محذوفه سره د اسم محذوفه نو تقدیر به شی چه "شرطه کو نه علما" نو کونه کښې دا ضمیر مجرور راجع دے "تانیث" ته او دا اسم د کون دے او علما خبر د کون دے او دا خبر دکون په اسم دکون حمل وی او دلته حمل صحیح نه دے ځکه تانیث وصف دے او علم ذات دے. جواب "ای علمیة الاسم المونث" حاصل دادے چه دلته صنعة استخدام دے په دی شان سره چه کله اسم ظاهر ذکر شی نو یو معنی وی لکه دلته دا التانیث اسم ظاهر دے نو معنی مصدری قرینه مراد ده او چه کله دغه اسم ظاهر ته ضمیر راجع شی لو بیا قرینه بله معنی مراد وی لکه دلته چه ورته دا ضمیر راجع شی نو بیا معنی مصدری نه ده مراد بلکه بیا مبنی للمفعول دے

او بیا دا مونث صفة دے نو د موصوف تقاضا کوی نو موصوف ورله شارح الاسم اوی. "لیصیر التانیث" غرض د شارح دلیل ذکر کول دی (۱) حاصل دادے چه اصل په اسماؤ کښې انصراف دے نو د عدم انصراف دپاره قوی دلیل پکار دے او تانیث بالتاء کښې دا تاء په معرض د زوال کښې ده نو علمیة شرط شو ځکه چه اعلام بقدر الامکان د تغیر او تبدیل نه محفوظ وی، نو دا تاء به قوی شی. "ولا ن العلمیة". (۲) دا علمة په منزله د وضع ثانی دے نود وضع وخت کښې ئی مکمل گرځی نه پکښې بیا کم والی او نه زیات والی کیږی نو حاصل د دواړو دا شو چه دا تاء به قوی شی نو سبب به قوی شی "بقدر الامکان "دفع د سوال ده چه تا اوی اعلام محفوظ دی نو په یا حارث کښې خو یاحار او په یا مالك کښې یا مال اویلے شی نو داخو محفوظ نه شو.

جواب: په قدر د امکان محفوظ دی. او دلته خبره د امکان نه وتلی ده ضرورت دے. او ضرورت باشد روا باشد.

سوال: په جبرائیل کښې چه علَم دے نو دی کښې هم تبدیل کیږی په دی شان چه ځوك پکښې جبرال وائی او ځوك پکښې جبریل وغیره وائی نو بیا محفوظ نه شول .

جواب: (۱) زما مراد اعلام بشریه دی او دا خو علم د ملك دے (۲) اعلام مطلقا مراد دی خو دغه اعلام د یو مسمی دپاره داسی اینبودی شوی دی یعنی دیو مسمی دپاره گنر اسماء دی "والمعنوی کذلك" کله چه فارغ شو د لفظی تانیث نه نو شروع شو په معنوی کښې نو فقال والمعنوی کذلك او بیا کذلك سره اشاره ده چه والمعنوی هم په هغه باندی عطف دے کاف بیا دپاره د تشبیه راځی نو شارح ئی وضاحت کوی چه کالتانیث اللفظی بالتاء.

سوال: نه منم چه دا تانیث معنوی د لفظی تانیث پشان دے ځکه هلته تاء لفظا ده او دلته تقدیرا .

جواب: "في اشتراط العلمية فيه تشبيه" په كل امورو كښې نه ده مراد بلكه تشبيه په اشتراط د علمية كښې ده چه دوارړه په سبب هغه وخت وي چه پكښې علمية وي.

سوال: چه دوارو دپاره علمية شرط دے نو دا متن دے او مبنى د متونو په اختصار ده نو داسې به دې وئيلي وو چه التانيث بالتاء و المعنوى شرطهما العلمية .

جواب: "إلّا ان بينهما" . فرق پكښې شته دے ځكه په تانيث بالتاء كښې شرط د وجوب دے او په معنوى كښې شرط د جواز دے نو كه عبارة متخصرة و نو بيابه چا وهم كوو چه ددوارو دپاره يو شان شرط دے.

سوال: نو بيا د تانيث معنوى دپاره د وجوب شرط څه-دے؟

جواب: "ولا بد في وجوبه من شرط" نو ربط هم واضح شو او تمهيد هم او دفع هم شوه مائن وائي:" و شرط تحتم تاثيره اى شرط" غرض د شارح يو تفسير د لفظ غير مشهوردے په مشهور سره دويم د "تاثيره" د ضمير مرجع متعين كوى دريم اشاره كول دى چه دا "ا"و "او" دپاره دد تنويع دے نه دپاره د تشكيك ځكه خو احدالا امور الثلاثه وائي څلورم دفع كوى چه دا شروط په دپاره د وجود وى نو نقض دے په هند سره راځي .

جواب: "في منع الصرف" شرط دپاره د تاثير په منع صرف كښې مراد دے نه د وجود "الزيادة على الثلاثه" غرض د ماتن هغه درے شروط بيانول دى شارح وائي: "اى زيادة حروف الكلمة على ثلاثه مثل زينب" نو غرض د شارح خو يو داخره كوى چه الزيادة كښې الف لام عوض دے د مضاف اليه نه چه حروف الكلمة دے دويم دا خبره ذكر كوى چه دا الثلاثة نه هم مراد حروف دى او دريم مثال بيانوى چه زينب كښې عدم انصراف واجب دے "او تحرك الحرف الاوسط" شارح "الحرف" اوى اشاره ده چه اوسط صفة دے موصوف غواړى او هغه الحرف دے او دويم د تحرك دپاره اصل مضاف اليه الاوسط نه دے بلكه الحرف دے. "مثل سقر" نو سقر كښې عدم انصراف واجب دے ځكه دويم شرط د تحتم موجود دے او "العجمة مثل ماه وجور" نو دلته هم عدم انصراف واجب دے دريم شرط د تحتم دے پكښې "و انما اشترط" غرض د شارح دليل ذكر كول دى چه تانيث معنوى كښې دوه اسباب شته دے چه علمية او تانيث دے او بيا هم په مرتبه د جواز كښې غير منصرف دے او تعريف پرى هم صادق دے نو دا ځكه چه دا دوه علتان دى خو د دى د وجې نه پكښې ثقل نشته دے نو چه دعلمية او د تانيث سره يو د دى دريو شروط نه شي نو بيا پكښې ثقل راځي ځكه كه زيادة پكښې نه وي نو ثلاثي به وي او چه متحرك الاوسط نه وي نو ساكن الاوسط به وي او دا انتهائي خفيف وي نو د سببينو سره خفة معارض شو نو نفس عدم انصراف راوستى شي خو واجب كولے ئې نه شي، نو دا دړى شرط سره ثقل برقرار پاتې شي نو معارض رانغي او عجمه كښې ثقل په دى شان سره دے چه اهل العرب ته عجمي ثقيلةده بداهةً. معنى داسې ده چه ليخرج

الكلمة چه او باسی د احد الامور الثلاثة كلمه لره د خفة نه ثقل ته داسی خفة چه هغه د ثقل د سببينو سره معارض دے نو دامزاحم شوے دے د تاثير د عدم انصراف سره باقی ترجمه اسانه ده.

سوال: مخكښ مصنف وئيلی وو چه مشابهة د فعل سره په وجود د فرعيتو كښ سبب د عدم انصراف دے او دلته وائی چه نه دد ثقل سبب د عدم انصراف دے نو دا تعارض دے.

جواب: تعارض نشته دے، بلكه هلته تحقيق و و يعنی دليل دپاره د دعوی او دلته تدقيق دے چه دليل دپاره د دليل دے يعنی دا مشابهة ولی علة د عدم انصراف دےنو دا ځكه چه ثقل پكښ راغلو ځكه فعل ثقيل دے نو دی كښ هم ثقل پيدا شو.

"فهند يجوز صرفه" غرض د ماتن په دی عبارت سره كلی تفريع كول دی چه د تانيث معنوی د عدم انصراف دپاره شرط د جواز علمية وو او د وجوب دپاره يو د امور ثلاثو نه وو نو هند كښ عدم انصراف جائز دے جواز په مرتبه د امكان خاص كښ دے جانب موافق او مخالف دواړه ضروری نه دی. "نظرا" سره غرض د شارح ذكرددليل دے هغه دادے چه انصراف ئی ولی جائز دے نو شرط د تحتم پكښ نشته چه احد الامور الثلاثه دے. "و يجوز عدم" سره غرض د شارح دادے چه عدم انصراف ئی ولی جائز دے نو وی نفس سببين خو پكښ شته "و زينب و سقر و ماه وجور ممتنع" ممتنع دی د صرف نه ځكه چه زينب كښ اول شرط موجود دے او ددی سمع د عربو نه زياده د تانيث شخصی دپاره شوی ده او سقر هم غير منصرف دے ځكه دويم شرط د تحتم پكښ موجود دے او تانيث پكښ هم دے چه كله تری تعبير په طبقة سره او شی ځكه طبقة مونث دے او كه تعبير تری نه په مكان سره اوشی نو بيا منصرف دے ځكه مونث نه شو او "ماه او جور" كښ دريم شرط د تحتم موجود دے او تانيث پكښ هم دے ځكه تعبير تری نه په بلد ئی سره كيږی او بلدة مونث دے او كه تعبير تری نه په مكان سره اوشی نو بيا منصرف دی ځكه تانيث پكښ ختم او زائله شوه. "ممتنع صرفها" غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا زينب او سقر او ماه او جور دا مبتداء او ممتنع ورله خبر دے نو په درميان د مبتداء او خبر كښ موافقة ضروری دے او دلته خو موافقة نشته دے.

جواب: دلته پكښ يو شرط مفقود دے نو ځكه هغه دا چه خبر به حامل وی ضمير دمبتدا لره او دلته خبر كښ ضمير نشته بلكه اسم ظاهر ورله فاعل واقع دے چه "صرفها" دے دغه شان بل سوال هم دفع شو چه تا اوی چه دا ممتنع دی نو مونږ خو پری تلفظ اوكړو ممتنع نه دی جواب "صرفها" وجود ئی ممتنع نه دے بلكه انصراف ئی ممتنع دے. "فان سمی به مذكر" غرض د ماتن په دی عبارت سره جزی تفريع كول ذی هغه دا خبره ده چه ايا تانيث معنوی چه يو اسم كښ وی او دا علم د مذكر شی نو بيا به منصرف وی او كنه؟ نو خبره داده چه

مونث ورته مطلقا نه منصرف وايو اونه غير منصرف بلكه مونږ به نظر او كړو چه ايا دا مونث معنوى عام ددى نه كه د شخص دپاره وى ياد جنس دپاره نو ايا دا د څلور حروفو نه كم دے او كنه پوره دے كه د څلورو حروفو نه كم وو نو بيا به منصرف وى ځكه تانيث معنوى پكښ ختم شو او يوائے علميت دپاره د عدم انصراف نه كافى كيږى او كه څلور حروفو والا وو نو بيايه غير منصرف ځكه وى چه يو پكښے علميت دےدويم هغه څيز چه قائم مقام د تانيث دے چه څلورم حرف دے ځكه دا يو قانون دے چه ديو اسم سمع دپاره د مونث شوى وى او علامه پكښ د تانيث نه وى نو كه څلور حرف وو نو حرف رابع او كه پنځم حرف نو حرف خامس وغيره به د علامى قائم مقام كيږى "فقدم" دا تفريع ده په عدم د شرط باندى او جزى تفريع ده اوس قدم منصرف دے ځكه دلته يو علميت دے او تانيث معنوى نشى كيدلے ځكه چه په حين د علميت كښ پكښ حرف قائم مقام د علامه د تانيث نشته او د قدم اطلاق په هر قدم كيږى نو جنس مونث دے و "عقرب" داهم تفريع جزى ده او دا غير منصرف دے ځكه دلته شرط موجود دے چى هغه څلور حرفي كيدل دى. اوس دا عقرب مونث سماعى دے د جنس دپاره او چه دا اوس ديو شخص دپاره عَلَم شى نو قائم مقام د تانيث پكښ شته دے نو دايو سبب شو او بل علميت دے نو غير منصرف شو.

سوال: يره تاته څه پته ده چه قدم كښ قائم مقام د تانيث معنوى نشته دے او په عقرب كښ شته دے.

جواب: دا ځكه چه د قدم تصغير قُديمة راځى يعنى ظهور د تاء پكښ كيږى نوكه قائم مقام د تاء پكښ وے نو بيا به ظهور د تاء ممتنع وو ځكه جمع په مابين د عوض او معوض عنه كښ راوى او دا نا رواه ده او د عقرب تصغير عقيرب راځى يعنى ظهور د تاء پكښ نشته ځكه قائم مقام د تاء پكښ شته دے. باقى صرف عربى ده. "المعرفة شرطها" دے عنوان كښ څو خبرى دى اجمالا (۱) ربط (۲) لغوى تحقيق (۳) اصطلاحى تعريف (٤) اقسام د معرفى (٥) شرط التاثير.

(ربط): معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د دريو اسبابو د منع صرف د نهواسبابو نه نو شروع ئى اوكړه په تفصيل د څلورم سبب د منع صرف د نهو اسبابو نه فقال المعرفة درى سوالات معهودة راغلل نو جوابات بالترتيب دادى اول نه جواب مر غير مرة دويم نه نو دا ځكه چه موافقة راشى د اجمال سره او تفصيل دا جمال سره موافق كول ښه دى او اجمال كښ ځكه څلورم مقام كښ دے چه په نسبة سره "ما" قبل ته غير قوى چه وجه د غير قوى توب مونږ وئيلى ده تير سبق كښ او په نسبة سره "ما" بعد ته قوى وو په دى شان سره چه دا عربى لفظ دے او روستو وريسى عجمه ده نو دا غير عربى دے نو عربى لفظ اصل وى د غير عربى نه هغه خلاف الاصل وى نو دا طبعا هم مقدم وى نو وضعا هم شوو نو قوى شو

كنه او دريم سوال نه جواب دادے چه تفصيل داسى كوى چه اول به تعين د سبب اوكرى په "المعرفة" سره دويم به شرط د تاثير په منع صرف كښ بيان كرى "و شرطها" سره.
(لغوى تحقيق): ددرى امورو ملحوظ كولونه "لا" بدى ده (۱) صيغه د مصدر ده (۲) معنى د شناخت سره (۳) مناسبة دادے چه په مصطلح معرفه يعنى علم كښ هم يو اسم ديو ذات معين دپاره وضع وى چه په هغى سره د هغه ذات شناخت كيږى .

(اصطلاحى تعريف):نو داهر هغه اسم دے چه وضع وى دپاره د يو معين شئ .

سوال: ذكر كول د معرف په اسبابو د عدم انصراف كښ صحيح نه دى خكه ستا د تعريف نه معلومه شوه چه دا ذات دے او اسباب د منع صرف او صاف دى.

جواب: اى التعريف... حاصل دادے چه دايه معنى د تعريف مصدر د تفعيل سره دے او دا متضمن دے معنى د جعل لره اى جعل الاسم معرفة او جعل د شئ اعتبارى او وصفى وى خه.

سوال: نو چه تعريف مراد دے نو بيا به دى عنوان كښے تعريف ذكر كرى وى كنه.

جواب: (۱) اجمال كښ معرفه وو نه تعريف نو دا موافقة د وجى نه مى تفصيل كښ هم معرفه اوى اما اجمال كښ معرفة ولى؟ نو د وجى د وزن شعرى نه (۲) معرفه په نسبة سره تعريف ته مشهور لفظ وو نو د شهرة د وجى نه.

(اقسام د معرف): نو اوه اقسام لرى خه (۱) مضمرات (۲) اعلام (۳) اسماء اشارات (٤) اسماء موصولات (٥) معرف باللام (٦) مضاف الى احدها اى المذكورة الخمس (۷) معرفة بالنداء.

"شرطها" سره پنځمه خبره ده شارح وائى: "اى شرط تاثيرها" غرض د شارح په دى عبارة سره دفع د اعتراض ده چه شرط به دپاره د وجود وى نو الرجل معرفة بلا علم موجود دے.

جواب: شرط د وجود نه بلكه د سببية وايم "ان تكون علمية" شارح وائى: "اى كون هذا النوع" غرض د شارح په دى سره دفع د سوال ده چه دا ياء په علمية كښ يا خو مصدريه ده او يا نسبتيه كه نسبتيه شى نو معنى فاسده ده خكه معنى به شى چه المعرفة المنسوبة الى العلم خكه دا خپل ملحوق مضاف اليه كرځوى دپاره د لفظ د المنسوب په واسطه د الى سره نو حاصل دادے چه معرفه مشروط او علم ورله شرط شو حالانكه تعريف حال دے او علم ورله محل دے نو داهم خه ناروا شان شو.

اوکه دا مصدریه شی نو بیا تکرار شنیع راځی په دی شان سره چه عبارت به شی شرطها کونها کونها علما ځکه دا ګرځوی ملحوق خپل خبر د کون محذوفه سره داسم محذوفه دپاره او دواړه شقونه باطل دی.

جواب: (۱) دا یاء دلته مصدریه ده او داپه معنی مجازی کښ مستعمله ده چه هغه مجازی معنی ده کون هذا النوع من جنس التعریف یعنی کیدل د دی نوع چه علم دے د جنس د تعریف نه.

حاصل دادے چه دا معرفه یو جنس دے او لاندی ئے ګنړ انواع دی نو معرفه به سبب د منع صرف وی خو به متحقق شی په ضمن دیو نوع کښ چه علمیت دے.

(۲)دا یاء نسبتیه اخلم او مراد د نسبة نه عرفی دے چه عبارت دے د نسبة د صفة د شئ نه موصوف د دی ته نو مقصد به هم داشی چه دا معرفه به سبب د عدم انصراف هغه وخت وی چه په ضمن د علم کښ وی. اوس دلته څو سوالات دی (۱) علم ولی د معرف دپاره شرط شو. (۲) چه علم شرط کوی نو د معرف په نورو اقسامو کښ یو ولی نه شرط کوی (۳) چه علم د معرف دپاره شرط کوی نو عکس اوکړه کنه یعنی دا علم سبب کړه او معرفه ورله شرط کړه.

جوابات بالترتیب قال الشارح و انما جعلت دا اولو دوه و سوالونو جواب دے حاصل د (۱) نه دادے چه دا علم ځکه شرط شو چه دا معرفه قوی شی ځکه متصرف غیر منصرف کول تقاضا د سبب قوی کوی نو معرفه به د علم سره قوی شی (۲)او مبهمات پکښ مبنی وو او دا خو معرب او معرف باللام او اضافة خو غیر منصرف نه منصرف جوړوی نو دا خو نشی راتلی ځکه په منزله د دشمن دی نو باقی علم وو نو دا ورله شرط شو خه. او (۳) نه جواب دے "و انما جعل المعرفه سببا" حاصل دادے چه مونږ وئیلی دی چه هر سبب به فرع وی دیو شئ دپاره او معرفه د نکره نه فرع ده نو دا مو ځکه سبب کړو.

سوال: نو علمیت فرع کړه.

جواب: علمیة فرع د نکره په واسطه ده چه معرفه ده او معرفه فرع بلا واسطه ده نو فرعیة د معرف اظهر وو د فرعیة د علمیة نه نو دا ځکه سبب شو او علم ورله شرط شو.

او صاحب د مفصل علم سبب ګرځولی دے د عدم انصراف دپاره.

معرفه می سبب کړو او علم ورله شرط ځکه چه دا ټول اسباب په یو نهج او طرز سره شی په دی شان سره چه اسبابو نه اول سبب ذکر کړی او بیا ورله شرط ذکر کړی نو دلته هم اول معرفه سبب شو او بیا ورله علمیت شرط شو.

سوال: نو بيا روستو راړوان عبارت کښ خو نه وائی "وما فيه علمية مؤثره" يعنى په علم سره تعبير کوی. جواب: هلته مى تعبير په علمية سره ځکه اوکړو چه دا ماخوذمنهٔ مکمل مخالفة راتلى چه دصاحب د مفصل مفصل دے ځکه بيا تعصب راځى او خفګان راځى

"العجمة شرطها" ـ اجمالى خبرى (۱) ربط (۲) لغوى تحقيق (۳) اصطلاحى تعريف (٤) شرط التاثير فى منع الصرف (٥) الوضاحة بالمثال. تفصيل ترتيبا

(ربط): معنوى ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصيل د ځلورو اسبابو د. نهو نه نو شروع ئ اوکړه په پنځم سبب کښ فقال العجمة درى سوالات راغلل جوابات بالترتيب اول نه جواب چه نفس تفصيل ځکه کوى چه تفصيل بعد الاجمال اوقع فى الذهن وى يا تفصيل نه محتاج وو او چا ورله تفصيل نه وو کړى نو مونږ ورله تفصيل کوو او دويم سوال نه جواب دادے چه په اجمال کښ په پنځم مقام کښ وو او اجمال کښ ځکه چى (۱) د وزن الشعر د برابرتيا نه (۲) داپه نسبة سره "ما" قبل نه غير قوى او په نسبة سره "ما" بعد نه قوى اما دا خبره چه په نسبة سره "ما" قبل ته غير قوى نو دا مر فى السبق السابق او په نسبة سره "ما" بعد نه قوى په دى شان سره ده چه روستو ورپسى جمع ذکر ده او دا عجمه مفرد دے (اګرچه غير عربى دے) نو مفرد مقدم وى په جمع باندى طبعا نو وضعا هم مقدم شو نو دا قوة دے دريم سوال نه جواب دادے چه تفصيل داسى کوى چه اول تعين د سبب کوى په "العجمة" سره دويم شرطان "شرطها" سره "او تحرك الاوسط" او دريم تفريع کوى په عدم د شرط ثانى "فنوح" سره او ځلورم تفريع کوى په وجود د شرطينو په "شتر" سره.

ربط لفظى:داسى دے چه (۱) العجمة مبتداء موخر او منها ورله په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم اى منها العجمة (۲) العجمة مبتداء بعضها مضاف او مضاف اليه خبر (۳) العجمة مبتداء ده و شرطها باقى مانده ورله خبر په دريو واړو تراکيبو سره جمله اسميه ګرځى

(لغوى تحقيق): نو يو صيغه نو دا صيغه د مصدر ده د باب د کرم يکرم نه دويم داپه معنى د ګونګ سره راځى خاروته هم وائى د وجى د ګونګ والى او ابهام د هغو نه قال النبى صلى الله عليه وسلم: العجماء جرحها جبار (الحديث) دريم مناسبة دادے چه مصطلح عجمه نه ځکه عجمه وائى چه پکښ عدم الفصاحة وى ګويا چه په نسبة سره عربى لفظ نه دا لفظ د عجمى ګونګ دے خپله معنى نه شى بيانولى.

(اصطلاحى تعريف د عجمه): نو په اصطلاح کښ عجمه هر کلمه ده چه وضع کړى وى هغې له غير د عربو.

سوال: اسباب د منع صرف اوصاف دى او عجمه ذات دے ځکه کلمه ده او کلمه ذات وى نو د اسبابو نه ئ شميرل بڼه نه دى.

کون) دا وصف دے.
جواب: کون الکلمة. مراد می کیدل د کلمه او دا کیدل (کون) دا وصف دے.

(شرط د تاثیر): نو دا ماتن ذکر کوی شرطها سره شارح ورسره و للتاثیر ذکر کوی نو دفع د اعتراض شوه چه دا شرط به دپاره د وجود وی نو لجام عجمه بغیر د شرط نه راغلی ده.

جواب: مراد د شرط نه دپاره د تاثیر په عدم انصراف کښ نه دپاره د وجود بیا شارح شرطان اوی نو یو اشاره ده دی ته چه دا شرطها اشاره ده دوو شرطونو ته یونه او دویم دفع د سوال ده چه دا شرطها به مبتداء وی او دا "ما" بعد به ټول خبر وی او مفرد به وی نو مقصد دا شو چه دابه ټول یو شرط وی حالانکه مونږ اوریدلی دی چه عجمه سبب د منع صرف راځی نو دوه شرطه دی ورله.

جواب: شرطان دوه دی. شرطها شارح شرطان.وئیلی دی نو تعیین کوی چه دا کوم شرط دے نو وی شرطها الاول اول شرط دادے "ان تکون علمیة" دا اول شرط شو چه عجمة به هله سبب راځی چه علمیة پکښ وو او کنی بیا نه "ای منسوبة الی العلم" غرض د شارح تعیین د یاء د علمیة کوی چه دا یاء نسبتیه ده نه مصدریه.

سوال: دلته ولی یاء مصدریه نه ګرځوی لکه چه پشان د معرفی شی چه هلته دواړه وه.

جواب: که یاء مصدریه شی نو دابه بیا موول ګرځی په تاویل د هذا النوع من جنس العجمة سره حالانکه عجمه جنس نه دے چه علمیة ورله نوع شی په خلاف د معرفی چه جنس وو او علمیة ورله نوع وه بیا ماتن فی العجمیة اوی او شارح ورسره فی اللغة اولګو چه دلته هم دا یاء نسبتی ده نو دا اسم منسوب دے او هر منسوب په حکم د مشتقی کښ وی او هر مشتق صفة وی نو تقاضا د موصوف کوی نو هغه ورله متعین کوی بان تکون سره حاصل د معنی ذکر کوی.

سوال: زه به درته اوښایم چه غیر منصرف به وی د وجی د علم او عجمه نه او علم به په عجمئ کښ نه وی واقع او په عربئ کښ به علم وی لکه قالون د رومی زبان دے او په دی زبان کښ دا علم نه وو بلکه په معنی د جید سره وو او روستو د قراء د امامانو نه دیو امام نوم شو چه عیسی دے نو غیر منصرف شو خو عجمی کښ علم نه وو او تا دا شرط ګرځولی دے.

جواب: "حقیقةً او حکمًا" دا عام دے حقیقة وی چه د چا نوم وی لکه ابراهیم اسم النبی علیه الصلوة والسلام او حکما داسی چه عجمئ کښ نوم نه وی خو عربو نقل کړی وی بلا تغیرو تصرف عربئ ته نو ګویا چه علم شو څکه چه هغی کښ هم تغیر او تصرف نه وی او حکما کښ هم نه وی. شارح هم دا واقی خو عربی ده. "وانما جعلت" غرض د شارح دلیل بیانوی حاصل دادے چه دا مونږ څکه شرط کوو چه دا عرب په ثقیل الفاظوباندی تلفظ نه شی کولی

نو په دی الفاظو ثقیلو کښې هغو تغیر او تصرف کوی دپاره د خفة نو د عجمئ الفاظ هم ثقیل وی نو چه کټ کټ پکښې اوکړی نو ضعف پکښې راځی نو بیا صلاحة د سبب د واقع کیدلو نه لری نو شرط ورله علم شو ځکه دا بقدر الامکان محفوظ وی نو قوة به پکښې وی ترجمه هم داسی ده چه و انما او خبر داده بله نه ده چه الخ بیا ماتن په دی عدم د شرط تفریع نه ده کړی نو شارح وائی تفریعا چه "فعلی هذا". لجام که علم شی نو غیر منصرف به نه وی ځکه داپه عجمئ کښې نه حقیقة د چا نوم وو او نه حکما حقیقة داسی چه دالګام وو وارډی ته وئیلی شی علم نه دے او حکما هم ځکه تغییر پکښې دوی کړی دے.

"و تحرك الاوسط" شارح ورله د "ما" قبل سره ربط بیانوی چه دوه شرطه وو نو وای "شرطها الثانی" بیا ماتن داپه "او" سره ذکر کړی دے نو شارح د هغی تعیین کوی چه دا دپاره د احد الامرین دے یعنی د مانعة الخلو دپاره دے نه دپاره د تشکیك "تحرك الحرف الاوسط" شارح ورسره "الحرف" راوباسو ځکه چه دا وسط وصف دے موصوف غواړی او هغه الحرف دے او دغه شان د تحرك اصل مضاف الیه ئې متعین کړو ظاهر خو دا اوسط دے خو اصل هم دغه دے بیا الزیادة علی الثلاثة او شارح وائی علی ثلاثة احرف غرض د شارح په دی عبارت سره اشاره ده چه الثلاثة کښې الف لام عوض د مضاف الیه دے. اصل کښې ثلاثة احرف بیا په مضاف الیه قطع کیدلو سره الف لام عوض کښې راوړی شو او دفع د وهم هم اوشوه چه د ثلاثة نه به مراد ثلاثة حرکات وی و یا کلمات وی. "لئلا یعارض" . دلیل د شارح غرض دے چه دا شرط مو ځکه اولګو چه نفس سببین کاف نه دی دپاره د عدم انصراف بلکه ثقل ورسره ضروری دے نوکه تحرك الاوسط او یا زیادة علی الثلاثة نه شی نو بیا به خفة معارض شی دیو د سببینو سره نو منصرف به وی "فنوح" منصرف تفریع ده په عدم د شرط ثانی او شارح ورله ربط بیانوی چه "هذا تفریع" داپه عدم د شرط ثانی تفریع ده اوس نوح علم دے خو احد الامرین ورسره نشته. "فهذا اختیار المصنف" غرض په دی عبارت سره دفع د اعتراض او بیان د اختلاف دے بیان الاختلاف واضح دے چه عند المصنف منصرف دے و عند صاحب المفصل غیر منصرف دے او اعتراض دادے چه ته نوح ته منصرف وائی او موږ اوریدلی دی چه دا خو غیر منصرف دے.

جواب: موږ ورته منصرف د ابن حاجب په مذهب وایو او غیر منصرف کیدل ئې دنورو نحاتو په نزد دی. "لان العجمة سبب ضعیف لانه امر معنوی". غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه دانوح په شان دهند کړه چه هلته صرف او عدم صرف دواړه جائز وو د نفس سببینو د وجی نه نو دلته هم داسی اوکړه د نفس سببینو د وجی نه نو انصراف او عدم انصراف پکښې جائز کړه او یا پکښې عدم انصراف واجب کړه قیاسا علی ماه و جور چه هغوئ کښې عدم انصراف واجب دے او ساکن الاوسط دی .

جواب: داسی نه شو کولی چه قیاس اوکړو ځکه په "هند" کښ چه کوم تانیث معنوی دے نو دا قوی دے ځکه کله نه کله نی اظهار اوشی لکه په حالت د تصغیر کښ شو او عجمة ضعیفة ده او په ماه او جور نی هم نه شو قیاس کولی ځکه هلته دا عجمة مستقل سبب نه دے بلکه هلته دوه سببین شته دے چه تانیث او علمیت دے او دا عجمه دپاره د قوة د تانیث دے ځکه هغه تانیث معنوی دے نو د وجی د قوی کولو د عجمه نه تانیث لره داخېره نه لازمیږی چه دا عجمه دی مستقل سبب واقع شی "فان قلت" اعتراض دے کوم چه تیر شو او قلنا سره نی .

جواب دے "و شتر و ابراهیم" دا وضاحة بالمثال هم دے او په وجود د شرطینو باندی تفریع هم ده. "صرفهما" سوال دفع شو چه په درمیان د مبتداء خبر کښ مطابقة نشته او دا مطابقة ضروری دے .

جواب: خبر حامل نه دے ضمیر د مبتداء لره بلکه فاعل ورله اسم ظاهر محذوف دے "لوجود الشّرط الثانی علت دپاره د عدم انصراف بیانوی "وانما خص التفریع" غرض د شارح دفع د سوال ده چه څه وجه ده چه ماتن په عدم د شرط ثانی تفریع اوکړه په نوح سره اوپه عدم د شرط اول نی تفریع نه ده کړی په لجام سره په څلورو صورتونو کښ یو صورة ولی خاص کړو څلور صورتونه (١) په دواړو تفریع کول (٢) په یوهم تفریع نه کول (٣) په اول کول اوپه دویم نه (٤) ددی عکس نو دا څلرم صورت نی ولی خاص کړو.

جواب: په عدم د شرط ثانی کښ اختلاف دے په درمیان د مصنف او د صاحب المفصل کښ نو دا ځکه خاص شو چه اسراع کوی په رد کښ په مخالف د مصنف باندی او اظهار کوی د حق چه د مصنف په نزد دے چه هغه ددے نوع انصراف دےنو ماتن دومره اسراع کوی چه یوه مسامحة تری نه هم شوی ده په دی شان سره چه وجود مقدم وی په عدم باندی ځکه وجود اشرف دے نو ماتن په عدم اول تفریع اوکړه اوپه وجود نی روستو تفریع اوکړه او مناسب عکس وو.

باقی ترجمه اسانه ده . اعلم (١) غرض د شارح تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام (١) تنبیه د مخاطب ده په تفصیل د مقام په دی شان سره چه مخکښ ابراهیم تیر شو دیو نبی علیه السلام نوم وو نو اوس درته پوره تفصیل کوی په اسماء د انبیاؤ کښ (٣) تنبیه د مخاطب ده په بیان الاختلاف سره "قیل إن هودا" سره په دابیان کړی نو شارح وائی چه اسماء د انبیاء علیهم الصلوة و السلام ټول غیر منصرف دی مګر شپږ نه چه محمد، صالح، شعیب، هود دا عربی دی او نوح لوط دا عجمی دی خو خفیف دی یو شاعر وائی.

گر همی خواهی کی سہ دانی نام ہر پیغمبرے

تاکدام است اے برادر نزد نحوی منصرف "لا" ینصرف

صالح وھود محمد باشعیب ونوح ولوط

این ھمہ دان منصرف ودیگرھمہ "لا" ینصرف

قیل سره اختلاف ذکر کوی داهود چه متصرف دے د وجی د تخفیف نه نور دا عجمی دے دلیل ورلره دادے چه سیبویه د نوح سره یو ځائے ذکر کړی دے او تائید د قول د سیبویه هغه کوی چه وئیلی شوی دی په تواریخو کښ چه عرب د اسماعیل علیه السلام اولاد دے او هود په اولاد د اسماعیل علیه السلام کښ نه دے نو چه څوك دده نه مخکښ دی نو هغه عربی نه دی. لیکن دا قول ضعیف دے یو وجه داده چه بیا صالح علیه السلام هم داخل دے په دی کښ ځکه داهم د اسماعیل اولاد کښ نه دے او شعیب هم نو صحیح خبره داده چه وجود د عربئ دا مخکښ هم وو د ادم علیه السلام وخت کښ وو او دا خبره ده چه په عربو کښ وجود د عربئ بعد د اسماعیل علیه السلام نه راغلی دے خو په ټوله دنیا کښ عربی مخکښ د اسماعیل علیه السلام نه وه خه.

(الجمع شرطه صیغة منتهی الجموع). اجمالی خبری (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) شرط د تاثیر (٥) وضاحة بالمثال (٦) دفع د بعضو اعتراضاتو چه واردیږی په دی مقام کښ. تفصیل بالترتیب.

(ربط): ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د پنځو اسبابو د غیر منصرف د نهواسبابو نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د شپږم سبب کښ فقال الجمع ددی نفس تفصیل ولے کو ؟ او تفصیل کښے دابه دے شپږم مقام کښے ولے ذکر کوی؟ او تفصیل څکه کوی؟ دری سوالات راځی اول نه جواب مر غیر مرة او ددویم نه جواب دے چه اجمال کښ په دی مقام کښ وونو تفصیل کښ هم په شپږم مقام کښ ذکر کړو چه موافقة راشی د تفصیل د اجمال سره او اجمال کښ ځکه په شپږم مقام کښ ؤچه (۱)دوجے د وزن شعری نه (۲) دابه نسبة سره "ما" قبل نه غیر قوی او په نسبة سره "ما" بعد نه قوی دے په نسبة سره "ما" قبل نه ضعف معلوم دے ذکرسابقا او په نسبة سره "ما" بعد نه قوی داسی دے چه روستو وریسی ترکیب دے نو دا جمع اگرچه مرکب ده د مفرد او نون نه لیکن داتون ئی نه داسی جزء دے چه د دی مفرد سره ئی شدة الامتزاج دے نو دا کلمه مستقله نه ده بلکه پشان د جزء ده دما قبل کلمة نه نو په منزله د مفرد شوه او روستو ترکیب مرکب دے د اسمینو نه نو مفرد مقدم وی په مرکب طبعا نو وضعا هم مقدم شو چه موافقة راشی نو دا قوة شو دریم سوال نه جواب دادے چه اول به تعین د سبب اوکړی په" الجمع" سره دویم شرط د تاثیربه

بیان کړی په شرطه سره دریم تفریع به اوکړی په وجود د شرط په "کمساجد" سره څلورم تفریع به اوکړی په عدم د شرط سره په و "اما فرازنة سره پنځم دفع د اعتراضاتو به اوکړی په "وحضاجر" سره.

ربط لفظی:دادے چه (۱) "الجمع" مبتداء موخر دے او خبر ورله "منها" په اعتبار د متعلق سره محذوف دےای منها الجمع (۲) "الجمع" مبتداء ده او "بعضها" محذوف خبر دے (۳) "الجمع" مبتداء ده او دا باقی مانده ورله خبر دے و بالجملة جمله اسمية به شی.

(لغوی تحقیق): دری امور ملحوظ کول پکار دی (۱) صیغة نو دا صیغه د مصدر ده (۲) معنی نو په معنی د غونډه ولو او یوځا ئے کولو سره راځی (۳) جمع مصطلح ته هم څکه جمع وائی چه پکښ د مفرد سره کثیر د مفرد نه یو ځائے شوی وی او هغه ئی راغونډ کړی هم وی. (۳)اصطلاحی تعریف دجمع لو جمع هر هغه اسم دے چی دلالت کوی په اکثر دیو باندی سوال :تا چی کوم تعریف دجمع اوکړونو داذات شو اواسباب او صاف دی نو د دی شمول داسبابو نه صحیح نه دی .جواب (۱)ذکر دجمع دے او مراد تری نه جمعیة دے چی داوصف دے (۲) یا په تقدیر دمضاف سره دے ای جمعیة الجمع وهو سبب قتم مقام سره غرض دشارح دفع دوهم ده چی دلته به هغه جمع مراد نه وی چی په اجمال کښی تیره ده . سوال تا سره څه دلیل دی چی داهم هغه جمع ده چی په اجمال کښی تیره ده .جواب :هلته هم معرفه ده او دلته هم معرفه ده او معرفه چی معاد شی نو ثانی عین اول وی او نکره هم چی معاد شی معرفه نو ثانی عین اول وی .شرطه: څلورمه خبره ده شرط دتاثیر بیانوی شارح وائی شرط قیامه مقام السببین غرض دشارح په دی عبارت سره نو تعین دمرجع دضمیر مجرور کوی دویم دفع داعتراض ده چی داضمیر به یا الجمع ته راجع کوی او یاقیامه مقام السببین ته نو که شق اول اخلی نو رجال پکښی داخل شو څکه معنی به شی چی شرط دیاره دجمع کیدل ددی دی منتهی الجموع نو رجال داسی دے کنه اوکه دویم ته راجع کوی نو لازمیږی اضمار قبل الذکر اودواړه ناروادی .جواب:شارح اوکړو به اختیاردشق ثانی سره اوضمار قبل نیشته دے بلکه داذکرد دے په مایقوم مقامها الجمع سره بیاماتن وائی چه صیغة منتهی الجموع بغیرهاء نو څوسوالات راغلل (۱)منتهی الجموع څه ده؟(۲)دامنتهی الجموع ورته ولی وائی؟(۳)داولی شرط شو؟(۴)دبغیر هاءمقصد څه دے؟(۵)دبغیرهاء به ولی وی؟ نو ددی سوالاتو جوابات شارح ذکرکړی دی داول نه جواب کوی وهی الصیغة التی سره حاصل دادے چی صیغه دمنتهی الجموع هغه ده چی اول حرفف ئی مفتوح وی او دریم حرف ئی الف وی اودالف نه بعد دوه/۲ حرفه وی چی اول به مکسور وی اویاداالف نه بعد /۳ حروف وی خو اول مکسور او دویم به ساکن وی لکه مساجد او مصابیح .سوال:ته اوی چی اول حرف به مفتوح وی نو دویم حرف هم مفتوح دے نو تا خو ددویم څه اونه وی .جوال وانوی چه دریم جرف به الف وی اوالف دځانه مخکښی فتح غواړی نو فتح خپله معلومه شوه ضمنا من الالف

بیا مونږ اوئ چه د "الف" نه بعد به ړومبی حرف مکسور وی دی سره.

سوال: دفع شو چه ستا تعریف منقوص شو په صحاری او کمالات باندی حالانکه دا خو غیر منصرف نه دی.

جواب: مخکښ اوشو چه دلته د الف نه بعد اول حرف مکسور نه دے.

﴿وهی الصیغة التی "لا" تجمع﴾ غرض د شارح دویم تعریف کول دی د منتهی الجموع نو وایٔ دا هغه جمع ده چه نه جمع کیږی په جمع تکسیر سره بیا .

سوال: یو تعریف کافی وو کنه دویم تعریف ته څه ضرورت دے؟

جواب: اول تعریف متعلق دے د لفظ سره او دویم د معنی سره نو جدا جدا دی.

سوال: رجال هم دجمع ده نو داهم په جمع تکسیر سره نه جمع کیږی نو داپکښ داخل شوه.

جواب: زما مراد د جمع نه وزن د منتهی الجموع دے او رجال وزن د فعال دے نو په دی وزن باندی (مفردات) رازی لکه حمار، کتاب چه په جمع ئے حمیر او کتب دی په خلاف د وزن د مفاعل، مفاعیل "و لهذا سمیت" سره د دویم سوال جواب دے چه صیغه د منتهی الجموع ورته ولی وائی نو ځکه چه انتهاء د جمعو به پری راغلی وی. "الجموع" نه مراد "ما" فوق الواحد دے نو سوال دفع شو چه تا اوئ چه منتهی الجموع هغه ده چه په دیرو جمعو سره جمع وی نو اقل د جمع دری دی نو اکالیب او اساور تری خارج شول چه دوه ځله جمع شوےنه دری ځله.

جواب: دا الجموع نه مراد "ما" فوق الواحد دے او دا بیا عام دے که حقیقة انتهاء وی او که حکما نو سوال دفع شو چه تا اوئ چه دوه یا دری ځله به جمع وی نو منتهی الجموع به وی نو "مساجد" خو سمدست د مسجد جمع ده نو دوه ځله نه ده جمع شوی او خلق ورته منتهی الجموع وائی جواب اوشو چه دا عامه ده که حقیقة جمع وی لکه أکالیب دا کلب جمع ده او أکلب د کلب او أساور دا أسورة جمع ده او أسورة د سوار ده او یا حکما وی یعنی په وزن د منتهی الجموع وی نو مساجد د منتهی الجموع په وزن دے او بیا شارح دلته قید د "تکسیرا" اولګو دفع د سوال اوشوه چه زه به درته اوښایم چه وزن د منتهی الجموع به وی او انتهاء د جمعو به پری نه وی شوی بلکه بیا به هم جمع کیږی لکه ایامن او صواحب په ایامنین او په صواحبات سره جمع کیږی.

جواب: "ما" اوئ چه په جمع تکسیر سره به نه جمع کیږی او داخو په جمع سالم سره جمع شوی دی او دا ځکه چه د تغیر نه بچ شی نو تغیر په جمع تکسیر سره راتلو نه په سالم سره نو

هیڅ اشکال نشته "وانما اشترطت" دلته نه د دریم سوال جواب دے چه د اولی شرط شوه نو حاصل دادے چه دا صیغه د منتهی الجموع ځکه شرط شوه چه جمع د تغیر نه محفوظ شی نو قوة به پکښ پیده شی نو سبب به واقع شی د عدم انصراف دپاره اوکه تغییر پکښ راځی نو بیا به پکښ ضعف راشی نو سبب به نه شی جوړیدی. مصونة ای محفوظة.

"منقلبة" غرض د شارح جواب د څلورم سوال دے چه د "بغیرهاء" مقصد څه دے نو مقصد دادے چه تاء د تانیث مراد ده او یا مراد هغه تاء ده چه هغه په حالت د وقف کښ هاء ګرځی نو اول صورة کښے داتسمیة په حقیقة حمل ده او دویم صورت کښے به مجاز په اعتبار د مایول الیه سره شو. دی سره سوال هم دفع شو چه تا اوی چه هاء به پکښ نه وی نو زه به درته اوښائم چه هاء به پکښ وی او غیر منصرف به وی او دغه شان هاء به پکښ نه وی او منصرف به وی لکه فواره صیغه د منتهی الجموع ده سره د هاء نه او دا غیر منصرف ده او فراز نه وزن د منتهی الجموع دے او هاء پکښ هم نشته دے او منصرف دے.

جواب: زما مراد دهاء نه هغه تاء ده چه زائده وی او تاء وی په حالت د وقف کښ هاء شی او فواره کښ هاء د نفس کلمه ده یعنی اصلی ده او تاء هم نه ده چه په حالت د وقف کښ هاء شی او فرازنه کښ تاء زائده شته چه وقف کښ هاء کیږی

"و انما اشترط" سره د پنځم سوال نه جواب دے چه دا "بغیرهاء" ولی شرط شو نو دی سره ضعف راځی او فتورهم راځی او سبب قوی پکار دے او دا به هله قوی ګرځی چه مشابهة ئی نه راځی داو زان د مفرداتو سره نو چه تاء پکښ راشی نو د مفرد سره چه کراهیة او طواغیة دے دی سره مشابهة راغی او دی سره سبب کښ ضعف راځي "ولا حاجة" غرض د شارح دفع د سوال ده چه مصنف لره پکار وو چه قید د "بلایاء" ئی ورسره هم لګولی وے چه مدائنی تری نه خارج شوی وے.

جواب: دی قید ته ضرورت نشته دے چه داپری خارج شی ځکه دا هسی هم خارج دے ځکه دانه جمع حالا ده او نه مالا بلکه داخو مفرد دے او دلیل پری دادے چه دایاء نسبتیه د مفرداتو سره ملحق کیږی .

سوال: تا اوی دا د سر نه جمع نه ده حالانکه دا د مدینة جمع ده.

جواب: دا د مدینة جمع نه ده بلکه د مدینة جمع مدائن راځي او مدائن خو منصرف نه دے نو سوال دے نه راځي ځکه چه کوم جمع ده نو هغه غیر منصرف ده او چه کوم منصرف دے نو هغه جمع نه ده. "فعلم مما سبق" غرض د شارح یو تمهید ایښودل دی "ما" بعد متن نه او دویم د "ما" بعد متن دما قبل سره ربط بیانوی او دریم غرض دفع د اعتراض ده چه "اما فرازنة" کښ د اما کوم دے تفصیلیه او که استینافیه یوهم نه دے صحیح ځکه که تفصیلیه

شي نو دا تقاضى د سبق اجمال مناسب كوي او دلته اجمال نشته او كه استينافيه شي نو هغه خو د خطبو په اوائلو كښ راځي او داخو مينځ د كتاب دے.

جواب: د اما تفصيليه دے او اجمال شته دے خو ضمناً دے نه صراحةً په دي شان سره چه مخكښ مونږ اوي "بغير هاء" نو دي نه اجمال معلوم شو چه جمع په دوه قسمه ده (۱) مع الهاء (۲) بدون الهاء نو د اول مثال مساجد شو او دويم مثال فرازنة شو.

"كمساجد" شارح يو مثال دويم تطبيق دربم دفع د اعتراض كوي چه يو مثال كافي دے دوه ولي بيانوي.

جواب: تعدد د امثلو بناء وي په تعدد د ممثلاتو باندي نو يو مثال دپاره دهغه دے چه د الف نه روسته دوه حروف وي او دويم مثال دهغې دپاره چه دا الف نه بعد د ري حروف وي.

"و اما فرازنة".... دري سوالات راغلل (۱) فرازنة نه څه مراد دي (۲) فرازنة څه ته وائي (۳) دا ولي منصرف دے؟

جوابات بالترتيب دادي: (۱) "مما هي" مراد د فرازنة نه هغه صيغه ده چه په وزن د منتهى الجموع وي او اخر كښ ئي تاء وي چه په حالت د وقف كښي هاء گرځي. (۲) فرازنة جمع د فرزان يا فرزين ده گوټي ته وئيلي شي داپوه لوبه ده شرطنج ورته وائي هغې كښ ډيري گوټي لگي نوبو يكښ داهم وي شاهي گوټيه ده (۳) ځكه منصرف ده چه شرط يكښ فوت دے چه بلاهاء كيدل دي نويكښ ضعف او فتور راغلي دے.

"و حضاجر علما للضَّبع" دلته نه دفع د بعض اعتراضاتو ده خو اول دلته لفظي مناقشه ده دابه حل كول وي نو سوال دا علما ولي منصوب دے ؟

جواب: بناء بر حاليت سوال حال خو يا هيئة د فاعل او يا د مفعول بيانوي نو حضاجر خو يو نه دے.

جواب: (۱) دا حضاجر مبتداء ده او دلته د مبتداء نه حال دے په مذهب د ابن مالك باندي چه تعصب رانشي (۲) دا حال د منصرف نه دے په غير منصرف كښ نه هغه اسم فاعل دے نو د ضمير د فاعل نه حال دے.

سوال: دلته بل نقصان راغي هغه داچه دا غير مضاف دے او منصرف ورله مضاف اليه دے نو تقديم د مضاف اليه په خپل مضاف باندي جائز نه دے نو د معمول د مضاف اليه تقديم په مضاف باندي هم نا روا دے اوس دلته دا علما حال دے او منصرف ذو الحال عامل دے نو عَلَمًا ځنګه په غير مضاف باندي مقدم شوي دے.

جواب: دا سوال نه راځی ځکه دلته دا "غیر" په معنی د "لا" باندی دے او په "لا" باندې تقدیم جائز دے نو په هغه څیز چه په معنی د"لا"وی په هغی هم تقدیم جائز دے.

سوال: داخبره مشهوره ده چه حال د ذو الحال د عامل دپاره قید وی نو دلته علماً حال دے نو دا ذو الحال د عامل دپاره قید دے چه غیر منصرف دے نو مطلب داشو چه دا حضاجر به غیر منصرف وی خو چه کله علم وی حالانکه چه علم نه وی نکره وی نو هم غیر منصرف دے.

جواب: چه کله حضاجر علم دے او بیا هم غیر منصرف دے چه علمیة د جمعیة سره منافی دے نو چه کله علم نه وی نو بیا خو په طریقه اولی غیر منصرف دے ځکه چه اوس خو د جمعیة سره معارض هم نشته دے.

سوال: نو بیا د علما حال واقع کولو څه فائده ده.

جواب: دا علما ئی ځکه راوړو چه اشاره اوکړی هغه منشا او بنیاد د اشکال ته چه په حال د علمیة کښ دا اشکال واردیږی او یا خو دا "علم" مرفوع وایم خبر د مبتداء محذوف چه هغه هو دے ای حضاجر هو علم او دابه جملة معترضه شی چه .

سوال: اوشو چه داحضاجر کښ اختلاف کوم وخت کښ دے نو جواب چه کله علم شی نو دلته بیا اشاره شوه منشا او بنیاد د اشکال ته. اوس شارح وائی :"هذا جواب سوال" غرض ئی ربط د "ما" قبل سره دے "تقدیره" سره سوال بیانوی نو حاصل دا دے چه دا حضاجر علم جنس دے په قلیل او کثیر دواړو ئی اطلاق کیږی نو داځو صیغه د جمع نه شوه بیا دلته شارح "وصیغه منتهی المجموع" وائی دا دفع د وهم کوی چه داځو جمع ده ځکه وزن د جمع دے نو شارح اوی چه صیغه د منتهی الجموع کیدل خو سبب نه دے بلکه د سبب دپاره شرط دے نو اوس بیا دهغه خبره ده چه داجمع نشوه بلکه شرط د جمع دپاره شو نو شرط خو کافی د عدم انصراف دپاره نه دے او بیا هم دا صیغه غیر منصرف ده مناسبه ده چه منصرف شی "و تقریر.

الجواب" شارح جواب کوی حاصل دادے چه جمع عامه ده که حالا وی او که اصلا وی او حضاجر حالا جمع نه ده خو اصلًا جمع ده دا دلیل دے نو دا تقاضا د دعوی کوی نو دعوی ورله شارح لږ مخکښ ذکر کوی نو وائی چه "إن حضاجر حال کونه علما للضبع غیر منصرف" . دا دعوی شوه او دا باقی ورله دلیل شو بیا لانه منقول سره ورله دلیل بیانوی چه دا حضاجر په اصل کښ د حضجر جمع ده او غه په معنی د عظیم البطن راځی نو دی ته ځکه حضاجر وائی چه د ده خیټه ډیره غټه وی نو ګویا که هرفرد ددے جماعة د حضجردے.

اوس دا خبره ده چه دا حضاجر د ضبع نوم دے نو دا څه شئ دے. نو دا ضبع لفظ دوه لغة دے یو ضبع بفتح الضاد و سکون الباء دویم ضبع بفتح الضاد و ضم الباء چه دے نو دا یو حیوان دے او د سپی (کلب) نه لږ غټ دے او د سپی او د دې درمیان کښ دشمنی ده حتی چه سپی باندې د ده سوری اولګی نو د رعب اوېرې د وجې نه اودرېږی او چه دې بیمار شی نو د سپی په غوښه باندې روغ صحیح کیږی او د شر مخ سره ئې دوستانه ده او دده نوم ضبع دے او ځعارهم او کنیه ئې ام عامر ام نوفل او مذکر ابو عامر وغیره ورله نشته دے او په پښتو کښ ورته (کوګ) وئیلی شی او په فارسئ کښ ورته ګفتار وائی "فان قلت" سوال دے یره خوار نشی دومره تکلیف ولی کوی خو دلته هسی هم دوه اسباب موجود دی نو اعتبار د جمع لره څه حاجة پاتی نه دے او دلته دوه سببان یو تانیث دے څکه مذکر ورله ضبعان راځی او دویم پکښ علمیت دے "قلنا" سره شارح جواب کوی حاصل دادے چه دا دوه اسباب غیر معتبر دی په دی شان سره چه علمیة غیر موثر دے څکه که دا موثر وی نو پکار ده چه بعد التنکیر دا بیا منصرف وی او حالانکه دا خو بعد التنکیر غیر منصرف دے او دویم تانیث نو داخو علم جنس دے په مذکر او مونث دواړوئی اطلاق کیږی نو دا ضبعان ورله مقرر کول وهم دے "و انما اکتفی" غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه کله مصنف علیه الرحمة په جمع کښ تعمیم اوکړو چه یو حالا او بل اصلا وه نو بیا مصنف ولی اکتفاء په جمع اصلا باندې اوکړه چه په دی قول خپل سره چه لانه منقول عن الجمع دے او دائی شرط نه ګرو چه "شرطه ان یکون فی الاصل" لکه چه وصف کښ څنګه وئیلی وو چه "شرطه ان یکون فی الاصل."

جواب: حاصل د جواب دادے چه مصنف دا قید څکه نه دے ذکر کړی چه بیا به لازم شوی وو قسمین د جمع اصلی او عارضی او حالانکه جمع کښ دا قسم تقسیم نشته دے څکه جمع کښ عروض نشته نو څکه ئې په دی قول اکتفاء اوکړه چه لانه منقول عن الجمع.

"و سراویل" غرض د مصنف بل دفع د اعتراض ده او شارح هم ربط بیانوی او هم اعتراض ذکر کوی. حاصل د اعتراض دادے چه په حضاجر کښ خو تا اوی چه جمع حالی او اصلی ده او دلته په حضاجر کښ جمع اصلی راغلی ده نوپه سراویل کښ به څه کوی دلته خو په جمع اصلی نشته دے او نه جمع حالی شته دے او خلق ورته غیر منصرف وائی.

جواب: چه په سراویل کښ اختلاف دے عند البعض دا منصرف ده او عند البعض دا غیر منصرف دے بیا چه څوک ورته غیر منصرف وائی نو هغو دوه جوابونه کوی یو "فقد قیل" سره دویم "و قیل" سره او چه څوک ورته منصرف وائی نو څه اشکال پری نشته دے. اوس "اذا لم یعرف وهو الاکثر" مانئ قید د "هو الاکثر" اولګو اشاره ده یو سوال او جواب ته سوال دادے چه دا سراویل غیر منصرف راځی نو دابه شاذ وی او قانون دادے چه په شاذ او نادر باندې قاعده او قانون نه ماتیږی نو هو الاکثر سره جواب دے چه شاذ او نادر نه دے څکه هغه په

منزله د عدم وی او دا خو اکثر دے او ورسره بل سوال هم دفع شو چه کله په سراویل کښ دوه مذهبه دی نو تا د غیر منصرف والا ولی مقدم کړو نو جواب اوشو چه دا اکثر دے که خکه بیا دا هو الاکثر په اعتبار د استعمال سره نو عبارت به شی الاکثر فی موارد الاستعمال نو اکثر به متعلق شی دپاره د جار مجرور او یا خو د الاکثر مضاف الیه دے دپاره د مذاهب یعنی د ډیرو په مذهب سره چه سیبویه او ابو علی جبائی دے.

"فقد قیل" سره غرض د مصنف اول جواب بیانوی چه ورته جواب منتهی وتیلی شی. حاصل ئی دادے چه دا سراویل مونږ غیر منصرف د وجی د جمعیة نه نه وایو بلکه د وجی د حمل علی الموازن نه ورته غیر منصرف وایو بیا شارح انه اسم اعجمی اوےنوداني ورسره خکه اولګو چه قیل مقوله غواړی او اعجمی مفرد دے نو شارح ورسره "إنه اسم" اولګو چه جمله شی خکه مقوله جمله وی. او بیا اعجمی اسم منسوب دے په حکم د مشتق کښ او مشتق صفة وی د موصوف تقاضا کوی نو شارح ورله موصوف متعین کړو چه اسم دے بیا شارح موازن معنی کوی علی "ما" یوازنه سره چه په ترتیب د حرکاتو او سکناتو او حروفو کښ برابر وی اګر که لحاظ د اصلی او زائده پکښ نه وی لکه سراویل د اناعیم او مصابیح سره.

(فبناء هذا الجواب) غرض د شارح دفع د سوال ده چه حصر د اسبابو دی په نهوو کښ صحیح نه دے د وجی د وجود د عاشر نه چه حمل علی الموازن دے.

جواب: حصر به هله باطل وو چه دی ته مونږ مستقل سبب وئیلے حالانکه دا مستقل سبب نه دے بلکه دا تعمیم دے په جمع کښ حقیقةً او حکمًا ته نو حقیقةً هغه جمع ده چه وزن ئی وزن د جمع وی او معنی ئی معنی د جمع او حکمًا هغه جمع ده چه وزن ئی صرف د جمع وی نه معنی باقی ترجمه ده. سوال چه سراویل په اناعیم او مصابیح حمل کوی نو عکس ولی نه کوی.

جواب: مونږ سراویل په مصابیح خکه حمل کړو چه سراویل عجمی دے او مصابیح عربی او عجمی په منزله د غیر متوطن یعنی مسافر وی او عربی متوطن وی او غیر متوطن تابع وی د متوطن نه عکس "و قیل عربی" حاصل دادے چه اوس دویم جواب ذکر کوی چه دا تسلیمی جواب دے حاصل دادے چه سراویل لفظ عربی دے او جمع ده خو تقدیرا ده په دی شان سره چه کله هم سراویل نحاتو په کلام العرب کښ غیر منصرف او مندو او غیر منصرف خو هغه وی چه پکښ علتان وی او یا یو علت چه قائم مقام د علتین وی او دی کښ خونه دوه شته دے او نه یو چه قائم مقام د دوه و شی خکه داخو اسم جنس دے یطلق علی القلیل و الکثیر نو دوئ مجبوره شول چه دا جمع تقدیری کړی چه قاعده محفوظه شی د جمع او بیائی ورله مفرد "سروالة" فرض کړو چه قطعة من الثوب ته وائی نو ګویا چه دی سراویل کښ (پرتوګ) داسی ډیر قطعات جمع دی او دا تری نه جوړ شوی دے.

سوال: تا اوئ چه د سراویل دپاره مفرد سروالة فرض او جمع ئې هم مفروض او مقدر شوه نو دا مفرد ورله حقيقي ولې نه وائې چه فرض وائې.

جواب: دامو ځکه فرض کړو چه دا سروالة په معنى د قطعة من الثوب راځي نه قطعة من السراويل نو "ما" د سراويل دپاره قطعة کړه مفروضا.

سوال: چه سراويل عربي شي نو هم حمل على الموازن اوکړه کنه .

جواب: چه دا عربي شو نو داهم په منزله د متوطن شو او متوطن خو د متوطن نه تابع کيږي "و اذا صرف فلا اشكال" غرض د مصنف دوېم مذهب ذکر کول دي چه دا منصرف دے ځکه چه تحة ... تحقيقا نشته نو اصل خو اسماؤ کښې انصراف دے نو په خپل اصل باقي شو.

فلا اشكال باندې سوال راځي چه دلته دالا لنفي الجنس ده نو مطلب دادے چه بالکل إشکال نه راځي او حال دادے چه اشکال خو راځي په دې شان سره چه کله دا سراويل منصرف مفرد دے نو دايه وزن د مصابيح او اناعيم دے چه هغه وزن د منتهى الجموع دے نو هغه جمع ده اويه وزن د مفرد شوه او قانون دادے چه جمع په وزن د مفرد شي نو دا سبب ضعيف ګرځي د وجې د مشابهة نه د مفرد سره لکه قرازنة په وزن د کراهية سره نو دا خو اشکال شته دے چه دا دې سبب د عدم انصراف نه شي.

جواب: شارح کوي "بالنقض على" حاصل دادے چه مراد هغه اشکال دے چه دا قاعده ورسره منضوطة شي او دا اشکال ددې قبيل نه نه دے او بيا ددې اشکال نه دوه جوابونه دي (۱) ځوک وائي دا عجمي دے نو جمع په وزن د مفرد عجمي باندې نه کمزوري کيږي (۲) چه ځوک وائي عربي دے نو وائي چه دا نادر الوقوع دے او قليل دے او ضعف او فتور راځي خو چه دا مفرد کثير وي لکه کراهية او طواغية چه د اکثير وو

﴿و نحو جوارٍ رفعًا و جرًا﴾ دلته څو خبرې اجمالي ملحوظ کول ضروري دي (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت (۳) وضاحت او تشريح د عبارت د ماتن (٤) بيان الاختلاف او دهغې تفصيل .

(ربط): معنوي ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د حکم دهغې جمع نه چه جمع نه وه حقيقة بلکه وزن د جمع وو لکه حضاجر او سراويل نو شروع ئې وکړه په هغه جمع کښې چه حقيقة جمع ده خو وزن ئې د جمع نه دے لکه جوار شو ځکه وزن خو دادے چه د الف نه پس به دوه حرفه وي او دلته خو يو حرف دے.

(ربط لفظي): خو دادے چه نحو مضاف او جوار مضاف اليه دا مبتداء شوه او کقاض جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر ، مبتداء خبر جمله خبرية اسمية شوه.

(مقصد د عبارت): شارح د ماتن د عبارت مقصد بیانوی چه هر هغه جمع منقوصه چه په وزن د فواعل وی برابره ده که واوی وی لکه دواعی او که ئی لکه جواری نو په حالت د رفع او جر کښ فی حکم د قاض پشان دے او دغه شان په دی حکم کښ هر مفرد منقوص چه علم شی دپاره د مرأة نوهم دے او د علمیت او د تانیث د وجی نه به داغیر منصرف وی.

(وضاحت او تشریح د ماتن د عبارت):ماتن اوی رفعا و جرا او شارح وانی فی حالتی الرفع و الجر غرض د شارح علت د نصب د رفعا او جرا بیانوی چه دا بناء بر ظرفیة منصوب دی

سوال: دا رفعا او جرا خو نه ظرف زمان دے او نه مکان

جواب: دایه حذف د مضاف سره دی چه مضاف ورله حالتی دے او هغه ظرف مکان دے نو بیا په قطع د ترکیب اضاق کښ مضاف حذف شو نو دا مضاف الیه دهغی قائم مقام شو نو دهغی په اعراب سره معرب شو چه نصب وو او شارح ورسره دا کلمه د فی راوړه اشاره ده شرط د نصب د ظرف زمان ته ځکه چی دایه تقدیر د فی سره وی نو شارح ورله دا ښکاره کړه چه شرط پکښی موجود دے اما داخبره چه عامل پکښی څه دے نو هغه ورله معنوی دے چه دکاف د کقاض نه معلومیږی او هغه مشابهة دے نو عبارت به شی و نحو جوار یشبه فی حالتی الرفع و الجر بقاض یا یشبه بقاض فی حالتی الرفع و الجر.

سوال: دا تشبیه د جوار د قاض سره صحیح نه ده ځکه جوار جمع ده او قاض مفرد دے.

جواب: دا تشبیه په افراد او جمعیة کښ نه ده بلکه "حکمه حکم قاض" په حکم کښ ده .

سوال: دا تشبیه په حکم کښ هم صحیح نه ده ځکه حکم د قاض انصراف دے بالاتفاق اوپه حکم د جوار کښ اختلاف دے عند البعض منصرف او عند البعض غیر منصرف دے.

جواب: "بحسب الصورة" ... تشبیه په صورة کښ ده.

سوال: دا تشبیه د صورة د جوار د قاض سره هم صحیح نه ده ځکه چه جوار په وزن د فواع دے او قاض په وزن د فاع دے.

جواب: "فی حذف الیاء عنه". یعنی څنګه چه د قاض نه په حالت د رفع او جر کښ یاء حذف ده او تنوین پری راغلی دے نو دغه شان جوار هم دے نو دا تشبیه په حذفیة د یاء او د إدخال د تنوین کښ ده.

تقول سره غرض بیانوی د شارح مثال بیانوی و"اما فی حالت النصب". غرض د شارح یو خو د رفعا او جرا قید فائده چه په حالت نصبی کښ څه اشکال نشته بلکه بالاتفاق غیر منصرف دے او دویم غرض دفع د سوال ده چه تا صرف دا رفعا او جرا حالت ولی خاص کړل "فانه

قد اختلف فیه" دلته نه خلورمه خبره دا چه بیان الاختلاف دے نو دلته "لا" بدی ده د معرفه د امور خمسونه یو

(۱)(تحریر د محمل النزاع):نو په جوار کښ دوه صورته دی یو کښ اتفاق او بل کښ اختلاف دے اتفاقی صورت دادے چه هر هغه وزن د منقوص چه په حالت نصبی کښ وی نو دا بالاتفاق غیر منصرف دے او اختلافی صورت دادے چه دا وزن د فواعل منقوص په حالت رفعی او جری کښ څه دے منصرف یا غیر منصرف

(۲)(دویم تعین د مختلفینو) :په دی مسئله کښ مشهور مذاهب دری دی (۱) زجاج (۲) مبرد (۳) سیبویه او خلیل صیب.

(۳)دریم دعاویهم:زجاج دعوی داده چه دا نمونه صیغه چه جوار دے مثلا په حالت رفعی او جری کښ دابه منصرف وی مطلقا یعنی قبل الاعلال او بعده او دا تنوین پری تنوین د تمکن دے (۲) د مبرد د عوی داده چه دا نمونه صیغه په حالت رفعی او جری کښ مطلقا غیر منصرف ده یعنی قبل الاعلال او بعده دواړه او دا تنوین پکښ عوض دے د حرکت نه (۳) د سیبویه صیب او خلیل دعوی ده چه دا نمونه صیغه قبل الاعلال منصرف ده په دی دوه احوالو کښ او بعد الاعلال غیر منصرف ده په دی دوو احوالو کښ او دا تنوین عوض دے د یاء نه (۴)(خلورم دلائل د دوی) (۱) زجاج دا خبره کوی چه دا اعلال تعلق ساتی دجوهر او ذات د کلمه سره او عدم انصراف تعلق ساتی د احولو د کلمه سره اوګوم چه تعلق ساتی د ذات او جوهر د کلمه سره دامقدم وی په هغه باندی چه تعلق ساتی د احوالو د کلمه سره نو دلته به اول په جواری بالتنوین کښ دا ضمه په دی یاء باندی ثقیله وه په حالت د رفع کښ او کسره په یاء ثقیله ده په حالت د جر کښ نو مونږ هغه ضمه او کسره دیاء نه حذف کړه نو جوارین پاتی شو نو بیا اجتماع د ساکنینو راغله په درمیان دیاء او د تنوین کښ نو حرف علت په اجتماع د ساکنینو کښ حذف کولی شی نو یاء حرف علت حذف شو نو جوار پاتی شو څکه هغه تنوین چه تابع د ضمه وو په حالت د رفع کښ او د کسره وو په حالت د جر کښ هغه اوس تابع شو د کسری د راء په جوار کښ نو حاصل داشو چه قبل الاعلال خو عدم انصراف نشته دے بلکه اعلال مقدم دے نو منصرف به وی او بعد الاعلال خو وزن د منتهی الجموع نه دے نو څکه به منصرف وی. او تنوین هغه زوړ تنوین دے چه د تمکن دے.

سوال: تا اوی چه اعلال مقدم دے په عدم انصراف باندی نو دا اعلال خو په انصراف هم مقدم دے څکه داهم د احوالو د کلمه سره تعلق ساتی نو ته ورته څنګه منصرف وائی قبل الاعلال .

جواب: (۱) روره انصراف هم جوهر د کلمه سره تعلق ساتی (۲) روره دلته یو قانون دے مونږ په هغی عمل کړی دے هغه قانون داسی دے چه ارتفاع د نقیضینو او اجتماع د نقیضینو

دواړه ناروا دی نوکه مونږ ورته قبل الاعلال منصرف ونه وایو نو لازم به شی ارتفاع د نقیضینو او داناروا ده.

سوال: نو بیا عدم انصراف ورته او وایه قبل الاعلال او انصراف رفع کړه نو هم به دا ارتفاع د نقیضینو نه بچ شی.

جواب: اصل په اسماؤ کښې انصراف دے او عدم انصراف خلاف الاصل دے نو دا انصراف مو ځکه مختار کړو چه مرجح ورله موجود وو. دا شو اول مذهب د زجاج

مبرد داخبره کوی چه قبل الإعلال خو ځکه غیر منصرف دے چه وزناً په خپل حالت باقی دے چه صیغه د منتهی الجموع ده او جمع هم ده نو شرط او مشروط دواړه دی نو ځکه غیر منصرف دے او بعد الاعلال ځکه غیر منصرف دے چه المحذوف کالملفوظ یعنی وزن حکما باقی دے نو ځکه غیر منصرف دے.

سوال: چه کله مطلقا غیر منصرف دے نو دا تنوین پری څه کوی.

جواب: دا تنوین عوضی دے یاء او د حرکت دهغی نه عوض دے او ممتنع په منع صرف کښې تنوین تمکن دے نه عوض

سیبویه او خلیل وائی چه قبل الاعلال به منصرف وی ځکه چی دا عدم انصراف تعلق ساتی د احوالو سره او اعلال تعلق د ذات او جوهر د کلمه سره او بعد الاعلال به غیر منصرف وی ځکه چه وزن حکما باقی دے لان المحذوف کالملفوظ او تنوین به عوضی وی. اعتراض چه کله قبل الاعلال وزن حقیقةً موجود دے نو تاسو ورته منصرف وائی او چه کله بعد الاعلال وزن حقیقة نشته بلکه حکماً دے نو تاسو ورته غیر منصرف وائی پکار عکس وو ځکه قبل الاعلا قوی دے او بعد الاعلال ضعیف دے.

جواب: صحیح خبره ده چه قبل الاعلال قوی دے او بعد العلال ضعیف خو قبل الاعلال وزن سره مانع هم دے او بعد الاعلال ضعف سره مانع نشته چه اعلال دے نو هغه وزن چه قوی وی مع المانع داغیر معتبر دے دهغه وزن نه چه ضعیف وی خو بدون المانع وی.

(۵)(پنځم ترجیح دما هو الراجح):. نو دا دریم مذهب چه د سیبویه او خلیل دے دا غوره مذهب دے ځکه چه نه پکښې افراط شته او نه تفریط او دانور دوه مذاهب د دی نه خالی نه دی خو دا ددری مذاهب مشهور دی او شارح به یو بل مذهب څلورم اخیر کښې بیان کړی خو صحیح نه دے اوس دی عبارت کښےلږ اختصار دے دهغی تفصیلا به څه داشان وی.

شارح دا مذاهب دری واړه راغستی دی خو مختصرا په دی شان سره چه اول مذهب ئې پوره پوره بیان کړی دے او دویم مذهب کښې بعد الاعلال والاصورة رانقل کړی دے او قبل الاعلال

تری نه معلومیږی ځکه چه وزن حکما معتبر دے نو قبل الاعلال خو وزن حقیقةً دے نو دا به په طریقه اولی معتبر وی او دریم مذهب دپاره دلیل بیا بیانوی د "ولهذا لایجری" سره چه حاصل ئی دادے چه المحذوف کالملفوظ ځکه دے چه په دی کلمة د راء په جوار کښ اعراب نه جاری کیږی ځکه اعراب په اخیری حرف جاری کیږی او دا اخیری نه دے بلکه هغه یاء ده نو په حالت د حذف دیاء کښ هم اعراب په راء نشی راتلی یعنی اخیری حرف نه شی حسابولی نو معلومه شوه چه هغه یاء محذوفه اوس هم معتبره ده بیا شارح وائی چه "والتنوین فیه" وای دا تنوین عوضی دے دیاء او یا د هغی د حرکت نه یعنی جواری بدون التنوین کښ چه کله دیاء نه ضمه حذف شوه نو عوضا تری تنوین راغی نو التقاء د ساکنینو راغله او بیا یاء حذف شوه نو جوار شو ځکه تنوین د اخیری حرف د حرکت تابع وی نو د کسری تابع شو او یا دا تنوین عوض د یاء محذوفی نه دے نو دلته لږ خدشة ده په دی شان سره چه کله دا جواری بالضمه بدون التنوین وو نو اول دا حرکت حذف شو نو جواری بدون الحرکت و التنوین پاتی شو نو بیا .

سوال: دا راځی چه اوس ته تنوین دیاء نه عوض راوړی نو یاء خولا حذف شوی نه ده نو تنوین ترے څنګه عوض مخکښ راوړی؟

جواب: حاصل دادے چه زه اول تنوین راوړم خو عوضا نه بلکه دپاره د حصول د التقائے ساکنینو چه دایاء د اخیر نه حذف شی او چه کله دایاء حذف شوه نو بیا دی تنوین ته عوضی وایم دیاء نه ځکه خو دوئ وئیلی دی چه دا تنوین عوض د حرکت نه بهتره خبره ده او دیاء نه بهتره خبره نه ده. دا تفصیل ټول د دویم مذهب دے ځکه دوی ورته مطلقا غیر منصرف وائی او دریم مذهب شارح نه دی ذکر کړےخو داهم التزاماً معلومیږی یعنی اکتفاء د اول او دویم مذهب نه اوپه بناء د دریم مذهب به دا تنوین عوض وی صرف دیاء نه نه د حرکت نه. فتدبر فی هذا المقام لیتبین لك الحق. "و فی لغت بعض العرب" غرض د شارح په دی عبارت سره څلورم مذهب غیر مشهور ذکر کول دی. حاصل ئی دادے چه د دوی مذهب د دویم مذهب پشان دے خو فرق صرف دومره دے چه دوی حالت جری پشان د حالت نصبی ګرځولی دے او اعلال ئی صرف په حالت رفعی کښ کړی دے نو دوه و احوالو کښ به اعراب لفظی وی او یو حالت کښ به تقدیری وی دا بناء په اعلال باندی چه یو حالت کښ اعلال شوی دے نوره خبره ټوله د مذهب ثانی ده صرف داخبره ده چه دوی وائی چه داحالت نصبی او حالت جری به یو شان وی دا ځکه چه دا حالت جری به د حالت نصبی تابع وی کما قلنا فی اصناف اعراب الاسم فی اعراب غیر المنصرف. تدبر. بیا ناګت د شارح د دی قول لاندی چه وفی بعض لغة العرب دے لیکلی دی چه وهی قبیحة نو وجه د قبیح ئ داده چه دا مذهب د ماتن مخالف دے ځکه ماتن خو وئیلی دی چه رفعا و جرا په شان د قاض دے او قاض کښ صرف حالت نصبی کښ اعلال نه دے شوی او دا جوار هم داسی دے چه صرف حالت نصبی کښ

رلا اعلال وی او دوی خلاف اوکړو چه په حالت جری کښی ورسره هم بدون الاعلال اوکړخو نو دا قبیح مذهب شو. ترجمه اسانه ده.

(الترکیب شرطه العلمیة): اجمالی خبری نه دی عنوان کښی (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) اقسام الترکیب (۵) تعیین د ماهو المراد ههنا فی اقسام الترکیب (٦) وجه د حصر په اقسامو کښی (۷) شرط د تاثیر دپاره د ترکیب (۸) مثال دپاره د توضیح

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د شپږو اسبابو د غیر منصرف نه نو شروع ئی اوکړه په اووم شپے چه ترکیب دے نو قال الترکیب دری سوالات راغلل جوابات دادی اول نه هر مرادا ده نه چه دی مقام کښی خکه چه اجمال کښی دی مقام کښی وو او تفصیل چه سوافق شی د اجمال نه نو دی کښی وی جمال او اجمال کښی خو یاه د ضرورة شعری نه په دی اووم خائے کښی او یا داپه نسبة سره "ما" قبل ته ضعیف او غیر قوی وو او په نسبة سره "ما" بعد ته قوی وو په دی شان سره چه "ما" بعد لری نه الف نون مزیدتین دی او زائد دی او ترکیب کښی زیادة نشته دے نو غیر زائد قوی وی په اعتبار د زائد نو چه مشتمل وی په زائد هغه هم غیر قوی وی. تدبر.

او دریم سوال نه جواب دادے چه اول به التعیین د سبب اوکړی په "الترکیب" سره دویم به بیا شرط وجودی ذکر کړی د "شرطه" سره دریم به دوه شرطین عدمیین ذکر کړی "وان "لا" یکون سره خلورم به مثال بیان کړی "بعلبك" سره. ربط لفظی دادے چه الترکیب مبتدا ده او باقی مانده خبر نو مبتداء خبر جمله خبریه اسمیه شوه.

(لغوی تحقیق): لابد من معرفة ثلاثة امور فیه (۱) صیغة د مصدر ده د باب تفعیل نه (۲) معنی ئی وضع الشئ علی الشئ ده (۳) مناسبة دادے چه ترکیب مصطلح کښی هم یوه کلمه په جنب د بلی کلمه کښیے وضع شی یعنی یا فاعل شی چه "ما" قبل کلمه فعل وی وغیره او یا معنی لغوی ئی یو خائے کول دی نو مصطلح ترکیب کښی هم یو کلمه د بلی سره یو خائے شی.

(اصطلاحی تعریف):شارح ورله اصطلاحی تعریف کړی دے وهو سره یعنی په دی کښی دوه کلمے یازیات د دوه کلمونه یوه گرطوله خو بغیر دجزئیة د حرف نه دلته اعتراض راتلو (۱) دا ترکیب د اسبابو نه شمیرل صحیح نه دی خکه اسباب د منع صرف خو د قبیلی د صفاتو د اسم نه دی او دا ترکیب خو صفة د متکلم دے په دی شان سره چه جعل الکلمتین الخ ته وائی او جعل صفة د متکلم دے (۲) دغه شان دا اسباب خو صفات داسم دی او ترکیب خو صفة د اسم نه دے بلکه د مرکب دے او اسم خو مقابل د مرکب دے په دی شان سره چه قسم داسم دےاواسمقسم د کلمه دے او کلمه کښی افراد دے یعنی مفرد به وی او مرکب خو د مفرد مقابل وی. (۳) دغه شان داهم صحیح نه ده چه ترکیب دی د منع صرف دپاره سبب شی

ځکه چه النجم، بصری چه کله علمین شی نو دا خو مرکب دی د الف لام او نجم نه او بصری د بصره او یاء نسبتی نه او دا خو غیر منصرف نه دی.

جواب: "صیرورة الکلمتین" حاصل دادے چه جعل نه وایو بلکه صیرورة وایو دا صفة د متکلم نه دے بلکه دا صفة د اسم دے نو اول اعتراض دفع شو. او بیا وایو چه دوه کلمې او یا سوا کلمې یوه کلمه شی نو یوه کلمه مفرده شوه نو مقابل د اسم نه شوه دویم رفع شو او دریم نه دا جواب دے چه من غیر جزئیة حرف چه جزئیة د حرف به نه وی نو په النجم او بصری کښې حروف دی. بیا دا عبارت د شارح چه "من غیر حرفیة جزء" دے نو دامن غیر جزئیة حرف پکار وو نو بیا خو غلطی د کاتب ده او یا داپه قلب سره دے.

(اقسام): نو مرکب په شپږ قسمه سره دے (۱) مرکب اسنادی (۲)مرکب اضافی (۳) مرکب توصیفی (٤) مرکب صوتی (٥) مرکب بنائی (تعدادی) (٦) مرکب منع صرف (امتزاجی).

"تعین د "ما" هو المراد":دلته دا اخیری قسم مراد دے چه مرکب منع صرف، امتزاجی دے.

(وجه د حصر فی الاقسام): دا کلمتین به خالی نه وی یا به پکښې نسبة وی او یانه که نسبة پکښې نو بیا به خالی نه وی یا به دا نسبة تام وی او یا ناقص که دا نسبة تام وو نو دا مرکب اسنادی اوکه دا نسبة ناقص وو نو بیا به خالی نه وی یا به جزء ثانی د جزء اول وضاحت کوی او یا نه که وضاحت ئی کولو نو مرکب توصیفی او که نه کولوئی نو مرکب اضافی اوکه نسبة بین الکلمتین نه وو نو بیا به خالی نه وی یا به جزء ثانی صوت وی یا نه که صوت وو نو مرکب صوتی او که جزء ثانی صوت نه وو نو بیا به خالی نه وی یا به متضمن حرف لره وی او یا نه که جزء ثانی متضمن حرف لره وو نو مرکب بنائی (تعدادی) او که نه نو منع صرف (امتزاجی).

(شرط د تاثیر): شرطه غرض د ماتن شرط وجودی ذکر کول دی دپاره د ترکیب سوال: تاچه کوم تعریف د مرکب کړی دے نو دانه موجود پړی مګر علم نو بیا ځنګه علمیة شرط کوی دا خو د مخکښې نه علم دے.

جواب (۱) دانه ملو چه دابه د علمیة سره خاص وی کیدے شی چه اول علم وی او بیا پکښې معنی جنسی راشی او یا عکس. (۲) او که اومنو چه دا د علمیة سره خاص دے نو دا شرط د علمیة دلته دپاره د تحقق دے نه د تاثیر یعنی دامرکب به متحقق وی په علمیة کښې نو سوال په تاثیر راځی. "لیامن من الزوال" غرض د شارح دلیل د شرطیة ذکر کوی حاصل ئی دادے چه دا علمیت ځکه شرط شو چه د زوال نه بچ شی نو قوی به شی نو سبب د عدم انصراف به شی ځکه انصراف اصل دے او عدم انصراف خلاف الاصل نو د خلاف الاصل دپاره قوی او مضبوط سبب نه "لا" بدی ده نو هغه علم وو ځکه اعلام بقدر الامکان د تغیر نه محفوظ ی"وان "لا" یکون" غرض د ماتن عدمی شرطونه بیا نول دی نو وای مرکب اضافی او

اسنادی به نه وی مرکب اضافی خو ځکه چه اضافة خو مضاف لره د عدم انصراف نه انصراف ته راولی او یا حکم د انصراف ته بناء بر اختلاف مذهبین دلته ترجمه داسی ده چه فکیف "تؤثر" نو ځنګه به اثر اوکړی دا اضافة په مضاف الیه کښې "ما یضاده" په هغه کښې چه هغه ددی مضاف الیه ضد وی اعنی منع الصرف چه قصد کوم زه منع صرف یعنی دا مضاف الیه به منصرف وی او دا مضاف چه دے نو دا به غیر منصرف وی نو د منع صرف اثر چه دا ضد د مضاف الیه دے دابه څنګه اوکړی اثر یعنی اجتماع د ضدینو به شی۔

سوال: اجتماع د ضدینو خو په شئ واحد کښې ناروا ده او دلته خو دوه شیئان دی یو مضاف دویم مضاف الیه نو اضافة دی اثر د انصراف اوکړی په مضاف کښې او مضاف الیه کښې عدم انصراف.

جواب: مرکب اضافی چه کله علم وی نو داپه حکم دیوه کلمه کښې وی نو ځنګه چه حقیقة کلمه واحده کښې اجتماع د ضدینو ناروا ده نو دغه شان په هغه کلمه کښې چه حکماً یوه وی نو اجتماع د ضدینو پکښې ناروا ده. "ولا اسناد" داپه "ما" قبل باندی عطف دے او دا بل عدمی شرط دے حاصل دادے چه اعلام نسبتیة یعنی چه اسناد تامه پکښې وی نو هغه مبنیات دی او عدم انصراف خو د قبیلی د معرب نه دے چه دا ضدد مبنی دے نو بیا خو به اجتماع د ضدینو راشی او شارح ورله وجه د بناء هم بیان کړی ده حاصل ئی دادے چه دا مخکښې د علمیة نه او بعد د علمیة نه به په خپل حال وی ځکه چه په دے کښې یوی قیصی عجیبی ته اشاره وی نوکه دا معرب شی او تغییر پکښې راشی نو بیا هغه دلالت په قصه غریبه فوت کیږی لکه تأبط شرًا او شاب قرناها وغیره. اوپه دی وجه دا مقوله دیو سړی چه یو ښځی ته ئی اوی چه هغی لره ئی طلاق ورکړی وو نو هغی تری نه طلب دشو دو او کړونو هغه ورته اوی قد ضیعت اللبن بالصیف نوداپه ضمیر د مونث سرهدے دا اوس ضرب المثل ګرځیدلی دے په هغه کار کښې چه څوک پکښې تلوار اوکړی او مقصد تری نه فوت شی نو هغه ته هم دا وئیلی شی نوکه مذکر وی نو هم ورته په ضمیر د مونث سره وئیلی کیږی چه دلالت په هغه اوکړی چه کوم تری نه مقصود وی.

اما داخبره چه ماتن په امالی الکافیة کښې کړی ده چه دا د قبیلی د مبنیاتو نه دی نوپه هغے باندی عبد الحکیم صاحب رد کوی چه دا د إعراب تقدیری د قبیلی نه دی او مبنیات نه دی نو هغه سره مونږ څه کارنه لرو خو دا د دی قید فائده وه. "فان قلت" غرض د شارح سوال دے په ماتن باندی چه دا عدمی شروط ناقص دی بلکه دوه قیدونه ورسره نور هم پکار وو یو قید ورسره داپکار وو چه وان "لا" یکون الجزء الثانی من المرکب صوتا او دویم قید "ولا متضمنا لحرف العطف" چه مرکب صوتی او بنائی تری نه خارج شی ځکه داهم معرب نه دی لکه سیبویه او خمسة عشر و غیره. "قلنا" سره شارح جواب کوی (۱) جواب حاصل دادے چه عادت ٔلا مصنف جاری دے په دی خبره چه اکتفاء د سابق نه په لاحق کوی او کله عکس هم

نو دلته دا مرکب صوتي او بنائي راروان دي په مبنياتو کښې نو دلته پرې اکتفاء کوي او هر چه مرکب اسنادي نو دابل ځائے کښې له دے ذکر نو دلته ئې ذکر کړو (۲) ضرورة نشته خارجولو د مرکب صوتي او بنائي ته ځکه مرکب خو مونږ اوي چه صيرورة الکلمتين او اکثر دے او صوتي خو کلمتين نه دے ځکه يوه کلمه ده پکښې او بل صوت دے کلمه نه ده او مرکب بنائي کښې حرف عطف دے چه واو دے نو هغې نقصان بين الکلمتين راوستی دے نو کلمه واحده ترې نه نه ده جوړه شوې

سوال: د مرکب توصيفي دپاره هم يو قيد پکار وو چه دا ترې نه خارج شي کنه.

جواب: دا ترې نه خارج دے په قيد د ان "لا" يکون سره په دې شان سره چه ځنګه په ترکيب اضافي کښې جزء ثاني قيد د جزء اول دپاره وي دغه شان په مرکب توصيفي کښې هم جزء ثاني د جزء اول دپاره قيد وي نو دامرکب توصيفي چه دغه قيد کښې مشترک دے د اضافي سره فرق دادے چه مرکب توصيفي کښې ثاني وضاحت کوي او اضافي کښې نه کوي نو چه هغه اضافي ترې نه خارج شو نو دا ترې نه په طريقه اولي سره خارج شو.

جاءني بعلبك رايت بعلبك و مررت بعلبك معرب به شي په اعراب د غير منصرف سره د جزء ثاني او دا بهتر قول دے او اول جزء کښې اختلاف دے

(الالف والنون ان کانتا). په داسې عنوان کښې لابدي وي د څو خبرو اجمالي وڼه نو اجمالي خبرې يو (۱) ربط (۲) تشريح د عنوان (۳) وضاحة بالمثال .

(ربط): معنوي ربط خو دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصيل د اوو سبابو د عدم انصراف نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د اتم سبب دنهو اسبابو کښې نو قال الالف والنون درې سوالات راغلل بالترتيب جوابات اول نه جواب دے چه نفس تفصيل ځکه کوي چه تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي يا دا تفصيل ته محتاج وو و تر دې حده چه پورې ئې تفصيل نه دے شوې نو تفصيل ئې پکار وو او دويم سوال نه جواب دے چه په دې مقام کښې ځکه تفصيل کوي چه په اجمال کښې په دې مقام کښې وو نو تفصيل هم دې مقام کښې کوي چه اجمال او تفصيل موافق شي او هلته په اجمال کښې ځکه په اووم مقام کښې وو چه يو خو ضرورة شعري وو او دويم داپه نسبة سره "ما" قبل ته ضعيف اوپه نسبة سره "ما" بعد ته قوي وو د ضعف وجه تير سبق کښې ده او قوي داسې دے چه دا الف او نون ملحق دي د اسم سره او هغه اسم په دې بانډې مشتمل دے نو هغه کښې اثر د غير د وجې نه نه دی شوې چه دهغې قسيم وي او مقابل وي چه فعل دے او روستو چه کوم سبب دے نو دا اسم دے او اثر ئې د غير نه چه د دې قسم دے او مقابل دے چه فعل دے نو دهغې نه ئې اثر اخستی دے او دهغې د وجې نه اثر کوي نو هر هغه چه هغه کښې اثر د غير نه نه وي شوې دا قوي دے د هغه نه چه اثر پکښې د غير نه شوې وي او دريم سوال نه جواب داسې

دے چه تفصیل داسې کوی چه اول به تعیین د سبب از کړی په " الالف والنون" سره دویم به ورله دوه قسمین په اعتبار د محل سره ذکر کړی په "ان کانتا" سره دی دریم به ورله شرط د تاثیر په دوارو کښ بیان کړی د "فشرطه" سره څلورم مثال د قسم اول به بیان کړی "کعمران" سره پنځم به بیان الاختلاف اوکړی په شرطیة د قسم ثانی کښ په "قیل" سره شپږم به دوارو باندې په تفریع اوکړی چه مشتمله به وی په امثله و ثلاثو باندې دوه امثله به اتفاقی وی او یو اختلافی "ومن ثم" سره.

(تشریح د عنوان):ماتن اوی الالف و النون شارح وائی "المعدودتان من" الخ غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه دا خبره نه منم چه الف نون سبب د غیر منصرف دی ځکه چه په "حسان" کښ داشته دے او منصرف دے.

جواب دا الف نون دا نفس کلمه دی او دلته مراد هغه دی چه هغه زائده وی ځکه الف لام عهدی دے او باسولی وائی چه دلته غرض د شارح یو اشاره کول دی چه الف لام عهدی دی او دویم غرض د شارح دفع د وهم کوی چه مراد به د الف نون نه غیر د اجمال والا وی نو بیا خو د اجمال سره موافقة نشته نو شارح دا وهم دفع کړو چه هم هغه مراد دی. او منشا د دی وهم داده چه هلته ئی الف نون په یو انداز ذکر کړی وو او دلته ئی په بل انداز ذکر کړل فانظرهما "تسمیان مزیدتین" غرض د شارح په دی عبارت سره یو دفع د سوال: ده چه اسباب د منع صرف او صافی دی او الف نون خو ذوات دی نو د اسبابو نه ئی شمیرل صحیح نه دی.

جواب. دا الف نون سره یو قید دے د مزیدتین دے نو دا زیادة وصف دے او یا دا مضارعین یعنی مشابهین دی نو دا مشابهة هم وصف دے نو شمیرل ئی صحیح شول. دویم غرض هم دفع د سوال دی چه موثر اوی چه هر سبب دا فرع د بل شئ ده نو داد څه فرعه ده.

جواب: شارح اوی چه تسمیان مزیدتین چه د الف نون فرع د مازید تا علیه دی او یا مضارعتین نو دا مشبه او الفان ورله مشبه به ده نو دا د مشبه به فرعه ده. اما وجه د تسمیه ظاهر ده مضارعتین ورته ځکه وائی چه دایه معنی د مشابهة سره دے او داهم د الفی التانیث سره مشابهة ساتی او مزید تین ورته ځکه وائی چه یاخو دا د حروف زوائدو نه دی چه په دی مقوله کښ مذکور دی. هویت السمانا چه دا د شعریو تکړه ده مکمل شعر

هویت السمانا فیشیبنی وقد کنت قدما هویت السمانا (مراح)

یا دا قولان هم دی (۱) سالتمونیها (۲) الیوم تنساها

اویا ورته ځکه مزیدتین وائی چه دا د فاء، عین، لام کلمه مقابله کښ نه دی. اوس دلته دا تشبیه ذکر ده لو چرته چه تشبیه وی نو هلته لابدی وی دامور اربعو نه (۱) مشبه لکه الف نون (۲)

مشبه به لکه الفی التانیث (۳) ادات التشبیه لو دا کله ذکر چه مثل، نحو، اوکاف تشبیهی دی او کله حذف لکه دلته (٤) وجه د تشبیه او هغه دلته عدم د خول د تاء دے علیها (الفی التانیث) الف نون مزیدتین) "و للنحاة خلاف" غرض د شارح بیان الاختلاف ذکر کول دی چه ایا سبب د عدم انصراف دا زیادة دے او که دا مشابهة دے نو دوه مذهبه دی یو مذهب د کوفیانو دے چه هغو والی چه دا زیادة سبب دے او دویم مذهب د بصریانو دے چه هغو والی دامشابهة سبب دے بیا شارح والی چه دا دویم قول راجح دے وجه داده چه په اول اعتراض راځی په دی شان سره چه په ندمان کښ الف نون مزیدتین شته دے او منصرف دے بالاتفاق نو معلومه شوه چه دا زیادة سبب نه دے بلکه دا مشابهة دے او دی کښ مشابهة نشته دے خکه تاء پری داخلیږی لکه ندمانة "ان کانتا فی اسم" غرض د شارح تقسیم کول دی قسمینو ته باعتبار المحل نو دوه قسمه دی. یو هغه چه الف نون اسم کښ وی لکه عثمان وغیره دویم داچه په صفة کښ وی لکه سکران وغیره یعنی "ما یقابل" غرض د شارح دفع د سوال ده چه ماتن اوی ان کانتا فی اسم او بیا روستو والی چه او صفة یعنی داپه دی اسم عطف کوی او هغه ورله معطوف علیه گرځوی نو په مابین د معطوف او معطوف علیه کښ خو مغائرة وی دلته مغائرة نشته خکه اسم هم مقابل د حرف او فعل راځی او صفة هم داسی وی، دویم دماتن کلام کښ تعارض او تدافع ده په دی شان سره چه اول شرط د علمیت والی او روستو ورله شرط د انتفاء د فعلانة یا وجود د فعلی والی نو داخو یو اسم دے او شرط یو خائے یو اوبل خائے بل دغه شان استدراك هم لازم شو.

جواب: اسم چه خنکه مقابل د فعل حرف راځی نو صفة هم داسی وی خو د اسم دلته مقابل د صفة دے او داسی چه وی نو مراد د اسم نه هغه دے چه جامد وی او مقابل د صفة وی یعنی مشتق نه وی نو مغائرة شته دے.

سوال: دااسم خو مشترك دے په خو معانیو کښ (۱) مقابل د حرف او فعل (۲) مقابل د کنیة، لقب (۳) مقابل د صفة راځی لوبه احستلو د یو معنی چه مقابل د صفة ده څه قرینه ده؟
جواب ذکر د صفة دے په تقابل د دی کښ او صفة سره "فالاول یسمی" سره تفریع کوی په دی "ما" قبل دوه قسمینو د الف نون "فشرطه العلمیة". غرض د ماتن په دی عبارت سره شرط د تاثیر ذکر کوی دپاره د قسم اول شارح والی "ای شرط الالف والنون" نو یو غرض د شارح تعین د مرجع کوی دویم دفع د سوال ده چه یو اسم به موجود وی او الف نون به پکښ نه وی لکه زید نو شرط خو نشته دے او مشروط شته دے.

جواب: شارح والی فی منعهما شرط د وجود نه دے مراد بلکه شرط د تاثیر مراد دے. بیا "وافراد" سره غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا ضمیر مفرد د شرطه څه ته راجع دے دری شقونه دی او دری وارډ باطل دی (۱) که صرف الف ته راجع شي نو نعل باقي کیږي (۲) که

صرف نون ته راجع شی نو الف به پاتی شی (٣) اوکه دواړو ته راجع شی نو مطابقة پکښ نشته ولا بد منها مطابقة ضروری او بهتر دے د مخالفة نه.

جواب: (١) په لسان د شارح چه دادواړو ته راجع کوم یعنی دریم شق اخلم او د اعتراض نه جواب داده چه دی دپاره دوه حیثیة دی. (١) باعتبار الذات او په دی سره تثنیة ده (٢) باعتبار السبب او په دی سره مفرد دے ځکه سبب واحد دے نو زه ئی باعتبار السبب راجع کوم.

سوال: کانتا کښ به دی هم د مفرد ضمیر په دی اعتبار راجع کړی وو کنه.

جواب: (١) دا نکات بعد الوقوع دی پکښ جامعیة صانعیة شرط نه دے چه هر ځائے به پوره پوره تحقیق وی (٢) النکة للفار "لا" للقار "او شرط ذلك الاسم" غرض د شارح دویم جواب کول دی د اصل اعتراض نه چه دا ضمیر زه دی اسم ته راجع کوم او هغه مفرد دے خو دا جواب قوی نه دے بلکه ضعیف دے وجه د ضعف ئے داده چه اختلاف د نظائرو خپلو نه پکښ اوشو په دی شان سره چه تولو نظائرو کښ به اول عنوان ذکر شو او بیابه ورته به شرطه کښ ضمیر راجع شو لکه مثلا الوصف شرطه. التانیث. شرطه وغیره.

(العلمیّة) شارح والی تحقیقا علت د شرطیة د علمیة بیانوی دوه مذاهب وو پکښ نو دکوفیانو په نزد د علمیت شرط شو ځکه چه دلازم شی ځکه دا زائده دی نوپه معرض د سقوط کښ دی او قانون دے کنه چه "والزائد احق بالحذف" نو بیا به کمزوری شی نو اسماءو کښ اصل انصراف دے او عدم انصراف ته راویستلو دپاره قوی سبب پکار دے نو دابه قوی شی خو چه لازم شی نو لزوم به د علمیة سره راشی ځکه اعلام بقدر الامکان محفوظ وی د تغییر او تبدیل نه تحقیقا للزوم زیادتهما عبارت دی سره لګی. دویم مذهب د بصریانو وو نو دهغو په نزد ع علمیّة شرط شو ځکه چه په الف نون باندی دخول د تاء ممتنع شی نو مشابهة به متحقق شی نو سببیة به پکښ قوی شی نو مشابهة به قوی شی په عدم دخول د تاء سره او عدم دخول د تاء به هغه وخت شی چه علمیة پکښ شرط شی ځکه چه اعلام الخ دی سره لیمتنع عبارت لګی "کعمران" سره مثال شو د دی قسم دپاره.

(او کانتا فی صفة). شارح ورسره کانتا ذکر کړو نو یو غرض د شارح ربط ذکر کول دی د "ما" قبل سره ربط لفظی چه دا عطف دے په اسم باندی او "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد وی په سر د معطوف کښ ځکه ورسره کانتا والی دویم غرض د شارح دفع د سوال ده چه داخو لازم شو عطف د شیئنو په معمولین دعا ملینو مختلفینو په حرف واحد سره او مجرور پکښ مقدم نه دے نو دا جائز نه دے ځکه تا اوی چه فی صفة نو دا عطف دے په فی اسم باندی او په دی کښ عامل کانتا دے نو دا خبر دے او خبر منصوب وی نو داهم منصوب شو محلا.

او بیا فانتفاء فعلانة عطف دے په العلمیة باندی او هغه کښې عامل ابتداء ده څکه خبر دے د شرطه مبتدا دپاره نو دا جائز نه دے څکه دلته مجرور مقدم نه دے څکه فی اسم مقدم دے او هغه خو منصوب دے څکه داخبر دے دپاره د کانتا په اعتبار د متعلق سره او خبر دهغی منصوب وی.

جواب: دا د دې قبیلې نه نه دے بلکه دا عطف د جملې شرطیه دے په جمله شرطیه باندی نو هلته ان کانتا فی اسم فشرطه العلمیة نو دلته هم داسې دے چه او ان کانتا فی صفة فانتفاء فعلانة. یا دا عطف د شرط په شرط یعنی ان کانتا فی صفة عطف دے په ان کانتا فی اسم باندی او عطف د جزاء په جزاء دے یعنی فانتفاء فعلانة عطف دے په فشرطه العلمیة باندی څکه ورسره شارح او کانتا فی مقدر راوباسو.

فانتفاء فعلانة دا شرط بیانوی دپاره د دویم قسم په یو مذهب سره چه مونث به ئې په وزن د فعلانة نه وی شارح وائي: "ان کان الالف والنون" غرض د شارح یو تعین د مرجع د ضمیر د کانتا کوی دویم غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا فانتفاء فعلانة عطف دے په فشرطه العلمیة جزاء باندی نوداهم جزاء ده او جزاء خو جمله وی او داخو مرکب اضافی دے جمله نه ده نو شارح ورسره فشرطه جواب راأباسو نو دا مبتداء شوه او فانتفاء فعلانة ورله خبر نو مبتداء خبر جمله جزاء شوه "یعنی امتناع دخول" دا دفع د وهم ده چه شرط به د وجود وی نو ندمانة خو منتفی نه دے او بیا هم ندمان راغلی نو داوهم دفع شو چه شرط د وجود نه دے مراد بلکه شرط د امتناع د دخول د تاء دے بیا شارح اوی دخول تاء التانیث نو دا دفع د سوال ده چه تا اوی انتفاء فعلانة شرط دے نو ته دا فعلانة په ضمه د فاء سره وائي او که په فتحه سره یوهم نه دے صحیح که په ضمه د فاء سره شي نو ندمان پکښې داخل شو څکه ندمانة راغلی دے خو د فاء ضمه نشته اوکه په فتحه د فاء سره شي نو عریان پکښې داخل شو څکه چه عریانة راغلی خو د فاء فتحه نشته او دا دواړه اسمونه خو بالاتفاق منصرف دی.

جواب: زما مراد انتفاء د فعلانة سره انتفاءد تاء ده ضمه او فتحه سره می کار نشته لیبقی مشابهتهما دا دلیل ذکر کوی چه دا شرط ولې شو او ولذا انصراف سره اشاره کول دی دی سابقه اعتراض و جواب ته او یا تفریع ده په "ما" قبل امتناع د دخول د تاء د تانیث په دی باندی "و قیل شرطه" غرض د مصنف بیان الاختلاف ذکر کوی په شرط د هغه کلمه کښې چه صفتی وی او الف نون پکښې راغلی وی نو دوه مذهبه دی پکښې یو مذهب والا وائي چه انتفاء د فعلانة به وی او دویم مذهب والا وائي چه وجود د فعلی به وی. دی قوم دا شرط د وجود فعلی دپاره د تقویة گرځولی دے. دلته هم شارح شرطه ذکر کړو اشاره ده چه وجود فعلی خبر دے دپاره د مبتداء محذوفه نو داده جمله ده څکه د مقوله د قیل ده او مقوله جمله وی.

"ومن ثم" شارح وائى اى ومن اجل اشاره ده چه دالثم اجليه دے او دا اخيرى خبره ده تفريع كول دى چه مشتمله ده په امثلو ثلاثو باندى،

سوال: ثم خو د اسماء اشاراتو نه دے او دا خاص دے د مكان سره نو دلته خو دا معنى ورله نه ده، دلته مكان چرته دے نو شارح،

قلنا اشارةٌ چه ومن اجل چه دا ثم دلته اجليه دے هر ځائے د مكان دپاره نه صلاحية د مكان لرى نو هلته دپاره د مكان وى او چه هر كله په دى باندى وى نو دا بيا اجليه وى، "اختلف فى رحمان".

سوال: ... خو په رحمان كښ څوك د مسلمانانونه نه كوى بلكه كافران كوى نو عند مسلمين خو په وجود د رحمان كښ اتفاق دے.

جواب: "فى انه منصرف" اختلاف په انصراف او عدم انصراف كښ دے نو دا رحمان په مذهب دهغه چا چه انتفاء د فعلانة شرط وائى نو عندهم غير منصرف دے ځكه رحمانة منتفى دے او په مذهب دهغه چاچه شرط ئى وجود دفعلى گرځولى دے نو عندهم منصرف ده ځكه ......نشته دا رحمان اول مثال وو اختلاف دون سكران دا دويم مثال دے په اتفاق سره دا غير منصرف دے ځكه وجود د فعلى شرط متحقق دے نو انتفاء د فعلانة هم دے "و دون ندمان" شارح ورسره لفظ دون مقدر راوباسو اشاره كوى چه دا عطف دے په سكران باندى نو "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وى په معطوف كښ او بيا دا دريم مثال اتفاقى دے چه دا منصرف دے ځكه ندمانة موجود دے و ندمى نشته دے نو اتفاقا منصرف شو. "هذا اذكان" غرض د شارح دفع د سوال ده چه داكافيه ماخوذ د مفصل نه ده او هغه ورله ماخوذ منه دے نو قانون خو دادے چه ماخوذ د ماخوذ منه نه خلاف كول ښه كار نه دے او دلته خو ندمان ته ابن حاجب صاحب د كافيه منصرف وائى او صاحب د كشاف او مفصل زمخشرى خو ورته غير منصرف وائى نو خلاف راغلى دے.

جواب: د ندمان معنى څه يوته ده بلكه دوه دى نوپه يو سره منصرف بل سره غير منصرف نو ابن حاجب ندمان په معنى د نديم سره اخستى دے چه په معنى د مصاحب او ملگرى سره دے او زمخشرى صاحب داپه معنى د نادم سره اخستى دے په معنى د پيښمانه پشيمانه سره نو د نديم نه ندمانة راځى او د نادم نه نه راځى نو په دى اعتبار بالاتفاق غير منصرف دے ځكه ندمى راځى نه ندمانة

(وزن الفعل شرطه آن يختص) اجمالى خبرى (١) ربط (٢)تشريح ددے عنوان (٣) شرط د تاثير (٤) وضاحة بالمثال.

ربط: معنوی ربط داد ے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د اته و اسبابو د منع صرف نه نو شروع ئې اوکړه په نهم سبب د غیر منصرف کښ چه وزن الفعل وو نو اولې ئے چه وزن الفعل، دری سوالات راغلل بالترتیب جوابات اول نه جواب مر غیر مرة دویم نه هم جواب مر مرارا دریم او اهم سوال نه جواب دادے چه اول په تعیین د سبب اوکړی د "وزن الفعل" سره دویم به شرط چه امرین به وی په طریقه د انفصال حقیقی سره ذکرکړی و شرطه" سره دریم امثله به ذکر کړی "کشمر" سره څلورم تفریع به اوکړی په امر د شرط ثانی ومن ثم سره.

ربط لفظی: (۱) وزن الفعل مبتداء موخره دپاره د خبر محذوف چه منها دے په اعتبار د متعلق سره (۲) وزن الفعل مبتداء او بعضها محذوف ورله خبر دے (۳) وزن الفعل مبتداء او باقی مانده ورله خبر نو جمله اسمیه ده.

تشریح د عنوان: شارح وائی و هو کون الاسم نو غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراضاتو دی. اعتراض (۱) وزن الفعل عبارة دے د هغه هیاة نه چه عارض ګرځی کلمې ته د ترتیب د حروفو ، حرکاتو او سکناتو نه او په دې تعریف سره دا ذات دے او اسباب د غیر منصرف خو اوصاف دی نو داسې بیب دپاره د عدم انصراف ګرځل ناروا دی (۲) دا وزن الفعل صفة دے دپاره د فعل او اسباب خو وصاف د اسم دی نه د فعل (۳) د ان یختص قید مستدرك دے ځکه چه د وزن اضافة دی فعل ته شوی دے او دا لامیه دے چه فائده د اختصاص ورکوی نو دا وزن د فعل پورې خاص دے ان یختص ته حاجة نشته دے نو شارح جوابات اوکړل په "وهو کون الاسم" سره چه کون وصف دے نو سبب ګرځل ئې صحیح دې او بیا ورسره الاسم اوی نو اضافة ئې اسم ته اوکړو نو صفة د اسم شو او موټر اوی چه وزن "بعد من اوزان الفعل" چه دا اضافة د وزن فعل ته دپاره د نسبة دے فقط نو د اختصاص فائده نه کوی نو "ان یختص" مستدرك نشو او دا قاعده په اضافة لامیه کښ شته دے چه کله که پکښ اختصاص مع النسبة وی او کله نسبة بدون الاختصاص وی او د دې اخیری سوال نه داجواب هم کیدلے شی چه دا تصریح بما علم ضمنا ده په دې شان سره چه وزن الفعل کښ اختصاص وو ضمنا او دلته ان یختص کښ صراحة نو تصریح بما علم ضمنا مستدرك نه وی ماتن شرطه اوی او شارح فیها اوی ای ف سببیة منع الصرف نو دا دفع د سوال ده چه شرط په د وجود مراد وی نو بغیر د دې شرط نه خو هم دامې اسم موجودیګی ،

جواب: شرط دپاره د سببیة د منع الصرف نه د وجود دپاره.

(شرط دپاره د تاثیر د وزن الفعل): نو شرط هم داشو چه ان یختص به شیأ شارح احد لامرین اوی نو دا اشاره کوی دې خبری ته چه دا شرط دپاره د وزن الفعل په طریقه د انفصال حقیقی سره دے چه نه ئې ارتفاع اونه ئې اجتماع جائز ده ځکه دا انفصال په دری قسمه دے (۱) انفصال حقیقی لکه داشو (۲) انفصال په طریقه د مانع الجمع (۳) انفصال په

طريقه د مانعة الخلو بيا شارح دا لفظ د اما اولګولو نو دې کښې اشاره ده دې خبرې ته چه دا روستو او دپاره د تنويع دے نه دپاره د تشکيك او دويم پکښې اشاره ده يو قانون ته هم هغه داچه کله عطف اوشي په کلمه د او سره نو د معطوف عليه په اول کښې اما راوړل به دې چه د اول و هلته نه معلومه شي چه دلته انفصال حقيقى دے. بمعنى انه "لا" يوجد غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا وزن الفعل به کالی نه وی يا به اسم کښې وی او يا نه که اسم کښې وو نو ان يختص نه شو او که اسم کښې نه وی نو بيا دپاره د عدم انصراف سبب څنګه شو؟

جواب: شارح په اختيار د شق اول سره اوکړو او د ان يختص مقصد داشو چه دا وزن به ابتداء په فعل کښې نه وی بلکه په طريقه د نقل سره به راګلی وی چه د فعل نه به منقول وی اسم ته.

(وضاحة بالمثال):به "کشمر" سره دے. "على صيغة المعلوم" د دې فائده به راشي "فانه نقل" غرض د شارح تطبيق د مثال کول دي د ممثل سره نو داپه معنيی د سرعة سره راځی بيا دادپاره ديو خاص اس نوم او ګرځيدلو څکه هغه کښې به سرعة وو دغه شان بذر دهم دے داپه معنى د اسراف کونکی سره دے چه دانوم دے دپاره د ډيرو اوبو دغه شان عثر هم دے دير خو په ونګی ځائی دپاره نوم دے او "خضل" دانوم دے دپاره ديو سری د بنی تميم نه اسل نوم ئ عبوس بن عمرو بن تميم دے نو دا ټول امثله نقل دي د افعالو نه اسم ته "و اما نحو يقم" غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی چه دا اوزان به خاص وی د فعل سره نو دا يقم او شلم خو ابتداء اسماء دي نه دي په طريقه د نقل سره.

جواب: شارح يو قيد لګولے دے د "فی اللغة العربية" د ان يختص متن سره نو دائی جواب دے چه مراد لغة عربية دے اودا الفاظ خو عجميه دي نه عربيه بيا دا بقم مشهور رنګ دے د کيړو چه عندم ورته هم وائی او دم الاخوين باندې هم مسمی دے فلا يقدح عيب نه لګوی "و ضرب" دا دويم مثال دے شارح ورسره مثل مقدر کړو اشاره کوی چه د'چه شمر باندې عطف دے.

"و انما قيدنا" غرض د شارح د قيد د على البناء للمفعول فائده ذکرکول دی ده چه دا مجهول دے څکه که دامعلوم شي نو دا وزن بيا د فعل سره خاص نه دے لکه سحر شو او دا اسم دے.

سوال: نو د وزن د مجهول خو هم د فعل سره خاص ندے لکه دئل يو اسم دے په دې وزن باندی

جواب: داناد دے او نادر کالعدم وی نو عدم لره اعتبار نه وی "ولم يذهب" غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا ضرب په معلوم سره هم غير منصرف دے لکه بعض نحاة وائی.

جواب: دا مذهب ديونس او عيسى بن عمر النحوى دے او زمونږ كلام په مذهب د جمهورو باندې بناء دے.

سوال: دوه امثله ولې بيانوى په دپاره د توضيح د ممثل كافي وى

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندې نو يو مثال دپاره د مزيدو شو چه شمر دے او بل د مجردو چه ضرب دے

سوال: دا مجرد اصل دے او مزيد ورله فرع ده نو مثال د مجرد هم اصل شو او مثال د مزيد ورله فرع شوه نو پكار ده چه مثال دمجرد مقدم وى په مثال د مزيدو حالانكه ماتن خو عكس كړے دے.

جواب: دلته ديو بل شي لحاظ شوے دے هغه داچه شمر مثال معلوم دے او ضرب مجهول دے او معلوم مقدم وى په مجهول باندې طبعا نو مقدم شو وضعا دپاره د موافقة د طبع سره "تحقيق د باسولى ههنا" نو باسولى والا واقي چه اوزان د فعل ئول اته دي چه دوه مشترك دي په درميان د اسم او فعل كښ او شپږ د فعل سره خاص دي هغه مشترك دوه دادي (۱) ثلاثي مجرد معلوم لكه سحر،فرس (۲) رباعي مجرد معلوم لكه جعفر او هغه شپږ مختص دادى (۱) ثلاثي مجرد مجهول (۲) رباعي مجرد مجهول (۳) ثلاثي مزيد معلوم (٤)ثلاثي مزيد مجهول (٥)رباعي مزيد معلوم (٦) رباعي مزيد مجهول امثله بالترتيب ضرب، دحرج، كرم، كرم، تدحرج، تدحرج.

"او يكون في اوله" غرض د ماتن دويم شرط بيانول دي چه كه د فعل سره دا وزن خاص نه وى نو بيا شرط دادے چه د دي په اول كښ به زيادة وى دهغه حرف چه خاص دى تر فعل پورى چه حروف "اتين ناق" دي بيا شارح غير مختص اوى اشاره ده چه دا او دپاره د انفصال حقيقي دے خكه يا مختص او يا غير مختص جمع يكښ هم نشته او خلوهم ولكن في اوله دلته دا لكن دپاره د استدراك دے چه دفع كوى د توهم ناشي ده كلام سابق نه بيا هغه وهم دادے چه ماتن اول اوى چه ان يختص او دلته خو غير مختص دے نو دا خو تعارض دے كنه نو شارح واتي چه نه كنه دلته دابل شرط دے كنه خكه دابه طريقه د انفصال حقيقي سره دے بيا ماتن اوى چه "في اوله" نو شارح د اوله د ضمير مرجع متعين كوى او دفع د سوال هم كوى چه دلته دا كلمه د في راغلى ده نو داپاره د ظرف راغى يعني "ما" بعد د في ظرف وى دپاره د "ما" قبل د في او دلته په اوله كښ ضمير راجع دے وزن الفعل ته او مونږ اوى چه داكون الاسم دے يعني وصف دے او معنى مصدرى ده نو دا خو صلاحية نه لرى چه ظرف واقع شى.

دلته صنعة استخدام داده چه یو شی ذکر شی په
جواب: دلته صنعة استخدام شوی دے مقصد د صنعة استخدام داده چه یو شی ذکر شی په اسم ظاهر سره نو یوه معنی لری او چه کله ورته ضمیر راجع شی نو بیا جدا معنی وی. نو چه دلته اول "وزن الفعل" ذکر شو نو مراد تری وصف او معنی مصدری وه او چه اوس ورته ضمیر راجع شو نو مراد تری ذات دے نه وصف او معنی مصدری چه کُنی ظرفیة دی صحیح نشی او بیا دا ضمیر راجع دے. ماکان علی الخ نه یعنی اول د هغه شی چه په وزن د فعل وی نو هم ظرفیة صحیح دے.

سوال: لازم شو اضمار قبل الذکر ځکه ماکان الخ خو مخکښ نه دے ذکر چه ضمیر ورته راجع شی؟

جواب: دا محذوف دے او المحذوف کالملفوظ او بیا په دې باندې دال دا وزن الفعل دے.

سوال: داخو لازم شو ظرفیة د شی لنفسه په دې شان سره چه د اول نه دے مګر حرف زائد او دا حرف زائدهم داده.

جواب: ظرفیة د شی لنفسه نشته دے بلکه په درمیان د حرف زائد او اول کښ عموم خصوص من وجه ده په دې شان سره چه اول به وی زائد به نه وی او یا زائد به وی اول به نه وی او یا به دواړه وی نو مغایرة یکښ شته دے بیا ماتن زیادة اوی او شارح وائی "ای زیادة حرف او حرف زائد" دا اشاره ده دې خبری ته چه دا تنوین په زیادة باندې عوضی دے د مضاف الیه یا د موصوف نه عوض دے نو دا ترکیب یا د قبیلی د ترکیب اضافی یا توصیفی نه دے بیاشارح په دویم احتمال کښ د زیادة نه تعبیر په زائد سره اوکړو نو دا ځکه چه حرف موصوف دے او زیادة ورله صفة دے نو حمل د صفة په موصوف باندې کیږی او دلته صحیح نه وو ځکه حرف ذات په موضع د ذات کښ واقع دے او زیادة خو وصف دے نو حمل د وصف راتلو په ذات باندې او داخو ناروا دے نو شارح دا مصدر مبنی للفاعل کړو چه حمل صحیح شی. "غیر قابل للتاء" یعنی دا زیادة په داسی کلمه کښې شوی وی چه هغه کلمه به تاء نه قبلوی چه په حالت د وقف کښ هاء ګرځی شارح وائي "ای حال کون وزن الفعل" غرض ئی بیان د علت نصب دے چه دا حال دے "لانه یخرج" دا دلیل بیانوی نو حاصل هم داده چه دا انصراف اصل دے او غیر انصراف خلاف الاصل دے نو د اصل نه خلاف الاصل ته راوستلو تقاضا د قوی سبب کوی او دې تاء سره سبب کمزوری کیږی ولی چه دا تاء متحرکه مدوره خاص ده د اسم سره نو بیا وزن الفعل نه پاتې کیږی نو دا شرط دے چه بلا تاء به وی.

"ولو قال" غرض د شارح اعتراض کول دی په ماتن صیب باندې چه ماتن لره پکار وو چه دوه قیده نورهم لګولی وی یو قید د قیاسا چه مراد د تاء نه قیاسیه ده نو سوال به ترینه دفع شوی وو چه اربع دپاره دیوکس علم شی نو دابه غیر منصرف وی د وجه د علمیت او وزن

الفعل نه او دا خو تاء قبلوی به دي ترکیب کښ ، چه جاءنی اربعة رجال نو چه ماتن قیاسا ونیلی وی نو دابه خارج شوی وے خکه دا تاء قیاسیه نه ده بلکه دا غیر قیاسیه ده او دویم قید دا چه مراد ځنې تاء ده چه په داسې اعتبار سره وی چه دهغې د وجه نه دا کلمه غیر منصرف گرځیدلے وی نو دا سوال به قرینه دفع شوی وو چه اسود غیر منصرف دے د وزن الفعل او وصف د وجې او دا اسم دے دپاره د حیة مذکر او داخوهم تاء قبلوی چه دپاره د مونث شی نو اسودة به شی نو چه ماتن دا قید لګولی وےنو سوال به دفع وو خکه چه دلته د اسودة دا تاء په دې اعتبار سره نده چه دهغې د وجې نه چه وصف دے خکه دا وصف تاء نه قبلوی بلکه دا تاء دلته چه راغلی ده نو دابه اعتبار د غلبه د اسمیة په وصفیة سره راغلی ده خکه چه په هغه اعتبار او قیاسا د دې مونث سوداء راځی. نو حاصل داشو چه ماتن لره دا دوه قیودات پکار دی.

جواب: دا دواړه قیودات ماتن پریښودلے دي د وجې د شهرة نه چه دامشهور دي "ومن ثم" غرض د ماتن تفریع کول دي په وجود او عدم د شرط ثانی شارح وائی "ای ومن اجل" نو دا اشاره کوی چه دا ثم اجلیه دے او بیا وائی "اشتراط عدم قبول التاء" نو دا تعیین د متفرع علیه کوی نو احمر غیر منصرف دے خکه تاء پکښ چرته نه ده راغلی چه احمرة دې شی "عن الصرف" غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا خو ممتنع نه دے بلکه راغلی دے وجود لری.

جواب: مراد د امتناع د دې نه وجود ندے بلکه د صرف نه مراد دے. او یعمل منصرف دے خکه دا تاء قبلوی چه"ناقة یعملة" چه تیزی او ښی دپاره صفة دے.

نور امثله دپاره د حروف اتین دادی، نرجس، تغلب، یشکر وغیره نوداهم تاء نه قبلوی نو غیر منصرف دی.

(وما فیه علمیة موثرة) اجمالی خبری د دې مقام دادی (۱) ربط (۲) مقصد د عبارت د ماتن صیب (۳) تشریح د اجزاء د عبارت د ماتن صیب.

(ربط): معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د بعض اسبابو د انصراف او د تفصیل د اسبابو د عدم انصراف نه نو شروع ئی اوکړه په بعض نورو اسبابو د انصراف خکه اسباب د انصراف ټول پنځه دي (۱) ضرورة (۲) تناسب (۳) تنکیر دهغه اسم چه علمیة پکښ موثر وی مطلقا (٤) دخول د الف لام تعریفی (٥) اضافة د غیر منصرف منصرف ته نو د دوه و تفصیل اول شوی دے چه ضرورة او تناسب دے اوس دهغه باقی تفصیل کوی بیا په باقی اسبابو کښ دا تنکیر مقدم کوی په دې دوه و باندې خکه په دې کښ اتفاق دے چه دا غیر منصرف منصرف کوی اوق باقی په دې دوو کښ اختلاف دے چه ایا دا غیر منصرف منصرف

كوى او كنه په حكم د منصرف كښ گرځوى نو اتفاقى طبعا مقدم وى او وضعا هم مقدم نو دپاره د موافقة.

ربط لفظي: واو عاطفه دے يا استينافيه او"ما" موصوله يا موصوفه ده او "فيه" ظرف دے او "علمية" موصوف او "مؤثرة" ورله صفة دے نو موصوف او صفة فاعل شو او داجمله فعليه شوه يا دا "فيه" په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم شو او دا علمية مؤثرة تركيب توصيفي مبتداء موخر شوه نو مبتداء خبر جمله اسميه نو كه جمله فعليه يا اسميه شي خو دابه صله شي دپاره د موصول يا صفة د موصوف بيا موصول سره د صله يا موصوف سره د صفة نه مبتداء ده او اذا نكر صرف به ورله خبر شي نو جمله اسميه معطوفه يا مستانفه شوه.

مقصد د عبارت:مقصد ع بارت دادے چه د دي مقام نه تر مرفوعات پورې پوره پنځه خبرې دي (۱) سبب د انصراف چه دهغى په وجه سره بعض غير منصرف منصرف گرځي دابه وما فيه علمية موثرة سره ذكركړى (۲) دفع د اعتراض ده په وهما متضادان سره (۳) بيان الاختلاف دے د و خالف سيبويه الاخفش سره (٤)هغه دوه اسباب دي چه دهغى په وجه تول غير منصرف منصرف گرځي او يا په حكم د منصرف كښ گرځي بناء بر اختلاف وجميع الباب سره (٥) اشاره ده اختلاف ته په ينجر بالكسر سره چه ايا د الف لام تعريفي او د اضافة په وجه غير منصرف منصرف گرځي او يا په حكم د منصرف كښ.

(تشريح د اجزاء د عبارت):ماتن وائي وما فيه علمية شارح وائي اى كل اسم غرض د شارح په دي عبارت يو تعين كوى دما مبهم په اعتبار د مصداق سره چه دا عبارت دے د اسم نه دويم غرض د شارح په دي عبارت سره تعين د "ما" مبهم دے په اعتبار د نوع سره چه دا موصوله او موصوفه دواړه صحيح كيږي دريم غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه دا جمله مهمله ده ځكه ادات دمحصوره پكښ نشته دے او مهمله په قوة د جزئيه كښ وى نو مقصد ئ داشو چه بعض هغه اسم غير منصرف چه علمية پكښ موثر وى بو چه دا نكره شي نو منصرف به گرځي او بعض غير منصرف به منصرف نه گرځي په تنكير سره چه علمية پكښ موثر وى حالانكه دا خبره خو ناروا ده

جواب: مهمله په دوه قسمه ده يو مهمله د علومو دويم مهمله د محاوراتو نو مهمله د علومو په قوة د جزئيه كښ نه وى بلكه دابه قوة د كليه كښ وى او مهمله د محاوراتو په قوة د جزئيه كښ وى او دي مقام كښ مهمله د علومو ده چه په حكم د كليه كښ ده ځكه قواعد د فن كلي دي ځكه خو شارح لفظ د كل مقدر راوباسو بيا شارح في منع الصرف اوى نو دا دفع د وهم ده چه مراد به د موثر نه باعتبار الذات وى چه دهغى د وجى نه به ذات د سبب موجوديګى نوپه بعضو كښ خو علمية نشته دے او ذات ئ موجود دے نو شارح داوهم دفع كړو چه په منع صرف كښ موثر مراد دے بالسببية المحضة غرض د شارح په دي عبارت

سره دوه قسمين د تاثير د علمية په سبب كښې بيانوي چه يو سبب محض دے مقصد دادے چه يو سبب په اسم كښې كافي نه وي دپاره د عدم انصراف بلكه دا علمية ورسره موثر وي خو قطع نظر د شرطية د علمية نه دويم سبب مع الشرطية دے مقصد دادےچه يو سبب وي په يو اسم كښې خو د دې دپاره علمية شرط دے هغه وخت به سبب گرځي چه پكښې دا علمية راشي و احترز بذالك غرض د شارح د موثرة قيد فائده ده چه دې سره احتراز اوشو دهغه اسم نه چه الفا التانيث پكښې وي او بيا دا علم د چا شي او بيا نكره شي نو دابه په خپل حال غير منصرف وي ځكه الفا التانيث كافي دے دپاره د عدم انصراف علمية پكښې ورسره راتلل او نه راتلل يو برابر دي او دغه شان د صيغه د منتهي الجموع نه هم احترازا وشو چه هغه د چادپاره علم شي او بيا نكره شي نو دابه هم په خپل حال باقي غير منصرف وي ځكه داهم دپاره د عدم انصراف كافي دے وحده.

سوال: تا چه اسباب د منع الصرف ذكر كول نو تا هلته تعبير په المعرفة سره كړى وو او دلته خو تا تعبير په علمية سره اوكړو نو هلته دا معلوميږى چه سبب معرفه ده او دلته دا معلوميږى چه سبب علمية دے نو "ما" هذا الا تدافع.

جواب: (۱) سبب هم دا معرفه ده خو دلته ځكه تعبير په علمية سره كوى چه مذهب د صاحب المفصل دادے چه سبب علمية دے نو دلته دپاره د ازاله د تعصب په علمية سره تعبير كوى (۲) دلته تعبير په علمية سره مجازا دے بان يول غرض د شارح په دې عبارت سره طريقه د تنكير بيانول دي نو دې دپاره دوه طريقې دي يوه طريقه داده چه د دغه علم نه تعبير په داسې مفهوم سره او په داسې معنى سره اوشي چه د دې صلاحية پكښې وي مثلا زيد يو علم دے نو دې نه تعبير اوشي په هغه جماعة سره چه هغه مسمى وي په زيد سره نواوای هذا زيد و رايت زيدا اخر ځكه داخو جماعة دے يعنى دا دويم زيد نكره ده ځكه چه دهغه جماعة يو فرد مراد دے نه شخص معين ځكه هغه جماعة مسمى دے په زيد سره.

دويمه طريقه او بجعل حاصل دادے چه دغه علم مووّل شي په جنس باندې مقصد دادے چه د علم نه په يو داسې وصف سره تعبير اوشي چه صاحب د هغې په دغه وصف باندې مشهور وي لكه لكل فرعون موسى د دې نه خاص وصف مراد دے چه لكل مبطل محق دے نو دا وصف د بطلان چه دے نو دا صاحب چه فرعون دے دابه دې مشهور دے او دا وصف د حقانية په دې باندې دا موسى مشهورو نو مراد دلته د دې علمين نه ا اوصاف دي او دانكره دي بيا دلته دوه شيان دي چه هذا زيد و رايت زيد اخر او لكل فرعون موسى دا دوارو نظائر دي امثله نه دي ځكه مثال به هغه وى دي دپاره چه غير منصرف وى او پكښې علمية وى په طريقه د تاثير او بيا په يوه طريقه سره نكره هم شي حالانكه دلته دا زيد فرعون موسى د دې قبيلى نه ندى نو دا نظائر دي امثله نه شول. صرف داجزاء ده دپاره د اذا نكر شرط او دا دواړه بيا خبر دپاره د مبتداء دے لما تبين دلته دالام تعليلى دے او "ما"

موصوفه ده موصوله هم صحيح ده او تبين صله يا صفة دے او دا مجموعه دما قبل دبارو علت دے چه دابه ولی منصرف کیږی نو لما تبين چه د وجی دهغه دلیل نه چه ظاهر شوی دے په طريقه د التزام سره من انها دامن بيانيه دے نو دا بيان دے دپاره د هغه "ما" په لما کښ چه داخیره ظاهر شوی ده چه دا علمية نه جمع کیږی موثر مگر په هغه سبب کښ چه داپکښ شرط دے الا العدل و وزن الفعل او نه جمع کیږی دا علمية په طريقه د شرطية سره موثر مگر په عدل او وزن فعل کښ بلا شرطية موثر حاصل د کلام دادے چه د دې نه خلور خبرې معلومې شوی یوه خبره داده چه دا علمية د بعض اسبابو سره د سر نه جمع کیږی نه لکه وصف شو او داخيره د غلبه د اسمية نه په وصفية مقام سره معلومه ده دویمه خبره داده چه دا علمية د بعض اسبابو سره جمع کیږی خو بغير د تاثير نه لکه الفا التانيث او منتهى الجموع شوه او د وما يقوم مقامهما الجمع و الفا التانيث نه معلومیږی دریمه خبره درینه داهم معلومه شوه چه دا علمية د بعض اسبابو سره په طريقه د شرطية هم جمع کیږی چه هغه خلور اسباب دی. (۱) تانيث بالتاء لفظا و معنی (۲) عجمه (۳) ترکیب (٤) الف نون مزيد تين او دا خبره معلومیږی دوشرطه العلمية نه چه د دې اسبابو سره ذکر دے خلورمه خبره دا معلومیږی چه دا علمية د بعضی اسبابو سره موثر دے خو بلا شرطيه او دا دوه اسباب دي (۱) عدل (۲) وزن الفعل او دا خبره د دوی د امثلو نه معلومه شوه لکه عمر شو عدل او علمية دواړه پکښےوی او شمر هم شه چه وزن الفعل او علمية دے پکښ دا خبری دما قبل نه التزاما معلومی دي او ماتن صيب په "لا" تجامع الا العدل و وزن الفعل سره هم دي ته اشاره کړی ده په دې شان سره چه دا دوه اخيری خبری خو سمدست معلومی دي او دا دوه خبری نوری پس د استثناء نه معلومی شوی. شارح وائی الا "ما" دا تعيين د مصداق دماکوی او بيا شارح هغه اسباب اربعه بيانوی چه دکومو سره علمية شرط دے الا العدل و وزن الفعل غرض د ماتن خو دوه اسباب ذکر کول دي او شارح وائی استثناء مما بقی نو دا دفع د سوال کوی چه یو قانون دے چه هر کله دبون مستثنی منه نه دوه مستثنيات راغلی وی نوکه په درميان د دې کښ حرف عاطف وی نو دا صحيح دې او که په درميان کښ حرف عاطف نه وی نو دابه صحيح نه وی او دا حکه چه دا حرف عاطف به په مقام د مستثنی منه ثانی باندې قائم شی نو صحيح به شی او چه حرف عاطف نه وی نو بيا د مستثنی منه قائم مقام نشته دے نو لازم به شی فصل په درميان د مستثنی ثانی او د مستثنی منه کښ په مستثنی اول سره او دا خو ناروا ده کنه دلته داپه دې شان سره دے چه دا الا ماهی شرط اول مستثنی ده او الا العدل و وزن الفعل مستثنی ثانی ده او د حرف عطف پکښ پته هم نه لګی

جواب: شارح کړی دے چه حاصل ئی دادے چه او دا قانون خو دے خو داپه هغه ځائی کښ چه مستثنی منه یو وی او دلته خو مستثنی منه یونه ده بلکه دوه دي په دې شان سره چه اول مستثنی منه چه علمية نه جمع کیږی موثر دیو سبب سره د اسبابو نه په طريقه د شرطيه

او مستثنی ورله الا ماهی شرط فیه دہ او دویمه مستثنی منه هم د دې نه دہ په دې شان سره چه دا علمیة نه جمع کیږی دهیځ یو سبب سره بغیرد هغےنه چه داپکښ شرط وی او مستثنی ورله الا العدل و وزن الفعل شوہ شارح هم دا وائي چه اول مستثنی منه "لا" تجامع سببا من اسباب منع الصرف او مستثنی منه ثانی "لا" تجامع غیر ماهی شرط فیه او مستثنی اول الا ماهی شرط فیه او مستثنی ثانی الا العدل و وزن الفعل مثلا عمر او احمد شول په دې کښ علمیة شته ؛ ے موثر پکښ هم دے خو علمیة په دې کښ دیاره د تاثیر د عدل او وزن الفعل شرط نه دے ځکه چه ثلاث او احمر کښ یوکښے عدل دے او بل کښے وزن الفعل او بغیر د علمیة نه غیر منصرف دي نو معلومه شوہ چه د عدل او وزن الفعل دپاره علمیة شرط نه دے.

سوال: چه دادومره تکلیف کوی او مستثنی دما بقی نه ځ نو لند داسې اوایه کنه چه الا "ما" هی شرط فیه و العدل و وزن الفعل نو مقصد به هم حاصل شي او اختصار به هم راشي دواړه مستثنیات به یوه مستثنی شي.

جواب: داسې نه شي کیدلے ځکه دا عبارت په داسې انداز ذکر کول چه په کومه طریقه کتاب کښ دے دا دپاره د تنبیه په یوه نکته یاددي هغه دا چه دا ښکاره شي چه تاثیر د علمیة په معطوف او معطوف علیه کښ مختلف دے ځکه په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ مغایرة وی نو په معطوف علیه کښ تاثیر د علمیة من حیث السببیة و الشرطیه دواړه دے او تاثیر د علمیة په معطوف کښ من حیث السببیة دے فقط نودپاره د دې ئ جدا جدا استثناء اوکړه په دې انداز سره

﴿وهما متضادان فلا یکون معها الا احدهما﴾ دلته هغه دویمه خبره دہ چه دفع د اعتراض دہ او دا اوله خبره "لا" تام شوی نه دہ بلکه تتمه د دې روستو دہ خو دا خبره ئ دلته په طور د جمله معترضه بیان کړی دہ په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ ؛ دا د سوال په جواب کښ واقع دہ

سوال: دادے چه زا اوئ چه اذا نکر صرف چه کله نکره شي نو منصرف به وی نو چه یو اسم کښ عدل او وزن الفعل دواړه وی او بیا دا علم شي دپاره د ځا یعني معین نو چه داځر کله نکره شي نو بیا پکښ هم دوہ اسباب شته دے نو غیر منصرف به وی نو اذا نکر شرط راغئ او جزاء پری مرتب نه شوہ چه صرف دہ ځکه دا غیر منصرف دے بیا هم نو ماتن جواب اوکړو چه وهما متضادان حاصل دادے چه په یوه کلمه کښ عدل او وزن الفعل نشی جمع کیدلے ځکه دا دیو بل ضدین دي بیا ماتن هما وئیلی وو او شارح تعین د مرجع کوی چه دا عدل او وزن الفعل ته راجع دے لان الاسماء المعدولة غرض د شارح په دې عبارت سره دلیل بیانول دی چه دا ولی ضدین دي نو دا ځکه ضدین دي چه د عدل اوزان چه معلوم بالاستقراء دي نو

دا مخصوص اوزان دي نو د دي اوزان مخصوصه نه هيڅ وزن هم په وزن دهغه اوزانو د فعل چه معتبر دي نه دے راغلی نوديو بل دپاره ضدين شول بيا اوزان د فعل خو تير شوی دي او اوزان د عدل مذکور دي په دي شعر د شاعر کښ.

اوزان عدل را بتمامی تو کش شمر مفعل فعل مثالها مثلث عُمر

فعل است مثل امس فعال است چو ثلاث

دیگر فعال دا تو قطام فعل سحر

"فلا يكون معها"شارح وائی فلا يوجد شئ اشاره کوی چه يكون دلته فعل تام دے ځکه قرينه تعبير په يوجد سره کوی .

اعتراض د"لا يكون" ضمير دپاره مرجع څه دے دری احتمالات دي پکښ او ټول سره باطل دي په دي شان سره چه دا ضمير به يا راجع وی مطلق سبب ته نو معنی به فاسده او کاذبه شی ځکه معنی به شی چه نه موجوديگی مطلق سبب د علمية سره مگر يو د دي دواړو سره نو مطلق سبب خو د علمية سره موجوديگی او يا به ضمير راجع وی "احدهما" ته يعنی عدل يا وزن الفعل ته نو بيا خو استثناء د شئ عن نفسه راځی چه داهم ناروا ده ځکه معنی به شی چه نه موجوديگی د "احدهما" مگر د "احدهما" سره يا به راجع وی دواړو ته يعنی عدل او وزن الفعل ته نو بيا په درميان د راجع او مرجع کښ مطابقة نشته چه دا ضروری دے نو "يكونان" پکار وو.

جواب: (۱) صاحب دغاية التحقيق چه مسمی دے په صفی بن نصير سره هغه دا جواب کړے دے چه دا ضمير په دي دريو احتمالاتو کښ يوته هم ندے راجع بلکه دا راجع دے يو احتمال رابع ته هغه سبب مقيد دے يعنی راجع دے سبب ته او داپه قيد د غير "ما" هی شرط فيه سره مقيد دے نو تقدير د عبارت به شي چه" فلا يوجد سبب غير "ما" هی شرط فيه معها الا احدهما" معنی داشوه چه نه موجوديگی هغه سبب چه علمية پکښ شرط نه دے د دي علمية سره مگر يو د دي دواړو سره چه عدل او "وزن الفعل" دے يعنی چه علمية ديو سبب سره شرط نه وی او ورسره موجود شي نو دا به عدل يا "وزن الفعل" وی.

سوال: داهم استثناء د شئ عن نفسه ده په دي شان سره چه علمية پکښ شرط نه وی او د سبب سره راشي نو داندے مگر عدل او وزن الفعل دے او روستو په احدهما کښ هم عدل او وزن الفعل مراد دے.

جواب: دلته استثناء د شئ عن نفسه نشته دے بلکه استثناء د خاص د عام نه ده او دا جائز ده دلته په دې شان سره چه احدهما خو خاص دے او دا سبب غیرها هی شرط قیه چه عدل او وزن الفعل دے نودایه اعتبار د لفظ سره مراد دے او دایه اعتبار د لفظ سره عام دے بیا مثال د استثناء د خاص د عام نه داسې دے چه دیو انسان دپاره څلور ښځې وی او دا انسان اوائی چه کل نسائی طوالق الا فلانة و فلانة و فلانة و فلانة نو نسائی خو مصداقا هم دغه څلور ښځې دې خو دا لفظ د نسائی عام دے نو روستو ترینه استثناء هم جائز ده.

اویه دې سره یو خارجی سوال هم دفع شو چه دا کلمه طیبه چه "لا اله الا الله" ده نو دلته د اله نه څه مراد دے اله حق او که اله باطل یو هم صحیح ندے په دې شان سره چه که اله حق شی نو استثناء د شئ عن نفسه راځی چه ناروا کار دے څکه معنی به شی چه نشته دے معبود برحق مگر دغه الله معبود برحق دے او که اله باطل شی نو بیا کذب راځی څکه معنی به شی چه نشته دے معبود او اله باطل مگر دغه الله معبود او اله حق دے نو نفی د معبود باطل او شوه حالانکه معبودات باطله خو ډیر زیات دې نوجواب اوشو په اختیار د شق اول سره چه مراد د اله نه اله حق دے او لفظا داعام دے نو روستو ترینه استثناء د خاص چه الله دے صحیح ده داخو یو جواب شو د غایة التحقیق و الا د طرفه .

جواب(۲) شارح جامی دا جواب کوی چه دا ضمیر دیکون راجع دے هغه امر دائر ته په درمیان د مجموعه د دې سببینو اویه درمیان د یو درے کښ معنی به شی چه نه موجودیګی هغه امر دائر په مابین د مجموعه سببینو کښ چه عدل او وزن الفعل دې اویه "ما" بین د احدهما کښ د دې علمیة سره مگر یو د دې دواړو چه عدل او وزن الفعل دے. نو حاصل دادے چه هغه امر دائر عام دے او داموجود خاص دے نو استثناء د خاص د عام نه راغله

او داخو بے غباره جائز ده او دې دپاره موزه مثال اوی. و علی کل حاصل د دواړو جوابونو یو دے فا ذانکر دا مقام تتمه د معطوف علیه ده کوم چه "ما" قبل د دې جمله معترضه ته ذکر دے چه اذا کر صرف چه دانکره شی نو دابه منصرف وی نو اوس د دې مقام نه ورله دلیل بیانوی چه دابه ولې منصرف ګرځی حاصل ئی هم دادے چه هر کله دا اسم نکره شی نو یا به یو سبب باقی شی چه کله پکښ علمیة شرط نه وی او یو سبب خو دپاره د عدم انصراف نه دے کافی لو یا به د سر نه سبب باقی نه شی چه کله پکښ علمیة شرط وی څکه چه شرط منتفی شو نو مشروط هم بیا مانړ فاذا نکر وتیلی وو نو شارح د نکر د ضمیر مرجع متعین کوی چه دا غیر المنصرف ته راجع دے. بیا شارح وائی لم یبق فیه سبب من حیث نو دا دفع د سوال کوی .

سوال: دا راځی چه تا اوی چه دا نکره شی نو دابه بغیر د سبب نه شی او منصرف به وی حالانکه طلحة چه دے نو چه دانکره شی نو بیا هم پکښ تانیث شتا دے وسبب خو پکښ بیا هم شته دے.

جواب: زما مراد د سبب نه نفس سبب ندے مراد بلکه هغه سبب چه موثر وی په عدم انصراف کښ او تانیث باقی دے خو دا بغیر د تاثیر نه دے ځکه د تانیث د تاثیر دپاره شرط علمیة دے او علمیة پکښ نشته دے نو اذا فات الشرط فات المشروط نو سبب دے خو سببیة ندے هذا دا هذا په هغه خالی کښ استعمالیږی چه یوعبارت د خال محل نه په بیا محل کښ راشی او کله دپاره د نفس فصل هم راځی په دې مقام دا هذا شارح راوړی دے نو دا روستو عبارت مخکښ پکار وو د دې مخکښ اعتراض نه ځکه دا د دې موضع نه دے، تدبر.

﴿و قد قیل علی قوله﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض دے په قول د ماتن چه هما متضادان دے په دې شان سره چه ماتن اوی چه وزن الفعل او عدل دیو بل ضدین دي نودانه جمع کیږی نو شارح وائی چه داسی یوه کلمه شته دے چه دواړه پکښ راغلی وی لکه "اصمت بکسر الهمزة و المیم" دا دپاره دیو بیان علم دے او دا د فعل وزن هم دے او عدل پکښ هم شته دے ځکه اصل کښ صمت یصمت باب د نصر ینصر نه دے او باب د نصر دا تقاضا کوی چه امر د دې نه اصمت بضم الهمزه و المیم راشي او داخو په دغه وزن نه دے راغلی نو دا معلومه شوه چه دا دهغی نه معدول دے یعنی اصمت بکسر الهمزه و المیم د اصمت بضم الهمزه و المیم نه معدول دے.

جواب: علی سبیل المنع چه داخیره نه منم چه دا اصمت د باب نصر ینصر نه راځی او د بل باب نه نه راځی بلکه دا خو د باب د ضرب یضرب نه هم راځی لکه دلته د باب د ضرب نه دے او دا باب د ضرب دا تقاضا کوی چه اصمت بکسر الهمزه و المیم راشي.

جواب: علی سبیل التسلیم دا جواب شارح کړی دے چه دې وائي قد عرفت نو دا حواله ده په یو تحقیق باندې چه مخکښ عدل کښ تیر شوی دے حاصل دادے چه د اعتبار د عدل دپاره صرف تحقق د اصل نه دے کافی ځکه دا عدل په حالت د اضطرار کښ معتبر کولی شی داسی چه یو اسم غیر منصرف وی او یو سبب پکښ د عدم انصراف موجود وی او دپاره د عدم انصراف خو دوه اسباب ضروری وی نودپاره د دویم سبب راوستلو پکښ عدل معتبر شی بیا هغه یا تحقیقا وی او یا تقدیرا بالفاظ دیگر دپاره د اعتبار د عدل شرائط ثلاثه دی. (۱) غیر منصرف کیدل دهغه کلمه (۲) عدم وجدان د سبب اخر (۳) عدم صلاحیة د سبب اخر نو دلته په دې کلمه د اصمت کښ دا اخیری دوه شرائط معدوم دې فکیف یعتبر العدل ثم انه اشار غرض د شارح په دې عبارت سره یو تمهید دے راروان عبارت ته دویم دهغه را روان عبارت دما قبل سره ربط بیانول دې دریم دفع دیو سوال ده هغه داچه تا اوی اے ماتنه چه

کوم سبب سره علمية مؤثر دے لکه وزن الفعل شو نو داچه کومه کلمه کښې وی او هغه نکره شي نو غير منصرف به منصرف گرځي اوس احمر غير منصرف دے د وجې د علمية او د وصف نه نو داچه نکره شي نو بيا هم دا غير منصرف دے د وجې د وصفية اصليه او وزن الفعل نه کما قال به سيبويه نو دا قانون دي منقوض شو.

جواب: قاعده منقوضه نده بلکه سالمه ده البته مثل د احمر سيبويه صيب مستثنى کړی دے. "و خالف سيبويه الاخفش" د دې مقام نه درېمه خبره ذکر کوی چه هغه بيان الاختلاف دے په يو خاص مسئله کښې خو اول داخبره مقدم کوو چه اخافش ټول دری دي يو استاذ د سيبويه چه ابو الخطاب دے دويم شاگرد د سيبويه چه ابو الحسن سعيد بن سعده دے دريم هم عصر د سيبويه چه ابو الحسن بن علی بن سليمان دے. نو دلته مراد د اخفش نه شاگرد د سيبويه دے.

سوال: دلته نسبة د خلاف سيبويه ته شوی دے او داخو استاذ دے او استاذ ته نسبة د خلاف کول. خو سوء ادب وی.

جواب: دلته دوه خبری دي يو داچه نسبة د خلاف کول استاذ ته دويم اصالة د قول مرجوح او غير اظهر او قانون دادے چه "من ابتلی ببليتين فليختراهو نهما" نو مونږ ارتکاب د اول اوکړو چه دا اهون ده او خلاف کول د قانون نه چه ترجيح د مرجوح ده دا ارتکاب گران وو نو نو پريښودو مونږ هغه سوال مشورة د خالف دپاره دي فاعل اخفش شي او سيبويه به مفعول به شي نو دوه خبری به فائده ناکی حاصل شي (۱) عدم د سوء ادب (۲) تعظيم د استاذ په تقديم سره په فاعل باندې نو معنی به شي چه خلاف کړے دے د سيبويه صيب نه اخفش.

جواب: قربان داسی نه شم کولے څکه بيا مصائب ثلاثه راځی اول داچه قول د ماتن چه اعتبارا دے دا مفعول له دے او خالف ورله فعل معلل دے نو دمفعول له نصب دپاره تقدير د لام شرط دے او تقدير دلام مشروط دے په شرائط ثلاثه باندې چه يو شرط دادے چه فاعل د فعل معلل او د مفعول له به يو وی نو دلته د اعتبارا فاعل سيبويه دے څکه دا دليل د سيبويه دے نو د خالف فاعل چه دا فعل معلل دے نو د دي فاعل به هم سيبويه وی نوکه فاعل اخفش شي نو دا شرط به منتفی شي نو بيا پکار ده چه اظهار د لام اوشي او اظهار دلام ندے شوی نو دابو نقصان شو. دويم داچه اصالة د قول د سيبويه به راشي سره د ضعف نه څکه مخالف د قاعده دے او ترك د قول د اخفش به راشي سره د قوة نه څکه موافق دے د قاعدې سره دريم داچه تقديم د مفعول به راشي په فاعل باندې چه داهم غير مستحسن دے څکه عرب حضرات په داسی مقام کښې اعتبار تقديم د فاعل لره ورکوی په مفعول باندې نه استاذ په شاگرد باندې چه کنے راشه دا استاذ په دې شاگرد باندې مقدم کړه اگرچه تاخير ئې مناسب دے.

"و خالف سیبویه الاخفش" دا بیان الاختلاف دے یو خاص مسئله کښې مائن اوی چه فی مثل احمر او شارح ورسره انصراف او لګو نو غرض د شارح تحریر د محل النزاع کول دي څکه په داسی مقام کښې "لا" بدی وی د معرفة د پنځو امورونه و المراد بمثل احمر دا دفع دیو سوال ده چه دلته دا مثل مضاف دے او احمر مضاف الیه نوکه اضافة لامیه شی نو هغی کښې مقصود مضاف وی نو مقصد داچه په مثل د احمر کښې اختلاف دے نه په احمر کښې حالانکه احمر کښې هم اختلاف دے او که اضافة بیانیه شی نو مضاف او مضاف الیه هلته یو وی نو مقصد دادے چه هر هغه وزن چه افعل وی هلته اختلاف دے نو افعل تاکیدی چه اجمع دے او افعل تفضیلی چه مستعمل په من نه وی نودایکښې داخل شول حالانکه هلته بالاتفاق انصراف دے.

جواب: شارح صیب وائی چه دلته مراد قانون دے او هلته په نودلته داضافة خبرے نه دی مراد بلکه مراد په دي سره هر هغه اسم دے چه معنی د وصفیة پکښې ظاهره وی خفی نه وی قبل العلمیة بیا عام د دي نه که وزن دا فعل وی او یا نه لکه احمر چه وزن د افعل دے او سکران چه وزن د افعل نه دے او افعل تاکیدی تربنه خارج دے څکه هلته معنی د وصفیة ضعیف ده قبل العلمیة ولی چه په معنی د کل سره دے او افعل تفضیلی چه مستعمل په من ندے داهم تربنه خارج شو څکه قبل العلمیة پکښې معنی د وصفیة ضعیف ده ولی چه دایه معنی د افعل اسمی سره دے چه من پکښې نشته دے او هغه افعل تفضیلی چه مستعمل دے په من سره نو دا غیر منصرف دے اتفاقا ولی چه معنی د وصفیة پکښې ډیره ظاهر ده په سبب د استعمال د دي په من سره ترجمة اسانه ده.

دی نه دری خبری معلومی شوی (۱) تحریر د محل النزاع (۲) تعیین د مختلفینو (۳) دعوی دهر واحد اعتبار اللصفة الاصلیة دي مقام نه دلیل بیانوی چه دا څلورمه خبره ده خو مائن دلیل د سیبویه پیش کوی او دا اخفش دلیل نه پیش کوی څکه قول د اخفش موافق د قاعدة دے بیا دا خالف فعل تقاضا د څو امورو کوی یو فاعل چه سیبویه دے دویم مفعول چه اخفش دے دریم محل د مخالفة چه مثل د احمر دے څلورم وقت د مخالفة چه اذا نکر دے پنځم علة د مخالفة چه اعتبارا دے.

څه نو بیا حاصل د سیبویه د دلیل د ادے چه کله د علمیة نه مخکښې معنی د وصفیة ظاهره وه او بیا علمیة راغئ نو هغه معنی د وصفیة زائله شوه ولی چه په درمیان د وصفیة او علمیة کښې منافاة دي اوس چه کله علمیة ختم شو او نکره شوه نو هغه مانع ختم شو نو هغه معنی د وصفیة بیا معتبر شوه او اسم به غیر منصرف د وصفیة او وزن الفعل د وجی نه چه احمر دے او یا د وصفیة او الف نون مزیدتین نه چه سکران دے شارح هم داسی وائی انما خالف..... اعتباره شارح تعیین د مرجع د ضمیر د اعتباره کوی او اشاره کوی چه دا فاعل دے

چه سیبویه دے نو اشاره ئې اوکړه تحقق د شرط ته دپاره د تقدیر دلام په مفعول له کښ دے فان قلت .

سوال: اے سیبویه کله چه مانع پاتې نشو د اعتبار د صفة اصلیه نه په مثل د احمر کښ نو باعث هم دهغې په اعتبار باندې نشته چه ته دا معتبر کوې بلکه په انصراف معتبر کولو بو مرجح شته دے هغه داچه دا اسم دے او اصل په اسماء کښ انصراف دے نو قیل سره جواب دے چه دا قیاس دے په ارقم او اسود باندې په دې شان سره چه هر کله په اسود او ارقم کښ غلبه راغله د اسمیه په وصفیة باندې نوسره د زوال د وصفیة نه بیا هم دا غیر منصرف وو د وجې د وزن الفعل او دهغه وصفیة زائله نه نو دا احمر هم دارنګې دے وفیه بحث غرض د شارح رد کول دې په دې جواب باندې نو حاصل ئ دا دے چه قیاس کول د احمر په اسود او ارقم باندې قیاس مع الفارق دے ولې چه په احمر کښ وصفیة بالکلیه زائله شوې دے ځکه چه دا د یو انسان نوم شې مطلقاځ حمرت یکښے وې او که نه وې نو صحیح دے او اسود او ارقم کښ وصفیة بالکلیه نه دے زائله ځکه اسود تورمار ته وائي او ارقم برګ مار (تور سپین) ته وائي چه دا د دې افراد د دې نو لږ وصفیة پکښ شته دے .

سوال: نو دا احمر دےهم د سور (سرخ) انسان دپاره نوم شی چه دا فرادو د دې نه دے نو چه د احمر د افرادونه شو نو هم وصفیة بالکلیه زائله نشو.

جواب: دا اسود او ارقم د انواع دپاره اعلام او اسماء دي او احمر علم دپاره د شخص دے نوپه اعلام شخصیه کښ معنی وصفی ملحوظ نه وي په خلاف د اعلام نوعیة کښ چه پکښ معنی وصفی ملحوظ وي مثلا سیف الدولة یو شخص دے چه دا تك تورو یعني د قبیلی د غرابیب سود نه وو او نوم ورته کافور (سپین) ابشودلے شوی دے.

و اما الاخفش غرض د شارح دلیل د اخفش بیانول دي حاصل ئ دا شعر دے.

دورخه تیری اوبه بیرته نه جاروخي ... نه جاروخی تیر ساعة په بیرته بیا

تیر ساعة په مثال د مړی د لحد دے ... مړی چا دي ژوندی کړی په ژړا

"یعني الزائل و الساقط "لا" یعود ولا یعتبر" شارح واۍ "لا" یعتبر من غیر ضرورة دامن غیر ضرورة قید دفع د سوال ده چه کله "لا" یعتبر شو نو په اسود او ارقم کښ ځنګه یعتبر شو.

جواب : دا ضرورة دے او زمونږ بے ضرورة مراد دے. چه هغه مونږه اوی چه دا اعلام نوعیه دي دی کښ اعتبار وی. اخیری خبره پاتې ده چه ترجیح دما هو الراجح ده نو قول د سیبویه مرجوح دے او د اخفش قول راجح دے ولې چه یو خو اظهر دے دویم موافق دے د قاعده سره دریم خالي دے د اعتراض وغیره نه.

﴿وما اعتبر سیبویه﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره یو تمهید دے روستو متن ته دویم ربط بیانوی د روستو متن د "ما" قبل سره دریم دفع د سوال کوی چه په سیبویه پاندې واردېږی حاصل دادے چه هر کله سیبویه صیب اعتبار ورکوی و صفة زائله لره نو واجب دې په سیبویه پاندې چه اعتبار ورکړی دې وصفیة اصلیه لره په مثل د حاتم کښې بیا مراد په مثل د حاتم سره هر هغه اسم دے چه نقل پکښې د وصفیه نه اسمیة ته شوی وی لکه اسم فاعل شو یا اسم مفعول مثلا ضارب او محمد شول او صفة مشبه هم کېدلے شی چه شریف او حسن دې اوس دا اوصاف دې ټول نوچه دا کله اعلام شی نو پکار ده چه دا غیرما منصرف شی د وجې د وصفیه اصلیه زائله او د علمیة نه حالانکه سیبویه داسی نه کوی نو داخو ترجیح بلا مرجح ده.

بیا ماتن باب لفظ اوی نو شارح د دې تشریح کوی چه مراد ترینه کله او قانون دے بیا تفصیل د دې کوی د کل علم سره لما یلزم من اعتبار دا جواب دے د دغه سوال مذکور نه چه حاصل ئې دادے چه که دلته اعتبار ورکړی شی وصفیة اصلیه لره نو لازم به شی اجتماع د متضادینو په لفظ واحد کښې په دې شان سره چه دلته یو وصفیة شی او بل علمیة نو دا خو متضادین دې ځکه چه وصف تقاضا د ابهام کوی او علم تقاضا د تعین او دغه شان وصف تقاضا د عموم کوی او علم تقاضا د خصوص کوی او په درمیان د ابهام او د تعین او د عموم او خصوص کښې خو منافاة دی.

لما یلزم دا علت بیانوی دپاره د نفی نه دپاره د منفی یعنې دپاره دلا نه دپاره د یلزم من اعتبار دا بیا بیان دے دپاره دما په لما کښې .

سوال: په حکم واحد کښې خو اعتبار د متضادینو جائز دے لکه حکم د عمر او ثلاث واحد دے چه غیر انصراف دے او عمر کښې عدل او علمیة دے او په ثلاث کښې وصف او عدل دے نو وصف او علمیة په یو حکم کښې جمع شول نو څنګه مصنف فی حکم واحد وئیلی دے.

جواب: مراد د حُکم واحد نه لفظ واحد دے نو دلته خو اجتماع راغلی ده خوبه الفاظ مختلفه کښې نه په لفظ واحد کښې بالفاظ دیگر مراد وحدة شخصیه دے فان قلت انتفاد انما غرض د شارح اعتراض دے حاصل دادے چه تضاد په درمیان د وصفیة او علمیة کښې شته دے خو هغه وصفیة چه موجود او متحقق وی او دلته خو وصفیة محقق نه دے بلکه زائله دے نو پکار ده چه معتبر شی او حاتم غیر منصرف شی ولې چه اجتماع د متضادینو نه راځی قلنا جواب دے حاصل ئې دادے چه دا اجتماع د متضادینو دوه قسمه ده (۱) حقیقة چه دواړه متضادین موجود وی (۲)شبیهة چه هغه هم داده چه یو موجود وی او دا بل موجود نه وی او متصور وی نو دا اول قسم خو مکمل او قطعا نا روا دے او دا دویم قسم هم د اول

سره ملحق دے یعنی وهم یکښ شته دے نو شه خبره نه ده څکه د شبهه او شبیه نه ځان ساتل بهتر دي ﴿کما قال رسولنا علیه الصلوات و التسلیمات: الحلال بین و الحرام بین و بینهما مشتبهات فمن وقع فی الشبهات وقع فی الحرام﴾ .... الحدیث. نو موږ څکه اعتبار نه ورکو

﴿وجمیع الباب باللام او الاضافة﴾ ربط خو معلوم دے چه ځلورمه خبره ده چه ذکر د دوو اسبابو د انصراف دے چه هغه غیر منصرف یا منصرف کوی او باقی په حکم د منصرف کښ کوی یا اسباب د انصراف په مختلفو اعتباراتو سره عددا په څو قسمه دي اول داچه جمیعا او کلا ټول اسباب د انصراف پنځه دي (۱) ضرورة (۲) تناسب (۳) تنکیر (٤) دخول اللام (٥) اضافة دویم چه ټول غیر منصرف نه منصرف جوړوی نو ځلور دي (۱) ضرورة (۲) تناسب (۳) دخول اللام (٤) الاضافة دریم په دې مقام چه کوم مذکور دي نو درې دي (۱) تنکیر (۲) دخول اللام (۳) الاضافة نو د دې مقام نه مصنف ځلورم او پنځم سبب په اول اعتبار سره او دریم او ځلورم سبب په دویم اعتبار سره او دویم او دریم سبب په دریم اعتبار سره ذکر کوی "فقال و جمیع الباب" شارح واتی ای باب غیر المنصرف اشارة کوی چه الف لام د الباب عوض دے د مضاف الیه چه غیر المنصرف دے نو عبارت په اصل کښ باب غیر المنصرف وو خو چه کله په حذف د مضاف الیه سره قطع د ترکیب اضافی اوشوه نو عوض کښ الف لام راغلو نو الباب شو او یا الف لام عهدی دے معهود باب د غیر منصرف دے بیا ربط د نړدې سره دا دے چه دا جمله په جواب د سوال کښ واقع ده چه سائل اوی بره هغه باقی اسباب د انصراف چرته دي؟ نو مصنف اوی و جمیع الباب هغه دادی شارح واتی بدخول اللام غرض ئې دفع د سوال ده چه دلته داباء سببیه ده داپه وصف داخلیږی او دلته خو په لام داخله ده چه دا ذات دے.

جواب: دایه حذف د مضاف دے چه بدخول اللام دے نو باء په دخول داخله ده چه وصف دے اوپه دي سره اشاره دي خبرې ته هم اوشو چه دا "اللام" اصل کښ مضاف الیه دے.

سوال: تا اوی چه لام داخل شی نوکسره به راځی نوبه قلم لاحمد کښ خوپه احمد غیر منصرف لام داخل دے او کسره نشته دے.

جواب: شارح واتی ای لام التعریف یعنی په اللام کښ الف لام عهدی دے معهود لام التعریف دے او دلته لام جاره دے.

سوال: په المال لاحمد کښ خو الف لام تعریفی داخل شوی دے او بیا هم کسره نه ده ورکړې شوې.

لکه دالام تعریفي به په غیر منصرف داخل وی او دلته

جواب: شارح وانی علیه حاصل دادے چه دالام تعریفي به په غیر منصرف داخل وی او دلته خو په المال بانديي داخل دے نه په غیر منصرف او الاضافة ای اضافته الی غیره غرض د شارح دفع د سوال ده چه په غلام احمد کښ خو اضافة د غلام شوی دے او بیا هم احمد غیر منصرف بانديي کسره نه ده راغلی

جواب: زما مراد اضافة د غیر منصرف دے بل یو شئ ته نه د بل شئ اضافة غیر منصرف ته او دلته خو اضافة د بل شئ دے غیر منصرف ته شوےنو اتفاقی مثال مررت باحمدکم دے

ینجر بالکسر غرض دماتن پنځمه خبره کول دي چه اشاره ده اختلاف ته په دې مسئله کښ چه په دې غیر منصرف بانديي کله الف لام داخل شی او یا د دې اضافة اوشی بل شئ ته نو ایا دا به منصرف ګرځی او که په حکم د منصرف کښ نو ماتن خو ینجر بالکسر اوی چه په دې سره احاطه د ټولو مذاهبو کوی شارح واني ای یصیر مجرورا غرض ئی دفع د سوال ده چه تا مخکښ حکم د غیر منصرف دا وئیلی وو چه ان "لا" کسرة ولا تنوین نو کسره پری ممتنع ده نو دلته پری څنګه په حالت د امتناع کښ کسره راځی

جواب: یصیر حاصل دادے چه دا متضمن دے معنی د صیرورة لره او صیرورة دپاره د انتقال دیو شئ نه بل شئ ته راځی نو دلته حکم په دې سره دحکم د ان "لا" کسرة ولا تنوین نه منتقل شو جواز د کسره ته نو په حالة د امتناع کښ مرادنه دے

سوال: مصنف الکسر بدون التاء اوی چه دا د مبنی سره خاص دے نو بحث د معرب دے پکار الکسرة مع التاء وو ۔

جواب: ای بصورة الکسر چه مراد صورة کسره ده او صورة په معرب او مبنی دواړو کښ یو شان وی

سوال: تاچه کوم حکم بیان کړو چه الف لام او اضافة سره به پری کسره راځی نوپه مررت بالحبلی کښ په حبلی غیر منصرف لام داخل دے او کسره نشته دے

جواب: لفظا او تقدیرا دا کسره عام ده که لفظا وی لکه باحمد کښ چه ده او یا تقدیرا لکه دلته دي مثال کښ شوه څکه حبلی مقصور دے او د مقصور دپاره اعراب تقدیرا وی و اما لم یکتف غرض د شارح دفع د سوال ده چه دامتن دے او مبنی د متونو په اختصار وی نو ماتن لره عبارت داسی پکار وو چه ینجر فقط څکه مقصود حاصلیږی

جواب: "و اما لم یکتف" حاصل دادے چه که ماتن په ینجر بانديي اکتفاء کړی وی نو داجر په صورة د کسره او فتحه دواړو کښ راځی نو بیا د دخول دلام او د اضافة څه فائده نه ښکاره کیدله هسی هم پری فتحه وه په وقت دعدم انصراف کښے ۔

سوال: نو ينكسر به دې وئيلى وى كنه اے ماتته . جواب ينكسر وئيل هم صحيح نه وو خكه چه كسر به معرباتو او مبنياتو دواړو كښ راځى نو چا به وهم كړى وو چه جوړى مبنى بالكسر شو حالانكه دا نو خلاف المفروض دے .

سوال: نو اے ماتته بيا ينصرف اوايه درى فوائد پكښ دي (۱) اختصار به حاصل شي (۲) كسره به هم راشي (۳) مبنى به هم شي جواب و لنحاة خلاف في ان هذا حاصل دادے چه داسې هم نه شم كولے خكه چه دي كښ اختلاف دے نو بيا تعين ديو مذهب راځى او تر د اخر بيا دلته اختلاف دے نو "لا" بدې ده د امور خمسه نه "الامر الاول" تحرير د محل النزاع تحرير د محل النزاع دادے چه ايا په دخول اللام سره به غير منصرف باندې او اضافة د دې بل شئ ته به دې سره دا غير منصرف متصرف كرځى او كنه به حكم د منصرف كښ كرځى "الامر الثاني" تعيين د مختلفينو نو درى مذاهب دي پكښ "الامر الثالث" دعوى دهر واحد نو دعوى ديو مذهب داده چه په لام او اضافة سره به مطلقا منصرف كرځى يعنې كه علتان زائله وى او كنه او دعوى د دويم مذهب داده چه مطلقا به غير منصرف وى او دعوى د دريم مذهب داده چه حكم مطلقا ندے بلكه موثره به كورو كه علتان زائله وو نو منصرف اوكه نه وو زائله نو غير منصرف "الامر الرابع" د اول مذهب دليل په لان عدم الانصراف سره بيانوى حاصل ئې دا دے چه دا اسم چه غير منصرف دے نو دا د وجې د مشابهة نه د فعل سره په وجود د فرعيتينو كښ غير منصرف كرځيدلے دے نو چه كله پدې الف لام داخل شي او يا د دې اضافة اوشي بل شئ ته نودالام او اضافة د خواصو معظمو مكبرو د اسم نه دي نو دا الف لام او اضافة جمعت د اسمية راجح كوى او قوى ئې كرځوى او دا مشابهة راتلل د فعل سره په وجود فرعيتينو كښ دا جهة اسمية ضعيف او كمزورى كوى نو يو تقاضا د انصراف كوى او دا بل تقاضا د عدم انصراف كوى او قانون دا دے چه "اذا تعارض الدليلان ولا ترجيح لاحدهما تساقطا" نو چه دواړه وجوه موثر ساقط كړل نو اصل ته موثر رجوع اوكړه چه دا اصل كښ څه شئ دے دايه اصل كښے اسماؤ او په اسماء كښے اصل انصراف دے نو خكه موثر منصرف كړل.

سوال: چه دا منصرف شول نو په منصرف خو تنوين هم راځى او دلته خو تنوين نشته .

جواب: (۱) او تنوين پكار دے خو لانه "لا" يجتمع مع اللام و الاضافة چه تنوين د الف لام او اضافة سره مناق دے خكه تنوين كښ تنكير دے او الف لام او اضافة كښ تعريف او تنكير او تعريف نه جمع كيږى (۲) دا لام او اضافة د تنوين قائم مقام دي كنه نوكه دې سره تنوين راشي نو بيا اجتماع راځى په درميان نائب او منوب كښ او دانړوا ده او هر چه كسره ده نو دا دلام او اضافة سره نه مناق ده اونه لام او اضافة د دې قائم مقام دے نو دا راتلى شي "و منهم من ذهب الي انه غير" دا دويم مذهب بيانوى حاصل د دوئ ددليل دادے چه كه سببين باقى وو نو خوپرى تعريف صادق دے نو غير منصرف به وى او كه سببين باقى نه وو چه دلام او د

اضافة په وجه زائل شوی ؤ نو دالام او اضافة عوارض دي او والعوارض "لا" تعتبر ځکه کله وی او کله نه وی نو موثر بقاء د سببین لره اعتبار ورکړو نه عواضرو لره.

سوال: نو چه غیر منصرف شول نو حکم دغیر منصرف خو دادے چه کسره او تنوین به پری نه وی اودلته خو به دے کسره رازی ؟"جواب والممنوع من غیر المنصرف"حاصل دجواب دادے غیر منصرف سره ممنوع بالذات تنوین دے ځکه دا د فعل سره مشابهة ساتی او فعل سره خو تنوین مناق دے ځکه تنوین علامه د اسم ده نه کسره او بل داچه فعل دلالت په اتصال کوی او تنوین په انفصال او د اتصال او انفصال درمیان کښ منافاة دي او کسره په انفعال دلالت نه کوی.

سوال: فعل څنګه په اتصال دلالت کوی.

جواب: فعل په اتصال دلالت کوی ځکه فعل فاعل ځان سره متصل غواړی او چه د فعل نه روستو تنوین راغی نو هغه اتصال ورله بربادوی ځکه فعل سره فاعل متصل نه شو بلکه تنوین ورسره متصل شو نو فصل راغی او دا ځکه فاعل به متصل وی چه دا فعل په فاعل باندې تام شی اوس کسره چه ده نو دا د فعل سره مناق نه ده بالذات ځکه انفصال نه راولی خو داموثره ځکه د فعل سره مناق ګرځول ده چه دا متابعة د تنوین راولی ځان پسی یعنی د دي په تعقب کښ تنوین راځی یعنی چه کسره راشی نو تنوین ته لاره کولاو شی او تنوین هم راځی مثلا غلام زید یو ترکیب دے چه په زید باندې اول کسره راغله نو بیا تنوین راغلو ځکه تنوین د دې تابع دے نو د دې وجې نه موثره دواړه د فعل سره مناق او ګرځول نو په دې سره دا د غیر منصرف سره هم مناق شول ځکه دا د فعل مشابه دے نویه غیر منصرف به هم تنوین منع وی ذاتا او کسره به منع وی تبعا. نو چه کله په غیر منصرف باندې الف لام داخل شی او یا د دې اضافة غیر ته اوشی نو دا خوف به ختم شی چه تنوین دی په دې باندې راشی ولی چه تنوین د الف لام او اضافة سره منافاة لری نو بیا به کسره په خپل حال باقی شی نو کسره به راځی نه تنوین. دوجےدعدم خوف داتنان دتنوین نه.

ومنهم من ذهب دا دریم مذهب دے د دوی دلیل واضح دے چه که علتان باقی وو نو بیا به څنګه غیر منصرف وی چه تعریف دغیر منصرف برے خادق دےؤ اوکه دعلتان نه ؤ جومتصرف به وی دوجے دعدم صدق دتعریف نه .

سوال: چه کله علتان باقی نه وی او زائله نشی نو بیا خو غیر منصرف دے نو دا کسره پری بیا څنګه راځی؟

جواب: دا مخکښ تفصیلی جواب چه اوشو نو دا د دې جواب هم دے فانظره.

﴿و بیان ذلك﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره دا خبره ذکر کوی چه دا علتان به څنګه زائله شوی وی نو حاصل دادے چه په کومو اسبابو کښې علمیة شرط دے او یا موثر بدون الشرط دے نو چه الف لام پرې داخل شی او یا د دې اضافة غیر ته اوشی نو په اول صورة کښې به یکښې یو علت هم باقی نشی او په دویم صورة کښې به یکښې یو علت باقی شی خو یو دیاره د عدم انصراف کافی ندے د اول دیاره مثال ابراهیم دے چه الف لام پرې داخل شی نودایه غیرعلم شی نو یو علت هم ندے باقی او دویم دپاره مثال احمد دے چه غیر علم شی نو صرف وزن الفعل به یکښې باقی پاتی شی او احمر مثال دهغه دے چه که هر څه ورسره اوشی نو په خپل حال باقی دے علتان به یکښې وی.

سوال: الف لام او اضافة ولې علمیة ختموی؟

جواب: بیا اجتماع د التینو د تعریف راځی چه شه کار ندے الامر الخامس چه ترجیح دما هو الراجح ده قال و هذا القول دریم مذهب راجح دے وجه داده چه دا د تعریف سره برابر او موافق دے ولې که علتان وو نو غیر منصرف اوګڼه وو نو بیا منصرف دے او بل دا چه د افراط او تفریط نه خالی دے.

المرفوعات

﴿المرفوعات هو "ما" اشتمل﴾ اجمالی خبرې د دې عنوان (۱) ربط (۲) تشریح د دې عنوان (۳) تعریف (٤) اجمالی اقسام (٥) وجه د حصر په اقسامو کښې (٦) تفصیل دهغه اقسامو

ربط: معنوی ربط دادے چه کوم عام شارحین بیانوی چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل دیو تقسیم د اسم نه چه په اعتبار د انصراف او عدم انصراف وو نو اوس ئې په تفصیل د دویم تقسیم د اسم معرب کښې شروع اوکړه چه دایه اعتبار د اعراب سره دے مرفوع، منصوب او مجرور نه نو دهغې نه ئې تفصیل د مرفوع مقدم کړو ځکه دا عمده دے اودانور دوه فضله دې او عمده په فضله باندې مقدم وی طبعا نو مونږ وضعا هم مقدم کړو چه موافقة د وضع راشی د طبع سره.

او هر چه ربط تفصیلی دے نو هغه څه په دې شان سره دے چه کافیه مشتمله ده په دریو حصو باندې (۱) خطبه (۲) مقدمه (۳) مقصود بیا خطبه په دریو خبرو مشتمله ده یو تسمیه صراحةً دویم حمد دریم صلوة دواړه ضمنا دې مقصد د ضمنا دادے چه دا التزاما معلومیږی په دې شان چه هغه ذاته چه د هغه په نوم شروع د کتاب ده نو هغه لایق د حمد هم دے او دهغه رسول لایق د صلوة دے او مقدمه په پنځو خبرو مشتمله ده (۱) تعریف (۲) اجمالی

اقسام د کلمه (۳) وجه د حصر په اقسامو د کلمه کښ (٤) تعریف د کلام (٥) دوه قسمه د کلام او په مقصود کښ دری مباحث وو اول بحث الاسم ثانی بحث الفعل ثالث بحث الحرف نو هر کله چه فارغ شو مصنف د مقدمه نه نو شروع ئی اوکړه په بحث الاسم کښ بیا بحث الاسم کښ دری حصات دي (۱) مقدمه (۲) مقصود (۳) خاتمه بیا مقدمه کښ دری خبرې دي (۱) تعریف داسم (۲) خواص د اسم (۳) تقسیم د اسم اجمالا معرب او مبنی ته او مقصود کښ دوه بابه دي اول باب په معرب کښ ثانی باب په مبنی کښ او خاتمه کښ لس مباحث دي بیا باب اول په پنځو خبرو مشتمل دے (۱) مقدمه (۲)(۳)(٤) مقاصد ثلاثه (٥) خاتمه نو مقدمه کښ لس خبرې وې دهغې تفصیل اوشو نو اوس شروع په مقصد اول اوشوه چه دې کښ تفصیل د مرفوعاتو دے فقال المرفوعات الخ

ربط لفظی: دامی عنواناتو کښ اعرابات ثلاثه مع البناء جائز وی (۱) دا مرفوع دے نو یا خو خبر دے دپاره د مبتدا محذوفه چه هذه ده ای هذه المرفوعات او یا خو دا مبتداء ده دپاره د خبر محذوف چه هذه ای المرفوعات هذه چه دا "ما" سیاق تر یو حده پورې مرفوعات دي نویه دي اعتبار به دا هو "ما" اشتمل جمله مستانفه شي په جواب د سوال د سائل کښې واقع ده چه سائل دا سوال اوکړو چه هغه مرفوعات ګوم دي نو ماتن اوی چه هو "ما" اشتمل چه په علامه د رفع مشتمل وی نو هغه مرفوعات دي او یا المرفوعات مبتداء ده او دا باقی مانده ورله خبر دے په دي شان سره چه یا خو داهو ضمیر مبتداء ثانی ده او "ما" الشتمل خبر نو مبتداء ثانی او خبر جمله خبر شو دپاره د المرفوعات مبتداء او یا دا هو ضمیر دپاره د فصل دے او "ما" اشتمل خبر دے دپاره د المرفوعات مبتداء نو مبتداء او خبر بیا جمله اسمیه شوه.

(۲)دا منصوب دے او معفول به دے دپاره د فعل محذوف او دا فعل محذوف عام دے که اعنی وي یا ابحث یا اشرع یا اذکر یا اقدم یا افصل وغیره او دا فعل محذوف عام دے که صیغه د متکلم شي او یا امر حاضر.

(۳)دا مجرور دے نو یا خو مجرور بالحرف دے چه ای المقصد الاول فی المرفوعات او یا خو مجرور بالاضافة دے چه هذا بحث المرفوعات.

(۴)دا مبنی دے یعنی "لا" محل لها من الاعراب بس یو عنوان دے دپاره د فصل دے د کلام "لا" حق د کلام سابق نه نویه دي اعتبار دامبنی الاصل ندے بلکه اسم معدود دے.

تشریح د عنوان:نو دي کښ یو المرفوعات دے چه پکښ یو تعیین د الف لام دے دویم تعیین د صیغه د المرفوعات دریم وجه د اتیان د صیغه الجمع ځلورم معنی لغوی پنځم وجه د تسمیه

الف لام څو يا استغراقي دے هره نوع د مرفوعات ترينه مراد ده او يا الف لام عهدي خارجي دے معهود هغه مرفوع دے چه په مقدمه كښ ورته اشاره شوى ده په فالرفع علم الفاعلية سره او يا الف لام جنسي دے جنس مرفوع ترينه مراد دے بيائي جمعية باطل دے.

دا صيغه د جمع مونث سالم ده د باب فتح نه.

سوال: دا مرفوعات جمع د مرفوع ده اوكه د مرفوعة يو هم صحيح نده ځكه چه د مرفوع جمع په واو، نون سره وى نو بيا مرفوعون پكار وو د مرفوع جمع په مرفوعات نه راځى او كه داجمع د مرفوعة شى نو بيا په مرفوعات سره جمع صحيح ده ځو دا صفة د اسم راځى نو د موصوف او صفة درميان كښ مطابقة نشته دے په تذكير او تانيث كښ ځكه "لا" يجوز اسم مرفوعة .

جواب: شارح صيب وائى جمع المرفوع "لا" المرفوعة حاصل دادے چه شارح دوه دعوى اوكړى اول داجمع د مرفوع ده دا ايجابي دعوى ده ثاني دا د مرفوعة جمع نده دا دعوى سلبى ده نو دپاره د دعوى "لا" بدى وى د دليل نه نو دلان موصوفه سره دليل د دعوى ثاني دے او د ويجمع هذا الجمع سره دليل د دعوى اول دے حاصل دادے چه دا د مرفوع جمع ده او د مرفوعة جمع نده ځكه بيا مطابقة معدوم كيږى بين الموصوف و الصفة او كه ته وائى چه دا مرفوع جمع په دې وزن باندې نه راځى نو زه وايم چه د مرفوع مذكر "لا" يعقل دے او د مذكر "لا" يعقل جمع په دې وزن راتلى شى ځكه چه دا د مونث سره مشابهة ساتى په عدم كښ په دې شان سره چه په مونث كښ عدم د عقل كامل وى او په دې كښ عدم د عقل وى بيا دا يجمع فعل مجهول دے او هذا الجمع ورله مفعول مطلق دے او مطردا ترينه حال دے او صفة المذكر نائب فاعل دے نو بناء په دې معنى شوه چه جمع كيدلے شى په دې جمع سره په داسى حال كښ چه داجمع موافق القاعده وى نو صفة د مذكر "لا" يعقل .

سوال: يجمع څو مذكر دے او صفة المذكر مونث نو تجمع پكار وو.

جواب: (١) دا صفة مصدر دے او مصدر "لا" يذكر ولا يونث (٢) دلته فصل راغلى دے نو اختيار دے كه فعل مذكر شى يا مونث .

سوال: داسى چرته يو بل مثال شته دے چه د مذكر "لا" يعقل جمع دې په الف او تاء سره راغلى وى .

جواب: څو مره دې پكار دې دا درى خويه نقدو كښ واخله كالصافنات دا صفة دے د اسونو مذكر چه په دريو ښپو ولاړ وى او دا څلورمه ښپه ئى هسى لګولى وى او اجمال سجلات شو چه سجلات غټ ته وائى او ايام خايات شو. نو دا جمل اويوم مذكر "لا" يعقل دې او جمع ئى په الف تاء سره راغلى ده.

سوال: دری امثله دي ولی راوړل؟

جواب: د وجی د غمی نه چه قهر کړی دي وم (۲) تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندي نو داپو مثال دهغه دے چه غیر ذوی الروح وی چه ایام خالیات دے او دا دوه امثله دهغه دي چه ذوی الروح وی چه صافات او جمال سجلات دي۔

سوال: نودپاره د ذوی الروح دوه مثالونه ولی بیانوی؟

جواب: تعدد د امثلو الخ نو یو مثال دهغه دے چه موصوف ورسره ذکر نه وی او دویم هغه چه موصوف ورسره ذکر وی۔

سوال: نو عزتمنده داسی ولی کوی چه یو لره موصوف ذکر کوی او دویم لره نه ذکر کوی؟

جواب: دیو دپاره موصوف متعین دے چه صافات دے صرف د اسونو دپاره صفة راځی او د دویم دپاره موصوف متعین نه دے چه سجلات دے نو دهغی دپاره مونږ موصوف خکه ذکر کړو چه موصوف تې متعین شی چه مذکر دے (۳) وجه د اتیان د صیغه الجمع۔

سوال: تعریف خو د جنس کیږی نو پکار ده چه صیغه د مفرد ئې راوړی وے خکه جمع دپاره د افراد وی۔

جواب: (۱) صیغه د جمع ئې خکه راوړه چه اشاره پکښ اوشی کثرة د انواع د مرفوع ته۔ (۲) دا جمع ئې خکه راوړه چه وهم دفع شی په دي شان سره چه اول مصنف وتیلی وو فالرفع علم الفاعلية او دلته وائی هو "ما" اشتمل نو واهم به داوهم کړی وی چه دا مرفوع جوړےپه دي فاعل کښ منحصر دے حالانکه خبره خو داسی نده۔

لغوی معنی ئې اوچت کړی شوی سره ده ﴿قال تعالی والسقف المرفوع﴾

وجه دتسمیه هم معلومه ده چه مصطلح مرفوع ته هم خکه مرفوع وائی) چه داهم په دې اخوینو خپلو اوچت کړی شوی وی خکه دا عمده فی الکلام واقع کیږی او داتور اخوین خو فضله وی نه عمده۔

اصطلاحی تعریف:ماتن صیب وائی هو "ما" اشتمل علی علم الخ مونږه به بهترینه معنی اوکړو هو دا جنس مرفوع چه دلالت پری کوی د المرفوعات جمع د قبیلی د دلالت د جمع نه په جنس نه د قبیلی د دلالت د جمع نه په افرادو یا فرد "ما" هغه اسم دے اشتمل چه مشتمل وی د قبیلی د اشتمال د موصوف نه په صفة نه د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء باندي او نه د ظرف نه په مظروف باندي علی علم الفاعلية په علامه د کون د شئ فاعل.

هو په منزله د جنس دے ټولو اشياء ته شامل دے او "ما" اشتمل الخ په منزله دفصل دے نو علاوه د مرفوعاتو نه خارج شول. ماتن هو اوی او شارح والی ای المرفوع غرض د شارح يو تعين د مرجع کول دي او دويم دفع د سوال ده چه دهو ضمير مرجع څه ده؟ دوه احتماله دي پکښې اوګرده سره باطل دي يو داچه راجع شي المرفوع مفرد ته نو لازميږي اضمار قبل الذکر اوکه المرفوعات جمع ته راجع شي نو مطابقة نشته دے بين الراجع و المرجع ځکه مرجع جمع ده او ضمير مفرد دے.

جواب: د دي مذکور اعتراض دري جوابات دي دوه جوابات ضعيف دي اول داچه دا ضمير راجع دے المرفوعات ته او مطابقة پکښې ځکه نشته چه يو قانون دوی پاس کړے دے چه کله ضمير داثرشي په مابين د مرجع او خبر کښې نو لحاظ د خبر اولی دے د لحاظ د مرجع نه ځکه خبر يو امر داخلی دے او مرجع خارجي او لحاظ د داخلی اولی وی د لحاظ د خارجي نه نو خبر مفرد دے نو ضمير هم مفرد شو اګرچه مرجع جمع ده دويم جواب داچه دا ضمير راجع دے المرفوع مفرد ته او اضمارُ قبل الذکر نشته دے ځکه دا المرفوعات جمع ده او جمع په خپلو افرادو دلالت کوی نو دا المرفوع ترينه هم يو فرد شو. دا هغه دوه جوابات ضعيفه دي بيا وجه د ضعف د دوی داده چه بناء په دي سره تعريف د فرد راځي او تعريف د جنس په جنس سره کيږی نه د فرد ځکه افراد غير منضبط دی. دريم جواب شارح جاء ی کړے دے چه حاصل ئی داد ے چه دا ضمير المرفوع ته راجع دے او اضمار قبل الذکر نشته دے ځکه دا المرفوعات جمع دلالت په جنس کوی لکه چه په افرادو څنګه دلالت کوی نو اګرچه مرجع صراحة نه ده موجود خو ضمنا ده کما في قوله تعالیٰ اعدلوا هو اقرب للتقوی.

اويا دا المرفوعات جمع ده خو الف لام جنسي پرې داخل دے نو جمعية ئی ورله ختم کړے دے نو مفرد دے لان التعريف دا دليل بيانوی چه خبره دا ده بله نده چه تعريف د ماهية او جنس کيږی

"ما اشتمل علی علم الفاعلية" اصطلاحی تعريف شروع دے ماتن "ما" وئيلی دے او شارح والی "اسم" غرض د شارح يو تعين دما کول دي په اعتبار د نوع سره چه داما مبهمه ده چه داګومه ده موصوله او که موصوفه نو وای دا موصوفه ده ځکه خو اسم نکره والی.

سوال: چه دا مشترکه ده په موصوله او موصوفه کښې نو قرينه څه ده په اخستلو د دي موصوفه؟

جواب: قرينه پرې وقوع د دي "ما" ده په جانب د خبر کښې ځکه خبر کښې اصل نکارة دے او دابه هله نکره ګرځي چه داما موصوفه شی دويم غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا "ما" به دلته موصوله وی ځکه اکثرموصوله وی نو چه دا موصوله شوه نو دوه نقصانه لازم شول يو داچه موصول به سره د صله نه يو جزء شي نو يا به فصل شي نو جنس معدوم دے او که

جنس شي نو فصل به معدوم وي حالانکه دواړه ضروري دي دويم داچه لازم به شي تعريف د خبر او خبر کښ اصل نکارت دے.

جواب: دا "ما" موصوفه ده نه موصوله دريم غرض د شارح په دې عبارت سره تعيين کول دي د دې "ما" چه مبهمه ده باعتبار المصداق نو وائ دا د اسم نه عبارت دے او دې سره.

سوال: هم دفع شو چه "ما" به د شئ نه عبارت وي نو تعريف کښ داخل شو دال د زيد په جاءنی زيد کښ ځکه دال يو شئ دے چه په علامه د رفع مشتمل دے چه هغه ضمه ده او دغه شان فعل مضارع يکښ هم داخل شوه چه کله خالي وي د نواصب او جوازم نه ځکه داهم يو شئ دے چه مشتمل دے په علامه درفع باندې چه هغه هم ضمه ده حالانکه دايو حرف دے او بل فعل.

جواب: داما عبارة د شئ نه ندے بلکه د اسم نه عبارت دے نو دايو حرف دے او بل فعل دے نو خارج دي.

سوال: داما مشترکه ده په کلمة، لفظ، شئ او اسم کښ نوپه اسم اخستلو قرينه څه ده؟

جواب: قرينه په اسم باندې بحث الاسم دے (۲) د دې مرفوع دپاره جنس قريب اسم دے او شئ وغيره ورله اجناس بعيده دي او قانون دادے چه په جنس قريب سره کار کيږي نو صيرورة به جنس بعيد ته نه کيږي.

سوال: د شارح عبارت کښ استدراك دے چه دما تفسير په اسم سره اوشو نو بيا ورسره اشتمل دوباره ذکر کول مستدرك دي.

جواب: که فقط اسم ئےذکر کړے نو لازميږي ذکر د موصوف علاوه د صفة نه چه دا مستکره دي.

سوال: نو بيا عبارت داسې پکار وو چه "ما" ای اسم اشتمل نو يو به مقصد هم حاصل شي او دويم اختصار راځي.

جواب: داسې هم نه شي کيدلے ځکه بيا لازميږي فصل په درميان د موصوف حقيقي او دهغې د صفة کښ نوداهم مستکره دی. ای علامة کون الاسم فاعلا غرض د شارح تعيين د معنى د علم کول دي ځکه د علم دپاره درې معانی دي (۱) جبل لکه فی البحر کالاعلام (۲) اسم (علم) وضع شئ معين (۳) علامه نو دا درېمه معنى مراد ده په قرينه د عدم صحة ددغه نورو معانيو شارح بيا کون الاسم فاعلا اوی غرض د شارح تعيين دياء کول دي چه داياء مصدريه ده چه دا ګرځوی ملحوق خيل خبر دپاره د کون محذوف سره د اسم محذوف نه او داياء نستبيه صحيح

نده ځکه بیا به معنی شی چه علامة کون الشئ المنسوب الی الفاعل نوپه درمیان د دې کښې داسی یو شئ نشته دے چه دا ورله علامه شی .

سوال: بناء د متونو په احتصار ده نو داسی عبارت پکار وو چه علم الرفع جواب (۱) داسی نه کیږی ځکه چه اشاره پکښې عمده والی د فاعل ته نه کیږی حالانکه وصل عند الجمهور عمده دے نو دپاره د اظهار د عمده والی الفاعلية زیاد کړو. (۲) که داسی مصنف وئیلی وی نو بیا اخذ د محدود راتلو په حد کښې په دې شان سره چه محدود المرفوع دے او په حد کښې هم الرفع راغله بالفاظ دیگر خفاء په تعریف کښې د جهة د ماخذ نه ده نوکه دا ماخذ بیا په تعریف کښې راشي نو لازم به شي اخذ د معرّف په تعریف کښې (۳) په علم الفاعلية کښې توضیح د علم الرفع نه زیاته ځکه علم الرفع اجمال دے او دې بل کښې تفصیل دے نو وضاحة او تفصیل اولی دے.

سوال: نو بیا علم الفاعل وئیل پکار دې بغیر دیاء نه .

جواب: که داسی شی نو بیا وهم راځی چه دا علامه به د ذات د فاعل وی حالانکه خبره داسی نده ځکه که د ذات علامه شی نو په ځای د زید کښې ذات او علامه دواړه دې خوپه رایت زیدا کښې خو ذات شته دے او علامه نه ده موجود حالانکه علامه د شئ د شئ نه نه جدا کیږی نو یاء سره اشاره کوی چه علامه د وصف ده چه فاعل کیدل دې وهی الضمة دا تعین کوی د دغه علامه د رفع چه دا دری دې یو ضمه دادوه قسمه ده یو لفظا دویم تقدیرا نودا لفظی په خلور اسماء کښې راځی (۱) مفرد منصرف صحیح (۲) جاری مجری د مفرد منصرف صحیح (۳) جمع مکسر منصرف صحیح (٤) غیر منصرف او تقدیری په دریو اسماء کښې راځی (۱) اسم مقصور لکه موسی (۲) اسم منقوص لکه قاضی (۳) او غیر دجمع مذکر سالم نه چه مضاف شی یاء د متکلم ته لکه غلامی دویمه واو دے داهم یو لفظا دے دویم تقدیرا واو لفظی په دریو اسماء کښې راځی (۱) جمع مذکر سالم (۲) اسماء سته مکبره کښې (۳) ملحقات د جمع لکه مسلمون، اولومال، عشرون او ابوك واو تقدیری صرف په جمع مذکر سالم مضاف یاء د متکلم کښې راځی لکه مسلمی شو دریم الف دے داپه تثنیه او ملحقاتو دهغی کښې راځی امثله واضح دی. والمراد باشتمال دا تعیین د اشتمال دے ځکه داپه څو قسمه دے اشتمال د کل په جزء(۲) اشتمال د ظرف په مظروف (۳) اشتمال د موصوف په صفة دلته دامراد دے.

سوال: صفة په موصوف باندې حمل وی نو دلته دا ضمه صفة دے او زید موصوف دے نو د ضمه حمل په زید ناروا دے.

جواب: دلته موصوف، صفة حقیقة ندی مراد بلکه داپه منزله د موصوف او صفة مراد دې چه ځکه صفة قائم وی او موصوف قائم بها وی نو داسی دا علامه هم په دې اسم پورے قائم

سوال: په موسی او عصا کښې يوه علامه هم نده موجود .

جواب: تقديرا دلته شته دے خو تقديرا ده.

سوال: تا اوی چه اشتمال د موصوف په صفة مراد دے نو داخو په اعراب بالحركة كښې صحيح دے خوپه اعراب بالحرف كښې خو اشتمال د كل وي په جزء باندې .

جواب (۱) دلته هم مراد د موصوف او صفة نه قائم بها او قائم دي نو دا سوال نه راځي ځکه حرف قائم دے او دا اسم قائم بها دے (۲) دا اعراب بالحرف تابع دے د اعراب بالحركت نو چه اعراب بالحركت پکښې داخل دے نو بالحرف په طريقه د اولى داخل دے او محلا غرض د شارح يو دفع د سوال ده دويم رد دے په فاضل هندى صيب باندې.

سوال: دادے چه موسی كښې خو اعراب تقديرا دے خو په هولاء كښې به څه وی؟

په ځای هولاء كښې دا هولاء مرفوع دے او داخو په علامه د رفع ندے مشتمل نه لفظا او نه تقديرا نو دي نه فاضل هندى جواب كړے دے چه مراد د اسم نه معرب دے اوهولاء مبنى دے خو شارح ته داجواب خوښ نه وو نو رد پرى كوى او خپل جواب كوى چه مراد مطلق اسم دے خو دا علامه عام ده لفظا يا تقديرا او يا محلا نو دلته محلا دے او وجه د رد هم معلومه شوه چه دا مرفوع خو په معرب كښې منحصر ندے ځکه چه ضمير متصل هم مرفوع دے او هغه خو مبنى دے اذ معنى الرفع غرض د شارح معنى د محلا كوى حاصل دادے كه د دي اسم په ځای بل اسم راشي چه معرب وى نو اعراب به لفظا وى او يا به پرى تقديرا وى.

اجمالى اقسام د مرفوعاتو:نوپه هداية النحو كښې اته مذكور دي او دلته ماتن اووه ذكر كړى دي. اسم دكان و اخواتها پكښې ندے ذكر ځکه هغه افعال دي نو داڼې فعل كښې داخل كړے دے او بعض وائى چه او داخو افعال دي خو ناقصه دي نه تامه نو ځان لره مستقلا هم ذكر كړى دى. و على كل اجمالى اقسام دادى (۱)فاعل (۲) نائب فاعل (۳) مبتداء (٤) خبر (٥) اسم دكان و اخواتها (٦) خبر د ان و اخواتها (۷) اسم دما ولا المشبهتين بليس (۸) خبر دلا لنفى الجنس.

وجه د حصر په دي اقسامو كښې:دا عامل د دي اسم مرفوع به خالى نه وى يا به لفظى وى او يا به معنوى كه عامل معنوى وى نو دا معمول به ئ خالى نه وى يا به مسند اليه وى او يا مسند كه مسند اليه وى نو مبتداء اوكه مسند وى نو خبر اوكه عامل لفظى وى نو بيا به خالى نه وى يا به فعل شبه فعل وى او يا حرف، شبه حرف (شبه حرف نه مراد فعل ناقص دے) نوكه فعل، شبه فعل وى نو بيا به خالى نه وى يا به دي سره قائم وى او يا واقع كه قائم وو نو

فاعل اوكه واقع وو نو نائب فاعل او كه عامل حرف، شبه حرف وی نو دا معمول به یا مسند الیه وی او یا مسند كه مسند الیه وی نو داكلام به خالی نه وی یا به موجب وی او یا غیر موجب كه كلام موجب وی نو دا اسم دكان و اخواتها او كه غیر موجب وی نو دا اسم دما ولا المشبهتین بلیس اوكه دا معمول مسند وی نو بیا به خالی نه وی یا به كلام موجب وی او یا كلام غیر موجب كه كلام موجب وی نو خبر د ان و اخواتها او كه غیر موجب نو خبر دلا لنفی الجنس.

الفاعل

تفصیل د اقسامو:نو ماتن وائی: "فمنه الفاعل وهو "ما" اسند الیه الفعل او شبهه و قدم علیه علی جهة قیامه به" د دی مقام اجمالی خبری (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) وضاحة بالمثال (٥) تفصیل د احكامو د فاعل .

ربط:معنوی ربط دادے چه هر كله فارغ شو مصنف د تعریف د المرفوع نه نو شروع اوكړم په تقسیم كښ ځكه تعریف سره وجود ذهنی حاصلیږی چه دی كښ لحاظ داذكیاؤ وی او تقسیم سره وجود خارجی حاصلیږی چه دی كښ لحاظ د غیر اذكیاء دے فقال فمنه الفاعل الخ او یا كله چه فارغ شو د اجمال د مرفوعاتو نه چه په المرفوعات عنوان كښ ورته اشاره شوی وه نو شروع ئی اوكړم په تفصیل د مرفوعاتو كښ فقال فمنه الفاعل الخ دری سوالات راغلل چه نفس تفصیل ولی كوی؟ تفصیل كښ فاعل ولی مقدم كړو؟ او تفصیل څنګه كوی؟

جوابات بالترتیب: دادی چه نفس تفصیل ځكه كوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او یا دا تفصیل نه محتاج وو اوكوم شئ چه تفصیل ته محتاج وی د هغی خلق تفصیل كوی نو ځكه ئی تفصیل كوی او په تفصیل كښ ځكه دا مقدم كړو چه دا عند الجمهور اصل دے او اصل مقدم وی په خلاف الاصل بانديې نو فقدمه بیا دلته اختلاف دے په دی مسئله كښ چه ایا فاعل اصل دے او كنه مبتداء نو د جمهور او محققینو په نزد بانديې فاعل اصل دے او عند البعض مبتداء اصل ده نو ماتن دجمهور مذهب مختاره كړے دے. او د دی خبری پوره تفصیل راځی او تفصیل داسی كوی چه یو به تعین د قسم اول اوكړی په الفاعل سره او دویم به د دی تعریف اوكړی په وهو "ما" اسند سره دریم به وضاحة بالمثال اوكړی په مثل قام زید سره څلورم احكام به ورله بیانكړی و الاصل ان یلی سره.

ربط لفظی: داسی دے چه فاء تفصیلیه ده او منه په اعتبار د متعلق سره خبره مقدم او الفاعل مبتداء موخر ده نو مبتداء او خبر جمله اسمیه شوه. شارح صیب وائی من المرفوع غرض ئی تعیین د مرجع كول دی.

او هغی کښې دايو نه دے يو مشهور دی من د اقسام دری دے؟ من کوم دامن :سوال ابتدائيه دا ځکه صحيح ندے چه مقابله دهغی کښې الی راځی لکه سرت من البصرة الی الكوفة او دلته خو الی مقابله کښې نشته دے او دويم تبعيضيه دا ځکه صحيح ندے چه مدخول د دي جزء وی دما قبل نه او دلته خو داسی ندے ځکه فاعل جزی دے نه جزء او دغه شان مدخول دمن تبعيضيه متعدد وی فاعل خو متعدد ندے او دريم بيانيه دا ځکه صحيح ندے چه دهغی نه تعبير په الذی سره صحيح کيږی او دلته خو خبره داسی نده ځکه عبارت به شی فمن الذی هو الفاعل نو دا انحصار راځی د مرفوع په فاعل کښې چه ناروا ده.

جواب: دامن دلته ابتدائيه دے خوداپه دوه قسمه د ے (١) اتصاليه چه په مقابله دهغی کښې الی وی (٢) انفصاليه چه مدخول د دی يو امر کلی وی چه انتزاع د جزئياتو ترينه کيږی دلته هم دامن ابتدائيه انفصاليه دے ځکه چه مدخول دهغی ضمير دے چه راجع دے المرفوع ته او دا المرفوع يو امر کلی دے ډير جزئيات ترينه منتزع دی (عبد الغفور لاری) بيا ددی ضمير په مرجع کښې دوه احتماله دی او هر يو احتمال کښې دوه قبح او دوه حسنه دی يو داچه دا المرفوع ته راجع شی نو يو حسن دادے چه مقصود ته راجع شو او دويم داچه اجتناب راغی د انتشار فی الضمائر نه او يو قبح پکښې داده چه مرجع بعيد شوه او دويم داچه ضمنا ده او دويم احتمال دا چه دا ضمير راجع شی "ما" اشتمل ته نو يو حسن پکښې دادے چه قريب ته راجع شو او دويم داچه مرجع صراحة ذکر ده او دوه قبح پکښې هم دي يو داچه مرجع غير مقصود ده او دويم داچه انتشار فی الضمائر راغی

لغوی تحقيق: دي عنوان کښې "لا" بدی ده د دريو امورونه يو صيغه نو فاعل صيغه د اسم فاعل ده دويم معنی نو معنی لغوی ئی کارکونکی سره ده دريم وجه تسميه نو وجه تسميه واضح ده چه اصطلاحی تعريف کښې هم دا معنی ملحوظ ده.

سوال: تا اوی چه دا فاعل صيغه د اسم فاعل ده نو دا خو څه د قيقه خبره ده دي فاعل او اسم فاعل کښې څه فرق شته دے او کنه؟

جواب: او په فاعل او اسم فاعل کښې ډير فرقونه دي منها[١] اسم فاعل دال وی او فاعل مدلول وی و منها[٢] اسم فاعل مشتقی وی او فاعل عام دے دواړه راځی و منها[٣] دهر اسم فاعل دپاره فاعل ضروری دے نه دپاره د فاعل و منها[٤] اسم فاعل شبه جمله وی علاو د دوو مقاماتو نه او فاعل مفرد وی و منها[٥] فاعل اسم ظاهر او ضمير دواړه کيدلے شی په خلاف د اسم فاعل چه دابه صرف اسم ظاهر وی و منها[٦] اسم فاعل مرفوع منصوب او مجرور درې واړه راتلی شی ه خلاف د فاعل چه دا مرفوع وی فقط ومنها[٧] د اسم فاعل دپاره يو خاص وزن وی او د فاعل دپاره نه وی، ومنها[٨] اسم فاعل کله کله فاعل واقع کيږی او فاعل نه و انما قدمه غرض د شارح په دي عبارت سره وجه د تقديم بيانوی دپاره د تفصيل د فاعل نوبه

اصالة د فاعل او مبتداء كښ اختلاف دے نو لاندې ده د امور خمسه نه (١) تحرير د محل النزاع نو دلته دوه صورته دي اول داچه دا فاعل او مبتداء په مرفوعاتو كښ اصل دي بالاتفاق دويم داچه بيا فاعل اصل دے اوكه مبتداء نو دا موضع الاختلاف دے (٢) تعين د مختلفينو نو يو مذهب د جمهورو نحاتو دے و منهم المصنف او دويم مذهب د بعض نحاتو دے و منهم زمحشرى (٣) دعوى دهر واحد نو جمهور نحاة وائى اصل فاعل دے او بعض وائى نه اصل مبتداء ده. (٤) دلائل د هر واحد نو دجمهور دپاره درې ادله دي. دليل اول شارح صيب وائى لانه جزء الجملة الفعلية حاصل دادے چه دا فاعل د جمله فعليه جزء دے او جمله فعليه اصل د جملو دے نو جزء د اصل هم اصل وى چه فاعل دے.

سوال: داجمله فعليه ولې اصل ده؟

جواب: جمله فعليه ځكه اصل ده چه يو خو دا دلالت په ارتباط كوى چه قوى دے په دې شان سره چه جمله فعليه كښ فعل فاعل غواړى چه دا فاعل د دې فعل نه جزء دے چه دا فعل د جمله دپاره اول جزء دے نو دې دپاره د فاعل نه "لا" بدې شوه په خلاف د جمله اسميه باندې چه مبتداء يكښ خبرغواړى چه دا د جزء اول نه جزء ندے بلكه داخان له مستقل جزء دے ثانى نو قوة يكښ نشته ځكه خو فاعل نه حذف كيږى ابدا چه فعل دې ذكروى نه فاعل او مبتداء نه خبر كله كله حذف كيږى (والله اعلم) دويم داچه دا جمله فعليه شامليږى اخبار او انشاء ته بالذات او دا جمله اسميه هم خو بالواسطه و التوسل دليل ثانى شارح صيب وائى چه ولان عامله حاصل دادے چه عامل د فاعل لفظى دے او عامل د مبتداء معنوى دے او لفظى د معنوى نه قوى وى نو موثر د فاعل قوى شو د موثر د مبتداء قوة د موثر تقاضا د قوة كوى په اثر كښ چه فاعل دے نو قوى شو او قوى اصل وى دليل ثالث دا فاعل اصل دے ځكه حذف د فاعل ناروا دے بغير د مسد نه او حذف د مبتداء بغير د سد مسد نه هم جائز دے تونه حذف كيدل بلا سد مسد هم دلالت كوى په قوى كيدلو او اصل كيدلو د فاعل باندې و قيل اصل المرفوعات المبتداء دا دعوى د بعض نحاتو ده د دوى دپاره دلائل دوه دي دليل اول شارح صيب وائى: چه "لانه باق" حاصل دادے چه اصل په مسند اليه كښ تقديم دے او په دې خصلت باندې فاعل ندے قائم مگر مبتداء پرى قائم ده ځكه مبتداء مقدم وى په خبر نه فاعل په فعل باندې دليل ثانى شارح صيب وائى چه ولانه يحكم عليه حاصل دادے چه په مبتداء باندې د مشتق او غير مشتقى دارو حكم كيږى لكه زيد قائم او ابو بكر ابوك په خلاف د فاعل چه صرف د مشتقى حكم پرى كيدلے شى چه هغه فعل دے فقط

"ترجيح دما هو الراجح" نو شارح د بعض نحاتو مذهب په صيغه د تمريض سره بيان كړے دے چه قيل دے خو دهغو د ادلو نه جوابات دادى جواب عن الاول دادے چه فاعل هم په خصلة د تقديم باندې قائم دے خو د وجى د عارض نه موخر شوى دے ځكه كه مقدم

شی نو لازم به شی التباس د فاعل د مبتداء سره چه دا فاعل دے او که مبتداء ده او جواب عن الثانی دادے چه تاسو خو په حکم د مبتداء کښ عموم کوئ چه د مشتقی او غیر مشتقی حکم پری لګی خو دا عموم په شئ کښ سبب د ضعف وی نو دا عموم دلیل د ضعف شو نه د اصالة اوکه داعموم سبب د اصالة شی نو داپه فاعل کښ هم شته دے چه حکم پری فعل متصرف سره هم لګی او غیر متصرف سره هم لکه ضرب زید او نعم الرجل زید وغیره.

اصطلاحی تعریف د فاعل:نو ماتن صیب دا کړے دے په "ما" اسند سره نو دد ی تعریف د فاعل نه څو خبری مستفاد شوی چه په هغی فاعل پیژندلے شی اول دا فاعل به اسم وی. دویم اسناد به پکښ وی دریم اسناد د فعل او یا شبه فعل به وی څلورم دا فعل او شبه فعل به مقدم وی پنځم دابه په طریقه د قیام سره وی.

مثال مع التطبیق ضرب زید دا زید فاعل دے نو اسم هم دے او اسناد د فعل چه ضرب دے ورته هم شوی دے او دا ضرب فعل مقدم هم دے او په طریقه د قیام دے ماتن هو وئیلی دي او شارح وائی ای الفاعل غرض ئی تعیین د مرجع کول دي "ما" ای اسم دا تعین دما کوی په اعتبار دنوع سره چه داموصوفه ده په جانب د خبر کښ واقع ده او د مصداق په اعتبار هم تعین اوشو چه دا عبارت د اسم نه ده په قرینه د بحث الاسم او د جنس قریب بیا شارح وائی حقیقة او حکما دا دفع د سوال ده چه تعریف د فاعل جامع ندے خارج شو ترینه ان ضربت په اعجبنی ان ضربت زیدا کښ څکه دا فاعل دے او اسم ندے جمله ده .

جواب: دا اسم عام دے که حقیقة وی او که حکما لکه دلته دا حکما دے څکه داپه تاویل د مفرد سره ضربك زیدا دے. اسند الیه الفعل بالاصالة "لا" بالتبعیة داهم دفع د سوال ده چه تعریف د دخول د غیر نه مانع نه شو تابع د فاعل پکښ داخل شو مثلا جاءنی زید و عمرو دے نو دا عمرو تابع دے او دي ته اسناد د جاء شوی دے او داپری مقدم هم دے.

جواب: مراد د اسنادنه په طریقه د اصالة سره دے نو دي عمروته اسناد اصالة ندے بلکه بالواسطه دے نو داخل ندے. لیخرج عن الحد دا د قید د اصالة فائده بیانوی.

سوال: ماتن خو مطلق اسناد بیانکړی دے څنګه تاسو بالاصالة اخلئ قرینه څه ده؟

جواب: بقرینة ذکر التوابع بعدها مصنف په خاتمه کښ توابع بیانوی نو دلته ندی مراد او شبهه .

سوال: دا او دیاره د تشکیك راځی او تعریف دپاره د توضیح وی نه دپاره د تشکیك .

جواب: دا کلمه د او دپاره د تنویع ده نه د تشکیك "ای "ما" یشبهه فی العمل" غرض د شارح وضاحة د تشبیه کوی او دویم دفع د وهم کوی چا واهم به داوهم کړ چه د تشبیه نه به

مصطلح تشبيه مراد وى او دريم دفع د سوال دى چه تا اوى دابه د فعل سره مشابهة ساتى نو اسم تفضيل ترينه خارج شو ځكه په هغى كښى معنى د زيادة وى او په فعل كښى معنى د زيادة نشته.

جواب: مشابهة په ټولو امورو كښى نده مراد بلكه صرف په عمل كښى مشابهة مراد ده نه زيادة كښى و انما قال ذالك اد ددے قيد فائده بيانوى "و قدم اى الفعل او شبهه" غرض د شارح تعين د مرجع د ضمير د قدم كوى.

سوال: قدم مفرد دے او فعل او شبه فعل خو دوه شيان دى مطابقة نشته دے په درميان د راجع او مرجع كښى.

جواب: دايو قانون دے چه كله په او سره دوه شيان ذكر شى نو ضمير د مفرد او تثنيه دواړه ورته راجع كيدل صحيح دي ځكه اد مؤول وى په احد الامرين سره عليه اى على ذالك الاسم اد تعين د مرجع كوى و احتراز به عن نحو اد د دي قيد فائده ده چه په زيد ضرب كښى زيد فاعل ندے ځكه فعل پرى مقدم ندے

سوال: نوپه زيد ضرب كښى خو نسبة د فعل ضمير ته شوى دے نه زيد ته.

جواب: نو هغه ضمير زيد ته راجع دے و المراد تقديمه اد دفع د سوال ده چه په كريم من يكرمك كښى دامن يكرمك مبتداء موخره ده او كريم ورله خبر مقدم دے حالانكه اد كريم شبه فعل دے او مقدم هم دے نو من ته فاعل وئيل پكار دي حالانكه تاسو ورته فاعل نه وائى؟

جواب: زمونږ مراد د تقديم نه وجوبا دے او اد تقديم د كريم دلته واجب ندے بلكه من يكرمك كريم هم جائز دے فان قلت اد سوال دے چه "فى الدار رجل" اد رجل مبتداء ده او مؤخره او فى الدار په اعتبار دمتعلق سره خبر مقدم دے او دانقديم دفى الدار واجب دے نو پكارده چه دارجل فاعل دهغه متعلق شى قلت اد جواب دے حاصل دادے چه مراد د تقديم نه تقديم وجوبى نوعى دے او دي تركيب كښى خو تقديم وجوبى شخصى دے نه نوعى بيا د نوعى مقصد دادے چه چرته فاعل وى نو فعل او شبه فعل به پرى مقدم وى وجوبا نو داخبره په خبر كښى لازم نده چه چرته خبر وى و هغه به مقدم وى بلكه اد خو يو موضع دے و سياق تفصيله.

على جهة قيامه به په دي قيد سره احتراز د نائب فاعل نه اوشو شارح والي اسناد واقعا على طريقة اد دفع د وهم كوى چه جهة نه به مراد د جهات سته نه وى نو شارح اوى نه دانه ده مراد بلكه په معنى د طريقه مراد ده.

سوال: جار مجرور لره اعراب وى نو دلته د دي څه اعراب دے؟

جواب: اعراب ورله نصب دے.

سوال: نو منصوبات خو دولس دی داپکښ کوم دے؟

جواب: دا مفعول مطلق دے.

سوال: مفعول مطلق نه مخکښ خو فعل وی چه په دې مفعول مطلق باندې مشتمل وی د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء باندې.

جواب: دا مفعول مطلق مجازا دے نه حقیقة او اشتمال په حقیقی کښ شرط دے نو دا اصل کښ دهغی دپاره صفة دے ای اسنادا نو اسناد باندے هغه مشتمل دے سوال چه جارمجرور صفة شو دپاردهغه مفعول مطلق حقیقی نو داجارمجرور چه صفة واقع کیری داپه اعتبار دمتعلق سره وی نو هغه متعلق (أسند)مذکور واپے اوکه (اسنادًا) محذوف یو نه دے صحیح که اسنادا شی نو لازمیری کون دشئ واحد صفة اوموصوف او که (اسند) شی نولازمیری تقدیم دصفة په موصوف باندے اودادواړه کاروته ناجظزدی جواب متعلق ددن نه (اسند) دے او نه (اسنادا) بلکه هغه یو بل شئ دے چه هغه د دې متعلق دے او د اسنادا دپاره صفة دے چه واقعات دے نو دا ظرف لغو نشو بلکه ظرف مستقر شو او جار مجرور چه په څلورو مواضعو کښ واقع شی نو ظر مستقر به وی (۱) صله کښ چه راشی (۲) خبر کښ (۳) حال کښ (٤) صفة راشی، و شبهه به ای بالفاعل دا شو تعیین د مرجع اوس معنی داده چه واقع به وی دا فعل او شبه فعل په طریقه د قیام د فعل او شبه فعل تر فاعل پوری فطریق قیامه غرض د شارح دفع د سوال ده چه متبادر د قیام نه صدور دے نو مات زید او طال بکر کښ دا زید او بکر د تعریف نه خارج دې ځکه موت او طول خو د زید او بکر نه صادر ندی حالانکه دا فاعل دي.

جواب: د قیام نه مراد صدور ندے بلکه چه دا صیغه د معلوم وی نو که صادر وی او یا نه والاحتیاج الی هذا القید غرض د شارح دفع د سوال ده چه عمده دې فن کښ زمحشری دے نو هغه خو دا قید د علی جهة قیامه به په تعریف د فاعل کښ ندے لګولی او داکافیه چه دهغه د کتاب نه ماخوذ ده دلته دا قید شته دے نو دا خو خلاف کول دماخوذ دې دماخوذ منه او داخوښه کار ندے.

جواب: دا قید عند الماتن ضروری دے نه د زمحشری په نزد ځکه زمحشری نائب فاعل تعریف دفاعل کښ داخل کرے دے او ماتن ترینه خارج کرے دے نو داسی قید پکار دے چه نائب فاعل ورسره خارج شی او هغه هم دا قید دے.

وضاحة بالمثال: ماتن والي مثل قام زيد او شارح والي (زيد ق قام زيد) دا دفع د سوال كوى چه ماتن خو والى چه دا توله جمله فاعل دے حالانكه دا فاعل خو زيد دے فقط خكه فاعل مفرد وى.

جواب: او فاعل هم دا زيد دے فقط نه جمله او دا مشهوره تسامح ده چه مصنفن ئى كوى او خه پروانه لرى. فهذا المثال دا تطبيق د مثال كوى د ممثل سره او دفع د سوال هم ده چه يو مثال كاف وى دپاره د توضيح د ممثل نو دوه امثله ولى بيانوى؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وى په تعدد د ممثلاتو نو يو مثال دپاره د فعل دے او دويم د شبه فعل.

سوال: تا د شبه فعل دپاره مثال زيد قائم ابوه اوى نو قائم ابوه فقط اوايه كنه زيد ته خه حاجة دے.

جواب: دا قائم اسم فاعل دے او د اسم فاعل دعمل دپاره اعتماد شرط دے په يو د اشياء سته بانديي (۱) مبتداء (۲) موصوف (۳) موصول (٤) ذو الحال (٥) حرف استفهام (٦) حرف نفى نو دلته دا زيد مبتداء ده دپاره د اعتماد چه عمل اوكرى دا قائم

احكام د فاعل: قال و الاصل ان يلى الفعل هر كله چه فارغ شو د تعريف نه نو شروع ئى اوكره په تفصيل د احكامو كښ نو دا احكام دوه قسمه دي (۱) اضطرارى يعنى واجب دي (۲) اختيارى چه جواز الامرين دے يكښ او يو طرف يكښ مختاره هم وى دلته هم خبره داسےده چه جواز الامرين سره د اختيار ديو طرفنه دے نو قال و الاصل شارح واق ق الفاعل دا دفع د سوال ده چه لازم شو خروج عن البحث خكه بحث د فاعل دے او ته خو فعل كوى .؟

جواب: چه دا فعل هم متعلق د فاعل دے نو خروج عن البحث نشته دے او دويم غرض د شارح دفع د ابهام ده چه ماتن اصل وئيلى دے نو داخو په معنى د قاعده او قانون راخى او دا قاعده او قانون په هر خه كښ وى نو د دي وجى نه ابهام وو نو شارح دفع كړو چه فاعل كښ مراد شارح والى "ما" ينبغى دا تعين كول دي د معنى د اصل خكه دا صل خو معانى دي (۱) "ما" يبتنى عليه غيره دا بيا دوه قسمه ده يو حسا دويم عقلا د اول مثال ويخ د ديوال او دويم اصول دپاره د احكام شرعيه (۲) قانون او ضابطه هم د اصل معنى ده نو بيا قانون وئيلى شى چه اوكلى ينطبق على جميع جزئيات موضوعه ته.(۳) استصحاب الحال يعنى قياس د "ما" يكون په ماكان بانديي (٤) راجح او اولى (٥) دليل كما قال اتو الزكوة اصل لوجوب الزكوة او دلته مراد راجح او اولى دے. دويم غرض د شارح دفع د سوال ده چه كله اسل ذكر شى نوداپه

معنی د قانون سره وی نو داهم قانون شو نو بناء پدی باندې دا ترکیب چه ضرب عمروا زید دے داناروا شو ځکه فاعل د فعل سره متصل ندے د قانون مخالف دے.

جواب: اصل په معنی د راجح دے نه په معنی د قانون.

سوال: نو بیا عبارت کښ لفظ د اولی پکار وو یو به تصریح په مقصود شوی وی دویم اعتراضات به نه راتلل دریم د اَن یلی سره مناسب هم وو.

جواب: (۱) اولی لی اونه وی او اصل سره ئی تعبیر اوکړو ځکه صرف اولویة ندے بلکه اصالة لره پکښ هم دخله ده. (۲) په اصل سره ځکه تعبیر کوی چه ترغیب شی طلباء ته ځکه دوی د اصل نوم سره متوجه کیږی (۳) روستو دې حکم باندې تفریعات کوی او متفرع علیه اصل او قانون وی نو ځکه اصل سره تعبیر کوی.

سوال: نویه ضربك زید کښ دا زید فاعل دے اوك ضمیر مفعول به دے نودلته خو تقدیم د فاعل راجح نه بلکه ممتنع دے چه ضرب زیدك شی جواب شارح وائي الا ان یمنع مانع او دلته مانع شته دے هغه داچه وقوع د ضمیر ده مفعول متصل فعل سره بالفاظ دیګر دلته بیان د حکم اختیاری دے او دې مذکور مثال کښ حکم اضطراری دے ان یلی الفعل المسند الیه شارح قید د المسند الیه اولګونو دې مقصد دانه دے چه دا فعل به مسند الیه وی ځکه فعل مسند الیه نه وی نو مقصد دادے چه دا اسناد د فعل به شوی وی دې فاعل خپل ته نو معنی لغوی مراده ده نه اصطلاحی.

سوال: ماتن چه یلی الفعل وائی نو یلیه ولی نه وائی اختصار پکښ هم دے او دا ضمیر به راجع شی فعل او شبه فعل دواړو ته نو مقصودهم حاصلیږی ځکه چه دا حکم په شبه فعل کښ هم دے.

جواب: ماتن په الفعل باندې تصریح اوکړه دپاره د دې چه دا حکم د مخاطب سره اوقع فی الذهن شی.

سوال: نو شبه فعل ترینه خارج شو حالانکه هلته هم دا حکم دے.

جواب: شارح المسند الیه وئیلی دے نو هغه داخل دے ځکه څنګه چه د فعل اسناد د فاعل ته وی نو د شبه فعل اسناد هم فاعل ته وی.

سوال: نو ماتن دیبب تعبیر ولی په الفعل سره کوی؟

جواب: اشاره ده پکښې اصالة د فعل ته چه دا فعل عمل کښې اصل دے نه چه شبه فعل څکه هغه د مشابهة د وجې نه عمل کوی.

ان يكون بعده من ع ، ل غرض د شارح په دې عبارت سره معنى د ولى بيانوى او دفع د سوال كوى چه پلى د وَلى نه دے په معنى د اتصال سره دے نو اتصال اول او اخر دواړو ته شامل دے حالانکه فاعل مخکښې کول په فعل باندې نارو دى.

جواب: شارح اوی بعده اول نه دے مراد بیا دا بعد ظرف وو لو شارح ورله متعلق متعین کرو چه يكون دے.

سوال: چه مراد اتصال بعده دے نو ضرب عمرو زيد كښې خو هم د فاعل اتصال بعده راغلے دے نو داهم څه راجح شو؟

جواب: من غير ان يتقدم حاصل د جواب دادے چه د بعدية نه مراد بلا فصل دے او دلته بعدية مع الفصل دے او دا معنى د پلي هم ده چه واقع كيدل دبو شئ بعد الشئ بلا فصل.

سوال: نو ضرب الرجل زيدا تركيب كښې رجل فاعل دے او د فعل سره متصل نه دے څکه الف لام فاصل واقع شوى دے او بيا هم دې ته خلق راجح وائى.

جواب: من معمولاته مراد د فاصل نه معمول فاصل دے او الف لام معمول ندے، لانه كالجزء دا علت او دليل بيانوى حاصل دادے چه دا فاعل د فعل نه لفظا او معنى جزء دے جميعا بيا معنى لشدة الاحتياج مقصد دادے چه فعل اصطلاحى د دريو اشياء نه مركب دے (۱) حدث (۲) نسبة إلى الزمان (۳) نسبة إلى الفاعل نو دا فاعل جزء شو او لفظا و يدل عليه اسكان اللام مقصد دادے چه كله ضمير مرفوع متصل شى د فعل سره نو اخر ئى ساكن كيږى چه توالى داربع حركات لازم نشى فيماهوكاالكلمة الوحدة كښې يعنى ضربت صيغه د متكلم او مخاطب چه ده نو دا ضرب فعل دے او (ت) ضمير مرفوع متصل دے نو چه دا متصل شو د فعل سره نو اخر ئى ساكن شو نو داسكون كيدل د اخر دلالت كوى چه دا د فعل نه جزء دے او شارح عين الكلمه نه وائى بلكه بمنزلة كلمة واحدة وائى څكه اصل كښې دا دوه كلمات دى (۱) فعل (۲) فاعل خو د شدة امتزاج نه يوه كلمه ګرځيدلى ده فلذالك دا تفريع كوى په ماقبل باندې شارح وائى الاصل الذى غرض ئى يو تعين د متفرع عليه كول دى څكه قانون دادے چه كله لام داخل شى په اسم اشاره باندې نو مشار اليه د دغه اسم اشاره علت وى دپاره د مابعد حكم نو روستو دوه احكام دى يو جاز دويم امتنع او علت ورله شارح الاصل الذى سره متعين كړو چه داما قبل حكم چه تقاضا پكښې فاعل د تقديم كوى په معمولاتو د فعل باندې.

سوال: په فلذالك كښ يوفاء او دويم لام دے دوارہ ديارہ د تعليل راځي يعنى د لام نه بعد علة وى ديارہ دما قبل او د فاء نه "ما" قبل هم علت وى ديارہ د حكم نو يو پكښ مستدرك شو.

جواب: (۱) دالام ديارہ د تعليل دے او فاء ديارہ د تفريع (۲) دوارہ د تعليل دي خو فرق پكښ شته دے په دي شان سره چه دلام مدخول علة وى ديارہ د حكم په طريقه د دليل لمى او دغه شان د فاء "ما" قبل هم خو په طريقه د دليل انى بيا مقصد د دليل لمى دادے چه استدلال د علة نه په معلول وى او دليل انى دادے چه استدلال د معلول نه په علت وى.

جاز ضرب غلامه زيد مراد په دي مثال سره هر هغه تركيب دے چه فعل متعدى وى فاعل او مفعول دوارو ته فاعل او مفعول پكښ دوارہ د فعل نه روستو وى او دا فاعل لفظا روستو وى او مفعول مقدم او مفعول حامل وى ضمير د فاعل لره دي مثال مذكور كښ ضرب فعل دے او غلامه مفعول او زيد فاعل دوارہ روستو دي او بيا فاعل لفظا روستو دے او مفعول مقدم او دا مفعول غلامه حامل دے ضمير د فاعل لره. لتقدم مرجع دا علت بيانوى حاصل دادے چه اضمار قبل الذكر لفظا او رتبة ناروا دے او دلته صرف لفظا اضمار قبل الذكر راغلى دے خو دانارو ﻫ دے او رتبة نه ځكه چه مرتبه د فاعل خو مقدم ده په مفعول باندي يعنى فاعل خو تقاضا د تقديم كوى په مفعول باندي خو ذكرا روستو دے و امتنع ضرب غلامه زيدا مراد په دي مثال سره هر هغه تركيب دے چه فعل متعدى وى فاعل او مفعول ته او فاعل په مفعول باندي مقدم وى او فاعل حامل وى ضمير د مفعول لره تطبيق د مثال اسان دے لتاخر مرجع الضمير دا علت دے حاصل دادے چه دلته اضمار قبل الذكر لفظا او رتبة دوارہ راغلى دے او داخو ناروا دے په دي شان سره چه د غلامه ضمير زيدا مفعول ته راجع دے او دا مفعول لفظا هم روستو دے او مرتبه ئې هم روسته ده خلافا للاخفش و ابن جنى غرض د شارح بيان الاختلاف دے نو دلته بيا "لا" بدى ده دامور خمسه نه (۱) تحرير د محل النزاع دادے چه درى صورته دي يو فاعل كښ ضمير وى او د مفعول موخر نه علاوه بل شى مؤخر ته راجع وى نو دا ناروا دے اتفاقا لكه صاحبها فى الدار شو صاحبها ضمير دار ته راجع دے چه علاوه د مفعول دے دويم په مواضع سته كښ هم اضمار قبل الذكر جائز دے اتفاقا يو باب د تنازع الفعلين كښ دويم چه ابدال د اسم ظاهر اوشى د ضمير نه لكه فسواهن سبع سموات داهن ضميردے سموات نه دريم ضمير د رب كښ لكه ربه رجلا څلورم ضمير شان پنځم ضمير قصه شپږم ضمير د نعم لكه نعم الرجل اويو چاپه دي دوو فقرو كښ پنځه جمع كړى دي . فقال.

اضمار چه قبل الذكر شى پنځه ځايه روا دے

دنعم په ضمير كښ بل د رب حكم دادے

دريم تنازع دے څلورم ضمير الشان

پنځم ؛ ظاهر دے چه يدل شي له ضميره

دريم چه مفعول ته اضمار قبل الذكر اوشي او مفعول موخر وی نو دې كښ اختلاف دے (۲) تعين د مختلفينو دادے چه دوه مذهبه دې يو مذهب د جمهورو مع المائن دے او دويم د اخفش او ابن جنی دے (۳) دعوی د اول مذهب په عدم جواز ده او د دويم په جواز ده (٤) دليل د اول مذهب دادے چه دې سره اضمار قبل الذكر راځي لفظا او رتبة او دا ناروا دے او دليل عقلی د اخفش او ابن جی دادے چه څنګه فاعل د فعل دپاره موقوف عليه دے يعنی دا فعل فاعل ته محتاج دے په صدور كښ نو دا مفعول هم موقوف عليه دے دپاره د فعل يعنی دا فعل مفعول ته محتاج دے په وقوع كښ نو چه فاعل ته اضمار قبل الذكر جائز دے نو مفعول ته دې هم جائز شي كنه او دوی دپاره نقلی دليل دادے چه شاعر صيب وائی.

جزی ربه عنی عدی بن حاتم　　جزاء الكلاب العاويات و قد فعل

محل د استشهاد داد ربه داضمير عدی بن حاتم ته راجع دے او هغه مفعول دے نو جائز شو (۵) ترجيح دما هو الراجح داده چه د جمهورو مذهب راجح دے خو د دې پل مذهب د دلائلو نه جوابات ضروری دي نو شارح د دليل عقلی نه جواب ندے كړے څكه دا علوم نقليه دي او دې كښ دلائل نقليه معتبر وی خو د عقلی دليل نه .

جواب: دادے چه قياس د مفعول په فاعل باندې صحيح ندے څكه فاعل محتاج اليه دهر قسم فعل دے او مفعول مهتاج اليه دهر قسم فعل ندے بلكه صرف د فعل متعدی او بل داچه فاعل محتاج اليه د فعل دے شطرا (جزأ) او مفعول دے خو شرطا نو شطر د شی جزء من الشئ وی او شرط خارج من الشئ وی نو فاعل داخل دے فعل كښ او مفعول ندے داخل نو قياس مع الفارق دے و اجيب دا د دليل ثانی نه اول جواب دے حاصل دادے چه دعوی د اخفش او ابن جنی عام ده او دليل خاص په دې شان سره چه دوی قائل دي په اضمار قبل الذكر باندې مطلقا او دليل كښ شعر پيش كوی چه يجوز فيه "ما" "لا" يجوز فی غيره و بانه "لا" نسلم دا دويم جواب دے د دليل ثانی نه حاصل دادے چه دې ضمير مرجع كښ يو بل احتمال هم شته دے هغه داچه مرجع د جزی فعل مصدر دے او فعل خو په مصدر باندې مشتمل وی نو اصل شو جزاء رب الجزاء نو دوه احتمالات دې پكښ او اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال

و اذا انتفى الاعراب مصنف د حكم جوازی نه فارغ شو نو په حكم وجوبی او حكم اضطراری كښ ئے شروع اوكړه بيا دا دوه قسمه دے (۱) چه تقديم د فاعل واجب وی په مفعول باندې (۲) چه تاخير د فاعل واجب وی د مفعول نه مقصد اول د تقديم صورتونه ذكر كوی

ځکه دا د اصل سره موافق دے او بيا وريسې دا دويم بيانوي فقال و اذا انتفى الدال على فاعلية غرض د شارح تعريف د اعراب کول دي بالوضع د دي قيد فائده راځي لفظا دا منصوب دے بناء بر تميز او دا تميز د نسبة د انتفى نه اعراب ته او دا اصل کښې فاعل وی او دا اوس چه کوم فاعل دے نو دا د دې دپاره مضاف اليه وی ای لفظ الاعراب او دې ته تميز محول عن الفاعل وائي او د دې دپاره بل مثال وضاق بهم ذرعا ای وضاق ذرعه فيهما شارح تعين د مرجع کوی او دفع د سوال ده چه دلته دا ضمير د تثنيه فاعل او مفعول ته راجع شو نو د فاعل په حق کښې خو ارجاع صحيح ده ځکه فاعل مخکښې ذکر دے او د مفعول په حق کښې خو صحيح نه ده ځکه چه مفعول خو مخکښې ندے ذکر.

جواب: مفعول مخکښې تير شوی دے په ضمن د امثله کښې او مرجع عام ده که صراحة وی يا ضمنا و القرينه شارح معنى کوی ای الامر الدال سره چه د شئ دپاره علامه وی خو "لا" بالوضع.

سوال: دفع شو چه ذکر کول د اعراب د قرينه سره مستدرك دی ولی چه ذکر د قرينه استغناء راولی د اعراب نه نو چه هر کله دا قرينه اعراب ته شامل دے نو خود بخود مستدرك شو.

جواب: فرق پکښې شته دے په دې شان سره چه اعراب دلالت کوی په شئ باندې بالوضع او قرينه بلا وضع دلالت کوی شارح اعتراض او جواب ته په "لا" يرد سره إشاره کړې ده او دا دهغه بالوضع قيد فائده هم ده.

وهى اما لفظية غرض د شارح دوه اقسام د قرينې بيانول دي يو قسم لفظية ده او دويم معنويه ده لفظية په لفظ کښې وی لکه ضربت موسى حبلى نو دا تاء د ضربت دلالت کوی چه فاعل دې مونث وی او دا تاء لفظ کښې ده او معنويه چه لفظ کښې نه وی لکه اكل الكمثرى يحيى دلته اکل داسې فعل دے چه دلالت کوی په دې باندې چه فاعل زما دې اکل او طاعم وی او مفعول زما دې ماکول او مطعوم وی نو اکل يحيى دے او ماکول کمثرى دے. بيا تفصيل دادے چه په اعتبار د انتفاء د اعراب او قرينه او عدم انتفاء د دې سره ټول څلور صورته دی. اول چه اعراب او قرينه دواړه منتفی وی لکه ضرب موسى عيسى ثانى چه اعراب او قرينه مذکور او موجود وی لکه ضربت زيد هند ثالث چه قرينه منتفى وی او اعراب وی لکه ضرب زيدا عمرو رابع چه اعراب منتفی وی او قرينه وی بيا دا قرينه عام ده که لفظی وی او که معنوی د لفظی مثال ضربت موسى حبلى دے او د معنوی مثال اكل الكمثرى يحيى دے اوس حکم د دې دادے چه په اول صورت کښې تقديم د فاعل واجب دے په مفعول باندې د وجې د التباس نه په درميان د دې کښې ځکه نه اعراب شته دے او نه قرينه او د بواقى صورتونو حکم دادے چه تقديم د فاعل پکښې واجب ندے ولې چه التباس نه راځي.

سوال: تا اوی چه قرینه یو شئ دے چه دلالت کوی په یو شئ باندې بلا وضع نو ضربت کښې خو دا تاء قرینه ده او داخو وضع شوی ده دپاره د تانیث د فاعل نو تعریف پرې صادق نه دے.

جواب (۱) دې مقام کښې دوه شیان دي یو داتاء ده او دویم اتصال د تاء دے تر ضرب پورې نو واضع تاء وضع کړے ده خو اتصال لې نه دے وضع کړے نو قرینه دا اتصال دے (۲) صحیح ده چه واضع تاء وضع کړے ده دپاره د تانیث خو دپاره د فرق بین التذکیر و التانیث دا واضع نده وضع کړے او مونږ لې هم په دې اعتبار وایو. اوکان مضمرا دیو مقام د فراغة نه بعد دویم مقام بیانوی شارح صیب وائي ای الفاعل دا تعین د مرجع کوی نو چه کله دا ضمیر د فاعل متصل وی د فعل سره نودابه مقدم وی بیا دا ضمیر متصل عام دے که مستتر وی او که بارز.

سوال: په زیداً ضربت کښې خو فاعل ضمیر متصل بارز دے او تقدیم چه موخر دے او مفعول پرې مقدم دے.

جواب: شارح صیب وائی بشرط ان یکون حاصل دادے چه دا صورت موئر مطلقا نه وایو بلکه په شرط د دې چه مفعول به متاخر وی او دلته خو مفعول مقدم دے په فعل باندې او وقع مفعوله دا دریم مقام بیانوی نو چه مفعول واقع وی پس د الا نه او دا الا په وسط د فاعل او مفعول کښې وی نو د دې فاعل هم تقدیم واجب دے.

سوال: ماتن اوی مفعوله یعنی مفعول د فاعل نو مفعول د فعل دپاره وی نه دپاره د فاعل.

جواب: دا اضافة دمفعول فاعل ته د وجې د ادنی ملابسة نه شوی دے هغه داچه دا فاعل دهغه فعل دے چه دهغې فعل تعلق د دې مفعول سره راغلی دے بیا ماتن بعد الا اوی نو.

سوال: په "ما" ضرب الا عمروا زید کښې خو مفعول بعد د الا نه واقع دے حالانکه تقدیم د فاعل نه دے شوی بلکه فاعل موخر دے.

جواب: بشرط توسطها حاصل دادے چه د الا نه بعد واقع کیدل مطلقا ندی بلکه په شرط د توسط د الا سره چه دا الا نه د فاعل او مفعول مینځ کښې واقع وی. (فی صورتی التقدیم و التاخیر) دوه صورته داچه تقدیم د فاعل دے او تاخیر د مفعول دے. جامع مثال "ما" ضرب زید الاعمروا دے علت او دلیل به راشی او معناها ای بعد معناها غرض د شارح اشاره کوی چه دامعناها عطف دے په الا باندې او "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد وی په معطوف کښې بیا دا خلورم مقام دے چه مفعول د معنی د الا نه روستو واقع شی انما ضرب زید عمروا د انما په معنی د "ما" او الا سره دے نو معنی داده چه "ما" ضرب زید الا عمروا بیا دلته لو اختلاف دے په درمیان د صاحب الکافیه او صاحب المفتاح (سکاکی) کښې چه ایا دا انما په

معنى دما او الا ده كنه دي نه متضمن ده نو ابن حاجب قول په معنى كوي او سكاكي قول په تضمين كوي. وجب تقديمه ادا دهر يو صورت سره لكي بيا لفظ د تقديم د څه سوالاتو تقاضا كوي (١) دچا تقديم واجب دے (٢) په چا باندې تقديم واجب دے (٣) په كوم ځائے كښ (٤) او علت څه دے؟ نو تقديم د فاعل په مفعول باندې په دې څلورو مقاماتو كښ او دا ځكه چه فللتحرز عن الالتباس ادا دهريو دپاره علت بيانوي اما في صورة انتفاء الاعراب حاصل دادے كه اول صورة كښې تقديم د فاعل په مفعول باندې واجب نشي نوپه مخاطب باندې التباس راځي چه فاعل كوم دے؟ او مفعول كوم دے؟ لكه ضرب موسى عيسى شو او چه مونږ دا حكم اولګو چه فاعل نه ادا مقدم دے نو التباس دفع شو بيا دلته لږ تفصيل دے په دې شان سره چه په كوم مقام كښ د وجى د تقديم او تاخير نه د اصل سره موافقة راځي او دغه شان د خلاف الاصل سره موافقة راځي نو هلته حكم جوازي دے نه چه وجوبي يعنى كه تقديم ديو شئ چه هغه تقاضا د تقديم كوي نوكه ادا مقدم شي نو موافقة راځي د اصل سره چه تقديم اصل دے اوكه دا شئ موخر شي نو بيا هم د خلاف الاصل سره موافقة راځي په دې شان سره چه په مخاطب باندې څه التباس نه راځي ليكن كه په كوم مقام كښ د وجى د تقديم او تاخير نه د اصل سره موافقة راتلو خو د خلاف الاصل سره موافقة نه راتلو نو بيا هلته حكم وجوبي دے نه چه جوازي ولې چه خلاف الاصل سره موافقة راشي نو په مخاطب باندې التباس راځي اوس دا صورة چه ضرب موسى عيسى دے نو دلته دا موسى فاعل دے نو چه دامقدم وي نو دا د اصل سره موافق دے ولې چه فاعل كښ اصل تقديم دے او كه دا موخر شي نوپه مخاطب باندې التباس راځي نو د خلاف الاصل سره دا موافق نه دے نو دا حكم دلته وجوبي دے چه دابه مقدم وي وجوبا و اما في صورة كون الفاعل ادا د دويم مقام دپاره وجه بيانوي حاصل دادے چه دا فاعل ضمير متصل دے نوكه دا مونږ موخر كړو د مفعول نه نو لازم به شي انفصال چه مناقي دے د اتصال سره هغه اتصال چه مفروض دے د فاعل سره دې مقام كښ و اما في صورة دا د دريم صورت دپاره وجه بيانوي نر حاصل دادے چه دلته فاعل مقدم كول ځكه واجب دي چه انقلاب رانشي په حصر مطلوب كښ شارح تفصيل كوي فان المفهوم سره حاصل دادے چه دا تركيب چه "ما" ضرب زيد الا عمروا دے نو د دې معنى داده چه دا ضاربية د زيد منحصر دے تر عمرو پورې او بل چاته ندے متجاوز و هر چه مضروبية د عمرو دے نو دا مجهول دے مونږ د دې نه خبر نه يو اوس ادا مطلوب دے نوكه تقديم د فاعل واجب نشي او "ما" ضرب عمروا الا زيد شي نو معنى به شي چه دا مضروبية د عمرو منحصر دے د زيد پورې بل چاته ندے متجاوز او هر چه ضاربية د زيد دے تو دا مجهول دے دې نه مونږ خبر نه يو نو اوس هغه مطلوب او مقصود چه كوم مراد وو هغه بالكل الټه شو او دا بناء ده په يو قانون باندې چه الا "ما" قبل خيل منحصر كوي په "ما" بعد خپل پورې لكه چه څنګه دا امثله په دې باندې دلالت كوي نوكه مدخول د الا هر څه وي يعنى كه مدخول د الا شول نو د فاعل انحصار به وي دې پورې او كه مدخول د الا فاعل وي نو د مفعول انحصار به وي دې پورې و انما قلنا بشرط توسطها غرض د شارح د

قید د بشرط توسطها فائده بیانول دي او دا موږ مخکښ بیان کړو په طریقه د سوال، جواب او د تقریر د قانون سره اما دا خبره چه داترکیب چه "ما" ضرب الا عمروا زید دے نو دا جائز دے او کنه؟ نو دي کښ اختلاف دے عند البعض جائز مع الکراهة دے او عند البعض د سر نه جائز نده شارح هم وائی چه داجائز دے خو مستحسن نده بیا شارح لانه من قبیل قیصر الصفة سره وجه د کراهة بیانوی چه دا ترکیب چه "ما" ضرب الا الخ دے نو دلته دا ضرب صفة فعل دے او فعل په فاعل تام ګرځی نو دي لره فاعل نده راغلی یعنی تام شوی نده چه قیصر پکښ اوشو او دابه خبره نده مثلا ستا دپاره یو شئ له متعین شوی نده او نه هغه خرڅ کړو علاوه "لا" داوایو چه عبد القاهر اوسکاکی ورته ناجائز وائی و انما قلنا مقصد دادے چه ظاهرا خو دا معنی ده خو غیر ظاهر پکښ بوه بله معنی هم ده چه انحصار د طرفینو دے په طرفینو کښ نو عبارت به شی "ما" ضرب احدا احد الا عمروا زید چه نده وهلی هیچا لره هیچا مګر عمرو لره زید او دا ترکیب هم خلاف المقصود دے ولی چه مقصود انحصار د ضاربیة د زید دے تر عمرو پورې نه انحصار د مضروبیة د عمرو په زید پورې او دلته داهم راځی و اما وجوب التقدیم دا د څلورم مقام دپاره علت بیانوی حاصل هم دادے چه دابه معنی دما، الا سره ده نو بیا به انقلاب د حصر مطلوب راشی که دا فاعل مقدّم نشی

و اذا اتصل به ضمیر مفعول ماتن حکم اضطراری ذکر کوو او دا دوه قسمه وو یو تقدیم د فاعل په مفعول باندې او د دې تفصیل اوشو دویم تاخیر د فاعل د مفعول نه او دلته هم د دې تفصیل کوی او بیا د دې دپاره هم څلور صورتونه دي فقال اذا اتصل دا اول مقام دے چه کله د مفعول ضمیر متصل شی فاعل پورې نو تاخیر د فاعل واجب دے شارح تعیین د مرجع کوی بالفاعل سره او وقع مفعوله دا دویم مقام دے چه فاعل د الا نه بعد واقع شی لکه "ما" ضرب عمروا الا زید شارح وائی ای الفاعل دا تعیین د مرجع کوی بیا وائی المتوسطه یعنی دې صورت لره هم هغه توسط د الا شرط دے په درمیان د فاعل او مفعول کښ صورتی التقدیم و التاخیر یعنی تقدیم د مفعول په فاعل او تاخیر د فاعل د مفعول نه و فائدة هذا القید دا حواله ورکوی په "ما" قبل باندې د قید د المتوسطه باندې چه د دې تفصیل تیر سبق شوے د شارح انفا اوی چه اوس په دې ساعة نو دا د کتاب موافق دے نه د تدریس مطابق شارح وائی وقع الفاعل اشاره کوی چه دا معناها عطف دے په الا باندې او "ما" قبل الخ او دا دریم مقام دے چه فاعل د انما نه روستو واقع وی نو تاخیر د فاعل به واجب وی لکه انما ضرب عمروا زید، او اتصل دا څلورم مقام بیانوی چه کله مفعول ضمیر متصل وی د فعل سره او فاعل اسم ظاهر وی نو تاخیر د فاعل واجب دے شارح بان یکون اوی نو دا باءپکښ تصویریه ده شکل پیش کوی وهو ای الفاعل غیر متصل غرض د شارح تعین د مرجع کول دي او غرض د ماتن دفع د سوال ده چه په ضربتك کښ خو مفعول ضمیر متصل دے او بیا هم فاعل مقدم دے چه ت ضمیر د متکلم دے.

جواب: زمونږ مراد دا حکم هغه وخت دے چه فاعل پکښ اسم ظاهر وی نه ضمیر او دلته خو ضمیر دے. بیا ماتن غیر اوی او شارح ضمیر اوی غرض ئی په دې عبارت سره تعیین د موصوف کول دي دپاره د متصل ځکه دا صفة دے تقاضا د موصوف کوی او دغه شان د غیر مضاف دپاره اصل مضاف الیه متعین کوی وجب تاخیره دلته هم هغه خبره ده چه تاخیر د فاعل د مفعول نه په دې څلورو مقاماتو کښ ځکه چه اما فی صورة اتصال الخ.

سوال: مصنف تاخیره وائي چه تاخیر د فاعل نو تقدیم د مفعول ولی نه وائی د مخکښ تقدیمه سره به مطابق هم وی لفظا.

جواب: دا احوال د فاعل بیانوی نو د حکم نسبة فاعل ته کول ضروری دي نو ځکه تاخیر د فاعل وائی او تقدیم د مفعول نه وائی چه څرنګه خروج عن البحث لازم نشی.

بیا شارح علل بیانوی د دې مقاماتو نو وی اما فی صورة اتصال حاصل دادے چه که په اول صورة کښ فاعل مقدم شی نو لازمیږی اضمار قبل الذکر لفظا او رتبة او داناروا دے مثلا ضرب زیدا غلامه دے نوکه دا غلامه فاعل مقدم شی نو دا ضمیر به زید ته راجع کوے نو هغه به لفظا هم روستو شی او مفعول دے رتبه ئی هم موخره ده و اما فی صورة وقوعه دا شارح د دویم او دریم مقام دواړو دپاره علل په جمعه سره بیانوی چه حاصل ئی هم دادے چه که دلته فاعل مقدم شی نو انقلاب راځی د حصر مطلوب او دا بنه خبره نده. و اما فی صورة کون دا د څلورم مقام دپاره علت بیانوی حاصل دادے چه که فاعل مقدم شی نو لازمیږی انفصال د ضمیر متصل چه دا مناف دے ورسره مثلا ضربك زید دے نو که دا فاعل چه زید دے دا مقدم شی نو عبارت به شی چه ضرب زیدك او دا خو ناروا دے. بخلاف "ما" اذا کان دا دفع د سوال ده او د غیر متصل قید فائده هم ده.

سوال: دادے چه ضربتك کښ مفعول ضمیر متصل دے او بیا هم فاعل مقدم دے نو تاخیر واجب څه چه تقدیم د فاعل واجب دے.

جواب: دا حکم هغه وخت دے چه فاعل اسم ظاهر وی او دلته فاعل اسم ضمیر دے. و قد یحذف الفعل لقیام قرینة هر کله چه فارغ شو مصنف د دریو احکامو د فاعل نه چه یو اختیاری او جوازی وو او دوه اضطراری او وجوبی وو نو اوس ئی شروع اوکړه په بل حکم کښ چه دامتعلق دے د عامل د فاعل سره فقال و قد یحذف الفعل لقیام قرینة نو ماتن قد داخل کړو په فعل مضارع چه دا د تقلیل فائده کوی نو اشاره ده دې خبرې ته چه فائده اکمله او اشمله په ذکر د فعل کښ ده او دا حذف په بعض اوقاتو کښ وی بیا دا حذف د فعل دوه قسمه دے یو جوازی چه کله قرینه وی فقط دویم وجوبی چه کله سد مسد سره د قرینه نه وی ماتن اول جوازی ذکر کوی ولی چه دې کښ استواء الامرین ده شارح وائي الرافع نو غرض

ں دفع د سوال ده چه مصنف اوی یحذف الفعل چه حذف د فعل کله کله کیږی نو حذف د شبه فعل هم کله کله کیږی نو ماتن فعل ولی وائی فقط؟

جواب: ذکر د فعل دے مراد رافع دےدا دواړو ته شامل دے که فعل وی او که شبه فعل.

سوال: نو ماتن الرافع ولی نه وائی چه تخصیص د فعل کوی.

جواب: دې کښې اشاره کوی اصالة د فعل ته اویا حذف د فعل قلیل دے خو نادر ندے او حذف د شبه فعل د قلیل سره نادر هم دے نو دهغی څه اعتبار نشته دے بیا شارح للفاعل اوی داهم دفع د سوال ده چه احکام د فاعل شروع دي او فعل ته توپ وهل خو خروج عن البحث دے نو ځنګه ماتن یحذف الفعل وائی.

جواب: دا حکم متعلق دے د فاعل سره په دې شان چه فعل موثر دے په فاعل کښې او بحث کول دموثر فی الشئ نه بحث دے د دغه شئ نه لقیام قرینة دالة علی تعیتي دا دفع د سوال ده چه حذف د فعل خو حذف د جزء مراد ده او داخو ناروا دے.

جواب: قرینه په حذف باندې شته نو ناروا ندے بیا معنی داده چه په وقت د حصول د قرینه داله کښې نو دې سره موثر.

سوال دفع کړو چه دالام په لقیام کښې دپاره د تعلیل دے یعنی "ما" بعد خپل علت ګرځوی دپاره دما قبل نو مقصد دادے چه د حذف دپاره قرینه موجود کیدل علت دے او دا حذف ورله معلول دے نو قانون دادے چه کله علت راشي نو معلول وجوبا راځی نو چه قرینه وی نو حذف به واجب وی حالانکه دلته خو حذف واجب ندے جائز دے نو د ماتن کلام کښې تعارض راغئ ولې چه روستو ماتن وائی جوازا چه دا حذف جوازی دے او د دې قانون نه معلومیږی چه وجوبی دے. جواب (۱) دالام د لقیام دپاره د تعلیل ندے بلکه دپاره د توقیت دے چه په وخت د حصول د قرینته کښې.

سوال: دلیل نقلی راته ښایه؟

جواب: قال تعالی لدلوك الشمس نو د لدلوك لام دپاره د توقیت دے (۲) دالام د لقیام دپاره د تعلیل دے خو علة په دوه قسمه دے یو علة مجوزه مصححه دپاره د معلول او دویم علة موجبه مستلزمه دپاره د معلول دلته دا اول مراد دے او دا جائز کونکی دے حذف لره واجب کونکی ندے.

سوال: تا اوی لقیام نو قیام په ذوی الا رواح کښې وی او دا قرینه خو د ذوی الارواح نه نده ځنګه ته دې ته اضافة کوی؟

جواب: قيام په معنی د حصول دے او دا ذوی الارواح او غير ذوی الارواح دواړو کښې راتلې شی.

سوال: قيام په خپله معنی کښې حقيقة دے او په حصول کښې مجاز دے نو د حقيقة نه مجاز ته صيرورة تقاضا د قرينه او علاقه کوی دلته قرينه او علاقه څه ده؟

جواب: دلته قرينه دلالت د نفس کلام دے يعنی که کلام داسې شی نو بيا اعتراض وارديږی او علاقه پکښې دلازم ملزوم ده چه دا حصول لازم دے او قيام ملزوم دے.

سوال: قرينه ته څه ضرورت دے ولی دا اعراب کافی ندے څه؟

جواب: دالة علی تعيين مراد هغه شئ دے چه په تعيين د محذوف دلالت اوکړی او اعراب خو په نفس حذفية دلالت کوی نو قرينه به خامخوا وی. جوازا سوال دا ولی منصوب دے؟

جواب: دا مفعول مطلق دے.

سوال: مفعول مطلق خو پس د فعل نه ذکر وی او دا فعل پری مشتمل وی د قبيلی د اشتمال د کل نه په جزء باندې او دلته خو داسې نده.

جواب: مفعول مطلق دوه قسمه دے يو حقيقی چه اشتمال پکښې شرط دے دويم مجازی چه اشتمال پکښې شرط ندے دلته هم دا مجازی دے څکه چه دا اصل کښې دهغه حقيقی مفعول مطلق دپاره صفة دے نو اصل عبارت حذفا جوازا دے نو حذفا کښې اشتمال شته دے بيا دا حذفا حذف شو او دا جوازا د هغی قائم مقام شو.

سوال: صفة په موصوف باندې حمل وی نو دلته جوازا صفة په موصوف خپل چه حذفا دے ندے محمول څکه د حمل دپاره دوه معانی دي باعتبارين يو داچه حمل عبارت دے د اتحاد د متغائرينو نه مفهوما په مصداق کښې اوس داپه هغه امرينو کښې راتلی شی چه هغه په اعتبار د مفهوم سره متغائر وی لکه زيد او قائم شو داپه اعتبار د مفهوم سره متغائرين دي نو داپه مصداق کښې متحد گرځول حمل دے چه زيد القائم شی نو مصداق د دواړو يو دے چه کوم زيد دے هغه قائم او چه کوم قائم دے نو هغه زيد دے او دويمه معنی د حمل اتحاد فی المفهوم ده يعنی دوه امرين مترادفين گرځول او داپه مصادرو کښې وی نو دلته دا حذفا او جوازا دواړه مصادر دي نو پکار ده چه دا مترادفين شی مفهوما حالانکه حذف عبارت دے د سقوط فی اللفظ نه او جواز عبارت دے د اتيان د امرينو نه چه کردن او نه کردن دے نو دا خو مفهوما متحد نه دي او د حمل اول صورت خو پکښې صحيح ندے څکه هغه په ذواتو کښې وی او يا ذات او وصف کښې او دلته خو دا اوصاف دی.

جواب: اى حذفا جائزا حاصل دادے چه دا جوازا مصدر مبنى للفاعل دے نودا اسم فاعل شو ذات مع الوصف نو حمل پکښ صحيح شو.

جواب: اوس هم حمل ندے صحيح ځکه چه داځو حمل د ذات مع الوصف راغلو په وصف باندي او دا ناروا دے.

جواب: دا حذفا هم ذات دے ځکه دا واقع دے په ځائ د ذات چه موصوف دے او موصوف خو ذات وى نو په ظاهر لباس تے مه شه استاد جى ذات دے ذات (۲) عزتمنده حمل د ذات مع الوصف په وصف باندې مطلقا ناروا ندے بلکه يو قانون دے هغه داچه که دا وصف د افرادو دې ذات مع الوصف نه وى نو بيا حمل د ذت مع الوصف په صرف وصف جائز دے او که د افرادو دهغى نه نه وى نو بيا ندے صحيح اوس حذف صرف وصف د جائز د افرادونه يو فرد دے ځکه چه ډير اشياء جائز وى نو دا حذف پکښ هم يو شئ دے چه جائز دے. فى مثل زيد شارح وائى فيما كان جوابا لسوال محقق غرض د شارح دفع د اعتراض ده يو داچه دلته دا مثل مضاف او زيد مضاف اليه دے او قانون دے چه مضاف مضاف اليه کښ مقصود مضاف وى نو مثل ته حکم شامل شو او زيد ته نه شو حالانکه دا دواړه مقصود دى.

جواب: دلته قانون مراد دے او په قانون کښ مضاف او مضاف اليه دواړه مقصود وى او هر داسى ترکيب ته حکم شامل دے.

دويم سوال دادے چه يو مثال دياره د توضيح د ممثل کافى وى دوه امثله ولى بيانوى؟

جواب: تعدد د امثلو بناؤ په تعدد د ممثلاتو باندې نودايو مثال دهغه دے چه قرينه په حذف سوال محقق وى او دا دويم هغه چه قرينه په حذف باندې سوال مقدر وى.

لمن قال من قام؟ دا سوال شو نو جواب کښ به زيد او وئيلى شى اوس دې مقام کښ په نفس حذفية باندې قرينه يو رفع د زيد ده دويم استعمال د زيد مفرد دے په کلام د عربو کښ او مفردات استعمالول په کلام د عربو کښ مخدوش دي نو څه محذف خو ورسره شته دے او قرينه په تعيين د محذوف باندى.

سوال: محقق دے نو اصل فى قام زيد دے جمله فعليه وانما قدر الفعل دا دفع د سوال ده چه دا ترکيب د حذف الخبر د قبيلى نه اوګرځوه نه چه د حذف الفعل د قبيلى نه

جواب: که دا د قبيلى د حذف الخبر نه شى نو بيا تکثير فى الحذف راځى او د قبيلى د حذف الفعل نه کښ تقليل فى الحذف دے نو تقليل فى الحذرف اولى دے د تکثير فى الحذف نه او دا خبره تفصيلا په دي انداز ده چه دا د حذف الخبر نه شى نو عبارت به شى زيد قام نو يو قام

فعل او دويم فاعل د قام به حذف وی او چه د حذف الفعل نه شی نو عبارت به شی قام زيد نو صرف قام فعل به حذف وی نو يو کښ دوه جزئين حذف کيږی او بل کښ يو جزء او يو د دوو نه کم دے.

سوال: نو دا خو صحيح ده چه په حذف الفعل کښ تقليل في الحذف دے خو په حذف الخبر کښ موافقة د سوال سره راځی ځکه سوال من قام؟ جمله اسميه ده نو پکار ده چه د قبيلی د حذف الخبر نه او ګرځی دپاره د موافقة د سوال سره.

جواب: دا خو په اعتبار د ظاهر سره سوال جمله اسمية ده خوپه اصل اعتبار سره سوال جمله فعليه ده چه اقام زيد ام غيره؟ دے بيا تخفيفا من قام؟ شوه نو د حذف الفعل د قبيلی نه ګرځول موافق کول د اصل سوال سره دی.

وليبك يزيد ضارع حذف جوازی په دوه قسمه وو يو په جواب د سوال محقق کښ او دويم په جواب د سوال مقدر کښ دي ځائے نه اوس د دويم قسم دپاره مثال بيانوی چه په جواب د سوال مقدر کښ وی نو ماتن "و" اوئيل شارح اويل كذا يحذف دا ربط لفظی بيانوی چه دا ليبك عطف دے په لمن قام به باندې او دا عطف د قبيلی د مساوی نه په مساوی باندې نه دے بلکه د قبيلی دمشبه نه دے په مشبه به باندې وجه داده چه په جانب د معطوف عليه کښ قرينه سوال محقق دے او په جانب د معطوف کښ قرينه سوال مقدر دے بيا "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وی په معطوف کښ نو دا يحذف ئی رامعاد کړو فيما كان جوابا مخکښ مثل ذکر وو نو دې کښ اشاره وه يو قانون ته. شارح تری نه ځکه تعبير په قانون سره کړی وو اوس دلته هم شارح يو تعبير کوی چه هم هغه قانون دے، خو قرينه پری سوال مقدر دے مرثيه دا هغه اشعار دي چه پکښ د مړی محاسن شميرلی شی او خلق پری اظهار د تفجع کوی بيا د دې شعر په شاعر کښ اختلاف دے نو مطول والا وائی چه شاعر ئی ضرار بن نهشل دے او رضی وائی چه شاعر حارث بن نهشل دے او منهل والا وائی چه ام ضرار بنت نهشل ده. اوس مقصد د شعر دادے چه دا ضارع فاعل دے دپاره د فعل محذوفه چه حذف ئی جائز دے د وجی د وجود د قرينی نه نو قرينه په نفس حذف باندې رفع د ضارع ده او رافع موجود نه وو نو معلومه شوه په عقل سره چه رافع حذف دیّ او قرينه په تعين د محذوف باندې سوال مقدر دے او منشا د سوال مقدر د ليبك فعل مجهول ذکر کول دي چه جرا دے او کړے شی نو څوك او ژاړی من يبكيه؟ نو جواب اوشو چه ضارع ای يبكيه ضارع عاجز او ذليل دے او ژاړی نودلته دا يبكيه فعل محذوف دے شارح وائی على البناء المفعول نو يو عرض ئی تعريف کول دي دويم دفع د سوال ده چه دلته خو حذف ته څه ضرورت نشته بلکه دا ليبك دې معلوم شی او يزيد مفعول او ضارع به فاعل شی نو خبره به خلاصه شی او حذف به هم رانشی.

جواب: دلته خو اصل کښې شپږ تراکیب دي خو زمونږ کلام به يو ترکيب بانديې بناء دے هغه شپږ تراکیب (١) يو په کتاب کښې دي (٢) په اعتراض کښې دي (٣) ليبك فعل مجهول شي يزيد منادى شي په حذف د حرف نداء سره او ضارع نائب فاعل شي د فعل مجهول دپاره (٤) ليبك فعل مجهول شي او يزيد ورله مبدل منه شي او ضارع ترې نه بدل شي يا بدل او مبدل منه نائب فاعل شي. (٥) ليبك فعل مجهول شي يزيد نائب فاعل شي او ضارع منادى شي په حذف د حرف نداء سره يا ضارع (٦) ليبك فعل مجهول شي او يزيد نائب فاعل شي او ضارع خبر شي دپاره د مبتداء محذوف چه الباكي دے نو زمونږ كلام به اول تركيب سره بناء دے كما ذكره الشارح چه ليبك فعل مجهول شي او يزيد ورله نائب فاعل شي او ضارع فاعل د فعل محذوف شي چه يبكيه دے په جواب د سوال مقدر كښې چه من يبكيه؟ دے او منشاء د سوال ذكر د فعل مجهول دے چه ليبك دے.

سوال: قرينه پكا ده چه مذكور وى او دلته سوال مقدر مذكور نه دي نو پكار ده چه دا قرينه د تعين د محذوف دپاره نه شي جواب كه سوال مقدر مذكور نه دي نو منشاء دهغې مذكور ده نو گويا كه داهم مذكور شو. منشاء ليبك دے نو.فعل مجهول راغلى دے نو شك او تردد راغى چه څوك دي او ژاړى نو دهغې د دفع كولو دپاره سوال اوشو چه من يبكيه نو جواب چه ضارع دي او ژاړى و اما على رواية دا اشاره ده هغه.

سوال: ته بيا عادت د شارح په دې جارى دے چه ماتن په متن كښې شعر ذكر كړى نو شارح ورله لږ وضاحت كوى او د اشكالاتو حل كوى نو لخصومة جار مجرور وو متعلق غوارى نو شارح ورله يو تعين د متعلق كوى او دويم دفع د سوال كوى چه متعلق يبكيه مقدر واى او كنه ضارع اسم فاعل يوهم صحيح نه دے په دې شان سره كه يبكيه مقدر پورى متعلق شي نو لخصومة كښې لام دپاره د تعليل دے نو بيا به علة د ژړا خصومة او گرځي حالانكه علة د ژړا فوت د يزيد دے نو معنى فاسده شوه اوكه ضارع اسم فاعل سره متعلق شي نو دا متعلق په خپل متعلق كښې عامل وى نو دا ضارع اسم فاعل هغه وخت عمل كوى چه اعتماد اوكړى په يو د اشياؤ ستو باندې، دلته خو يوهم نشته نو د دې متعلق واقع كول هم صحيح نه شو.

جواب: (١) شارح واى چه متعلق ئى دا ضارع دے نو معنى خو صحيح شوه چه عاجز سړے دې ژړا اوكړى په مرگ د يزيد باندې او جواب د سوال نه دا دې چه دلته دې اسم فاعل په موصوف باندې اعتماد كړى دے چه دايو دهغه اشياء سته نه دې نو عبارت به شي شخص ضارع.

سوال: تاسو د ضارع اسم فاعل دپاره معتمد موصوف محذوف بيان كړو نو دا اسم فاعل خو موثر دے او د دې دپاره قوة پكار دي او قوة په موصوف مذكور سره راځي نه په موصوف محذوف سره.

جواب: (۱) کَلَامُكَ بَرْدٌ گویس چه قوة په موصوف مذکور سره راځی او محذوف سره پوره قوة نه حاصلیری خو لخصومة جار مجرور ظرف دے په ظرف کښ د عامل دپاره هغه بوئی د عامل هم کافی دے ځکه دا ظرف دے چه دا قوی نه دے نو په محذوف پاندي ئی هم کار کیری ضعیف عامل ورله هم کافی دے (۲) دا لخصومة موثر متعلق وایو د یبکیه مقدر سره او لام دپاره د تعلیل نه دي بلکه دا دپاره د توقیت دے نو معنی شوه چه ژړا دي ضارع اوکړی په وخت د خصومة د خصماؤ کښ و مختبط و المختبط دا تشریح د دوهمی تکړی کوی او دا عطف دے په ضارع نو هغه فاعل د فعل محذوف وو نو داهم فاعل د هغی شو تطیح الاطاحة د باب افعال نه دي په معنی د اهلاك یعنی هلاکول بل لره طوائح دا وزن د فواعل دے.

سوال: دا فواعل جمع د فاعلة راځی لکه نواصر جمع د ناصرة ده نو داهم جمع د طائحة شوه نو تطیح متعدی دے او طوائح لازم دے نو معنی به شی چه اهلاك الهالكات نو دا هلاك نسبة هالکات ته صحیح نه دے ځکه چه اهلاك متعدی دے او هالكات لازم.

جواب: شارح وائی دا جمع د مطیحة ده د طائحة جمع نه ده.

سوال: داسی چرته بل ځائے شته چه مجرد جمع د مزید مفرد نه راغلی وی ځکه طوائح مجرد دے او مطیحة مزید نو مزید به څنګه په مجرد سره جمع کیږی.

جواب: دا خلاف القیاس ده.

سوال: دلیل نقلی درسره په دي شته دے؟

جواب: او لواقح چه مجرد دے او جمع د مزید ده "ای ملحقة مما د جار مجرور دے متعلق ورله متعین کوی او دما مصدریة ده او معنی اوس ظاهره ده. من اجل اهلاك چه سال او اسباب د مال دوارړه ئی ورله هلاك کړی دی. لانه کان علت بیانوی و وجوبا فی مثل کله چه فارغ شو مصنف د څلورو احکامو د فاعل نه چه دری احکام د فاعل سره متعلق وو او څلورم د عامل د فاعل سره چه حذف د هغی وو او دایه دوه قسمه وو یو جوازی دویم وجوبی، دلته تفصیل د حذف وجوبی ذکر کوی فقال و وجوبا شارح ورسره قد یحذف اولګو اشاره ده چه دایه جوازا عطف دے او "ما" قبل د معطوف علیه معاد وی په معطوف کښ وجوبا ای حذفا واجبا دلته هغه پوره تفصیل دے چه په حذفا جائزا کښ تیر شوی دے. فی مثل قوله تعالی دا دفع د سوال کوی شارح چه مثل مضاف دے او دا جمله ورله مضاف الیه ده نو مضاف الیه مفرد وی نو شارح قوله مقدر کړو نو اعتراض دفع شو، بیا دا جمله د دي قول دپاره مقوله شوه ای فی کل موضع شارح قاعده بیانوی ځکه چه دي لفظ د مثل او باب کښ اشاره وی قاعدے او قانون ته نو وائی هر هغه ځائے مراد دي چه کله وجود د قرینه او سد

مسد وی نو دا حذف د عامل رافع به واجب وی لكه دا مثال شو ورله چه وان الخ اوس دلته قرينه او سد مسد څه دي نو قرينه په نفس حذف باندې دا احد مرفوع كيدل دي او رافع وړله موجود نه دے او قرينه په تعيين د محذوف باندې هغه دا استجارك فعل موخر دے چه څكښ ترې نه هم دا مقدر دے او يا قرينه په نفس حذف باندې دا كلمة د ان ده څكه دايه فعل دا خليږي نه په اسم باندې او په تعيين د محذوف باندې دا روستو استجارك فعل دے چه دا تفسير دے د استجارك مقدر او سد مسد قيام د استجارك مفسر په ځائے د استجارك مفسر دے فانه دا علت د وجوب الحذف بيانوي نو حاصل دادی چه كه دغه فعل محذوف ذكر كول موثر جائز كړو نو دا نوبه استجارك بے فائده او مستدرك اوحشوه گرځی او داسی اشياء كلام باطل گرځوی.

سوال: نو دي تفسير ته څه ضرورت دے او دي حذف د مفسر ته خو لند داسی اوايه چه وان استجارك .

جواب: چه كومه فائده په حذف د مفسر كښ ده نو دايه ذكر كښ نشته بيا هغه فائده داده چه كله مفسر حذف شو نو ابهام پيدا شو او چه بيا مفسر ذكر شو نو هغه ابهام ختم شو نو داشو تفصيل بعد الابهام او تفصيل بعد الابهام اوقع في الذهن وی .

سوال: دا "ان" به مخفف من المثقل شي او اسم به ورله محذوف شي او دا احد به ورله خبر شي نو دا به جمله اسمية شي نو د حذف د فعل نه به بچ شو نو دا شه نه ده څه؟

جواب: داسی نه شو كولی څكه روستو فاجره كښ فاء جزائيه ده چه ددے خبرې نه انكار كوی نو ان شرطيه دے نه مخفف من المثقل.

سوال: نو ستا د كلام نه دا خبره معلومه شوه چه جمع په درميان د مفسر او مفسر كښ جائز نه ده نو زه درته شايم چه راغلي به وی لكه "جاءني رجل" اي "فلان رجل مفسر او فلان مفسر" نو دا څنګه ناجائز شوه؟

جواب:شارح والي چه زمونږ مراده مفسَّر او مفسِّر نه چه جمع ئې ناروا وی هغه دے چه ابهام پكښ د حذف د وجې نه راغلے وی او چه حذف پكښ د بلې وجې نه وی نو بيا جمع د مفسر او مفسر جائز ده لكه دلته د وجه نكارة د رجل نه راغلي ده نه د حذف د وجې و تقدير الايت غرض د شارح په دي عبارة سره تطبيق كوی ده مثال دد ممثل سره ولا يجوز دفع د سوال ده چه دا جمله اسميه اوګرځوه په دي شان سره چه احد به مبتداء شي او دا باقی خبر جواب داسے نه شي كيدلے څكه چه ان راغلے دے او دايه فعل داخليږي نو فعل حذف دے نو جمله فعليه ده نه اسميه.

و قد يحذفان معا ربط خو دادے چه ميلمه رور گوتي پنځه كړي چه اول ئے اوبل چه حذف ده فعل جائز دے نو موتو او ويل چه خير دے بيائى اووى چه واجب هم دے موتو او ويل خير دے اوس واى چه دا څه خبره ده چه دواړه حذف كول هم جائز دي نو چه فارغ شو ده هغه نه چه صرف فاعل پكښ حذف كيدلو. نو شروع ئې اوكړه په هغه كښ چه دا دواړو پكښ حذف كيږى فقال و قد يحذفان او قد ئې په مضارع داخل كړو اشاره ده تقليل ته څكه فائده اكمله او اشمله په ذكر ده دي كښ ده معا په داسے حال كښ چه كائن وى هر واحد معنى ديو بل سره(علت د نصب) تقدير د عبارت شو و قد يحذف كائنا كل واحد مع الاخر دون حذفه دا د معا قيد فائده بيانوى نو حاصل دادے چه معا څكه چه فاعل يواځې نه حذف كيږى او دي كښ د فاعل شرافة طرفته اشاره هم ده اما دا خبره چه دا ولى جائز نه دے نو دا څكه كه موتو دا فاعل حذف كړو او فعل باقى شى نو لازميږى وجود د حدث بغير د محدث نه او دانارو دے ق مثل نعم په دي موضع كښ چه دا جواب وى نو دانعم قائم شو د دې په ځائے بانديې و هذا الحذف دا حذف جائز دے او قرينه پرى سوال د سائل دے.

سوال: دي حذف ته واجب اوايه څكه قرينه خو شته دے او سد مسد به دانعم شي .

جواب: داسې نه شي كيدلے چه نعم سد مسد شي څكه كه داموږ سد مسد كړو د دي جملے نو دابه اداء كونكي شي معنى د قام زيد لره او دانعم د قام زيد په ځائے ذكر شوى دے خو دهغې معنى نشي ادا كولى لعدم د وجې د عدم قيام د هغه څيز نه چه ادا كونكي وى مؤدى د دې فعل لره پشان د استجارك چه دا ادا كونكي دے فيلزم چه ګنې لازم شي دا دفع د سوال ده چه كه دانعم قائم نه كړو په ځائے د قام زيد نو بيا استدراك راځي په كلام كښ چه ذكر دنعم دے نو محض استدراك دے نوشارح جواب اوكړو چه استدراك به هغه وخت وى چه نعم معنى د قام زيد اداء كوله په شان د استجارك چه دا معنى د استجارك محذوف ادا كوى نو هلته به استدراك وو او دلته نشته دے فيلزم دا متعلق دے د منفى سره اما دا خبره چه دانعم ولې نه ادا كوى معنى د مودى نو دا څكه چه قام زيد مستقل دے او نعم حرف دے دا غير مستقل دے نو غير مستقل نه شي ادا كولى قام زيد د مستقل .

سوال: يا زيد كښ دا يا حرف غير مستقل دے او قائم دے په مقام د ادعو مستقل نو دلته ولى قائم ګرځى؟

جواب: دا خلاف القياس دے د خپل مورد سره خاص دے و انما قدرت دا دفع د سوال ده چه دا نعم د قام زيد قائم ګرځوى نو د زيد قام قائم ئې ولى نه ګرځوى چه جمله اسميه شي.

جواب: بيا د سوال سره مطابق نه ګرځى علاوه دا وايو چه په حذف د فعل كښ تقليل دے او دې بل كښ تكثير دے او تقليل د تكثير نه په حذف كښ اولى دے تفصيل دادى چه كه زيد

قام شی نو زید مبتداء او قام فعل او فاعل نو دا دری اشیاء حذف شول او چه قام زید حذف شی نو قام فعل او زید فاعل نو دا دوه شیان حذف شول نو دوه کم دي د دریو نه

﴿قوله: تنازع الفعلان فصاعدا کوی فی الفاعلیة مثل ضربنی و اکرمنی زید الخ﴾ دلته بالترتیب څو خبری اجمالی ضروری دي (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق د لفظ تنازع (۳) اصطلاحی تعریف د تنازع (٤) شروط د تنازع (٥) اقسام او صور د تنازع (٦) امثله (۷) احکام.

ربط: معنوی ربط څو یو دادی چه کله فارغ شو مصنف د هغه عامل رافع د فاعل نه چه د بل عامل ورسره تنازع نه وه نو شروع ئی اوکړو په هغه عامل د فاعل کښ چه تنازع پکښ وی نو واق و اذا تنازع یا مصنف شروع کړی وه په احکامو د فاعل کښ نو چه فارغ شو د شپږو احکام نه نو په اووم حکم کښ ئی شروع اوکړه چه هغه ګرځول د فاعل دي ضمیر یا ظاهر په وقت دتنازع کښے او دا باقی احکام تبعا دي او ربط لفظی داسی دے چه دا واو استنافیه دے او اذا حرفاادات د شرط او تنازع الفعلان فعل شرط دے فقد یکون اه دا جزاء شوه نو دا جمله شرطیه مستانفه شوه.

لغوی تحقیق: دا تنازع صیغه د مصدر ده دباب تفاعل نه په معنی د بایك دیګر جنګ کردن یعنی دیو بل سره جنګ کول او مصطلح تنازع ته هم تنازع ځکه وائی چه دوه عاملان په یو معمول کښ جګړه کوی اختلاف کوی نو د دي اختلاف نه ئی تعبیر په تنازع سره اوکړو نو ذکر د مسبب دےچه تنازع ده چه اختلاف دے او مراد تری نه سبب دے.

اصطلاحی تعریف:دماتن او د شارح د کلام نه دا تعریف مستفاد دے. چه توجه العاملین الی معمول یقع فی محل یصلح لمعمولیة کل واحد منهما علی سبیل البدلیة . یعنی توجه دي سره سوال دفع شو چه تنازع څو متصور د ذوی الارواح نه ده او فعلان څو ذوی الارواح نه دي نو جواب اوشو چه توجه مراد ده او دا دواړو کښ راتلی شی او بل جواب په شارح اوکړی بیا د فعلین په ځائے عاملین اویل نو دي قید فائده به راشی بیا یو معمول ئی اویل نه چه دوه ځکه چه یو عامل یو ته متوجه وی او بل عامل بل ته متوجه وی نو تنازع نه ده متصور او دا معمول به داسی محل کښ وی چه صلاحیة دهر واحد د معمول کیدلو لری که داسی محل کښ نه وی واقع بلکه اول کښ وو یا مینځ کښ وو نو بیا هم تنازع نه ده متصور بلکه چه کوم ورسره زدی دے دهغی معمول دے علی سبیل البدلیة دا دفع د سوال ده چه یو معمول ته دوه عاملان متوجه کوی نو فعل څو موثر وی داځو په یو اثر باندي دوه موثرین راځی نوبیو په لغوه اګرځی او کنه دواړه مجموعه موثر ګرځوی نو د موثر اطلاق به دواړو صحیح نه دےیعنی په هر واحد

جواب: دا اعتراض به هله وی چه موثر دا عاملان په یو وقت کښی موثر ویلی حالانکه موثر نی په طریقه د بدلیة وایو.

شروط د تنازع: دری شرائط دي (١) کم از کم دوه عاملان به وی (٢) تنازع به په اسم ظاهر کښی وی نه په ضمیر کښی (٣) دا اسم ظاهر به واقع وی پس د فعلانو نه.ا ول او درمیان کښی به نه وی شارح هم دا شرائط ذکر کړی دي بیا ماتن اویل و اذا تنازع الفعلان شارح وائی بل العاملان دا دفع د سوال ده چه ستا د کلام نه معلومیږی چه صرف فعلان به تنازع کوی شبه فعل به نه کوی حالانکه شبه فعل هم عامل دے نو دا هم تنازع کوی لکه زید معط و مکرم عمروا دلته د معط او مکرم تنازع ده په عمرو کښی او دا خو فعلان نه دي بلکه دواړه اسم فاعل دي دغه شان بکر کریم و شریف ابوه دلته دکریم او شریف په ابوه کښی تنازع ده او داهم فعلان نه دي بلکه صفت مشبه دي نو شارح اویل چه ذکر د فعلان او مراد ترینه عاملان دي او عاملان دواړو ته شامل دے۔

سوال: چه عاملان مراد دي نو عاملان ولی نه وائی

جواب: شارح کوی و اقتصر علی چه فعل اصلی دے په عمل کښی نو ځکه ئی فعلان اویل او بل داچه دا تنازع په فعلانو کښی زیاته وی او دي نورو کښی کم وی نو تغلیبا ئی فعلان اویل و انما قال الفعلان دا دفع د بل سوال ده چه تا فعلان اویل او کله کله خو د فعلان نه په زیات کښی هم تنازع راځی لکه کما صلیتي و سلمت و بارکت ورحمع وترحمت علی ابراهیم دے (ابراهیم)کښے تنازع دینځه انوالو راغلی نو دلته خو ډیر دی.

جواب: دا ادنی مقدار دے اکثر کښی هم راځی او دوه کم از کم ځکه تنازع کم از کم ددوه ؤ نه متصور وی اسما ظاهرا شارح ورسره اسما ذکر کړو اشاره ده چه دا ظاهرا صفة دے موصوف غواړی او هغه اسما دے. سوال دا ظاهر ولی منصوب دے مفعول به خونه دي ځکه تنازع فعل لازم دے ځکه دا باب تفاعل دے نو د مفعول به ضرورت نه لری.

جواب: (١) دا مفعول فیه دے منصوب دے په تقدیر د فی سره اصل کښی ؤ اسم ظاهر دے بیا فی حذف شو او دا اسما ظاهرا منصوب پاتے شو. (٢) دلته یو قانون دے هغه داچه دا باب تفاعل د باب مفاعله نه جوړیږی نو چه دا باب مفاعله متعدی وی یو مفعول ته نو چه تفاعل شی نو دالازم شی او چه دا باب مفاعلة متعدی وی دوه مفعولو ته او دا تفاعل شی نو دا متعدی شی یو مفعول ته. مثلا ضارب زید عمروا نو چه تفاعل شی نو دابه تضارب زیدو عمرو شی نو عمرو مفعول به فاعل شی ځکه چه دا باب تفاعل شو ماده د تشارك ده یکښی نو دواړه په فاعلیة کښی شریك شول په طریقه د عطف سره دویم مثال جاذب زید عمروا الثوب نوچه دا تفاعل شی نو تجاذب زید و عمرو الثوب به شی ځکه تشارك دے پکښی نو دلته هم زید او عمرو شریك شول په فاعلیة کښی به طریقه د عطف ، او د الثوب په ځیل ځائے باقی

شو نو دلته هم دا تنازع چه باب مفاعله وه نو متعدی وه دوو مفعولو ته چه اصل عبارت دے چه نازع فعل فعلا اسما ظاهرا نو چه تفاعل شو نو یو مفعول ته متعدی پاتی شو نو دا فعلان معه فعل فعلا شو او اسما ظاهرا مفعول به شو واقعا دا ئی د بعدهما ظرف متعلق متعین کړو.

سوال: دا بعدهما د ظاهرا سره متعلق کړې ظرف لغو به شي او ظرف لغو، اصل دے.

جواب: دا ظاهر په حکم د جامد کښې دے ځکه ظاهر په مقابل د ضمیر کښې مراد دے نو صفتی معنی معدوم ده نو اسم جامد متعلق نه شي واقع کیدلی ای بعد الفعلین د هما ضمیر مرجع هم متعین شوه. اذا لمتقدم دا دې قید فائده ده.

و معنی التنازع دا دفع د سوال ده او دا سوال موټر ذکر کړی دے. جواب (۱) دادے چه مراد تری نه توجه ده (۲) مراد معنی اصطلاحی ده نه لغوی فحینئذ دا تفریع ده په "ما" قبل باندې چه بیا په ضمیر متصل کښې تنازع نشی راتلی کما "لا" یخفی تعریف د ضمیر متصل نه دے پټ ځکه هغه غیر مستقل وی او په عامل پسے متصل وی نوهم د هغې دپاره معمول دے و اما الضمیر په ضمیر منفصل کښې تنازع متصور ده لکه "ما" ضرب و اکرم الا انا خو قطع تنازع پکښې نشی راتلی او زمونږ خو مطلق تنازع نه ده مراد ده بلکه هغه تنازع مراد ده چه د قطع تصور پکښې هم وی اوس دلته په دې مثال کښې دا انا ضمیر منفصل راغلی دے نو دې کښې تنازع ده دما ضرب او د اکرم اوس دلته ځنګه قطع متصور نه ده نو عند الجمهور د قطع دپاره دری طرق دې په دې شان سره چه که فعل اول او ثانی دواړه تنازع په فاعل کښې کړی وه نو عمل به اول له ورکړی او ثانی کښې به فاعل ضمیر اوګرځی. اوس دلته په دې صورة کښې تنازع په فاعل کیښ ده نو چه دلته موټر یو له عمل ورکړو او بل کښې ضمیر مستتر کوو نو یا په سره د الا نه ګویا بغیر د الا نه که الا سره شي نو دا الا نه مستتر کیږی او که بغیر د الا شي نو بیا په معنی کښې فساد راځی ځکه معنی خو داده اصل کښې چه نه وهلی دے اونه اکرام کړے دے مګر "ما" کړے دے او چه داسی شي نو معنی به شي چه "ما" هیڅ نه دې کړی نو انقلاب د مقصود راغی نو لهذا قطع ممکن نه ده نو لهذا تنازع هم نشته عندهم او بعض نحاة لکه فراء یا کسائی نو د دوی په نزد باندې دلته تنازع مصطلح راتلی شي خو زمونږ مراد جمهور دی.

سوال: د اضمار معنی عام ده که دا مستتر وی او یا بارز نو دلته خو بیا قطع د تنازع ممکن شوه ځکه چه الا خو بارز راتلی شي د ضمیر سره.

جواب: دلته مراد د اضمار نه استتار دے او الا مستتر نشی راتلی.

سوال: چه كله ستا مراد استتار شو نو په ماضي كښې خو متكلم كښې ضمير بارز وي مستتر نه وي لكه ضربت كښې دا ت ضمير شو.

جواب: (۱) دا اعتراض دے په مثال اوپه مثال باندې څوك اعتراض نه كوي څكه دلته ضمير د غائب شي يا اسم ظاهر شي نو دابه دفع او رفع شي (۲) يا مراد دلته د ضمير نه راوړل د غائب دي او راجع كول دي انا ته چه دا د متكلم ضمير دے دپاره د قطع التنازع.

اقسام او صور د تنازع: حاصل دادې چه څلور صورتونه دي (۱) دواړه تقاضا د فاعل كوي (۲) دواړه تقاضا د مفعول كوي (۳) اول تقاضا د فاعل كوي دويم تقاضا د مفعول كوي. (٤) ددے عكس چه اول د مفعول تقاضا كوي دويم د فاعل تقاضا كوي شارح هم دا بيانوي.

امثله: ضربنى و اكرمنى زيد. زيد كښې د ضربنى او اكرمنى تنازع دہ او دا فاعل دے (۲) ضربت و اكرمت زيدا دلته مفعول كښې تنازع دہ (۳) ضربنى و اكرمت زيدا (٤) ضربت و اكرمنى زيد.

مختلفين

سوال: ذكر د مختلفين قيد مستدرك دے پس د فاعلية او مفعولية نه څكه دهغى نه اختلاف معلوميږى

جواب: دلته په فاعلية او مفعولية كښې دوه صورته جوړيږى يو صورت دادې چه هر واحد عامل تقاضا د فاعل او مفعول د اسم ظاهر كوي لكه ضرب واهان زيد عمروا نو دلته اقتضاء يوه دہ يو هم تقاضا د فاعل مفعول كوي او بل هم داكوي نو د دواړو اقتضاء يوه دہ نو دا صورة مستقل نه دے بلكه دا په دي كښې داخل دے او دويم صورة دادے چه يو د فعلينو تقاضا د فاعل كوي او دويم د مفعول د اسم ظاهر او هم په يو معمول كښې اوس دلته د دواړو عاملينو اقتضاء يوه نه دہ جدا جدا دہ نو دلته هم دا قسم مراد دے نودپاره د اخراج د صورة اولى دا قيد د مختلفين ذكر شو شارح هم دا وائي بيا مونږ اويل چه دا مستقل قسم نه دے نو دي سره .

سوال: دفع شو چه دا خو دوه صورتونه زيات شول نو د دي امثله دي ولې پريښودلے دي؟

جواب: چه داپه دي كښې داخل دے بيا شارح دي مختلفين لره علت د نصب بيانوي چه دا منصوب دے بناء بر حالية او د دي عامل مستفاد دے د "ما" قبل تنازع الفعلين نه چه واقعا دے و انما دا دفع د سوال دہ چه دا اول او ثاني مثال ماتن ذكر كړو نو څه وجه دہ چه د ثالث دپاره مثال نه بيانوي .

جواب: چه کله ماتن د اول او ثانی دپاره مثال ذکر کړو نو ثالث ترې نه مستفاد کیږی خو یو فعل دیو مثال نه او بل فعل د د بل مثال نه مختلفین راواخله نو مثال د ثالث به شی او بیاتې عکس کړه نو مثال د رابع به شی و ذلك دا دویم جواب دے حاصل دادے چه د دې دپاره امثله زیات وو نوکه ټول ئے ذکر کول نو ډیر تطویل راتلو او که بعض می ذکر کول او بعض نه نو ترجیح بلا مرجح راتله نو پریښودل می تقریبا اته صور دې پکښې څلور شارح بیان کړی دې او بیا دا عکس نو څلور نور شول نو ټول اته شول.

فیختار البصریون اجمالی خبرو کښې اوومه خبره ده چه حکم څه دے؟

حکم: مقصد دادے چه د فاعلیة تقاضا کوی نو چاله عمل ورکړو؟ او چرته ضمیر یا حذف یا ذکر اوکړو؟ او کنه دواړه لره به عمل ورکوو؟ او یا یو لره به هم نه ورکوو؟ نو د جمهورو دیکښې اتفاق دے چه عمل دواړو لره ورکول جائز دي البته فراء په اول دوو صورتونو کښې اختلاف په جواز کښې کوی یو صورت داچه فعل اول او ثانی دواړه تقاضا د فاعل کوی دویم هغه چه اول فعل تقاضا د فاعل او دویم تقاضا د مفعول کوی نو فراء وائی چه فعل ثانی لره په دې کښې عمل ورکول جائز نه دي و سیاق دلیله البته جمهور جواز کښې متفق او اختیار کښې مختلف دي چه کوم فعل لره عمل مختار دے نو دا تحریر د محل النزاع شو او تعیین د مختلفینو دادے چه دوه مذهبه دي یو د بصرینو او بل د کوفینو، او دعوی دهر واحد داده چه بصریان وائی چه اعمال د فعل ثانی مختار دے او کوفیان د اول وائی او دلیل دهر واحد نو بصریانو دپاره چند ادله دي (۱) دا دویم فعل معمول ته قریب دے او اول بعید دے الحق للقریب ثم للبعید (۲) که فعل اول لره عمل ورکړو نو فصل به راشی په درمیان د عامل او معمول کښې په فعل ثانی سره او که عمل فعل ثانی لره ورکړو نو فصل بالاجنبی نه راځی نو هغې لره عمل ورکول مختاره دي چه مستلزم نه وی فصل لره دهغې نه چه مستلزم وی فصل لره (۳) په دې مذهب د بصریانو قران هم وارد دے لکه هاؤم اقروا کتابیة دلته هاؤم او اقروا په کتابیة کښې تنازع کړی ده هاؤم وائی دا زما معمول دے او اقروا وائی دا زما معمول دے نوکه فعل اول عمل کړی وی نو فعل ثانی چه مفعول غواړی هغې کښې مختاره داده چه ضمیریه کښې راجع شی یعنی اضمار پکښې اوشی نو بناء په دې اقرواها پکار و حالانکه دا خو اقروا راغلی دے بغیر د اضمار نه نو معلومه شوه چه فعل ثانی لره عمل ورکړی شوی دے (٤) عام استعمال هم په دې مذهب باندې جاری دے لکه اشعار د عربو شول لکه دایو شعر دے چه

جفونی ولم اجف الاخلاء اننی لغیر جمیل من خلیلی مهمل

دلته په الاخلاء کښې تنازع ده نو دلم اجف دپاره مفعول ګرځیدلی دے او اول فعل کښې اضمار شوی دي عند البصرین نو دې باندې عام استعمال جاری دے.

كوفيان هم چند دلائل بيانوى (١) اول فعل مقدم دے او ثانى موخر دے او الله فرمائى و السابقون الاولون نو سبقية په اول كښ دے نو د سابق مقام اوچت دے دغه شان د مقامات يو شعر دے.

فلو قبل مبكاها بكيت صبابة — بسعدى شفيت النفس قبل التندم

ولكن بكت قبلى فيهج لى البكاء — بكاءها فقلت الفضل للمتقدم

نو دلته الفضل للمتقدم راغلى دے چه د متقدم حق اول دے او مقدم فعل اول دے (٢) كه چرته عمل موخر ثانى لره وركړو نوكه اول تقاضا د فاعل كوى نو ضمير به راجع كيرى حذف د عمده خو جائز نه دے نو لازميږى اضمار قبل الذكر لفظا او رتبة اوكه اول لره عمل وركوو نو اضمار قبل الذكر لفظا راځى رتبة نه راځى (٣) د چا نه چه فساد راغلى وى نو هغه محروم كول پكار وى نو دلته هم فساد د فعل ثانى نه راغلى دے نو دې محروم كول پكار دى. (٤) يو شعر د امرؤ القيس دے چه كفانى ولم اطلب قليل من المال دے و سياق تفصيله دلته هم فعل اول لره عمل وركړے شوى دے او اخيرى خبره چه ترجيح دما هو الراجح ده نو دا حاصل ده څكه د بصريانو مذهب ئى مقدم كړے دے نو دا بهتر دے خو د كوفيانو د دلائلو نه به اخر كښ جواب اوكړى فيختار البصريون دا بصريون اسم منسوب دے په حكم د مشتق كښ دے او مشتق صفة وى تقاضا د موصوف كوى نو هغه النحاة ورله شارح متعين كړو دويم دفع د وهم ده چه مراد به د بصريون نه اهل د بصرى ټول مراد وى حالانكه بعض پكښ زميندارانِ وى ، د دې نه به خبر نه وى نو وائى چه نحاة مراد دې ټول نه دې مراد.

سوال: په بصريانو كښ يو سيبويه بل مبرد بل ابو على بل اخفش وغيره مذكور دې او كسائى په كوفيانو كښ دے نو هغه هم دا وائى چه عمل ثانى لره غوره دے نو بيا ته څنګه بصريانو ته نسبة كوى كسائى خو پكښ بصرى نه دے.

جواب: داپه اعتبار د تغليب سره دے بيا الثانى صفته دے او شارح ورله الفعل موصوف متعين كړو لقرينه دليل دے مع تجويز اعمال الاول سره نكته ذكر كوى چه لفظ د اختيار ولى بيا ماتن و الكوفيون اوى او شارح ورسره يختار اوى اشاره ده چه دا په البصريون عطف دے او "ما" قبل د معطوف عليه معاد وى په معطوف كښ بيانى النحاة اوى هغه دوه خبرى مراد دى، او كوفيانو كښ فراء، مازنى، كسائى وغيرهم دى خو كسائى ورسره دلته خلاف كوى لسبة دا دليل دے د كوفيانو.

فإن اعلمت كله چه فارغ شو د اجمال د مذهبينو نه نو شروع ئې اوكړه په تفصيل د مذهبينو كښې نفس تفصيل د وجې د مامر نه كوي او تفصيل كښې مذهب د بصريانو مقدم كوي ځكه اجمال كښې مقدم وو او تفصيل چه موافق شي د اجمال نوبه دې كښې وي جمال او هلته ځكه مقدم دے چه عند الماتن راجح دے او تفصيل داسې كوي چه حاصل ئې دادے چه ته فعل ثاني لره عمل وركړې نو فعل اول ته به اوګورې چه تقاضا د څه كوي؟ كه تقاضا د فاعل كوي نو ضمير به ورته راجع كړې ځكه ذكر سره تكرار راځي او حذف سره عمده محذوف ګرځي او دا شنيع دې نعم په ضمير كښې اضمار قبل الذكر راځي خودابه عمده كښې په شرط د تفسير سره جائز دے نو اضمار ځكه متعين شو اوكه فعل اول تقاضا د مفعول كوي نو يا به دا د افعال قلوبو نه وي او يا به نه وي كه نه وو نو دابه حذف وي ځكه ذكر سره تكرار راځي او ضمير سره اضمار راځي فضله كښې او دا خو شنيع دے او هر چه حذف د فضله دے نو دا دومره شنيع نه دے او كه د افعال قلوبونه وي نو بيا به ذكر وي ذكر او اضمار خو شنيع دے او حذف د مفعول د مفعولې د افعال قلوب نه ناروا دے نو صحيح ده چه ذكر هم شنيع دے خو دانوره دوه په حق د افعال قلوب كښې اشنع دے او قانون خو معلوم دے چه من ابتلى ببليتين فليختراهونهما نو دا ذكر پكښې اهون دے شوكيفيه د تفصيل په دې كښې عمل په طرق ثلاثه د قطع تنازع پاندې راغئ و بدابه دا وجه د تقديم بيانوي. الاكثر استعمالا دوجې د كثرة استعمال او د وجې د موافقة د استعمال د دې مذهب نه د قرآن سره.

سوال: دفع شو شو چه عزمنده هر كله دوارو مذهبو والا ادله بيان كړل نو اذا تعارض الدليلان ولا ترجيح لاحدهما تساقطا نو يو مذهب لره هم عمل ندى وركول پكار.

جواب: او دا خبره ده خو دا هغه مقام كښې چه يو مذهب پكښې راجح نه وي او دلته خو مذهب د بصريانو راجح دے اذا اقتضى الفاعل دا دفع د سوال ده چه ان اعلمت شرط دے او اضمرت ورله جزاء ده نو جزاء خو مرتب وي په شرط پاندې او دلته خو ترتيب صحيح ندے ځكه چه داخو ضروري نده چه فعل ثاني لره عمل وركړې نو اول فعل كښې به خامخوا ضمير ګرځوي.

جواب: دا جزاء مرتب ده په شرط پاندې خو دا شرط په يو قيد سره مقيد دے هغه داچه كله دا تقاضا د فاعل كوي نو اضمرت.

سوال: دا خو لازم شو اضمار قبل الذكر او دا خو ناروا دے.

جواب: دا اضمار په فضله كښې ناروا دے او په عمده كښې اضمار په شرط د تفسير سره جائز دے.

سوال: مثال چرته شته دے؟

جواب: او قل هو الله احد دے کنه دا هو ضمیر راجع دے روستو ته نو اضمار دے خو تفسیر ورسره شته دے نو ناروا ندے.

سوال: عزمنده ذکر او یا حذف اوکړه کنه؟

جواب: ذکر کښ تکرار دے او تکرار او حذف ممتنع دی. علی وفق الظاهر دا الظاهر صفة دے شارح ورله موصوف متعین کړو چه الاسم دے. الواقع دا دفع د وهم ده چه مراد به چرته مقدم اسم ظاهر وی نو دائی دفع کړو چه دا روستو چه واقع دے دا مراد دے بیا دلته چند سوالات دي (۱) د وفق الظاهر مقصد څه دے؟ (۲) دا موافقة ولی شرط دے د اسم ظاهر سره (۳) د دي مثال به څه وی؟

جواب: عن الاول شارح صیب وائی چه موافقة مقصد دادے چه دا اسم ظاهر مفرد وی نو ضمیر به هم مفرد وی دغه شان تثنیه او جمع هم دي او جواب عن الثانی دادے چه دا موافقة د اسم ظاهر سره ځکه شرط شو چه دا مرجع ده دپاره د ضمیر او ضمیر د مرجع خپلی سره موافق وی. او جواب عن الثالث دادے چه مثال ورله ضربنی و اکرمنی زید، ضربانی و اکرمنی الزیدان، ضربونی و اکرمنی الزیدون د ون الحذف ځکه حذف د فاعل راځی چه ناروا دے.

سوال: نویه ضرب زید مجهول کښ خو فاعل حذف دے.

جواب: الا اذا سد هلته قائم مقام شته دے چه نائب فاعل دے.

سوال: تا اوی اضمرت الفاعل نو د دي نه معلومه شوه چه حذف ناروا دے نو دون الحذف خو مستدرك دے.

جواب: دا تصریح بما علم ضمنا او دا مستدرك نه وی.

سوال: نو داهم د څه فائدی نه خالی نه وی دلته څه فائد ورکوی؟

جواب: دلته ماتن صیب وائی خلافا الکسائی نو دا خلاف د کسائی مجهول وو نو ماتن دون الحذف اوی چه دا خلاف د کسائی معلوم شی چه حذف کښ خلاف دے نوداهم معلومه شوه چه عند الکسائی حذف د فاعل جائز دے بلا سد مسد فانه سره دلیل بیانوی.

سوال: فعل اول کښ اضمار او حذف خو یو شئ دے.

جواب: و یظهر اثر الخلاف هسی یو شئ دے زور نی په تثنیه او جمع کښ اوګوره کما فی المثال السابق و جاز خلافا للفراء .

سوال: هر کله چه ماتن و یختار اوی نو جواز قرینه معلوم شو نو دا جاز بیا ذکر کول استدراك دے.

جواب: دا تصریح بما علم ضمنا ده دپاره د معلومول د محل الاختلاف د فراء سره چه هغه جواز او عدم جواز دے بیا حاصل د فراء صاحب د مذهب دادے چه کله فعل اول تقاضا د فاعل کوی نو اعمال به فعل ثانی لره نه شی ورکولی چه هغه عامل شی نو دا صورة جائز ندے ځکه عند الجمهور اضمار راځی او عند الكسائی حذف به فاعل کښ او دا نا روا دی. و قیل روی غرض د شارح روایات د فراء صیب بیانوی چه علاوه دماتن د روایة نه دي او دویم غرض د شارح تمهید دےرد دته په ماتن صیب باندي او دریم غرض د شارح تصریح ده په رد علی الماتن باندي نو تمهید دادے چه فراء وائی چه فعل اول ثانی دواړه لره عمل ورکول هم جائز دي داشو تشریك الرافعین او بل داچه داهم جائز ده چه عمل فعل ثانی لره شی او د اول دپاره ضمیر د اسم ظاهر نه روستو راشی لکه ضربنی و اکرمنی زید هو نو دا هو ضمیر فاعل د ضربنی دے چه زید ته راجع دے او دې صورت کښے یو د محظوراتو ثلاثو نه لازم نه شو وروایة المتن دا تصریح په رد ده نو دي ته عبد الرحمان صیب جواب کوی (۱) چه دا روایة د متن غیر مشهور دے نو ماتن دپاره د شهرة ذکر کړو (۲) کیدلے شی چه دماتن په بلادو کښ دا روایة مشهور وو او دا دوه نه وو مشهور (۳) صحیح ده چه دا دوه روایات مشهور دي خو دامورد د اعتراض دي او د متن روایت غیر مشهور دے خو مورد د اعتراض ندے هغه اعتراض دادے چه اول صورت کښ توارد د عاملینو مستقلینو لازم شو په معمول واحد چه ناروا دے ځکه عاملین موثرات نحویه دي او موثر حقیقی چه وی نو دهغی په معمول واحد توارد جائز ندے نو دلته هم جائز نه شو ځکه داهم په مال حقیقة نفس الامر به دي ځکه دایو موثر دا تقاضا کوی چه داما جوړ کړی دے دي بل ته حاجة نشته دے او دابل هم دا تقاضا کوی نو لازمیږی کون د شئ واحد محتاج الیه اوهم مستغنی عنه نو داناروا ده ولی چه اجتماع د متنافیتو ده او دویم روایة کښ اگرچه د قطع تنازع صلاحیة شته دے خو فصل راځی بین العامل و المعمول او قانون دادے چه معمول د خپل عامل په جنب کښ ذکر وی

و حذفت المفعول ان استغنی عنه و الا اظهرت تفصیل د بصریانو د مذهب شروع دے نو مونږ اوی چه که فعل اول تقاضا د فاعل کوی نو فعل ثانی لره به عمل ورکړو او فعل اول کښ به اضمار شی اوس که دافعل اول تقاضا د مفعول کوی نو بیا دي ته نظر اوکړی شی چه ایا دا د افعال قلوب نه دي اوکنه غیر د افعال قلوب دي نوکه افعال قلوب نه وو نو حذفت ذکر سره تکرار راځی او دا شنیع دے او اضمار سره اضمار فضله کښ راځی داهم ناروا دے نو حذف متعین دے.

سوال: نویه حسبنی مطلقا او حسبت زیدا منطلقا کښ خو تاسو تکرار کړے دے.

جواب: که دلته تکرار اونشي نو لازمیږي حذف دیو مفعول د مفعولی د افعال قلوب نه او داخو ناروا ده نو بناء په دي مجبوریٰ باندي مونږ تکرار کوو. و الا ای وان لم یستغن عنه شارح معنی د الا کوي او تعیین د اصل د الا هم کوي اظهرت داچه کله افعال قلوب وي لکه حسبنی منطلقا و حسبت زیدا منطلقا دي ترکیب کښي دوه تنازع ده یو فاعل کښ چه حسبنی والی زید زما فاعل دے او حسبت والی زید زما مفعول دے نو مونږ دي کښ فعل ثانی لره عمل ورکړے دے په نزد د بصریانو او اول کښ اضمار دے او دویم تنازع چه مقصود ده یو حسبنی والی چه زما مفعول اول شته دے او دا منطلقا دي زما مفعول ثانی شي او حسبت والی چه زما مفعول اول شته دے او دا منطلقا دي زما مفعول ثانی شي نو مونږ فعل ثانی لره عمل ورکوو او فعل اول کښ اظهار دے معنی داده چه کمان اوکړو زید په "ما" باندي د تلونکی او "ما" کمان اوکړو په هغه باندي د تلونکی اما دا خبره چه حذف د یو د دوو مفعولو د افعال قلوب نه ولی ناروا دے؟ نو حاصل دادے چه دا دواړه مفعولین اصلی کښ مضمون د جملی دے په دي شان سره چه مصدر د دي مشتق به دي جامد (مسند الیه) ته به مضاف شي نو د زیدا منطلقا نه به انطلاق زید شي نو دا خو حذف کول د بعض اجزاء د کلمه دے او دا خو ناروا دے خو داچه کله بلا دلیل وی او دلیل سره بیا حذف جائز دے.

سوال: قران کښ الله فرمائی چه ولا یحسبن الذین یبخلون بما اتاهم الله من فضله هو خیرا لهم دلته دا خیرا یو مفعول دے نو دا مذکور دے او دویم مفعول بخلهم محذوف دے.

جواب (١) دا حذف جائز دے ولی دلته دلیل دے و سیاق تفصیله (٢) دلته دواړه ذکر دي یو هم حذف نه دے په دي شان سره چه یو داهو ضمیر د مرفوع دے چه راجع دے بخل ته او دویم دا خیرا دے.

سوال: ضمیر د مرفوع په ځائے د منصوب راتلل دلیل نقلی غواړی شته دے؟

جواب: او انك انت العزیز الحکیم داك ضمیر موکد منصوب دے او دا انت ضمیر ورله تاکید راغلی دے.

سوال: اخر کښ اضمار اوکړو نو اضمار قبل الذکر به نشی او عبارت به شی چه حسبنی وحسبت زیدا منطلقا ایاه.

جواب: داسی نه شی کیدلے ځکه بیا فصل راځی په درمیان د مبتداء او خبر کښ او داناروا ده

سوال: مبتداء او خبر چرته دی؟

جواب: دا مفعولین د افعال قلوب په اصل کښ مبتداء او خبر دي کنه دا زیدا منطلقاپه اصل کښے زید منطلق مبتداء او خبر دی. وان اعملت الاول هر کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل

د مذهب د بصریانو نه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل د مذهب دکوفیانو کښې نو دري سوالات راغلل نو نفس تفصیل د وجې د مامر نه کوي او تفصیل دې مقام کښې ځکه کوي چه موافقة راشي د اجمال سره الخ او تفصیل دکوفیانو د مذهب داسې دے چه اے هر مخاطب صیب کله چه ته فعل اول لره عمل ورکړې نو فعل ثانی ته اوګوره که تقاضا د فا عل کوي نو اضمار اوکړه او که تقاضا د مفعول کوي نوکه د افعال قلوب نه نه وي نو بیا حذف اوکړه جوازا او اضمار سره د اختیار نه شارح واني لو اقتضاه دا دفع د هغه سوال، جواب چه تیر سبق کښې تیر ده بیا ماتن المختار اوی نو دا صفة دے موصوف غواړی او هغه شارح متعین کړو چه المذهب دے بیا دا حذف مفعول کښې جائز دے ځکه دا فضله دے او اضمار پکښې مختار دے ځکه یو داچه د حذف سره بقاء د کلمه په اصل نه راځی او اضمار سره راځی نو بقاء د کلمه په اصل باندې اولی ده د عدم بقاء نه په اصل او دویم داچه حذف سره وهم راځی چه مفعول د فعل ثانی څه دے؟ مذکور دے او که حذف دے؟

الا ان یمنع مانع دا استثناء مفرغ ده د عبارت تقدیر داسې دے چه اضمرت المفعول فی جمیع الاوقات او فی الاوقات کلها الا وقت منع مانع من الاضمار کما هو القول المختار ومن الحذف کما هو القول الغیر المختار فتظهر. لکه دا مثال دے چه حسبنی و حسبتهما الزیدان منطلقا دې مثال کښې د تفصیل نه مخکښې څه مقدمات ملحوظ کول ضروری دي منها[۱] په مفعولینو د افعال قلوب کښې اختصار جائز دے او اقتصار ناروا دے اختصار حذف مع الدلیل ته واني او اقتصار حذف بلا دلیل دے ومنها[۲] دا مفعولین د افعال قلوب په حقیقة کښې مبتداء او خبر دي نو یو مفعول به بل باندې حمل وی نو مطابقة پکښې هم شرط دے و منها[۳] په درمیان د راجع او مرجع کښې هم مطابقة شرط دے اوس اول به مونږ تعیین د محل د تنازع مقصود اوکړو او بیاجریان د طرق ثلاثو کوو او تعیین دیو طریقه به کوو. نو حسبنی واني چه زما مفعول اول شته دے چه یاء ضمیر د متکلم دے او دا منطلقا دې زما مفعول ثانی شی او حسبتهما واني چه زما هم مفعول اول شته دے چه هما ضمیر دے او دا منطلقا دې زما دپاره مفعول ثانی شی نودکوفیانو په مذهب سره مونږه عمل فعل اول لره ورکړو چه حسبنی دے نو دهغی دپاره دوه مفعول برابر شو یو یاء ضمیر د متکلم دویم منطلقا نو فعل ثانی چه حسبتهما دے اوس دې کښې مونږ حذف نشو کولې په امر د مقدمه اولی او ضمیر پکښې هم نشو راجع کولې ځکه ضمیر به یا مفرد راوړو چه موافق شی د منطلقا مرجع سره نو بیا خو مطابقة رانغې د مفعول اول د حسبتهما سره چه هما ضمیر مفعول اول تثنیه ده او مفعول ثانی مفرد شو داهم ناروا دی په امر د مقدمه ثانیه سره اوکه ضمیر د تثنیه راوړو نو د مفعول اول سره موافق ګرځي خو د مرجع سره موافق نه دے ځکه مرجع منطلقا مفرده ده نو داهم ناروا شو په امر د مقدمه ثالثه نو تعین اوشو چه ذکر او اظهار به وي نو عبارت به شي حسبنی و حسبتهما منطلقین الزیدان منطلقا او معنی داده چه ګمان اوکړو په "ما" باندې زید انو د تلونکي او "ما" ګمان اوکړو په دوی د تلونکو.

ولا يخفى انه "لا" تصور دا دفع د سوال ده چه دي مثال مذكور كښ خو تنازع د سر نه متصور نده ځكه فعل اول تقاضا كوى د مفعول مفرد او فعل ثانى تقاضا كوى د مفعول مثنى او منطلقا خو مفرد دے نو متعين ده چه دا مفعول د فعل اول دے او فعل ثانى دي خپل كار كوى حاصل د جواب دادے چه دي مقام كښ دوه اعتباره دي يو حيثية د افراد دويم ذات من له الانطلاق نو زمونږ كلام په دويم اعتبار بناء دے او دا بيا عام دے كه مفرد وى يا تثنيه او يا جمع ولما استدل الكوفيون غرض د شارح يو تمهيد دے "ما" بعد متن ته او دويم د هغى ربط بيانوى دما قبل سره او دريم دفع د سوال ده چه زمونږ بحث خو په تنازع الفعلين كښ دے او مصنف صيب خو اشعارو كښ شروع اوكړو نو چه دا خروج عن البحث نه شى نوكوم به خروج عن البحث وى؟

جواب: ساده انسانه دا خروج عن البحث ندے بلكه مخكښ اختلاف بيان شو نو چه هغى كښ خلور خبرى بيان شوى وى دي مقام نه پنځمه خبره ده چه ترجيح دما هو الراجح ده نو د بصريانو مذهب خو راجح دے خو دكوفيانو د ادلو نه به جوابات هم كول غواړى نو يو دليل پكښ شعر وو اوس مصنف هغه رانقل كوى بيا دكوفيانو درى ادله عقلى وو خو دا نحو ده نو اعتبار پكښ نقلى دليل لره وى نه عقلى لره نو وجه هم داده چه مصنف د نقلى دليل نه جواب كوى او عقلى ته د سر نه توجه هم نه كوى نو هغه شعر داسى دے پوره ماتن خو دوېمه تكړه وئيلى ده شارح پوره بيانوى نو پوره دادے.

ولو انما اسعى لادنى معيشة   كفانى ولم اطلب قليل من المال

ديكښ دا قليل متنازع فيه دے دكفانى او لم اطلب دپاره كفانى والى زما دي فاعل شى او لم اطلب والى زما دي مفعول شى او دا قليل مرفوع دے نو عمل فعل اول كړے دے او فعل ثانى داسى پاتى دے.

سوال: پره كيدلے شى چه عند الشاعر دواړه فعلان په عمل كښ برابر وى نو يوئى ترينه راخستلے وى ولى چه دواړه كله برابر شو نو بيا خو اختيار دے كه اول راخلى اوكه ثانى.

جواب: داسى خبره نده ځكه كه خبره دا شى نو بيا خلاف راځى د اجماع ځكه چه په عدم مساواة باندي اجماع شوى ده.

سوال: دلته بيا هم تنازع نه ده متصور نو دكوفيانو مذهب ترينه نه دے معلوم چه دا مختار دے ځكه چه قليل د فعل اول معمول شو نو فعل ثانى تقاضا د مفعول كوى او دوى والى چه فعل ثانى كله د مفعول تقاضا كوى نو ضمير پكښ مختاره دے نه حذف او دلته كه فعل ثانى كښ اضمار وو. نو پكار ده چه لم اطلبه وو ولى چه امرؤ القيس فصيح بليغ دے په مختاره عمل كوى نو د كوفيانو استدلال برابر ندے .

جواب: استدلال د کوفیانو برابر دے خو دلته حذف باندې عمل شوی دے د وجې د خرابیدو د وزن د شعر نه نو تنازع هم شته او دلیل هم تام دے . لیس منه نفساد المعنی غرض د ماتن جواب کول دي د دلیل نه حاصل دادے چه دلته تنازع نشته دے د وجې د فساد د معنی نه او فساد د معنی خو باطل دي نو تنازع متصور کول هم باطل دي شارح پوره وضاحة کوی. شعر.

ولو انما اسعی لادنی معیشة　　كفانی ولم اطلب قليل من المال

دی شعر اول کښ کلمة د لو ده چه دي کښ یو قانون دے شارح وائی لان لو الخ حاصل دادے چه مدخول د لو که شرط وی یا جزاء یا معطوف نوکه دا مثبت وی او لو پری داخل شی نو منفی کوی ئې اوکه منفی وی نو مثبت ئې گرځوی اوس اسعی مثبت دے نو منفی شو چه زه کوشش نه کوم او کفانی هم مثبت دے نو منفی شو چه ندے کافی مالره اولم اطلب منفی دے نو نو مثبت شو چه طلب کوم نو کفانی لازم دے د طلب سره چه کافی کیږی نو طلب کوم نو چه کفانی نه شو منفی شو چه عدم کفایة دے نو دا د طلب سره مناق دے چه کافی ندے نو طلب ئې نه کوم نو دي نه معلومه شوه چه دا کفانی یو څه ته متوجه دے او لم اطلب بل څه ته متوجه څکه چه دا دواړه دیو بل سره مناق دي نو څنګه به یو ته متوجه شي نو د کفانی دپاره قلیل فاعل دے او د لم اطلب دپاره مفعول به محذوف دے چه العز و المجد دے .

سوال: دا مفعول به د چرته نه معلوم شو.

جواب: په دي باندي یو بل بیت د شاعر دلالت کوی چه هغه دادے.

و لکنما اسعی لمجد مؤثل　　و قدیدرك المجد المؤثل امثالی

نو دلته شاعر تصریح اوکړه په سعی او طلب باندي دپاره د العز و المجد اوس د دي شعر معنی داسی ده ولو انما اسعی کچری "ما" کوشش کولی لادنی معیشة دپاره د لاندی ژوند او ذلیل ژوند کفانی نو کافی به وی مالره لږ مال خو زه نه کوشش دلاندی او ذلیل ژوند کوم او نه دا لږ مال کافی دے "ما" لره نو زه څکه دا داکی کوم و لکنما اسعی لیکن زه کوشش کوم دپاره د شرافة او بزرګئ مؤثل هغه شرافة او بزرګی چه پائیداره وی او دائمه وی و قد یدرك او دا بزرګی او شرافة دائمه زما پشان خوانا حاصلوی نو زه هم څکه داکی اچوم. حاصل هم دادے چه تنازع نشته دے

سوال: دې مقام کښې دلو د وجې نه تنازع غیر متصور ده ځکه د اِلم اطلب په "ما" قبل باندې عطف دے او دلو لاندې دے نوداپه "ما" قبل باندې مه عطف کوه کنه چه تنازع متصور شی او دا واو په دپاره د استیناف شی نو کلام به منفی پاتې شی.

جواب: داسې نشي کیدلے ځکه چه تنازع هغه وخت متصور ده چه دې عاملینو کښې ارتباط وی او دا استیناف د دې سره منافاة لری نو نشي کیدلے بلکه دا واو عاطفه دے.

مفعول ما لم یسم فاعله

مفعول "ما" لم یسم فاعله اجمالی خبرې د دې مقام (۱) ربط دما قبل سره (۲) تشریح د عنوان (۳) تعریف د مفعول "ما" لم یسم فاعله (٤) شرط دپاره د جوړولو د نائب فاعل (٥) احکام د نائب فاعل.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل دیو قسم د مرفوعاتو نه چه فاعل وو نو به تفصیل د دویم قسم مرفوع کښې شروع اوکړه چه هغه مفعول "ما" لم یسم فاعله دے او دې ته نائب فاعل هم وئیلی شي نو دلته درې سوالات راغلل (۱) نفس تفصیل ولې کوی؟ (۲) تفصیل دې مقام کښې ولې کوی؟ (۳) تفصیل څنګه کوی؟

جواب عن الاول دادے چه نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وی او دا تفصیل ته محتاج هم وو اوکوم شئ چه تفصیل ته محتاج وی نو دهغی خلق تفصیل کوی.

جواب عن الثانی دا دے چه تفصیل دې مقام کښې ځکه کوی چه اصل په مرفوعاتو کښې عند الماتن فاعل وو او د زمخشری په نزد مبتداء وه نو پکار ده چه په تفصیل د فاعل پسې تفصیل د مبتداء وی خو د مفعول مالم یسم د فاعل سره شدة اتصال دے نو د دې د وجې نه دای به فاعل پسې راوړو او جواب عن الثالث دادے چه تفصیل داسې کوی چه یو به د مفعول "ما" لم یسم فاعله تعریف اوکړی په کل مفعول سره دویم دهغې شرط به بیان کړی په وشرطه سره دریم دهغې احکام به بیان کړی ولا یقع المفعول سره څلورم مثال به ورله بیان کړی په تقول سره او پنځم تطبیق د مثال به د ممثل سره اوکړی په فتعین سره.

ربط لفظی دادے چه مفعول مضاف دے "ما" موصوله ده لم یسم فاعله ورله صله ده موصول سره د صله نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف چه مفعول دے بیا مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء شوه او کل مفعول الخ ورله خبر دے نو مبتداء او خبر جمله اسمیه خبریه شوه یا دا مفعول "ما" لم یسم فاعله مبتداء دے دپاره د خبر محذوف ای منها مفعول مالم یسم فاعله نو منها په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم او دا باقی ورله خبر شو او یا دا مفعول "ما" لم یسم فاعله خبر محذوف المضاف دے دپاره د مبتداء محذوف ای هذا بحث

مفعول "ما" لم يسم فاعله نو هذا مبتداء هم حذف شوه او بحث مضاف هم حذف شو نو دا مضاف اليه دهغي قائم مقام اوګرځيدلو نو دهغي په اعراب سره معرب هم شو نو په دې اعتبار سره دا رفع نيابة ده او دا كل مفعول الخ خبر دے دپاره د مبتداء محذوفے چه هو دے.

تشريح د عنوان: نو يو لفظى تشريح ده چه دا مفعول مضاف دے او "ما" موصوله ده لم حرف جازم يسم صيغه د فعل جحد مجهول فاعل مضاف او ه ضمير مضاف اليه نو دا نائب فاعل شو نو دا جمله فعليه صله د موصول شوه موصول سره د صله نه مضاف اليه دے بيا مضاف مضاف اليه هغه تراكيب دى. دويم معنوى تشريح ده نو ماتن مفعول "ما" اوى او شارح وائى اى مفعول فعل او شبه فعل دائے تعين دما اوكړو مصداقا او دا دفع دوهم هم شوه چه "ما" به عبارت د فعل نه وى فقط نو شارح اوى دوارو نه عبارت دے كه فعل دے او يا شبه فعل دے.

سوال: عبارت مفعول عامل پكار وو نو فعل او شبه فعل ته به هم شامل وو او تطويل نه هم نه وو.

جواب: عادت د مصنف جارى پدى دے چه تعبير په عامل سره نه كوى لكه تنازع العاملات پكار وو او ده تنازع الفعلان وئيلى وو. نو شارح په دې مناسبة سره هم "ما" عبارت د فعل او شبه فعل نه او ګرځو او د عامل سره ئې تعبير اونكړو لم يذكر غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا سمى يسمى باب تفعيل متعدى دے دوو مفعولينو ته او قانون دادے چه كوم فعل چه متعدى الى المفعولين وى او دا مجهول شى نو دا بيا يو مفعول ته متعدى ګرځى نو دلته خو دې لره مفعول نشته دے.

جواب: دا فعل چه سمى يسمى دے دايه دوه ؤ معانيو راځى يو په معنى دنوم پښودلو دويم په معنى د ذكر سره نو دلته هم دايه دوهمه معنى دے او متعدى دے يو مفعول ته نو چه مجهول شو نو لازم شو او شارح باسولى وائى چه غرض د شارح په دې عبارت دفع د بل سوال ده چه دماتن په كلام كښې تعارض دے په دې شان چه دلته وائى لم يسم فاعله چه فاعل ورله نشته او روستو وائى كل مفعول حذف فاعله نو واى فاعل ورله شته دے خو حذف دے.

جواب: لم يذكر دالم يسم په معنى دلم يذكر دے نو شته دے فاعل خو ذكر ندے و انما لم يقصله غرض د شارح په دې سره اشاره كول دې اعتراض ته حاصل دادے چه د مصنف عادت دادے چه ديو شئ دپاره اقسام بيانوى نويه منه او منها سره ئې بيانوى نو دا نائب فاعل هم يو قسم دے نو دائى په منه او منها سره ولى بيان نكړو شارح وائى لشدة اتصاله دا اشاره ده جواب ته حاصل دادے چه دانائب فاعل د فاعل سره شدة اتصال لرى په دې شان چه څنګه فاعل جزء وى د فعل نه لفظا، معنى، جميعا نو دا نائب فاعل هم داسى دے څنګه چه فعل

په مفهوم خپل کښې محتاج دے فاعل ته نو داسې محتاج دے مفعول "ما" لم يسم فاعله ته هم دا اتصال معنی دے او لفظا اتصال داسے چې څنګه اخر د فعل ساکن ګرځی د اتصال د فاعل د وجې نه نو داسې د اتصال د نائب فاعل نه هم ساکن ګرځی لکه ضربت فعل ماضی معلوم واحد متکلم او ضربت مجهول هم داسې دے. او دغه شان احکامو کښې هم خبره ته ده په دې شان سره چه اسناد د فعل اسم ظاهر ته اوشی نو وحد الفعل ابدا نو دغه حکم د نائب فاعل هم دے او دغه شان چه اسناد د فعل ضمير ته اوشی نو وحد للواحد و ثنی للمثنی و جمع للجمع نو دا حکم په نائب فاعل کښې هم دے دغه شان چه کله اسناد د فعل اوشی فاعل مونث حقيقی بلا فصله ته نو تانيث د فعل واجب دے نو داحکم د نائب فاعل هم دے دغه شان چه کله اسناد د فعل اوشی فاعل مونث حقيقی مع الفصل يا مونث غير حقيقی ته نو اختيار دے په تانيث د فعل او تذکير کښې نو دا حکم د نائب فاعل هم دے نو د دې وجې نه ئې نائب فاعل په فاعل پسے متصل راوړو.

سوال: نو چه دلته د شدة اتصال د وجې نه منه او منها نه وائې نوپه روستو اقسامو کښې سوا دمبتداء او خبر نه خو شدة اتصال نشته دے هلته ولې منه او منها نه راوړی؟

جواب: عادت د مصنف په دې جاری دے چه اکتفاء دلاحق نه په سابق کوی او عکس هم کوی نو دغه ځائې کښې اکتفاء دلاحق نه په سابق کوی.

سوال: نو په مبتداء کښې اکتفاء په فاعل نه کوی؟

جواب: دې کښې اشاره ده هغه اختلاف ته چه عند البعض مبتداء اصل ده نو دهغی د لحاظ دپاره ئې راوړی دے.

اصطلاحی تعريف: ماتن صيب وائې کل هر يو فرد د افرادو د مفعول "ما" لم يسم فاعله نه الخ.

سوال: دفع شو چه ضرب زيد کښې دا زيد نائب فاعل دے او دا خو د ټولو مجموعه نده چه تاکل راوړی دے.

جواب: داکل افرادی دے نه مجموعی چه سوال راشی.

سوال: تعريف د جنس په جنس کيږی او کل خو د افرادو دپاره وی.

جواب: (۱) د اصطلاح د نحاتو ده او د اهل عربو د دوی په نزد کل دپاره د مانعية او جامعية د تعريف وی او د مناطقو اصطلاح نده مراد.

سوال: نو جامعية او مانعية د تعريف خو د کل نه علاوه هم حاصليږی.

جواب: نو د اكل دپاره د تصريح دے په جامعية او مانعية باندې (۲) دا كل د تعريف نه ندے تعريف د مضاف اليه نه شروع دے.

سوال: نو كل څه فائده كوي؟

جواب: دفع د وهم كوي هغه وهم دادے چه بعض وقت كښ تعريف دپاره د امتياز د بعض ماعدا وى نو واهم وهم اوكړو چه دلته به هم داسې وى نو په كل سره ئې ورله داوهم دفع كړو حذف فاعله .

سوال: د فاعل حذف ولې كوي؟

جواب: د حذف د فاعل دپاره په كلام د عربو كښ ډير فوائد دي چه رجع د هغې دوه و فائدو ته كيږي يو لفظي داهم ډير زيات دي منها(۱) كله حذف د فاعل دپاره د برابرتيا د وزن د شعر يا د سجع وى او يا دپاره د برابر تيا د فواصلو وى و منها(۲) كله دپاره د اختصار وى و منها(كله دپاره د اكتفاء بالسابق وى دويم معنوى داهم ډير دي لكه كله حذف د فاعل د وجى د شهرت نه وى كله د وجى د جهالت نه كله د وجى د خساسة نه او كله دپاره د حفاظت د فاعل فاعل حذف شي او كله د وجى د ضعف نه هم فاعل حذف شي لكه قيل صيغه د تمريض ده نورهم ډير فوائد دى. اى فاعل ذالك المفعول غرض د شارح دي عبارت سره يو تعيين د مرجع كوي د ضمير د فاعله او دويم دفع د سوال ده چه د فاعله د ضمير مرجع څه ده؟ يا خو به مرجع مفعول وى نو فاعل خو د فعل وى نه چه د مفعول اوكه مرجع فعل شي نو دا مفعول موصوف دے او دا حذف الخ ورله صفة دے جمله ده نو "لا" بدى ده پكښ د عائد نه چه راجع شي موصوف ته چه مفعول دے نو هغه عائد خو تا فعل ته راجع كړو نو لازم شو خالي والي د جملې صفة د عائد د موصوف نه او دا خو ناروا ده.

جواب: دا ضمير راجع دے مفعول ته او دا نسبة د فاعل مفعول ته د وجې د ادنى ملابسة نه دے هغه داچه دا فاعل دهغه فعل دے چه هغه تعلق ساتي د مفعول سره.

سوال: نو فاعل خو جزء عمده في الكلام دے چه حذف ئې ناروا دے.

جواب: واقيم هو مقامه دا حذف سره د قائم مقام نه دے او دا جائز وى بلا قائم مقام ناروا دے بيا ماتن اقيم اوى او وريسې ئې هو ضمير راوړو نو دادپاره د تاكيد دهغه ضمير چه اقيم كښ دے او دا دپاره د دفع د وهم چه واهم به دا وهم اوكړى چه دا قيم دپاره نائب فاعل دا مقامه دے نو ماتن دا وهم دفع كړو چه نائب فاعل دامقامه ندے ځكه بيا لازميږي خالي والي د جملې چه صفة دے د عائد د موصوف نه. مقامه اى مقام الفاعل دا شو تعيين د مرجع

سوال: کله چه قائم مقام د فاعل نائب فاعل وی نو پکار ده چه انبت الربیع البقل کښ دا الربیع نائب فاعل شی ځکه چه دا قائم مقام دے د فاعل اصل عبارت دادے چه انبت الله البقل وقت الربیع بیا دا فاعل حذف شو او الربیع قائم مقام شو. نو باید چه دا دې نائب فاعل شی حالانکه دا فاعل دے.

جواب: دا فاعل دے مجازا نو دا قائم مقام د فاعل ندے.

سوال: تاسو اوی چه دانائب فاعل(مفعول) قائم مقام دے د فاعل نو د مفعول او فاعل درمیان کښ څه مناسبة نشته دے ځکه چه فاعل سره فعل قائم وی او د مفعول سره فعل قائم نه وی بلکه واقع وی پری یعنی د فاعل نه فعل صادر وی او مفعول باندې واقع وی نو دا خو تضاد شانته دے.

جواب: ‌ی اسناد الفعل او شبهه الیه حاصل دادے چه دا قائم مقام کیدل په اسناد کښ دي نه په قیام او وقوع کښ.

شرط د جوړولو د نائب فاعل:ماتن اوی و شرطه شارح تعیین د مرجع کوی او دا شرط دپاره د قیام د مفعول دے په مقام د فاعل باندې حاصل دادے چه دنائب فاعل دپاره دا شرط دے چه تغییر به پکښ راغلی وی صیغه د فعل یا یفعل ته او د شبه فعل به هم تغییر راخی لکه دفاعل نه به مفعول گرځی.

سوال: تا اوی چه تغییر به فعل یا یفعل ته کیږی نو معلومه شوه چه نائب فاعل به صرف فعل کښ وی نو شبه فعل خارج شو حالانکه هلته هم نائب فاعل راخی بالفاظ دیگر ته وائی چه تغییر به فعل یا یفعل ته کیږی نو دا حکم د شبه فعل هم دے څه؟

جواب: اذا کان عامله دا حکم د فعل دے چه تغییر به ‌ی فعل یا یفعل ته کیږی او چه شبه فعل وی نو د فاعل به مفعول ته کیږی چند سوالات دي (۱) دا نفس تغییر ولی راولی؟ (۲) فعل مجهول کښ ولی (۳) خاص دا وزن ولی مقصود شو؟(٤) د دي خاص وزن نه څه مراد دی؟

جواب عن الاول نفس تغییر دپاره د فرق په معلوم او مجهول کښ.

جواب عن الثانی تغییر فعل مجهول کښ ځکه چه اعتدال باندې عمل اوشی په دې شان سره چه فعل معلوم اصل دے او عدم تغییر هم اصل دے نو اصل مو اصل لره ورکړو او فعل مجهول فرع ده او تغییر هم فرع ده نو فرع لره فرع .

جواب عن الثالث: دا وزن ځکه خاص شو ځکه داوزن غریب دے چه غرابة د لفظ دال شی په غرابة د معنی یعنی اصل کښ نسبة د فعل فاعل ته وی او نسبة د فعل مفعول ته غریب دے نو وزن هم غریب دے چه فعل او یفعل دے.

سوال: دا ولی غریب دی؟

جواب: دې کښې يو خروج د ضمه نه کسره ته دے او دا غرابة دے او دويم داچه کوم وزن د فعل غريب وی نو هغه اسماء کښې نه وی نويه فعل وزن اسماء کم ‌دي صرف دوه دي وعل او دئل دي او يفعل هم داسی دے.چه برقع،جندب نه علاوه نور اسماء پدے وزن نه دی راغلی

سوال: خروج د کسره نه ضمه ته هم غريب دے نو هغه وزن دې مراد ښ کنه؟

جواب: دا فعل بضم الفاء و کسر العين ثقيل دے او فعل بکسر الفاء و ضم العين اثقل دے نو په ثقيل چه کيږی صيرورة الثقل نه شه ندے.

سوال: دا يفعل وزن هم اسماء کښې نشته؟

جواب: او صرف دوه ؤ کښې دے يو برقع دويم جندب او دانادر دی.

جواب: عن الرابع د فعل نه مراد ماضی مجهول او د يفعل نه مضارع مجهول ده.

سوال: مزيد او رباعی خارج شول.

جواب: دا عام دے ټولو ته شامل دے.

سوال: نو د فعل نه ماضی مجهول او د يفعل نه مضارع مجهول اخستل په کوم قانون دی؟

جواب: داپه قانون د لکل فرعون موسی سره چه مراد قرينه وصف مشهور دی.

سوال: دا فعل او يفعل دا د مجرد نه ولی خاص کوی؟

: مراد خو ماضی او مضارع مجهول دی د مزيد يا رباعی نه به دی اخستلې وو نو په تخصيص د ثلاثی مجرد قرينه څه ده؟

جواب: دا ثلاثی مجرد اصل دے نو د وجی د اصالة نه دا خاص شول

ولا يقع المفعول الثانی من باب اعلمت و الثالث من باب علمت .

احکام د نائب فاعل:ربط خو واضح دے چه اخيری خبره ده د اجمالی خبرونه او د قريب سره ئی ربط دادے چه په تعريف د نائب فاعل کښې أقيم اوپلی شو نو يوهم راتلو چه هر قسم مفعول به د فاعل قائم مقام ګرځی نو ماتن داوهم دفع کړو چه هر قسم نشی قائم کيدلے نو دی مقام نه هغه مفاعيل بيانوی چه هغه د فاعل قائم مقام نشی ګرځيدلے فقال ولا يقع شارح وائی موقع الفاعل غرض ئی ربط بيانول دی چه دا حکم هم د فاعل سره متعلق دے چه

قائمدل د مفعول دې په مقام د فاعل او عدم قائمدل دې او دويم دفع د سوال ده چه تا اوئ ولا يقع دا مفعول ثانی نه واقع كيږی نو دا څه نه واقع كيږی؟ خبره خو مجهول ده؟

جواب: موقع الفاعل مراد دے بيا الثانی لازم الاضافة او لازم النسبة دے نو شارح ورله مضاف اليه او منسوب اليه بيانوی نو مفعولی ئی اوئ. او دغه شان د باب دپاره ئی مضاف متعين كړو دلته هم چند سوالات دي (۱) د باب علمت مراد څه دے؟ (۲) دا مفعول ثانی د باب د علمت ولی نه قائم كيږی په مقام د فاعل (۳) ماتن دا زيادة د لفظ باب ولی كوی؟

جواب: عن الاول مراد د باب علمت نه هر هغه فعل دے چه متعدی وی دوه ؤ مفعولو ته او دا مفعول ثانی غير د مفعول اول نه وی او بيا دا عام دے كه د افعال قلوب نه وی او يا غير د دي نه لكه جعلت او اعتقدت شو.

سوال: هم دفع شو چه ستا مراد به د باب د علمت نه افعال قلوب وی نو جعلت زيدا قائما دپاره هم دا حكم دے او دا جعلت خو د افعال قلوب نه ندی

جواب: مرا د فعل متعدی دے دوه ؤ مفعوليو ته نه افعال قلوب چه گنی دا سوال دي وارد شی مثلا علمت زيدا قائما دے نو دلته دا زيدا مفعول اول دے او دا قائما مفعول ثانی دے او دا دواړه يو شئ دے.

جواب عن الثانی نو دا شارح بيانوی چه لانه مسند الخ حاصل دادے چه كه داسی شی نو بيا به لازم شی كون د شئ واحد په يو وقت كښ مسند او مسند اليه چه ناروا دے .

سوال: زه درته بيايم چه يو شئ به وی او هم به مسند او مسند اليه وی لكه اعجبنی ضرب زيد عمروا دلته اعجبنی فعل دے مسند دے او ياء ضمير مفعول به دے او ضرب ورله مسند اليه فاعل دے بيا هم دا ضرب مضاف دے زيد ته نو دا مسند او هغه ورله مسند اليه دے څكه فاعل دے نو ضرب په يو حالت كښ هم مسند او هم مسند اليه دے.

جواب: اسنادا تاما مراد دادے چه دا اسنادين تام وی او دلته دا ضرب په اسناد تام سره مسند نه دے څكه اضافة د مصدر فاعل ته اسناد تام نه وی څكه دا مخاطب ته فائدة تامه نه وركوی او اسناد تام پوره فائدة وركوی مخاطب ته په خلاف د مفعول ثانی د باب د علمت نه څكه اسناد د دي مفعول اول ته هم تام دے او چه د فعل اسناد ورته اوشی نو داهم تام وی نو لازم به شی كون د شئ واحد مسند او مسند اليه سره د دي نه چه هر واحد په اسناد تام سره دے.

سوال: ستا د كلام نه معلومه شوه چه كله يو شئ داسی وو چه مسند اليه واقع كيدو تام او مسند نه واقع كيدو تام نو دهغه قائمدل په ځائے د فاعل صحيح دي نو بناء په دي يانډي

اسناد د اسم مفعول چه خپل معمول ته اوشی نو دا تام نه وی خو بکار ده چه اسم مفعول د باب د علمت قائم شی په مقام د فاعل باندي لکه زيد معلوم فاضلا کښ دا فاضلا شو حالانکه داهم جائز نه دے.

جواب: دا خبره صحیح ده خو دا مونږ طردا للباب ناجائز کو د وجی د فعل د باب د علمت نه چه دواړه استادين پکښ تام دی.

سوال: دا ولی نه دي صحيح چه يو شئ مسند او مسند اليه شی په حين واحد کښ .

جواب: داځکه چه بيا پکښ منافاة راځی ځکه تقاضا د دواړو جدا جدا ده نو اجتماع د متنافين به راشی.

سوال: اجتماع د متنافينو ناروا ده خو په وقت واحد او جهة واحده سره او دلته جهتين دي يو جهة نه دے ځکه چه يو شئ مسند اليه دے په اسناد تام سره خو اسناد د فعل ورته شوی دے او بيا دغه شئ مسند دے په اسناد تام سره خو هغه اسناد فعل ته نه دے بلکه بل شئ ته دے نو دا خو فعل ته نه شو نو جهة يو نه شو.

جواب: مراد د جهة نه مقتضی او سبب دے او هغه شئ واحد دے چه اسناد تام دے .

جواب: عن الرابع چه لفظ د باب ئی ولی زيات کړو نو دائی ځکه چه دا دفع د وهم ده چه دا حکم ځوك د علمت سره خاص نه کړی ځکه دادپاره دهر هغه عامل دے چه متعدی وی الخ نو اشاره پکښ تعميم ته ده اوس دا ترجمه د شرح لږ ګرانه ده نو دايه ؛ي شان سره ده لانه دا مفعول ثانی مسند دے مفعول اول ته په اسناد تام سره. فلو اسند اليه نوکه چرته دا قائم شی په ځائے د فاعل باندي او اسناد د فعل ورته اوشی ولا يکون او نه وی اسناد د فعل دي ته مگر تام لزم نو لازميږی کون د دي مفعول ثانی مسند اليه معا مسند اليه يو ځائے د مسند سره مع کون کل سره د دي نه چه هر يو اسناد تام دے بخلاف اوس اسانه ده ترجمه.

ماتن اوی و الثالث شارح والی المفعول غرض اشاره. ده عطف ته اوماقبل الخ بيا الثالث لازم الاضافة دے نو مضاف اليه ورله ذکر کوی چه من مفاعيل باب د اعلمت نه هر هغه فعل مراد دے چه اسناد ئی شوی وی دريو مفاعيلو ته او حکم د مفعول ثالث د دغه فعل پشان د حکم د مفعول ثانی وی د باب د علمت نه نو دابه هم نه راځی په ځائے د فاعل باندي و المفعول له دا معطوف عليه او والمفعول معه معطوف نو معطوف او معطوف عليه مبتداء او کذالك ورله خبر دے نو دا جمله اسميه په "ما" قبل عطف ده. نو دا دواړه دغه شان دي يعنی په شان دهر واحده مفعول ثانی د باب د علمت او د مفعول ثالث د باب د اعلمت نه دي نو دا مفعول له او معه مشبه شوه او هر واحد د هغی دواړونه مشبه به شو او کاف اداة د تشبيه شو او وجه د شبه لانهما "لا" يقعان ده. اوس دا ولی نه راځی نو شارح لان النصب

سره بیانوی حاصل دا دے چه که مفعول له چرې واقع شي په ځائے د فاعل نو مشعر بالعلية به ختم شي چه نصب دے ځکه دا مشعر دے په دې چه "ما" قبل فعل معلل دے او دا ورله مفعول له دے نودابه ختم شي ځکه دابه مرفوع شي.

سوال: زه درته ښايم چه مفعول له به وي او قائم به وي په ځائے د فاعل بانديې لکه ضرب للتاديب کښ دا للتاديب شو او دا خو بغير د نصب دے .

جواب: شارح کوی بخلاف "ما" اذاکان چه مراد مې هغه دے چه بغير دلام نه وی ځکه چه لام پکښ وی نو بيا مشعر بالعلية دغه لام دے نوکه منصوب وی او يا مرفوع نو مشعر شته دے کذالك ای کل من. غرض د شارح دفع د وهم ده چه دا کذالك به خبر د مفعول معه وی نو مقصد داچه دابه نه شي قائمدی په ځائے د فاعل بانديې او مفعول له سره به متعلق نه وی نو شارح دا وهم دفع کړو دويم غرض دفع د سوال ده چه المفعول له او المفعول معه مبتداء ده او کذالك خبر دے نو بين المبتداء و الخبر مطابقة نشته چه دالازم دے نو جواب اوشو چه داموؤل دے په تاويل د کل واحد سره.

سوال: ذالك اسم اشاره مفرد ده او مشار اليه ورله دوه شيان دی ده چه مفعول ثانی او مفعول ثالث دے نودلته هم مطابقة نشته نو جواب اوشو چه دا موول دے او دريم غرض د شارح تعيين د مشار اليه کوی چه ای کالمفعول الثانی الخ فی انهما" دا وجه د شبه ده و اما المفعول معه د مفعول معه وجه ده حاصل ئې دادے چه مفعول معه کله په ځائے د فاعل قائميږی نو يا به سره د واو نه وی او يا بغير د واو نه که سره د واو شي نو فصل راځی او داناروا دے په درميان د فعل او نائب فاعل کښ بلکه اتصال ضروری دے او که بغير د واو نه شي نو مفعول معه نه ګرځی ځکه هغه مذکور بعد الواو وی.

سوال: مصنف له پکار وه چه عبارت ئې داسې وئيلې وی چه ولا يقع المفعول الثانی من باب علمت ولا الثالث من باب اعلمت و المفعول له والمفعول معه نو دوه فائدے دې يو اختصار دويم بچ کيدل وو ديو اعتراض نه چه هغه دادے چه دا کلام ذکر دے په تشبيه سره او دا وجه شبه په مشبه به کښ د مشبه نه قوی وی اوس وجه د شبه دلته عدم وقوع ده موقع الفاعل نو مقصد دادے چه داپه مفعول ثانی د باب علمت او ثالث د باب اعلمت کښ قوی ده د مفعول له او معه نه حالانکه دا عدم و قوع په مفعول له او معه کښ قوی ده د مفعول ثانی او د مفعول ثالث نه ځکه د بعضو نحاتو په نزد بانديې دا مفعول ثانی او ثالث قائمدی شي په ځائے د فاعل بانديې خو مفعول له او معه نه شي راتلې اتفاقا نويو به اختصار راغلی وی دويم به د دې اعتراض نه بچ شوی وی.

جواب: مصنف دا کلام په طور د تشبيه ذکر کړو اشاره کوی په دې سره چه دليل د عدم وقوع د مفعول ثانی او ثالث دا ډير اوضح او اجلی دے دهغه دليل نه چه د مفعول له او دمعه

دیاره دے او اذا وجد المفعول به دا اوس یو بل حکم بیانوی چه یو فعل دے روستو ترې نه مفاعیل دې مفعول به مطلق فیه وغیره شته دے نوپه ځائے د فاعل به کوم وی؟نو مصنف اوی چه مفعول به به وی.

سوال: دا حکم مونږ ته معلوم شوی دے د تعریف نه چه مفعول به به قائم مقام وی د فاعل نو دا کلام مستدرك دے.

جواب: مع غیره من المفاعیل هلته هغه وو چه مفرد وو او دلته ورسره نور مفاعیل هم دې نودلته هغه مراد دے نو استدراك نشته دے.

سوال: خو ستا د کلام نه معلومه شوه چه نور مفاعیل به وی نو دا مفعول له او معه به ورسره هم وی حالانکه تا خو اوی چه دانه شی راتلی نو دا خو صحیح نه دے.

جواب: التی یجوز وقوعها مطلق نه دے مراد بلکه چه وقوع فی راتلی شی. تعین دا جزاء ده دیاره د شرط لشدة شبهه سره وجه بیانوی دلته مفعول به مشبه او فاعل مشبه به او شبهه لفظ اداة د تشبیه شو او وجه د شبه لتوقف الفعل ده یعنی ځنګه چه تصور د فعل موقوف وی په فاعل نوپه مفعول به باندې هم وی فرق دومره دے چه فاعل موقوف علیه د فعل دے شطرا او رکنا او مفعول به موقوف علیه د فعل دے شرطا فان الضرب سره توضیح ده په مثال کښې.

سوال: فعل چه ځنګه محتاج دے مفعول ته مفعول فیه ته هم محتاج دے ځکه داسې فعل نشته چه په زمان ، مکان کښې نه وی.

جواب: او دې ته محتاج دے خوپه وجود کښې او زمونږ مراد په تصور کښې دے.

سوال: نوپه تصور کښې چه فعل ځنګه محتاج دے مفعول به ته نو مفعول مطلق ته هم محتاج دے ځکه فعل اصطلاحی په حدث مشتمل دے چه دا مفعول مطلق دے.

جواب: مفعول مطلق چه نائب فاعل واقع کیږی نو مقید به وی په یو قید سره او چه مقید نه وی نو بیا د دې نائب فاعل واقع کول جائز نه دې ځکه څه فائده معتد بها پکښې نشته دے او سره د قید نه نائب فاعل واقع کیدلے شی خو موقوف علیه د فعل نه دے.

وضاحة بالمثال: ماتن وائی تقول ضرب الخ او شارح تطبیق کوی.

سوال: ضربا نه روستو شدیدا ولې ذکر کوی؟

جواب: و فائدة وصف الضرب. اشاره ده چه مفعول مطلق بلا قید نائب فاعل نه راځی ولی؟ اذا "لا" فائدة فيه ولی ځکه هر مشتقی دلالت په خپله مبدا او مصدر کوی نو ضرب کښ ضرب شته.

سوال: نو تاکید پکښ شته دے داهم فائده ده.

جواب: هغه فائده مراد ده چه د فاعل وی یعنی معتد بها فائده مراد ده.اودغه تاکید فائده معتد بهانه ده.

سوال: نو ذکر کول د ق داره پس دیوم الجمعة او امام الامیر نه مستدرك دي ځکه دماتن په نزد باندي تقدير د ق شرط دے د نصب د مفعول فيه دپاره نه چه دنفس مفعول فيه دپاره نویوم الجمعة او امام الامیر مفعول فيه دے نو دا بیا ذکر کول په ق داره سره استدراك دے او دغه شان مثال دهغه مفعول فيه چه په واسطه د حرف جر سره اوی هغه ئی ذکر نه کړو.؟

جواب: جارو مجرور حاصل دادے چه داپه حیثیت د مفعول فيه سره نه دے ځکه دهغی دپاره یوم الجمعة او امام الامیر شته دے بلکه دادپاره د جار مجرور دے بالفاظ دیگر سوال داسی هم دے.

سوال: دا ق داره ظرف مکان دے نو د ظرف مکان دپاره خو امام الامیر مثال شتېه دے نو داخو تکرار لازم شو چه شنیع دے.

جواب: جار ومجرور حاصل دادے چه داپه اعتبار د ظرف مکان نه دے ذکر بلکه دا مفعول به دے په واسطه د حرف جر نو تکرار شنیع نشته دے.

سوال: نو دا خو خروج د بحث نه دے ځکه بحث مفاعیلو کښ دے او دانه دے.دمفاعیلونه

جواب: شبیه بالمفاعیل مشابه دے ورسره لکونه فضله دا وجه د مشابهة بیانوی.

وضاحة بالمثال: ماتن اوی فتعین زید وان لم یکن ای وان لم یوجد اشاره ده چه داکان تامه نه دے په دے ان لم یکن کښے فالجمیع سواء بیا برابر دی.

سوال: ستا د کلام نه معلومیږی چه مفعول به نه وی موجود نو دا ټول مفاعیل برابر دي نوپه فالجمیع کښ موثر لیوس کوو چه دا مفعول به پکښ هم داخل دے او کنه؟ که داخل شی نو وان لم یکن سره مناسبة نشته دے او که داخل نه شی نو مقصد دادے چه نور مفاعیل به هغه وخت برابر وی چه مفعول به نه وی اوکه وی نو مساوات نشته حالانکه په دواړو صورتونو کښ مساوی دی.

جواب: دایه الجمیع کښې داخل نه وایو او دا خبره نه منو چه مساوات به هغه وخت وی چه مفعول به نه وی بلکه که مفعول به وی نوهم مساوات دے او که نه نو هم مساوات دے خو چه مفعول به یکښې وی نو مساوات به عدم قیام کښې دے او که مفعول به پکښې نه وی نو بیا مساوات په قیام کښې دے.

سوال: دا څنګه برابر دی؟بیا ورله دا جدا جدا اسامی ولی ورکوی؟

جواب: فی جواز وقوعها موقع الفاعل مطلق برابر نه دی چه یو ذات دی و الاول څلورم حکم دے بیا شارح المفعول اوی تعین د موصوف ئې اوکړو حاصل د حکم دادے چه اول مفعول د باب د اعطیت نه دا بهتر دے چه واقع شی نائب فاعل د دویم مفعول د اعطیت نه نور جائز داهم دی ای الفعل المتعدی مراد د باب د اعطیت ذکر کوی اولی بان یقام مطلق اولی نه بلکه په قیام سره لان فیه دلیل بیانوی چه معنی د فاعلیة پکښې ده نوبه ځائے د فاعل ئې وقوع او قیام بنه دے عاط ای اخذ لکه اعطی زید درهما نو زید اخذ او درهم ماخوذ دے.

سوال: ستا د کلام نه معلومیږی چه مفعول اول به اولی وی د مفعول ثانی نه اګرچه مفعول ثانی هم واقع کیدلے شی حالانکه مونږ خو اوریدلی دی چه په اعطیت زیدا عمروا کښې دا مفعول اول متعین دے دپاره د وقوع او مفعول ثانی ناروا دے.

جواب: و ذالك او دا جواز الامرین سره د اختیار د مفعول اول نه هغه وخت دے چه التباس نه شی راتلی او دې صورة کښې التباس راځی ځکه په زید او عمرو دواړو کښې د اخذیت معنی ده.

المبتداء و الخبر

ومنها المبتداء و الخبر اجمالی خبری (۱) ربط (۲) تشریح د دې عنوان (۳) تفصیل د مبتداء (٤) تفصیل د خبر (٥) احکام مشترکه د مبتداء او خبر.

ربط: معنوی ربط خو دا دے چه کله فارغ شو مصنف د دوه ؤ قسمونو د مرفوعاتو د تفصیل نه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل د دریم او څلورم قسم کښې چه مبتداء او خبر دې دری سوالات راغلل نو بالترتیب جوابات دادی (۱) چه نفس تفسیل څکه کوی چه تفصیل ته محتاج وو او تر دې حینه پوری چا تفصیل نه وو کړی او په دې مقام کښې ځکه تفصیل کوی چه عند البعض اصل په مرفوعاتو کښې فاعل وو ومنهم الماتن او عند البعض اصل مبتداء وو ومنهم زمخشری نو فاعل ئې مقدم کړو ځکه دماتن په نزد اصل دے او بیائې وریسې مفعول مالم یسم فاعله بیان کړو ځکه دا ده سره شدة اتصال ساتی نو اوس ئې شروع اوکړه په مبتداء کښې ځکه مبتداء په نورو مرفوعاتو کښې اصل ده اتفاقا علاوه د فاعل نه چه دې کښې اختلاف دے کما مر او تفصیل داسې کوی چه تفصیل د مبتداء کوی اولا فالمبتداء سره دویم تفصیل د

خبر کوی و الخبر هو المجرد سره دریم احکام مشترکه به د مبتداء او خبر بیان کړی څلورم به احکام خاصه ذکر کړی او دا احکام و اصل المبتداء التقدیم سره ذکرکوی او ربط لفظی دادے چه منها جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دے او المبتداء و الخبر معطوف معطوف علیه مبتداء ده نو دا جمله اسمیه عطف ده په منه الفاعل باندې هغه هم جمله ده.

تشریح د عنوان: اول دامنها دے نو د دې تحقیق دے په شکل د سوالاتو کښ .

سوال: دا نفس منها ولې ذکر کوی؟

جواب: دپاره د امتیاز دنورو مرفوعاتو نه

سوال: په نائب فاعل کښ ولې منه او منها نه ذکر کوی؟

جواب: هلته شدة اتصال و نو په منزله دیو گرځیدلے دے.

سوال: نو دلته ماتن منه ولې ذکر نه کرو چه موافقة ئی دمنه الفاعل سره راغلی وی او یا به ئی هلته منها ذکر کړی وی چه دې سره ئی موافقة راغلی وی.

جواب: (۱) شارح وائی چه بعض نسخو کښ منه دے نو سوال ختم دے (۲) صحیح ده چه منه پکاروو خو په فاعل کښ مرجع قریبه وه نوکه مونږ ضمیر مرجع ضمنی یا صریحی ته راجع کوو تو نو څه غفلت نه وو او نه څه شبه وه په تعین کښ خو چه کله مرجع بعیده شوه نو اوس به ضمنی ته راجع کول صحیح نه وی بلکه صریحی مرجع ته به راجع کولی شی ځکه اوریدوالی راغئ نو غفلة راځی د مرجع ضمنی نه نو ضمیر ئی مرجع صریحی ته راجع کړو چه المرفوعات دے او په فاعل کښ دا غفلة نه و نو مرجع ضمنی شوه یعنی من جملة المرفوعات دا دفع د سوال ده چه ها ضمیر په منها کښ د مفرد ددے او المرفوعات مرجع خو جمع ده نو موافقة بینهما نشته دے فی الافرادو التثنیة و الجمع.

جواب: (۱) دلته داپه تاویل د جماعة سره راجع دے او جماعة مونث دے نو ځکه ضمیر د مونث مفرد شو. (۲) دا عبارت دے چه من جملة المرفوعات او جملة مونث دے نوداهم مونث په دې سره بل سوال هم دفع شو چه منها کښ دامن للتبعیض دے او داپه متعدد داخلیږی او ها خو مفرد دے نو جواب اوشو چه دامن جملة المرفوعات دے نو دا متعدد شو. جمعها فی فصل واحد دا دفع د سوال ده چه زه ستانه تپوس کوم چه دا مبتداء او خبر دواړه یو شئ دے او که جدا جدا شیان دي که دواړه یو شئ شی نو بیا انحصار په اوو۷ یا اتو۸ کښ باطلیږی اوکه دا جدا جدا وی نو بیا دواړه په دې یو فصل کښ ولې ذکر کوی؟

جواب: للالتزام حاصل داده چه دا دواړه جدا جدا شيان دي خو ددوی درميان كښ التزام وو نو ځكه مو دواړه په يو فصل كښ ذكر كړی دي التزام په دي شان سره چه چرته مبتداء وی نو هلته به خبر وی يعنی وجودا پكښ تلازم دے دغه شان مطابقة به وی په درميان د دي دواړو كښ لازما په افراد تثنيه جمع كښ په خلاف د مبتداء قسم ثانی كښ چه هلته به راشی علی "ما" هو الاصل يعنی چه مبتداء مسند اليه ده او خبر مسند دے او هر چه مبتداء مسند ده نو دا خلاف الاصل ده يعنی مبتداء قسم ثانی و اشتراكهما دا دويمه وجه بيانوی چه دا دواړه په عامل معنوی كښ شريك دي په مذهب اصح سره نو ځكه مويه يو فصل كښ ذكر كړل.

تفصيل د مبتداء: فالمبتداء تفصيل د مبتداء كوی درى سوالات معهوده راغلل جوابات بالترتيب دادی چه تفصيل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او تفصيل ته محتاج هم دے او تفصيل دي مقام كښ ځكه كوی چه اجمال كښ دي مقام كښ ده يعنی په خبر باندي مقدم ده اويه اجمال كښ ځكه مقدم ده په خبر باندي (۱) مبتداء ذات وی او خبر وصف او ذات مقدم وی په وصف باندي طبعا نو وضعا هم موخر مقدم كړه چه موافقة د طبع سره راشی. (۲) مبتداء جزء عمده فی الكلام دے او خبر نه دے ځكه مبتداء مسند اليه ده نو عمده مقدم وی طبعا نو وضعا هم مقدم شو چه موافقة طبعے اودضع راشيالخ (۳) موخر دا مبتداء د لغوی معنی د خيال ساتلو د وجی نه مقدم كړه ځكه چه معنی ده چه په هغی باندي شروع د كلام كيری نو معنی كښ داده چه ابتداء پری اوشی نو موخر هم مقدم كړه چه د دي قول د وعيد لاندے داخل نه شو چه يايها الذين امنوا لم تقولون "ما" "لا" تفعلون او تفصيل داسی كوی چه اول به دوه اقسام د مبتداء بيان كړی فالمبتداء هو الاسم او الصفة الواقعة سره دويم به تعريف دهر واحد ذكر كړی كما يعلم بداهة دريم د مبتداء قسم ثانی دپاره به شرط ذكر كړی په رافعة لظاهر سره څلورم امثله د دواړو به بيان كړی په مثل زيد قائم سره او پنځم د مبتداء قسم ثانی حكم به بيان كړی فان طابقت سره.

فالمبتداء هو الاسم دلته دا فاء تفسير يه ده او المبتداء مبتداء ده او هو يا ضمير فصل او يا مبتداء ثانی ده او الاسم ورله خبر دے، تدبر.

دا اوس تعريف د مبتداء بيانوی نو هو په منزله د جنس دے اسم، فعل او حرف ته شامل دے الاسم په منزله د فصل اول دے احتراز دے د افعالو او حروفو نه المجرد دافصل ثانی په منزله دے خارج شو تری نه هغه اسماء چه عامل پكښ لفظی وی لكه اسم د ان اوكان وغيره مسند اليه په منزله د فصل ثالث دے نو مبتداء قسم ثانی ترے نه خارج شوه هغه مسند وی نو جامع او مانع تعريف حاصل شو حاصل ئی داده چه په مبتداء كښ به دری اشياء وی (۱) اسم به وی فعل نه (۲) المجرد به وی د عواملو لفظيو نه (۳) مسند اليه به وی. لفظا او تقديرا دا دفع د سوال ده چه تعريف د مبتداء جامع نه دے خپلو افرادو لره خارج شو تری نه چه

مثل د دي قول د الله وان تصوموا خير لكم. وى دا ان تصوموا مبتداء ده او خير لكم خبر دے. حالانکه تعريف پرى صادق نه دے ځکه اسم نه دے.

جواب: مونږ اوئ دا اسم به عام وى لفظا وى او يا تقديرا لفظا لکه زيد قائم او تقديرا لکه دا قول چه په تاويل د ان سره مصدر مبتداء شوه نو عبارت به شي صيامكم خير لكم.

سوال: زه به درته اوښايم ان مصدريه به نه وى داخل او مبتداء به فعل مضارع راغلى وى لکه دايو شعر دے د معيد.

تسمع بالمعيد خير من ان ترا   ستعرف قدره اذا فتح فاه

دلته تسمع فعل مضارع مبتداء واقع شوى ده او بغير د ان مصدريه نه ده شان نزول د دې شعر داسې دے چه معيد يو فصيح او بليغ انسان وو تو بادشاه بل ملك ته اوليږلو په قاصد ئې سره نو چه هلته لاړو نو دهغې ملك بادشاه د معيد صفات او ريدلى وو نو شوق ئې ووچه د سره ملاقات اوکړى نو چه ملاقات لره راغئ او معيد ئې اوليدلو نو دا د رنګ نه خراب وو نو بادشاه ته خوش نه شو او اظهار د خفګان ئې اوکړو لو معيد د بادشاه په طبيعت پوهه شو او دا اشعار ئې اوئ چه ته اے بادشاه د معيد نوم اودے او كلام دهغه نويه قدر به دهغه پوهيږې او چه بدن دهغه ته ګورى نو درته به پته نه لګى دهغه د قدر دهغه د بدن نه.

جواب: دلته ان مقدر دے.

سوال: د ان د تقدير دپاره څو څو مقامات دي لکه د حتى نه بعد او دلام كئ نه بعد او دلام جحد نه بعد او د فاء نه بعد چه هغه روستو د شپږو اشياء كښې وى وغير ذالك من المواضع نويه هغې كښې دامقام نشته.

جواب: داکوم ځائے كښې چه ان مقدر وى نو دا دوه قسمه دي مشهور او غير مشهور دايه هغه غير مشهور كښې دے كنه او كوم چه ذكرشو دغه مشهور مواضع المجرد عن العوامل اللفظيه شارح وانى الذى لم يوجد غرض د شارح خو يو هغه مشهورى قاعدى ته اشاره كوى چه الف لام كله داخل شي په اسم فاعل، اسم مفعول بانديې نو تعبير ترى نه په الذى، التى سره كيږى او د اسم فاعل نه په فعل ماضى معلوم او مضارع معلوم او د اسم مفعول نه په فعل ماضى مجهول او مضارع مجهول سره تعبير كيږى دلته شارح په لم يوجد سره تعبير كوى او دويم دا دفع د سوال كوى چه تجريد خو سبق وجود غوارى نو مقصد داچه مبتداء بانديې د اول نه يكښې عامل لفظى وو او داخو ناروا خبره ده نوجواب چه داخو په معنى دلم يوجد سره دے د اول نه يکښې عامل لفظى نشته.

سوال: چه مراد ترى نه عدم وجدان اخلى نو قرينه او علاقه درسره څه ده؟

جواب: قرينه خو نفس دلالت د كلام دے بالفاظ ديگر قرينه ورود الاعتراض دے چه تجريد مراد شي او علاقه د تلازم ده يعني ذكر د ملزوم او مراد لازم دے چه تجريد سره عدم وجدان لازم دے او دا مراد دے.

سوال: نو بيا تجريد ذكر كولو ته څه ضرورت دے حو م يوجد به د وتيلو وى نو يو به اختصار اوېل به اعتراض نه وو.

جواب: دې كښې اشاره كوى چه اصل عوامل لفظيه دي بيا معنويه دي نو كويا چه په دې كښې عامل لفظي وو خو بيا خالي شو دهغې نه او معنوي شو يكښې و احترز به د دې قيد فائده بيانوى وكانه اراد دا دفع د سوال ده چه تا اوې چه مبتداء به د عامل لفظي نه خالي وى حالانكه په بحسبك درهم كښې دا بحسبك مبتداء ده او باء عامل لفظي پرې داخل دے.

جواب: شارح وائي چه مراد د عامل لفظي نه هغه دے چه هغه موثر وى په معنى كښې لكه چه لفظ كښې څنګه وى او دلته دا باء لفظ كښې اثر كوى خو معنى كښې نه كوى ځكه دا زائده ده نو په اعتبار د معنى سره معدوم ده. مسند اليه دا دريم شرط دے به دا د دې قيد فائده بيانوى.

﴿او الصفة الواقعة بعد حرف النفى﴾........ ربط خو دا دے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د مبتداء د قسم اول نه نو شروع ئې اوكړه په تفصيل د قسم ثاني د مبتداء كښې بيا په دې مبتداء قسم ثاني كښې مونږ لره پنځه خبرې يكار دي (۱) څه باعث وو په نحاتو باندې چه مبتداء قسم ثاني باندې دوى قول كړى دے (۲) تعريف د مبتداء قسم ثاني (۳) شرط ورله څه دے؟ (٤) مثال به څه وى؟ (٥) حكم د مبتداء قسم ثاني دا اخرى څلور خبرې ماتن كړى دي او اول خبره نه ماتن ذكر كړے ده اونه شارح نو مونږ به دا خبره بيانوو.

باعث: هر كله چه دوى نحاتو او منلو په كلام د عربو كښې دا تركيب چه "ما" قائم الزيدان مثلاً او دا دواړه مرفوع وو نو مرفوعات ټول اوه ۷/ يا اته دي اوپه هغې كښې نه فاعل وو ځكه د فاعل نه مخكښې فعل، شبه فعل وى او دلته نه فعل شته او نه شبه فعل نائب فاعل هم نه وو ځكه هغې نه مخكښې هم فعل، شبه فعل وى مبتداء هم نه وه ځكه هغه مسند اليه وى او دا مسند وو. او خبر هم نه ځكه مطابقة يكښې نشته او نه دا خبر د انّ و اخواتها وو. اونه دا اسم دما ولا وو اونه اسم دكان وو وغيره نو شئ مرفوع وو او د مرفوعاتو نه يو قسم هم نه وو نو مجبوره شول چه دې دپاره څه علت معلوم كړى نوكه يل قسم ورله راوباسي نو بيا د دوى حصر باطليږى چه په هغې اجماع ده نو دوى داسې اوكړل چه دمرفوعاتو نه ديو قسم نه ئې قسم ثاني اوګرځوله نو دا مرفوعات دوه قسمه وو. (۱) اصل (۲) غير اصل نو د غير اصل نه ئې نه شي ګرځولي ځكه بيا اصل باقي كيږى او حق د اصل وى نو اصل يكښې دوه وو. (۱) عند

المالتن فاعل وو خو دي نه نه شوكرخولي څكه مخكښ ترى نه فعل، شبه فعل نشته (٢) مبتداء هم اصل ده عند البعض نو دا متعين شوه چه دويم قسم اصل مبتداء ده نو دهغى نه قسم شوله. الحاصل دا مجبورى ده.

التعريف:ماتن كړے دے نو الصفة الواقعة الخ او عاطفه دے په "ما" قبل باندې عطف دے چه المجرد عن العوامل اللفظيه دے دهغى دويم قسم دے نو او دپاره د تنويع او تقسيم شو نه دپاره د تشكيك نو سوال دفع شو چه دا تعريف صحيح نه دے څكه مشتمل دے په كلمه د تشكيك باندې او هر داسى تعريف صحيح نه وى نو جواب اوشو چه دلته دادپاره د تشكيك نه دے بلكه دپاره د تنويع دے مقصود دماتن په دې كلمه د او سره تقسيم دے په محدود كښ نه په حد كښ نو دا اعتراض به هغه وخت وى چه دا تقسيم په حد كښ وى.

سوال: نو مونږ ته به څنګه پته لګى چه دا تقسيم په حد كښ يا محدود كښ دے.

جواب: دلته دوى يو قانون متعين كړے دے چه په جانب د معطوف عليه كښ چه كوم لفظ مشترك وو او هغه دوارو قسمونو ته شامليدو نو تقسيم به په محدود كښ وى اوكه داسى نه وو نو دا تقسيم وى په حد كښ اوس دلته الاسم لفظ دوارو ته شامل دے چه مبتداء قسم اول او ثانى ده څكه مقابل د فعل او حرف دے.

سوال: تا اوى چه اسم مقابل د فعل او حرف دے حالانكه متبادره داده چه دامقابل د صفة وى.

جواب: كه مقابل د صفة شى نو بيا تقسيم په حد كښ لازميږى حالانكه داخو تقسيم په محدود كښ دے.

سوال: نو بيا په درميان د مبتداء قسم ثانى او اول كښ فرق څه شو؟

جواب: فرق پكښ شته دے څكه چه مبتداء قسم اول مسند اليه دے او دا مسند دے نو فرق حاصل دے سواء كانت مشتقة دا دفع د سوال ده چه تا اوى چه دابه صفة وى يعنى مشتق به وى زه به درته اوښايم چه صفة به نه وى او مبتداء قسم ثانى به وى لكه اقريشى زيد اوس دلته قريشئ صفة نه دے شارح جواب اوكړو چه دلته تعميم دے كه مشتق وى لكه اسم فاعل او اسم مفعول او يا جارى وى په دې ،باندې لكه دا قريشئ دا اسم مشتق نه دے خو جارى دے په مجرى د مشتقى باندې څكه تعبير ترى نه په المنسوب مشتق سره كيږى چه قريشى اى الرجل المنسوب الى قريش او يا صفة هغه چه دلالت كوى په ذات مبهم باندې نو دا قريشى هم په ذات مبهم باندې دلالت كوى الواقعه بعد حرف النفى كما ولا شارح مصداق بيانوى او الف الاستفهام ونحوه كهل.

سوال: ځنګه چه د الف الاستفهام نه بعد صفة واقع شی نو دا قسم ثانی د مبتداء وی نو دهل استفهامیه نه بعد چه واقع شی نوهم دمبتداء قسم ثانی ګرځی نو پکار ده چه مصنف دلته الف الاستفهام نه وی وئیلی بلکه حرف الاستفهام مطلق وئیل پکار وی چه ټولو ته شامل شوی وی.

جواب: دلته یو خو دې کښې اختلاف دے چه دهل نه روستو صفة واقع شی نو دا قسم ثانی د مبتداء ګرځی اوکنه نو بعض وائی چه نه ګرځی او بعض وائی چه ګرځی نو که ماتن دهغه نحاتو په مسلك شی چه وائی چه ګرځی نو ذکر کول د الف الاستفهام دپاره د اشارې دې دی خبرې ته چه اصل په استفهام کښې همزه ده نو د اصالة د وجې نه ئې دا ذکر کړې دے او که په هغه مسلك شی چه هغوی قائل نه دې نو بیا دادپاره د احتراز ذکر دے او شارح جواب په دې شان اوکړو چه و نحوه یا په مثل د الف الاستفهام لکه هل "ما" اومن شو نو د شارح مقصد دا دے چه دا عبارت په حذف د معطوف سره دے چه و نحوه دے اما دا خبره چه دا صفة به ولې د حرف النفی او الف الاستفهام نه بعد واقع وی نو دا ځکه چه صفة یعنی اسم فاعل او اسم مفعول چه عمل کوی نو یو عمل د رفع او یو عمل د نصب کوی نو د عمل د نصب دپاره دوه خبرې شرط دې (۱) اعتماد په یو د اشیاؤ ستو (۲) په معنی د حال یا ستقبال کیدل چه مشابهة ئې راشی د فعل مضارع سره او بل عمل د رفع دے نو دې دپاره شرط دے اعتماد په یو د اشیاؤ ستو باندې یعنی یا به ترې نه مخکښ مبتداء وی نو دا به ورله خبر وی یا موصول نودابه صله وی یا به موصوف وی نو دابه صفة وی یا به ذو الحال وی نودابه ورله حال وی او یا به حرف النفی او حرف الاستفهام وی نو دا څلور اول قسمونه دلته نه راتلل نو دا دوه پاتې شول نو په دې به ئې اعتماد راشی او مشابهة به ئې قوی شی د فعل سره اوس دلته داخبره ده چه که دې صفة اعتماد نه وی کړې په دې حرف النفی او استفهام باندې نو ایا دې ته مونږ د مبتداء قسم ثانی وئیلی شو اوکنه او راتلل د دې جائز دې او کنه نو دې مسئله کښې اختلاف دے په درمیان د نحاتو کښې د سیبویه او اخفش په نزد باندې داجائز دې او عند الجمهور ناروا دی. بیا د سیبویه او اخفش په درمیان کښې دا فرق دے چه سیبویه ورته جائز وای مع القباحة او اخفش جائز وائی بغیر د قباحة نه او سره د حسن نه او دلیل ددې دواړو دپاره دا قول دے.

فخیر نحن عند الناس منکم اذا الداعی المثوب قال یا لا.

معنی د شعر داده چه بهتر یو مونږ په نزد د خلقو باندې ستاسو نه.

اذا الداعی کله چه اواز اوچتونکی اوازئی پالا ای یا قوم "لا" فرار اے زما قومه اونه تښتئ نو دغه وخت مونږ بهتر خلق یو ولاړیو جنګ ته نه ځو. محل د استشهاد داخیر دے دا قسم ثانی د مبتاء دے او نحن فاعل مسند الیه سد مسد د خبر دے نو ضمیر په شی اعتماد نه دې کړې

بیا سیبویه ورته قبیح خکه وائی چه دا صفه په عمل کښ ضعیف دے خکه داچه عمل کوی نو د وجې د مشابهة نه د فعل سره نو چه اعتماد ئ راشی نو قوی به شی نو بلا اعتماده ضعیف دے او اخفش وائی چه اعتماد شرط نه دے نو قباحت هم نشته.

سوال: دلیل د دعوی سره موافق نه دي په دے اعتبار سره چه خیر دي د نحن دپاره خبر مقدم شی نو بیا دا محتمل شو نو اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

جواب: داسی نه شی کیدلے خکه که خیر خبر شی نو بیا به په درمیان د عامل او معمول کښ فصل راشی په اجنبی سره په دي شان چه خیر عامل دے اسم تفضیل منکم ورله معمول دے او نحن مبتداء ده نو دا اجنبی ده نو اسم تفضیل په عمل کښ ضعیف دے بیا عمل نه شی کولی.

سوال: نو اوس هم په نحن سره فصل راغلی دے.

جواب: اوس دا نحن فاعل دے او فاعل اجنبی نه وی نو فصل په دي سره راتلل ناروانه دی.

دوی ته جمهور د دي نه دا جواب ورکوی چه اے سیبویه او اخفش ستاسو دعوی عامه ده او دلیل خاص دے دعوی داده چه په هر خائے کښ صفة بغیر د اعتماد نه عمل کولی شی او دلیل کښ مو شعر راوړی دے نو شعر خو کلام اضطراری دے یجوز فیه مالا یجوز فی غیره نو عامه دعوی په خاص دلیل سره نه ثابتیږی.

شرط دپاره د مبتداء قسم ثانی: ماتن وائی رافعة لظاهر چه شرط دادے چه دا صفة به اسم ظاهر ته رفع ورکوی. وما یجری مجراه غراض د شارح دفع د سوال ده چه اراغب انت عن الهتی یا ابراهیم کښ خلق وائی چه راغب مبتداء قسم ثانی ده او انت ورله فاعل سد مسد خبر دے حالانکه دلته خو راغب اسم ظاهر لره رفع نده ورکړی خکه انت اسم ضمیر دے نه اسم ظاهر.

جواب: (۱) جامی صیب وائی چه دا اسم ظاهر عام دے که حقیقة وی او که جاری مجری لکه انت ضمیر منفصل شو (۲) بعض وائی چه د ظاهر نه مراد ملفوظ دے نو دا انت هم ملفوظ دے. و احترز به دا د دي قید د رافعة لظاهر فائده بیانوی نو حاصل ئ هم دادے چه په دي سره اقائمان الزیدان خارج شو خکه چه دلته اگرچه صفة واقع دے بعد الف الاستفهام لیکن دا رافعة لظاهر ندے خکه چه که دا رافعة لظاهر وے نو قانون خو دادے چه کله اسناد د فعل یا شبه فعل اوشی اسم ظاهر ته نو دا فعل او شبه فعل به واحد او مفرد وی او دلته خو داشبه فعل تثنیه دے مفرد ندے نو معلومه شوه چه رفع ئ ضمیر مستتر لره ورکړی ده.

مثال: موثر وی چه تفصیل داسی کوی چه بویه دوه قسمه د مبتداء بیانکړی دویم تعریف دهر واحد به اوکړی دریم شرط د مبتداء قسم ثانی به بیان کړی او څلورم مثال دهر واحدیه بیان کړی نو دلته څلورمه خبره ده. زید قائم دا مثال د مبتداء قسم اول دے ځکه زید اسم مجرد او مسند الیه دے شارح صیب وائی چه مثال للقسم الاول غرض ئې بو تطبیق د مثال کول دي د ممثل سره دویم دفع د سوال ده چه مثال دپاره د وضاحة د ممثل وی نو دي لره یو مثال کافی وی او دلته څو دری امثله دی.

جواب: تعدد د امثلو بناء وے په تعدد د ممثلانو نوبو مثال دمبتداء قسم اول دے او دویم د مبتداء قسم ثانی چه صفة پکښې بعد د حرف نفی وی او دریم هم د مبتداء قسم ثانی دے چه صفة بعد الف الاستفهام وی.

حکم د مبتداء قسم ثانی: قال الماتن فان طابقت حاصل دادے که دواړه مطابق وی نو جاز الامران.

سوال: ضمیر د طابقت به خالی نه وی یا به دا راجع وی صفة مقیده ته په قیدین او یا صفة مطلقه ته د قیدینو نه یو هم صحیح ندے ځکه که مراد اول شی نو اقائم زید ترینه خارجیږی چه کله دا رافعة لظاهر وی ځکه چه دي وقت کښې به دا زید معمول شی د قائم نو دي کښې به عامل لفظی شی نو داخو بیا مبتداء قسم اول نه واقع کیږی ځکه هغه خو خالی وی د عامل لفظی نه نو جاز الامران نه شو اوکه مراد دا دویم شی نو قائم زید پکښې داخلیږی ځکه دا قائم مطلق صفة دے خو دا مبتداء قسم ثانی نه شی واقع کیدلے ځکه دا اسم فاعل دے او دلته بلا اعتماد دے نو عمل نشی کولی؟

جواب: شارح وائی الصفة الواقعة حاصل دادے چه دا ضمیر راجع دے هغه صفة ته چه بعد حرف النفی یا حرف الاستفهام وی قطع نظر د قید د رافعة لإسم ظاهر نه نو قائم زید خارج دے ځکه دا بعد د حرفی النفی یا حرف الاستفهام نه ندے او اقائم زید پکښې داخل دے ځکه قید د رافعة لظاهر ندے مراد مفردا دا صفة دے شارح ورله موصوف متعین کوی.

چه اسما دے مذکور بعدها غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا قاعده په زید قائم منقوضه شوه ځکه دواړه مفرد دي او جاز الامران پکښې ندے.

جواب: موثر اوی دا صفة به مقدم وی او دا اسم مفرد به موخر وی او دلته خو داسی نده و احترز دا د دي قید فائده ده چه دي سره اقائمان الزیدان اقائمون الزیدون خارج شول. کون الصفة غرض د شارح تعیین د امراتو دے نوبو داچه صیغه د صفة مبتداء قسم ثانی اومابعد فاعل قائم مقام د خبر دویم داچه صیغه د صفة خبر مقدم او "ما" بعد مبتداء قسم اول موخر فیهما ثلاث صور معنی داده چه دلته واقع درے صورته دي نو دي سره دفع د سوال

اوشوه چه صورتونه تول څلور دي (١) دواړه مفرد لکه اقائم زيد (٢) دواړه غير مفرد لکه اقائمان الزيدان (٣) صفة مفرد او "ما" بعد غير مفرد لکه اقائم الزيدان (٤) دواړ صفة غير مفرد او "ما" بعد مفرد لکه اقائمان زيد.

جواب: دا څلورم صورة هسی احتمال دے عقلا نور دا واقع ندے. بيا حکم دهر واحد دادے چه اول صورة کښ جواز الامرين دے او دويم صورة کښ تعيين د مبتداء قسم اول دے دريم صورت کښ تعين د مبتداء قسم ثانی دے او څلورم صورت باطل دے.

و الخبر هو المجرد هر کله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د مبتداء قسم ثانی نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د خبر کښ نو قال و الخبر نو دری سوالات راغلل جوابات بالترتيب داسی دي چه نفس تفصيل څکه کوی چه دی مر مرادا او تفصيل کښ دويم مقام کښ رواړو څکه اجمال کښ دويم مقام کښ وو نو چه موافقة راشی د اجمال سره نو سبق به مرتب شی د جمال سره نو محفوظ به شی د کمال سره او بيا وجه د تاخير د خبر بيان شوی ده التزاما په تفصيل د مبتداء قسم اول کښ او تفصيل داسی کوی چه يو جامع او مانع تعريف به د خبر اوکړی و الخبر هو المجردسره نو د خبر په تعريف کښ هم دری خبری دي (١) اسم به وی (٢) مسند به وی (٣) مغائر به وی د صفة مذکوره نه د قسم ثانی د مبتداء) نو فالاسم المجرد اوی نو داهم قيد مخرج دے او هم مدخل دے مدخل دے تولو اسماؤ ته شامل دے او مخرج دے يضرب زيد لره و سياق. المسند به دي سره احتراز دے د مبتداء قسم اول نه چه هغه مسند اليه وی المغائر للصفة سره احتراز دے چه مسند به وی خو مغائر د صفة (قسم ثانی) به وی ماتن اوی هو المجرد او شارح وائی هو الاسم المجرد غرض د شارح تعين د موصوف کوی دپاره د المجرد صفة چه تقاضا د موصوف ئې کوله لان الکلام غرض د شارح دفع د اعتراض ده چه الاسم تا مقدر راوباسو نو داخو مجاز دے او مجاز دپاره قرينه ضروری ده. جواب کلام زمونږ او بحث زمونږ په مرفوعاتو د اسم کښ دے دويم غرض د شارح په دغه الاسم المجرد سره دفع د سوال ده چه داتاکوم تعريف اوکړو د خبر نو دا صحيح نه دے څکه مانع نه دے د دخول د غير نه اوکوم تعريف چه مانع نه وی د دخول د غير نه نو هغه صحيح نه و ی نو داهم صحيح نه شو دا خبره واضحه ده چه کوم تعريف مانع نو صحيح نه وی خو ولی مانع نه دے نو هغه داسی چه دا خليږی يکښ يضرب په دي ترکيب کښ چه يضرب زيددے څکه يضرب دا مجرد دخول د نواصب او جوازم نه دے او مسند هم دے زيد ته نو مسند شو او بل مغائر د صفة مذکوره دے نويکار ده چه يضرب زيد کښ يضرب ته خبر او وئيلی شی حالانکه خلق وائی دا فعل دے او زيد ورله فاعل دے نو تعريف شامل دے او خبر نه دے.

جواب: اوشو چه مطلق مجرد نه دے مراد بلکه اسم مجرد مراد دے او يضرب فعل دے نو فلا يصدق الخ.

سوال: نو تعریف دې بیا جامع نه شو خارج شو ترې نه هغه خبر چه فعل واقع شوی وی لکه زید یضرب عمروا .

جواب: دلته مجموعه خبر دے نه فعل فقط بلکه مع الفاعل دے المسند به دا دویم جزء دے ای "ما" یوقع به الاسناد غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه المسند صیغه د اسم مفعول ده او دا متعدی دے بنفسه حرف جر سره نه نو دا روستو به ذکر کول صحیح نه دے چه متعدی شی په دې باء حرف جر سره او دغه شان المسند صیغه د اسم مفعول ده نو ضمیر پکښې مستتر دے چه راجع دے المجرد ته نو روستو به ذکر کول مستدرك دې ځکه دلته به هم دا ضمیر مجرور دغه المجرد ته راجع وی او هغې ته خو یو ځل ضمیر راجع شوی دے دې سوال نه دری جوابات دې یو "ما" یوقع سره او دوه روستو راروان دی. حاصل د اول جواب دادے چه دا المسند کښې چه کوم ضمیر مستتر دے نو دا الاسم المجرد ته نه دے راجع بلکه د دې المسند مصدر ته راجع دے چه الاسنادے هغې ته راجع دے نو اوس به ذکر کول پس د المسند نه مستدرك نه دې نو اول سوال هم دفع شو چه دابه صله د المسند نه ده بلکه دیوقع ده دا المسند متضمن دے ایقاع لره نو معنی شوه ای "ما" یوقع به الاسناد چه خبر هغه اسم دے چه واقع کیدلے شی په دغه اسم مجرد سره اسناد .

سوال: دا المسند څنګه ته متضمن ګرځوی ایقاع لره.

جواب: دا بناء دے په یو قانون باندې تقریر ئې دادے چه په هر ځائے کښې چه په فعل او شبه فعل کښې ضمیر راجع شی د دغه فعل، شبه فعل مصدر ته نو دا متضمن وی معنی د وقوع او ایقاع لره لکه روستو به راشی.

و قد حیل بین العیر و النزوان نو دلته حیل کښې ضمیر هغه مصدر ته چه حیلولة ده هغې ته راجع دے نو معنی ده چه وقعت الحیلولة. الخ دغه شان په دې قول کښې هم چه و الالدار او تسلسل نه دلته دار او تسلسل کښې ضمیر راجع دے د دې مصدر ته نو معنی شوه چه لوقع الدور او التسلسل. نو دلته هم داسې دے و احترز دا د دې قید فائده بیانوی المغائر للصفة المذکورة شارح اوی فی تعریف المبتداء دا دفع د وهم ده چه صفة مذکور خو دیر زیات دې چرته بل به مراد وی دے نو وی نه هم دا مراد دے و احترز سره د دې قید فائده بیانوی و لك ان تقول غرض د شارح په دې عبارت سره په المسند به باندې چه کوم اعتراض وو دهغې دویم جواب کول دې حاصل دادے چه دابه کښې ضمیر مجرور راجع دے مبتداء ته نو دا راجع نه شو اسم مجرد ته نو مطلب شو چه اسناد ئې کړی شوی وی مبتداء ته او تجعل البناء. دا بل جواب دے چه یا د باء په معنی دالی کړه او ضمیر مجرور نه مراد مبتداء ده نو معنی شوه المسند الیه ای الی المبتداء فرق په دویم او دریم جواب کښې داشو چه په دویم جواب کښې دا الی المبتداء مقدر دے او دریم کښې مقدر نه دے بلکه هم دغه باء په معنی د

الى سره ده او دا ضمير راجع دے مبتداء ته وضع د ضمير شوي ده په ځائے د اسم ظاهر باندې و على التقديرين غرض د شارح په دې عبارت سره د دې قيد فائده بيانوي چه احتراز دے د قسم ثانى د مبتداء نه ځکه هغه مسند دے خو مسند الى المبتداء نه دے بلکه الى الفاعل دے او قسم اول د مبتداء هم خارج شو ځکه هغه مسند الى الخبر دے.

سوال: نو المغاثر للصفة قيد ذکر کول خو بيا مستدرك شول ځکه چه دې سره خو قسم ثانى د مبتداء خارجول مقصود وو او هغه په قيد د المسند به سره خارج شوه جواب ويکون قوله حاصل دادے چه دا يا تاکيدا ده او يا تصريح بما علم ضمنا ده او دا تاکيد او تصريح بما علم ضمنا ځکه کوی چه هسې نه چه د چا ذهن کښے راشي چه په المسند به قيد سره اخراج د مبتداء قسم ثانى په دې اعتبار چه په هغې هم اطلاق د مسند به کيږي نو صراحة دهغې نه احتراز ئې په المغاثر قيد اوکړو.

سوال: چه د المسند به دا باء په معنى د الى سره ده نو المسند اليه ولى نه وائى؟

جواب: که المسند اليه وئيلى وى نو په اعتبار د ظاهر سره التباس راتلو د مبتداء قسم اول سره اگرچه معنى فرق وو هغه داچه هغې تابه د بل شي نسبة شوى وى او دلته داچه د دې نسبة به بل چا ته شوى وى خو دې معنى ته د چا ذهن نه تلو نو ځکه المسنداليه اونه ويلو. و اعلم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په يقظة د مقام دويم غرض په اعلم سره تفصيل د مقام دے په عامل د مبتداء او خبر کښ دريم غرض د شارح په اعلم سره بيان د اختلاف دے په درميان د عامل د مبتداء او خبر کښ څلورم غر ض د شارح په اعلم سره دفع د سوال ده. سوال دادے چه تاکوم تعريف د مبتداء او د خبر اوکړو نو تا اوى چه دواړو کښ عامل معنوى دے حالانکه مونږ اوريدلى دي چه مبتداء عامل ده په خبر کښ او خبر په مبتداء کښ نو داخو عامل لفظى شو نه معنوى.

جواب: دادے چه دې مسئله کښ اختلاف دے او زما کلام بناء دے په مذهب د جمهورو بصريانو باندې او د دوی په مذهب کښ په دې کښ عامل معنوى دے او تاجدا مسلك اوريدلى دے او هغه مسلك دکوفيانو دے چه مبتداء او خبر په يو بل کښ عامل دي اوس په دې مسئله کښ اختلاف دے چه عامل په مبتداء او خبر کښ څه دے. نوپه تعيين د عامل د مبتداء او خبر کښ غالبا پنځه مذاهب دي چه دې شعر کښ دی

معنوى هر يك بديگر عامل او اسناد ضمير ابتداء درمبتداهم در خبر اورابگير

خو مشهور مذاهب په دې کښ درى دي يو مذهب د متاخرينو بصريانو دے چه واى په مبتدا او خبر کښ عامل معنوى دے او دا خيره مختاره ده د ماتن او زمخشرى هم ده دويم مذهب د متقدمينو بصريانو او د سيبويه دے چه مبتداء کښ عامل معنوى دے چه دابتداء

دہ او په خبر کښې دا مبتداء عامل دے بيا دوی کښې لږ فرق شته دے په دې شان سره چه سيبويه وائي په مبتداء کښې ابتداء او خبر کښې دامبتداء فقط عامل دے او د متقدمينو بصريانو په نزد بانديې مبتداء کښې ابتداء او خبر کښې مبتداء او ابتداء دواړه عامل دي دريم مذهب د کوفيانو دے او دا عند الرضی راجح دے چه مبتداء او خبر يو بل کښې عامل دي يعنی عامل يکښې لفظی دے. ابتداء تعريف کوی شارح چه دا تجريد دے د عواملو لفظيو نه يسند الی شئ او يسند اليه شئ. اول نه مراد خبر او دويم نه مراد مبتداء دہ.

و اصل المبتداء التقديم کله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د مبتداء او د خبر نه نو شروع ئې اوکړه په احکام خاصه د مبتداء او د خبر کښې نو اول په احکام خاصه د مبتداء ذکر کړی او بيا د خبر موافقة لما قبلها اصل. ای "ما" ينبغی د اصل دپاره معانی کثيره دي نو شارح تعين اوکړو چه دلته اصل په معنی د راجح سره دے دويم غرض د شارح په دې سره دفع د سوال دہ چه تا اوئ قانون په مبتداء کښې تقديم دے نو بيا پکار دہ چه فی الدار زيد ترکيب دې ناروا شی ځکه فی الدار خبر مقدم او زيد مبتداء دہ حالانکه خلق وائي دا ترکيب جائز دے شارح جواب اوکړو چه اصل په معنی د قانون سره نه دے بلکه اصل په معنی د "ما" ينبغی، راجح سره دے. سوال: زه په درته اوښايم چه د مبتداء تقديم په راجح نه وی منع به وی لکه فی الدار رجل دلته تقديم د مبتداء منع دے.

جواب: اذا لم يمنع مانع حاصل دادے چه اصل او راجح هم تقديم دے خو که مانع وی نو بيا نه دلته هم مانع دے چه که دا رجل مبتداء مقدم شی نو لازميږی نکارة د مبتداء او دانارو دے التقديم علی الخبر. الف لام په التقديم کښې عهدی دي معهود پرې تقديم د مبتداء دے نو دا تقديم دوه شيان غواړی. (۱) مقدم (۲) مقدم عليه نو دلته دواړو ته اشاره دہ. لفظا دا ځکه بيانوی چه په اعتبار د رتبې به مقدم وی لان المبتداء دليل د دې بيانوی چه مبتداء ذات دے او خبر حال وی نو ذات مقدم وی په حال بانديې طبع کښې نو ځکه وضعا مقدم شو سوال نويه هذا زيد بانديې خو دا خبره منقوضه شوه چه هذا مبتداء او زيد خبر دے او دا خو حال نه دے بلکه ذات دے.

جواب: دا قاعدہ اکثريه دہ (۲) په هذا زيد کښې د زيد نه مراد مسمی د زيد دے چه وصف دے او بله وجه ورله داهم دہ چه مبتداء په منزله د موصوف وی او دا خبر په منزله د وصف او موصوف مقدم وی په وصف بانديې طبعا نو چه په منزله د موصوف وی نو هغه به هم مقدم وی په هغه چه په منزله د وصف وی طبعا نو دلته دا وضعا هم مقدم شو چه موافقة راشی ومن ثم دا اوس په دې اصل بانديې تفريع دہ جاز فی داره زيد.

سوال: ثم خو اسم اشاره دہ د مکان دلته خو داسې يو مکان نشته دے چه په ثم سره مشار اليه شی نو شارح جواب کوی چه ومن اجل ان الاصل حاصل دادے چه هر کله حرف جر لکه

من یا لام داخل شی په اسم اشاره باندې نو مشار الیه د اسم اشارې علت وی دپاره د هغه حکم چه روستو ذکر کیږی په دې مقام کښ دوه حکمه دې جاز او امتنع او اشاره ده اصل المبتداء التقدیم ته نو دا علت او دا اشاره ورته مجازا ده په دې شان سره چه راجح په مبتداء کښ تقدیم دے نو د دې تشبیه ئې ورکړې ده دیو مکان سره اوس مکان مشبه به او اصل المبتداء التقدیم مشبه شو او وجه د شبه په دې کښ دخول او خروج دے لکه مکان ته چه خوك دخول کوی او څوك خروج نو دا روستو دوه حکمونه چه جاز او امتنع دې دا دواړه حکمونه هم د دې اصل المبتداء نه راوتی دې نو جواز په منزله د دخول او امتناع په منزله د خروج شو نو ثم لفظ ئې د وجې د تشبیه نه راوړی دے جاز قولهم فی داره زید شارح قولهم مقدر راوباسو څکه جاز فعل دے او فی داره زید جمله فاعل دے و فاعل جمله نه وی نو شارح اوی چه فاعل دانه دے بلکه قولهم دے او بیا دا فی داره زید دهغی دپاره مقوله شوه مراد په دې سره هر هغه ترکیب دے چه خبر مقدم شوی وی په مبتداء باندې او دا خبر حامل وی ضمیر د مبتداء لره لتقدمه رتبة وجه د جواز بیانوی و امتنع قولهم صاحبها فی الدار مراد په دې سره هر هغه ترکیب دے چه مبتداء مقدم وی په خبر باندې لفظا او خبر روستو وی لفظا او مبتداء حامل وی ضمیر د خبر لره نو دلته اضمار د قبل الذکر لفظا او رتبة لازمیږی او دا ناروا ده نو دا ترکیب او مثل د دې هم ناروا دې وهُو فی حیز الخبر دلته عین خبر نه وائی بلکه حیز الخبر وائی څکه چه دې فی الدار کښ دار د خبر یو جزء دے څکه دې کښ اختلاف دے چه ایا خبر دا دار دے او که د دې هغه متعلق دے او که دا دواړه دې نوپه دې درےواړو باندې قول شوی دے نوکه هر یو شی نو دار ئې جزء واقع کیږی عین خبر نه واقع کیږی

وقد یکون المبتداء نکرة دې ځائے نه مصنف یو بل حکم خاص د احکامو د مبتداء نه بیانوی نو دا اصل کښ دوه حکمه دې یو حکم صریحی دے دویم حکم ضمنی دے صریحی حکم دادے چه کله کله مبتداء نکره وی او ضمنی حکم دادے چه مبتداء په اکثر اوقاتو کښ معرفه وی او دا خبره د دې قد نه مستفاده ده چه داپه مضارع باندې داخل شوی دے دلته چند سوالات دې چه دې نه مستفاد دې (۱) اصل په مبتداء کښ تعریف ولی دے؟ (۲) اصل په خبر کښ تنکیر ولی دے (۳) دا نکره محضه مبتداء ولے نه شی واقع کیدلے او چه کله ئې تخصیص اوشی نو دا ابتداء یت ئې ولی صحیح دے؟ اوس دې نه بالترتیب جوابات دادی چه اصل په مبتداء کښ تعریف څکه دے چه شارح وائی چه لان للمعرفة معنی معینا حاصل دا دے چه اهم او کثیر الوقوع چه حکم کیږی نو هغه په معین وی یعنی په معرفه وی، لکه زید قائم کښ د قیام حکم چه په زید باندې اوشی نو دا قیام دهغه فائده کوی اوکه نکره شی چه رجل قائم نو دا فائده نه کوی څکه چه د قیام حکم معلوم دے په رجل باندې چرته یو سړے به قائم وی که هر ځائے وی نو فائده نه کوی بالفاظ دیګر حکم په شئ باندې دا فرع ده معرفة د محکوم علیه ده نه یعنی مبتداء محکوم علیه ده او خبر حکم دے نو دا محکوم

عليه چه مبتداء ده د دې معرفة ضروري دے نو معرفة به وي، اوكه معرفت د محكوم عليه اونشي او حكم پرې اولګی نو دابه د تكاليف سره مخامخ كيدل وي، او ددويم نه جواب دادے چه خبر كښې اصل تنكير ځكه دے چه كه خبر مخاطب ته معلوم وي او متكلم بيا هم هغه ته خبر وركوي نو دا تحصيل د حاصل دے او دا ناروا دے ځكه هغه پوهه دے او متكلم وائی داناپوهه دے په دې خبر باندې نو دا اجتماع د متضادينو شوه او دا وجه هم ده چه خبر واضع وضع كړے دے دپاره د افادے مخاطب ته كه فائدة الخبر يا لازم د فائدة الخبر وي نو دا افاده مخاطب ته په تنكير حاصله ده او دا نكرة اصل ده نوځه اصل سره كار كيري نو خلاف الاصل چه معرفة ده دې ته ضرورة صحيح نه دے او دا وجه هم ده چه كه مونږ په خبر كښې تنكير اصل نه كړو نو بيا التباس راځي د خبر د صفة سره چه دا موصوف صفة دې اوكه مبتداء خبر دې اوكه ته وائی چه التباس خو په ضمير فصل دفع كيدلے شي نو مونږ وايو اصل خبره داده چه شئ بل نه محتاج نشی اوس كه خبر معرفه شی نودابه محتاج شی ضمير فصل ته نو دا اصالة نه خارجيږي او ددريم خبرې نه جواب به شارح اوكړی د اذبالتخصيص يقل اشتراكها سره لكن دا دپاره د دفع د وهم چه ناشي وی د كلام سابق نه نوهغه وهم دادے چه نكرة ته ځنګه مبتداء واقع كوی دا خو صحيح نه ده نو شارح لكن روارو چه مطلق او محض نكره نه يادوم بلكه هغه نكره چه مخصصه وي، بوجه "ما" په يو وجه د وجوه د تخصيص سره نو داكلمة دما راغلی ده نو څوك وائی داما په معنی د شئ سره ده او بعض وائی چه دا زائده ده، نوكه د شئ په معنی شي نو اسم دے اوكه زائده شي نو حرف دے مقصود پكښې تعميم او شيوع ده، مطلب داچه دانكره تخصيص او مومی په هر وجه د تخصيص سره چه وي لكه ته اوے اعطنی كتابا "ما".

سوال: دا لفظ دما په دې مقام كښې دپاره د تعميم شو نو دا روستو چه كوم امثله ماتن بيانوی نو دا دې سره مناق دې ځك دا امثلو نه انحصار معلوميږی ځكه كه عموم وے نو بيا خو يو مثال كاق وو .

جواب: دادے چه د امثلو نه انحصار نه دے مقصود بلكه اشاره ده دے خبری ته چه دا كثير الوقوع او غالب الاستعمال دی په وجوهو د تخصيص، اعتراض كړئ دے عبد الغفور او داجواب عبد الحكيم سيالكوتی كړے دے اذا بالتخصيص دا ددريم خبری نه جواب دے چه په تخصيص سره اشتراك كم شی نو قريب د معرف شی او قريب لره حكم دهغی شئ وی چه څه ته قريب وی، مثل قوله تعالی اوس دا توضيح ده په امثلو سره شارح قوله تعالی اوی يو تعين كول دی چه دا د قران نه ايت دے او دويم دفع د سوال ده چه مثل مضاف دے او دا ولعبد الخ مضاف اليه دے نو مضاف اليه خو مفرد وی او دا جمله راغلی ده نو شارح جواب اوكړو چه مضاف اليه ورله حذف دے او بيا هغه قول شو او دا جمله دهغی دپاره مقوله شوه فان العبد غرض د شارح په دې عبارت سره هغه تفصيل كوی چه مبتداء ځنګه نكره ده؟ او ځنګه تی تخصيص شوی دے؟ او په څه سره لی تخصيص راغلی دے؟ نو هغه دا چه دا عبد

نکره ده ځکه اطلاق ئې په هر عبد باندې دے او دا مبتداء ده نو چه په مومن سره توصیف اوشونوکافر عبد ترې نه خارج شونو قلة د اشتراك اوشو نو دانکره مخصصه شوه او قریب شوه معرفې ته نو حکم د معرفې ئې واخستو او بیا خیر ورله خبر دے نو حاصل داشو چه دلته تخصیص د نکرې په وصف مذکور سره راغلی دے و مثل قولك ارجل فی الدار ام امرأة غرض د ماتن دویم مثال پیش کوی دپاره د نکرې مخصصه چه مبتداء واقع شوی وی. بیا شارح مثل اوی اشاره ده چه دایه "ما" قبل باندې عطف دے اوماقبل د معطوف علیه معاد وی په معطوف کښې او بیا قولك ئې اوی نو قول سره اشاره ده چه د مثل مضاف الیه هم دا قول مفرد دے او بیا اضافة دهغې ئې مخاطب ته اوکړو نو اشاره ده فرق ته په درمیان دد ی مثال دهغې مثال سره چه هغه قول د الله وو او دا د الله قول نه دے بلکه کلام الناس دے اوس دلته رجل مبتداء ده او فی الدار په اعتبار د متعلق سره خبر دے فان المتکلم غرض د شارح وجه د تخصیص بیانوی حاصل دادے چه ارجل کښې همزه ده دپاره د استفهام او معادل ورله روستو ام راغلی دے او کله چه ام معادل د همزه راشی او دې سره تپوس اوشی نو دغه وخت کښې نفس علم وی د سائل په احد الامرین "لا" علی التعین باندې او دا سائل استفهام د تعین کوی نو دلته مثال کښې د سائل علم په دې باندې شته دے چه دې کور کښې یو کس دے خو معین نه دے نو د مخاطب نه د تعین تپوس کوی نو دې تخصیص او متدلو په علم سره.

سوال: دا علم د دې سائل سره تخصیص په دې نکره کښې یو امر معنوی دے او دا واقع کیدل د یو شئ مبتداء امر لفظی دے نو امر معنوی سره څنګه تخصیص په امر لفظی کښې راځی.

جواب: فکانه قال حاصل دادے چه دا داسې امر معنوی دے چه تعبیر ترې نه په لفظ ره کیږی اوناروا هغه دے چه تعبیر ترې نه په لفظ سره نشی کیدلے اوس دلته د دې نه تعبیر په ای من الامرین المعلوم کون احدهما فی الدار کائن فیها سره کیږی نو ای من الامرین مبتدا ده او کائن ورله خبر شو او دویم غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د بل سوال ده چه دلته دا علم دے متکلم ته حاصل شوی دے او علم د متکلم کافی نه دے دپاره د تخصیص راوستلو په نکره کښې چه صالحه شی دپاره د ابتدائیه بلکه علم د مخاطب ضروری دے نو جواب شارح کوی چه دلته څنګه متکلم ته علم حاصل دے نو دې مخاطب ته هم حاص شوی دے ځکه چه سائل سوال کړے دے په ام او همزه سره او دې سره چه استفهام اوشی نو مخاطب ته هم دا پته وی چه دا سائل په احد الامرین "لا" علی التعین پوهه دے تپوس د تعین کوی بیا المعلوم مجرور صفة دے دپاره د الامرین چه هغه هم مجرور دے معنی ده چه داسې امرین چه معلوم کړی شوی دې یو د دواړو نه په دې دار کښې.

سوال: نو د موصوف او صفة درمیان کښې مطابقة ضروری دے او دلته خو مطابقة نشته دے یو تثنیه او بل مفرد دے.

جواب: په افراد تثنيه، جمع کښې مطابقة ضروري دے خو په صفة بحاله کښې او دلته دا المعلوم صفة بحاله نه دے بلکه بحال متعلقه دے ځکه دې المعلوم دپاره مسند اليه کون احدهما دے يعني ضمير پکښې نشته دے چه راجع شي امرين ته او مطابقة شرط شي بيا دا المعلوم اسم مفعول دے او کون احدهما ورله نائب فاعل دے نو معنی داشوه چه معلوم دے کون د يو په دار کښې فکل واحد سره بري تفريع کوی منهما ای رجل و امراة بهذه الصفة چه المعلوم کون احدهما دے.

سوال: نو هلته مثال اول کښې هم تخصيص د نکرې په صفة سره وو او دلته هم د دې دپاره مثال دے نو دوه مثاله ولې بيانوی. جواب: فرق پکښې شته دے چه اول مثال دپاره د هغه نکرې دے چه تخصيص ئې موندلے وی په صفة مذکور باندې او داهغه دنکرے دے چه تخصيص ئې موندلے دے په صفة مقدر داندے و مثل قولك "ما" احد خير منك غرض د ماتن دريم مثال پيش کول دې او شارح مثل قولك اوی هغه زړه خبره ده دلته "ما" احد کښې دا احد نکره مبتداء ده او خير منك ورله خبر دے اوس دانکره مخصصه ده د تخصيص تعين شارح کوی فان النکرة حاصل دادے چه دلته نکره په حيز د نفی کښې واقع ده او نکره په حيز د نفی کښې عموم پيدا کوی نو فا فادت دا فائده د عموم د افرادو راولی نو متعينه او متخصصه شوه. سوال: دا خو اجتماع د ضدينو راغله چه عموم او خصوص دے نو ته ځنګه وائی چه عموم پکښې راغلو نو تخصيص پکښې راغلو . جواب فانه "لا" تعدد في جميع حاصل د جواب دادے چه د خصوص دپاره دوه معانی دي (۱) په معنی د قلة الشرکاء سره (۲) په معنی د رفع الابهام اوس د عموم منافاة د اول قسم سره دے نو چه دکوم سره عموم مناق دے هغه زما مراد نه دے او چه کوم زما مراد دے نو دهغې سره منافاة نشته دے چه رفع د ابهام ده اوس چه احد نکره وه اويه سياق د نفی کښې نه وه واقع شوی نو ابهام پکښې وو ځکه معنی وه چه يو کس ستانه غوره دے او بهتر دے نوداکس مبهم وو او معلوم نه وو او چه په سياق د نفی کښې کله واقع شوه نو ابهام ختم شو چه ستانه څوك بهتر نشته نو رفع د ابهام اوشوه.

سوال: کلام کښې خو منافاة راغلې ځکه ول د اوی چه خصوص عبارت دے د قلة اشتراك الافراد نه او دلته خو وائی دهغې نه نه دے بلکه د دفع الابهام نه عبارت دے.

جواب: هغه معنی د دې خصوص معنی اغلبی ده او دلته غير غالب معنی مراده ده نو تعارض نشته في کلام الشارح.

سوال: ستا د کلام نه خو دا خبره معلومه شوه چه نکره په سياق د نفی کښې واقع شي نو رفع د ابهام به پکښې راځی او که نه وی داسی نو رفع د ابهام به پکښې نه راځی نو نقض دې راغی په دې قول د عمر رضی الله عنه چه تمرة خير من جرادة نو دلته تمرة مبتداء ده او خير من جرادة

ورله خبر دے او دا تمرة خو په سياق د نفی کښې نه ده واقع شوی نو څنګه ابتدائية ئې صحيح دے؟

جواب: اکثرهم دا خبره ده چه نکره په سياق د نفی کښې فائده د عموم کوی نو چه په اثبات کښې هم عموم راولی يعنی رفع د ابهام اوشی نو هم به مبتداء واقع کيدل ئې صحيح وی اوس دلته عموم داسی قصد شوی دے چه تمرة نکره ده اونکره دلالت په طبعية او وحدة کوی او دا ظاهره ده چه دې خبريت کښې وحدة لره دخله نشته دے نو متعين شوه چه طبعية او جنسية دے او دې کښې عموم وی نو رفع د ابهام هم اوشوه يا تعميم په دې طريقه دے چه دا تمرة جنس دے او دا ديو فرد معين نه متعين شوی نه ده څکه ترجيح بلا مرجح ده نو عامه تمرة مراد ده نو داهم عموم شو نو رفع د ابهام اوشو

و شرا هر ذاناب مصنف شروع کړی ده په احکامو د مبتداء کښې نو يو حکم داوو چه مبتداء کله کله نکره واقع کيږی چه تخصيص ئې اوشی نو دهغی دپاره ئې دوه امثله پيش کړه اوس دې ځائے نه دريم مثال پيش کوی فقال و مثل قولهم شر هرذاناب شارح مثل اوی اشاره ده چه دا عطف دے په "ما" قبل امثلو باندې او "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وی په معطوف کښې او بيا قولهم اوی چه مضاف اليه دا جمله نه ده بلکه قول دے او بيا ضمير د جمع ته ئې اضافة اوکړو اشاره ده چه دا يو متل دے تول خلق ئې استعمالوی لکه دې به اوائی چه و هذا مثل يضرب الخ ترکيبی اعتبار سره شر مبتداء ده او اهر الخ دا خبر دے نو شر نکره ده او تخصيص پکښې راغلی دے شارح ورله لږ تفصيل کوی چه لتخصصه د وجی د تخصيص حاصلولو د دې شر ما په هغه څه يتخصص چه تخصيص حاصلوی په هغی سره فاعل اوس فاعل چه تخصيص حاصلوی نو هغه لږ روستو بيانوی وما يتخصص سره او هغه چه تخصيص حاصلوی په هغی سره فاعل نو هغه ذکر دهغه شئ دے چه دې فاعل ته ئې اسناد کيږی او دا دهغی دپاره د محکوم عليه کيدلو صلاحية لری فانك سره توضيح بالمثال ده چه کله ته قام اوائی نو دې نه روستو به هر هغه شئ ذکر کوی چه په هغی کښې سلاحية د قيام وی او د دې "ما" قبل دپاره محکوم عليه واقع کيدل ئې صحيح کيږی نو هغه رجل دے نو دا اوس مخصص شو په دې باندې چه دامحکوم عليه د قيام وی نو شر مبتداء هم په دغه طريقه باندې تخصيص حاصل کړے دے چه دا محکوم عليه د حکم واقع کيږی او دهغی صلاحية هم لری.

سوال: په درميان د مبتداء او فاعل کښې څه مناسبة دے چه ته وائی چه شر په هغه طريقه تخصيص حاصل کړی دے چه په کومه طريقه فاعل حاصلوی.

جواب: شارح کوی مخکښې او اول عبارت کښې چه لشبهه به چه فاعل سره مناسبة داسی دے چه هغه سره مشابهة لری اګرچه عين فاعل نه دے او مشابهة څنګه دے؟ نو هغه شارح

بیانوی چه اذ یستعمل فی موضع چه اذا شرا هر الخ دا استعمالیږی په موضع دما اهر ذاناب الا شر کښې او دې کښې داشر بالاتفاق فاعل دے نوداهم د فاعل پشان شو اعتراض داشر الخ په موضع دما اهر الخ کښې استعمالول شه او صحیح نه دی ځکه چه ماهر الخ کښې "ما" او الا راغلی دی او دا دپاره د حصر او اختصاص راځی او په شراهر الخ کښې حصر او اختصاص چرته دے؟

جواب: دا شراهرا الخ په اصل کښې اهرذاناب شر دے نو داشر روستو وو داهر نه او دا مخکښې شو په اهر باندې نو تقدیم دما حقه التاخیر مفید دپاره د حصر او اختصاص وی نو دلته هم حصر او اختصاص شته دے فرق دومره دے چه "ما" اهر الخ کښې ادات د حصر ذکر دې او په اهر ذا الخ کښې حصر معنوی دے ادات پکښې د حصر نشته دے.

سوال: تا اوې چه دایه اصل کښې اهر ذانات شر دے نو دا شر فاعل دے او اهر فعل دے نو چه دا په اهر مقدم شی نو داخو لازم شو تقدیم د فاعل په فعل خپل باندې او دانارو ادے.

جواب: په اهر ذاناب شر کښې داشر فاعل نه دے بلکه فاعل په اهر کښې ضمیر دے چه راجع دے یو مرجع غیر متعین ته نو هغه فاعل مبدل منه او دا شر تری نه بدل دے. سوال: چه دا بدل شو نو څنګه چه تقدیم د فاعل په فعل ناروا دے نو تقدیم د بدل هم په مبدل منه ناروا دے نو بیا نقصان راغی. جواب: دا بدل دے خو فرضی بدل دے او تقدیم دهغه بدل په مبدل منه ناروا وی چه نفس الامری وی بالفاظ دیګر دا اعتراض په هله وو چه دا بدل په خپل بدلیة برقرار وے حالانکه دا اوس بدل نه دے مبتداء ده.

سوال: نو بیا خو تشبیه د شر د فاعل سره صحیح نه شوه ځکه دا بدل شو فاعل خو نه شو او تشبیه به هغه وخت صحیح وی چه دا فاعل وی.

جواب: دا شر په دې کښې بدل دے د فاعل نه چه ضمیر دے په اهر کښې او بدل د فاعل نه فاعل وی معنی نو تشبیه صحیح ده.سوال: تا اوې چه دا شر بدل دے داهر د ضمیر نه نو دا خو نکره بدل واقع شوی ده د معرفه نه او دا خو قانون دے چه بدل نکره وی د معرفه نه نو توصیف د بدل ضروری دے لکه بالناصیة ناصیة کاذبة دا ناصیة بدل دے د بالناصیة معرفه نه نو توصیف ئې شوی دے په کاذبة سره ا و دلته خو توصیف نشته نو بدلیة صحیح نه شو.

جواب: داهر ضمیر چه مبدل منه دے داهم په منزله اوپه حکم د نکره کښې دے ځکه دا غیر متعین مرجع ته راجع دے نو دا بدل ترې نه نکره صحیح شوه نو حاصل هم داشو چه په دې کښې تخصیص په تقدیم د "ما" حقه الخ سره راغلی دے واعلم ان المهر غرض د شارح په اعلم سره تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام دویم غرض د شارح په اعلم سره تنبیه د مخاطب ده په دفع د اعتراض باندې اعتراض داسې دے چه اواز او نباح (غپیدل) د سپی په دوه قسمه ده

یو ته نباح معتاد واني او دویم ته نباح غیر معتاد یعنی یو عادتی غپار دے چه که هر خوك راځی او وینی نو لګیا وی نو دې کښې احتمال د خیر او شر دواړو وی او دویم چه ده نو دا غیر معتاد ده بعض وخت کښې د ډیر ګرمئ یا سردئ د وجې نه غپار کوی ډیرې زورې اوباسی نو دې کښې احتمال د خیر نه وی بلکه دا خالص شر وی. نو اعتراض داسې شو چه په شر اهر الخ کښې تخصیص په نباح معتاده کښې راتلی شی چه د دواړو احتمال لری نو صرف شر به مراد شی نو خیر خارج شو خو تخصیص په اعتبار د نباح غیر معتاد سره نه دے صحیح ځکه هلته صرف د شر دے د خیر احتمال نشته نو جواب شارح په و اعلم سره کوی چه حاصل دادے چه زموږ مراد تخصیص دے په نباح معتاد کښې نو شر دے خیر نه دے چه غیبولی دے خاوند د دارو اوکه مراد نباح غیر معتاد شی نو بیا به تخصیص په وصف مقدر سره وی چه شر عظیم "لا" حقیر. چه لوی شر دے نه وروکی او غیبولی تے دے خاوند دا دارو نو بیا اعتراض شو چه دا خو بیا د قبیلے د ولعبد مومن نه شو او داخو تکرار لازم شو نو جواب هلته صفة مذکور او دلته صفة مقدر دے داجامی وائی او عبد الغفور وائی چه تقدیر ته ضرورت نشته بلکه دا تنوین په شر باندې د تعظیم دے نو تخصیص راغلی دے و هذا مثل یضرب دا اوس موضع د استعمال د دې مثال بیانوی حاصل دادے چه یو مضبوط او قوی انسان دے او بیا عاجز شو نو خلق ورته وائی چه شر الخ غته بلا ده چه دومره طاقتور ئی خراب تراب کړو و مثل قولك فی الدار رجل غرض د ماتن بل مثال ذکر کوی دپاره دنکره مخصصه چه مبتداء واقع شوی وی او د شارح اغراض په خپل عبارت سره واضح او اجلی دې دلته دا رجل مبتداء ده نکره ده او فی الدار ورله خبر مقدم دے نو د تخصیص وجه شارح بیانوی چه لتخصصه چه تخصیص پکښې په تقدیم د خبر سره دے په دې شان سره چه کله دا فی الدار اوئیلی شی نو هغه شئ به روستو ذکر کیدے شی چه هغه صلاحیة د استقرار فی الدار لری نو داهم په قوة د تخصیص بالوصف کښې شوعین وصف نه بلکه دهغې په قوت کښې.

سوال: تاچه کومه وجه د تخصیص د رجل اوی نو دا خوبه دې صورة کښې هم حاصلیږی چه رجل فی الدار شی دا وئیلی شی چه دا رجل صلاحیة د استقرار فی الدار لری نو بیا فرق په تقدیم او د تاخیر کښې پاتی نه شو.

جواب: زموږ مراد د موصوفیة د صحة الاستقرار نه هغه موصوفیة د محکوم علیه دے او داپه تقدیم سره دے نه په تاخیر په دې شان سره چه په حین د حکم کښې په رجل باندې تخصیص په تقدیم سره راځی چه حکم "لا" نه دے راغلی او تخصیص اوشی او که دا رجل فی الدار شی نوبه حین د حکم کښې تخصیص نشته دے.

سوال: تا بیا دا تقدیم د جار مجرور ولی په مبتداء اوګرځو په قائم رجل کښې هم داسی تخصیص شته دے نو د ظرف تخصیص ولی کوی.جواب: (۱) په دې مثال کښې چه قائم رجل دے نو دې قائم کښې احتمال وو د کیدلو د دې مبتداء قسم ثانی عند سیبویه او اخفش نو د

دي احتمال په بنياد د "ما" نحن فيه نه نه کرځيدو نو في الدار رجل موتږ اوی چه دا احتمال پکښ رانشي. (۲) موتږ چه دا تخصيص کووتو دا د وجې د توسع نه کوو نو هغه مثال پکار دے چه کثير الاستعمال وی او هغه صرف ظروف دي و مثل قولك سلام عليك غرض دماتن شيږم مثال ذکر کول دي دپاره د نکري مخصص چه مبتداء وی او اغراض د شارح معلوم دي په خپل عبارت سره سلام مبتداء ده او عليك په اعتبار د متعلق خبر دے او دانکره مخصصه ده او د تخصيص تفصيل شارح کوی چه لتخصصه بالنسبة الى المتكلم چه دي کښې متکلم ته نسبت دے. سوال: په دي کښې خو ظاهر نسبة متکلم ته نشته ـ جواب: اذا صله اصل ئی سلمت سلاما عليك دے او دي کښې نسبة شته دے متکلم ته او بيا دا سلام عليك دهغې فرع ده او قانون دادے چه فرع د خپل اصل نه مخالف نه وی نو دلته هم نسبة متکلم ته راغئ. سوال: چه اصل ئی سلمت سلاما عليك دے نو بيا سلام عليك تری نه ولې جوړ وئ جواب: فحذف الفعل و عدل مقصد دادے چه زمونږ مقصود دي مقام کښې دوام او استمرار وو ځکه دا دعاء ده او دعاء کښې هم دا مقصود وی او دال په دوام او استمرار جمله اسميه وی نه فعليه نو موتږ فعل حذف کړو او سلام موتږ مرفوع کړو ځکه په نصب ئی نه شو پريښودئ ځکه علت د نصب به ورله مفعول مطلق کيدل وی دپاره د فعل محذوف نو بيا جمله فعليه شوه نو استمرار او دوام بيا نشته. سوال: په سلمت سلاما کښې خو نسبة شته دے او په سلام عليك کښې خو نسبة متکلم ته نشته دے نو ځنګه تخصيص راغئ؟ جواب: شارح کوی چه فکانه قال سلامی نو ګويا چه داسې دے نويك دم اعتراض اوشو چه سلامی خو معرفه شوه نو دما نحن فيه نه نه شو ، جواب: ای سلام من قبلي نو دفع هم يك دم اوشوه هذا هو المشهور فيما بين النحاة غرض د شارح په دي عبارت سره يو اشاره ده بيان الاختلاف ته چه نکره ځنګه مبتداء واقع کيږی نو دي کښې دوه مذهبه دي يو مذهب د مشهورينو او بل مذهب د ابن الدهان دے مشهورين خو دا وائي چه نکره محضه مبتداء نشي واقع کيدلے او مخصصه مبتداء راتلی شی کما مر من الامثلة او ابن الدهان محقق داخبره کوی چه مبنی د کلام په افادي ورکولو دمخاطب ده نو هر هغه کلام چه پکښې مخاطب ته فائده رسيده نو بيا که پکښې مبتداء نکره وه اويا معرفه نو دا کلام به صحيح وی او هر هغه کلام چه پکښې مخاطب ته فائده نه رسيده نوکه مبتداء پکښې نکره وی او يا معرفه خو دا کلام صحيح نه دے لکه مثلا ستا مخاطب ته د زيد قيام معلوم دے او تا ورته بيا هم وائی زيد قائم نو دا کلام بے فائدے دے ځکه هغه د مخکښې نه عالم دے او د دي بالمقابل ستا مخاطب ته علم نشته دے چه په کور کښې څوك ولاړ دي او ته ورته اوائي جی رجل قائم في الدار نو دا کلام صحيح دے اګرچه مبتداء نکره ده او اکثر نحاتو دي مذهب له ترجيح ورکړی ده لکه رضی او جامی هم دا وائي چه دا خبره د محقق ده(چه اثبات د مدعی په دليل کوی) شارح وائي الی هذه التكلفات الركيكية الواهية دي تکلفاتو ستو ضعيفو ته اوس دغه تکلفات دادی چه اول مثال کښې تخصيص چه راغلی دے نو دا نوعی دے او مراد فردی تخصيص دے او دويم مثال ارجل في الدار الخ کښې تخصيص. راغلی دے په علم د متکلم سره او مراد هغه دے چه په

اعتبار د علم د مخاطب سره وی او دریم مثال "ما" احد الخ کښې چه کوم تخصیص راغلی دے نوپه اړولو د معنی د خصوص (قلة الشرکاء) په طرف د غیر مشهور چه رفع د ابهام ده او مراد خو د دې معنی مشهوره ده نه غیر مشهوره او څلورم مثال شر الخ دې کښې تخصیص راغلی دے په هغه څه سره چه تخصیص پرې راځی د فاعل نو تخصیص د فاعل خو په تقدیم د حکم دے او دلته په مبتداء کښې دا حکم موخر وی نه مقدم او پنځم مثال فی الدار الخ کښې تخصیص راغلی دے نوداپه تقدیم د خبر سره دے او دا خو خلاف الاصل دے څکه اصل خو دادے چه خبر موخر او مبتداء مقدم وی او شپږم مثال سلام علیك کښې تخصیص راغلی دے په اعادی د معنی اصلی چه رفع کښې دوه او په حالت د نصب کښې چه په حالت د نصب کښې نسبة وو متکلم ته نو په حالت د رفع کښې هم دا معنی شوه او واپس شوه نو دا تکلیف دے او دا ټول تکلفات ضعیف دي فعلی هذا تفریع ده کوکب انقض الساعة ستوری مات شو په دې ساعة باندې دلته دا کوکب مبتداء ده او انقض الساعة جمله فعلیه ورله خبر دے او داکوکب نکره ده خو فائده پکښې شته دے چه داما تیدل د ستوری کله کله وی نو څوك ترې نه نه خبر یږی اوکارهم عجیب دے نو خلقو ته په دې د انقضاض د ستوری علم ملاوېږی اوهر چه رجل قائم دے نو دې کښې فائده نشته څکه چه څوك به ولاړوی نو فائده پکښې نشته بلکه بلا فائده دے نو "لا" یجوز.

ولما کان الخبر المعرف فیما سبق غرض د شارح په دې شرح سره دری خبری دي (۱) تمهید روستو متن ته (۲) د روستو متن ربط د "ما" قبل سره (۳) دفع دیو اعتراض ده چه تا د خبر تعریف اوکړو نو مونږ ته د خبر معلومات اوشول نو دا و الخبر قد یکون الخ ذکر کول بے فائدی دي او اشتغال په "لا" یعنی دے نو شارح جواب کوی چه دلته دا و الخبر دا مستدرك نه دے څکه چه تاکوم اوریدلی دے نو هغه هغه خبر دے چه تعلق د مفرد سره ساتی او دلته چه کوم ذکر کوم نو دا متعلق دے د جملی سره او مخکښې تعریف د خبر مفرد داسی وو چه داخبر قسم دے د معرب نه او معرب قسم دے د اسم نه او اسم قسم دے د کلمة نه او ماخوذ په تعریف د کلمه کښې افراد وو نو دا خبر هم دهغی د قبیلی نه شو. نو اوس دهغی تفصیل کوی چه ایا دا خبر جمله راتلی شی کنه نو قال ولما کان الخبر بیا د ماتن د کلام نه دوه حکمه معلومیږی یو صریحی حکم دویم ضمنی صریحی حکم دادے چه دا خبر کله کله جمله وی او ضمنی حکم دا معلوم شو چه اکثر خبر مفرد وی او دا مستفاد د قد نه ده چه داخل شوی دے په فعل مضارع او فائده د تقلیل کوی اوس دلته چند سوالات راغلل (۱) اصل په خبر کښې افراد ولی دے (۲) دا خبر جمله ولی واقع کیږی (۳) مبتداء ولی جمله نه واقع کیږی (٤) د جملی نه کومه جمله مراد ده (٥) مثال به څه وی؟ اوس د دې نه بالترتیب جوابات دادی چه اصل په خبر کښې څکه افراد دے چه مطابقة راشی په رکنیو د کلام کښې چه یو مبتداء ده هغه مفرد وی نو خبر مفرد سره به ئې مطابقة راشی څکه المطابقة خیر من المخالفة مهما امکن بله وجه داده چه خبر متعلق وی د مبتداء سره ون چه خبر مفرد وی نودا

متعلق وی د مبتداء سره بالذات او چه جمله شي نو دا متعلق وی د مبتداء سره بالواسطه او تعلق بالذات اولی دے د تعلق د دي خبر نه په واسطه سره چه عائد دے او بله وجه داده چه خبر واضع وضع کړے دے دپاره د افادي مخاطب ته او دا فائده په مفرد سره حاصليږي نو صيرورة جملی ته ولی کوو پوره تکلفاتو سره مخ کیدل دي خبر جمله څکه واقع کیږی چه دا خبر وضع دے دپاره د افادي د مخاطب نو دا فائده په جملی سره هم راځی لکه چه په مفرد سره حاصليږی او مبتداء جمله څکه نه واقع کیږی چه جمله مشتمله ده په نسبة باندي او هغه اباء او انکار کوی د وقوع د دي نه مبتداء څکه دا مسند اليه وی نو د ضعف د وجی نه نشی واقع کيدلے او د جملی نه کومه جمله مراد ده؟ نو دي کښ اختلاف دے بعض والی چه مراد په جملی سره عامه ده که خبريه وی او یا انشائيه دويم قول دادے چه مراد په جملی سره خبريه ده فقط او دريم قول دادے چه جمله خبريه مطلقا خبر واقع کیږی او انشائيه بالتاويل خبر واقع کيدلے شي بدونه نه لکه زيد اضربه دے نوکه چا اوی چه زيد مقول في حقه اضربه نو خبر ته ئی صحيح دے او د دي تاويل نه علاوه ناروا دے او مثال ورله ماتن ذکر کړے دے او شارح درميان کښ واني چه اسمية او فعلية غرض ئی دفع د سوال ده چه مثال دپاره د توضيح وی نو يو مثال کافي وو کنه نو جواب اوښو چه تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندي چه يو دهغی جملی مثال دے چه اسميه وی او خبر شي او دويم مثال د جمله فعليه شو او باقي شوه دا خبره چه دوه امثله څکه دی چه داپه منزله د شاهد وی او هغه دوه وی نو دا قول ضعيف دے څکه دليل او شاهد مثبت وی د دعوی او مثال موضح وی د دعوی .سوال: نو بيا خو پکار وه چه تا امثله دير راوړی وی څکه چه جمله خبريه چه څنګه اسميه او فعليه واقع کيږی نو ظرفيه هم واقع کيږی؟ ولم يذكر الظرفية ظرفيه دي ولی ذکر نه کړه جواب لانها راجعة الى الفعلية دا جمله ظرفيه راجع ده فعليه ته څکه دي روستو واني وما وقع ظرفا سره نو واي دا تعلق ساتی د جمله فعليه سره نو دايکښ داخل ده.

سوال: نو مونږ خو په جملو کښ جمله شرطيه هم اوريدلی ده هغه دي ولی ذکر نه کړه.

جواب: په دي جمله شرطيه کښ اختلاف دے په درميان د مناطقه او اهل عربو کښ مناطقه واني چه حکم په جمله شرطيه کښ په درميان د شرط (مقدم) او جزاء (تالی) کښ وی او اهل عرب واني چه حکم او نسبة په جمله شرطيه کښ په جزاء کښ وی او دا شرط قيد وی دهغه فعل او مسند چه په جزاء کښ وی نو که جزاء جمله اسميه وه نوداپه اسميه کښ راغله اوکه فعليه وه نو په فعليه کښ راغله نو مستقل ذکر کولو ته ضرورت نشته دے لکه ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود نو دا اسميه شوه او يوجد النهار وقت طلوع الشمس نو دا فعليه شوه و اذا کان الخبر جملة غرض د شارح په دي عبارت سره دي روستو متن ته تمهيد اينښودل دي او دهغی روستو متن دما قبل سره ارتباط ذکر کول دی.هغه په دي شان سره چه کله جمله خبر واقع شي نو ماتن واني فلا بد من عائد چه د عائد نه يکښ لابدی ده چه دا جمله د مبتداء سره مربوطه شي نو دلته بيا چند سوالات راغلل (۱) عائد څه ته واني (۲) په جمله کښ د عائد نه ولی لابدی ده (۳) عائد څه شئ واقع کيږی (٤) مثال په څه وی؟ نو

جوابات بالترتيب داسې دي چه عائد د عاد يعود نه اسم فاعل دے په معنی د واپس كيدونكي سره او اصطلاحا هر هغه شئ چه ربط راولي د جملي د مبتداء سره يا د موصول سره يا د موصوف سره يا د ذو الحال سره او د عائد نه لابدى څكه دہ چه دا جمله مستقله دہ څكه مشتمل دہ په مسند او په مسند اليه باندي نو د استقلال د وجی نه په قوة د منافرة او و حشة كښ دہ وای زما چاته حاجت نشته دے نو د دي د مربوط كولو دپاره د مبتداء سره عائد ضروري دے چه مربوطه شي شارح هم دا وائی چه و اذا كان الخبر او بيا دا عائد څلور قسمه شئ راځی (١) يو ضمير لكه زيد ابوه قائم كښ دا ه ضمير په ابوه كښ (٢) لام لكه نعم الرجل زيد نو زيد مبتداء موخر او نعم الرجل خبر دے نو الف لام دا جمله د مبتداء سره او تړله چه دا الف لام عهدي دي معهود په دي سره هم دغه زيد دے .(٣) وضع د ظاهر وی په ځائے د ضمير لكه الحاقة "ما" الحاقة نو اوس دلته دما الحاقة په ځائے "ما" هی؟ پكار وه. خو دا اسم ظاهر په ځائے د ضمير راغلی دے او داما الحاقة جمله دہ (٤) يا وی خبر تفسير لكه قل هو الله احد كښ داهو ضمير شو مبتداء دہ او الله احد خبر دے څكه دا تول خبر واقع شوی دے او دا تفسير دے دپاره د مبتداء نو دا څلور اقسام د عائد شول او امثله هم راغلل او په دي طريقه شارح هم بيان كړی دي و قد يحذفا غرض د ماتن دفع د اعتراض دہ په دي شان سره چه تا اوی چه جمله خبر واقع شي نو د عائد نه لابدى دہ نو زه به درته اوښايم چه خبر به جمله وی او عائد به پكښ نه وی لكه البر الكر بستين درهما كښ البر مبتداء دہ او الكر الخ دا جمله اسميه دہ او دا خبر دے او عائد پكښ نشته دے دغه شان السمن منوان بدرهم دے نو ماتن دهغی جواب كوی چه دا عائد كله كله حذف كيدلے شي. شارح بيا تعين د يحذف د ضمير كوی چه مراد هغه عائد دے چه ضمير وی او دا دفع د سوال هم شوه چه تا خو د يحذف ضمير مطلق عائد ته راجع كړے دے نو مقصد داچه دا څلور واړه اقسام د عائد به حذف كيږی حالانكه موتړ خو اوريدلي دي چه صرف دا ضمير حذف كيدلے شي اودانور نشي حذف كيدلے نو شارح جواب اوكړو چه صرف ضمير به حذف كيږی دانور دری اقسام نشي حذف كيدلے سوال: ماتن خو مطلق عائد ته ضمير راجع كړے دے او ته ترى نه ضمير فقط ولی مراد كوی دا خو تقييد د مطلق دے او دا مجاز وی او د مجاز دپاره قرينه پكار وی تاسره څه قرينه دہ؟

جواب: قرينه په دي باندي شته دے چه عدم جواز د حذف دے د علاوه د ضمير نه . سوال: دا ولی جائز نه دی؟ جواب: دا څكه چه كه لام حذف شي نو دا خو جزء د كلمة دے او حذف د جزء د كلمه ناروا دے. او دغه شان په نعم الرجل زيد كښ موتړ زيد ته اشاره په واسطه د الف لام كوو او چه داهم حذف شي نو بيا څه شئ نشته دے چه د دي قائم مقام شي او زيد ته پری ورسره اشاره اوشي او وضع د مظهر . الخ كه داموتړ حذف كړو نو دي كښ اشاره وی تعظيم او تفخيم ته نو دا مقصد فوت كيږی اوكه دا تفسير د مبتداء حذف شي نو دا حذف راځی د مبتداء څكه دا مفسر (مبتداء) او مفسر دايو شئ دے او دي كښ هم غرض مطلوب

دا تفخیم او تعظیم دے نو داهم فوت کیږي. سوال: نوپه حذف د عائد کښ چه کله ضمیر وی نو داهم حذف د جزء مراده راځي او داهم ناروا دے. جواب: لقیام قرینة د دې قائم دلته منه حذف دے او په دې باندې قرینه هم داده چه څوک څه اخلی نو دهغی نرخ کوی دائه چه اخلی بل څه او نرخ د بو شی کوی وما وقع ظرفا غرض د ماتن خو تفصیل دهغه خبری کوی چه سوال وو چی تا د جملی ظرفیې مثال ولی بیان نه کړو نو مونږ اوی چه دا راجع ده فعلیه ته نو اوس دلته هغه تفصیل کوی چه څنګه دا راجع ده نو قال وما وقع الخ یا دا دفع د اعتراض ده چه دماتن په نزد باندې دا جمله ظرفیه په فعلیه کښ داخل ده حالانکه مونږ خو اوریدلی دي چه ظرف متعلق غواړي او هغه شبه فعل دے او شبه فعل جمله نه وی بلکه هغه په حکم د مفرد کښ دي نو داخلول د ظرفیې په فعلیه کښ صحیح نه دي نو ماتن جواب اوکړو چه زما کلام بناء دے په مذهب د بصریانو او ته خبره د کوفیانو کوی. بیا بعد د دې نه دلته بالترتیب څو خبر دی. یو خبره داده چه کله په کلام د عربو کښ ظرف (زمان، مکان) او جار مجرور راشي نو دي دپاره لابدی ده د متعلق نه چه دا ورسره متعلق شی او کله شی نو دا بیا جزء تام د کلام نه شی واقع کیدلے.

دویمه دا خبره ده چه د دې متعلق کله مذکور وی او کله محذوف چه کله ئی متعلق ذکر وی نو دې ته ظرف لغو وائی او چه حذف وی نو ورته ظرف مستقر وائي لغو مطلب دادے چه دا بے پروا دے د بل متعلق دا راویستو نه او مستقر د استقرار نه دے مطلب دادے چه هغه متعلق مقدر پکښ قرار نیولی دے یا لغو مقصد دادے چه کله متعلق مذکور دے نو ستا بل متعلق راویستل لغو او بے فائدے دي او چه کله ذکر نه دے نو مقصد داچه ستا متعلق راویستل ځائے او قرار نیسی دریمه خبر داده چه متعلق د افعال خاصه او افعال عامه دواړو نه راتلی شی په دې شان سره چه قرینه په متعلق وه نو افعال خاصه اوکه نه وه نو بیا افعال عامه او دا افعال عامه مشهور څلور دي چه کون، وجود، حصول، ثبوت.

افعال عام چہار است عند ارباب عقول

کون است وجود است ثبوت است حصول

او څلور غیر مشهور دي چه لزوق (بالزاء) لصوق، لسوق، تلبس.

او بیا دلته یو بله اصطلاح هم ده خو غیر مشهور ده په دې شان سره چه ظرف لغو هغه دے چه د دې متعلق د فعل خاص نه وو بیا برابره ده که مذکور وو یا محذوف اوکه فعل عام وو نو ظرف مستقر دے برابر ده که مذکور وو یا محذوف دا دری خبری اتفاقی بین النحاة دی.

اوس دا څلورمه خبره داده چه دغه متعلق چه کله محذوف وی نو دغه متعلق به څه وی

فعل به وی او کنه شبه فعل به وی نو دي کښې د بصريانو او کوفيانو اختلاف دے بصريان وائي دا متعلق به فعل وی او کوفيان وائي چه دا متعلق به شبه فعل وی.

دليل د بصريانو دا دے چه وی دا متعلق به خپل متعلق کښې عامل وی او اصل په عمل کښې فعل دے نو ځکه به فعل راوباسو. او دغه شان مواضع د اختلاف به اوړلی شی مواضع د اتفاق ته نو مقصد داچه کله جار مجرور او ظرف راشی صله نو بیا بالاتفاق د فعل سره متعلق وی نو دلته به هم هغی لره اعتبار ورکړو او دليل د کوفيانو دادے چه دابه د شبه فعل سره متعلق وی چه مطابقة راشی په مابين د رکنینو د کلام کښې ځکه شبه فعل مفرد وی او دغه شان به مونږ د تکثير في الحذف نه بچ شو په دې شان سره چه فعل حذف شی نو ورسره به فاعل هم حذف وی نو دا تکثير في الحذف دے او شبه فعل سره تقليل في الحذف راځی او دا اولی دے د تکثير في الحذف نه او بله وجه داده چه مونږ ذهاب کو وحذف ته په ضرورة وسره او "ما" ثبت بالضرورة يتقدر بقدرها نوپه شبه فعل باندې ضرورت پوره کيږی نو جملی ته تګ نه کوو. خو مختاره عند الماتن مذهب د بصريانو دے نو بجملة سره نے تعبير اوکړو اما د دوی دلائل نه جوابات نو دوی اول اوی چه دامفرد شی نو دې کښې خو خالص افراد اوس هم عدم دے او تکثير في الحذف په صورة د حذف د شبه فعل کښې هم دے چه فاعل ورسره حذف کيږی او د ضرورت په بناء خو مونږ هم فعل معتبر کړے دے وما وقع ای الخبر الذی غرض د شاوح تعيين د دې "ما" کوی مصداقا دا مبهمه وه نو تعين اوشو وقع ظرف زمان او مکان او جارا و مجرورا دا دفع د سوال ده چه ته د ظرف نه مکان، زمان اخلی او کنه جار مجرور هم که ته ترې يو اخلی نو متعلق خو دوو ارو دپاره راځی نو دليل بغير د متعلق نه پاتې کيږی اوکه جار مجرور ورسره هم اخلی او دواړه مراد شی نو داخو جمع راغله په درميان د حقيقة او مجاز کښې او داناروا ده.

جواب: زما مراد دواړه دي او جمع نه راځی بين الحقيقة و المجاز بلکه دلته زه عموم د مجاز کوم چه هغه يوه معنی ده شامله دي دوارو معانيوته چه هغه محتاج دے نو دواړه اوس متعلق ته محتاج دی. فالاکثر من النحاة دفع دوهم ده چه مراد به استعمال وی نو وی نه اکثر نحاة چه بصرين دي مقدر ای موول دا دفع د سوال ده چه زيد في الدار کښې في الدار ظرف دے او داخو مقدر نه دے بلکه مذکور دے نو ذکر کول د مقدر صحيح نه دي دويم داچه بجملة کښې داباء راغلی ده او باء صله د تقدير نه راځی.

جواب: ذکر د مقدر دے او مراد مؤول دے يعنی مقدر مقابل د مذکور نه دے بلکه په معنی د موول سره دے.

سوال: يو طرفته وائي چه متعلق به فعل وی او دلته اوس جمله وائي .

جواب: شارح کوی بتقدیر الفعل فعل به وی نو فعل سره د فاعل نه جمله وی، وجه الاقل سره دلیل د کوفیانو دے اما دا خبره چه خبر څه شئ دے؟ ایا خبر دا ظرف دے؟ او که دا متعلق دے؟ او که د ا دواړه دی؟ نو دری اقوال دي پکښ بعض وائی چه خبر د اظرف وی خو تعلق ئی د فعل یا شبه فعل سره وی او بعض وائی خبر دا متعلق دے او ظرف ته نسبة مجازا دے او بعض وائی چه دواړه دي دواړه.

دغه شان بل اختلاف داهم دے چه کله دا فعل حذف شو نو ایا دا ضمیر د هغی هم حذف کیږی اوکنه دا دي ظرف ته نقل کیږی؟ نو بعض وائی چه هغه هم حذف کیږی او بعض وائی نه هغه نقل شی ظرف ته

ثم ان الاصل فی المبتداء التقدیم و جاز تاخیره غرض د شارح دلته هم هغه دری خبری دي (۱) تمهید روستو متن ته (۲) ربط دما قبل سره (۳) دفع د سوال .

سوال: دادے چه موتر د مبتداء او خبر احکام بیانول نو بیو حکم د مبتداء دا وو چه تقدیم پکښ راجح او اولی وو اوس دلته ته وائی چه واجب دے نو راجح او د واجب درمیان کښ ډیر فرق دے راجح چه ترك ئی جائز وی واجب چه ترك ئی ناروا وی، نو دا جواب کوی چه هغه خبره ده چه راجح تقدیم دے او که چرته واجب شوی وی نو دابه د عارض د وجی نه وی نو په دواړو احکامو کښ توفیق دے.

و اذا کان المبتداء ماتن به څلور مواضع بیان کړی چه تقدیم د مبتداء واجب وی پکښ او تاخیر پکښ ممتنع وی. بیا ماتن روستو وائی وجب تقدیمه نو دي نه د مبتداء څلور احوال معلومیږی (۱) تقدیم د مبتداء وجوبا فی هذه المواضع الاربع (۲) او تاخیر په دي کښ ممتنع دے (۳) تاخیر د خبر واجب دے دلته (٤) تقدیم د خبر منع دے دایو خبر صراحة وه او دا دری خبری ضمنا معلومی شوی.

سوال: پکار ده چه ماتن دا حکم مخکښ بیان کړی وی متصل د و الاصل فی المبتداء التقدیم سره لکه په شان د فاعل باندي نو دلته ولی فصل راوستلو په دي دوه و حکمونو سره .

جواب: هغه دوه احکام په منزله د قواعدوو نو دهغی تقدیم کول پکار وو چه فصل راتلی په درمیان دهغی کښ په دي حکم.

بالفاظ دیگر دا دوه قواعد په منزله د موقوف علیه دی د دي حکم دپاره نو دا موقوف او هغه موقوف علیه او موقوف علیه په موقوف مقدم وی نو څکه ده کعقدم کړو و اذاکان المبتداء دا اوس اول موضع بیانوی. یعنی کله چه مبتداء مشتمل وی په هغه معنی چه دهغی دپاره صدارت د کلام واجب وی نو تقدیم د مبتداء به واجب وی. ای علی معنی غرض د شارح بو تعین دما کوی مصداقا دوېم دا دفع د سوال ده چه دا مثال: من ابوك دا مطابق نه دے د

ممثل سره څکه دامن فی نفسه تقاضا د تقدیم کوی دانه چه مشتمل دے په یو شئ چه هغه صدارة فی الکلام غواړی؟

جواب: دا سوال به هله وی چه دا "ما" عبارت د لفظ نه وی حالانکه داموږ عبات د معنی نه اخلو نو اوس دا لفظ دمن په من ابوك کښ په دې معنی مشتمل دے چه هغه استفهام دے او دغه شان تمنی، ترجی او شرط هم دا تقاضا کوی بیا ماتن له جار مجرور وتیلی وو او شارح ورله متعلق متعین کړو چه وجب دے او قرینه پرې روستو وجب دے فائده دا وجه بیانوی چه دپاره د ساتلو د صدارت دهغه شئ چه صدارت فی الکلام غواړی.

اعتراض: ماتن لره پکار وو چه متضمنا ئی وئیلی وی.

جواب: متضمنا صرف هغه ته شاملیدو چه هغه فی نفسه تقاضا د صدارت کوی او هغه قسم ته نه شاملیدو چه صدارت بالواسطه غواړی په خلاف د مشتملا چه دواړو ته شامل دے لکه من ابوك فی نفسه صدارت غواړی او پاپه واسطه وی او دا عام دے داکه د مبتداء نه مخکښ وی یا روستو لکه ازید ابوك نو دلته مبتداء زید ده خو دلے همزه د استفهام ورسره ملحق ده دغه شان غلام من ابوك نو دلته مبتداء غلام ده او من مضاف الیه دے روستو واقع دے نو ددی په واسطه دا غلام تقاضا د صدارت کوی څکه استفهام د مضاف مستفاد دے داستفهام د مضاف الیه نه.

سوال: دې استفهام دپاره دا صدارت فی الکلام ولی واجب دے؟

جواب: دا دلالت کوی په یوه نوع د کلام باندې نو دې دپاره ضروری ده چه دلالت پرې د اول وهلة نه اوکړی او مخاطب معلوم کړی چه دا کلام د دې قبیلی نه دے او دهغی موافق جواب اوکړی اوکه صدارت فی الکلام واجب نشی نو مخاطب ته د اول وهلة نه د کلام نوعیة نه معلومیږی نو بل شان جواب به ورکړی نو ضیاع د وقت به راشی او دا عند الشرع "لا" یجوز ده او ضیاع د وقت په دې شان سره راځی چه کله دې متکلم کلام په هغه نوعیة شروع نه کړو چه په کومه نوع پکار وو نو مخاطب ځنی وخت کښ قطع د کلام کوی نو دې به بل شان جواب ورکړی چه مناسب نه وی نو بیا به سوال او جواب کوی نو دا ضیاع د وقت شوه. فان من دا اوس تطبیق کوی.

سوال: من ابوك کښ دا مثال مطابق نه دے د ممثل سره څکه دلته دامن نکره ده او ابوك معرفه او قانون دے چه کلام کښ معرفه مبتداء وی او نکره خبر وی نو چه من خبر شی ابوك مبتداء شی نو دلته خو مبتداء موخر شوی ده څکه خو بعضو خلقو دا مثال دپاره د تقدیم د خبر ګرځولی دے.

جواب: د من په ظاهر مه شه دا ظاهر کښ نکره ده خو معنی کښ معرفه ده ځکه دا اصل کښ اهذا ام ذاك اسم اشاره معرفه ده خو اختصارا تعبير په من اوشو. و هذا مذهب سيبويه دا سيبويه وائي و ذهب دا اوس د جمهور مذهب بيانوي.

سوال: نو ماتن لره داسې مثال پيش کول پکار وو چه داسې اعتراض پرې نه راتلو لکه من جاءك من قام شول

جواب: مختاره عند المائن مذهب د سيبويه دے نو دې دا مذهب ښکاره کوی چه دا افضل مذهب دے او کاذا معرفتين دويم موضع بيانوي شارح د مرجع تعيين کوی.

سوال: مبنی د متونو په اختصار ده نو لند به دې وئیلی وو چه اوکان متساوين دواړه مساوی وی په تعريف او تنکير کښ نو معرفتين ذکر کول خو محض تطويل دے.

جواب: شارح وائی چه په متساوين باندې بو اخې کاربه کيږی ځکه دې مقصد به دائی چه هغه مبتداء او خبر چه په تعريف کښ مساوی وی نو دهغې به دا حکم وی او هغه مبتداء او خبر کښ چه يو پکښ اعرف وی او بل غير اعرف نو دهغې به دا حکم نه وی او حالانکه حکم دواړو کښ يو دے نو دا جواب اوشو چه دواړو دپاره داحکم دے که يا اعرف وی يو او بل غير اعرف خو چه معرفتين وی نو دا حکم به وی.

سوال: نو نقض دې راغلو په ابو حنيفه ابو يوسف سره په دې شان سره چه دا ابو حنيفه خبر دے او ابو يوسف مبتداء ده او دواړه معرفې دې نو دلته خو تقديم د خبر راغلی دے امتناع خولا پريږده.

جواب: عن الشارح والا قرينة حاصل دادے چه قرينه به تعيين ديو نه وی چه دا مبتداء ده او دا خبر دے نو دا حکم به وی او چه قرينه وی نو بيا دا حکم واجب نه دے اوس دې مثال کښ چه ابتدائية او خبرية قرينه شته دے ځکه دا په وقت د تشبيه کښ راځي او په تشبيه کښ دا قانون دے چه مشبه متعين وی دپاره د ابتدائية او مشبه به متعين وی دپاره د خبرية دلته دا مثال خلق هغه ځائے کښ بيانوی چه تشبيه د امام ابو يوسف صيب ورکوی د امام ابو حنيفه سره ځکه تشبيه د ادنی د اعلی سره ورکولی شی نو ابو يوسف ادنی وو ځکه شاګرد وو او ابو حنيفه اعلی ځکه استاد دے. نو اول خو دا خبره متعين ده چه ابو حنيفه متعين دے دپاره د ابتدائية او ابو يوسف متعين دے دپاره د خبرية ځکه قانون دے چه مشبه متعين وی دپاره د ابتدائية او مشبه به دپاره د خبرية نوکه روستو وی او يا مخکښ خو قرينه شته دے نو تقديم د خبر لاجل الاحترام دے

سوال: مثال دې مطابق نه دے د ممثل سره ځکه دلته هم قرينه شته دے هغه داده چه دلته دې خلقو دا قانون پاس کړے دے چه مبتداء به ذات وی او خبر به وصف وی نو دلته

زيد ذات دے او المنطلق وصف دے نو كه دا مخكښ پاروستو شي خو زيد به مبتداء وي او المنطلق به خبر وي.

جواب: دا مذهب صرف د امام رازى رحمه الله دے چه هغه داخبره كوى چه دا زيد متعين دے دپاره د ذاتية او دا مشتقى متعين دے دپاره د وصفية او نور نحات دا وائي چه دا زيد اگرچه ذات دے خو تعبير بالوصف ترى نه كيدلے شي او المنطلق اگرچه مشتقى دے خو تعبير ترى نه په وصف كيدلے شي په دې شان سره چه د زيد نه مرا مسمى زيد شي او دا المنطلق نه ذات من له الانطلاق نو دلته قرينه نشته دے. او كانا متساوين غرض د ماتن دريم مقام بيانوى او شارح ورسره كانا رواړو اشاره ده چه دايه معرفتين عطف دے او "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وي په معطوف كښ.

سوال: نقض دې راغلو په دې قول بانديې چه غلام رجل صالح (بالرفع و الجر) خير منك په دې شان سره چه دا غلام مضاف دے رجل ته نو يو تخصيص په دې سره شو او بيا كه صالح مجرور شي نو دابه صفة شي د رجل دپاره نو دا غلام داسې اسم ته مضاف دے چه توصيف ئې شوى دے نو داهم سبب د زيادة د تخصيص شو نو دا دوه شول. اوكه صالح مرفوع شي نو دا بيا صفة دے غلام دپاره نو غلام كښ تخصيص يو خل په اضافة سره شو او دويم په وصف سره او خير منك كښ صرف يو تخصيص دے چه دې منك سره راغلى دے نو پكار ده چه دلته تقديم د مبتداء واجب نه شي او حالانكه تاسو دلته هم قول په وجوب كړے دے. نو جواب كوى چه زمونږ مراد په تخصيص سره اصل تخصص دے نه چه مقدار د تخصيص دا خان لره خبره ده چه يو كښ تخصيص زيات دے او بل كښ كم. مثال لكه افضل متى افضل منك زمانه بهتر ستانه هم بهتر دے. دلته افضل منى مبتداء ده مقدم ده ځكه كه مقدم نشي نو بياق د خبر سره التباس راځي. او كان الخبر فعلاله غرض د ماتن څلورم مقام ذكر كوى، للمبتداء دا تعين د مرجع كوى شارح.

سوال: زيد قائم كښ خو دا قائم فعل دے دپاره د زيد نو دلته خو تقديم واجب نه دے.

جواب: مراد زمونږ د فعل نه اصطلاحي دے نه لغوى احترز دا فائده د فعلاله قيد بيانوى چه خارج شو په دې سره دا قول زيد قام ابوه لكه دلته دا قام فعل دپاره د ابوه دے نه دپاره د زيد نو دلته تقديم هم واجب نه شو ځكه التباس نشته وجب تقديمه دا حكم شو شارح وائي اى تقديم المبتداء على الخبر فى هذه الصور غرض د شارح په دې عبارت سره يو تعين د مرجع كوى دويم تعيين د امرينو كوى دپاره د تقديم چه مقدم او مقدم عليه دې يعنى مبتداء او خبر دې دريم دفع د وهم ده چه دا وجب تقديمه به صرف د زيد قام سره وى نو دے وائي نه دا ټولو صورتونو كښ ده او څلورم غرض دليل دپاره د تقديم دهر واحد بيانوى نوپه اول

زيد ذات دے او المنطلق وصف دے نو كه دا مخكښ پاروستو شي خو زيد به مبتداء وى او المنطلق به خبر وى.

جواب: دا مذهب صرف د امام رازى رحمه الله دے چه هغه داخبره كوى چه دا زيد متعين دے دپاره د ذاتية او دا مشتقى متعين دے دپاره د وصفية او نور نحات دا وائى چه دا زيد اگرچه ذات دے خو تعبير بالوصف ترى نه كيدلے شي او المنطلق اگرچه مشتقى دے خو تعبير ترى نه په وصف كيدلے شي په دې شان سره چه د زيد نه مرا مسمى زيد شي او دا المنطلق نه ذات من له الانطلاق نو دلته قرينه نشته دے. او كانا متساوين غرض د ماتن دريم مقام بيانوى او شارح ورسره كانا رواړو اشاره ده چه دايه معرفتين عطف دے او "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وى په معطوف كښ .

سوال: نقض دې راغلو په دې قول باندې چه غلام رجل صالح (بالرفع و الجر) خير منك په دې شان سره چه دا غلام مضاف دے رجل ته نو يو تخصيص په دې سره شو او بيا كه صالح مجرور شي نو دابه صفة شي د رجل دپاره نو دا غلام داسى اسم ته مضاف دے چه توصيف ئې شوى دے نو داهم سبب د زيادة د تخصيص شو نو دا دوه شول. اوكه صالح مرفوع شي نو دا بيا صفة دے غلام دپاره نو غلام كښ تخصيص يو خل په اضافة سره شو او دويم په وصف سره او خير منك كښ صرف يو تخصيص دے چه دې منك سره راغلى دے نو پكار ده چه دلته تقديم د مبتداء واجب نه شي او حالانكه تاسو دلته هم قول په وجوب كړے دے. نو جواب كوى چه زمونږ مراد په تخصيص سره اصل تخصص دے نه چه مقدار د تخصيص دا خان لره خبره ده چه يو كښ تخصيص زيات دے او بل كښ كم. مثال لكه افضل متى افضل منك زمانه بهتر ستانه هم بهتر دے. دلته افضل منى مبتداء ده مقدم ده ځكه كه مقدم نشى نو بياقى د خبر سره التباس راځى. او كان الخبر فعلاله غرض د ماتن څلورم مقام ذكر كوى، للمبتداء دا تعين د مرجع كوى شارح.

سوال: زيد قائم كښ خو دا قائم فعل دے دپاره د زيد نو دلته خو تقديم واجب نه دے.

جواب: مراد زمونږ د فعل نه اصطلاحى دے نه لغوى احترز دا فائده د فعلاله قيد بيانوى چه خارج شو په دې سره دا قول زيد قام ابوه لكه دلته دا قام فعل دپاره د ابوه دے نه دپاره د زيد نو دلته تقديم هم واجب نه شو ځكه التباس نشته وجب تقديمه دا حكم شو شارح وائي اى تقديم المبتداء على الخبر فى هذه الصور غرض د شارح په دې عبارت سره يو تعين د مرجع كوى دويم تعيين د امرينو كوى دپاره د تقديم چه مقدم او مقدم عليه دې يعنى مبتداء او خبر دې دريم دفع د وهم ده چه دا وجب تقديمه به صرف د زيد قام سره وى نو دے وائ نه دا ټولو صورتونو كښ ده او څلورم غرض دليل دپاره د تقديم دهر واحد بيانوى نويه اول

صورت کښې لحاظ د صدارت دے. او دویم او دریم صورت کښې ځکه تقدیم واجب دے چه اشتباه رانشی په مخاطب باندې.

و اما في الصورة دپاره د څلورم صورت وجه بیانوی اوس که دلته تقدیم د مبتداء واجب نه شی نو التباس راځی چه په قام زید کښې دا قام فعل او زید فاعل دے او کنه قام خبر او زید مبتداء دے.

سوال: دا التباس خو په صورت د افراد د فعل کښې رائلی شی خوچه کله فعل تثنیه وی او یا جمع وی نو بیا التباس نه راځی لکه قاما الزیدان او قاموا الزیدون ځکه چه هر کله اسناد د فعل او شی اسم ظاهر ته نو فعل په واحد او مفرد وی نوکه داما بعد فاعل وی نو بکار ده چه قام مفرد وی خو چه دا تثنیه ده او جمع ده نو معلومه شوه چه خبر قاما او قاموا دے او مبتداء موخر ده نو شارح جواب کوی چه دلته هم التباس شته دے که د فاعل سره نه دے خو د بدل عن الفاعل سره التباس دے لکه قاما الزیدان شی نو اوس پته نه لګی چه دا قاما خبر مقدم او الزیدان مبتداء موخر دی او کنه قاما فعل او دا الف مبدل منه او الزیدان بدل نو مبدل منه او بدل فاعل شو نو هم التباس شته دے او دواړه نا روا دی. او بالفاعل علی حاصل ددی جواب دادے چه بعض علماء وائی چه په دې فعل کښې دا الف او واو متعین نه دې دپاره د فاعلیة بلکه دا حروف هم کیدلے شی دپاره د دلالت د دې په تثنیه او جمع باندې لکه په ضاربان او ضاربون کښې چه دی او دغه شان په ضربت هند کښې دا نا شونو اوس بیا التباس راځی چه ایا د قاما کښې دا الف فاعل دے او الزیدان مبتداء ده او کنه دا الف علامه د فاعل ده او الزیدان فاعل دے دغه شان په قاموا کښې هم دے خو دا مذهب ضعیف دے اول دوه غوره دي علی کل التباس په هر صورت کښې راځی.

"واذا تضمن الخبر المفرد" دلته نه یو بل حکم بیانوی دپاره د خبر او دا ټول څلور احکام دي (۱) تقدیم د خبر وجوبادے (۲) تاخیر د خبر ممتنع دے (۳) تقدیم د مبتداء ممتنع دے (٤) تاخیر د مبتداء وجوبا دا درے ضمنا معلوم شول او دا یو حکم صراحة فقال اذا تضمن بیا چه کومو مواضعوا کښې تقدیم د خبر واجب دے نو دا څلور مواضع دی. ماتن اول مقام بیانوی نو وی اذا تضمن یعنی کله چه متضمن وو خبر داسی معنی لره چه د هغی دپاره واجب وی راتلل په اول سر د کلام کښې لکه این زید شو. سوال دا مثال مطابق نه دے د ممثل سره ځکه مثال کښې دا این ظرف دے او دا ظرف مقدر دے په جمله سره کما مر او تا خو اوی چه دلته خبر مفرد مراد دے او دا خو جمله شوه نه مفرد.

جواب: شارح وائی ای الذی لیس زما مراد هغه مفرد دے چه صورة وی او حقیقة که هر څه وی یعنی که متعلق فعل شی نو بیا حقیقة جمله ده او که نه متعلق شبه فعل شی نو بیا حقیقة مفرد دے شارح تعیین دما اوکړو او دپاره د له جار مجرور متعلق متعین کوی او مثال

بیا نوی دپاره د هغه چه صدارت في الکلام ورله واجب وی او دي حکم کښ ثملی ترجی هم ده فزید مبتداء تطبیق کوی د ممثل سره و احترز به غرض د شارح د المفرد قید فائده بیانوی نو که دا خبر صورة مفرد نه وی نو بیا تقدیم واجب نه دے لکه زید این ابوه اوس دلته دا زید مبتداء ده او این ابوه ورله جمله خبر دے دلته خبر چه این ابوه دے ددی تقدیم په زید مبتداء واجب نه دے ځکه ددی تقدیم په هر چا واجب نه دے بلکه چه دی په کومه جمله کښ وی نو هم په هغی ورله تقدیم واجب دے او دلته ئې په هغه جمله کښ تقدیم راغلی دے نو بیا هم صدارت في الکلام شته دے باطل نه دے. شارح هم دا خبره کوی او کان مصححا له دا دویم مقام بیانوی او دپاره د عطف دے او کان عطف دے په "ما" قبل این زید باندې یعنی کله چه دا تقدیم د خبر مصحح وی دپاره د ابتدائیة د مبتداء نو دلته تقدیم د خبر واجب دے ګنې بیا ابتدائیة د مبتداء نه صحیح کیږی لکه رجل في الدار شي نو دلته رجل نکره محضه ده نو دا مبتداء نه شي راتلی او که في الدار مقدم شي نو دابه مخصص شي دپاره د رجل نو بیا به مبتداء واقع شي.

سوال: په دې مثال چه في الدار رجل دے نو دلته دا رجل چه صحیح شوی دے نو دا د وجې د تقدیم د خبر نه ندے صحیح بلکه دا خو ځکه چه ماهیة او حقیقة درجو لیة پری صادق دے چه مذکر من بنی ادم الخ .

جواب: دلته موږ داصیحیح کیدل درجولیة نه یادو بلکه زموږ مراد دپاره د ابتدائیة صحیح والے دے.

سوال: تا اوی چه خبریة مصحح دے دپاره د ابتدائیة نو دا خبره صحیح نه ده ځکه دا خبر خو په رجل في الدار کښ هم راغلی دے سره ددی نه چه دا خو مصحح نه دے دپاره د رجل چه مبتداء شي دغه شان قام زید دلته دا قام راغلی دے نو دلته دا مصحح د ے دپاره د زید چه مبتداء شي خو دے تاخیرواجب دے او مقدم کول د دې خو متنع دي تاخیر ئې واجب دے ځکه که موخر نه شي نو بیا به التباس راشي د مبتدا د فاعل سره .

جواب: شارح کوی چه بتقدیمه چه زما مراد په تقدیم د دې خبر سره دے یعنی چه دا مقدم شي نو مصحح به شي نه نفس وجود دخبر لکه دجل في الدار او دا مثال د زید قام هم خارج دے ځکه دابه تقدیم سره نه دے بلکه په تاخیر سره دے. او لمتعلقه ضمیر في المبتدا دریم مقام بیانوی شارح کان رواړو اشاره ده چه دابه مصححا عطف دے او "ما" قبل د معطوف علیه نه معاد په الخ یعنی په مبتداء کښ داسی یو ضمیر وی چه هغه راجع وی متعلق او تابع د خبر ته نو دلته تقدیم د خبر واجب دے شارح تعین کوی چه ایا دا متعلق بکسر اللام دے او که بفتحها دے نو دا دواړه وئیل جائز دي که په کسری سره شي نو دا به متعلق شي او هغه د چا سره چه متعلق کیږی هغه به ورله متعلق شي. او یا عکس هم کیدلے

شي خو په كسره د لام سره بهتر او مشهور دے او قال به الشارح مثال على الثمرة مثلها زيدا دلته اوس دا الثمرة چه ده نو دا متعلق د دي مجموعه خبر دے او متعلق هم كيدلے شي خو اول بهتر دے اى كان لمتعلق الخبر تعيين د مرجع د ضمير كوى التابع له بتبعية يمتنع غرض د شارح په دې عبارة سره دفع د سوال ده.

سوال: فلا يرد كښ دے خو د فلا ترى نه محفوظ كړئ او يرد سره به اعتراض شي.

سوال: داسى دے چه مصنفه تا خو اوى چه متعلق د خبر دپاره په مبتداء كښ ضمير وى نو تقديم د دې خبر واجب دے نو نقض دې راغلو په دې مثال باندې چه على الله عبده متوكل دلته عبده مبتداء ده او دا ضمير پكښ راجع دے لفظ د الله ته چه دا متعلق د خبر دے چه متوكل على الله مجموعه خبر دے او دلته خو تقديم د خبر واجب نه دے خه. نو شارح دا جواب كوى په مراد زما په متعلق د خبر سره هغه تابع د دې خبر دے چه سره د خپل تبعية نه د دې تقديم په دې خپل خبر باندې ناروا او ناجائز وى. اوس د دې نه دا مثال چه على الله عبده الخ دے دا خارج شو ځكه دا على الله متعلق د خبر دے خو تعلق ئې په شان د ثمرة نه دے د خپل خبر سره ځكه چه دا الثمرة جزء دے د على الثمرة نه نو دا د اسى جزء او داسى متعلق دے چه د دې تقديم په دې خپله مجموعه على الثمرة ناروا دے ځكه كه دا مقدم ئې نو دابه تقديم د شئ وى په خپل نفس باندې او دا خوناروا ده او دلته على الله متعلق د متوكل دے خو داسى نه دے چه د دې په دې خپل متعلق باندې تقديم نه شي راتلى بلكه دا ظرف دے او دې كښ ډير وسعت دے په منزله د محارمو دے هر ځائے په كلام كښ راتلى شي. بالفاظ ديگر زما مراد د متعلق نه لغوى متعلق ملحق دے او تا اعتراض په اصطلاحى متعلق كړے دے نو فلا دخل له فيه.

كائن فى جانب المبتداء شارح جانب لفظ سره د فع د سوال كوى سوال دادے چه تا اوى چه ضمير وى په مبتداء كښ نو مبتداء خو مثلها راغلى ده نو مثل مضاف او ها ضمير مضاف اليه شو او قانون دادے چه مضاف اليه د حكم نه خارج وى او مضاف داخل وى نوپه دې كښ مبتداء دا مثل شو نو دې كښ ضمير د متعلق نشته نو شارح .

جواب: اوكړو چه په طرف او جانب د مبتداء كښ زما مراد دے او داها ضمير په جانب د مبتداء كښ راغلى دے.

راجع الى ذلك المتعلق نو دې سره احتراز راغئ د هغه نه چه راجع نه وى دغه متعلق ته يعنى دې خبر ته نه وى راجع لكه زيد ابوه قائم دلته په ابوه كښ دا هـ ضمير دې قائم ته نه دے راجع بلكه دا دې زيد ته راجع دے.

اذلوا اخر دا دلیل بیانوی فقوله مثلها دا شارح تطبیق کوی د مثال د ممثل سره او کان الخبر عن ان دا خلورم مقام بیانوی یعنی چه کله اَن سره د خپل اسم او خبر نه په تاویل د مفرد سره مبتداء وه او یو بل شیٔ ورله خبر ‌و نو د دې خبر تقدیم په مبتداء باندې واجب دے شارح کان سره الخبر اوی دا تعین د مرجع کوی د کان د ضمیر المفتوحة په درمیان د أن او إن کښ تجنیس خطی وو نو شارح ورله تعریف اوکړو چه ان مراد دے؟

سوال: نو په اعراب به ئې اکتفاء کړی وه کنه تعریف ته څه ضرورت دے؟

جواب: عرب د اعراب خیال نه ساتی نو بیا به التباس راتلو د اَن سره .

سوال: دا أن په مبتداء وی او کنه اسم د أن به مبتداء وی که ان مبتداء شی نو دا خو حرف دے او حرف خو مبتداء نه راځی او که اسم د أن شی نو بیا خو خروج عن البحث لازم شو ځکه موَخر په مبتداء او خبره کښ لګیا یو.

جواب: زما مراد ان نه دے بلکه هغه مراد دے چه شارح بیان کړے دے ای الواقعة یعنی مراد زما خبر د ان سره د اسم د دې نه په تاویل د مفرد سره مبتداء دے نو خروج رانغئ د بحث نه بلکه هغه خبر ده.

سوال: نو داخو لازم شو مبتداء کیدل د جملې او دا خو ناروا دي کما قلنا.

جواب: "ما" اوی چه دابه په تاویل د مفرد سره وی نو نه دے لازم محظور بلکه مفرد به مبتداء وی شارح هم دا وائی چه المؤول بالمفرد اذ فی تاخیره خوف لبس) دا شارح علت د تقدیم بیانوی دپاره د دې صورت حاصل ئې دادے که چرته موئز دلته خبر مقدم نه کړ و نو رابشی التباس د اَن د اِن سره په کتابة کښ ځکه ان مکسوره دا راځی په اول د کلام کښ او اَن راځی په وسط او درمیان د کلام کښ نوکه موئږ دا مقدم کړو او خبر موخر شی نو بیا به التباس لازم شی او دا ناروا ده.

یا به دلته التباس راشی سامع ته په دې شان سره چه ابتدائی کلام لره ځوک دومره توجه نه ورکوی د وجې د غفلة او د ذهول نه نو دابه ځوک إن اوائی او چه بیا سوچ اوکړی نو "ما" بعد به پری نه حمل کیږی نو بیا به کلام لغوشی. نو دې وجې نه به موئږ خبر مقدم کوو. مثل عندی الخ دا مثال ذکر کوی.

سُوال: أن او إن خو دواړه دپاره د تحقیق راځی نو که څه التباس راشی نو ممنوع نه دے.

جواب: فرق پکښ موجود دے په دې شان سره چه إن په جمله داخلیږی او ابتداء کښ راځی او اَن جمله په تاویل د مفردکوی او وسط کښ وی اوس که ځوک عندی انك الخ اوائی نو دا خولازمیږی کون د جملې مبتداء او داناروا ده. ای تقدیم الخبر علی المبتدأ فی جمیع الخ غرض

د شارح یو تعین د مرجع کوی دویم تعیین د مقدم او مقدم علیه کوی چه خبر او مبتدا دي دریم دفع د وهم کوی چه دایو صورت نه بلکه دا تمام صورتونه مراد دی.او وجوه ورله بیان شول.

وقد یتعدد الخبر دلته یو بل حکم ذکر کوی دپاره د خبر او دلته هم دوه حکمه دي (۱) صریحی حکم چه خبر کله کله متعدد واقع کیږی (۲) ضمنی حکم داچه خبر اکثر چه واقع کیږي نو یو وی او وجه دادہ چه دا مبتداء په منزله د ذات ده او خبر په منزله د وصف او دیو ذات دپاره کله کله اوصاف ډیر هم راتلی شی. مثلا یو کس دے چه حافظ، قاری، عالم دری واړه کیدلے شی اگرچه اکثر یو وی.

او دا دوه احکام بیا د کلمی د قد نه معلوم شول چه قد ئ په مضارع داخل کړو نو اشاره ده تقلیل ته چه تعدد د خبر قلیل دے او دا بل کثیر دے. من غیر تعدد المخبر عنه غرض د شارح په دي عبارت سره یا دفع د دي سوال ده چه تا فعل مضارع باندي قد داخل کړو او دا دي اوی چه دا تعدد د خبر کله کله راځی حالانکه تعدد د خبر خو کثیر راځی ځکه هر کلام کښ مبتدا وی او مبتداء بلا خبر نه راځی نو دا خبره دي صحیح نه شوه.

جواب: زما مراد د تعدد الخبر نه هغه تعدد دے چه بغیر د تعدد د مبتداء نه وی او هغه کثیر په هغه وخت کښ چه مبتداء هم متعدد وی لکه یو مبتداء او خبر وی دغه شان بل مبتداء او خبر وی دغه شان بل بیا بل. یا غرض د شارح په دي عبارت سره د فع د یو بل اعتراض ده چه ځنګه خبر متعدد واقع کیږی نو مخبر عنه، مبتداء هم متعدد واقع کیږی لکه هما عالم و جاهل او وهم عامل و غافل و حافظ وغیره شول نو دلته خو تعدد د مبتداء هم راغلی دے نو ولی مصنف تعدد د خبر بیانوی او د مخبر عنه تعدد نه ذکر کوی. نو جواب دلته زمونږ کلام په هغه تعدد د خبر بناء دے چه بغیر د تعدد د مخبر عنه وی هغه تعدد د مبتداء نه بیانوو . حاصل دادے چه دلته په تعدد کښ چند صورتونه دي ، (۱) چه دواړه متعدد وی جدا جدا یو مبتداء ده او ورسره خبر دغه شان بله دغه شان بله او هر یوی سره یو یو خبر دے لکه زید قائم او بل عمرو نائم او بل علی قاریٔ وغیره (۲) مخبر عنه متعدد وی او خبر ورله یو واقع شوی وی نو دا نه دے جائز (۳) چه دواړه متعدد وی او جدا جدا نه وی بلکه یو کلام کښ وی نو داخو صحیح دے واقع کیدلے شی خو دلته مونږ دا بیان نه کوو. (٤) صرف خبر متعدد وی او مبتداء موحده وی نو دلته مونږ هم دا بیان کوو.

فیکون اثنین فصاعدا یعنی دا تعدد د خبر بیا دوه هم راتلی شی او ډیر هم راتلی شی. و ذلك التعدد غرض د شارح خو یو راتلونکی متن ته تمهید کیښودل دي دویم غرض د شارح اعتراض ته تمهید ایښودل دي دریم غرض د شارح د تعدد د خبر تقسیم کوی نو تعدد د خبر دوه قسمه دے یو قسم هغه چه تعدد هم په اعتبار د لفظ او معنی سره وی دویم قسم هغه دے چه

په اعتبار د لفظ سره تعدد وی فقط نه په اعتبار د معنی سره مثلا زید عالم و عاقل نو دلته تعدد لفظا معنی دواړه دے نو عالم ذات من له العلم او عاقل ذات من له العقل ته وائی نو جدا جدا دی. و یستعمل طریقة د استعمال ورله بیانوی چه په حرف عطف سره هم او بغیر د عطف نه هم جائز دے لکه ماتن مثال د غیر عطف بیان کړے دے او هذا حلوحامض مثال د هغه خبر دے چه تعدد یکښ معنی نه وی او لفظا وی ځکه د حلوحامض دواړو معنی ده چه اثبات دیو حالت متوسط دپاره د مبتداء چه اشاره اوکړی مخاطب ته چه راشئ نه خالص تریخ او نه خالص خوږدے بلکه دواړه پکښ من وجه دی،نو دی وائی فانهما خبر واحد ورنه وائی لکه مر او ددے دپاره مثال شو ملی دی ادا حلوحامض شو .

سوال: دا خو اجتماع د متضادینو راغله چه هم دی یو شئ حامض او حلو وی.

جواب: اوشو چه مراد داده دے چه په هر جزء کښ حلوت او حموضة دواړه دی بلکه من وجه یکښ دواړه دی چه عبارت دے د اثبات د حالة متوسط نه الخ. نو اجتماع د نقیضینو هغه ناروا ده چه په جهة واحده سره وی دلته جهتین دی وفی هذه الصورة طریقه د استعمال بیانوی چه دلته هم هغه دوه طریقی دی خو ترک د عطف یکښ اولی دے ځکه په حقیقة کښ تعدد نشته او حرف عطف دلالت کوی په تعدد باندی و نظر بعض النحاة عطف جائز ګرځولی ده لکه دا مذهب د ابو علی فارسی دے او اول مذهب د جمهورو دے. حاصل هم دا دے.



دریم خبره چه تمهید وو اعتراض ته نو اعتراض دادے چه د اول قسم استعمال په دوه طریقو باندی جائز دے نو څه وجه ده چه ماتن مثال د بدون العطف بیان کړو او دا بل مثال ئی پرینښودو تو شارح . جواب کوی چه ولا یبعد یعنی مصنف مثال دهغه بیان کړو چه یکښ تعدد وی لفظا او معنی دواړه او بغیر د عطف نه وی او دا بل مثال چه مع العطف دے نو هغه ظاهر دے پټ والے پکښ نشته دے نو ذکر ئی نه کړو دغه شان د هغه مثال ئی هم بیان نه کړو چه مبتدا ورسره هم متعدد وی ځکه دی کښ هم خفاء نشته او هغه چه مبتداء ورله متعدد وی او خبر مفردنو دانه راځی مکمل نو دانی ځکه ذکر نه کړو. وایضا (۲) هغه مثال چه په عطف سره وی نو هغه تعلق ساتی د توابعو سره او داروستو راځی نو مصنف ورله مثال پرینښودو ولو جعل التعدد ادا دفع دیو سوال ده چه په دی دویم جواب باندی

راځي چه ستا دا دويم جواب خو هغه وخت صحيح دے چه کله مقصد د ماتن د تعدد نه خاص تعدد مراد شي يعنې هغه تعدد چه بغير عاطف وي او که مقصود دا دواړه شي نو بيا ولې مثال نه راوړي؟

جواب: کوی که چرته تعدد عام مراد شي نو بيا اول جواب دے يعنې بيا اقتصار کول دي مثال کښ د وجې د خفاء نه دی او هلته خفاء نشته.

بيا دلته داخبره هم ده چه تعدد يو بل هم شته دے چه هغه واجب دے او دايه هغه مقاماتو کښ راځي چه مبتداء تثنيه او يا جمع وی لکه هما عالم و جاهل نو دلته تعدد بحرف العاطف واجب دے ځکه که دلته عطف اونشي نو مطابقة نه راځي په مبتداء او خبر کښ او بغير د حرف عاطف نه دا ناروا دے ځکه چه اصل کښ دا مثال دے دپاره د تعدد د مبتداء او خبر او ددې اصل دادے چه احدهما عالم و الاخر جاهل چونکه متکلم په مخاطب باندې دا زعم کوی چه دې پوهيږي چه عالم کوم دے او جاهل کوم او دې سره دفع د سوال اوشوه سوال دادے چه دا عالم او جاهل څنګه عطف کوی په هما باندې يو خو مطابقة نشته دويم حمل د متضادينو دے نو جواب اوشو چه دا عبارت خلق په صورة د اختصار کښ بيانوی او اصل عبارت هم دادے چه احدهما عالم والا خر جاهل نو دلته هيڅ اشکال نشته وقد يتضمن المبتداء معنى الشرط. کله چه فارغ شو مصنف د بيا نولود هغه احکامو نه چه خاص وو د مبتداء او خبر سره نو اوس ئې شروع اوکړه په هغه احکامو مشترکو اوس دلته دوه حکمه دي (۱) صريحي (۲) ضمنی صريحي داچه بعض وقت کښ مبتداء متضمن ګرځي معنى دشرط لره نو خبر کښ فاء راوړل صحيح کيږی او ضمنی دا حکم معلوم شو چه اکثر چه مبتدا واقع وی نو دا متضمن نه وی معنى د شرط لره او فاء ئې په خبر کښ نه وی او دا دواړه مستفاد د قد نه دي چه داخل دے په مضارع باندې معنى الشرط دا اضافة د معنى دشرط ته بيانيې دے يعنې هغه معنى څه خو شرط دے او يا اضافة لاميه دے نو معنى کښ عموم دے او هغه معنى چه پکښ شرطية وی نو دې کښ خصوص دے نو اضافة د عام شو خاص ته يعنې معنى د شرط وهو سببية . غرض د شارح معنى شرط کوی چه معنى د شرط دادہ چه اول سبب وی او ثانی مسبب وی.

سوال: زه په درته اوښائم چه مبتداء به متضمن وی معنى د شرط لره او خبر کښ به ئې فاء راغلې وی او اول به سبب د ثانی نه وی بلکه عکس به وی يعنې دا ثانی به سبب وی دپاره د اول لکه وما بکم من نعمة فمن الله دلته دا "ما" موصوله ده بکم صله ده او دا متضمن شو معنى د شرط لره حالانکه داکون د نعمة په عبادو باندې سبب نه دے دپاره د نعمة من الله بلکه کون د نعمة من الله سبب دے دپاره د الصاق د نعمة بالعباد.

جواب: او للحكم به حاصل دادے چه دلته تعميم دے چه يا دا اول سبب دپاره د ثاني وي او يا دا اول سبب دپاره د حكم وي په ثاني بانديې نو دلته الصاق د نعمت په عبادو سبب نه دے دکون د نعمت من الله بلكه د حكم دپاره دے يعنى سبب دپاره د دي دے چه دا الصاق د طرف د الله نه دے دلته دا خبره ده چه دا معنى د شرط كول نو دا عند ابن الحاجب دے او شارح دلته ذهاب د ده په رائ بانديې كړے دے او شارح رضي داخبره كوى چه مقصد د شرط او جزاء دانه دے بلكه شرط ملزوم او جزاء ورسره لازم يعنى ملزومية د اول دپاره د ثاني چه دابه لازم وي او شارح به هم دې لره ترجيح وركوى په باب د كلم المجازات كښ چه دا معنى شي نو بيا دا اشكال نه راځى ځكه چه دا الصاق د نعمت به ملزوم او دامن الله به لازم شي يعنى چه نعمت به عبادو بانديې د الله د طرفنه دے فيشبه المبتداء دا وجه او علت بيانوى چه مبتداء مشابهة ساتى د شرط سره چه كله متضمن شي معنى د شرط لره او خبر مشابه شو د جزاء سره نوپه جزاء بانديې فاء داخليږي نو دلته به په خبرهم راځى و يصح عدم دخوله به يعنى كه تضمن سره توجه وركړى مشابهة لره نو فاء راوړه او كنه نفس تضمن شي بلا مشابهة نو فاء مه راوړه.

سوال: كه چرته د متكلم په ذهن كښ دا مبتداء متضمن مشابه وي د شرط سره نو فاء راوړل خو بيا واجب دي اوكه د عدم مشابهة قصد كړى وي نو بيا راوړل د فاء صحيح نه دي نو دا نيصح دخول الفاء صحيح نه شو يا خو يجب پكار وو په وخت د قصد كښ او يالا يجوز چه قصد ئ نه وو كړى.

جواب: شارح كوى چه زمونږ ا كلام بناء دے په هغه وخت كښ چه دا كلام ده متكلم راغستے وى په مرتبه د "لا" بشرط شئ كښ يعنى نه ئ قصد د مشابهة او نه ئ قصد د عدم مشابهة كړى وى. نوكه قصد ئ كړى وو نو بيا خو واجب اوكنه وو نو نه راوړل واجب دى.

و ذلك غرض د ماتن هغه مواضع ذكر كوى چه دهغى د مبتداء په خبر كښ فاء راوړل صحيح وى اولا او بيا دهغى دپاره امثله بيانول دې ثانيا او بل دفع د اعتراض كول دې ثالثا او بيان الاختلاف دے رابعا نو څلور اغراض شول مواضع دهر يو غرض نو اول په ذلك الاسم الموصول سره دويم مثل الذى الخ سره دريم وليت و لعل سره څلورم و الحق بعضهم ان سره.

نو غرض د شارح خدمت كول د متن دي نو څلور مواضع به شارح بيان كړى نو ۴ + ۴ = ۸ نو دوى به په جمع سره هغه مواضع بيانوى.

بيا دلته ماتن اتيان په ذلك سره اوكړه دا ځكه چه په درميان د قد يتضمن المبتداء او د الاسم الموصول بفعل او ظرف كښ فصل راغلى وو په فيصح د خو الفاء فى الخبر سره نو بعد راغلى وو نو دهغى د وجى نه اسم اشاره بعيد راغله او شارح ورله مشار اليه متعين كوى الاسم الموصول شارح ورسره اما راوړو ځكه كله چه عطف په او سره اوشي نو دا معطوف عليه په سر

کښې اما راوړل بهتر دي. بفعل او ظرف چه صله يا جمله فعليه وي يا ظرفيه نو دا دوه مقامه شول.

سوال: دا عبارت د ماتن صحيح نه دے ځکه دا اسم موصول خو صله غواړي او هغه جمله وي او فعل او ظرف خو صله نه وي نو شارح جواب کوی چه مراد دلته جمله فعليه او ظرفيه ده يعنی ذکر د جزء دے او مراد د کل دے.

سوال: چه کوم وخت د ظرف متعلق فعل شي نو دا بيا جمله شوه عند البصرين ليکن عند الکوفين خو متعلق شبه فعل وي نو بيا ورته جمله وئيل نه دي صحيح شبه فعل خو جمله نه وی شارح جواب کوی چه ههنا بالاتفاق چه دلته کوفيان د بصريانو سره دي اتفاق دے. په متعلق به فعل ی.

سوال: داخبره ولی شرط کوئ.

جواب: عنه وانما اشترط سره يعني د وجی د قوة د مشابهة نه شرط شوه.

سوال: زه به درته او ښائم چه مبتداء به موصول بفعل او ظرف نه وی او خبر کښې به فاء وی لکه قال تعالیٰ قل ان الموت الذی تفرون فانه ملاقيکم دلته فانه ملاقيکم خبر دے او الموت موصول نه دے او فاء راغلی ده فاجاب عنه ....و في الاسم المذکور يعنی هغه اسم چه صفة ئې په موصول بفعل يا ظرف دے هغه هم دا حکم لری نو دوه نور مقامات شول. دا څلور مقامات شول دوه ماتن او دوه شارح ذکر کړل. او النکرة الموصوفة بهما دا دوه نور مقامات دی. چه مبتداء نکره ده او صفة ورله موصول بفعل يا ظرف دے بيا شارح وائی ای باحدهما دا مقصد د عبارت واضح کوی چا به داوهم کوو چه مبتداء نکره واقع شی نو دهغی دپاره به صفة موصول بفعل او ظرف دواړه په يو وقت کښ وی نو شارح اوئ چه نه بلکه يو مراد دے ځکه عطف اوسره دے نو يو مراد دے.

سوال: ماتن لره پکار وو چه ضمير د مفرد ئے راوړی وی ځکه چه عطف په کلمة د او سره اوشي نو ضمير د مفرد راوړی چه راجع وی احدهما ته نو بهما نه بلکه به پکار وو.

جواب: دلته ماتن ضمير د تثنيه راوړو اشاره ده يو قانون ته هغه دادے چه کله عطف په اوسره اوشي نو د دواړو طريقی پکښ جائز دي که ضمير د تثنيه وی او يا د مفرد.

سوال: نو زه به درته اوښائم چه مبتداء به نکره نه وی او صفة به ئی نه موصول بفعل وی او نه بظرف او خبر کښ به فاء راغلی وی لکه کل غلام رجل يا تیتي فله درهم اوس دلته کل غلام مبتداء ده او مضاف دے رجل ته او خبر کښ فاء راغلی ده نو شارح جواب کوی چه دي حکم کښ هر هغه اسم هم دے چه مضاف وی موصوف په موصول بفعل او ظرف ته نو دا دوه

نور مقامات شول چه مبتداء نكره وى او مضاف وى داسى نكرى ته چه هغه موصوف وى په موصول بفعل سره او يا موصوف وى په موصول بظرف سره نو دا ټول اته مواضع شوئ.

مثل الذى غرض د ماتن امثله بيانوى دپاره د څيلو څلورو مقاماتو او شارح به ورسره دهغه څيلو څلورو مقاماتو دپاره هم امثله بيان كړى واو ورسره به تطبيق هم اوكړى، الذى ياتينى شارح وائى چه د موصول بفعل مثال دے بيا مائن فى الدار اوى او شارح ورسره الذى راوباسو اشاره ده چه دا عطف دے په ياتينى پاندې او "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وى په معطوف كښې نو دا مثال د موصول بظرف شو. و اما مثال د څيلو دوه مواضعوو بيان كوى لكه دا ايت شو دلته الموت موصوف په موصول بفعل دے او مثال دپاره د موصوف په موصول بظرف داسى دے چه قل ان الموت الذى فى الدنيا فانه ملاقيكم و مثل كل رجل شارح ورله تطبيق كوى.

سوال: دا مثال د ممثل سره مطابق نه دے ځكه چه مبتداء كل واقع شوى ده او ياتينى يا فى الدار صفة د رجل واقع شوى دے چه مبتداء نه ده.

جواب: اصل كښې مبتداء هم دا رجل دے او كل دپاره دا حاطه را ورى دے اوس دا اته مقامات اجمالا داسى دى. (١) مبتداء اسم موصول وى او صله جمله فعليه وى (٢) مبتداء اسم موصول وى او صله جمله ظرفيه وى (٣) مبتداء داسى اسم وى چه صفة ورله اسم موصول بفعل واقع شوى وى (٤) مبتداء داسى اسم وى چه صفة ورله اسم موصول بظرف وى (٥) مبتداء نكره وى او صفة ئى فعل وى (٦) مبتداء داسى اسم وى چه صفة ئى ظرف وى. (٧) مبتداء داسى اسم وى چه مضاف وى نكرى ته چه دهغى صفة فعل وى (٨) مبتداء داسى اسم وى چه مضاف وى داسى اسم ته چه دهغى صفة ظرف وى.

فائدة(او لنكرة الموصوفة بهما) دلته دا هما ضمير صرف فعل او ظرف ته راجع دے دې سره اسم موصول نه دے مراد.

وليت و لعل مانعان بالاتفاق كله چه فارغ شو مصنف د امثلو د هغه مواضعو ځائنو نه نو شروع ئى اوكړه په دفع د اعتراض پاندې.

سوال: دادے چه زه به درته اوښائم چه مبتداء به اسم موصول وى اوپه خبر كښې ورله فاء راوړل به ممتنع وى. لكه ليت الذى ياتينى ياتى الداره درهم نو دلته فله درهم ممنوع دے حالانكه مبتداء اسم موصول بفعل و ظرف ده دغه شان په لعل كښې هم ده نو ماتن جواب كوى حاصل دادے چه مونږ خو دا وئيلى دي چه مبتداء اسم موصول بفعل او ظرف وى نو خبر كښې فاء راوړل صحيح دي خو داپه هغه وخت كښې چه مانع نه وى او كه مانع وو نو بيا د فاء راوړل نا روا دي لكه ستا د امثله شول او د منع وجه راځى.

يا ربط داسې هم كيدلے شي چه كله فارغ شو مصنف د هغه مواضعو نه چه دهغې خبر كښې فاء راوړل صحيح وي او دهغې د امثلو نه نو اوس ئې دهغه مواضعو په موانعو كښې شروع اوكړه فقال وليتّ و لعل شارح واق من الحروف المشبهة غرض د شارح تعيين كوي د ليت او لعل چه دا د حروفو مشبه بالفعل نه دي.

سوال: نو دا خو موږ ته معلومه ده چه دا د حروف مشبه بالفعل نه دي.

جواب: دلته وهم راتلې شي څکه دا ليست په كتابة كښې د ليت سره او لعل د علي يعلو سره مشابهه لري نو څکه ئې تعين اوکړو دغه شان دا لعل د حروفو جارونه هم دے نو فاحتاجا الى التعين

سوال: دا خو خروج عن البحث لازم شو څکه بحث خو د مبتداء او خبر دے او دا خو حروف مشبه بالفعل دي.

جواب: عنه اذا دخلا على المبتداء يعني مطلقا بحث د ليت او لعل ندے مراد بلكه چه كله داخل شي په مبتداء او خبر الذي يصح د خول الفاء دا ورله د قريب سره ربط بيانوي چه دا مبتداء هم مطلق نه وايم بلكه هغه چه په خبر ورله دخول د فاء صحيح وي. مانعان دي لان صحة دخوله عليه غرض د شارح وجه بيانوي د عدم دخول د فاء په خبر د هغه مبتداء چه دخول د فاء دهغې په خبر صحيح وي نو حاصل ئې دادے چه مبتداء په خبر كښې موږ د خول د فاء څكه وبل چه دا متضمن وي معنى د شرط لره نو مبتداء مشابه وي د شرط سره او خبر ئې مشابه وي د جزاء سره او ليت او لعل دا مشابهة زائل كوي څكه دا دواړه كلام د اخبار نه انشاء ته اړوي څكه ليت او لعل دپاره د تمنى او ترجي دي چه دا دوه قسمه د انشاء دي. نو چه مشابهة ختم شونو د فاء راتلل هم ختم شو. سوال د اليت او لعل خو مشابهة نه ختموى څكه مشابهة په هغه وخت زائل وي چه د اول سبب او ثاني مسبب نه وي حالانكه دا پخپل حال باقي دي نو دا څنگه د مشابهة نه وتلي دي.

جواب: مراد زموږ د مشابهة نه مشابهة كامله دے او دا مشابهة كامله په اخبار كښې وي په انشاء كښې ناقص وي و ذالك المنع غرض د شارح تعين د متعلق كوي دپاره د بالاتفاق جار مجرور څكه په درميان كښې شرح واقع شوي وه نو شارح ورله متعلق متعين كرو چه د مانعان دے او اتفاق د نحاتو مراد دے فلا يقال تفريع ده فان قيل.

سوال: باب دكان او بايد علمتُ كښې هم اتفاق د نحاتو دے چه داهم مانع دي د دخول د فاء نه نو هغه به دي هم ذكر كړي وو كنه قيل سره جواب دے حاصل داد دے چه زه مطلق اتفاق نه بيانوم بلكه مراد د اتفاق نه اتفاق دے په حروف مشبه بالفعل كښې نو ر اتفاق نه چه هر اتفاق دي بيان كړو. انما خبره داده بلكه نه ده وو جه ذلك التخصيص دا دفع ديو بل

سوال دہ چہ دا اتفاق په حروف مشبه بالفعل کښې دې ولې خاص کړو هغه نور ولې نه بیانوی نو شارح.

جواب: کوی چه دا تخصیص د دې مې خکه اوکړو چه دا حروف مشبه بالفعل نه ټولو کښې اختلاف دے اونه ټولو کښې اتفاق دے بلکه شپږ حروف دې او اختلاف اتفاق دواړه پکښې جمع دې په خلاف د باب د کان او علمت چه هلته صرف اتفاق دے نو دا حروف مشبه بالفعل دهغې نه ډیر مهتم بالشان وی الحق بعضهم څلورمه خبره بیان داختلاف دے چه دا إن موانع نه دې او کنه نه دی. نو فقال والحق نو ان ملحق او لیت لعل ملحق بهما او علة د الحاق فی المنع عن دخول الفاء شو. نو کویا چه ان مشبه او لیت لعل مشبه به او الحق اداة د تشبیه او فی المنع ورله وجه د شبه شوله. په دې مقام کښې یو خبره داده چه دا بعض څوک دی؟ او دویم دلته اختلاف دے نو دلته اهتمام دهغه پنځو امورو دے نو تقریر دهغی.

اوله خبره چه د بعض نه څوک مراد دي نو دې کښې اختلاف دے عبد القاهر جرجانی وائی چه دې نه مراد سیبویه دے او شارح هم دا وائی او ابو البقاء او علامه عبدی وائی چه د بعض نه مراد اخفش دے نوپه نزد د جرجانی صاحب سیبویه وائی چه دا إن ملحق دے د لعل سره او اخفش وائی نه دے ملحق او عند ابي البقاء او عبدی صاحب اخفش وائی چه دا إن ملحق دے د لیت سره او سیبویه وائی چه نه دے ملحق اوس دې کښې ترجیح چالره ده نو شارح رضی ترجیح ورکوی دی دویم قول لره خکه چه سیبوه امام البصرة او رئیس النحاة دے دې خلاف د عقل او نقل نه کوی خکه دا د عقل او نقل خلاف ده چه ان مانع دے نقل داسې چه قران کښې الله وائی ان الذين كفروا وماتوا وهم كفار فلن يقبل من احدهم مل الارض. او عقلا داسې ده چه یو لوے امام داسې خبره نه کوی چه هغه خلاف د کلام الله او د کلام د فصحاء نه وی علاوه "لا" داخیره کوو چه سیبویه په خپل کتاب کښې چه مسمی دے په الکتاب سره هم دا امثله بیانوی چه قل ان الموت الذی فانه ملاقیکم نو دا خو د خپل مخالف تائید کول دي لهذا دا قول ثانی راجح دے چه مراد اخفش دے اوس دوېمه خبره نو دلته لاېدی ده د امور خمسو نه.

تحریر د محل النزاع: کله چه ان او ان داخل شي په مبتداء باندې چه هغه متضمن وی معنی د شرط لره نو دوی دخول د فاء منع کوی او کنه؟

تعن د مختلفین: نو دوه مذهبه دي څوک وائی چه سیبویه دے مراد دے د بعض نه او مقابل اخفش دے او څوک عکس وائی چه مراد د بعض نه اخفش دے او مقابل سیبویه دے.

دعوی دهر واحد: نو عند البعض اخفش وائی مانع نه دے او سیبویه صیب وائی مانع دے او عند البعض خبره عکس ده.

دليل دهو واحد: چه څوك وائي چه مانع دے نو دوه دليله لرى عقلي او نقلي عقلي دليل خو دادے چه إن دپاره د تحقيق دے او تاكيد دے او شرط دپاره د تردد او شك راځي نو ان ادا مشابهة ختموى څكه د ان او د شرط په درميان کښ منا فاة دي ان للتحقيق و التاكيد دے او شر ط کښ تردد دے نو څنګه چه ليت او لعل مشابهة ختموى او كلام د اخبار نه اوباسى انشاء ته نو داسى ادا ان هم دے چه د شك او د تردد نه ئې اوباسى تحقيق او تاكيد ته اونقلي دلائل د قران نه دي الله فرمائي ان الذين امنوا وعملوا الصلحت لهم اجرهم. او دغه شان لهم جنات تجرى نو فلهم نه دے راغلى بلكه لهم دے او د دوى مقابل هم دوه دليله لرى عقلي او نقلي عقلي دليل دادے چه ادا إن او إن نه اوباسى دي كلام لره د خبرية نه انشائية ته بلكه په حال باقي دے نو مشابهة شته دے نو فاء راوړل صحيح دي او نقل ورسره د قران نه دے لكه الله فرمائي ان الذين كفروا و ماتوا و هم كفار فلن يقبل. و اعلموا انما غنمتم من شئ فان الله خمسه و غيره ايات دى.

ترجيح دما هو الراجح: شارح به پوره جوابات اوكړى او ترجيح هغه چا لره ده چه هغو وائي دامانع نه دے جوابات روستو عبارت کښ راځى.

عبارت: قيل وهو سيبويه سوال على الشارح چه اصح قول خو دادے چه مراد د بعض نه اخفش دے نو ته څنګه سيبويه اخلي؟

جواب: شارح خو خپله نه دي وئيلى بلكه قيل په صيغه د تمريض سره ان المكسورة تعريف دپاره د إن كوى څكه په إن او أن کښ تجنيس خطى دے بهما اى بليت تعين د مرجع كوى و الا صح سره ترجيح وركوى فلن تقبل توبتهم دلته شارح نه غلطى شوى ده څكه فلن يقبل من احدهم مل الارض دے نه چه توبتهم اوس جوابات دهغو مرجحينو د ادلونه نو دهغى عقلي دليل نه جواب دادے چه ادا شرط حقيقي نه دے بلكه مشابه دهغى سره دے علاوه لادا راوايو چه په تحقيق راتلو سره دغه شرطية د مشابهة نه نه اوځي.

څكه تعليق په هغه نسبة کښ دے چه په درميان د شرط او جزاء کښ دے نه په هغه نسبة کښ چه په شرط او جزاء کښ دے نو د تحقيق منافاة نشته د دغه شرط سره او هر چه دليل نقلي دے نو مونږ خو لفظ د صحة وئيلى دے چه راتلل او نه راتلل دواړه جائز دي څه واجب او لازم خو نه دي نو څكه دي اياتونو کښ نه دي راغلى نو ادا دليل د دي نه دے چه راتلل ئې صحيح نه ئي.

فان قيل قد الحق غرض د شارح سوال دے په ماتن باندي چه څنګه اختلاف په إن کښ دے نو دغه شان په أن او لكن کښ هم دے نو هغه ولى نه بيانوى قيل سره جواب دے حاصل دادے چه ان کښ كوم اختلاف وو يو په هغى کښ يو جانب ته سيبويه وو او بل جانب ته اخفش وو نو ادا اختلاف مهتمم بالشان وو نو ذكر ئې كړو او هر چه ادا اختلاف دے په ان او

لکن کښ نو دا د نور نحاتو په درمیان کښ دے نو ذکر ته حاجة نشته دے. علاوه ده داخبره هم کوو چه دا دواړه اقوال د قران موافق نه دي اونه د کلام د فصحاء. لکه د ان مثال دغه ایت شو او د ان دپاره هم ایت دے (واعلموا انما غنمتم فان الله) او د لاکن مثال داقول د شاعر دے.

فوالله "ما" فارقتکم قالیا لکم و لکن "ما" یقضی فسوف یکون

وایٔ قسم په الله دے چه زه نه یم جدا شوی ستاسو نه په داسی حال کښ چه بغض می کوو تاسو سره ولکن لیکن هغه شئ چه دهغی فیصله شوی وی نو هغه واقع کیږی . دلته لکن په کلمه د "ما" موصوله داخل دے او فسوف کښ فاء ده

الفائدة الجلیلة العلمیة.

دا ماتن چه کوم کلام ذکر کړی دے نو دي سره یو بل قیدهم دے بیا به اشکال دفع شی هغه داچه یو خو تضمن د مبتداء دے معنی د شرط لره او دویم دا قید چه دا خبر ترتب په مبتداء باندې صحیح وی نو دخول د فاء به راځی.

اوس دي قید سره دا اشکال ختم شو. چه د قران دا خو ایات لکه ان الذین کفروا وماتوا وهم کفار فلن یقبل من احدهم. دلته فاء راغلی ده او ان الذین کفروا بعد ایمانهم ثم ازدادوا کفرا لن تقبل توبتهم نو دلته فاء نه ده راغلی نو دا دواړه خو ایات دي او دواړه د سورة ال عمران ایات دي او یو ځائے کښ فاء راغلی ده او بل ځائے کښ فاء نه ده راغلی. نو هم دا جواب دے چه دلته قید د ترتب دے اوس هغه اول مثال چه فاء پکښ راغلی ده نو هلته ترتب صحیح دے لکه دا ایت شو ان الذین کفروا وماتوا وهم کفار فلن یقبل. اوس دلته عدم قبول مرتب دے په موت د دوی باندې په حالت د کفر کښ یعنی چه دوی مړه شوی دي په حالت د کفر کښ نو چرته به هم د دوی نه فدیه وانه اخستلے شی نو داخبره په دي باندې مرتبه ده او صحیح ده او هر چه هغه ایت دے چه فاء پکښ نه ده راغلی نو دهغی ترتب نه دے صحیح لکه دا ایت دے چه ان الذین کفرواس بعد ایمانم ثم ازدادوا کفرا لن تقبل توبتهم دلته اوس ترتب صحیح نه دے د عدم قبول د توبې په زیادة د کفر باندې یعنی داسی نشی کیدلے چه دوی دي ډیر کفراوکړی او توبه دي بیا نه قبلیږی بلکه که هر څومره کفر اوکړی خو که توبه اوباسی نو دابه قبلیږی. نو دا ترتب صحیح نه دے نو دي ایت کښ هغه شئ حذف دے چه دا لن تقبل پری مرتب نه دے چه هغه ماتوا دے یعنی چه دي کفر حالت کښ مړه شول نو بیا توبه نه قبلیږی نو اوس ترتب صحیح شو نو فاء هم راوړل صحیح دی.

نو حاصل دادے چه یو ایت کښې ترتیب صحیح دے نو فاء شته دے او بل ایت کښې ترتیب نشته نو فاء هم نشته او که دا قید پکښې دماتوا زیات شي نو بیا د فاء راوړل دلته هم صحیح دی.

و قد یحذف المبتداء کله چه فارغ شو مصنف د احکامو د مبتداء نه چه وجو دي وو نو اوس احکام د مبتداء عدمی ذکر کوی ځکه حذف د مبتداء معدوم کول دی.

سوال: عدم خویه ممکناتو کښې مقدم دے په وجود باندې نو دا حکم مقدم کول پکار وو.

جواب: عدم دوه قسمه دے . (۱) اصلی (۲) عارضی نو عدم اصلی په ممکناتو کښې په وجود مقدم دے او عدم عارضي او طاری دا روستو دے د وجود نه یعنی چه مبتداء اول موجود شي نو بیا به معدوم کولے شي چه نه وی موجود نو څه معدوم کوی. بیا دلته دوه احکام دمبتداء ذکر کوی یو صریحی چه مبتداء بعض وخت کښې حذف کیږی او دویم ضمنی چه اکثر به مبتداء مذکور وی او دایه مبتداء کښې اصل دے نو دوه خبری راغلی یو داچه اصل په مبتداء کښې ذکر ولې دے؟ او دویم کله کله حذف ولې کیږی؟ نو اصل په مبتداء کښې ذکر ځکه دے چه فائده اسهله . اکمله او اشمله په ذکر د مبتداء کښې ده او حذف خو لقیام قرینة کیږی په وقت د حصول د قرینه کښې.

سوال: مبتداء خو جزء عمده د کلام دےاو حذف د جزء عمده د کلام نه ناروا دی.

جواب: حذف د جزء عمده د کلام دوه قسمه دي (۱) بلا قرینه (۲) مع القرینه نو که اول ناروا دے خو ماکړے نه دے او چه ماکړے دے نو هغه ناروا نه دے نو قرینه به وی بیا که لفظی وی او که عقلی وی بیا دلته داخبره ده چه کله مبتداء حذف کیږی نو یو به قرینه وی په نفس حذفیة باندې دویم په تعین د محذوف قرینه وی. دریم علة او سبب د حذف نو علت او سبب د حذف خو عام طور باندې تخفیف وی او نفس حذفیة باندې قرینه استعمال د مفرداتو وی په کلام د عربو کښې او دا مخدوش دي یا پری اعراب وی. او قرینه په تعین د محذوف خو یا د لفظ نه معلومیږی او یا په عقل سره یعنی لفظی او یا عقلی وی. او دلته مراد د قرینه لفظیة او عقلیة نه هغه قرینه ده چه په تعین د محذوف وی جوازا دا حکم بیانوی بیا علت د نصب د دي خو معلوم دے او مر مرارا او بیا دا صفة دے د حذفا او دا جائزا شو او مر "ما" علیه من الاشکالات غیر مرة "لا" واجبا د دي قید فائده ده ځکه وجوب هغه ځائے کښې وی چه قرینی سره سد مسدهم وی د محذوف نه و قد یجب حذفه غرض د شارح دفع د سوال ده. چه ستا د کلام نه معلومه شوه چه حذف د مبتداء صرف جوازا راځی او وجوبا نه راځی حالانکه موږ خو اوریدلی دي چه وجوبا هم راځی لکه الحمد الله اهل الحمد کښې هو مبتداء وجوبا حذف ده دغه شان نعم الرجل زید کښې هم هو دے نو شارح جواب کوی چه زموږ مراد د حذف د مبتداء نه هغه ده چه کثیر وی که واجب وی او که

جائز خو چه کثیر وي او څکه خو ماتن د واجب الحذف ذکر اونکړو.څکه دا قلیل ده صرف په دوو مقاماتو کښې راځي، یو هغه ځائے دے چه کله قطع د ناعت مجرور اوشي د منعوت څپل نه په رفع سره او دویم په فعل مدح او ذم کښې هم حذف کیدلے شي څکه خو پرې قد داخلوي.

الحمد الله اهل الحمد دلته دا اهل الحمد مجرور پکار وو څکه دا صفت دے دپاره د الله او هغه مجرور دے خو دلته د دې قطع اوشوه د الله نه او دامر فوع شو، او خبر دے د مبتداء محذوف چه هو دے.و انما وجب غرض د شارح په د ی عبارت سره وجه د وجوب د حذفیة بیانوي دلته قرینه په نفس حذفیة باندې استعمال د مفردو چه د اهل الحمد مفرد دے او استعمال د مفرداتو خو مخدوش دے نو عقل اوی چه څه حذف دې او سد مسد دادے چه غرض په دابی مقاماتو کښې مدح کول وي په کامله طریقه سره نو دا قائم مقام شو د مبتداء محذوف نه نو حذف د مبتدا واجب شو لقصد المدح او الذم او غیر ذلك. د مدح مثال خو الحمد لله اهل الحمد شو او د ذم مثال لکه من الشیطان الرجیم او د ترحم مثال لکه مررت بزید المسکین شوفلو ظهر که مبتداء ظاهر شي نو بیا دا اغراض نه ښکاره کیږي څکه چه بیا به څوك دا ګمان اوکړي چه دا ځان له جمله ده او دا دوه ملې دي الحمد لله ځان له او هو اهل الحمد ځان له جمله ده او چه کله حذف شي نو دا کلام به غیر مانوس شي نو خلق به سوچ او فکر اوکړي نو ترحم یا مدح او یا ذم ته به توجه راشي.

سوال: نو دا مدح، ذم او ترحم خوپه صورة د صفة کښې هم حاصلیدی شي چه دا مجرور شي نو صفة به شي نو دا ولې مرفوع کوے

جواب: زمونږ مراد د مدح او ذم نه مطلق نه ده بلکه په طریقه د کمال سره او دایه صورة د رفع کښې حاصلیږي په دې شان سره چه دا اهل الحمد خبرهم معرفه ده او هو مبتداء هم معرفه ده او چه کله مبتداء او خبر معرفه وي نو د مسند منحصر وي په مسند الیه کښې نو دا انحصار هم زیادة دے په مدح او ذم کښې اوپه صورة د صفة کښې انحصار نشته نو کمال هم نشته و یجب حذفه دا دویم مقام بیانوي . حذف واجب نعم الرجل زید قرینه په نفس حذفیة باندې رفع د زید ده او مستعمل وو مفرد او استعمال د مفرداتو خو مخدوش دے نو عقل معلومه کړه چه دلته رافع حذف دے او قرینه په تعیین د محذوف باندې د الرجل مفرد دے چه ضمیر د مفرد به پکار وي چه دې ته راجع شي او سد مسد دا قیام د جملې متقدمې دے په ځائے د مبتداء محذوف ‌فی قول څکه په دې کښې نو د تراکیب هم شته لکه نعم الرجل خبر مقدم او زید مبتداء موخر شوه.

کقول المستهل الهلال والله دهغه مبتداء مثال بیانوي چه حذف ‌فی جوازي وي شارح واتی ای المبتداء المحذوف غرض د شارح دفع د سوال ده سوال دادے چه دا مثال موافق د ممثل سره

نه دے څکه ممثل دے و قد یحذف. او مثال ورله وائی چه لکه قول د مستهل حالانکه قول د مستهل کښ مبتداء محذوف په نظر نه راځی او دغه شان دا کقول المستهل خبر به وی او دلته خو کاف حرف جر دے داخبر نه شی واقع کیدے نو شارح جواب کوی حاصل دادے چه داکاف په معنی د مثل سره دے او د دې مضاف الیه محذوف دے او بیا دا مثل سره د خپل مضاف الیه نه دا خبر دے دپاره د مبتداء محذوف او قول په معنی د مقول سره دے نو تقدیر د عبارت شو المبتداء المحذوف جوازا مثل المبتداء المحذوف فی مقول المستهل شو. نو المبتداء المحذوف مبتداء شوه او مثل المبتداء المحذوف..الخ دا خبر شو نو جمله اسمیه شوه نو کقول المستهل مثال نه دے د مبتداء محذوف بلکه دا خبر دے دپاره د مبتداء محذوف او کاف په معنی د مثل سره دے او قول په معنی د مقول سره دے چه هغه مقول روستو ذکر دے چه الهلال والله دے المبصر للهلال. دا دفع د سوال ده چه مستهل هغه ماشوم ته وئیلی شی چه پیدائش په وخت کښ چغه اوهی نو دهغه مقول خو دانه دے هغه په څه پوهیږی.

جواب: او دا خبره ده چه هغه ماشوم ته وئیلی شی خو مراد دلته هغه کس دے چه هلال اوینی او څکه ورته مستهل وائی چه څنګه هغه ماشوم اول اواز اوکړی نو داسی داکس په اول میاشت اوینی نو ورته مستهل وئیلی شی څکه اول اواز کوی. الهلال والله ای هذا الهلال والله غرض د ماتن مثال ذکر کول دی او غرض د شارح تعیین د مبتداء کول دی چه حذف ده او دویم تعیین د قرینی کوی او دریم دفع د اعتراض ده. نو مبتداء خو هذا ده او قرینه حالیه ده چه حال د مبصر دلالت کوی چه دا الهلال خبر دے. دپاره د مبتداء محذوف څکه بیا به لازم شی استعمال د مفرداتو چه دا مخدوش دے ولیس من باب حذف الخبر دا دفع د سوال ده چه دا د قبیلی د حذف الخبر نه اوګرځوه کنه چه الهلال هذا شی.

جواب: دابه بیا د مقصود د مستهل خلاف راشی څکه چه دی سپوږمئ او ینی نو اول دی تعیین اوکړی دهغی په اشاری سره او بیا حکم کوی ولی که تعیین اونکړی نو لازم به شی حکم بالمجهول او حکم په یو شئ بانديې فرع ده د معرفة دهغه شئ او محکوم علیه نه و انما اتی بالقسم. دا دفع د بل سوال ده چه بیا الهلال صرف پکار وو دی قسم ته څه ضرورت دے؟

جواب: (۱) دا عادت د مستهیلینو دے نو په مثال کښ ورله څه دخله نشته دے. غالبا په غالبو او قاتو کښ. اما دا خبره چه دوی دا قسم ولی خودے نو دا څکه چه بعض خلق د روژی نه تنګ وی او بعض خلق اختر ته خوشحالیږی نو چه مستهل اواز اوکړی چه هغه ده میاشت ده نو دا خلق پری تهمت لګوی چه دروغ وائی نو دپاره د تهمت لری کولو قسم اوخوری. (۲) و لئلا یتوهم چه که قسم نه وی راوړی نو بیا الهلال اخر د کلام راځی او په اخر د کلام خلق وقف کوی نو بیا چرته څوک ئی منصوب اونه ګرځوی چه مفعول به شی د فعل محذوف چه رایت الهلال شی نو بیا مثال مطابق نه ګرځی او چه داسی وی نو بیا د کلام مینځ ګرځی نو څوک پری وقف نه کوی.

والخبر جوازا کله چه فارغ شو مصنف د حکم عدمی د مبتداء نه نو شروع ئی اوکړه په حکم عدمی د خبر کښ چه حذف د خبر دے نو قال و الخبر او بیا ماتن حذف د خبر په دوه قسمه ذکر کوی (۱) جوازی چه کله صرفة قرینه وی (۲) وجوبی چه قرینتی سره سد مسد هم وی و قد يحذف دا شارح اشاره کوی چه دا و الخبر عطف دے په المبتداء باندې او "ما" قبل د معطوف علیه معاد وی په معطوف کښ بیا دلته هم دوه حکمه دي (۱) صریحی (۲) ضمنی صریحی حکم دا دے چه خبر کله حذف کیږی او ضمنی دادے چه خبر کښ اصل ذکر دے حذفا جائزا هغه زیږه خبره ده لقیام قرینه دلته هم هغه خبره ده من غیر اقامة دا د روستو سره تقابل بیانوی چه روستو وجوبا او دلته جوازا نو دا ځکه دلته سد مسد نشته او هلته سد مسد او قائم مقام دے مثل دا وضاحت بالمثال دے خرجت فاذا السبع نو السبع مبتداء ده او خبر حذف دے فان تقديره غرض د شارح بو دفع د سوال ده دویم تعیین د خبر محذوف کوی.

سوال: مثال مطابق د ممثل سره نه دے ځکه ممثل دادے چه مبتداء ذکر وی او خبر حذف وی او مثال کښ خبره الټه ده ځکه مبتداء او خبر دواړه ذکر دي ځکه دا اذا مکانی دے نو معنی شوه چه مکان خروجی السبع نو مکان خروجی خبر مقدم او السبع مبتداء موخر دے.

جواب: دلته دا اذا مکانی نه ده بلکه دا اذا مفاجاتی ده او دي نه روستو چه کوم شئ ذکر وی نو دي کښ څو مذاهب دی، یو مذهب د مبرد دے چه هغه وائی چه دا اذا مکانی دے او خبر مقدم دے او السبع مبتداء موخر ده دویم مذهب د زجاج دے چه دا اذا مکانی نه دے بلکه دا مفاجاتی ظرف زمان دے او بیا دي مذهب کښ دری اقوال د ی او شارح تری نه یو قول نقل کړے دے په دي شان سره چه دا اذا ظرف دے او داخبر دپاره د السبع نه واقع کیږی ځکه چه دا السبع د قبیلی د ذوات او د اجسادو نه دے او ظرف زمان د دي خبر نه راځی نو هغه به ده موقع مطابق محذوف وی لکه دلته واقف دے ځکه درنده ولاړ دے او چه روان وی نو بیا ذاهب اوچه ناست وی نو قاعدوغیره به راوباسلی شی. او دا قول راجح د صاحب اللباب هم دے او د ماتن قول هم دادے او د مبرد قول نه دے صحیح ځکه هغی کښ شمول نشته بعض مواضع تری نه خارج دي لکه چه خبر مذکور وی مثلا خرجت فاذا السبع بالباب اوس که دلته اذا خبر شی نو بیا دا روستو خبر چه دے ځکه تقدیر به عند المبرد داشی چه مکان خروجی السبع بالباب نو دي دپاره معنی مهمله ده. نو د ماتن قول بناء په قول د زجاج دے هغه چه صاحب اللباب پری تصریح کړی ده او س دلته قرینه په نفس حذف د اذادے ځکه دي نه بعد جمله وی او دلته مفر وو نو معلومه ده چه څه حذف دي او قرینه په تعیین د محذوف خو یا دا السبع دے ځکه دا ذات دے او ذات صالح وی دپاره د ابتدائية نو دا مبتداء شوه او محذوف به خبر وی او یا قرینه په تعیین د محذوف باندې حالت موافق د درنده دے چه کوم حالت کښ وو نو دهغی مطابق به خبر حذف وی.

سوال: دا د حذف وجوبي دپاره مثال اوګرځوه.

جواب: من غیر سد مسده قائم مقام نشته دے او وجوبي کښ قائم مقام سره د قرینې نه وي ای فقی وقت الخ حاصل د معنی ورله بیانوی

و قد يحذف الخبر لقيام قرينة وجوبا ماتن چه كله ديو حكم عدمي د خبر نه فارغ شو چه حذف جوازي وو نو شروع ئ اوكړه په بل حكم د خبر كښ چه عدمي حكم دے او دا حذف د خبر دے وجوبا فقال و وجوبا ماتن به اول هغه مواضع ذكر كړي چه هلته حذف د خبر وي وجوبا په اجمالي طريقي سره او بيا به تفصيل د هر واحد كوى او شارح به كدمت او وضاحت د متن كوى. بيا شارح او وئيل و قد يحذف الخبر لقيام قرينة اشاره ده چه دا عطف دے په جوازا باندي او "ما" قبل د معطوف عليه نه معاد وى په معطوف كښ نو ځكه ئ رامعاد كړو

سوال: تا دا حذف الخبر موصوف كړو په دوه و صفاتو چه يو جواز او دويم وجوب نو دي درميان كښ خو منافاة دي ځكه چه جواز عبارت دے دامكان عام نه او وجوب عبارت دے د امكان خاص مقيد بجانب الوجود نه نو دا دواړه يو بل سره مناف دي نو دا څنګه د خبر دپاره ثابت دى.

جواب: د دي صفاتو دپاره او قات جدا جدا دي يعني دا حذف الخبر چه موصوف دے په جوازا نو داپه وخت د قرينې كښ بغير د سد مسد نه اوپه وجوبا سره په وخت د قرينې او سد مسد دوارو كښ نوكه يو وقت كښ جواز او وجوب دواړه وى نو بيا به اعتراض وو. حذفا واجبا. تفصيل تير شوى دے فيما التزم غرض د ماتن هغه مواضع ذكر كوى اجمالا چه حذف الخبر پكښ واجب دے چه داهغه مواضع دي چه قرينې سره د خبريه ځائے باندي يو بل شئ لازم او قائم شوى وى نو بيا حذف الخبر واجب دے چه لازم نه شي جمع په درميان د عوض او معوض عنه كښ ځكه داناروا ده. فيما اسند اى فى تركيب التزم غرض د شارح په دي عبارت سره يو تعين ماكول دي مصداقا دويم دفع د اعتراض ده چه دا كلمة دما د څه نه عبارة دے دوه احتماله دي يابه عبارت وى د خبر نه نو ظرفية د شئ لنفسه لازميرى او داناروا دے ځكه معنى به شي چه په هغه خبر كښ چه لازم شوى وى په موضع د دي خبر كښ غير د خبر نه نو دا خبر هم ظرف اوهم مظروف شو او داناروا ده ځكه دي درميان كښ مغائرة شرط وى او كه دا عبارت شي د غير خبر نه بيا لازميږي خالي والي د صلى د عائد د موصول نه په دي شان سره چه د موضعه دا ضمير راجع دے خبر ته او "ما" عبارت د غير خبر نه دے نو دي ته راجع نشو نو دا دواړه خبرى ناروا دي.

جواب: شارح اوكړو چه زه اختيار د شق ثاني كوم اوما عبارت وايم د تركيب نه اوعائد دلته حذف دے چه هغه فيه كښ دا ضمير مجرور دے معنى به شي چه په هغه تركيب كښ چه

لازم کړی شوی وی په دغه ترکیب کښې په موضع د کبر کښې غیر د خبر نه. و ذلك في اربعة ابواب غرض د شارح دهغه مواضعو اجمالي تعیین کوی.

سوال: دا اربعة د چرته نه دی؟

جواب: علی "ما" ذکره المصنف مصنف وئیلی دی.

سوال: نو مصنف خو ابواب نه دي ذکر کړی.

جواب: او مصنف صراحة ابواب نه دي ذکر کړی خو امثله ئې په داسې شان ذکر کړی دي چه انتزاع د ابوابو تری نه کیدلے شی.

سوال: نو دا اجمال تعیین ته څه ضرورت دے؟

جواب: دي کښې اشاره ده عادت د فصحاء او بلغاء ته چه دوی اول اجمال او بیا تفصیل ذکر کوی چه اوقع في الذهن شی.

نو ماتن لولا زید لکان کذا وئیلی دي او شارح به تری نه قاعده او باب جوړوی نو شارح وائی چه اول د مواضعو هغه دے چه مبتداء پس د لولا نه وی خو دا خبره د شارح کافی نه ده بلکه پوره تفصیل سره داسې ده چه داسې موضع کښې دری اشیاء دي یو چه دلولا نه روستو مبتداء وی دویم خبر ئې حذف وی د افعال عامه نه دریم چه جواب د لولا قائم وی د محذوف په ځائے په دي لولا زید لکان کذا دری واړه دی. یو زید مبتداء ده او د دي خبر موجود د افعال عامه نه دے او دا (لکان کذا) جواب دهغې سد مسد دے اوس دي مقام کښې څو خبری پیژندل پکار دي یو نفس قرینه په حذفیة بانديې دویم قرینه په تعین د محذوف دریم سد مسد د خبر محذوف څلورم علت د حذف نو قرینه په نفس حذفیة یو رفع د زید ده ۱۰ رافع ورله نشته دے نو عقل دامعلومه کړه چه هغه رافع حذف دے دویم استعمال د زید دے مفردا څکه استعمال د مفرداتو په کلام العرب کښې مخدوش وی نو څه خو حذف دي او قرینه په تعین د محذوف شارح وائی چه دا لولا راځی دپاره د امتناع د ثانی د وجی د وجود د اول نه لکه دا وائی دا خلق چه لولا علی لهلك عمر دا قول د عمر رضی الله عنه دے چه که وجود د علی نه وی نو عمر به هلاك شوی وی. نو امتناع د هلاکة د عمر رضی الله عنه اوشوه د وجی د وجود د علی رضی الله عنه نه نو دلته هم دالولا په دي وجود دلالت کوی نو دا قرینه شوه په تعین د خبر چه موجود دے او دریم سد مسد نو هغه دا جواب دلولا چه لکان کذا دے کما قال به الشارح او څلورم علت د حذف تخفیف وی عام طور بانديې او دلته ورسره دا خبره هم ده چه لازم نه شی جمع د عوض او معوض عنه داهم ناروا ده. هذا اذا کان الخبر غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی چه دلولا نه روستو مبتداء وی نود

دهغی خبر به حذف وی وجوبا د وجی د قرینی او سد مسد نه اوزه به درته اوښائم چه خبر به حذف نه وی لکه دا شعر دے او منسوب دے امام شافعی رحمه الله ته

ولولا خشية الرحمان عندی جعلت الناس كلهم عبيدی

ولولا الشعر بالعلماء يذری لكنت اليوم اشعر من لبيد

معنی د شعر اسانه ده او محل د اعتراض هغه دا يذری فعل دے چه داخبر دے د مبتداء چه پس دلولا نه واقعه ده چه الشعر دے او خبر حذف نه دے نو دا څنګه وجوباشو.

جواب: "ما" دا وئيلی دي چه خبر د افعال عامه نه وی او دلته خو خبر د افعال عامه نه دے بلکه د افعال خاصه نه دے.

هذا علی مذهب البصرين غرض د شارح به دي اول موضع کښ اختلاف ذکر کول دي دری مذاهب دي اول مذهب د بصريانو دے لکه مونږ اوی او دويم مذهب د کسائی دے چه کوم اسم چه پس د لولا نه وی نو دا مرفوع دے بنا بر فاعل او فعل ورله محذوف دے ای لولا وجد دے او قراء وائی چه دالولا اسم فعل دے رفع ورکوی "ما" بعد لره چه اسم دے او د ماتن کلام په اول مذهب بناء دے ګنی بيا د "ما" نحن فيه نه نه ګرځی.

اوس چه ماتن ديو موضع نه فارغ شو نو په دويم موضع کښ شروع اوکړه نو ماتن اوی چه وضربی زيدا قائما او شارح د باب ذمداری اخستی ده نو شارح قاعده جوړوی نو دويم مقام هغه چه حذف د خبر پکښ واجب وی د وجی د وجود د قرينی او سد مسد نه نو داهر هغه مقام دے چه مبتداء مصدر واقع شوی وی صريحی او يا تاويلی او ددی نسبة شوےوے فاعل يا مفعول او يا دواړو ته او روستو تری نه حال واقع وی. او يا اسم تفضيل وی چه دي ته هم په دغه طريقه مضاف شوی وی. نو دا ټول دولس مواضع شول تفصيل دهر واحد په دي شان سره دے

نو اول مونږ وايو چه مبتداء مصدر صريحی .... واقع شوی وی او بيا ددی نسبة يا فاعل ته شوی وی فقط او يا مفعول ته شوی وی فقط او يا نسبة دي دواړو ته شوی وی او روستو تری نه حال وی دا حال هر واحد سره لګی. نو دي کښ دری صورتونه شول. او دويم مونږ وايو چه مبتدا مصدر تاويلی وی او نسبة ئی فاعل ته شوی وی فقط يا مفعول ته فقط او يا دواړو ته شوی وی او روستو حال وی. نو دری صورتونه دلته شول نو ۳ + ۳ = ٦ صور او دريم دا وايو چه يا اسم تفضيل وی اول درنږ ته مضاف وی نو دلته هم دری شول او څلورم داچه اسم تفضيل وی او دي نورو دريو ته مضاف وی نوداهم دری شول نو ۳ + ۳ = ٦ او بيا ٦ + ٦ =

۱۲ صورې نو دي مواضعو کښ حذف د خبر واجب دے اوس امثله په دريو کسانو لازم دي يو مثال ماتن بيان کړے دے او څه شارح صيب او څه به ورسره مونږ هم بيانوو.

العبارة. صورة اى صريحي وى او تاويلا چه فعل وى په تاويل د ان سره مصدر شوى وى. اوس امثله دهر واحد. نو دا اولو دريو امثله (۱) ذهابي راجلا (۲) وضرب زيدا قائما (۳) ضربي زيدا قائما او قائمين دريو صورتونو كښ مصدر صريحى دے اول كښ نسبة فاعل ته دويم كښ مفعول ته او دريم كښ دواړو ته اوهر واحد ته روستو حال او دريم مثال كښ ديو نه هم حال صحيح دے او دواړونه هم صحيح دے. اوس دنورو دريو امثله (۱) ان ذهبت راجلا (۲) ان ضرب عمرواً قائما (۳) ان ضربت زيدا قائما او قائمين دا درى امثله دهغه شول چه مصدر تاويلى وى اول كښ نسبة فاعل ته دويم كښ مفعول ته او دريم كښي دواړو ته او دغه شان حال هم. امثله د دريم صورت (۱) اكثر ذهابي راجلا (۲) اكثرضرب زيد قائما (۳) اكثر ضربي زيدا قائما او دغه شان اسم تفضيل چه مضاف وى مصدر تاويلي ته نو هغه دادى (۱) اكثر ان ذهبت راجلا (۲) اكثر ان ضرب عمروا قائما (۳) اكثر ان ضربت زيدا قائما دا ټول دولس امثله شول. څه امثله شارح بيان كرى دى. لكه اكثر شربي السويق ملتوتا دا مثال د هغه دے چه اسم تفضيل مضاف وى مصدر صريحى ته او دهغى نسبة فاعل مفعول دواړو ته شوى وى او اكثر "ما" يكون الامير قائما دا مثال دهغه دے چه اسم تفضيل مضاف وى مصدر تاويلي ته چه نسبة ئې فاعل او مفعول دواړو ته شوى وى.

اوس دي كښ حذف د خبر واجب دے خو دلته د نحاتو اختلاف دے ټول پنځه مذاهب دي اجمالا داسى دى. (۱) بصريان (۲) رضى (۳) كوفيان (٤)اخفش (٥) ابن درستو يه، ابن باشاء دا ټول بالترتيب مفصل دى.

فذهب البصريون اول مذهب بيانوى اوس دلته عندهم اصل كښې دا ضربي زيدا حاصل اذا كان قائما دے. دلته په نفس حذفية باندې قرينه د ضربي زيدا قائما استعمال وو مفرد او استعمال د مفرداتو په كلام العرب كښ محذوش وى نو عقل دا معلوموى چه دلته څه حذف دي او قرينه په تعيين د محذوف او سد مسد به شارح بيان كړى او علت د حذف يو تخفيف دے او بل چه لازم نه شى جمع په درميان د عوض او معوض عنه كښ اوس دا اصل كښ ضربي زيدا دپاره د مناسبة په درميان د حال او ظرف كښ ځكه دا اذا به د حال نه نائب ګرځى. او خبر خبر حذف شو او قرينه پرى دا اذا كان دے ځكه دا اذا متعلق غواړى او متعلق چه قرينه وى نو دا د افعال خاصه نه وى او چه قرينه نه وى نو دا د افعال عامه نه وى نو دلته حاصل د افعال عامونه دے نو دا قرينه شوه په تعيين د محذوف باندې او داكان تامه دے په معنى د وجد سره او د ا ضمير پكښ راجع دے زيدا ته ذو الحال او قائما ترى نه حال دے. نو چه

حاصل حذف شو په شان د نورو متعلقاتو لکه مثلا زیدعندك د عندك متعلق حذف دے نو اذ کان باقي شو.

اوبیا حذف شو اذا سره د شرط نه چه کان وو او دا عامل وو په قائما حال کښ. او دا بغیر د قائم مقام نه نه دے. حذف بلکه اقیم دا حال د دې په ځائے قائم شو.

سوال: د حال د ظرف سره څه مناسبة دے چه درے ته نائب شو.

شارح وائي جوابا لانّ فى الحال معنى الظرفية. مناسبة شته دے چه په حال کښ معنى د ظرفية ده لکه جاءلى زیدا راکبا دا راکبا حال دے اوس تعبیر او معنى ترى نه خلق داسى کوى چه جاءلى زید وقت الرکوب نو دومره طاقت چه لرى نو دهغى په ځائے به قائميږى نو قائم شو او اذا کان هم حذف شو او شارح هم داسى وائى چه فالحال. یعنى دا قائما حال قائم شو په مقام د ظرف چه اذا کان دے او دا ظرف چه اذا کان دے دا قائم شو په مقام دهغه خبر چه حذف دے اى حاصل نو دا حال گویا دهغى قائم مقام شو ځکه چه دال په دال د شئ باندې دال په دغه شئ وى، اوس دا ورله هغه سد مسد شو نو حذف واجب دے.

قال الرضي هذا "ما" قيل فيه اوس د دې ځائے نه شارح په دغه موضع ثانى کښ دویم مذهب بیانوى چه دا مذهب د رضى صاحب دے چه دا شارح د کافیه دے مخکښ د شارح ملا جامى نه ده شرح تحریر کړى ده نو قال الرضى رضى په دې بصریانو اعتراض کوى او خپل مذهب وړاندى کوى رضى وائى چه دا هغه توجیه ده چه پکښ ډیر تکلفات دي لکه یو تکلف داچه حذف دا اذا سره د خپل شرط (جملى) نه شوى دے او داسى چرته نه وى نا ذر دي دویم دلته داکان به تامه وى او اصل په کان کښ ناقصه وى نو دا عدول د اصل نه خلاف الاصل ته او یا عدول د ظاهر نه خلاف الظاهر ته دے دریم دا چه حال قائم دے په مقام د ظرف هغه ظرف چه قائم دے په مقام د خبر باندې او دې دپاره هم څه نظير نشته دے چه حال د ظرف او ظرف د خبر قائم مقام وى نو دا تکلفات دي او کارگران دے.

نو والذى یظهرلى نو رضى صیب وائى چه ماته داخبره بهتره او غوره ښکارى چه تقدير د دې عبارت داسى دے چه دا قائما حال شى د زیدا نه نو ضربى زیدا یلابسه قائما نو دا یلابسه قائما شو چه وهل زما زید لره ملابس دې دى زيد لره په داسى حال کښ چه دا زيد ولاړوى اوکه دا حال د ضمير د متکلم نه شى نو تقدير به شى چه ضربى زيدا یلابسنى قائما وهل زما زيد لره ملابس دې زما سره په حال کون زما کښ چه زه ولاړیم اول خبر دے دپاره د والذى یظهر مبتداء او دا درمیان کښ د رائ د رضى تفصیل دے اوس دا خبره ځکه اولى ده چه دې کښ تکلفات نشته دے صرف دا یلابسه یا یلابسى فعل حذف دے ثم نقول دا اوس پوره تفصیل کوى قرینه او سد مسد بیانوى نو قرینه په نفس حذفية باندې استعمال د مفرداتو دے چه

دا مخدوش دے او قرینه په تعیین د محذوف دې بیانوی نو دې وائی چه بیا حذف شو مفعول چه هغه ذو الحال وو نو یلابس پاتی نه و.

سوال: داسی چرته کیږی۔

جواب: او داسی شته دے چه حذف د ذو الحال شوی وی او حال په خپل ځائے باندې باقی وی کما تقول الذی ضربت قائما زید دلته الذی ضربت مبتدا ده او زید ورله خبر دے او قائما حال دے د ضمیر د مفعول نه چه په ضربت کښ دے یعنی حذف دے د وجی د وجود د قرینې نه هغه قرینه داده چه دا ضربت صله ده د الذی او صله کښ لابدی وی دعابد نه او هغه موجود نه دے لفظا نو معلومه شوه چه حذف دے نو ځنګه چه دې مثال کښ حذف د ذو الحال سره د بقاء د حال نه دے نو داسی دا یلابس قائما هم دے چه مفعول (ذو الحال) حذف دے او قائما حال باقی پاتی دے خه نو بیا دا یلابس هم حذف شو او دا قائما حال دهغی قائم مقام شو.

سوال: نو داسی چرته نظیر شته دے.

جواب: او شته دے چه حال وی او دهغی عامل حذف وی لکه راشدا مهدیا کښ دا حال دے او عامل ورله حذف دے چه هغه سر دے نو په تعین د محذوف باندې قرینه دا قائما حال دے چه ذو الحال او عامل غواړی چه هغه یلابسه یا بلابسنی دے. او دا د افعال عامونه دے دومره قدر لره خبره ده چه حاصل دهغه افعال عامه نه دے چه مشهور دی او دا دهغه افعال عامه نه ده چه غیر مشهور دی او سد مسد هم دا قائما حال دے په مقام د عامل باندې قائم دے فعلی هذا دا اوس دې صفة د خپل مذهب کوی.

و قال الکوفیون شارح په تفصیل د دریم مذهب شروع اوکړو پس د فراغة د تفصیل د دوه ؤ مذهبونو او دا مذهب ثالث د کوفیانو دے دوی وائی چه تقدیر داسی دے چه ضربی زیدا قائما حاصل قائما یا حال دیا ضمیر نه دے چه دا فاعل دے او یا د زیدا نه چه دا مفعول دے او عامل به پکښ دغه مصدر چه مبتداء داشی او خبرهم دا حاصل حذف دے نو دا قائما د متعلقا تو د مبتداء نه شو او دوی د خپلی توجیه دپاره دلیل دا وائی چه یو دلته قلت حذف دے او دا اولی وی د کثرة حذف نه چه دې دوو مذاهبو کښ وو او دلته صرف حاصل خبر حذف دے ویلزمهم شارح په دې مذهب باندې رد کوی په دوه ؤ طریقو سره.

اوله طریقه: نو ګوری دا هغه مواضع ذکر کیږی چه حذف د خبر پکښ واجب وی او وجوب په وخت د قرینه او سد مسد کښ وی نو دلته د دوی په مذهب کښ قرینه شته دے خو سد مسد نشته دے او قائما حال خو سد مسد نه ګرځی ولې دا د متعلقاتو د مبتداء نه دے اوکوم شئ چه د مبتداء د متعلقاتو نه وی نو هغه قائم نه ګرځی په مقام د خبر باندې نو صرف

قرينه پاتې شوه نو دا څو خروج راغئ دما نحن نه ...... ځکه موږ څو حذف و چوی بیانوو اوبه دي اعتبار سره څو دا حذف جوازي شو.

دويمه طريقه: دا ضربي زيدا قائما كښې دا ضرب جنس دے او جنس كښې قانون داچے چه كله قرينه د عهد نه وي نو دابه په عموم حملولي شي نو دلته دپاره د عموم دے يعني مراد هر وهل زما په زيد واقع دي نو دا عموم شو اوس چه دا قائما حال شي د معمول د مصدر نه نو دا عموم ختم شو ځکه حال د ذو الحال د عامل دپاره قيد وي نو دا ضرب مقيد شو په قيد د قيام بانديې يا قيام که د مفعول وي او يا د فاعل څو مقام د تعميم دے په اعتبار د استعمال سره او راځي پکښې تخصيص او تقييد په دې توجيه سره نو مقصود فوت شو ځکه مقصود په دې ترکيب سره تعميم او شمول وی عند العرب و ذهب الاخفش الى ان دا اوس څلورم مسلك بيانوي چه دا د اخفش صيب مذهب دے. اخفش صيب وائي چه ددی تقدير داسی نه دے لکه چې تاسو ځکه وائي بلکه تقدير د دې دے ضربي زيدا ضربه قائما معنی ده چه وهل زما ددی زيد لره وهل دي په داسی حال کښې چه ولاړ وی. نو دا ضربه محذوف دے او اخفش وائي چه دلته دا محذوف د جنس د مذكور نه دے او دويم دلته قلة حذف دے په اعتبار د نور مذاهبو سره نو محذوف د جنس د مذكور نه او قلة حذف د كثرة حذف نه دا اولى دي او غوره او بهتر دى. اوس شارح دي مذهب ته توجه نه ده كړی ځکه دا مذهب ضعيف دے ظاهرا نو وجه د ضعف د دې مذهب داده چه دا ضربه مصدر تا عامل اګرځو په قائما حال كښې اوبه حين د عمل كښې دا مصدر په تاويل د ان مع الفعل سره وی ان يا موصول حرفي دے نو دا فعل ورله صله وی. نو اوس دلته دا حذف شولو داځو لازم شو حذف د موصول سره د حذف د بعض صلى نه او سره د بقاء د بعض صلى او دانا روا ده په دې شان سره چه ان ضربه حذف دے او دا قائما مذكور دے چه دهغی معمول دے نو دا مذهب هم ضعيف دے او بله وجه د ضعف د دې مذهب داده چه مصدر په عمل كښې ضعيف دے ملفوظ كښې عمل كولی شي او چه محذوف وی نو بيا عمل نه شي كولی او دلته څو محذوف دے.

و ذهب بعضهم الى ان هذا دا پنځم مذهب دے د ابن درستو يه او ابن باشا حاصل دادے د دي مذهب چه دا ضربي الخ داسی مبتداء ده چه خبرته غواړی لکه څنګه چه مبتداء قسم ثانی ده چه مبتداء ده او خبر ورله نشته دے نو دا په تاويل د فعل سره شوه چه "ما" اضرب زيدا الا قائما څو دا مذهب هم ضعيف دے ځکه دوی قياس كوی د دي مبتداء په مبتداء قسم ثانی بانديې نو دا قياس د دوی د دي مبتداء په مبتداء قسوم ثانی بانديې قياس مع الفارق دے ځکه هغه مسند وی او دا مسند اليه دے. دويم داچه دوی معنی د حصر كوی. نو چه دا صرف مبتداء شوه او خبر ورله نشته نو كلام تام نه دے او حصر په كلام تام كښې وی دريم داچه تاويل شئ د خيل اصل ته نه اوباسی نو كه تاسو په دې كښې تاويل اوكړی نو دا بياهم په

خپل حال باندې باقي دے چه صرف مبتداء ده دا ابتدائية نه په تاويل سره نه دے وتلی نو خبر ورله ضروری دے.

اوس راجح په دې مذاهبو کښ کوم مذهب دے نو صاحب د خادمة الكافيه ترجيح ورکوی مذهب د بصريانو لره او په هغو باندې چه کوم اعتراضات دي نو دهغی نه جوابات کوی او بعضو شارحينو ترجيح ورکړی ده مذهب د شارح رضي لره چه دا مذهب راجح او بهتر دے نو فلكم الاختيار في الخيار و ثالثها كل مبتداء اشتمل مصنف د دوو مقاماتو نه فارغ شو چه حذف د خبر پکښ واجب وی د وجې د قرينې او سد مسد نه نو شروع ئې اوکړله په دريم مقام کښ نو ماتن مثال پيش کوی او شارح ترې نه قاعده او باب جوړ وی. نو دريم مقام هغه مقام دے چه دری خبرې پکښ وی يو داچه خبر د مبتداء مشتمل وی په معنی د مقارنة باندې دويم داچه په دې مبتداء باندې يو شئ عطف شوی وی په صرف واو سره دريم دا واو په معنی د مع سره وی لکه دا مثال چه كل رجل وضيعته نوکل رجل مبتداء ده او خبر مقرون حذف دے نو خبر کښ مقارنة شته اوپه دې مبتداء باندې عطف د ضعيته شوی دے او دا واو په معنی دمع سره دے نو دلته حذف د خبر واجب دے د وجې د قرينې او سد مسد نه ای كل رجل مقرون غرض د شارح په دې عبارت سره تعيين د خبر محذوف کوی او قرينه او سد مسد بيانوی خو د شارح د دې اغراضو نه مخکښ داخبره ملحوظ کړی چه دا ترکيب او په مثل د دې ترکيب کښ هم شديد اختلاف دے په درميان د امامانو د دې فن کښ په مختلفو تراکيبو سره خو دلته مصنف چه کوم مثال راوړی دے او څنگه تقدير کوی نو دې کښ دا تابع دے د سيد السند صيب جرجاني او سيد شريف صيب چه ورته واثی اودپاره د تفصيل د دې اختلاف چې دې مثال کښ دې د مختصر المعاني مطالعه اوکړی شی.

اوس شارح تعيين اوکړو چه مقرون خبر محذوف دے په نفس حذفية باندې قرينه استعمال د دې كل رجل و ضيعته دے مفردا او استعمال د مفرداتو په کلام د عربو کښ مخدوش دے نو بل جزء ورسره خامخواه شته دے او قرينه په تعيين د محذوف باندې شارح بيان کړی ده چه لان الواو يدل حاصل داچه دا واو په معنی د مع سره دپاره د مقارنة دے واقيم داسد مسد بيانوی نو داشو كل رجل مقرون مع ضيعته او كل ضيعة مقرونة مع رجله. شو. و رابعها كل مبتداء دری مقاماتو نه فارغ شو مصنف اوس څلورم مقام بيانوی چه دلته هم حذف د خبر واجب دے د وجې د قرينې اوسد مسد نه نو ماتن مثال پيش کوی او شارح باب او قاعده بيانوی نو څلورم مقام هر هغه مقام دے چه دا مبتداء مقسم به وی او خبر دهغی لفظ قسم وی لکه دا مثال دے چه لعمرك مبتداء مقسم به ده و خبر حذف دے چه قسمي دے ای لعمرك و بقاءك شارح تعيين کوی د خبر محذوف.

سوال: لعمرك مبتداء ده او قسمي ورله خبر دے نو خبر محمول وی په مبتداء باندې نو دلته حمل نه دے صحيح څکه معنی به شي چه ستا عمر قسم زما دے نو عمر د مخاطب قسم د

متكلم نه ګرځی دواړو په درمیان کښ مغائرة دے په مفهوم او مصداق دواړو کښ او حمل کښ قانون دے چه اتحاد د متغائرینو به وی خو مفهوما او یو به وی مصداقا لکه زید قائم کښ مفهوما مغائرة شته خوپه خارج کښ دواړه یو شئ دے.

جواب: شارح کوی چه داپه معنی دما اقسم به سره دے نو اوس معنی صحیح شوه په دې شان سره چه خامخواه عمر ستا "ما" هغه شئ دے چه زه پری قسم خورم نو عمر یو شئ دے او زما پری قسم دے نو حمل صحیح دے. فلا شك ان لعمرك شارح تعین د قرینی او د سد مسد کوی نو قرینه خو دالام دے ابتداء چه داد پاره د قسم راځی او جواب قسم سد مسد د خبر دے او قرینه په نفس حذفية باندې معلومه ده. و العمرو العمر بمعنی واحد غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده .

سوال: دادے چه قسم خلق په عُمر بالضمه باندې خوری په عمر بالفتحه باندې نه نو عمر بالضمه به دې ذکر کړی وی.

جواب: دلته دا قسم راغلی دے او قسم تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف په فتحه کښ دے نو ځکه می دا راوړی دے یا دا سوال په دې طرز هم کیدلے ی چه دلته به مراد د عمر نه هغه عمرو وی چه کوم په امثلو کښ ذکر کیږی نوپه هغی خو څوك قسم نه خوری نو شارح دا وهم دفع کړو چه دلته مراد د عمر نه هغه عمر دے چه مرادف د عمر دے نه هغه شخص معین .

سوال: نو بیا دې عمر ولی نه راوړو.

جواب: دا قسم کثیر الاستعمال دے چه تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف په دې فتحه کښ دے نو ځکه ئې هغه نه دے راوړی

خبر ان و اخواتها

خبر ان و اخواتها اجمالی خبری به ملحوظ کړو (۱) ربط د "ما" قبل سره (۲) تشریح د عنوان (۳) تعریف د خبر د ان و اخواتها (٤) وضاحت بالمثال (٥) حکم د دی.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د څلورو اقسامو د مرفوعاتو نه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل د پنځم قسم مرفوع کښ فقال خبر ان و اخواتها نو دری سوالات معهوده راغلل بالترتیب جوابات داسی دي چه نفس تفصیل د وجی دما مر نه مرارا کوی اوپه تفصیل کښ په پنځم مقام کښ ذکر کړو وجه داده چه اصل په مرفوعاتو کښ فاعل وو عند الماتن نو هغه ئې اول بیان کړو او بیا نائب فاعل ورسره شدید اتصال لرو نو هغه ئې ورسره بیان کړو او بیا د زمخشری په نزد اصل په مرفوعاتو کښ مبتداء وه نو دریم مقام کښ هغه بیان

کړه او ورسره د خبر تفصيل ئی هم اوکړه د وجې د اشتراك د خبر نه د مبتداء سره په احکامو کښ اوس باقي مانده مرفوعاتو کښ خبر د ان و اخواتها مقدم کړو وجه د تقديم د دي نورونه داده چه دايه نسبة د دي نور کثير الوقوع او کثير الاستعمال دے نو دا مقدم شو په دي نور چه دانور کثير الوقوع او کثير الاستعمال نه دي او دويمه وجه داده چه خبر د ان و اخواتها ئی په خبر دلائفی الجنس څکه مقدم کړو چه خبر دهغی محمول دے په دي باندي د قبيلی د حمل النقيض علی النقيض نه نو دا خبر ان و اخواتها د دي دپاره اصل شو او اسم دلا نفی الجنس ورله فرع شوه او اصل مقدم وی په فرع باندي طبعا نو مونږ وضعا هم مقدم کړو چه موافق شی وضع د طبع سره اويه اسم "ما" ولا المشبهتين بليس ئی څکه مقدم کړو چه دا خبر د ان و اخواتها مشابه د فعل مشتق سره دے او اسم دما ولا المشبهتين مشابه د فعل غير مشتق سره چه ليس دے او فعل مشتق اصل دے نو دهغی مشابه هم اصل شو او فعل جامد غير اصل دے نو دهغی مشابه هم غير اصل او اصل مقدم وی په غير اصل باندي طبعا نو مونږ وضعا هم مقدم کړو چه وضع موافق شی د طبع سره او تفصيل داسی کوی چه نو به تعين د قسم خامس اوکړی د مرفوعاتو نه په خبر ان و اخواتها سره دويم دهغی تعريف به اوکړی هو المسند بعد سره دريم وضاحت بالمثال به اوکړی مثل ان زيدا قائم سره څلورم احکام به ورله بيان کړی امره کامر خبر المبتداء سره او پنځم دفع ديو اعتراض به اوکړی الا فی تقديمه سره.

ربط لفظی: نو اول ترکيب داسی دے چه خبر مضاف ان معطوف عليه و حرف عطف اخواتها مضاف او مضاف اليه معطوف نو معطوف سره د معطوف عليه نه مضاف اليه د خبر بيا مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء او هو ضمير فصل او المسند الخ ورله خبر دويم ترکيب داسی دے چه د اخبر ان و اخواتها خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف چه هذا دے نو تقدير د عبارت به شی هذا بحث خبر ان و اخواتها نو هذا مبتداء او بحث خبر الخ خبر شو او دريم ترکيب داسی دے چه دا خبر ان الخ مبتداء موخره ده او خبر ورله منها مقدم مقدر دے نو تقدير د عبارت و منها خبر ان الخ نو منها په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم او خبر ان الخ مبتداء موخره نو مبتداء او خبر ملکر جمله اسميه او دي دريم ترکيب ته شارح اشاره کړی ده ای من المرفوعات سره.

سوال: نو بيا پکار ده چه ماتن عليه الرحمة په دي منها باندي تصريح کړی وے کما صرح به فی المبتداء و الخبر.

جواب: (۱) اصل کښ داخبر د ان و اخواتها او د دي اسم څه مستقل شيان نه دي بلکه داهم هغه مبتداء او خبر دي صرف داحروف پری داخل شوی دي نو نسخ پکښ راغلی ده. نو منها يا منه ذکر کولو ته ضرورت نشته. (۲) عادت د ماتن جاری دے په اکتفاء باندي نو دلته هم اکتفاء کوی په "ما" قبل باندی.

تشریح د عنوان: نو شارح وائی ای اشباهها دا دفع د سوال کوی چه ماتن اوی اخواتها نو اخوات جمع د اخت ده او داخو په ذوی الارواح کښې وی په حروفو کښې دا اخوات نه وی نو څنګه ماتن تری هـ تعبیر په اخوات کوی؟

جواب: (۱) دایو اصطلاح ده او په اصطلاح کښې څوک تنګول نه کوی (۲) اخوات په معنی د اشباه دے په دې شان سره چه یا خو د دې حروف تشبیه ده د اخوات سره نو دا حروف مشبه او اخوات مشبه به او وجه د شبهه دا مشابهة دے او یا خو دا ذکر د ملزوم دے او مراد تری نه لازم دے نو ذکر د اخوات او مراد تری نه اشباه دی څکه اشباه لازم دے د اخوات سره څکه د اخوات یو بل سره مشابهة وی.

سوال: داخو اثبات د لغت دے په عقل سره نقل پکار دے دا علوم نقلیه دې عقل پکښې پوره کار نه کوی.

جواب: نقل هم شته دے قران کښې الله فرمائی کلما دخلت امة لعنت اختها دلته داخت نه مراد نظیر او مثل دے.

سوال: نو بیا پکار وه چه اخوتها مذکر ئ وئیلی وی څکه اشباه مذکر دے.

جواب: اصل کښې د دې اشباهو او نظائرو نه تعبیر په کلماتو سره کیږی او هغه مونث دې نو مناسب د مونث سره اخوات دے نه اخوة من الحروف الخمس الباقیة دا تعین د اخوات کوی اجمالا او وهی ان الخ دا تفصیلی تعین کوی.

بیا دې حروفو ته حروف مشبه بالفعل وائی څکه دا مشابهة ساتی د فعل سره په لفظ کښې اوپه معنی کښې اوپه مدخول کښې لفظ کښې مشابهة داسی دے (۱) څنګه چه فعل ثلاثی، رباعی او خماسی راځی نو داسی دا حروف هم دې لکه ان ثلاثی او لعل رباعی دے او لکن خماسی دے (۲) او څنګه چه فعل مبنی علی الفتحه وی نو داسی داهم مبنی علی الفتحه دی. (۳) لکه څنګه چه فعل کښې ادغام، فك ادغام وی لکه مدّ، سبّ، فرّ او نصر، ضرب، کرم نو داسی دې حروفو کښې هم ادغام، فك ادغام دے لکه ان کښې ادغام او لیت کښې فك دغام دے (۳) لکه څنګه چې فعل سره لحوق دنون وقایه راځی نو دې حروفو سره هم لحوق دنون وقایه راځی لکه ضربنی، اننی، (۵) لکه څنګه چې فعل پوری لحوق د ضمیر منصوب راځی نودی حروفو سره هم راځی لکه ضربه، ضربك نو انك، انه (٦) لکه څنګه چې ابتداء د فعل وی په فتحه نو داسی دا حروف هم دې چه ابتداء ئے بالفتحه ده سوا د ان نه خو دې لره اعتبار نشته څکه و الاکثر حکم الکل. نو ټول شپږ حروف او شپږ مشابهتونه شول او معنی مشابهة داسی دے چه د معانی د دې حروفو نه تعبیر په فعل سره کیږی نو دا معانی د دې ملزوم او دا فعل نه تعبیر لازم شو هغه داچه د دوی هغه معانی د اصطلاحی فعل جزء واقع کیږی. لکه ان او انّ راځی

دپاره د تحقيق او تعبير ترې نه په حققت سره كيږي او كان دپاره د تشبيه او تعبير ترې نه په شبهت ره كيږي او لكن راځي دپاره د استدراك تعبير ترې نه په استدركت سره كيږي او ليت دپاره د تمنى راځي او تعبير ترې نه په تمنيت سره كيږي او لعل راځي دپاره د ترجى او تعبير ترې نه كيږي په ترجيت سره او په مدخول كښې مشابهة داسې دے چه څنګه فعل په دوه ؤ شيانو داخليږي يو لره رفع او بل لره نصب وركوي نو داسې دا حروف هم په دوه ؤ شيانو داخليږي يو لره نصب او بل لره رفع وركوي.

وهو مرفوع بهذه الحروف غرض د شارح په دې عبارت سره اختلاف ذكر كوي په درميان د عمل د دې حروفو كښې او بيا ترجيح دما هو الراجح هم كوي. خو دې نه مخكښې يوه خبره اهمه ده چه دا حروف د فعل سره مشابهة ساتى او د فعل عمل دوه قسمه دے يو اصلى او بل فرعى عمل اصلى د فعل تقديم د مرفوع دے په منصوب باندې او عمل فرعى د فعل تقديم د منصوب دے په مرفوع باندې نو دا حروف مشابه وو د فعل سره نو هغوى ورله احسانا عمل فرعى وركړو چه تقديم د منصوب دے په مرفوع باندې او عمل اصلى ئې ورله ورنكړو ځكه بيا لازميدل مساوات په درميان د اصل او فرع كښې او څنګه چه زيادة د فرع په اصل ناروا دے نو مساوات ئې هم ښه نه دے.

نو حاصل دادے چه عند البصرين عمل د دې حروفو نصب دے په اخپل اسم كښې او رفع ده په خبر كښې او عند الكوفين دا ضعيف دې نوپه اسم كښې عمل كوي او په خبر كښې نه كوي بلكه خبر چه مرفوع دے نو د وجې د ابتداء نه دے چه هغه تجريد د عواملو لفظيتو دے خو شارح وائي په مذهب اصح كښې خبره دا نه ده چه خبر كښې ابتداء عامل ده بلكه دا مشابهة ساتي د فعل متعدى سره نو هغه عمل د رفع او نصب كوي نو دابه هم داسې عمل كوي.

تعريف د خبر د ان و اخواتها: هغه ماتن كړے دے چه هو المسند الخ داهغه مسند دے پس د دخول دهر واحد د دې حروفونه. شارح وائي اى خبر ان و اخواتها يو خو تعين د ضمير د مرجع كوي دويم دفع د اعتراض كوي چه دا ضمير چاته راجع كوي او كنه؟ كه نه راجع كوي نو ضمير بلا مرجع لازميږي او دا ناروادى اوكه راجع كوي نو دري صورتونه دي او ټول باطل دي په دې شان سره كه دا راجع كوي ان ته فقط نو اخواتها پاتې كيږي اوكه اخواتها ته راجع كوي نو ان اوځي اوكه دواړو ته نو مطابقة نشته په درميان د راجع او مرجع ؟ نو شارح جواب اوكړو چه ضمير راجع كومه بلا مرجع نه پاتې كوم اوپه دې دريو شقوقو كښې يوهم نه اختياروم بلكه خبرته ئې راجع كوم.

سوال: نو داخو خروج د بحث نه راغلو.

جواب: مطلق خبرنه بلکه خبر د ان او د اخوات می مراد دے المسند صیغه د اسم مفعول ده په معنی د نسبة کړی شوی نو دایه چاته وی دانسبة نو شارح اوئ الی شئ اخر او دا رد دے په فاضل هندی او بعض الناس پاندې و سباق تفصیله دخول احد هذه الحروف شارح احد مقدر راوباسو دا دفع د سوال ده چه دا ټول حروف داخل شی نو بیا به خبر د ان وی نو ان زیدا قائم ترې نه خارج دے ځکه قائم ته خلق خبر د ان وائی او ټول حروف پرې نه دي داخل بلکه صرف ان پرې داخل شوی دے نو شارح جواب اوکړو چه پس د دې ټولو حروفو نه مجتمعه نه بلکه پس د هر واحد د دې نه فقوله غرض د شارح فوائد د قیوداتو بیانوی. نو دا المسند په منزله د جنس دے خبر دکان، خبر د مبتداء خبر دلانفی الجنس او خبر د "ما" ولا المشبهتین ته شامل دے ځکه دا ټول مسند دي او بعد دخول په منزله د فصل دے دا ټول پرې خارج شول ځکه دا ټول مسند دي خوپس د دې حروفو نه نه بلکه څه دکان نه بعد وغیره و المراد بدخول هذه غرض د شارح په دې سره دفع دیو اعتراض ده اعتراض دادے چه دا تاګوم تعریف د خبر د ان و اخواتها اوکړو نو دا تعریف صحیح نه دے ځکه دامانع نه دے د دخول د غیر نه په دې شان سره چه داخلیږی پکښ یقوم فعل مضارع په دې ترکیب کښ چه ان زیدا یقوم ابوه دلته یقوم مسند دے ابوه ته اوپس د دخول د ان نه هم دے نو تعریف پرې صادق شو حالانکه خلق دے یقوم ته خبر نه وائی بلکه یقوم ابوه مجموعه ته خبر د ان وائی دې اعتراض مذکور نه یو.

جواب: فاضل هندی صیب کړے دے تقریرلی داسی دے چه زموږ مراد د مسند نه هغه مسند دے اسم د دې حروو ته اوس په دې ترکیب کښ دیقوم اسناد اسم د ان ته نه دے شوی بلکه ابوه ته شوی دے نو دا ترې نه خارج دے خو دا جواب مخدوش دے په دې شان سره چه د مسند نه مراد مسند الی اسم هذه الحروف شو نو بیا بعد دخول هذه الحروف قید مستدرك شو ځکه په دې سره موثر خبر د کان، خبر د مبتداء او خبر دلا لنفی الجنس او باسو نو دایه مسند سره خارج شول په دې شان سره چه که خبر دکان مسند دے خو اسناد ئی اسم د دې حروفو ته نه دے شوی دغه شان خبر د مبتداء او دلا لنفی الجنس هم نو چه داخارج شول نو دا قید مستدرك شو. علاوه "لا" داوایو چه که دا المسند قید په منزله د جنس شی نو اخراج راغئ په جنس سره چه دا د فصل کار دے اوکه په منزله د فصل شی نو تعریف بلا جنسه پاتی شو. او بل جواب ددی اعتراض مذکورنه چاداکړے دے چه مراد د المسند نه الاسم المسند دے اوس یقوم مستد دے خو فعل دے نه اسم خو دا جواب هم خطا دے وجه داده چه ان زیدا یقوم فقط (بغیر د ابوه) کښ دا یقوم خبر د ان دے او داخو فعل دے نوکه تاویل کوی نو داخو خلاف الاصل دے نو شارح وائی چه دلته مراد د دخول د دې حروفو نه یوه معنی ده هغه داچه دخول د دې حروفو په اسم او خبر پاندې شوی وی دیاره د ایراث الاثر په دې اسم او خبر کښ هم لفظا او هم معنی.

یعنی دپاره د پیدا کولو د اثر به دې اسم او خبر کښې په لفظ او معنی دواړو کښې لفظ کښې به اثر داسې وی چه اسم لره به نصب ورکوی او خبر لره به رفع ورکوی بیا دا نصب او رفع عامه ده که لفظا وی که تقدیرا وی او که محلا وی او معنوی اثر داچه یو به مسند الیه گرځوی چه اسم دے او بل به مسند چه خبر دے. اوس په دې ترکیب کښې یقوم ابوه مجموعه مسند دے او دا مجموعه مرفوع دے نو لفظا اثر د رفع دے او معنی دامسند دے حرف یقوم خبر نه دے بلکه مجموعه یقوم ابوه خبر دے ځکه چه حرف یقوم خو پس د ان نه نه دے واقع شوی په دې معنی مذکور ددی سره بلکه دا مجموعه واقع دے نو اثر ئې لفظا او معنی په دې مجموعه یقوم ابوه کښې کړی دے نو دا مجموعه خبره دے نه حرف یقوم او حرف یقوم ته خوک خبر هم نه وائی بلکه خبر دا مجموعه دے فلا ینتض التعریف د دې قید فائد بیانوی او صراحة رد کوی په فاضل هندی او بعض الناس باندې و یلزم دا متعلق تر منفی پوری دے نه نفی پوری نو معنی شوه چه ګنی لازم شی او هم داسې فیحتاج کښې هم ده چه ګنی احتیاج راشی.

ان زیدا یقوم په دې مثال کښې به بیا دوی تاویل کوی ځکه یقوم خو جمله ده اسم ورته نشو • وئیلی ځکه اسم قسم د کلمې دے او کلمه مفرده وی نو تاویل کول خو خلاف الاصل دے کنه.

وضاحت بالمثال: مثل ان زیدا قائم شارح وائی مثل قائم دا دفع د وهم ده چه دا جمله ان زیدا قائم به خبر وی حالانکه داخو نه دے نو شارح اوی چه نه دا قائم دے او دامشهوره تسامح ده چه نسبة د جزء کل ته کوی فانه مسند شارح تطبیق د مثال د ممثل سره کوی.

و امره کامر خبر المبتداء موتړ په تفصیل د پنځم قسم مرفوع کښې شروع کړی وه دې ځائے نه په مجموعه خبرو کښې پنځمه خبره ده اوپه تفصیل ځکه کوی په هغی کښې دا خلورمه خبره ده چه حکم د خبر د ان و اخواتها فقال و امره ای حکمه شارح تعین د امر د معنی کوی ځکه دابه ګنړو معانی سره دے او دفع د سوال هم ده چه امر خو لغة فرمودن کارے ته وائی او اصطلاحا خو قول القائل لغیره علی سبیل الاستعلاء افعل ته وائی او دا دواړه معانی دلته صحیح نه دی؟ نو شارح جواب اوکړو چه په معنی د حکم سره هم راځی لکه دلته شو. نو مقصد داشو چه حکم د خبر د ان په شان د حکم د خبر د مبتداء دے نو حکم د خبر د ان مشبه او حکم د خبر د مبتداء مشبه به اوکاف اداة د تشبیه دے او وجه د تشبیه دا حکم دے د خبر د مبتداء کله مفرد وی کله جمله وی کله معرفه وی او کله نکره وی نو داسې خبر د ان شارح هغه متعین کوی چه دری امور دی ای فی اقسامه و احکامه و شرائطه یعنی ځکه چه دپاره هم خلور اقسام دی او احکام داسې چه ځنګه حکم د خبر د مبتداء داچه کله واحد وی کله متعدد وی کله مثبت وی او کله محذوف وی نو داسې د خبر د ان و اخواتها هم دا احکام دی او دغه شان شرائط هم یعنی کله چه خبر د مبتداء جمله وی نو لابدی ده پکښې دعائد نه

چه دا جمله د مبتداء سره اوتړی لو داسی به په خبر د ان و اخواتها کښې هم وی چه کله جمله راشی چه داخبر د ان د اسم د ان سره اوتړی او دلته به هم حذف کیږی لکه چه په خبر د مبتدا کښې حذف کیدلو په وخت د قرینه کښې.

اعتراض من بعض اهل الحواشی چه څه وجه ده چه شارح د افراد-جمله معرفه اونکره اقسام اوګرځول او دا وحدة، تعدد اثبات او حذف ئې احکام اوګرځول عکس ئې ولې نه کولو؟

جواب: (۱) تقسیم دا عبارة دے د ضم د قیوداتو مختلفو نه یو امر مبهم سره چه په انضمام د هر قید سره علیحده علیحده قسم حاصلیږی لکه حیوان یو امر مبهم دے که قید د ناطق ورسره شی نو حیوان ناطق به شی چه انسان ته وائی او دابو مستقل قسم دے د حیوان نه دغه شان قید د صاهل او ناهق هم دے چه په یو سره فرس او بل سره حمار علیحده علیحده قسم حاصلیږی دغه شان داخبر د ان هم یو امر مبهم دے چه په قید د مفرد سره او جملی او معرف او نکری سره تری علیحده علیحده اقسام حاصلیږی او په خلاف د قید د وحدة، تعدد، اثبات او حذف نه چه د دي په انضمام سره مختلف اقسام نه حاصلیدل نو هغه مو اقسام او داعو احکام کړل (۲) په اقسام د مقسم واحد کښې قانون دادے چه تضاد به پکښې وی اجتماع پکښې نشی راتلی لکه یو شئ مفرد او جمله نشی کیدلے دغه شان معرفه اونکره هم ده په خلاف د وحدة او تعدد او اثبات او حذف کښې چه داجمع کیدلے شی په دي شان سره چه واحد دنوروسره جمع شی نو تعدد پکښې راغلو دغه شان اثبات او حذف دے نویه دي وجه هغه اقسام او دا احکام شول.و المراد ان امره دا دفع د سوال ده سوال دادے چه داخبره درسره مونږه نه منو چه حکم د خبر د ان په شان د حکم د خبر مبتداء دے څکه چه اداة د استفهام لکه من او این دا خبر د مبتداء واقع کیږی او خبر د ان دپاره نه راځی، نو شارح جواب کوی حاصل دادے چه مونږ دا وایو چه حکم د خبر د ان پشان د حکم د خبر د مبتداء دے خو هغه وخت کښې چه مانع نه وی موجود او دلته مانع موجود دے اوس هغه مانع څه دے؟ (۱) نو هغه دادے چه این او من راځی دپاره د استفهام او استفهام دلالت کوی په تردد او عدم تیقن او ان راځی دپاره د تحقیق چه دلالت کوی په تیقن او عدم تردد نو دي دوارو په درمیان کښې منافاة دے نو دانشی جمع کیدلے (۲) ان هم تقاضا کوی د صدارت فی الکلام او این او من هم تقاضا د صدارت فی الکلام کوی نوکه این من مقدم شی نو د ان تقدیم فوت کیږی اوکه عکس شی نو د این اومن تقدیم فوت کیږی نو نشی جمع کیدلے.
ترجمه: اسانه ده حتی پردانه یجوز دا متعلق دے د منفی سره چه ګنی واردشی.

الا فی تقدیمه غرض د ماتن استثناء ده ددغه حکم نه او دا مستثنی مفرغ ده په اثبات کښې څکه ددي معنی صحیح ده نویه اثبات کښې هم راتلی شی لکه قرات الا یوم کذا کښې چه راغلی ده یعنی قرات کل یوم الایوم کذا دے نو دلته هم دا په اثبات کښې ده چه امر د خبر د ان پشان د امر د خبر د مبتداء دے په ټولو احکامو کښې الا فی تقدیمه مګر په تقدیم د خبر د

ان کښ په اسم د ان باندې د دې امر پشان د امر د خبر د مبتداء نه دے په دې شان سره چه خبر د مبتداء مقدم کيدلے شي په مبتداء او خبر د ان په اسم د ان باندې نه شي مقدم کيدلے ناروا دے او يا دا عبارت د ماتن دفع د سوال ده سوال دادے چه تا اوې چه وامره کامر خبر المبتداء نو تقديم د خبر د ان خوبه اسم د انو نشي کيدلے اوبه مبتداء باندې خپل خبر مقدم کيدلے شي نو دا تشبيه صحيح نه شوله ن ماتن جواب اوکړو چه تشبيه صحيح ده خودايو امر ترى نه مستثنى دے اى ليس امره كامر. غرض د شارح په دې عبارت سره د الا فى تقديره د "ما" قبل سره ربط ذكر كول دي او دويم به دليل ذكر كړي دپاره د دې حكم چه مستثنى شو فانه "لا" يجوز. شان دادے نه دے جائز تقديم د خبر د ان په اسم د ان باندې او يقينا جائز وو تقديم د ساده خبر د ساده مبتداء نه و ذلك (١) دا دليل دے حاصل دادے چه دا حروف مشبه بالفعل چه عمل كوى نو د وجى د مشابهة نه د فعل سره او بيا عمل د فعل دوه قسمه دے يو اصلى دويم فرعى عمل اصلى تقديم د مرفوع دے په منصوب او فرعى تقديم د منصوب دے په مرفوع باندې نو دې حروفو لره موئرهٔ عمل فرعى وركړى وو اوس كه دلته هم تقديم د منصوب په مرفوع جائز شي نو دابه بيا لازم شي مساواة په درميان د اصل او فرع كښ اصل فعل دے او فرع دا حروف دي خكه دامشبه او فعل مشبه به دے نو خكه چه مساوات رانشي په درميان د اصل او فرع كښ بنه نه دے لكه چه مزية د فرع ناروا دے په اصل باندې. (٢) دا حروف ضعيف العمل دي په مرتب كښ عمل كولى شي چه تقديم د منصوب دے په مرفوع باندې اوبه غير مرتب كښ عمل نشي كولے چه تقديم د مرفوع دے په منصوب باندې الا ان يكون ظرفا دا استثناء ده د "ما" قبل نه او دا مستثنى مفرغ ده د بقى نه نو بيا دلته تقدير د عبارت په دې شان سره دے چه ليس امره كامر خبر المبتداء فى تقديمه فى وقت من الاوقات الا وقت كونه ظرفا خكه په مستثنى مفرغ كښ يو كلام غير موجب وى او مستثنى منه محذوف وى او دا مستثنى بعد د الا نه وى اوس ليس راغلى دے نو كلام غير موجب دے او مستثنى منه فى وقت من الاوقات حذف ده او الا هم راغلى ده اى الا ان يكون ظرفا نو يكون په تاويل د مصدر سره كون شول او بيا تقدير د اوقاتو داودازمانود مصادرونه مخكښ كثير شائع وى نو وقت كونه شو.

او شارح داخبره په لنډه كړى ده فان حكمه اذا حكمه يقينا حكم د خبر د ان په دې وخت كښ حكم د خبر د مبتداء دے يعنى چه داخبر د ان و اخواتها ظرف وى نو دا بيا په اسم د ان و اخواتها باندې مقدم كول جائز دى.

اوس دې مقام كښ چند سوالات دي يو دا سوال دے چه تا اوى چه كله خبر د ان و اخواتها ظرف وى نو حكم ئى پشان د خبر د مبتداء دے نو خبر د مبتداء خو كله په مبتداء باندې مقدم كول واجب وى او كله جائز نو دلته څنګه دے واجب اوكنه جائز؟ دويم سوال دادے چه مثال به ورله څه وى؟ دريم سوال دادے چه داخبر كله ظر ف وى نو دا تقديم ولى جائز دے؟ دا درې خبرې شارح كوى بالترتيب داسى دي چه په اوله خبره كښ به موئر ګورو كه اسم

د ان و اخواتها معرفه وه او خبر د ان ظرف وو نو بیا تقدیم د خبر په اسم د ان باندې جائز دے او که اسم د ان نکره وه نو بیا تقدیم د خبر د ان په اسم د ان باندې واجب دے دپاره د تخصیص او مثال دپاره د اول ان الينا ايابه او ان علينا حسابهم و مثال د دويم ان من البيان لسحرا او ان من الشعر لحكمة او دليل ورله شارح و ذالك سره بيانوي يعنى ذى ظروفو كښې وسعت دے يعنى ډير احكام دي چه دنورو دپاره ناروا دي او د ظروفو دپاره جائز دي لكه يو پكښې داحكم شو اما داخبره چه دوى دي ظروفو كښې دا توسع ولې كړى دہ؟ نويو خو داخبره دہ چه دا ظرف يا مكان يا زمان وى او د زمان او د مكان نه هيڅ شئ نه دے خالي نو د دوى مثال د محارمو دے يعنى ديو كور د محارمو دپاره جائز دي چه هر خائي نه ځى په كور كښې ورله اجازت وى دغه شان دا ظروف هم دي چه كلام كښې چرته راځى نو راتلى شى او دويمه وجه داده چه په دے ظروفو كښې يوه ماده ده د صلحى او د خدمت چه دا د جملو او د اسم او د فعل په درميان كښې صلح كوى لكه يو اسم والى چه زما چاته احتياج نشته دے نه مسند او مسند اليه واقع كيږم توزما نه بل اسم ته ضرورت شته دے او نه فعل ته دغه شان بل اسم هم داخبره كوى نو دا ظرف راشى او صلح وكړى او دوى يو كړى لكه زيد يو اسم دے او دار بل اسم دے نو زيد الدار څه معنى نه وركوى خو چه في پكښې راشى نو معنى وركړى اويو شى لكه زيد في الدار نو د صلحى او د خدمت د وجې نه د دې دپاره دايو خصوصيت واقع شو چه يجوز لها مالا يجوز لغيرها.

خبر لا التي لنفي الجنس

خبر "لا" التي لنفي الجنس اجمالي خبرى (۱) ربط (۲) د عنوان تشريح (۳) تعريف د خبر دلا لنفي الجنس (٤) مثال (٥) حكم. تفصيل بالترتيب.

ربط: نو ربط معنوى داده چه كله فارغ شو مصنف عليه الرحمة د تفصيل د پنځو اقسامو د مرفوعاتو نه نو شروع في اوكړه په شپږم قسم د مرفوعاتو كښې فقال خبر "لا" التي درى سوالات راغلل (۱) نفس تفصيل ولې كوى (۲) تفصيل دې مقام كښې ولې كوى؟ (۳) تفصيل څنګه كوى؟

جوابات بالترتيب داسې دي چه نفس تفصيل څكه كوى چه تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وى او دغه شان دا تفصيل ته محتاج وو او چه كوم شئ تفصيل ته محتاج وى خلق دهغې تفصيل كوى نو د دې هم تفصيل پكار وو "لا" شوى نه وونوځكه تفصيل اوشو او دا په دې شپږم مقام كښې څكه راورو چه داپه نسبة سره "ما" قبل ته قليل او ضعيف واو په نسبة سره "ما" بعد ته قوى او كثير وو نو دې مقام كښې راورو او تفصيل داسې كوى چه اول به تعين د شپږم قسم اوكړى په خبر "لا" التي سره دويم به ورله تعريف اوكړى هو المسند سره دريم به

مثال ورله بيان كړى نحو "لا" غلام سره ځلورم بيان الاختلاف به ذكر كړى په دې كښ وبنو تميم "لا" يثبتو نه سره.

ربط لفظي: كښ هغه تراكيب ثلاثه دي (١) خبر "لا" التى لنفى الجنس مبتداء ده او هو ضمير فصل او المسند الخ ورله خبر شو نو مبتداء خبر جمله اسميه شوه (٢) داخبر "لا" التى... خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف نو تقدير د عبارت به شي هذا بحث خبر "لا" التى يا هذا مبتداء حذف شوه او بحث مضاف خبرهم حذف شو او خبر لا. مضاف اليه دهغى په مقام قائم شو نو دهغى په اعراب معرب شو يعنى ررفع پكښ نيابتى شوه نه اصلى (٣) خبر "لا" الخ مبتداء موخره او منها محذوف ورله په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم شو نو دا جمله اسميه شوه.

تشريح د عنوان: نويو لفظى تشريح ده اوبله معنوى تشريح ده لفظى تشريح عبارت دے د تركيب نه نو خادمه والا بيانوى چه خبر مضاف او دلانه مراد كلمه دلا ده نو دامو صوف التى موصول او صله ورله حذف ده چه هغه استعملوها في محاوراتهم ده نو موصول سره د صلى نه صفة اول شو دپاره د كلمة دلا نفى الجنس لام حرف جر نفى مضاف الجنس مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر الكائنة محذوف پورى بيا دا الكائنة صيغه د اسم فاعل ضمير پكښ فاعل چه راجع دے كلمة دلات نو اسم فاعل سره د فاعل او د متعلق نه صفة ثانى دپاره د كلمة دلا نو "لا" موصوف سره د صفتينو نه مضاف اليه دپاره د خبر مضاف نو بيا مضاف سره د مضاف اليه نه خو يا مبتداء او هو المسند ورله خبر دے او يا منها ورله خبر دے مقدم او يا داخبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف دے كما مر في ربط لفظى.

تشريح معنوى: شارح هغه كړى ده فقال لنفى صفة الجنس دا دفع د سوال ده چه مثال د ممثل سره مطابق نه دے ځكه ممثل كښ دي اوى چه نفى د جنس به وى او مثال كښ نفى د ظرافة راغلى ده چه صفة د جنس دے نه د جنس نو شارح جواب اوكړو چه نفى د صفة مراد ده يعنى داپه حذف د مضاف سره دے اذ "لا" رجل سره علت بيانوى.

سوال: چه كله دا قيد مراد وو نو ماتن دا ذكر كوو ولى نه؟

جواب: (١) كه ماتن دا ذكر كړى وے نو تطويل راتلو په عنوان كښ او عنوان لنډ بنه وى نو ځكه دا حذف شو. (٢) اصل كښ خبر دلا لنفى الجنس اكثر او بيشتر د افعال عامه نه واقع كيږى لكه "لا" رجل في الدار اى موجود فيها نوچه خبر د افعال عامه نه وى نو دا بيا دلالت په نفى د جنس كوى او دا خبر اكثر وى او صفة كم وى او اقل وى نو ځكه ماتن په عنوان كښ نفى د جنس اوى او د صفة لى اونه وى دا طريقه د عبارت د لګولو د پاسولى سبب ده او علامه عبد الغفور صيب او عصام الدين صيب جدا طريقه اختيار كړى ده خو دا بهتره ده.

وهو المسند بعد دخولها دا دریمه خبره ده چه تعریف د خبر د "لا" لنفی الجنس دے نو المسند صیغه د اسم مفعول ده یعنی اسناد به ئې کړی شوی وی نو شارح وائی چه الی شئ اخر یو بل شئ ته به ئې اسناد کړی شوی وی. هذا شامل لخبر دا تعریف جامع او مانع کوی او د دې قید فائده بیانوی نو دا شامل دے هر خبر ته چه مسند وی بعد دخولها ای بعد دخول "لا" شارح په دې عبارت سره تعیین د مرجع د ضمیر مجرور کوی. او د دې قید فائده بیانوی نو وای په دې سره نو دا اخبار خارج شول ځکه هغه مسند وی خو دلا نه بعد نه وی.

سوال: نو تعریف کښې یضرب داخل شو په دې ترکیب کښې چه "لا" رجل یضرب ابوه ځکه یضرب مسند دے او پس دلا نه دے او ځوک ورته خبر دلانه وائی بلکه خبردلا د مجموعه ته وائی.

جواب: شارح هم دا خبره کوی چه دلته مراد د دخول دلاء نه هغه معنی ده چه ورود د دې لادے په دې باندې په طریقه د ایراث الاثر لفظا او معنی او دا اثر لفظا او معنی په دې مجموعه کښې شوی دے نو دا مجموعه خبر دے. نو تعریف دې یضرب ته شامل نه دے.

وضاحت بالمثال: "لا" غلام رجل ظریف فیها "لا" لنفی الجنس او غلام رجل ورله اسم دے او ظریف ورله خبر دے او فیها خبر ثانی دے و انما عدل دا دفع د سوال ده سوال دادے چه ماتن دا مثال ذکر کړو او د مشهورینو مشهور مثال ئې ذکر نه کړو چه هغه مثال "لا" رجل فی الدار دے او مشهور مثال په ذهن کښې ښه کینې نو مشهور مثال پکار وو او د مشهور ینو اتباع پکار وه ځکه دوی مشهور وی د وجه د محنت نه په ئې کښې ښه پوهیږی نو مشهور مثال د مشهور ینو پکار وو.

جواب: شارح کوی حاصل د جواب دادے چه مثال هغه معتبر وی چه هغه نص او صریح او واضح وی په ممثل کښې نو اوس دا مشهور مثال چه "لا" رجل فی الدار دے دا غیر صریح دے ولې چه په دې کښې یو بل احتمال هم شته دے هغه دا چه فی الدار دې صفة شی دپاره د رجل نو بیا خبر نه شو نو صریح هم نه شو او دا مثال چه ماتن بیان کړی دے دلته دا احتمال نشته ځکه چه ظریف مرفوع دے نو دا صفة د منصوب نه شی راتلی بلکه مطابقة شرط دے په اعراب کښې بین الموصوف و الصفة علی "ما" هو الظاهر داهم دفع د سوال ده چه دا ظریف هم د غلام رجل صفة راتلی شی په دې شان سره چه دا ظریف تابع د محل د غلام رجل شی ځکه غلام رجل محلا مرفوع دے ځکه اصل کښې مبتداء ده.

جواب: داسې نه شی کیدلے ځکه غلام رجل معرب دے او تابع د معرب تابع د لفظ وی او لفظ خو منصوب دے.

سوال: نو عند البعض خو تابع د معرب تابع د محل هم راتلی شی لکه د لفظ چه ځنګه راځی.

جواب: دا مذهب د بعضو ظاهرنه دے او مونږ خو علی ماهو الظاهر خبره کوو فیها ای فی الدار غرض د شارح پو تعین د مرجع دپاره د ضمیر کول دی دویم د دې دما قبل سره ربط لفظی ذکر کول دي او دریم دفع د وهم کول دي نو دفع د وهم داسی کوی چه شارح وائی "لا" ظرف ظریف ولا حال وهم هم دا وو چه دا فیها به په اعتبار د متعلق سره ظرف وی دپاره د ظریف او یا به تری نه حال وی نو شارح اوی چه نه دایوهم نه دے وجه دادہ چه ظرافة اوهوښيارتوب نه مقید کیږی په یو مکان او یو حال پسی ځکه چه یو انسان هوښيار وی نو هر وخت او هر ځائے کښ هوښيار وی و اما اتی دا دفع د سوال ده چه د خبر دلا دپاره یو مثال کافی وو چه ظریف دے دویم مثال ته ضرورت نشته نو دا فیها دویم خبر ولی راوړی؟

جواب (۱) دا دپاره د دې چه کلام کاذب نشی ځکه که فیها رانشی نو معنی به شی نشته دے جنس غلام د سری هوښيار یعنی هر غلام کم عقل وی نو داخبره کاذبه ده ځکه ډیر غلامان هوښياران وو نو چه فیها اوی نو مقصد داچه دې کور کښ هوښيار غلام نشته نو کذب نشته دے (۲) ولیکون حاصل دادے چه دوه مثاله دلالت کوی په دوه و ممثلو بانديې نوبو مثال د ظرف لکه فیها او بل غیر ظرف لکه ظریف الظرف وغیر داپه اعرابات ثلاثه سره دے نو مرفوع به خبر د مبتداء محذوف شی ای هو الظرف وغیره یا احدهما الظرف و ثانیهما غیره اوکه منصوب شی نو مفعول به به شی دپاره د اعنی فعل محذوف اوکه مجرور شی نو دلا لنوعی خبرها نه بدل دے نو هغه مجرورؤ نو داهم مجرور شو.

حکم: و یحذف داحکم بیانوی دپاره د خبر دلا لنفی الجنس شارح اوی خبر "لا" د ضمیر مرجع متعین کوی هذه دفع د وهم کوی چه خروج عن البحث دے نو وی نه هم دغه "لا" یادوم بیا کثیرا منصوب وو نو علة دنصب شارح متعین کوی چه دا منصوب دے بناء بر مفعول مطلق مجازا.

سوال: دا ولی حذف کوی؟

جواب: دا د افعال عامه نه دے او دا اکثر حذف وی.

سوال: نو داخو حذف د جزء مراده راغلو چه حذف ئی ناروا دے.

جواب: لدلالة النفی یعنی حذف د جزء مراده دوه قسمه دے یو بلا قرینه دویم مع القرینه که اول ناروا دے خو ماګړی نه دے اوکه دویم "ما" کړے دے خو ناروانه دے اوس قرینه داده چه نفی منفی غواړی او منفی ذکر نه وو نو عقل معلومه کړه چه منفی محذوف دے او دویم داچه هر کله قرینه دپاره د تقدیر د فعل خاص نه وه نو دا قرینه شوه په حذف د فعل عام بانديې د بنو تمیم "لا" یثبتونه دا بیان الاختلاف دے خلورمه خبره ده چه حذف د خبر دلاء چه کثیر وائی نو دا هل حجاز وائی او بنو تمیم خودانه ثابتوی ای "لا" یظهرونه غرض د

شارح دوه مقصده د "لا" پښتونه بيانو يو مقصد دادے چه حذف د خبر واجب دے يعنى خبر ورله شته دے خو هميشه به محذوف وى لفظا او دويم مقصد دادے چه دلاء دپاره خبر د سر نه شته نه به لفظا او نه تقديرا سوال نو "لا" اهل ولا مال سره به څه کوى؟ دا خو لازم شو وجود د اسم بلا خبر.

جواب: دايه معنى د انتفى الاهل و المال سره دے نويه دې اسم سره تام دے او خبر ته محتاج نه دے خوبه دې دوارو قولانو باندې اعترض راځى په مثل دلا رجل قائم چه اسم او خبر دوارهٔ مذکور دي نويه اول قول اعتراض دادے چه تاسو اوى چه خبر به حذف وى وجوبا نو دلته خو راغلى ده ذکر دے او چه دويم داچه تاسو اوى خبر نه غوارى نودلته خو ورله خبر راغلى دے نو شارح وائى چه هغو د دي نه جواب کوى چه دا قائم خبر نه بلکه د رجل دپاره صفة دے او په اعتبار د محل د رجل دے چه محلا خو مرفوع دے نو دا قائم هم مرفوع شو. والتحقيق تحقيق دادے چه دا مذهب د دوى ضعيف دے وجه داده چه يو خو دوى تاويلات کوى او دا خلاف الاصل دي او دويم داچه تاويلات هم بعيده دي او دا اول قول لرګذاره حال دے خو دا دويم غاية الانتهاء ضعيف دے ځکه چرته اسم فعل په وزن دلا نه دے راغلى نه سماعا او نه قياسا اوکه اسم فعل شى نو "ما" بعد ترى نه مرفوع وئيل پکار دي او اهل او مال خو منصوب دى.

اسم ما و لا المشبهتين

اسم "ما" ولا المشبهتين بليس اجمالى خبرى (۱) ربط (۲) تشريح د عنوان (۳)دريم تعريف (٤) مثال (٥) حکم يا بيان العمل.

ربط: معنوى ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصيل د شپږو مرفوعاتو نه نو شروع ئ اوکړهٔ په اخيرى مرفوع کښ نو د دي تفصيل کوى درى سوالات راغلل جوابات بالترتيب داسى دي چه نفس تفصيل د وجى د مامر غير مرة نه کوى او تفصيل دلته ځکه کوى چه اضعف دے ځوك ئ منى او ځوك ئ نه منى نو اخر کښ تفصيل کوى اوتفصيل داسى کوى چه اول په دا اووم قسم دمرفوعاتو نه تعين وکړى په اسم "ما" ولا سره دويم به ورله تعريف اوکړى هو المسند سره دريم به ورله مثال بيان کړى مثل "ما" زيد څلورم فرق به په درميان د دواړو د عمل کښ بيان کړى وهو ﺋ "لا" سره او ربط لفظى چه ترکيب دے نو هم هغه تراکيب ثلاثه پکښ جائز دى.

تشریح د عنوان: نو یو لفظی تشریح ده او بله معنوی ده لفظی تشریح داسی ده چه دا اسم مضاف "ما" معطوف علیه و حرف عطف "لا" معطوف معطوف سره د معطوف علیه موصوف شو او المشبهتین صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښ نائب فاعل چه راجع دے "ما" ولا ته بلیس جار مجرور ظرف لغو متعلق په المشبهتین سره نو اسم مفعول سره د نائب فاعل او د متعلق نه شبه جمله صفة خو دپاره د "ما" ولا موصوف سره د صفة نه مضاف الیه دپاره د اسم مضاف نو بیا مضاف سره د مضاف الیه نه مرکب په هغه تراکیب ثلاثه شو معنوی تشریح داده چه د اما اولا خو حروف دي او دالیس فعل دے نو د حروفو څنګه د فعل سره مشابهة دے نو شارح د دي سوال نه جواب کوی فی معنی النفی سره او وجه د تشبیه بیانوی.

جواب: دادے چه دا تشبیه په ټولو امورو کښ نه ده مراد چه په فعلیة کښ هم مشابهة راشی بلکه دلته مشابهة یو معنی دے چه دواړه دپاره د نفی راځی او دویم لفظا هم دے چه ابتداء دما اولا په فتحه ده نو د لیس هم ده او څنګه چه لیس کښ دویم حرف ساکن دے نو دغه شان په "ما" اولا کښ هم دے او دغه شان لیس هم په مبتداء او خبر داخلیږی او دا "ما" اولا هم په مبتداء او خبر داخلیږی نو عمل هم داما اولا پشان دلیس کوی چه اسم منصوب او خبر مرفوع غواړی.

تعریف: هو المسند الیه . دا هغه مسند الیه دے پس د دخول دهر واحدد "ما" اولا نه هذا شامل دا فائده د قیوداتو بیانوی نو داپه منزله د جنس شو هر مسند الیه پکښ داخل دے بعد دخولهما داپه منزله د فصل دے هر څه خارج شول څکه هغه مسند الیه دي خویس دما اولا نه نه دي و بما عرفت دا اوس هغه سوال دے او هم هغه جواب دے تری نه چه په تعریف کښ دي ابوه داخل شویه دي ترکیب کښ چه "ما" زید ابوه قائم څکه دا مسند الیه دے او پس دما نه هم دے حالانکه دي ته څوک اسم دما نه وائی.

جواب: داپکښ نه داخلیږی څکه دلته په دي کښ اثر لفظا او معنی نه دے شوی نو ابوه مسند الیه دے خوماپکښ اثر نه دے کړے بلکه په زید کښ اثر کړے دے او په ابوه قائم مجموعه کښ کړے دے.

ودلته دویم جواب هم کیدلے شی چه مراد د مسند الیه نه هغه مسند الیه دے چه هغه په اسناد جدیده سره وی نو دا ابوه مسند الیه دے په اسناد قدیم سره نو خارج دے.

وضاحت بالمثال: ماتن دوه مثاله بیان کړی دی. و انما اتی غرض د شارح دفع د سوال ده چه ماتن له پکار وو چه دا دواړه مثاله ئی په یو نمط بیان کړی وو نو څه وجه ده چه دما دپاره اسم معرفه بیان کړو او د "لا دپاره اسم نکره بیانوی؟ دلا دپاره به ئی هم معرفه ذکر کړی وی کنه.

جواب: شارح کوی حاصل دادے چه دا نحات چه دي "ما" او"لا" لره عمل ورکوی نو د وجی د سماع عن العرب نه نو د "ما" دپاره سمع په معرفه اونکره دواړو کښ شوی ده اودلا دپاره صرف په نکره کښ سمع شوی ده نور دے وجی نه اسم ورله نکره ذکر کړو.

سوال: نو بیا به ماتن د"ما" دپاره هم اسم نکره بیان کړی وی کنه چه موافقة راشی بین الامثلة کنه ؟.

جواب: هلته ئی اسم معرفه ځکه ذکر کړو چه اصل په محکوم علیه کښ معرفه وی نو خلاف الاصل ته ضرورة نه دي کول پکار.

سوال: نو شارح ورله ولې دا وجه نه بیانوله؟ جواب اتیان بالاصل شوی دی. (النکتة للفار الخ)

هذا لغة اهل الحجاز غرض د شارح یو بیان الاختلاف دے او دویم دفع د سوال ده. سوال دادے چه اسم دما اولا مشابه بلیس مستقلا په مرفوعاتو کښ ذکر کول نه دي صحیح ځکه دا څه عمل نه کوی ځکه چه دا روستو اسم مرفوع دے بنا بر ابتداء نو دابه څه عمل نه کوی؟

جواب: دا خبره تا د بنو تمیم نه اوریدلی ده او مونږ د اهل حجاز خبره کوو اوس بیان الاختلاف دادے چه په عمل دما اولا کښ دوه مذاهب دي اهل حجاز او بنو تمیم نواهل حجاز وائی عمل کوی او دانور وائی چه نه کوی دهر یو دپاره دوه دلائل دي یو عقلی دویم نقلی.

نو اهل حجاز عقلی دلیل دا بیانوی چه دا مشابهة ساتی د لیس سره او هغه د رفع او د نصب عمل کوی نو دابه هم کوی او نقلی دلیل د قران ایت دے چه "ما هذا بشرا او ماهن امهاتهم" دا مرفوع منصوب دي او بنو تمیم عقلی دلیل دا بیانوی چه د عمل دیو عامل دپاره شرط دادے چه دا به تریو نو عی پوری خاص وی او دا "ما" اولا په فعل او اسم دواړو داخلیږی او نقلی دلیل دا شعر د شاعر بیانوی چه.

و مخفف کالغصن قلت له انتسب فاجاب ما قتل المحب حرام

دلته قتل او حرام دواړه مرفوع دي نو عمل نه کوی.

خو شارح ترجیح ورکوی مذهب داهل حجازو لره نو د دلائلو د بنو تمیم نه جوابات داسی دي چه اے بنو تمیمو دا عقلی دلیل چه تاسو بیانوی نو (۱) دا دعوی بلا دلیل ده (۲) اوکه دا دلیل صحیح شی نو داما اولا چه په اسم داخلیږی دا غیر دهغه "ما" او "لا" نه دي چه هغه په فعل داخلیږی صرف مشابهة دے شکلا.

او د شعر نه جواب دادے چه داستاسو شاعر شعر وئیلی دے او ستا د قوم دشاعر شعر ستادپاره دلیل نشی کیدلے ورنه بیا دا مصادره علی المطلوب رازی.

نو د اهل حجاز و مذهب راجح شو او قرآن پری هم وارد دے.

وهو فی "لا" شاذ دا اوس فرق بیانوی په درمیان د عمل دما اولا کښ نو شارح د هو ضمیر مرجع متعین کوی او د شاذ معنی کوی په قلیل سره حاصل د فرق دادے چه دا عمل په دې "لا" کښ قلیل اوکم دے وجه داده چه دا عمل چه "ما" اولا کوی نو د وجی د مشابهة نه د لیس سره کوی نو مشابهة د "ما" د لیس سره قوی دے او دلا ضعیف دے په دې شان سره چه دالیس هم دپاره د نفی د حال راځی او دغه شان "ما" هم دپاره د نفی د حال راځی اولا دپاره د نفی مطلقا راځی نو مالره مطلقا عمل ورکړی شوی دے او دلا دپاره مبنی او مقصور دے په سماع کښ او سماع د "لا" په نکره کښ شوی ده. لکه دا شعر د شاعر دے.

من صد عن نیرانها	فانا ابن قیس لا براح

څوک چه بندیری د جنګ د اورونو نه نو زه خو ابن قیسٌ یم مالره خو څه زوال نشته دے دلته دا براح راغلی دے دا اسم دلا دے او خبر ورله حذف دے چه لی دے. ولا یجوز سره دفع د سوال ده چه دلته دالا دپاره د نفی د جنس اوګرځوه کنه؟

جواب: عن الشارح داسی نشی کیدلے ځکه چه اسم دلا لنفی الجنس منصوب وی او داخو مرفوع دے او بله داخبره هم ده چه "ما" بعددلا کله مرفوع وی نو بیا پکښ لابدی ده د تکرار دلانه او دلته خو تکرار نشته دے لکه "لا" حول ولا قوة الا بالله کښ موجود دے.

﴿واعلم ان المراد﴾ غرض د شارح په اعلم سره یو تنبیه د مخاطب ده په یقظة د مقام دویم تنبیه د مخاطب ده په تفصیل د مقام دریم تنبیه د مخاطب ده په دفع د سوال باندی.

سوال: دادے چه دا تعریفات ټول چه کوم اوشو نو دا صحیح نه دی ځکه په دې کښ مانعیة نشته دے بلکه په دې کښ داخلیږی بعض نور اشیاء لکه مثلاً "ما" زید اخوك قائما دلته اوس دې ترکیب کښ دا اخوك مسند الیه دے او پس د دخول دما نه هم دے نو دې نه تعریف داسم دما شامل شو او خلق ورته بدل وائی اسم دزمانه.

جواب: عنه دلته چه کوم تعریفات اوشول نو مراد پکښ د مسند او مسند الیه نه هغه دې چه اسناد ئی اصالة شوی وی او دا توابع دې ددی اسناد اصالة نه دے شوے.

سوال: داخو تقیید داطلاق دے عقرینه څه ده؟

جواب: ذکر د توابعو ده اخر کښې.

سوال: اسم دکان هم د مرفوعاتو نه دے ماتن ولی ذکر نه کړو.

جواب: اسم د کان اصل کښې فاعل دے نو ذکر ئې دلته مناسب نه دے. (۲) اسم دکان ذکر دے ضمنا په "ما" اولا کښې ده اوے دابه مشابه وی د لیس سره نو یعنی د لیس هم دا حکم شو.

فهرست